فتاوٰی

حقانیة

پښتو

له افاداتو د
شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمة الله علیه

څارنه او اهتمام
حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب: مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژباړونکی
مولوی قاری محمد فاروق تنگ مهتمم جامعه دار العلوم ابو هریرة ارگون

ناشر:
جدید کتب خانه
جنوبي وزیرستان ایجنسی وانا بازار

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

ولو ردوه الى الرسول والى اولى الامر منهم لعلمه الذين يستنبطونه

د جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک د نیمې پیړۍ د فتاوو مجموعه

فتاوی حقانیه

پښتو

له افاداتو د

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمة الله علیه

او د دار العلوم حقانیه نور مفتیانِ کرام

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب

مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژباړونکی

مولوی قاری محمد فاروق ملنگ مهتمم جامعه دار العلوم ابوهریرة ارگون

خپروونکی

جدید کتب خانه

حاجی بخت عالم مارکیٹ جنوبی وزیرستان ایجنسی وانا بازار

ولو ردوه الى الرسول والى اولى الامر منهم لعلمه الذين يستنبطونه

د جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک د نیمی پیړی د فتاوو مجموعه

فتاوی حقانیه

پښتو

۵

له افاداتو د

شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمة الله علیه

او د دار العلوم حقانیه نور مفتیانِ کرام

څارنه او اهتمام

حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مهتمم جامعه حقانیه

ترتیب

مفتی مختار الله حقانی

پښتو ژباړونکی

مولوی قاری محمد فاروق ملنګ مهتمم جامعه دار العلوم ابو هریرة ارګون

جدید کتب خانه
حاجی بخت عالم مارکیټ جنوبی وزیرستان ایجنسی وانا

مکتبه فریدیه
محله جنګی، پیښور

د چاپ ټول حقوق په حق د جدید کتب خانه وانا
کښې محفوظ دي

د کتاب نوم: فتاوی حقانیه (پنځم جلد)
له افاداتو دي: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمة الله علیه بانی جامعه دار العلوم حقانیه او د دې جامعې نور مفتیان کرام
څارنه او اهتمام: شیخ الحدیث حضرت مولانا سمیع الحق صاحب د دې جامعې مهتمم
ترتیب: مولانا مفتي مختار الله حقاني د تخصص فی الفقه والافتاء د شعبې استاذ
پښتو ژباړه: حضرت مولانا قاري محمد فاروق ملنګ مهتمم جامعۀ دار العلوم ابو هریرهؓ ارګون
کمپوز او د پښتو ژباړې ترتیب: قاري عبد القیوم لوګري
د چاپ کال: ۱۵ صفر المظفر ۱۴۳۱ هجري، په مطابق د ۳۱ دسمبر ۲۰۰۹ میلادي
د چاپ تعداد: ۱۱۰۰
خپروونکی: جدید کتب خانه حاجي بخت عالم مارکیټ جنوبي وزیرستان ایجنسي وانا
ستاکسټ: مکتبۀ فریدیه محله جنګي، قصه خواني بازار پېښور، له مولوي امیر الله شیراني سره
د لاس ته راوړلو ځایونه:
مکتبۀ رشیدیه سرکي روډ کوئټه
مکتبه الحرم، سردار پلازه نزد جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټك
وحیدي کتب خانه قصه خواني بازار پېښور
مکتبۀ روضه القرآن محله جنګي قصه خواني بازار پېښور ښار
جدید مدینه کتب خانه حاجي رشید مارکیټ ارګون بازار

بسم الله الرحمن الرحیم

د مضامینو فهرست

فتاوی حقانیه پنځم جلد

كتاب الشهادة

د سکه ورور لپاره ګواهي ورکول جائز دي ------ ۲۷
د ړانده د ګواهي شرعي حیثیت ------ //
د وعده معاف ګواه شرعي حیثیت ------ ۲۸
د اجرتي قاتل د ګواهي شرعي حیثیت ------ //
د ږیرې د لنډوونکي د ګواهۍ حکم ------ ۲۹
په قتل کښې د ښځې د ګواهۍ حکم ------ //
د دښمن د ګواهۍ شرعي حیثیت ------ ۳۰
د ګواهۍ لپاره د تګ او راتګ د مصرف اخیستلو حکم ------ //
په قبضه او مِلکیت کښې د ګواهۍ حکم ------ ۳۱
شهادت یا ګواهي به د غیر قابض قبلیږي ------ ۳۲
په کرل شوې زمکې باندې د مِلکیت په دعوه کښې به د خارج ګواه وړاندې وي ------ //
د نکاح په مجلس کښې له حاضریدو پرته د نکاح ګواهي ورکول جائز دي ------ ۳۳
د ظلم او زیاتی د اثبات له وجې د خارج د ګواهانو حکم ------ ۳۴
د زیاتی د دعوٰی کوونکي ګواهان به وړاندې وي ------ //
د ګواهانو په نه موجودوالي کښې محض د شك له وجې د مرګ د سزا ورکولو حکم ------ ۳۵
د کاروبار د شریکانو د یوه او بل په حق کښې ګواهي ورکول ------ ۳۶
د زوی په حق کښې د پلار د ګواهۍ حکم ------ //
د نرښځی د ګواهۍ حکم ------ ۳۷
د تائب فاسق د ګواهۍ حکم ------ //
له بینایي څخه د محروم سړي د ګواهۍ حکم ------ ۳۸
د ګونګ سړي د ګواهۍ حکم ------ //
له ګواه څخه د پټو تحقیقاتو شرعي حیثیت ------ ۳۹
د علت تر لرې کیدو وروسته په مقدمه کښې د شهادت د ورکولو حکم ------ ۴۰
په شهادت کښې د مشهود لهٗ او مشهود علیه نوم او د پلار نوم اخیستل ------ //
د شهادت لپاره مشاهده (د ستر ګو لیدلی حال) ضروري ده ------ ۴۱

٤١ ----------
یو اځي د ښځو د ګواهۍ حکم----------
٤٢ ----------
د جرم د اثبات ثبت شوی شهادت کافي نه دی----------
// ----------
د جرم د اثبات لپاره د عکس حکم----------
٤٣ ----------
د قاتل په جسم یا جامو باندې چه د مقتول وینې لګیدلې وي نو؟----------
د شهادت د قانون په مسودې کښې د مولانا سمیع الحق ځینې نور
٤٤ ----------
ترمیمونه او تقریرونه، د جرم اقرار او اقبال----------
٤٥ ----------
د اقرار شرائط----------
٤٦ ----------
د ودونو او د اسې نورو ثبوت----------
// ----------
د ازدواج په دوران کښې د بچي پیدا کیدنه----------
٤٧ ----------
د حمـــــل موده----------
٤٨ ----------
د حمل په اکثره موده اقوال او خدايي حکمت----------
٤٩ ----------
د وعده معاف د ګواهۍ شرعي حیثیت----------
اسلام او د ښځو ګواهي---------- ٥١
٥١ ----------
شیعه مسلك او د ښځو ګواهي----------
٥٢ ----------
د ښځې امامت او بادشاهي----------
٥٣ ----------
په حکمت او د حکم په علت کښې فرق----------
٥٤ ----------
شهادت فرض دی، حق نه دی----------
// ----------
په فرائضو او احکامو کښې له ښځو سره رعایت----------
٥٥ ----------
کوم غیر مکلف ئې په نصوصو کښې مخاطب نه دی ګرځولی----------

کـــــتاب القسمةو الاکراه

د یوه شریك په غوښتنه د جائداد د دوباره تقسیمولو حکم----------
٥٦ ----------
د نابالغ د حصې د تقسیم حکم----------
// ----------
د یوه شریك په غیاب کښې د جائداد د تقسیمولو حکم----------
٥٧ ----------
د قرعه اندازۍ نه پرته د جائداد د تقسیمولو حکم----------
// ----------
د غبن په صورت کښې د جائداد د دوباره تقسیم حکم----------
٥٨ ----------
د غلطۍ په صورت کښې د تقسیم اعاده (بیرته را ګرځول)----------
// ----------
د مشترکو کټو د تقسیم حکم----------
٥٩ ----------
د یوه فریق په نه شتون کښې د جائداد د ویش مسئله----------
// ----------
د مشترکې زمکې د ویش مسئله----------
٦١ ----------

کتاب الاکـــــراه

د رعایاوو په کوم شي باندې د حکومت له خوا جبراً د قبضې حکم---------- ٦٢
د جبراً نکاح حکم----------
// ----------
په جبراً زنا کښې ښځه ګنهګاره نه وي----------
٦٣ ----------
د اکراه په صورت کښې د کفر د کلمې ویل----------
// ----------
د جبر په حالت کښې د زنا حکم----------
٦٤ ----------
یو مسلمان د بل مسلمان په قتل باندې د مجبورولو حکم----------
// ----------
د جبر او زور په صورت کښې د شرابو په څښلو باندې حد نشته---------- ٦٥
د جبراً زنا په صورت کښې د حد حکم---------- //
په مجبورې مزنیې باندې د زنا د حد حکم---------- //
جبراً د هلاك شوي مال د ضمان حکم---------- ٦٦
جبراً د خوړل شوي مال د ضمان حکم---------- ٦٧
په مجبور مفعول باندې د حد جاري کولو حکم---------- //

کتاب البیوع

باب شرائط البیع و ارکانه

په اخیستلو او خرڅولو کښې د دواړو خواوو د خوښۍ اعتبار---------- ٦٨
د مکره (هغه څوك چه زور پرې شوی وي) بیع صحیح نه ده---------- //
د نابالغ په اخیستلو او خرڅولو کښې د اذن عرفي عتبار---------- ٦٩
د لیوني اخیستل او خرڅول---------- //
د نرخ له ټاکلو څخه مخکښې په مبیعه کښې تصرف کول---------- //
د غلا شوي مال د اخیستلو او خرڅولو حکم---------- ٧٠
د کوم شي د اخیستلو لپاره پیشکي روپۍ ورکول---------- //
د مبیعې په وصولولو باندې د اخیستونکي مجبورول---------- ٧١
د ټیلیفون په ذریعه د بیع د عقد حکم---------- ٧٢
د بالغ زوی په نه موجودوالي کښې د هغه د جائداد خرڅول---------- //
د جائداد په اخیستلو او خرڅولو باندې د کمیشن اخیستلو شرعي حیثیت---------- ٧٣
د بیع نفاذ (جاري کیدنه) په حکومتي کاغذاتو کښې په درجیدو پورې اړه نه لري---------- //
په مهر کښې د ورکړي شوې زمکې د خرڅولو حق یو اځې د ښځې دی---------- ٧٤
د بیع په عقد کښې ونې د زمکې تابع دي---------- //

د جومات په آمدني باندې تجارت کول ---------- ٧٥
د رشوت په روپو باندې د هدیرې لپاره ځای اخیستل ---------- //
د کرایې په دوکان او کور باندې د پیشګي یا پګړۍ د اخیستلو شرعي حیثیت ---------- ٧٦
د بل سړي په سودا باندې سودا کول ---------- ٧٧
په حرام مال باندې اخیستل او خرڅول ---------- //
د حکومت له خوا د ورځني استعمال د شیانو نرخ مقررول ---------- ٧٨
نباتي غوړي د دیسي یا اصلي غوړي په نامه خرڅول ---------- //
د ډیرې ګټې لپاره د مال ذخیره کول ---------- ٧٩
د تقاعد د خرڅولو او اخیستلو شرعي حکم ---------- //
په بیع کښې نامعلومه نیته بیع فاسدوي ---------- ٨٠
له قیمت له یادولو پرته د شوې بیع او شراء حکم ---------- ٨١
د قبول لفظ د ایجاب مطابق ضروري دی ---------- //

باب ما یجوز بیعه و ما لایجوز

د شرابو د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ٨٢
د شرابو د آمدني په بدل کښې د شیانو خرڅول ---------- //
په دار الحرب کښې د شرابو د اخیستلو خرڅولو حکم ---------- //
په کومو شیانو کښې چه شراب ګډ وي د هغو د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ٨٣
په کومو ادویاتو کښې چه الکحل وي د هغو د تجارت شرعي حیثیت ---------- //
د نشه يي شیانو اخیستل او خرڅول ---------- ٨٤
د تمباکو اخیستل او پلورل ---------- //
د ریډیو، تیپ ریکارډ او د اسې نورو اخیستل او خرڅول ---------- ٨٥
د موسیقي (ساز او سرود) د آلاتو اخیستل او خرڅول ---------- //
د ګمراه کوونکو کتابونو د تجارت حکم ---------- ٨٦
د تعویذونو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت ---------- //
د اخبارونو اخیستل او خرڅول ---------- ٨٧
په نورو ممالکو کښې د مال اخیستل او بیائې تر رسیدلو مخکښې د پلورلو حکم ---------- //
د سپیو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت ---------- ٨٨
د مرغانو د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ٨٩
د خنزیر د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- //
د مردار څناور څرمن تر رنګولو (دباغت) وروسته خرڅول ---------- //

د مردار څناور د هډوکو خرڅول ---------- ٩٠
د ګندګیو خوړونکي څناورو تجارت ---------- //
د بیزو حلالول او له هغه څخه د غوړي ایستل او بیائې خرڅول ---------- ٩١
تر دباغت (رنګیدو) مخکښې د مردار څناور د څرمنې خرڅول ---------- //
د روح لرونکو شیانو د مجسمو اخیستل او خرڅول ---------- ٩٢
د چرګانو په تول خرڅول ---------- //
د آزادې ښځې د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ٩٣
د سوځول شویو وینو د ایرو تجارت ---------- //
د وینې د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ٩٤
د انساني اندامونو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت ---------- //
په ځنګل کښې لرګي وهل او بیائې خرڅول ---------- //
د هدیرې ونې تر پرې کولو مخکښې خرڅول ---------- ٩٥
د پخپله شنو شویو وښو اخیستل او خرڅول ---------- //
له خپلې مملوکه ونې څخه د شاتو (ګبینو) خرڅول ---------- ٩٦
په بیعه باندې د اخیستل شویو ونو له بیخه (له ولیو) څخه د ایستلو حکم ---------- //
په د اسې حالت کښې د باغ خرڅول چه ځینې میوې ئې ښکاره وي او ځینې ئې نه وي ---------- ٩٧
تر پخیدو و پورې د شرط لګولو په صورت کښې د فصل اخیستل ---------- ٩٨
د قرعه اندازۍ (پچې) اچولو په ذریعه اخیستل او خرڅول ---------- ٩٩
د تجارتي لیسنس د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت ---------- //
د انعامي بانډ (عهد نامې) د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ١٠٠
د بل ملك د ویزې د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ١٠١
د انتخاباتو په دوران کښې د ووټونو د اخیستلو او خرڅولو مسئله ---------- ١٠٢
د ټریډ مارك (تجارتي علامې) اخیستل او خرڅول ---------- //
د عام نیلام په ذریعه د بیع حکم ---------- ١٠٣
په حکومتي کاغذاتو کښې د جعلسازۍ له مخې خپل ځان د مالك په ښکاره کولو سره د چا د زمکې خرڅول ---------- ١٠٤
د حکومت له اجازې پرته د نورو ملکونو د شیانو تجارت ---------- //
د حکومت له اجازې پرته د حکومتي ونو د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ١٠٥
د حکومت له خوا د ضبط شوي مالونو اخیستل ---------- ١٠٦
د غیر محفوظو حکومتي کاغذاتو په ذریعه د جائداد او د اسې نورو شیانو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت ---------- //

د وقف شوي زمکې د خرڅولو حکم ---------- ١٠٧
د جومات له ضرورت څخه د زیاتو شیانو خرڅول ---------- //
د غیر موقوف قبرستان اخیستل او خرڅول ---------- ١٠٨
د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د غاصب جائد اد خرڅول جائز دي ---------- //
د بُتانو د اخیستلو اخرڅولو حکم ---------- ١٠٩
د غصب شوي زمکو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت ---------- //
پخپل زوی باندې د زمکې د خرڅولو حکم ---------- ١١٠
د نریو جامو د تجارت حکم ---------- ١١١
د کفارو د ملبوساتو (جامو) اخیستل او خرڅول ---------- //
د غیر مسلمو د متروکه یعنې پرېښودل شویو جائد ادونو د خرڅولو حکم ---------- //
له اجازې پرته د چا د زمکې خرڅول ---------- ١١٢
د حق تعلّی د پلورلو حکم ---------- //
د یوه شي د پلورلو په وخت کښې د شرط لګولو حکم ---------- ١١٣
په کوم شي باندې تر قبضې وروسته په زیات قیمت باندې د خرڅولو حکم ---------- ١١٤
له زمکې پرته یواځې د اوبو د خرڅولو حکم ---------- //
د یو موټر د متوقع ګټې یا آمدنې خرڅول ---------- //
له ټاکل شویو نرخونو څخه په زیات قیمت باندې د شیانو خرڅول ---------- ١١٥
په بیع کښې د بل سړي د فعل شرط لګول ---------- //
د ایجاب او قبول په وخت کښې مبیعه مشتري ته د ورکولو لپاره د څو ورځو د مهلت شرط لګول ---------- ١١٦
د ګټې په خاطر خریدار ته له بل دوکان څخه د سودا اخیستلو لپاره په قرض باندې روپۍ ورکول ---------- ١١٧
د عیب لرونکو شیانو اخیستل او پلورل ---------- //
د نقدو روپو قرض ورکولو په ځای په چا باندې د یوه شي په لوړ قیمت خرڅول ---------- ١١٨
د غنمو د وړه کولو په بدله کښې د غنمو جمع کول او خرڅول ---------- //
له مشترکې زمکې څخه د خپلې برخې خرڅول ---------- ١١٩
په مشترګه توګه له اخیستل شوي شي څخه د خپلې حصې د را ایستلو طریقه ---------- //
د زیاتې ګټې په هیله د کوم شي په خرڅولو کښې ځنډ کول ---------- ١٢٠
له قطعي بیع څخه انحراف (په شا کیدل) صحیح نه دي ---------- ١٢١
د خرڅوونکي او اخیستونکي د یو ځل په تللو (وزن کولو) باندې اکتفاء کول ---------- //
د شریکانو خپلې خپلې برخې په یوه شریک باندې پلورل ---------- //
قرض د خرڅولو حکم ---------- ١٢٢

د کفارو د متروکه (پرېښودل شوي) شیانو خرڅول ---------- ١٢٢
د هم جنسو موزوني شیانو له تللو پرته خرڅول ---------- ١٢٣
د ګړۍ د معیار د بهتر ګرځولو لپاره د رنګ کاټ استعمالول ---------- //
د جُمعې تر آذان وروسته د تجارت حکم ---------- ١٢٤
له ضرورت څخه زیاته ډوډۍ جمع کول او بیا ئې خرڅول ---------- //
د کاریز د اوبو خرڅول ---------- ١٢٥
د بیع فضولي حکم ---------- //
د ځناورو د وینو اخیستل او خرڅول ---------- //
د مشترکه جائد ادونو او زمکو د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ١٢٦
د مشتري بایع ته د دوکې ورکولو حکم ---------- //
د قربانۍ لپاره د اخیستل شوي حامله ځناور د واپس کولو حکم ---------- ١٢٧
د بیع د فسخ کولو په صورت کښې په بایع باندې د جرمانه لګولو حکم ---------- //
تر ټاکلي وخته پورې د روپو د ادا کولو اختیار ورکول ---------- ١٢٨
په پښیمان کیدو باندې د پیسو بیرته ورکول لازم دي ---------- //
په بیع کښې د بیعانه (ټپې) د ضبط کولو رواج ---------- ١٢٩
د کلو ګرام په حساب سره د یوه شي اخیستل او د سیر په حساب سره ئې پلورل ---------- //
د نابالغ جائد اد په جبر سره د پلورلو حکم ---------- ١٣٠
د بایع د منفعت شرط لګول باطل دي ---------- //
د عامه منفعت د کارونو لپاره د بیع او شراء حکم ---------- ١٣١
د موهوبه (هبه شوې) زمکې د اخیستلو او پلورلو حکم ---------- //
د الکحل د تجارت حکم ---------- //
د حیواناتو په پور باندې د پلورلو حکم ---------- ١٣٢
په وچې او لمدې خرما کښې تفاضل (زیاتوالی) ---------- //
د مختلفو ملکونو د پیسو د تجارت حکم ---------- ١٣٣
قبل القبض (تر قبضې مخکښې) د یوه شي د پلورلو حکم ---------- //
د قسطونو تر ختمیدو مخکښې موټر ته د رسیدونکي تاوان ذمه وار به څوک وي؟ ---------- ١٣٤
د قسط د ځنډ له وجې مبیعه نه شي واپس کیدلی ---------- //
په اخیستونکو باندې په مختلفو قیمتونو سره د شیانو د خرڅولو حکم ---------- ١٣٥
په تجارت کښې د ګټې تعین نشته ---------- //
ښځې ته د مېړه له اجازې پرته د هغه د مال خرڅولو حکم ---------- ١٣٦

١٣٦ ----
د برق (بجلي) د اخیستلو او خرڅولو حکم----
١٣٧----
د ډرافټ (حوالې) د رسید د خرڅولو حکم----
// ----
د ژوندي چرګانو په تول باندې پلورل----
١٣٨ ----
د چرګانو ګندګۍ د سرې په شکل کښې د خرڅولو حکم----
// ----
د تصنیف یا طباعت د حقوقو خرڅول----
١٣٩----
د فارمي چرګانو د اخیستلو او پلورلو حکم----
١٤٠ ----
د سپي، د تي رودونکي خوسکي (د غوا د بچي) د اخیستلو او خرڅولو حکم----
// ----
لومړي خرڅوونکي ته له دویم اخیستونکي څخه بیرته د شي اخیستل جائز دي----
١٤١ ----
د نابالغو یتیمانو د جائداد د اخیستلو او خرڅولو حکم----
// ----
د ژلۍ د اوریدو له وجې د متاثر شوي کبانو د اخیستلو او خرڅولو حکم----
١٤٢----
په مبیعه کښې زیاتوالی د بائع (خرڅوونکي) حق دی----
// ----
د تصویرونو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حکم----
// ----
د زقوم د میوې د خوړلو، اخیستلو او خرڅولو حکم----
١٤٣----
د اجرت قبل القبض د اخیستلو او خرڅولو حکم----
// ----
د خرو او سپیو د غوښې د اخیستلو او خرڅولو حکم----
١٤٤----
د زمري او ایږ د وازګې تجارت----
// ----
له ذبح څخه مخکښې د څرمن د اخیستلو او خرڅولو حکم----
// ----
په روغو او ښو شیانو کښې د خرابو شیانو ګډول او بیا ئې پلورل----
// ----
ژبنۍ سودا د بیع بالمعدوم په حکم کښې ده----
١٤٥ ----
د اخیستونکي د پلمې او اخوادیخوا په صورت کښې د بیع د فسخ کولو حکم----
// ----
د روپو د اداکولو د ناټاکلي وخت حکم----
١٤٦----
د مُردارو ځناورو د هډوکو اخیستل او خرڅول----
// ----
د واوچر (رسید) د خرڅولو حکم----
١٤٧ ----
د بیع قبل القبض حکم----
// ----
مبیعه په بائع (خرڅوونکي) باندې د بیرته خرڅولو شرط لګول----
// ----
د سرو زرو د ګینړو په پور باندې د تجارت حکم----
١٤٨ ----
د جعلي ویزې د پلورلو حکم----
// ----
د خرابو (ورستو) هګیو د خرڅولو حکم----
١٤٩ ----

باب الخيار

د خیار رؤیت حکم----
د غبن فاحش مسئله----
١٥٠ ----
١٥٠ ----

د یوه شي له ټولو عیبونو څخه د پاکوالي په بیانولو سره د هغه خرڅول----
١٥١----
د بیع بالوفاء حکم----
// ----
په عیب باندې د خریدار د خبرولو حکم----
١٥٢ ----
د عدم رؤیت (نه لیدلو) له وجې د زمې د تبادلې منسوخول----
// ----
د عیب لرونکو شیانو خرڅول----
١٥٣ ----
د بهرني هیوادونو د ویزې په اخیستلو او خرڅولو کښې د خیار عیب حکم----
// ----
خیار رؤیت نه انتقالیدونکی حق دی----
١٥٤ ----

باب الاقالة

په اقاله کښې د دواړو خواوو خوښې----
١٥٥ ----
په اقاله کښې د قیمت د کمولو شرط لګول----
// ----
خرڅ شوی شی بیرته په کم قیمت باندې اخیستل----
// ----
د مبیعې د نه خوښیدو په صورت کښې د هغې د واپس کولو حکم----
١٥٦ ----
د اقالې په صورت کښې د روپو زیاتوالی جائز نه دی----
١٥٧----
د روپو د مصرف کیدو په صورت کښې د اقالې حکم----
// ----

باب المرابحة و التولية

په بیع مرابحه کښې د منافعو مقدار متعین نه دی----
١٥٨----
د مرابحې په بیع کښې د خیانت له شبهې څخه هم ځان ساتل ضروري دي----
// ----
په بیع مرابحه کښې د ګز او متر د تعین ضرورت----
١٥٩ ----
د لارې مصرف د اخیستل شوي شي له اصل قیمت سره ګډول----
// ----
د کوم شي د خرید په قیمت کښې د نورو مصرفونو د ګډولو صورت----
١٦٠----
د مرابحه په بیع کښې د خیانت له وجې بایع ته د مبیعې د بیرته ورکولو حکم----
// ----
سیل ټیکس په قیمت خرید کښې د ګډولو حکم----
١٦١----
ضلع ټیکس، پل ټیکس، محصول، چونګي او داسې اخراجات له اصل قیمت سره ګډول---- //
په قسطونو باندې د شیانو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت----
١٦٢----
د قرض له وجې یو شی په زیات قیمت باندې ورکول----
// ----
په بیع مرابحه کښې په دوکې سره په اخیستل شوي زیاتو روپو باندې د رجوع حکم---- ١٦٤
مبیعه په زیات قیمت باندې پلورل----
// ----
په بیع مرابحه کښې د فیصدۍ له مخې د منافعو تعین (ټاکل)----
١٦٥----
وضاحت----
١٦٦ ----

د پور په صورت کښې د یوه شي په زیات قیمت باندې د خرڅولو شرعي حیثیت ----- ١٦٧
د مولانا طاسین صاحب مضمون ----- //
ځواب له قاضي عبد الکریم کلاچوي څخه ----- ١٨٣
ځواب له مفتي غلام الرحمٰن صاحب څخه ----- ١٨٨
د مقلد ذمه واري ----- ١٨٩
د دلیل د غوښتنې حقیقت ----- ١٩٠
د نظر لاندې مسئلې کښې په قیمت کښې د زیاتوالي حقیقت ----- ١٩١
له قرآنکریم څخه استدلال ----- //
د رسول اللهﷺ له یوې عملي واقعې څخه استدلال ----- ١٩٣
په خیر القرون کښې د بحث لاندې مسئلې عملي ثبوت ----- ١٩٥
د مختلف الجنس شیانو په تبادله کښې حقیقي او حکمي تفاضل دواړه جائز دي ----- ١٩٧
د نقد او نسیئه په قیمتونو کښې د تفاوت جواز د ائمه وو ترمنځ اختلافي مسئله ده ----- //
د یوې غلط فهمۍ ازاله ----- ١٩٨
د موصوف د مقالې څیړنه ----- //
د اولې وجې کمزوري ----- ٢٠٠
د دویمې وجې کمزوري ----- ٢٠٢
د دریمې وجې کمزوري ----- ٢٠٣

باب السلم

د بیع سلم حقیقت ----- ٢٠٥
د مالدار یا غني لپاره د بیع سلم اجازه ----- //
په کرنسي نوټونو کښې د بیع سلم اجازه ----- ٢٠٦
په بیع سلم کښې د ټول قیمت لاس ته راوړل ضروري دي ----- //
په څناورو کښې د بیع سلم حکم ----- ٢٠٧
د مجلو او جرائدو له خریدارانو څخه پیشګي قیمت اخیستل ----- //
د جوس په کړیتونو یعنې ډبیو کښې د بیع سلم حکم ----- ٢٠٨
که چېرته مسلم فیه ورك شي نو؟ ----- //
له جانبینو (دواړو خواوو) څخه په موزوني (تلل کیدونکو شیانو) کښې بیع سلم جائز نه دی ----- ٢٠٩
په څنغوزو کښې د بیع سلم حکم ----- //
په افیونو کښې د بیع سلم حکم ----- ٢١٠
په رختونو کښې د بیع سلم حکم ----- //

کتاب الربوٰا

د سود یا ربوٰا حقیقت ----- ٢١١
له سود څخه د ځان ساتلو حیله ----- //
د سود د روپو مصرف ----- ٢١٢
ګړه او غنم په پور ورکول او د بیرته اخیستلو په وخت کښې د زیاتوالي شرط لګول سود دی ----- ٢١٣
په سود باندې قرض ورکول جائز نه دي ----- //
په مؤجل پور کښې دکموالي په کولو سره معجل (په بیړه سره) وصولول حرام دي ----- //
د قرض په ورکولو سره د ګټې متعین کول ناجائز دي ----- ٢١٤
د مساوي حقوقو په وخت کښې قرعه اندازې سود نه ده ----- //
د مشتري (اخیستونکي) په لاس کښې مبیعه د ګټې په شرط باندې د خرڅولو وعده سود نه ده ----- ٢١٥
د سودي روپو په بدل کښې سودي روپۍ ورکول او د غاړې خلاصول ----- //
له مرهونه شي څخه د نفع شرط سود دی ----- ٢١٦
د قدر د اشتراك په صورت کښې د قرض تبادله ناجائزه ده ----- //
د ګټې په شرط باندې په قرض روپۍ ورکول سود دی ----- ٢١٧
د پور له وجې د زیات قیمت وصولول سود نه دی ----- //
په سودي شیانو کښې د قرض معامله ----- //
نقدې روپۍ د قسطونو په شکل کښې زیاتې وصولول ----- ٢١٨
د مضاربت ګټه سود نه ده ----- //
د بانك په ذریعه د پیسو د لیږلو شرعي حیثیت ----- ٢١٩
په ډاکخانه کښې په جمع شوي روپو باندې د ګټې اخیستنې حکم ----- //
بیع محاقله په سود کښې داخله ده ----- ٢٢٠
د پي، ایل، ایس (غیر سودي خاتې) حکم ----- //
د انعامي بانډونو د اخیستلو او خرڅولو حکم ----- ٢٢١
د مروجه نوټونو په تبادله کښې مساوات شرط دی ----- //
په دار الحرب کښې له کافر څخه سود اخیستل منع دي ----- ٢٢٢
په دار الاسلام کښې له یوه غیر مسلم څخه هم سود اخیستل جائز نه دي ----- //
د "لا ربٰوا بین المسلم و الحربی" وضاحت ----- //
پراویډنټ (ذاتي) فنډ او د سود مسئله ----- ٢٢٣
د جي پي فنډ روپۍ تر لاس ته راتلو مخکښې کومې کمپنۍ یا بانك ته په سود باندې د ورکولو حکم ----- ٢٢٤
د نوکر یا مزدور په اجازه د هغه له تنخواه څخه په ذاتي فنډ کښې د څه ور اچولو حکم ----- //

د موټر د ورکولو په بدل له اصل روپو څخه د زیاتو روپو مطالبه سود ده ---------- ۲۲۵
د انعامي سکیمونو حکم ---------- //
د بهرنیو ملکونو کرنسي په زیات قیمت باندې اخیستل ---------- //
د بانك د تعمیر (جوړولو) لپاره د زمکې ورکول ---------- ۲۲۶
د زړو لوټونو په نوي باندې په کم قیمت سره د بدلولو حکم ---------- //
د زمکې له زمکې سره تبادله جائزه ده ---------- ۲۲۷
د غنمو او جوارو تبادله ---------- //
د فصل په بدل کښې د غلې د ورکولو حکم ---------- ۲۲۸
سره او سپین زر د قرض په شکل کښې په زیات قیمت باندې خرڅول ---------- //
د استیټ لائف کمپنۍ د جل او تلبیس (دوکه او فریب) ---------- ۲۲۹
د بیمه ژوند انه شرعي حیثیت ---------- ۲۳۰
د سود په ورکولو او اخیستلو باندې ګواه جوړېدل او د اضطراب (مجبورۍ) په حالت کښې د سود ورکولو حکم ---------- ۲۳۴

کتاب الرهن

د مرهونه زمکې د اخراجاتو د ذمه وارۍ حکم ---------- ۲۳۵
له مرهونه زمکې څخه د ګټې اخیستنې حکم ---------- //
رهن د مِلك سبب نه دی ---------- ۲۳۶
د مالك له اجازې پرته له مرهونه شي څخه ګټه اخیستنه د ضمان موجب دی ---------- //
د مرهونه شي د اجارې حکم ---------- ۲۳۷
په مرهونه شي د مالك تصرف د مرتهن په اجازې پورې موقوف دی ---------- //
د مرهونه زمکې له رهن څخه له خلاصولو پرته په بل چا باندې پلورل ---------- ۲۳۸
د کافر له مرهونه زمکې څخه د ګټې اخیستنې حکم ---------- ۲۴۰
د مرهونه زمکې حاصلات راهن ته بیرته ورکول لازم دي ---------- //

کتاب الاجارة

د اجارې په عقد کښې د وخت تعین ضروري دی ---------- ۲۴۲
د اوږدې مودې لپاره د زمکې په اجاره ورکول ---------- //
په معلوم اجرت باندې د اجارې حکم ---------- ۲۴۳
د نامعلوم وخت لپاره د اجارې عقد ---------- ۲۴۴
د موټرو ټایرونو په کرایې باندې ورکول ---------- //

په اجاره باندې په اخیستل شویو زمکو کښې د موجودو ونو حکم ---------- ۲۴۵
د اجاره شوي شي د جوړولو مصرف په مستاجر باندې د اړولو حکم ---------- ۲۴۶
د ټاکل شوې مودې څخه مخکښې چه څوك نوکري پرېږدي نو تنخواه نه ورکول کیږي، داسې اجاره فاسده ده ---------- ۲۴۶
د فاسدې اجارې یو بل صورت ---------- ۲۴۷
څناور په نیمایي باندې ساتل ---------- //
په مزدورۍ کښې مزدور ته د زمکې ورکول ---------- ۲۴۸
په اجاره کښې بزګر ته د کرنې عامه اجازه ورکول ---------- //
اجاره په اجارې باندې جائزه ده په دې شرط چه پخپله په مؤجر باندې نه وي ---------- ۲۴۹
د مستاجر یا موجر په مرګ سره د اجارې د ختمیدلو حکم ---------- //
په جعلي سندونو باندې د نوکرۍ پیدا کوونکي نوکر د تنخواه حکم ---------- ۲۵۰
د جومات امام د نا اهلۍ له وجې د معزولولو حکم ---------- //
د جومات په امامت او د قرآن په تعلیم باندې د اجرت اخیستلو حکم ---------- ۲۵۱
د نکاح په تړلو باندې د اجرت اخیستلو مسئله ---------- //
اجیر خاص ته د کار په وختونو کښې بل کار کول جائز نه دي ---------- ۲۵۲
اجیر خاص خپل کار په بل سړي باندې نه شي کولی ---------- //
د اجیر خاص استحقاق ---------- ۲۵۳
ملازم، مزدور یا نوکر ته له ورسپارل شوي خدمت څخه پرته بل کار جائز نه دی ---------- //
د مال د غلا کیدو په صورت کښې په اجیر خاص باندې د ضمان حکم ---------- ۲۵۴
د ټیوب ویل (برمې) اوبو په اجاره باندې د ورکولو حکم ---------- //
د دیني مدارسو لپاره په کمیشن باندې د چندې ټولول جائز نه دي ---------- ۲۵۵
د دیني او عصري مدرسو د استاذانو لپاره د رخصتۍ د ورځو تنخواه اخیستل جائز دي ---------- //
د مسلمانانو لپاره د کفارو د مزدورۍ یا نوکرۍ حکم ---------- ۲۵۶
د راډیو په جوړولو باندې د اجرت اخیستلو حکم ---------- //
د غوایي په غوا باندې د خېژولو په سر د اجرت اخیستلو حکم ---------- ۲۵۷
په عکاسي (عکس اخیستلو) باندې اجرت اخیستل ---------- //
د قلنګ د ټولولو حکم ---------- ۲۵۸
د بانك د څوکیدارۍ حکم ---------- //
د بانك د نوکرۍ حکم ---------- ۲۵۹
د شریعت خلاف په کوم کار باندې اجرت اخیستل ---------- //
په تعویذ باندې اجرت اخیستل جائز دي ---------- //

په دلالي باندې اجرت اخیستل جائز دي ------ ۲۶۰
د هرتال د ورځو تنخواه اخیستل جائز دي ------ //
د مریض د مرض په تشخیص باندې د ډاکټرانو د فیس اخیستلو حکم ------ ۲۶۱
په اجاره باندې په نیول شوې زمکې کښې د افیونو کرل ------ //
د عذر په صورت کښې د اجارې فسخ کول ------ ۲۶۲
نا اهلي د اجارې د فسخ کولو لپاره عذر دی ------ //
په اجاره باندې د ورکړ شوي شي بیع موقوفه ده ------ ۲۶۳
د میوزك سنټر (د ساز او سروز) لپاره دوکان په کرایه باندې ورکول ------ ۲۶۴
د پیشګي یا پګړۍ په ورکولو سره د دوکان یا کور په چا باندې د خالي کولو حکم ------ //
د آفاتو له وجې اجرت ساقطیږي ------ ۲۶۵
په کومو شرطونو سره چه بیع فاسدیږي په هغو شرطونو د اجارې عقد هم فاسدیږي ------ //
له ګودام څخه د مال د غلا کیدو په صورت کښې په چوکیدار ضمان نشته ------ ۲۶۶
له کومې سفارتخانې څخه د ویزې په را ایستلو باندې پیسې اخیستل جائز نه دي ------ //
د قفیز الطحان د مسئلې حکم ------ ۲۶۷
د فتاوی شامي د یوه عبارت وضاحت ------ ۲۶۸
په اجاره باندې د څناور د ساتلو طریقه ------ //
تر مشروط وخت مخکښې د دوکان په خالي کولو سره د ټول وخت د کرایې اخیستلو حکم ------ //
د رشوت په ذریعه د حاصل شوې ټیکې د ګټې حکم ------ ۲۶۹
د کمیشن د اخیستلو شرعي حیثیت ------ //
په کار کښې د خنډ د پیدا کیدو له ویرې د ټیکدار پورتني افسرانو ته رشوت ورکول ------ ۲۷۰
د جومات امام د امامت له حق څخه د زیاتې رخصتۍ حکم ------ ۲۷۱
د جنازې د لمانځه په سر اجرت اخیستل ------ //
د ګولډن هینډ شیك شرعي حیثیت ------ ۲۷۲
ډم ته دوکان په کرایه باندې د ورکولو حکم ------ ۲۷۳
د فاسدې اجارې د جواز صورت ------ ۲۷۴
د بد اخلاقۍ له وجې له مدرسې څخه د ایستل شوي استاذ لپاره د ټول کال د تنخواه حکم ------ //
د رخصتۍ د ورځو د تنخواه حکم ------ ۲۷۵
د داخلې او میاشتني فیسونو حکم ------ ۲۷۷
د دلال په اجرت باندې د یوې شبهې ځواب ------ //
په سفارش باندې د اجرت اخیستلو حکم ------ //
د زمکې په اجارې باندې د ورکولو یو صورت ------ ۲۷۸

کتاب الشفعه

د شفعې حقدار ------ ۲۸۰
په تبادله کښې د شفعې د حق اثبات ------ //
د شفعې د حق پلورل ------ ۲۸۱
له بیع څخه مخکښې د مصالحت په صورت کښې د شفعې حق نه ساقطیږي ------ //
له ګنو شفعاوو څخه د ځینو په ساقطیدو سره د نورو حق نه متاثر کیږي ------ //
د دوکې په ورکولو سره د شفعې حق نه متاثر کیږي ------ ۲۸۲
د مشترکې زمکې د څه حصې په اخیستلو سره د شفعې حق نه ساقطیږي ------ //
په وقف شوې زمکې باندې هیڅوك د شفعې حق نه لري ------ ۲۸۳
په وچې یا بارانې ویالې باندې د شفعې حق نه ثابتیږي ------ //
د تاخیر یا ځنډ له وجې د شفعې د حق باطل والی ------ ۲۸۴
کافر هم د شفعې حق لري ------ //
حمل (د مور په نس کښې بچی) هم د شفعې حق لري ------ ۲۸۵
د شفعې حق د بلوغ تر کلونو پورې موقوف وي ------ //
په فاسدې بیع باندې د شفعې حق ------ ۲۸۶
د شفعې هبه صحیح نه ده ------ //
په بیع وفاء باندې د شفعې حکم ------ ۲۸۷
په منقوله مالونو کښې شفعه صحیح نه ده ------ //
د قتل عمد په عوض کښې په ورکړ شوې زمکې کښې د شفعې دعوی ------ //
د مهر په حق کښې په ورکړ شوې زمکې باندې د شفعې حکم ------ ۲۸۸
په صلح کښې په ورکړل شوي جائداد باندې د شفعې حکم ------ //
د اشهادو د غوښتنې په وخت کښې د حدود اربعه د بیانولو حکم ------ ۲۸۹
د اشهادو په طلب کښې د ګواهانو د شمیر حکم ------ ۲۹۰
د شفعې په حق کښې شریك فی الشرب وړاندې دی ------ //
د مهر مسمّی په بدل کښې په ورکړل شوې زمکې باندې د شفعې حکم ------ ۲۹۱
د تحفې په توګه په لاس ته راتلونکې زمکې باندې د شفعې حکم ------ //
د زمکې په بدلولو باندې د شفعې حق ثابت دی ------ ۲۹۲
د کرایه دار په حیثیت چا ته د شفعې حق حاصل نه وي ------ //
د نه انتقال په صورت کښې د شفعې حکم ------ ۲۹۳
د مشتري (اخیستونکي) په مرګ سره د شفیع د شفعې حق نه باطلیږي ------ //

که چېرته شفعاء سره برابر وي نو دواړه د شفعې حق لرونکي دي---------- ۲۹۳
د چا د شفعې د حق د له منځه وړلو لپاره له اصل روپو څخه په خط کښې زياتې روپۍ ليکل-- ۲۹۴
د شفعې د قانون په مسودې باندې په شورٰی کښې شوی تقرير---------- ۲۹۵
د شفعې د قانون مسوده او د دار العلوم حقانيې سفارشات او ترميمونه---------- ۳۰۴

كتاب الشركه

د موروثي جائداد د ګټو د تقسيم حکم---------- ۳۱۰
مشترك مال د بولۍ په ذريعه د اخيستلو حکم---------- //
د شريك په مرګ سره د شرکت د ختميدو حکم---------- ۳۱۱
د ګډ کاروبار د ګټو دتقسيم حکم---------- //
له مشترکې زمکې څخه د خپلې حصې د خرڅولو حکم---------- ۳۱۲
د شريکانو د غير حاضري په صورت کښې په زمکې باندې د څه کرنې حکم---------- //
مشترك يا ګډ مال چا ته عاريتاً د ورکولو حکم---------- ۳۱۳
په شريك جائداد کښې د شريك له اجازې پرته د تصرف کولو حکم---------- //
د مشترك ديوال د جوړولو د مصارفو حکم---------- ۳۱۴
په اقرار سره د شرکت ثبوت---------- //
په مشترکه زمکې کښې د يوه شريك له خوا د ميوه لرونکو ونو لګول---------- ۳۱۵
مشترك کتابونه د نورو شريکانو له اجازې پرته چا ته په عاريت ورکول جائز نه دي---------- //
د مشترك تيوب ويل (د اوبو برمه) له اوبو څخه د يوه شريك منع کول جائز نه دي---------- ۳۱۶
د کبانو په ښکار کښې د شرکت حکم---------- //
د مشترك ايئر کنډيشن د پلورلو حکم---------- ۳۱۷
له مشترك مال څخه د حج کولو حکم---------- //
په مشترکه زمکه کښې د چينې له اوبو څخه د شريك منع کول جائز نه دي---------- ۳۱۸
له مشترکو مالونو څخه د زکات د ورکولو حکم---------- //
له مشترکو مالونو څخه د ميلمه پالنې حکم---------- ۳۱۹
شريك ته د شرکت د ختمولو اختيار شته---------- //
د پلار او زوی د مشترکې ګټې حکم---------- ۳۲۰
په مشترکه زمکه باندې د شريك له اجازې پرته د باغ لګولو حکم---------- //
په شريکه د غوا د ساتلو حکم---------- ۳۲۱
په مشترکه زمکه باندې د شريکانو له اجازې پرته کور جوړول---------- //
د مزدور ګټه د هغه خاص مِلکيت وي---------- ۳۲۲

په ګټه او مصرف کښې د شريکو ورونو د ګټې حکم---------- ۳۲۲
له مشترکې ويالې څخه د ګټې اخيستنې حکم---------- ۳۲۳
مزدور چه څه ګټي هغه د هغه خاص مِلکيت وي---------- //
د پلار او زامنو په مشترك تجارت کښې د زامنو برخه---------- ۳۲۴

كتاب المضاربت

د مضاربت حقيقت---------- ۳۲۶
په مضاربت کښې د منافعو تعين---------- //
د مضاربت په عقد کښې ضروري دا ده چه رأس المال به نقد وي---------- ۳۲۷
د مضارب د نفقې حکم---------- //
په مضاربت کښې د تاوان د ذمه وارۍ مسئله---------- ۳۲۸
په مضاربت کښې دواړه خواوې کله د منافعو حقداره جوړيږي؟---------- //
حکومتي جرمانه په رب المال ده او که په مضارب؟---------- ۳۲۹
د دوکان مصارف په مضارب باندې اړول---------- //
د مضاربت په قواعدو او ضوابطو باندې د عُرف اثر---------- ۳۳۰
په مضاربت باندې د حيوان (څناور) د ورکولو حکم---------- //
د مضاربت په مال باندې د اخيستل شويو وزو د شيدو حکم---------- ۳۳۱
د مضارب له معاهدې خلاف کار کول---------- ۳۳۱
د مدرسې روپۍ د چنده ورکوونکو په اجازې سره چا ته په مضاربت ورکول---------- //
د مال د موجود والي په صورت کښې د مضاربت د ختمولو حکم---------- ۳۳۲
د مضاربت له ختم کولو څخه انکار او د مضاربت د عقد لپاره د مودې د ټاکلو حکم---- //

كتاب الوكاله و الكفاله

نابالغ لره وکيل جوړول---------- ۳۳۴
په وکالت کښې د وکالت علم ضروري دی---------- //
په نکاح کښې د نابالغ د وکالت حکم---------- ۳۳۵
په توکيل کښې د مخالف لوري د خوښې حکم---------- //
له وکيل څخه د روپو د ضائع کيدو په صورت کښې به ذمه وار څوك وي؟---------- ۳۳۶
په وکيل باندې د ضمان حکم---------- //
د وکيل په مدعي باندې اقرار کول---------- //
د نکاح په توکيل کښې شهادت ضروري نه دی---------- ۳۳۷

مروجه وکالت د کسب او معاش په توګه غوره کول ---------- ۳۳۸
یو وکیل د ځان لپاره د بل وکیل د نیولو حکم ---------- //
په ګارنټي (ذمه وارۍ) سره د کوم شي د اخیستلو او خرڅولو حکم ---------- ۳۳۹
د وکیل د وکالت له منصب څخه خلاف کار کول ---------- ۳۴۰

کتاب الحواله

محیل ته د قرض د اداکولو لپاره په محتال علیه کښې دورکړ شوي مهلت اعتبار ---------- ۳۴۱
په حواله کښې د دائن رضا ضروري ده ---------- //
تر حواله کولو وروسته له مدیون څخه د قرض د مطالبې حکم ---------- ۳۴۲
د مجهول شي ذمه واري اخیستل ---------- //
د کفیل او مکفول عنه تر منځ په روپو کښې اختلاف ---------- ۳۴۳
د محتال علیه د رضا مندي حکم ---------- //

کتاب الهبه

په هبه کښې عرف لره اعتبار دی ---------- ۳۴۴
تملیک هم د هبې په شان دی ---------- //
د ناقابل تقسیم شیانو د هبې حکم ---------- ۳۴۵
د تقسیم وړ شیانو کښې له تقسیم څخه مخکښې هبه صحیح نه ده ---------- //
په اجاره باندې ورکړ شوي زمکه چا ته هبه کول ---------- ۳۴۶
د موهوبه جائداد په حکومتي کاغذونو کښې د انتقال حکم ---------- //
د عمرٰی هبه د رجوع وړ نه ده ---------- ۳۴۷
د مرګ او عوض له وجې د رجوع حق ساقطیږي ---------- //
د څوکسانو یوه سړي ته د کوم شي هبه کول ---------- ۳۴۸
د هبې لپاره په ایجاب او قبول باندې تلفظ ضروري نه ده بلکه یو اځې قرائن هم کافي دي ---------- //
والدینو ته د اولاد د مال هبه کول جائز نه دي ---------- ۳۴۹
په فاسدو شرطونو سره هبه نه فاسدیږي ---------- //
د مشروطې هبې حکم ---------- ۳۵۰
له هبې څخه د رجوع مسئله ---------- //
د موهوبه زمکې د خرڅولو حکم ---------- ۳۵۱
خپلوانو ته د څه شي د هبه کولو په صورت کښې د رجوع حق له منځه ځي ---------- //
ځینې اولادونو ته د څه شي په هبې کښې د تفاضل حکم ---------- //

د هبې لپاره دواهب رضا ضروري ده ---------- ۳۵۲
د مرګ په مرض کښې شوې هبه صحیح نه ده ---------- //
لمسي ته د زمکې تر هبه کولو وروسته پخپله په هغې باندې د قابض کېدو حکم ---------- ۳۵۳
د غلا مال که چا ته هبه شي نو اصل مالك ته ئې واپس کول واجب دي ---------- //
قرائن هم د هبې د تکمیل لپاره کافي دي ---------- ۳۵۴
د ښځې لپاره د هبه شوي حق مهر له هبې څخه رجوع کول ---------- ۳۵۵
د کوچنیانو په مال کښې تصرف کول ---------- //
د بې اولاده سړي لپاره پخپل ژوند کښې د خپل مال د تقسیمولو حکم ---------- ۳۵۶
یو اځې په اندراج سره هبه تامه نه ګرځي ---------- //
یو اځې د منافعو د لاس ته راوړو لپاره د ورکړ شوې شي هبه تامه نه ګرځي ---------- ۳۵۷

کتاب الغصب

د غاصب قبضه ---------- ۳۵۸
مالك ته د اطلاع له ورکولو څخه پرته د حق له ورکولو څخه د برائت حکم ---------- //
بې له اجازې د نورو خلکو د څناورو ذبح کول ---------- ۳۵۹
د مغصوبه زمکې له بیرته ورکولو څخه وروسته د هغې د منافعو حکم ---------- //
د چاله زمکې څخه د هغه له اجازې پرته د خاورې راوړل ---------- ۳۶۰
بې له کرایې نه له شوي سفر څخه د غاړې د خلاصیدو طریقه ---------- //
د ترۍ د بندولو مسئله ---------- //

کتاب الودیعه و العاریه

امین په امانت کښې د تصرف کولو حق لري ---------- ۳۶۲
د امانت د ضائع کیدو په صورت کښې د ضمان حکم ---------- //
د امانت په ساتلو باندې د اُجرت اخیستلو حکم ---------- ۳۶۳
د مودع په وفات باندې وارثان د مطالبې حق لري ---------- //
د امانت د ضائع کیدو د ویرې په صورت کښې د هغه د خرڅولو حکم ---------- //
په عاریت سره د ورکړ شوي شي بیرته اخیستل ---------- ۳۶۴
د معیر یا مستعیر په مرګ سره اعاره فسخ کیږي ---------- ۳۶۵
د معیر او مستعیر په اجاره او عاریت کښې اختلاف ---------- //
امانت اېښودونکی چه بیرته را نه شي نو حکم به ئې څه وي؟ ---------- ۳۶۶
د مجبورۍ له مخې د امانت د خرڅولو حکم ---------- //

کتاب احیاء الموات

د اسې زمکې آبادول چه مالکان ئې معلوم نه وي---------- ۳۶۸
که چېرته عامه اجازه نه وي نو په احیاء الموات کښې د مِلکیت د ثبوت حکم به څه وي؟-- //
په احیاء الموات کښې راجح قول د امام ابو حنیفهؒ دی---------- ۳۶۹
د ځنګل پخپل منځ کښې په ویشلو سره خلك د هغه مالکان نه شي ګرځیدلی---------- //
په خرابه زمکې باندې یو ځای د نښو په لګولو سره مِلکیت نه ثابتیږي---------- ۳۷۰
د غیر مملوکه مشترك مال چر (څرند ځای) د زمکې په آبادولو سره مِلکیت نه ثابتیږي---------- //
خرابه زمکه پخپل منځ کښې تقسیمول او د هغې آبادول---------- ۳۷۱
هر څوك د احیاء موات حق لري---------- //
د غیر آباده زمکې آبادوونکی د بل له شرکت څخه پرته د هغې مالك دی---------- ۳۷۲
له عامه مفاد څخه وتلې زمکه چه څوك آباده کړي نو هغه ئې مالك ګڼل کیږي---------- //
د کافر لپاره د احیاء موات حکم---------- //
د مواتو تعریف---------- ۳۷۳
یو ځای قبضه د مِلك سبب نه ګرځي---------- //
په نیمایي ورکول یعنې اجاره د مِلکیت سبب نه دی---------- ۳۷۴
په حکومتي زمکو باندې د قبضې په کولو سره د هغو د احیاء حکم---------- //
د هندوانو په متروکه جائدادونو باندې د قبضې حکم---------- ۳۷۵
کلي یا ښار ته نژدې د خرابې زمکې آبادول---------- ۳۷۶
د زمکې د ملکیت د تحدید د دلائلو څیړنه، انفرادي او شخصي مِلکیت---------- ۳۷۷
د نظائرو او شواهدو جائزه---------- ۳۷۸
د حکمت عملي پالیسي---------- ۳۸۲
د شخصي ملکیت شواهد---------- ۳۸۳
د سوشلزم د ظلم بنیاد، استحصال او مادیت---------- ۳۸۴
مساوات یعنې مواسات استحصال نه دی احتساب---------- ۳۸۵
سوشلزم او کور په کور جاسوس---------- //
د سوشلزم د عیارو لیډرانو د فریب لومې---------- //

کتاب المزارعه

د مزارعت څو صورتونه---------- ۳۸۶
د فصل د ریبلو د ذمه وارۍ حکم---------- //
د بزګر لپاره د زمکې د مالك له اجازې پرته له فصل څخه څه اخیستل---------- ۳۸۷

له بزګر څخه د ضمانت په توګه څه روپۍ اخیستل---------- ۳۸۷
په مزارعت باندې د مرګ اثرات---------- ۳۸۸
په زاړه قبرستان کښې د مزارعت حکم---------- //
د افیونو د کرلو حکم---------- ۳۸۹
د تمباکو کرل جائز دي---------- //
د بنګو د کرلو حکم---------- ۳۹۰
د زمکې د مالك له خوا په مزارع باندې له تخم برسیره د اسپې، سرې او د اسې نورو شرائطو
په لګولو سره د مزارعت حکم---------- //
د هدایې د یوه عبارت وضاحت---------- ۳۹۱
د چینې له اوبو څخه د منع کولو حکم---------- //

کتاب الذبائح

د ذبح لپاره د الله د نامه اخیستل کافي دي---------- ۳۹۳
د ذابح (ذبح کوونکي) د معاون لپاره د تسمیه حکم---------- //
د ذبح فوق العقد حکم---------- ۳۹۴
د ځناور حرکت یا له هغه څخه د وینې وتل د حلت (حلالوالي) باعث دی---------- //
د ذبح په وخت کښې د ځناور سر له تنې څخه جلا کول مکروه دي---------- ۳۹۵
په کومه حادثه کښې د ځناور د سر تر پرې کیدو وروسته د هغه حکم---------- //
په غابس، نوکانو او د اسې نورو باندې د حلالیدونکې ذبیحې حکم---------- //
د مشیني ذبیحې حکم---------- ۳۹۶
د خاصو مواقعو د ذبح حکم---------- ۳۹۷
د اهل کتاب د ذبیحې حکم---------- //
د اهل تشیع یعنې شیعه ګانو د ذبیحې حکم---------- //
د غوایي د غوښې د حلت حکم---------- ۳۹۸
د غلا شوي ځناور د غوښې حکم---------- //
سُوی حلال ځناور دی---------- ۳۹۹
د کارغه د حلت او حرمت حکم---------- //
د هُد هُد مرغه د خوړلو حکم---------- ۴۰۰
د وطی شوي ځناور شرعي حکم---------- //
په اروپا کښې د ذبح شوي ځناورو د غوښې حکم---------- ۴۰۱
د غیر فطري طریقې پیداوار او د غیر مُلکي غوایانو حکم---------- //

د ذبح په وخت کښې په قصد سره د تسمیه (بسم الله) د پریښودلو حکم ---------- ٤٠٢
د حلال ځناور حرامې اجزاوې ---------- //
ځناور په مرمۍ یا ګولۍ باندې ویشتل او بیا حلالول ---------- ٤٠٣
د خنزیر د حرمت فلسفه ---------- //
د کونې کبر د خوړلو حکم ---------- ٤٠٥
د خیرونکو ځناورو (درندګانو) د حراموالي فلسفه ---------- ٤٠٦

كتاب الصيـــــد

په جال سره ښکار کول جائز دي ---------- ٤٠٧
په اسلحې سره د ښکار کولو حکم ---------- //
د زخمي ښکار ذبح کول ضروري دي ---------- ٤٠٨
د ښکار د پرې شوي اندام د خوړلو حکم ---------- //
په دریابونو کښې د موجودو کبانو خرڅول جائز نه دي ---------- ٤٠٩
د ښکاري سپي د ښکار حکم ---------- //
د پړانګ او زمري په ذریعه د ښکار حکم ---------- ٤١٠
یوائې د شوق له مخې د ښکار کولو حکم ---------- //
د تجارت په نیت د ښکار حکم ---------- ٤١١

كتاب الاضحيه

د قربانۍ د نصاب معیار ---------- ٤١٢
د قربانۍ د ورځو حکم ---------- //
د اُضحیه یعنې د قربانۍ د ځناور عمر ---------- ٤١٣
د قربانۍ د شریکانو تعداد ---------- //
د قربانۍ د شریکانو د نیتونو حکم ---------- //
په اضطراري شرکت کښې د قربانۍ وجوب ---------- ٤١٤
د قربانۍ په ځناور کښې تر اخیستلو وروسته څوك شریکول ---------- //
د نابالغ د قربانۍ حکم ---------- ٤١٥
د مړي لپاره د قربانۍ حکم ---------- //
له شرعي عذر پرته د قربانۍ نه کول ---------- ٤١٦
د قربانۍ د ځناور د بدلولو حکم ---------- //
د قربانۍ له ځناور څخه د ګټې اخیستنې حکم ---------- ٤١٧

د قربانۍ د غوښو د تقسیم طریقه ---------- ٤١٧
د قربانۍ غوښه په دریو برخو باندې د ویشلو حکم ---------- ٤١٨
د مړي له خوا څخه د شوې قربانۍ د غوښې حکم ---------- //
د نذر شوې قربانۍ د غوښې حکم ---------- //
د قربانۍ څرمن په خیریه کارونو کښې د مصرفولو حکم ---------- ٤١٩
د نصاب خاوند ته د قربانۍ څرمن ورکول جائز دي ---------- ٤٢٠
د قربانۍ غوښه په اجرت کښې ورکول جائز نه دي ---------- //
د داغ لرونکي ځناور د قربانۍ حکم ---------- //
د نکیل لرونکي (چه په پوزه کښې خرطوم وي) ځناور د قربانۍ حکم ---------- ٤٢١
د ښکر ماتوالی د قربانۍ مانع نه دی ---------- //
د حامله ځناور د قربانۍ حکم ---------- //
د خنثیٰ مشکل (نرښځي) ځناور د قربانۍ مسئله ---------- ٤٢٢
د خصي ځناور د قربانۍ حکم ---------- //
د قربانۍ لپاره د ځناور اخیستل او د هغه څربول ---------- //
د نبي کریم ﷺ لپاره د قربانۍ حکم ---------- ٤٢٣
د قربانۍ د ځناور د غابښونو کتل ---------- //
د ښځې د مهر په حق باندې د قربانۍ حکم ---------- ٤٢٤
د تیر شوي کلونو د قربانۍ حکم ---------- //
د قرباني په ځای د هغه د قیمت ادا کول ---------- ٤٢٥
د عقیقې د مشروعیت فلسفه ---------- //
د عقیقې لپاره د ځناور غوره کول ---------- ٤٢٧
د مړ بچي د عقیقې حکم ---------- ٤٢٨
د بچي عقیقه په څو باندې ده ---------- //

قرباني او د لوی اختر مسائل

قرباني او قرآن ---------- ٤٢٩
قرباني او حدیث ---------- //
د قربانۍ د وجوب شرائط ---------- ٤٣١
د قربانۍ ځناور ---------- //
د قربانۍ د ځناور عمر ---------- ٤٣٢
د قربانۍ وخت ---------- ٤٣٣

٤٣٤ ------
د قرباني د غوښې او څرمنې حکم ------
٤٣٦ ------
تکبیرات تشریق ------
// ------
د اختر سُنتونه ------
// ------
د اختر د لمانځه نیت ------
٤٣٧ ------
خطبه

کتاب الوصیه

٤٣٨ ------
وارث ته وصیت باطل دی ------
// ------
نابالغو اولادونو ته د ودونو د کولو وصیت ------
٤٣٩ ------
وصیت په مملوکه جائداد کښې نافذ وي ------
// ------
د تول مال له دریمې برخې څخه په زیاتو کښې وصیت معتبر نه دی ------
٤٤٠ ------
د مړي په وصیت سره په جومات باندې مصرف کول ------
// ------
د وصیت له وجې وارث د میراث له حق څخه نه محرومیږي ------
٤٤١ ------
وصیت یوائې په دریمه برخه د مال کښې نافذ وي ------
// ------
له وصیت څخه رجوع صحیح ده ------
// ------
کافر ته د وصیت کولو حکم ------
٤٤٢ ------
د وصیت د اثبات لپاره د شهادت ضرورت ------
// ------
د موصٰی لهٗ (چا ته چه وصیت شوی وي) له موصي څخه مخکښې په وفات کیدو سره د وصیت حکم ------
// ------
د وصي معزولول جائز دي ------
٤٤٣ ------
په وصیت باندې د مِلکیت لپاره قبول والی ضروري دی ------
// ------
د مبهم وصیت حکم ------
٤٤٤ ------
د لیوني او نابالغ د وصیت حکم ------
// ------
لمسي ته د وصیت کولو حکم ------
٤٤٥ ------
له وصیت څخه رجوع صحیح ده ------
// ------
په موصٰی بهٖ باندې یوائې قبضه هم کافي ده ------
// ------
د موصي تر انتقال وروسته د وصي له خوا د وصیت ردول ------
٤٤٦ ------
د زوی په موجودوالي کښې ورور ته وصیت کول ------
// ------
د شیخ احمد خوا ته د منسوبې وصیت نامې شرعي حیثیت ------
٤٤٧ ------
د وصیت نامې لیکنه د وارث په حق کښې نافذه نه ده ------
٤٥١ ------

کتاب الفرائض

قاتل به د مقتول له میراث څخه محروم وي ------
٤٥٣ ------
د نیکه په موجودوالي کښې د تره له میراث څخه د محروموالي حکم ------
// ------
د دین اختلاف د ارث مانع دی ------
٤٥٤ ------
د خاوند او خور تر منځ د جائداد د ویش حکم ------
// ------
د زوی په موجودوالي کښې د لمسي له میراث څخه محروموالی ------
// ------
د حقیقي ورور په موجودوالي کښې علاتي ورور له میراث څخه محروم وي ------
٤٥٥ ------
د زوی او لور تر منځ د میراث ویش او د لمسي محرومیدل ------
٤٥٦ ------
د زوی په تول جائداد کښې یوائې د پلار وارث کیدل ------
// ------
د اعیاني ورور په موجودوالي کښې د علاتي خور له میراث څخه محروموالی ------
// ------
د پلار په میراث کښې د نافرمانه زوی استحقاق ------
٤٥٧ ------
د وراثت لپاره یوائې خپلوي کافي نه ده ------
// ------
له فاسدې نکاح څخه د پیدا شویو اولادونو له وراثت څخه محروموالی ------
٤٥٨ ------
رواجي قبضه هیڅ اعتبار نه لري ------
// ------
د اسې مجرم چه د قتل سزا ور اوروِل شوی وي د مرض الموت په حکم کښې نه دی ------
// ------
اوږده بیماري به مرض الموت ګڼل کیږي ------
٤٥٩ ------
د شرعي بیت المال د نه موجودوالي په صورت کښې د میراث حکم ------
٤٦٠ ------
په ژوند کښې د جائداد د تقسیم شرعي طریقه ------
// ------
د عاق نامې د اعلان په ذریعه زوی له میراث څخه محرومول ------
٤٦١ ------
له کفارو سره د بندي مسلمان د میراث حکم ------
// ------
د شیعه او سُني تر منځ د میراث حکم ------
٤٦٢ ------
مُرتد د مسلمان د میراث حقدار نه دی ------
// ------
د مرتدې ښځې د ترکې حکم ------
٤٦٣ ------
د نر ښځي (خنثٰی مشکل) د میراث حکم ------
// ------
د مړي د قرض وتلو سره د ترکې تقسیم کالعدم ګرځي ------
٤٦٤ ------
رضاعت د اسې رشته نه ده چه د میراث د ورلو سبب جوړ شي ------
// ------
متبنٰی ته د میراث ورکولو حکم ------
٤٦٥ ------
ناسکه پلار یعنې پلندر له میراث څخه محروم دی ------
٤٦٦ ------
د ناسکه زوی د میراث حکم ------
// ------
د دوو ښځو د اولادونو تر منځ د میراث د ویشلو حکم ------
// ------

په مهر کښې د خاوند د اِرث برخه ---- ۴۶۷
د یوه وارث له وراثت څخه د محرومولو حکم ---- ۴۶۸
د لونو له میراث څخه د محرومولو حکم ---- //
د ولد الزنا او ولد الملاعنه د میراث حکم ---- //
د دوو رشتو د درلودونکي د میراث حکم ---- ۴۶۹
د تقاعد په روپو کښې د میراث حکم ---- //
د مړي په ټولو مملوکه شیانو کښې د ارث د جاري کیدو حکم ---- ۴۷۰
د مفقود الخبر د ترکې د ویشلو حکم ---- //
د عصبه وو په موجودوالي کښې په ترکه کښې د لمسیانو د حصو حکم ---- ۴۷۱
د اعیاني ورور په موجودوالي کښې د علاتي ورور له میراث څخه محروموالی ---- //
په میراث کښې د مطلقه ښځې د حصې حکم ---- ۴۷۲
د ښځې کفن په میړه باندې دی ---- //
د میراث خپله برخه په بل برخه لرونکي باندې د پلورلو حکم ---- ۴۷۳
د څلورو ښځو د خاوند په ترکه کښې شرعي حصه ---- //
د لومړنی میړه په میراث کښې د ښځې برخه نشته ---- //
د وریرونو په موجودوالي کښې به وریرې له میراث څخه محرومې وي ---- ۴۷۴
د دویم نکاح په کولو سره د ښځې د میراث برخه نه ورکیږي ---- //
د اولاد په موجودوالي کښې د والدینو شرعي حصه نه متاثره کیږي ---- ۴۷۵
د حکومت له خوا څخه په ورکول شوي امدادي روپو کښې د میراث حکم ---- //
د پلار په ژوند کښې د زوی لپاره د میراث دعوه کول ---- ۴۷۶
منافع هم په ترکه کښې شامل دي ---- //
د قبر لپاره د ځای قیمت د مړي له ترکې څخه ورکول کیږي ---- ۴۷۷
د قبر کیندونکو د مزودرۍ حکم ---- //
میړه د ښځې په مال کښې د میراث له حصې څخه نه محرومیږي ---- ۴۷۸
د خور په مال کښې د خور او ورونو حصې ---- //
د زوی په ترکه کښې د ظالم پلار د میراث د برخې حکم ---- ۴۷۹
د میړه په میراث کښې د نافرمانې ښځې د برخې حکم ---- //
حربي کافر د ذمي کافر وارث نه شي جوړیدلی ---- ۴۸۰
د ورور په ترکه کښې د خور د میراث د برخې حکم ---- //

كتاب الشهادة

قال الله تعالیٰ

و من اظلم ممن کتم شهادة عنده من الله

و ما الله بغافل عما تعملون

کتاب الشهادة

(د ګواهۍ احکام او مسئلې)

د سکه ورور لپاره ګواهي ورکول جائز دي

سوال: د یوه سړي ګواهي د خپل سکه ورور په حق کښې قبلیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د وروڼو املاك چونکه پخپل منځ کښې مختلف وي نو ځکه د یوه او بل په حق کښې د شهادت په ورکولو کښې تهمت نه لازمیږي۔ لهذا د یوه ورور ګواهي د بل ورور په حق کښې قبلیدلی شي۔

و تقبل شهادة الرجل لاخیه و عمه لانعدام التهمة لان الاملاك و منافعهما متباینة و لا بسوطة لبعضهم فی مال البعض. (الهدایة ج۳، ص۱۶۱، کتاب الشهادة، باب من یقبل شهادته الخ)

بیا هم که چیرته ئې املاك سره یو وي نو بیا لکه څرنګه چه د یوه شریك شهادت د بل شریك په حق کښې نه قبلیږي همدارنګه د یوه ورور ګواهي د بل ورور په حق کښې هم نه قبلیږي ځکه چه په دې صورت کښې دا ګواهي د ځینو وجوهاتو له مخې د خپل ذات لپاره وي۔

قال العلامة المرغینانیؒ: و لا شهادة الشریك لشریکه فیما هو من شرکتهما لانه شهادة لنفسه من وجهٍ لاشتراکهما. (الهدایة ج۳، ص۱۶۱، کتاب الشهادة، باب من یقبل شهادته الخ)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و یقبل شهادة الاخ لاخیه من النسب و ان کان ابوهما حیاً. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص٥٩، الفصل الثانی فی الشهادات، کتاب الشهادات) و مثله فی الهندیة ج۳، ص٤٧٥، الباب الرابع، الفصل الثالث فیمن لا تقبل شهادته الخ.

د ړانده د ګواهي شرعي حیثیت

سوال: د ړانده د ګواهۍ شرعي حیثیت څه دی او په کومو امورو کښې ئې شهادت قبلیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د شهادت د اکثرو امورو تعلق له معائنې او مشاهدې (کتنې او لیدنې) سره وي او د معائنې له کولو پرته ئې بیانول ممکن نه وي مثلاً د شهادت د اداکولو په وخت کښې که چیرته په اشارې سره ئې تمیز کیده نو د قوت بینایي پرته تمیز پکښې ناممکن دی۔ او د ځینو امورو تعلق له سماع سره وي لیکن په مسموعاتو کښې پخپل منځ کښې خلط ملط او یو شی والي په وجه اشتباه لازمیږي او په شهادت کښې له اشتباه څخه احتراز ضروري دی۔ لهذا د ړانده سړي ګواهي په هیڅ حالت کښې هم صحیح نه ده۔ بیا هم چه کومه ګواهي یو اځې له اوریدو سره اړه ولري مثلاً نکاح نو بیا د ړانده سړي شهادت به هم قابل قبول وي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: ان الاداء یفتقر الی التمیز با لاشارة بین المشهود له و المشهود علیه و لا یمیز الاعمٰی الا با لنغمة و فیه شبهة یمکن التحرز عنها بجنس الشهود و النسبة لتمیز الغائب دون الحاضر و صار کا لحدود و القصاص. (رد المحتار ج۵، ص۴۷۶، کتاب الشهادة، باب القول و عدمه)

قال العلامة المرغینانیؒ: ان الاداء یفتقر الی التمیز با لاشارة بین المشهود له و المشهود علیه و لا یمیز الاعمٰی الا با لنغمة و فیه شبهة یمکن التحرز عنها بجنس الشهود. (الهدایة ج۳، ص۱۵۹، کتاب الشهادة، باب من یقبل شهادته الخ) و مثله فی بدائع الصنائع ج۶، ص۲۶۸، کتاب الشهادة، فصل فی الشرائط فی الاصل.

د وعده معاف ګواهي شرعي حیثیت

سوال: د وعده معاف ګواه د ګواهۍ شرعي حیثیت څه دی آیا د هغه ګواهي قبلیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وعده معاف ګواهي د شریعت له مخې صحیح نه دی ځکه چه د وعده معافۍ له وجهې شهادت ورکوونکی خصم جوړیږي او د هغه له ګواهۍ څخه هغه ته فائده حاصلیږي او د کومې ګواهۍ په وجه سره چه ګواهي ورکوونکي ته فائده حاصلیدله هغه ګواهي قابل قبول نه ده۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: یشترط ان لا یکون فی الشهادة دفع مغرم او جر مغنم یعنی ان لا تکون داعیة لدفع المضرة او جلب المنفعة. (مجلة الاحکام المادة ۱۷۰۰، ص۱۰۲۳، شروط فصل فی الشهادة الاساسیة)

قال العلامة الحصکفیؒ: و من الشرائط عدم قرابة ولاد او زوجیة او عداوة دنیویة او دفع مغرم او جر مغنم. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۴، ص۴۱۱، کتاب الشهادة) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۵، ص۲۴۸، نوع فی الرجل متٰی تحل له الشهادة.

د اجرتي قاتل د ګواهۍ شرعي حیثیت

سوال: یو داسې سړی چه اجرتي قاتل وي او دا اعتراف هم کوي چه زه قاتل یم نو آیا د داسې سړي ګواهي په کومه معامله کښې قبلیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: یو څوك بې ګناه قتلول حرام او کبیره ګناه ده نو ځکه د داسې حرام عمل مرتکب فاسق او فاجر دی او د فاسق ګواهي شرعا صحیح نه ده۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: یشترط ان یکون الشاهد عدلاً. (شرح مجلة الاحکام المادة ۱۷۰۵، ص۱۰۳۹، فصل فی الشهادة الاساسیة شروط)

قال العلامة ابو بکر بن مسعود الکاسانیؒ: و منها العدالة لقبول الشهادة علی الاطلاق فانها لا تقبل علی الاطلاق دونها. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۶۸، کتاب الشهادة، فصل فی الشرائط فی الاصل) و مثله فی الهدایة ج۳، ص۱۵۵، کتاب الشهادة.

د ډیرې د لنډوونکي یا خریونکي د ګواهۍ حکم

سوال: د ډیرې د خریونکي او له یو موټي څخه د کمې ږیرې درلودونکي د ګواهي شرعي حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ږیرې خریل او وهل حرام دي کوم چه د فسق موجب دی ځکه چه مشروعیت ئې د احادیثو او فقهاء کرامو د اقوالو په رڼا کښې د وجوب درجې ته رسیدلی دی۔ نو ځکه د دې حرام فعل مرتکب فاسق او فاجر دی او د فاسق ګواهي شرعا درست نه ده۔

لما قال العلامة ابو بکر بن المسعود الکاسانیؒ: و منها العدالة لقبول الشهادة علی الاطلاق فانها لا تقبل علی الاطلاق دونها لقوله تعالٰی: مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ و الشاهد المرضی هو الشاهد العدل. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۶۸، کتاب الشهادات، فصل فی الشرائط فی الاصل)

لیکن د موجوده زمانې انحطاط ته په نظر کولو سره که چېرته ډیره لږونکی ګواه موجود نه وي او د حق د ضائع کیدو خطر وي او ګواهي ورکوونکی بې ږیرې سړی معتبر سړی وي چه په صدق باندې ئې د قاضي اعتماد او باور وي نو بیا د ږیرې د لنډولو سره سره د هغه ګواهي قبلیدلی شي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: قال فی جامع الفتاوٰی و اما شهادة الفاسق فان تحری القاضی الصدق فی شهادته تقبل و الا فلا. قال فی الفتاوی القاعدة هٰذا اذا غلب علی ظنه صدقه و هو مما یحفظ درر اول کتاب القضاء و ظاهر قوله و هو مما یحفظ اعتماده. (رد المحتار ج۴، ص۴۱۴، کتاب الشهادة)

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: یشترط ان یکون الشاهد عدلاً. (شرح مجلة الاحکام المادة ۱۷۰۵، ص۱۰۳۹، فصل فی شروط الشهادة الاسلامیة) و مثله فی الهدایة ج۳، ص۱۵۵، کتاب الشهادة.

په قتل کښې د ښځې د ګواهۍ حکم

سوال: آیا د قتل په معامله کښې د ښځې ګواهي قبلیدلی شي او که نه؟ او آیا د هغې په ګواهۍ سره قاتل ته مرګ سزا ورکول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حدودو نفاذ چونکه په یقیني امورو باندې وي د معمولي شبهې په صورت کښې ساقطیږي۔ د ښځو په ګواهۍ کښې د بدلون د شبهې احتمال وي۔ دا وجه ده چه د ښځو ګواهي د حدودو په نفاذ کښې معتبره نه ده۔ لهذا د ښځې د ګواهۍ په بنیاد قاتل ته په قصاص کښې د مرګ سزا ورکول جائز نه دي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و لا یقبل فیها شهادة النساء لحدیث الزهریؒ مضت السنة من لدن رسول اللهﷺ و الخلیفتین من بعده ان لا شهادة النساء فی الحدود و القصاص و لان فیها شبهة البدلیة لقیامها مقام شهادة الرجال فلا تقبل فیما یندرئ با لشبهات. (الهدایة ج۳، ص۱۵۳، کتاب الشهادة)

قال العلامة الکاسانیؒ: و منها الذکورة فی الشهادة با لحدود و القصاص فلا تقبل فیها شهادة النساء. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۷۹، کتاب الشهادة) و مثله فی شرح مجلة الاحکام للعلامة سلیم رستم باز اللبنانیؒ تحت المادة ۱۶۸۵، ص۱۰۰۳.

د دښمن د ګواهۍ شرعي حیثیت

سوال: آیا د یوه دښمن شهادت د بل دښمن په خلاف قبلیدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دښمني عموما د خپل منځي ضرر رسولو او د یوه او بل په خلاف د معاندانه رویې د خپلولو سبب جوړیږي۔ نو ځکه که چېرته یو دښمن پخپل مخالف باندې ګواهي ورکړي نو په دې کښې د ضرر رسولو خامخا احتمال موجود وي۔ په شریعت کښې د اسې ګواهي نه شي قبلیدلی اګر که د اسې ګواه دې عادل ولې نه وي؟ بینوا توجروا۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: ان شهادة العدو علی عدوه لا تقبل و ان کان عدلاً. (رد المحتار ج۵، ص ۴۸۰، کتاب الشهادات، باب القبول و عدمه)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لا یجوز شهادة علی الرجل اذا کان بینهما عداوة یعنی من امور الدنیا فان کان من امور الدین لا تقبل. (خلاصة الفتاوی ج ۴، ص ۶۰، الفصل الثانی فی الشهادات) و مثله فی شرح مجلة الاحکام للعلامة سلیم رستم بازؒ المادة ۱۷۰۲، ص ۱۰۳۴.

د ګواهۍ لپاره د تګ او راتګ د لګښت اخیستلو حکم

سوال: که چېرته یو سړی په یوه معامله کښې د ګواهۍ د ورکولو لپاره عدالت ته حاضر شي او حکومت له خپلې خوا څخه د تګ او راتګ خرڅه ورکول وغواړي نو آیا دګواه لپاره د دغو مصارفو اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په یوه معامله کښې ګواهي ورکول په اصل کښې د خلکو د حقوقو د تحفظ یوه اهمه ذریعه ده او د هر سړي د حقوقو تحفظ په بل باندې فرض دی۔ نو ګواهي ورکول ګواکه چه خپل فرض اداکول دي۔ له دې وجهې په دې باندې د اجرت غوښتنه پخپلې یوې شرعي ذمه وارۍ باندې اجرت اخیستل دي۔ لهذا که چېرته ګواهان په شهادت باندې د اجرت مطالبه وکړي نو په دې صورت کښې په ګواهي باندې د ذاتي منفعت د حصول شائبه لازمیږي۔ او په کومه ګواهي کښې چه د ذاتي منفعت شبهه وي هغه شرعا د قبول وړ نه وي۔ لیکن شریعت که چېرته یوه طرف ته ګواهان د اجرت له اخیستلو څخه منع کړي دي بلې طرف ته ئې مشهود له ته د ګواهانو د اعزاز او اکرام درس هم ورکړی دی۔ نو ځکه که چېرته ګواهانو ته د تګ او راتګ مسئله وي او مشهود له وغواړي چه د دوی د تګ او راتګ مصرف ورکړي او یا په پخپله خوښه د دوی لپاره د خوراك او څښاك بندوبست وکړي نو بیا ګواهانو ته د اسې مصرف او د اسې نورو اخیستل جائز دي۔ له دې وجهې که چېرته حکومت د قانون موافق خرڅه ورکړي نو اخیستل ئې ګواهانو ته جائز دي لیکن کومې پیسې چه له خرڅې څخه زیاتې شوې هغه به بیرته حکومت ته ورکوي۔

لما قال العلامة ابن نجیمؒ: لو وضع للشهود طعاماً فاکلوا ان کان مهیئاً من قبل ذٰلك تقبل و ان صنعه لاجلهم

لا تقبل و عن محمدؒ لا تقبل فیهما و عن ابی یوسفؒ تقبل فیهما للعادة الجاریة باطعام من حل محل الانسان ممن یعز علیه شاهداً او لا........ و جزم فی الملتقط با لقبول مطلقاً و فی شرح منظومة ابن وهبان للمصنف الفتوٰی علی قول ابی یوسفؒ. (البحر الرائق ج۷، ص۵۸، کتاب الشهادة)

قال العلامة خیر الدین الرملیؒ: (سئل) فیما اذا طلبت الشهود الشهادة فی مکان بعید مسافة یومین احتیج الی الرکوب فادی المدعی للشاهدین اجرة دابتهما هل تسقط شهادتهما بذٰلك ام لا؟ اجاب لا تسقط شهادتهما بذٰلك کما جزم به فی الملتقط. (الفتاوی الخیریة علی هامش تنقیح الحامدیة ج۲، ص ۴۱، کتاب الشهادة) ومثله فی خلاصة الفتاوٰی ج ۴، ص ۴۹، کتاب الشهادة.

په قبضه او ملکیت کښې د شهادت حکم

سوال: د یوه سړي په زمکه کښې ویاله تیره شوې ده او بل سړي د دې ویالې څخه ډیر ځله خپلې زمکې اوبو کړې دي۔ اوس دواړو په دې نهر باندې د ملکیت دعوٰی کړې ده۔ د زمکې د مالك وینا ده چه چونکه دا ویاله زما په زمکه کښې تیره شوې ده له دې وجهې زما مِلك دی او حال دا چه دا بل سړی له نوموړې ویالې څخه د استفادې په وجه د ملکیت دعویدار دی۔ که چېرته دواړه ګواهان وړاندې کړي نو د کوم یوه ګواهانو ته به اعتبار ورکول کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د متنازع فیه اندازه که چېرته معروفه او مشهوره نه وي نو د حدودو بیانول ئې ضروري دي او که چېرته معروفه او مشهوره وي نو بیا ئې د حدودو بیانول ضروري نه دي۔ د فقهاء کرامو د صریحو عبارتونو مطابق د دعوې د صحت څخه وروسته د بینه او د اسې نورو طلب او غوښتنه به کیږي۔ په صورت مسئوله کښې په ظاهره سره دواړه د مِلك او ذو الیدي دعوٰی کوي۔ له ټولو نه دې مخکښې دواړه ذو الیدي ثابته کړي۔ که چېرته د دواړو ید ثابت شو نو بیا په مِلك باندې ګواه غوښتل کیږي او په دواړو کښې چه کوم یو هم په مِلك باندې ګواهان ودروي نو فیصله به د هغه په حق کښې کیږي۔ او که چېرته دواړو ګواهان وړاندې کړل نو بیا به مدعٰی په دواړو باندې ویشل کیږي او ویاله به د دواړو تر منځ مشترکه وي۔ یو فریق هم بل فریق له انتفاع څخه نه شي منع کولی۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و ذا ادعی الرجلان ارضاً یعنی یدعی کل واحدٍ منهما انها فی یده لم یقض انها فی ید واحد منهما حتٰی یقیما البینة انها فی ایدیهما لان الید فیها غیر مشاهدة لتعذر احضارها و ما غاب عن علم القاضی فا لبینة تثبته و ان اقام احدهما البینة جعلت فی یده القیام الحجة لان الید حق مقصود و ان اقام البینة جعلت فی ایدیهما لما بینا فلا تستحق لاحدهما من غیر حجة. (الهدایة ج۳، ص ۲۲۴، کتاب الدعوٰی، فصل فی التنازع با لایدی)

قال العلامة فخر الدین القاضی خانؒ: فان اقام احدهما البینة انها فی یدیه یقضٰی لهٗ با لید و یصیر هو مدعٰی علیه و الآخر مدعیاً و ان قامت البینة لکل واحد منهما فان القاضی یجعل الدار فی یدهما لانهما تساویا فی اثبات الید. (الفتاوی القاضی خان علی هامش الهندیة ج۲، ص ۳۹۱، فصل فی دعوی الدور و الاراضی) و مثله فی شرح مجلة الاحکام للعلامة سلیم رستم بازؒ. المادة ۱۷۵۵، ص ۱۱۱۰.

شهادت به د غیر قابض قبلیږي

سوال: د یوه سړي د تصرف لاندې زمکې باندې بل سړي د مِلکیت دعوٰی وکړه۔ اوس په دوی په دواړو کښې هریو دا دعوٰی کوي چه دا زمکه ما ته په میراث کښې رسیدلې ده او حال دا چه له دواړو سره ګواهان هم موجود دي۔ د شریعت له مخې په دغو دواړو کښې د کوم یوه ګواهان مقدم دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: زمکه چه د کوم سړي په قبضه کښې ده هغه ذو الید دی او بل سړی چه د ملکیت دعوٰی کوي هغه خارج دی۔ لهذا په نوموړي صورت کښې که چېرته د دواړو سره د ملکیت د تاریخ صحیح ثبوت موجود نه وي نو د عامو معاملاتو غوندې د خارج ګواه په ذو الید باندې مقدم وي او د ذو الید ګواهانو ته به په هغه وخت کښې ترجیح ورکول کیږي چه د دواړو سره د مِلکیت د تاریخ ثبوت موجود وي۔ او که چېرته د ذو الید تاریخ د خارج له تاریخ څخه مخکښې وي نو په دې وخت کښې به د ذو الید ګواهانو ته ترجیح ورکول کیږي۔ او که چېرته په دواړو کښې له یوه سره د تاریخ ثبوت موجود وي نو په دې صورت کښې په اجماع سره د خارج ګواهانو ته به په ذو الید باندې ترجیح ورکول کیږي او فیصله به د خارج په ګواهانو کیږي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو کان فی ید احدهما فهو للخارج الا اذا کان تاریخ ذی الید اسبق فهو اولٰی عند ابی حنیفةؒ و ابی یوسفؒ و عند محمدؒ یقضی به للخارج لانه لا عبرة للوقت فی المیراث عنده و ان ارخ احدهما و لو یورخ الآخر فهو للخارج با لاجماع. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص١١٣، کتاب الدعوٰی، الفصل الثالث عشر فی العین یتنازع فیها اثنان)

قال العلامة ابن قاضی سماوةؒ: و اذا کان العین فی ید احدهما و لم یورخا او ارخا سواء یقضٰی للخارج و ان ارخا و احدهما اسبق فهو لاسبقهما و عند محمدؒ للخارج لانه عبرة للتاریخ هنا و ان ارخ احدهما لا الآخر فهو للخارج لاجماعاً. (جامع الفصولین ج١، ص٧٧، الفصل الثامن فی دعوی الخارج مع ذی الید) و مثله فی رد المحتار ج٤، ص٤٨٦، باب دعوی الرجلین.

په کرل شوې زمکې باندې د ملکیت په دعوٰی کښې به د خارج ګواه مقدم وي

سوال: یوه سړي یوه ټکړه زمکه د زراعت لپاره استعمالوله۔ یو بل سړي دعوٰی وکړه چه دا زمکه زما ده۔ هغه په ځواب کښې ورته ووېل چه دا د پښتنو دفتر دی۔ له دې وینا څخه ئې مطلب دا وو چه دا زمکه نه زما ده او نه ستا۔ نو په دې صورت کښې به ګواه د چا معتبر وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د کروند ګر له دې وینا څخه چه "دا زمکه د پښتنو دفتر

دی" مطلب دا وي چه زمکه ما ته پښتنو راکړې ده او زما ملکیت دی نو په دې صورت کښې د بل سړي دعوٰی صحیح ده او ګواه به د هغه معتبر وي ځکه چه دی خارج دی او د مطلق مِلک دعوٰی کوي او د فقهاوو د تصریح مطابق د مطلق مِلک په مطالبه کښې به د خارج ګواهان مقدم وي۔ او که چېرته د هغه د وینا مطلب دا وي چه دا زمکه ما ته پښتنو یوائې د کرلو لپاره راکړې ده او زما ملکیت نه دی نو په دې صورت کښې کروند ګر خصم نه شي جوړېدلی او مدعي دې په هغو خلکو باندې ګواهان وړاندې کړي چه د چا اصل ملکیت وي او ګواه به په هر حال د ده ځکه معتبر وي چه دی خارج دی۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: بینة الخارج اولٰی فی دعوی المِلك المطلق الذی لم یبین فیها تاریخ. (شرح مجلة الاحکام المادة١٧٥٧، ص١١١٦، فصل فی ترجیح البینات)

قال العلامة التمرتاشیؒ: تقدم حجة خارج فی مِلك الخارج. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص٤٨٦، باب دعوی الرجلین) و مثله فی بدائع الصنائع ج٦، ص٢٣٢، کتاب الدعوٰی، فصل حکم تعارض الدعوتین مع تعارض البینتین.

د نکاح په مجلس کښې له حاضریدو پرته د نکاح ګواهي ورکول جائز دي

سوال: کوم خلك چه د نکاح په مجلس کښې حاضر نه وي او هغوی ته یوائې په خبر سره د چا نکاح معلوم شوی وي او دوی د عقد نکاح په باره ګواهي ورکول وغواړي نو آیا د هغوی ګواهي به د قبلیدو وړ وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ځینو احکامات دار او مدار چونکه په شهادت او ګواهي باندې وي او په هغو کښې په معمولي رد او بدل سره په احکاماتو کښې بدلون راځي نو ځکه په شریعت کښې شهادت ته لوی اهمیت حاصل دی۔ شریعت د شهادت د حفاظت لپاره لوی احتیاطي تدبیرونه اختیار کړي دي او د هغه د قبلولو لپاره ئې ډېر شرائط لګولي دي۔ په هغو شرائطو کښې یو شرط دا هم دی چه ګواه چه په کومه معامله کښې ګواهي ورکول وغواړي نو د هغې ټول نوعیت به د هغه په وړاندې وي۔ او دا نوعیت په هغه وخت کښې په پوره توګه واضح کیږي چه کله ګواه پخپله موجود وي نو ځکه په شهادت کښې شریعت د ګواه حضور او لیدل شرط ګرځولی دی۔ لیکن ځینې داسې امور کوم چه له شهرت سره تعلق ولري او د سترګو لیدلی ګواهي په هغو کښې مشکل وي نو داسې ګواهي ئې له اصل شرط څخه مستثنٰی ګرځولې ده۔ که چېرته د هغو امورو اطلاع د معتمدو ذرائعو په وسیله حاصله وي نو په بیا ګواهي ورکول جائز دي۔ په دغو امورو کښې نکاح هم دی لهذا که چېرته څوك د نکاح د عقد په وخت په مجلس کښې موجود نه وي لیکن د معتمدو ذرائعو له مخې اطلاع وررسیدلې وي نو هغه که وغواړي چه شاهدي ورکړي نو ګواهي به ئې قبلیږي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و لا یجوز للشاهد ان یشهد بشیء لم یعاینه الا النسب و الموت و النکاح و

الدخول. (الهداية ج۳، ص۱۸۵، كتاب الشهادة، فصل فيمن يقبل شهادته الخ)

قال العلامة ابن قاضی سماوةؒ: شهدا بنسب او نكاح و قالا سمعناه من قوم لا يتصوّر اجتماعهم على الكذب لا تقبل و قيل تقبل و فى (عده) اشارة الى ان القبول اصح على ما ياتى. (جامع الفصولين ج۱، ص۱۲۴، الفصل الثانى عشرة فيما تسمع فيه الشهادة بلا فصل) و مثله فى شرح مجلة الاحكام للعلامة سليم رستم بازؒ تحت المادة۱۶۸۸، ص۱۰۰۷.

د ظلم او زياتى د اثبات له وجهې د خارج د ګواهانو حکم

سوال: يو سړى له ډير وخت څخه د يوې ټکرې زمکې حاصلات خوري، آبادي ئې هم پرې کړې ده او ونې ئې هم پکښې لګولي دي۔ اوس يوه بل سړي دا دعوٰی وکړه چه دا زمکه ما د امانت په توګه ده ته ورکړې وه او هغه ما ته ۱۹۰۰ روپۍ په دې شرط راکړې وې چه دى کله له زمکې څخه د ۱۹۰۰ روپو په اندازه حاصلات واخلي نو زمکه به ما ته بيرته راکوي ليکن بزګر له دې څخه انکار کوي او وايي چه دا زمکه هغه ما ته په قطعي بيع راکړې وه۔ نو په دې صورت کښې به د کوم يوه ګواهان مقدم وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نومړي صورت کښې کرونډ ګر کوم چه ذو اليد دى او د شراء (اخيستنې) دعوٰی کوي او که ذو اليد د مِلك مطلق د دعوٰی په صورت کښې د شراء دعوه وکړي نو دعوٰی به ئې مقدمه وي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و ان اقام الخارج البينة على الملك المطلق و صاحب اليد البينة على الشراء منه كان صاحب اليد اولٰى. (الهداية ج۳، ص۲۲۱، كتاب الدعوٰى، باب ما يدعيه الرجلان)

ليکن دوهم سړى چونکه خارج دى د فعل زائد يعنې د وديعت دعوٰی کوي نو له دې څخه دا معلومېږي چه د دواړو په نزد اصل ملکيت د خارج لپاره مسلّم دى او خارج چونکه د زياتى د اثبات دعوٰی کوي له دې وجهې که چېرته دى په وديعت باندې ګواهان ودروي نو د هغه ګواهان به مقدم وي۔

لما قال العلامة ابن نجيمؒ: اذ لو ادعى الخارج الفعل على ذى اليد كا لغصب و الاجارة و العارية فبينة الخارج اولٰى. (البحر الرائق ج۷، ص۲۴۴، باب دعوى الرجلين)

قال العلامة الحصكفى رحمه اللّٰه: الا اذا دعى الخارج عليه فعلا كغصب او وديعة او اجارة و نحوها فى رواية دُرر او كان سببا يتكرر كبناء و غرس و نسج خز و زرع بر و نحوه او اشكل على اهل الخبره فهو للخارج لانه الاصل و انما عدلنا عنه بحديث النتاج. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۴، ص۴۹۰، باب دعوى الرجلين) و مثله فى شرح مجلة الاحكام المادة، ۱۷۵۸، ص۱۱۱۸، كتاب الدعوٰى.

د زياتى د دعوې کوونکي ګواه به مقدم وي

سوال: دوو تنو په يوې مشترکې قومي زمکې باندې قبضه کړې ده او دواړه پرې مالکانه تصرفات کوي۔ اوس يوه دا دعوٰی کړې ده چه دا ټوله زمکه زما ده ما ته په وراثت کښې راپاتې

ده او حال دا چه بل فريق دا دعوٰی کوي چه دا زمکه زما او ستاسو په منځ کښې مشترکه ده ځکه زما او ستا د دواړو پرې قبضه ده۔ په دغو دواړو کښې به د کوم يوه ګواهان مقدم وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نومړي صورت کښې کوم سړى چه محض د زمکې د آبادولو په وجه د مِلکيت دعوٰی کوي نو د زمکې آبادول چونکه د مِلك سبب نه دى ځکه نې دعوٰی د اوريدو قابله نه ده۔ بيا هم که چېرته دا زمکه د مواتو له جملې څخه ثابته شي نو بيا ئې په آبادولو سره ملکيت ثابتيدلى شي۔ نو بيا د دواړو دعوې د اوريدو قابلې دي۔ ليکن په صورت مسئوله کښې د دواړو فريقينو تصرفاتو او دعوو ته په نظر کولو سره دا اندازه لګيږي چه مدعي بعض (د زمکې د ځينې حصې مدعيٰ) له هغې حصې سره هيڅ کار نه لري چه جانب مقابل ئې تصرف پرې کوي بلکه مدعي کُل (د ټولې زمکې مدعي) د تصرفاتو له وجهې د مدعي بعض له حصې څخه په تصرفاتو کښې خارجي او اجنبي دى۔ نو ځکه که چېرته دواړه خواوې ګواهان وړاندې کړي نو ټول جائداد د مدعي کُل (د ټولې زمکې د مدعي) کيږي۔ ځکه چه نيم جائداد هغه ته د چا د دعوٰی د نه کولو په وجه پاتې شوې ده او په پاتې جائداد کښې د ټولې زمکې مدعي خارج ګڼل کيږي او د ذو اليد په مقابله کښې د خارج ګواهانو ته اعتبار ورکول کيږي۔

لما قال الشيخ سليم رستم بازؒ: اذا ادعى اثنان مالاً احدهما با لاستقلال و الآخر با لاشتراك و كل منهما متصرف فيه اى ذو يد عليه فبينة الاستقلال اولٰى يعنى اذا اراد كلاهما اقامة البينة ترجح بينة الذى ادعى الاشتراك. (شرح مجلة الاحكام المادة ۱۷۵۶، ص۱۱۱۲، فصل فى ترجيح البينات)

قال العلامة الكاسانى رحمه اللّٰه: فا لاصل فيه ان البينة المظهرة للزيادة اولٰى. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۴۱، كتاب الدعوٰى، فصل حكم تعارض الدعوتين الخ) و مثله فى الهداية ج۳، ص۲۰۸، باب التحالف.

د ګواهانو په نه موجودوالي کښې يوائې د شك له وجې د مرګ د سزا ورکولو حکم

سوال: آيا د حدودو د جاري کولو لپاره د ګواهانو شتون ضروري دى او که يوائې د شك له مخې هم يوه مجرم ته د موت سزا ورکول صحيح دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شريعت مطهره د خلکو د مال، ځان، عزت او آبرو د تحفظ انتظام کړى دى او په هر حال کښې د خلکو د عزت، آبرو، مال او ځان حفاظت تر هر شي مقدم ګڼي۔ ځکه چه د دغو شيانو له تحفظ څخه پرته د سکون او آرام ژوند تصور محال دى۔ د دې امورو د تحفظ او د حقوق الله د احياء لپاره د حدود او قصاص او د داسې نورو اجراء عديم المثال نظام دى ځکه چه که چېرته د چا له وجود يا بدو افعالو څخه د نورو خلکو مال او ځان ته خطر وي نو د

Makteba-Tul-Ishaat.com

الدخول. (الهداية ج۳، ص۱۸۵، کتاب الشهادة، فصل فيمن يقبل شهادته الخ)

قال العلامة ابن قاضی سماوةؒ: شهدا بنسب او نکاح و قالا سمعناه من قوم لا يتصوّر اجتماعهم على الكذب لا تقبل و قيل تقبل و فی (عده) اشارة الى ان القبول اصح على ما يأتى. (جامع الفصولين ج۱، ص۱۲۴، الفصل الثانى عشرة فيما تسمع فيه الشهادة بلا فصل) و مثله فی شرح مجلة الاحكام للعلامة سليم رستم بازؒ تحت المادة۱۶۸۸، ص۱۰۰۷.

د ظلم او زياتی د اثبات له وجهې د خارج د ګواهانو حکم

سوال: يو سړی له ډير وخت څخه د يوې ټکړې زمکې حاصلات خوري، آبادي ئې هم پرې کړې ده او ونې ئې هم پکښې لګولي دي۔ اوس يوه بل سړي دا دعوٰی وکړه چه دا زمکه ما د امانت په توګه ده ته ورکړې وه او هغه ما ته ۱۹۰۰ روپۍ په دې شرط راکړې وې چه دی کله له زمکې څخه د ۱۹۰۰ روپو په اندازه حاصلات واخلي نو زمکه به ما ته بيرته راکوي ليکن بزګر له دې څخه انکار کوي او وايي چه دا زمکه هغه ما ته په قطعي بيع راکړې وه۔ نو په دې صورت کښې به د کوم يوه ګواهان مقدم وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې کروند ګر کوم چه ذو اليد دی او د شراء (اخيستنې) دعوٰی کوي او که ذو اليد د مِلك مطلق د دعوٰی په صورت کښې د شراء دعوه وکړي نو دعوٰی به ئې مقدمه وي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و ان اقام الخارج البينة على الملك المطلق و صاحب اليد البينة على الشراء منه كان صاحب اليد اولٰى. (الهداية ج۳، ص۲۲۱، کتاب الدعوٰی، باب ما يدعيه الرجلان)

ليکن دوهم سړی چونکه خارج دی د فعل زائد يعنې د وديعت دعوٰی کوي نو له دې څخه دا معلوميږي چه د دواړو په نزد اصل ملکيت د خارج لپاره مسلّم دی او خارج چونکه د زياتی د اثبات دعوٰی کوي له دې وجهې که چېرته دی په وديعت باندې ګواهان ودروي نو د هغه ګواهان به مقدم وي۔

لما قال العلامة ابن نجيمؒ: اذ لو ادعى الخارج الفعل على ذى اليد كا لغصب و الاجارة و العارية فبينة الخارج اولٰى. (البحر الرائق ج۷، ص۲۴۴، باب دعوى الرجلين)

قال العلامة الحصكفی رحمه الله: الا اذا دعى الخارج عليه فعلا كغصب او وديعة او اجارة و نحوها فی رواية دُرر او كان سببا يتكرر كبناء و غرس و نسج خز و زرع بر و نحوه او اشكل على اهل الخبره فهو للخارج لانه الاصل و انما عدلنا عنه بحديث النتاج. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۴، ص۴۹۰، باب دعوى الرجلين) و مثله فی شرح مجلة الاحكام المادة، ۱۷۵۸، ص۱۱۱۸، کتاب الدعوٰی.

د زياتی د دعوې کوونکي ګواه به مقدم وي

سوال: دوو تنو په يوې مشترکې قومي زمکې باندې قبضه کړې ده او دواړه پرې مالکانه تصرفات کوي۔ اوس يوه دا دعوٰی کړې ده چه دا ټوله زمکه زما ده ما ته په وراثت کښې را پاتې

ده او حال دا چه بل فريق دا دعوٰی کوي چه دا زمکه زما او ستاسو په منځ کښې مشترکه ده ځکه زما او ستا د دواړو پرې قبضه ده۔ په دغو دواړو کښې به د کوم يوه ګواهان مقدم وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې کوم سړی چه محض د زمکې د آبادولو په وجه د مِلکيت دعوٰی کوي نو د زمکې آبادول چونکه د مِلك سبب نهٔ دی ځکه نې دعوٰی د اوريدو قابله نه دهٔ۔ بيا هم که چېرته دا زمکه د مواتو له جملې څخه ثابته شي نو بيا ئې په آبادولو سره ملکيت ثابتيدلی شي۔ نو بيا د دواړو دعوې د اوريدو قابلې دي۔ ليکن په صورت مسئوله کښې د دواړو فريقينو تصرفاتو او دعوو ته په نظر کولو سره دا اندازه لګيږي چه مدعي بعض (د زمکې د ځينې حصې مدعيٰ) له هغې حصې سره هيڅ کار نه لري چه جانب مقابل ئې تصرف پرې کوي بلکه مدعي کُل (د ټولې زمکې مدعي) د تصرفاتو له وجهې د مدعي بعض له حصې څخه په تصرفاتو کښې خارجي او اجنبي دی۔ نو ځکه که چېرته دواړه خواوې ګواهان وړاندې کړي نو ټول جائداد د مدعي کُل (د ټولې زمکې د مدعي) کيږي۔ ځکه چه نيم جائداد هغه ته د چا د دعوٰی د نه کولو په وجه پاتې شوې ده او په پاتې جائداد کښې د ټولې زمکې مدعي خارج ګڼل کيږي او د ذو اليد په مقابله کښې د خارج ګواهانو ته اعتبار ورکول کيږي۔

لما قال الشيخ سليم رستم بازؒ: اذا ادعى اثنان مالاً احدهما با لاستقلال و الآخر با لاشتراك و كل منهما متصرف فيه اى ذو يد عليه فبينة الاستقلال اولٰى يعنى اذا اراد كلاهما اقامة البينة ترجح بينة الذى ادعى الاشتراك. (شرح مجلة الاحكام المادة ۱۷۵۶، ص۱۱۱۲، فصل فی ترجيح البينات)

قال العلامة الكاسانی رحمه الله: فا لاصل فيه ان البينة المظهرة للزيادة اولٰى. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۴۱، کتاب الدعوٰی، فصل حكم تعارض الدعوتين الخ) و مثله فی الهداية ج۳، ص۲۰۸، باب التحالف.

د ګواهانو په نه موجودوالي کښې يوائې د شك له وجې د مرګ د سزا ورکولو حکم

سوال: آيا د حدودو د جاري کولو لپاره د ګواهانو شتون ضروري دی او که يوائې د شك له مخې هم يوه مجرم ته د موت سزا ورکول صحيح دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شريعت مطهره د خلکو د مال، ځان، عزت او آبرو د تحفظ انتظام کړی دی او په هر حال کښې د خلکو د عزت، آبرو، مال او ځان حفاظت تر هر شي مقدم ګڼي۔ ځکه چه د دغو شيانو له تحفظ څخه پرته د سکون او آرام ژوند تصور محال دی۔ د دې امورو د تحفظ او د حقوق الله د احياء لپاره د حدود او قصاص او د اسې نورو اجراء عديم المثال نظام دی ځکه چه که چېرته د چا له وجود يا بدو افعالو څخه د نورو خلکو مال او ځان ته خطر وي نو د

جرم د ثبوت په صورت کښې د حدودو او قصاص د قانون لاندې سزا ورکول کیدلی شي۔ لیکن که چېرته د جرم په اثبات کښې معمولي غوندې غفلت هم وشي نو په دې کښې د یوه بې ګناه د ځان او یا د هغه د عزت او آبرو د ضائع کیدو خطره وي نو له دې وجهې د جرم د اثبات لپاره شریعت په شهادت کښې له سختۍ څخه کار اخیستی دی آن تر دې چه د شبهې د احتمال له وجهې ئې د ښځو ګواهي غیر معتبره ګرځولې ده۔ نو د دې لپاره د صحیحو ګواهانو نه پرته یوائې د شك او شبهې په بناء چا ته د موت سزا ورکول ناجائز دي۔

كما فى الحديث: عن عائشه رضى الله عنها قالت قال رسول اللهﷺ ادرؤ الحدود عن المسلمين ما استطعتم فان كان له مخرج فخلوا سبيله فان الامام ان يخطئ فى العفو خيرٌ من ان يخطئ فى العقوبة. رواه الترمذى. (مشكٰوة ج۲، ص ۳۱۱، كتاب الحدود، الفصل الثانى)

قال العلامة الكاسانى رحمه الله: لان الحدود و القصاص مبناهما على الدرء و الاسقاط با لشبهات. (بدائع الصنائع ج۶، ص۲۷۹، كتاب الشهادات، فصل و اما الشرائط فى الاصل الخ۹ و مثله فى الهداية ج۲، ص۵۰۷، كتاب الحدود.

د کاروبار د شریکانو د یوه او بل په حق کښې د ګواهي د ورکولو حکم

سوال: دوه کسان په یوه کاروبار کښې سره شریکان دي نو آیا دوی د کاروبار په معامله کښې د یوه او بل لپاره ګواه جوړیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت د اسلامي قانون له مخې یو شریك د بل شریك لپاره د طرفدارۍ د تهمت له وجهې ګواهي نه شي ورکولی او نه د دوی ګواهي د یوه او بل په حق کښې مقبوله وي۔

لما فى مجلة الاحكام: و كذٰلك لا تقبل شهادة الشر كاء لبعضهم فى مال الشر كة و لا تقبل شهادة الكفيل با لمال للاصيل على كون المكفول به الخ. (درر الحكام على مجلة الاحكام ج ٤، ص ۳۹۳، كتاب الشهادة)

قال العلامة على حيدرؒ: لا تقبل شهادة الشر كاء لبعضهم فى مال الشر كة. (درر الحكام على مجلة الاحكام ج ٤، ص ۳۹۵)

د زوی په حق کښې د پلار د ګواهۍ حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! که چېرته پلار په عدالت کښې د قاضي په وړاندې د زوی په حق کښې ګواهي ورکړي چه زما زوی د فلاني سړي څخه په دعوٰی کښې هغه درج شوې زمکه په بیع قطعي سره اخیستې ده نو آیا د پلار ګواهي به د زوی په حق کښې مقبوله وي او که نه؟ او عدالت د دې ګواهي په بناء سره د فیصلې د کولو مجاز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت د اسلامي قانون له مخې پلار د زوی او زوی د پلار په حق کښې ګواهي نه شي اداکولی ځکه چه په دې کښې د طرفدارۍ او خپلوۍ تهمت دی او هغه دا چه کیدای شي پلار د زوی په حق کښې له جوازه پرته د دروغو ګواهي ورکړي۔ نو د دې تهمت له وجهې اسلام د اصولو او فروعو ګواهي د یوه او بل په حق کښې نه قبلوي۔ نو د دې لپاره عدالت د پلار د ګواهۍ په بنیاد د زوی په حق کښې د فیصله کولو شرعاً مجاز نه دی۔

لما قال العلامة المرغينانىؒ: و لا شهادة الوالد لولده و ولد ولده و لا شهادة الولد لابويه و لا جداده ز الاصل فيه قوله عليه السلام لا يقبل شهادة الولد لوالده و لا الوالد لولده و لا المرأة لزوجها و لا الزوج لامرأته الخ. (الهداية ج۳، ص ۱۶۰، كتاب الشهادة)

و فى مجلة الاحكام: لا تقبل شهادة الاصل للفرع و الفرع للاصل يعنى لا تقبل شهادة الآباء و الاجداد و الامهات و الجدات لاولادهم و احفادهم و با لعكس اعنى شهادة الاولاد و الاحفاد للآباء و الاجداد و الامهات و الجدات الخ. (درر الحكام على مجلة الحكام ج ٤، ص۳۹۳، كتاب الشهادة، المادة ۱۷۰۰)

د نربښځي د ګواهۍ حکم

سوال: آیا د نربښځي ګواهي شرعاً قبلیږي او که نه او حال دا چه هغوی په ودونو او داسې نورو مجلسونو کښې ګډا اوې او داسې نور بد افعال هم تر سره کوي د قرآن او سنتو په رڼا کښې ځواب راکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم نربښځی چه له ښځو سره مشابهت لري، په ودونو او داسې نورو مجالسو کښې رقصونه کوي او سندرې وايي نو د هغو ګواهي د فسق له وجهې د قبول وړ نه ده۔ بیا هم چه د کوم یوه په اعضاء، ادا او انداز کښې نرمي وي او د فسق او فجور نور ارتکاب ئې نه کاوه نو بیا یوائې د نرمۍ په بناء مردود الشهادت نه دی بلکه شرعاً ئې ګواهي قبلیږي۔

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: و قال الفقهاء الحنفيةؒ لا تقبل شهادة مخنث لفسقه و هو الذى يفعل الردى و يؤتى كا لنساء اما الذى فى كلامه و فى اعضائه تكسر فهو مقبول الشهادة. (الفقه الاسلامى و ادلتهٗ ج۶، ص۵۶۶، المطلب الثالث، شروط اداء الشهادة)

قال العلامة الحصكفى رحمه الله: (و لا تقبل شهادة) مخنث با لفتح من يفعل الردیٰ و يؤتى و اما با لكسر فا لتكسر المتلين فى اعضائه و كلامه خلقة فتقبل. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۵، ص۴۷۹، كتاب الشهادة، باب قبول الشهادة و عدمه)

د تائب فاسق د ګواهي حکم

سوال: یوه سړي مخکښې قیمار، غلا، زنا او داسې نور قبیح اعمال ترسره کول لیکن اوس له ټولو ګناهونو څخه توبه ګار شوی دی۔ په تبلیغ کښې ئې وخت لګول هم شروع کړي دي۔ د لمانځه او روژې پابند دی۔ نو اوس که چېرته هغه په کوم مجرم باندې ګواهي ورکړي آیا شرعاً ئې ګواهي قبلیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د امت د فقهاوو په دې خبرې باندې اتفاق دی چه فاسق او فاجر چه کله

له فسق او فجور څخه توبه وباسي او صراط مستقیم ته برابر شي نو بیا شرعاً د شهادت اهل دی. لهذا په صورت مسئوله کښې نوموړی په یوه مجرم باندې د ګواهۍ د ورکولو اهل دی. هغه د مخکښیني جرائمو له وجهې نا اهل نه شي ګرځیدلی.

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: و اتفق الفقهاء على ان الفاسق اذا تاب من فسقه تقبل شهادته و استثنى الحنفية المحدود فى القذف فانهٗ لا تقبل شهادته عندهم و ان تاب. (الفقه الاسلامى و ادلتهٗ ج۶، ص۵۶۷، المطلب الثالث فى شروط اداء الشهادة)

له بینایي څخه د محروم سړي د ګواهي حکم

سوال: یوه سړي یو څوك په قتل ورساوه او دوو کسانو دی عین د قتل کولو په وخت کښې ولیده. کله چه د قاتل په خلاف په تانې کښې مقدمه درج شوه نو ئې د موقع له ګواهانو څخه یو ګواه قتل او بل ئې اغوا کړ او دومره ظلم او تشدد ئې ورسره وکړ چه بینایي ئې توله ختمه شوه. اوس نوموړی قاتل نیول شوی دی او په عدالت کښې پرې مقدمه شروع ده. نو پوښتنه دا ده چه د قاتل د تشدد له وجهې له سترګو څخه د محروم سړي ګواهي په عدالت کښې د قاتل په خلاف قبلیږي او که نه؟ په داسې حال کښې چه هغه پخپله قاتل د قتل کولو په وخت کښې لیدلی وو؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حنفي فقهاووؒ په نزد د شهادت د اداء لپاره د څو شرائطو لحاظ ضروري دی چه له هغو شرائطو پرته ګواه د ګواهۍ اهل نه شي ګرځیدلی. په هغو شرائطو کښې له عقل، بلوغ، اسلام او داسې نورو سره سره بینایي هم یو ضروري شرط دي. د صورت مسئوله مطابق ګواه د شهادت د اداء په وخت کښې چونکه د بینایي له نعمت څخه محروم دی ځکه د احنافوؒ په نزد د شهادت د ورکولو اهل نه دی.

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: البصر! يشترط عند ابى حنيفةؒ و محمدؒ و الشافعية انْ يكون الشاهد مبصراً فلا تقبل شهادة الاعمىٰ لانه لا بد من معرفة المشهود له و الاشارة اليه عند الشهادة و لا يميز الاعمىٰ بين الناس الا بنغمة الصوت و فيه شبهة لان الاصوات تتشابه و تشدد الحنفية فمنعوا قبول شهادة الاعمىٰ و ان كان بصيراً عند تحمل الشهادة. (الفقه الاسلامى و ادلته ج۶، ص۵۶۴، المطلب الثالث، شروط اداء الشهادة)

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله: لا تقبل من اعمىٰ مطلقاً. قال العلامة ابن عابدينؒ و لنا ان الاداء يفتقر الى التميز با لاشارة بين المشهود لهٗ و المشهود عليه و لا يميز الاعمىٰ الا با لنغمة و فيه شبهة. (رد المحتار و الدر المختار ج۵، ص۴۷۶، كتاب الشهادة، باب قبول الشهادة و عدمه)

د ګونګ سړي د شهادت حکم

سوال: یو سړی د خبرې کولو له قوت څخه محروم (ګونګ) دی که چېرته هغه پخپله یو سړی په کوم جرم باندې ووینې او د هغه آواز ئې هم پیژانده نو آیا نوموړی سړی د مجرم په خلاف په عدالت کښې په اشارې سره ګواهي کولی شي او که نه او آیا عدالت د ګونګ د ګواهۍ په بناء مجرم ته سزا ورکولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت د اسلامي قانون له مخې په ګواه کښې د څو شرائطو شتون

ضروري دی مثلاً دا چه مسلمان به وي، آزاد به وي، عاقل او بالغ به وي، بینا به وي. په دغو شرائطو کښې د ګویایي قوت هم شامل دی. که چېرته په یوه سړي کښې نور شرائط موجود وي لیکن د ګویایي له قوت څخه محروم وي یعنې ګونګ وي نو شرعاً د شهادت اهل نه دی او عدالت د هغه په ګواهۍ سره فیصله نه شي صادرولی.

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: النطق اشترط الحنفية و الشافعية و الحنابلة ان يكون الشاهد ناطقاً فلا تقبل شهادة الاخرس و ان فهمت اشارته لان الاشارة لا تعتبر فى الشهادات لانها تتطلب اليقين و انم المطلوب التلفظ با لشهادة. (الفقه الاسلامى و ادلتهُ ج۶، ص۵۶۴، المطلب الثالث، شروط اداء الشهادة)

له ګواه څخه د خفیه تحقیقاتو شرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! د یوې مسئلې حل مطلوب دی او هغه دا چه نن صبا خلك سپین کالي اغوندي او له ځان څخه نقلي معزز جوړوي تر څو چه خلك پرې یقین وکړي لیکن په پټه کښې هغوی د جرائم پیشه خلکو معاونین (ملګري) وي. داسې خلك که چېرته په عدالت کښې د قاضي په وړاندې د یوه مجرم په خلاف د شهادت د ورکولو لپاره راشي او پخپله مجرم او یا د هغه وکیل په هغه باندې جرح وکړي او د دې خبرې د ثابتولو کوشش وکړي چه نوموړی پخپله د فلاني او فلاني جرائمو مرتکب دی. نو آیا قاضي په حقیقت باندې د پوهیدو لپاره په خفیه توګه عدالتي تحقیق کولی شي او که نه؟ په دې باره کښې د فقهاء کراموؒ څه رایه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د ګواه په ظاهري عدالت باندې د اکتفاء په کولو سره قاضي د یوې مقدمې فیصله کولی شي. د ګواه په پټه سره تحقیقات کول ضروري نه دي. البته د حدودو او قصاص په معامله کښې دا احتیاط کول د امام صاحب په نزد هم ضروري دي. لیکن د امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد په تولو معاملاتو کښې د ګواه په پټه سره عدالتي تحقیق ضروري دی. د احنافو متاخرینو علماوو دا قول مفتیٰ به ګرځولی دی. لهذا په صورت مسئوله کښې د امام ابو حنیفه په نزد هم د ګواه خفیه عدالتي تحقیق ضروري دی ځکه چه خصم او یا ئې وکیل په ګواه باندې جرح کړې ده. نو ځکه قاضي دې د داسې ګواه د خفیه عدالتي تحقیقاتو په رڼا کښې فیصله صادره کړي او یواځې د ګواه په سپین لباس باندې اعتماد کول له خطر څخه خالي نه وي.

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: و اكتفى ابو حنيفةؒ بظاهر العدالة فى المسلم و لا يسئل عن الشهود حتىٰ يطعن الخصم بهم الا فى الحدود و القصاص فانه يسئل عن الشهود و ان لم يطعن فيهم الخصوم و دليله على الاكتفاء بظاهر العدالة. قوله عليه السلام المسلمون عدول بعضهم على بعض الا محدوداً فى قذف. و مثله عن عمر...... و قال الصاحبان و الفتوىٰ على قولهما لا بد عن ان يسئل القاضى على الحجة و هى شهادة الرجال فلا بد من التعريف و فى ذلك صيانة للحكم القاضى عن النقص و الابطال بسبب الطعن فى عدالة الشهود. (الفقه الاسلامى و ادلته ج۶، ص۵۶۵/۵۶۶، المطلب الثالث فى شروط اداء الشهادة)

د علت د زائلیدو نه وروسته په مقدمه کښې د شهادت د ورکولو حکم

سوال: یوه سړي د خپلې بي بي په حق کښې د قاضي په وړاندې داګواهي وکړه چه زما د ښځې پخپل ورور زید باندې یو لك روپۍ (کومې چه هغې ته د خپل پلار له ترکې څخه د نقدو په صورت کښې پاتې شوې وې) قرضه دي۔ لیکن قاضي ئې شهادت د ازدواجي رشتې په وجه باندې رد کړ۔ اوس چونکه د اسړی خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړی دی او رخصت کړې ئې ده نو آیا د اسړی په دغې مقدمې کښې شهادت کولی شي او که نه؟ ځکه چه هغه ښځه اوس د ده لپاره اجنبیه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت په اسلامي قانون کښې چه کله یو ځل څوك د یوه سړي شهادت د کوم علت په بناء سره رد کړي نو په هغې مقدمې کښې د هغه سړي شهادت د نوموړي علت له زائلیدو نه وروسته هم نه قبلیږي۔ له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د طلاق له ورکولو نه وروسته هم د دعوې د اثبات لپاره د دې سړي شهادت نه قبلیږي۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: متی ردّت الشهادة لعلّة ثم زالت العلّة فشهد فی تلك الحادثة لا تقبل فلو شهد الزوج لزوجته بدعوٰی فردّت ثم ابانها و تزوجت غیره ثم شهد لها بتلك الدعوٰی لم تقبل. (شرح المجلة لسلیم رستم بازؒ ص۱۰۰۵، المادة ۵۵۸، کتاب الاکراه، الباب الثانی)

په شهادت کښې د مشهود لهٗ یا علیه نوم او د پلار نوم اخیستل

سوال: یو سړی چه کله د چا لپاره ګواهي ورکوي نو د هغه نوم او د هغه د پلار نوم به اخلي او که نه۔ په اسلامي شریعت کښې د دې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت د ورکولو په وخت کښې که چېرته مشهود له (د کوم چا لپاره چه ګواهي ورکوي) او مشهود علیه (د چا په خلاف چه ګواهي ورکوي) په عدالت کښې موجود وي نو د ګواه لپاره د هغه د خپل نوم او د پلار نوم اخیستل ضروري نه دي۔ یوائې په اشارې سره هم متعین کیږي۔ البته که چېرته دواړه موجود نه وي یا چېرته یو غیر حاضر وي نو په ګواهي کښې د هغه نوم او د هغه د پلار نوم اخیستل ضروري دي۔ یوائې په نوم باندې اکتفاء صحیح نه ده۔ او بیا هم که چېرته هغه معروف او مشهور سړی وي نو د شهرت له وجهې ئې یوائې خپل نوم اخیستل هم کافي ګڼې۔

لما فی مجلة الاحکام: یجب ان یشیر الشاهد عند الشهادة الی کل من المشهود له و المشهود علیه و المشهود بهٖ اذا کانوا حاضرین فان فعل ذٰلك کفٰی و لا یلزمه ان یذکر اسم ابی المشهود له و المشهود علیه و لاحدهما اما فی الشهادة المتعلقة با لمؤکل الغائب او با لمیّت فیلزم الشاهد ذکر ابیهما و جدهما و لٰکن اذا کان کل منهما مشهوراً و معروفاً فحسب الشاهد ان یذکر اسمه و شهرته لان المقصد الاصلی تعریفه بوجه یمیزه من غیره. (شرح مجلة الاحکام لسلیم رستم باز مادة ۱۶۹۰، ص۱۰۱۱)

قال العلامة الحصکفیؒ: و هی ان علی حاضر یحتاج الشاهد الی الاشارة الی ثلاثة التی الخصمین و المشهود به لو عینا ولا دینا و ان علی غائب کما فی نقل الشهادة او میت فلا بد لقبولهما من نسبته الی جده فلا یکفی ذکر اسمه و اسم ابیه و صناعته الا اذ کان یعرف بها ای با لصناعة لا محالة بان لا یشارکه فی المصر و غیره فلو قضی بلا ذکر الجد نفذ فا لمعتبر التعریف لا تکثیر الحروف حتٰی لو عرف باسمه فقط او بلقبه وحده کفٰی. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۴۶۶، کتاب الشهادة) و مثله فی شرح المجلة لخالد آتاسی ج۵، ص۲۰۰. الباب الاول فی الشهادة.

د شهادت لپاره مشاهده (د سترګو لیدلی حال) ضروري ده

سوال: که چېرته یو سړی د شهادت د ورکولو په وخت کښې د قاضي په وړاندې دا ووایي چه ما دا له خلکو نه اوریدلي دي او یا په خلکو کښې مشهوره ده چه فلاني سړي دا ګناه کړې ده او حال دا چه ګواهي ورکوونکی سړی د لمانځه او روژې پابند او عادتي وي او د تبلیغ په جماعت کښې ئې هم وخت لګولی وي۔ آیا د اسې سړي ګواهي د جرم د اثبات لپاره شرعا کافي ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شهادت ورکوونکي لپاره اګر که عادل والی او د لمانځه او روژې پابندي هم ضروري ده لیکن د شهادت د قبلیدو لپاره د دې خبرې په پام کښې نیول ضروري دي چه شاهد مجرم لره د جرم د ارتکاب په وخت کښې لیدلی وي۔ یوائې له خلکو څخه په اوریدو باندې شهادت ورکول د قبول وړ نه دی۔ لهذا په دې ډول ګواهي سره جرم نه ثابتیږي۔ ځکه چه کیدلی شي چه دا خبره په خلکو کښې غلطه مشهوره شوې وي۔

لما فی مجلة الاحکام: یلزم ان یکون الشهود قد عاینوا با لذات المشهود به و ان یشهدوا علی ذٰلك الوجه و لا یجوز ان یشهدوا با لسماع یعنی ان یشهد الشاهد بقوله سمعت من الناس. (مجلة الاحکام العدلیة المادة ۱۶۸۸)

لما قال العلامة محمد بن الحسین الحنفیؒ: لو قالوا شهدنا لانا سمعنا من الناس فلا تقبل شهادته. (الفتاوی الانقرویة ج۱، ص۳۹۰، کتاب الشهادة، الباب السادس فی الشهادة با لتسامع)

یوائې د ښځو د شهادت حکم

سوال: آیا د شهادت په هره معامله کښې یوائې سړو لره ګواه جوړول ضروري دي او که یوائې د ښځو ګواهي هم د قبول وړ ګرځیدلی شي۔ د فقه حنفي په رڼا کښې ځواب راکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د خلکو په منځ کښې د پیدا کیدونکو تنازعاتو (شخړو) د حل لپاره شرعا دوه سړي او یا یو سړی او دوه ښځې په ګواهي کښې وړاندې کیدل ضروري دي۔ لیکن که چېرته د سړي ګواهانو کوم ځای ته رسیدل ممکن نه وي او یا په دغو حالاتو باندې خبریدلی نه شو نو د دې مجبورۍ له مخې یوائې د ښځو ګواهي د قبول وړ ګرځیدلی شي۔

لما فی مجلة الاحکام: نصاب الشهادة فی حقوق العباد رجلان او رجل و امرأتان و لکن تقبل شهادة النساء وحدهن بحق المال فقط فی المحال التی لا یمکن اطلاع الرجال علیها. (شرح مجلة الاحکام لسلیم رستم باز المادة ۱۶۸۵، ص۱۰۰۳، الباب الاول فی الشهادة)

لما قال العلامة خالد آتاسیؒ: کا لولادة فان شهادة المرأة الواحدة فی حق الارث تقبل عندهما خلافاً لابی حنیفةؒ و بقولهما. قال الشافعیؒ و احمدؒ و هو ارجح کما فی الفتح و اما فی حق ثبوت النسب فتقبل اجماعاً..... حاصله ان شهادة النساء بانفرادهن فیما لا یطلع علیه الرجال حجة. (شرح مجلة الاحکام ج۵، ص۲۰۱، الباب الاول فی الشهادة)

د جرم د اثبات لپاره ثبت شوی شهادت کافي نه دی

سوال: د نننۍ زمانې سائنسي ایجاد یعنې د ټیپ په مدد سره د ثبت شوي بیان په بنیاد د غلا، زنا، قتل او داسې نور جرائم ثابتیدلی شي او که نه؟ یعنې د کیسټ یا فیتې بیان مثبت للحکم دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د ګواهانو عدالت ته حاضریدل او د قاضي په وړاندې د هغه شهادت ورکول ضروري دي نو ځکه په صورت مسئوله کښې د ټیپ یا نورو جدیدو آلاتو سره ګواهي مثبت للحکم نه دی او نه قاضي ته شرعاً دا حق حاصل دی چه هغه یوازې په ټیپ یا د نورو جدیدو آلاتو د بیان په اوریدلو سره فیصله وکړي ځکه چه د یوه سړي آواز د بل سړي له آواز سره مشابه کیدلی شي۔

کما فی مجلة الاحکام: الشهادة هی الاخبار بلفظ الشهادة یعنی یقول اشهد باثبات حق احد هو فی ذمة الآخر فی حضور الحاکم و مواجهة الخصمین فیقال للمخبر شاهد و للمخبر له مشهود له و للمخبر علیه مشهود علیه و للحق مشهود به.

قال العلامة خالد آتاسیؒ: و قوله فی حضور الحاکم المراد منه ان یکون الاخبار فی مجلس الحکم فاخبار الحاکم فی غیر مجلس الحکم لا یعتبر شهادة. (شرح المجلة لخالد آتاسی ج۵، ص۱۹۹/۲۰۰، الباب الاول فی الشهادة)

د جرم د اثبات لپاره د تصویر حکم

سوال: یوه سړي قتل کاوه او یا ئې زنا کوله او بل سړي د هغه عکس یعنې تصویر واخیست نو آیا دا تصویر د جرم د اثبات لپاره د قاضي په عدالت کښې وړاندې کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تصویر او د دې سلسلې نورې جدید آلات پخپله زمانه کښې یو مخ له نظره هم نه شي غورځیدلی او دا ذرائع د جرائمو د اثبات لپاره تر کافي اندازې پورې په کار راتلونکي دي۔ خو په دې شرط چه د نورو قرائنو او ذرائعو تائید هم ورسره وي۔ ځکه چه د نن صباء په تخنیکي دور کښې په تصویرونو کښې د جعلسازۍ قوي امکان هم موجود دی۔ له دې

وجهې په نوموړي صورت کښې تصویر اګر که په کلي توګه د جرم د اثبات لپاره کافي نه دی لیکن له نظره هم نه اچول کیږي۔ د دې لپاره که چېرته ئې نور ذرائع په تائید کښې موجود نه وي او د قاضي په مجرم باندې قوي یقین وي نو کم تر کمه تعزیر پرې جاري کولی شي۔

لما فی مجلة الاحکام: القرینة القاطعة هی الامارة البالغة حد الیقین مثلاً اذا خرج احد من دار خالیة مدهوشاً و فی یده سکّین ملوثة با لدم و دخلت الدار و روی فیها شخص مذبوح فی ذٰلک الوقت فلا یشتبه فی کونه قاتل ذٰلک الشخص و لا یتلف الی الاحتمالات الوهمیة الصرفة کا لذهاب الی کون شخص المذکور بما قتل نفسه. (مجلة الاحکام المادة ۱۷۴۱)

لما قال العلامة خالد آتاسیؒ: و فی معین الحکام قال بعض العلماء علی الناظر ان یلحظ الامارات و العلامات اذا تعارضت فما ترجح منها قضی بجانب الترجیح و هو قوة التهمة و لا خلاف فی الحکم بها و تبصرة الحکام، قال اللّٰه تعالی تَعْرِفُهُمْ بِسِیْمَاهُمْ دل علی السیما المراد بها حال یظهر علی الشخص و الامارات ماخوذة من الشریعة قال اللّٰه تعالی: وَ جَآءُ وا عَلٰی قَمِیْصِهٖ بِدَمٍ کَذِبٍ قال عبد المنعم بن الفرس روی ان اخوة یوسف علیه السلام لما اتوا بقمیص یوسف الی ابیهم یعقوب علیه تامله فلم یجد فیه حرفاً و لا اثر ناب فاستدل بذٰلک علی کذبهم و قال متٰی کان الذئب حلیما یأکل یوسف و لا یخرق قمیصه. (شرح المجلة ج۵، ص۳۹۱، فی بیان القرینة القاطعة المادة ۱۷۴۱)

د قاتل په جسم یا جامو باندې چه د مقتول وینه لګیدلې وي نو؟

سوال: که چېرته د قتل په واقعه کښې په عین موقع باندې یو سړی ونیول شي او د هغه په لاس کښې په وینو ککړ خنجر وي او په کالیو باندې ئې د وینو ټاپې هم وي۔ د ډاکټري تحقیق له مخې د مقتول وینې او په خنجر او کالیو باندې لګیدلې وینې سره یو وي۔ نو شرعاً په دې سړي باندې جرم ثابتیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مقتول وینه او د قاتل په جسم باندې د لګیدلې وینې یو والی د قتل د اثبات قرینه ده۔ د صورت مسئوله مطابق که چېرته د مقتول او د قاتل په کالیو باندې لګیدلې وینه سره یوه ثابته شي نو شرعاً دا سړی مجرم ثابتیږي او که چېرته نور شواهد ئې هم تائید وکړي نو په قاتل باندې به حد جاري کیږي او که نه نو قاضي به پرې تعزیر جاري کوي۔

د شهادت د قانون په مسوده کښې د مولانا سمیع الحق ځیني نور ترمیمونه او تقریرونه، د جرم اقرار او اقبال

د شهادت د قانون په مسوده کښې پنځه څلویښتمه ماده د جرم په اقبال او اقرار پورې اړه لري او په هغې کښې ویل شوي دي چه ”په دغو معاملاتو کښې کوم چه تسلیم شوي دي د جرم اقبال تصفیه کوونکی ثبوت نه دی لیکن عارض امر کیدلی شي“۔

د دې مادې په اړه د مولانا سمیع الحق ترمیم (کوم چه د ترامیمو په دیرشم نمبر فهرست کښې وو) دا وو چه هغه ماده دې داسې بدله شي چه:

”په دغو معاملاتو کښې کوم چه منل شوي او تسلیم شوي دي اقبال اقرار تصفیه کوونکی ثبوت هم دی او د تقریر مخالف (Estoppil) مانع هم دی۔ که چېرته یو سړی اقرار وکړي نو د شریعت د کتابونو د بیان شوي حکمونو مطابق دا اقرار او اقبال ته اهمیت ورکول کیږي او فیصله به کیږي“۔

جناب چئیرمین صاحب دا ترمیم ولوست او مخې ته ئې کیښود نو په باره کښې ئې میان فهیم الرحمٰن صاحب د اعتراض تکی پورته کړ چه دا ترمیم د غوښتنو مطابق نه دی۔ نو د قانون په مسوده کښې څنګه راتلی شي۔ جناب چئیرمین صاحب د دې ترمیم د اصل عبارت (کوم چه په اردو کښې وو) خوا ته خپله توجه وګرځوله او پخپله ئې هم ولوست او په انګریزي کښې ئې د هغه ترجمه هم صحیح کړه۔ او بیا ئې محرك ته په دې باندې د بحث اجازه ورکړه۔

مولانا سمیع الحق: جناب چئیرمین صاحب دا بالکل واضحه ده چه زمونږ په مخکښې چه کومه اصل ماده ده په هغې کښې اقبال تصفیه کوونکی ثبوت نه دی لیکن امرِ عارض کیدلی شي۔ نو زما مقصد دا دی چه اقرار ته قطعي ثبوت د دې شهادت له مخې نه دی ویل شوی۔ ځکه چه هغوی د انګریزي شهادت ایکټ چه په کوم مفهوم کښې استعمال کړی دی۔ د هغه همدغه تقاضا وه لیکن په اسلامي قانون کښې اقرار چه د کوم مفهوم لپاره استعمال شوی دی هغه د نتائجو په اعتبارسره قطعي ثبوت هم نه دی۔ یعنې له دې څخه انکارنشته چه (Estoppil) هم دی۔ واضح اصول ”یؤخذ باقراره“ (سړی د خپل اقرار له وجهې نیول کیږي)۔

په دې مرحله باندې جناب ملك محمد رمضان صاحب د بلوچستان چئیرمین صاحب ته وویل چه د مولانا صاحب د الفاظو او معانیو په چکرونو کښې د لویدلو په ځای جذبې ته هم کتل په کار دي۔ که چېرته دا د قرآن او سنت په قوانینو باندې مبني وي نو بیا نور الفاظ ورکړی یعنې په نورو الفاظو سره ئې قبول کړی نو دا به بهتره وي۔

له دې نه وروسته چئیرمین صاحب سید معین الدین شاه صاحب ته په دې باندې د خیال د ښکارولو دعوت ورکړ۔ هغه وویل چه قوانین پخپل منځ کښې مربوط وي۔ د یوه بل امداد سره کوي۔ مونږ قضاء کورس پاس کړی دی۔ دلته د حقوقو خبره نه ده۔ دلته دا ترمیمونه زیاتی دي په قانون کښې نه شي راتلی۔

نور هم په ډیرو ځایونو کښې داسې وشول چه دلته ئې د کوم شي راوړل نه غوښتل نو دغو حضراتو د قاضي کورټس حواله ورکوله۔ او د اقرار په باره کښې ئې هم دا انداز غوره شو چه د قاضي کورټس قانون همدا دی۔ په دې مرحله باندې مولانا سمیع الحق صاحب د بحث ځواب په ورکولو سره وفرمایل چه:

مولانا سمیع الحق: جناب والا! ما تر اوسه پورې په یوې حصې باندې بیان کړی دی۔ دلته مونږ ته بار بار د قاضي کورټس حواله راکول کیږي۔ دا یو عجیب غوندې نظام دی چه دا مسئله دې د دوهم او دریم کتاب سره مربوطه شي۔ د شهادت قانون خو دا دی چه د شهادت ټول امور که د ګواهانو سره تعلق لري او که د حلف (قسم) یا له اقرار سره نو هغوی ټول به یو ځای پرېږدی په دې طریقې سره سهولت وي۔ زمونږ مقصد خو دا دی چه یو صحیح او مؤثر شکل تیار شي نو دلته که تفصیلات ذکر هم نه شي نو ما په ترمیم کښې ویلي دي چه ”د شریعت د کتابونو د بیان کړل شوي حکمونو مطابق“ دا ځکه ضروري هم دي چه اقبال او اقرار لره هم شریعت په څو شرائطو سره مشروط ګرځولی دی۔ مثلاً اقرار کوونکی به عاقل او بالغ وي۔ که چېرته نابالغ وي او ولي او سرپرست ئې هغه ته د کاروبار اجازه ورکړې وي نو هغه به هم د بالغ په حکم کښې ګڼل کیږي۔ همدارنګه نور څو شرائط دي نو زه دا غواړم چه کله مقر پرته له کوم زور او جبر څخه اقرار وکړي اقبال وکړي نو په دې کښې د شریعت د واضحو احکاماتو لحاظ وساتل شي۔ او حال دا چه دلته معامله بالکل مبهمه ده او دوهمه مانع د امر مخالف مسئله ده چه اسلام اقرار لره قطعي ثبوت نه ګرځوي۔ که چېرته دلته ئې مونږ قطعي ثبوت و نه ګرځوو نو د شریعت یو اصل متأثر کیږي۔ اقرار یو مستقل عظیم الشان باب دی۔ د شهادت د اسلامي قانون د دې غوښتنې به هم په هر ځای کښې لحاظ ساتل کیږي۔ دا یو عام مسلّم اصل دی چه المرء یؤخذ باقراره۔ اوس که چېرته یو سړی اقرار وکړي نو دلته هغه مانع د تقریر مخالف وګرځول شو یعنې یو سړی دا ووایي چه فلانی سړی زما ورور دی نو هغه خو ئې ورور شو لیکن دا ضروري نه ده چه په دې باندې د هغه د پلار زوی هم شو۔ خلاصه خو دا ده۔ لیکن دلته دا قطعي ثبوت و نه ګرځیده۔ که چېرته داسې وي نو بیا د اقرار څه بنیاد او حیثیت باقي پاتې نه شو۔

د اقــــرار شرائط

ما دوهم وړاندیز دا وکړ چه اقرار لره شریعت د څو شیانو پابند جوړ کړی دی۔ لکه څرنګه چه مونږ د شاهد لپاره هم د اهلیت او د شرائطو لحاظ ساتلی دی۔ نو دلته هم که چېرته مونږ تفصیلاتو ته لاړ نه شو نو له شهادت نه وروسته د اقرار کولو هم یوه درجه ده۔ د دې هم څه شرائط، څه مستثنیات او څه وضاحتونه دي نو د دغو شیانو زما په دې لنډو جملو کښې لحاظ

وساتی۔ چه د شریعت د بیان شوي احکاماتو مطابق به دې اقبال ته اهمیت ورکوو۔ که چېرته هغه د شرعي احکامو لاندې پوره نه راته نو قاضي ته به دا اختیار وي چه د دې سړي اقرار ته اهمیت نه ورکوي۔ یواځې دومره معامله ده چه دا ماده هم څرنګه وکولای شو چه شرعي اصولو ته ئې نژدې کړو۔

له دې وروسته جانب چوهدري فقیر الله صاحب او جناب چوهدري الطاف حسین صاحب او ځینو نورو غړیو د ترمیم مخالفت وکړ او مولانا قاضي عبد اللطیف صاحب د ترمیم په شدت سره حمایت او تائید وکړ۔ په دې باندې له رأیې اچولو وروسته چئیرمین صاحب هغه لره ساقط وګرځاوه۔

د ودونو او د اسې نورو ثبوت

څلور شپیتمه ماده د ودونو او د اسې نورو د رشتې په ثبوت پورې اړه لري۔ په دې کښې د مولانا صاحب ترمیم دا وو چه د دې په آخر کښې دې دا الفاظ زیات کړی شي چه "یا د حدودو دقوانینو د متعلقه دفعاتو لاندې وي" تر څو چه د زناکارۍ د مخنیوي په سلسله کښې دا ماده په ځینو صورتونو کښې مانع جوړه شي۔ دلته په اصل ماده کښې د پاکستان د تعزیراتو د ۴۹۷ او ۴۹۸ مادو ذکر وو۔ او حال دا چه هغه کالعدم ګرځیدلي وو۔ لیکن د حدودو د متعلقه دفعات پکښې ملحوظ نه وو۔ جناب حکیم محمد سردار خان صاحب، جناب چوهدري محمد الطاف حسین صاحب، د قانون وزیر پیر زاده صاحب په بحث کښې حصه واخیسته او وئې ویل چه د دې ترمیم تولې تقاضاوې د حدودو له آرډیننس څخه پوره کیږي۔ البته د ۴۹۷ او ۴۹۸ دفعاتو ذکر دلته زیاتی دی ځکه چه هغه ریپل شوی دی۔

جناب چئیرمین وروسته د محرك مولانا سمیع الحق رأیه معلومه کړه نو وئې ویل چه جناب چئیرمین صاحب! چه مونږ دا خبره د مسودې د ترتیب ورکولو په وخت په مفاهمتي مجلس کښې هم کړې وه چه که چېرته د حدودو د آرډیننس د ذکر ضرورت نه وي نو بیا د پاکستان دتعزیراتو هغه منسوخ شوي دفعاتو (۴۹۷، ۴۹۸) د ذکر هم ضرورت نشته۔ نو زه حیران وم چه کوم دفعات چه منسوخ دي د هغه ذکر خو شته لیکن کوم چه رائج الوقت دی (یعنې حدود آرډیننس) د هغه بالکل ذکر هم نشته۔ په دې باندې جناب چئیرمین صاحب د منسوخ شوي دفعاتو ذکر لرې کړ او مولانا صاحب د ترمیم د واپس اخیستلو اجازه په شرطیه توګه وغوښته۔ نو چئیرمین صاحب وفرمایل چه شرطیه اجازه نه شي اخیستلی۔ له دې وروسته په ترمیم باندې رأی شماري وشوه۔

د ازدواج په دوران کښې د بچي پید ائش

۱۲۸ دفعه د ازدواج په دوران کښې د بچي له پید ائش سره ده۔ بچي د پخوالي ثبوت وي۔ مجوزه ایکټ ۱۸۷۲ء کښې هغه بالکل مبهم پریښی وو۔ یواځې دا

چه د جائز واده په دوران کښې د بچي پیدا کیدل د دې د جائز والي پوخ ثبوت دی ګوا که که چېرته د نکاح له عقد څخه څو ورځې وروسته هم بچی پیدا شي نو هغه به حلالي شمارل کیږي۔ او حال دا چه د اسلامي شریعت له مخې د نکاح له عقد څخه کم تر کمه شپږ میاشتې وروسته پیدا کیدونکی به جائز ګڼل کیږي۔ همدا ډول دا ایکټ د نکاح د انفساخ په صورت کښې د دوه سوه اتیا ورځو د ننه د ازدواج له انفساخ څخه وروسته ئې تولد جائز ګرځولی دی او حال دا چه د فقهاء کرامو په نزد کم تر کمه وخت ئې دوه کاله دی۔ یعنې د نکاح له فسخې (د طلاق یا وفات) څخه وروسته تر دوو کلونو پورې پیدا کیدونکی هم حلالي ګڼل کیږي۔ برسیره پر دې استثنایي صورتونه ئې دا دي کوم چه په لاندې مادې کښې راځي۔

د علماوو اصرار وو چه دا ماده به په هر حالت کښې د شریعت موافق ګرځوو په داسې حال کښې چه مخالف ګروپ وکیلان او داسې نور دې ته تیار نه وو۔ لیکن ورسته په مفاهمتي مجالسو کښې په دې باندې د قانون وزیر او د اسې نورو په کوشش سره وکیلانو حضراتو اتفاق وکړ او دا ماده علماء کرامو له سر نه مرتبه کړه او په مسوده کښې ئې شامله کړه۔

د حمل موده

دفعه نمبر ۱۲۸ د ازدواج په دوران کښې پید ائش د جائز والي پوخ ثبوت دی:

دا واقعه چه یوه سړي خپله والده د یوه سړي په جائز ازدواج کښې د پاتې کیدو شپږ میاشتې او یا له هغه وروسته او یا د نکاح له ختمیدو څخه وروسته په دوو کلونو کښې د ننه بچی پیدا شوی وي۔ او په دې اثناء کښې د هغه مور بې میړه وي نو دا به د دې امر قطعي ثبوت وي چه هغه به صحیح النسب زوی وي۔ مګر دا چه ښځه د عدت له تیریدو اقرار کړی وي او بچی د اقرار له تاریخ څخه شپږ میاشتې وروسته پیدا شي او یائې میړه انکاري وي۔

په ایوان کښې چه کله دا ماده مخې ته راغله نو حکیم محمد سردار خان او ځینې نور وکیلان د ترمیم په ذریعه د دې مادې بدلول غوښتل۔ او د نکاح د ختمیدو نه وروسته موده ئې په ۲۹۵ ورځو پورې محدودول غوښتل۔ دا مسئله د مدت حمل په اکثر حد باندې مبني ده۔ د ځینو ائمه وو په نزد دا موده درې کاله او له دې نه هم زائده ده۔ د امام ابو حنیفه رحمه الله رأیه په کم تر کم میعاد باندې مبني ده۔ مخالفت کوونکو ته دا میعاد ناممکن او مضحکه خیز معلومیده۔ او حال دا چه په انګریزي قانون کښې د نکاح له عقد نه دوه ورځې مخکښې ولادت په قانوناً جائز ګرځولو کښې دوی ته هیڅ ډول حیرانتیا نه وه۔ علماء کرامو ډیر په شرح او بسط سره د دې میعاد په حکمتونو باندې رڼا واچوله او د وړاندې شوي ترمیم مخالفت ئې وکړ او وکیلانو حضراتو پخپل موقف باندې تقریرونه وکړل او الحمد لله چه له رأی شماري نه وروسته مخالف ترامیم ساقط شول او په اکثریت سره د علماوو وړاندې شوې ماده منظوره شوه۔

په دې مسئلې باندې مولانا سمیع الحق صاحب پخپل مختصر تقریر کښې وفرمایل:

جناب چئیر مین صاحب: مولانا سمیع الحق صاحب!

مولانا سمیع الحق صاحب: جناب چئیرمین صاحب! دلته په دې باندې ډیر زور اچول شوی دی چه په ظاهره سره دا ناممکن معلومیږي او که چېرته په دې جدید دور کښې د لسو میاشتو څخه زیات دوه کاله فرض کړو نو خلك خاندي نو ګوا که د دې د ناممکن والي په وجه سره په ۲۹۵ ورځو باندې زور اچوی زه مختصراً دوه درې نکتې بیانوم۔

یو دا چه د حکیم محمد سردار خان صاحب په ترمیم کښې په ظاهره سره تعارض موجود دی۔ په ابتداء کښې هغه دا ویلي وو چه په ۲۹۵ ورځو ئې تبدیل کړی او تول مقررین دا تائیدوي هم چه چونکه دا ناممکن دی نو ځکه داسې کول په کار دي۔ او بیا دی پخپله په آخر کښې د ثبوت بار په والدې باندې اچوي او هلته وایي چه د ۲۹۵ ورځو نه وروسته او په دوو کالو کښې د ننه۔ زه وایم چه کوم شی چه د ترمیم په ابتداء کښې واقعي ناممکن وو نو په آخر کښې بیا هغه ولې ممکن وګڼل شو؟ که چېرته دا خبره بالکل ناممکنه وي نو بیا د یوه ناممکن شي لپاره د یوې دعوې د ثبوت بار په والدې باندې اچول څومره د تعجب خبره ده۔ زه اوس په وضاحت سره خبره کوم۔

چوهدري محمد ادریس تاج: پوائنټ آف آرډر! جناب چئیر مین صاحب! که زه چېرته د قیاس له مخې دا ووایم چه د یوې ښځې په ګیډه کښې بچی دی نو هغه میډیکل چیك اپ کوي نو بیا معلومات کیږي۔ داسې معلومات نه کیږي۔

جناب چئیرمین: تشریف کښېږدی۔ دا پوائنټ آف آرډر نه دی۔

د حمـــــل په اکثره موده باندې اقوال او خداوندي حکمت

مولانا سمیع الحق: که چېرته یو شی د ترمیم په آغاز کښې د توقې او مسخرې وړ وي نو هغه د ترمیم په آخر کښې ولې د توقې وړ نه ګرځي؟ زما بل ګذارش او عرض دا دی چه په هغې زمانې کښې هم بچی دوه دوه کاله د مور په نس کښې نه پاتې کیدل او عام حالات چه مونږ ته کوم مخې ته راځي په دې کښې داسې مثالونه ډیر کم دي۔ له دې سره سره هم چه تولو امامانو کومه رأیه اختیار کړې ده داسې خو نه وو چه په هغوی کښې عقل، تدبر او دا تولې خبرې نه وې۔ او هغوی نعوذ بالله په پټو سترګو باندې داسې جاهلانه خبرې کولې۔ حالانکه تول امامان په بنیادي توګه سره متفق دي چه یو کال نه دی۔ او که چېرته د څلورو واړو امامانو ترمنځ د حمل د اکثرې مودې په باره کښې اختلاف دی هغه د دوو کلونو څخه په زیاتو کښې دی۔ په دوو کلونو باندې تول سره متفق دي۔ امام شافعي خو درې کاله ښیي او له امام مالك څخه له څلورو نه تر شپږو کلونو پورې اقوال نقل دي۔ (په دې مرحلې کښې څو ارکانو د توقې او مسخرې په انداز کښې په دې اقوالو باندې مسخرې وکړې)۔ اوس که تاسو توقې کوی او که خاندی په هر حال دا

ستاسو دین دی۔ بیا یو مخ له دې دین څخه لاس واخلی یعنې دا دین پریږدی۔ که تاسو هر شی هم کوی تاسو ته په دې مسائلو کښې د ایماني جرأت خبرې کول په کار دي۔ د دین په خبرو باندې شرمیږی مه۔ چه دنیا څه وایي۔ په ایماند اري سره ووایی لا اله الاّ الله محمد رسول الله ووایی۔ نو تاسو به په کتاب او سنتو باندې مبني هره رأیه ومنی۔

الغرض دې ته اجماع مرکب وایي۔ اوس څه وجه ده ما داسې وویل؟ وجه دا وه چه دا څه مخصوص حالات دي مثلاً یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکوي او یا یوه ښځه غریبه کونډه کیږي نو هغوی له ډیرو مشکلاتو سره مخامخ کیږي۔ که چېرته هغې د عدت د پوره کیدو اقرار و نه کړي او له بل چا سره ئې واده هم نه وي کړی او یا ئې میړه ژوندی دی او انکار نه کوي نو په دغو مخصوصو حالاتو کښې الله تعالی په هر ځای کښې پخپل نظام کښې دا ګنجائش ایښی دی او په احکامو کښې ئې د دې لحاظ کړی دی چه یو انسان ته ناجائز او حرامي و نه ویل شي۔ ځکه چه چا ته یو ځل حرامي ویل د هغه له قتل سره برابر دی۔ او همدا ډول اسلام حتی الوسع غواړي چه یوه عفیفه او پاك لمنه ښځه د دې الزام، تهمت او بدنامۍ څخه وژغورل شي۔ اوس ئې چه کوم د دوو کلونو ګنجائش ایښی دی نو یوه غریبه پاك لمنه ښځه چه تر څو پورې د هغې په خلاف ثابت نه شي نو شریعت هغه پخپل حال باندې پریږدي۔

زما دریم عرض دا دی چه دا امت یوازې د سائنس د زمانې لپاره نه دی۔ دا امت له څوارلسو سوو کلونو څخه له مخکښې نه تر قیامته پورې به وي۔ او د تولو انسانانو لپاره اسلامي تعلیمات دي۔ په هر ځای کښې نه ایکسرې، نه لابراتوارونه وي او نه دا ډول ټیسټونه په هر ځای کښې کیدلی شي۔ اوس هم زمونږ د آبادۍ نوي فیصده علاقه دیهاتي یعنې کلي دي، جنګلات دي، د اُمي امت معنی دا ده چه هغوی په دینِ فطرت کښې د تکلفاتو پابند مه ګرځوی۔ شکریه

د وعده معاف د ګواهي شـــــرعي حیثیت

د شهادت په مروجه ایکټ کښې وعده معاف ګواه موجود دی۔ یعنې د یوه جرم د شریك اقرار او د هغه خپل بل شریك مجرم په خلاف د شهادت په توګه استعمالیدلی شي کوم چه د شرعي نقطۀ نظر له مخې ئې هیڅ ګنجائش نشته۔ د خپل منځي مفاهمت په مجلس کښې ئې له نوې مسودې څخه دا شق حذف کړ لیکن ریټائرډ چیف جسټس بشیر الدین خان صاحب د خپل ترمیم په ذریعې سره هغه په ځای پریښودل غوښتل۔ په دې ترمیم باندې ډیر زورور تقریرونه شوي دي۔ د ترمیم تائید اکثریت وګڼل شول او منظور شو۔ په دې موقع کښې مولانا سمیع الحق صاحب پخپل تقریر کښې وویل۔

جناب چئیرمین: ډیره شکریه مولانا سمیع الحق صاحب!

جناب مولانا سمیع الحق صاحب: جناب صاحب! دا واضحه مسئله ده چه هغه پخپله د مقدمې یو

فریق جوړ شوی دی او د دې په باره کښې المغني تصریحات نقل کړي دي: كل من خاصم فی حق لا تقبل شهادة فیه. (المغنی ج۱، ص۱۶۷)

او په یوه بل روایت کښې دي چه: قضی رسول اللهﷺ ان لا تقبل شهادةٌ لخصم. (المغنی ج۱، ص۱۶۹)

"رسول اللهﷺ وفرمایل چه د مقدمې د فریق ګواهي د فریق مخالف لپاره مه قبلوی۔ ځکه چه هغه د مقدمې یو فریق دی او په ګواهي کښې د فریق مخالف استعمالول په بل فریق باندې لوی ظلم دی"۔

دوهم روایت د رد المحتار دی چه: كل من صار خصماً فی حادثةٍ لا تقبل شهاده فیها. (الدر المختار ج ، ص ، کتاب الشهادات)

"هر هغه سړی چه په شهادت کښې فریق مخالف وي نو په هغه کښې ئې شهادت نه قبلیږي"۔

دریم دا چه هغه د ګناه له اعتراف ځنځه وروسته عادل نه پاتې کیږي۔ او د شهادت لپاره صریح اصول دا دي چه هغه به عادل وي نو کله چه هغه پخپله اعتراف وکړي چه ما قتل کړی دی، غلا مې کړې ده، زنا مې کړې ده نو نه دې نه وروسته د هغه شهادت ته به څه اعتبار ورکړل شي۔

څلورمه خبره دا چه هیڅوك هم دا حق نه لري چه هغه معاف کړي ځکه چه په دې سره د حقوق العبادو حق تلفي راځي۔ حکومت ته هم دا حق نشته چه کوم مجرم معاف کړي چه خیر دی تا غلا کړې ده، قتل دې کړی دی هیڅ خبره نه ده حقوق العباد حکومت هم معاف یا ضائع کولی نه شي تر څو پورې چه متاثر شوی سړی پخپله خپل حق معاف نه کړي۔ دلته د ریاست او د استیټ د حفاظت مسئله پورته شوې ده نو اسلام وایي چه د دې لپاره له سخت نه سخت قوانین جوړ کړی او غدار ته سخته سزا ورکړی مګر۔

جناب چئیر مین صاحب: شکریه (وخت ختم شوی دی)

اسلام او د ښځو ګواهـــــي

په مجلس شوری (وفاقي کونسل) کښې د شهادت د قانون په مسوده باندې د مولانا سمیع الحق صاحب تقریر چه وفاقي کونسل سیکرټریټ هغه لره ضبط کړ۔ د فقهي او شهادت د قانون سره ئې د مناسبت له مخې ئې قارئینو ته وړاندې کوو۔

از مرتب

نحمده و نصلّی علی رسوله الکریم. بسم الله الرحمٰن الرحیم.

وَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَی اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ☆ وَ اِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ☆ اَفِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَ رَسُوْلُهٗ. (سورة النور)

جناب مولانا سمیع الحق: جناب چئیرمین! د قانون په اړه مسئلې ډیرې ژورې دي۔ په دې حالاتو کښې کوم چه د لسو دقیقو پابندې تاکل شوې ده او دا چه توره په سر باندې زړیږي نو حیران یم چه زه په کومو مسائلو باندې عرض وکړم۔ په هر حال که چېرته لس دقیقې نور وخت راکړی نو دا به ستاسو مهرباني وي۔

جناب چئیرمین: نه! که چېرته مو په نهو دقیقو کښې خپل تقریر ختم کړ نو ستاسو به ډیره شکریه ادا کوم۔

جناب مولانا سمیع الحق صاحب: کومه مسوده چه مونږ ته راوړل شوې ده په هغې کښې ډیر داسې شیان دي چه ټولو معززو غړیو ته له کوم اختلاف پرته پرې ژور نظر اچول په کار وو۔ او د اصلاح کوشش ئې په کار وو۔ لیکن په بدقسمتۍ سره په ټوله مسوده کښې یوائې دا یوه مسئله ضروري ګرځول شوې ده چه د ټول ایوان توجهات دې طرف ته متوجه شوي دي۔ یعنې۔

آہ بے چاروں کے اعصاب پہ عورت ہے سوار

او زمونږ مبصرین، وکلاء هم د قرآنکریم د آیتونو او الٰهي مصحف تفسیر د اکبر الٰه آبادي په ژبه د "مصحفِ رخسار بُتان مغرب" په رڼا کښې کوي۔ اکبر ویلي وو چه:۔

کھل گیا مصحفِ رخسارِ بُتانِ مغرب
شیخ حاضر بھی ہوئے ہیں نئی تفسیر کے ساتھ

شیعه مسلك او د ښځو ګواهـــــي

نو زمونږ دا شیوخ له نوي تفسیر سره حاضر شول۔ پیر اشرف صاحب کوم چه په دې وخت کښې حاضر نه وو او زمونږ علامه رضي صاحب (شیعه مجتهد) هم۔ (د مجلس شوری ممبر او مشهور شیعه عالم دین علامه سید محمد رضي د کراچۍ له مولانا ځنځه مخکښې د جوش او جذبې په انداز کښې د یوې ښځې د شهادت په کافي والي باندې زور اچولی وو۔ او وئې ویل چه ښځه امامت کولی شي او حکومت هم او زه د خپل اجتهاد په رڼا کښې په جرأت سره دا وایم چه په ګواهي کښې د یوې ښځې لپاره د بلې ښځې د ملګرتیا ضرورت نشته۔ او د هیرولو متعلق آیت

ئې علت ګرځولی دی چه اوس نه ورنه هیریږي- نو د دوو په ځای یوه ښځه کافي وي- د لاهور پیر محمد اشرف هم پخپل تقریر کښې دا موقف اختیار کړی وو-(مرتب) لیکن زه پوهیږم چه دا د دوی خپل اجتهادات دي- دا د دوی حق دی چه څنګه ئې غواړي هغسې دې ظاهر کړي- لیکن زه دا عرض کول غواړم چه دا شیعه مسلك هم نه دی- اهل سنت او اهل تشیع د خدای په فضل او کرم سره د ښځې د قانون شهادت په باره کښې سره متفق دي- بلکه شیعه له مونږ څخه څو قدمه وړاندې دي- زه دلته یو اځې یوه حواله وړاندې کوم چه په دې باره کښې د شیعه وو مسلك څه دی؟

اسلامي نظریاتي کونسل چه د شهادت د قانون کومه مسوده مونږ ته لیږلې ده د هغې د ۵۹ صفحې د الف ضمیمې لاندې د کونسل شیعه غړي علامه طالب جوهري صاحب په اختلافي لیکنه کښې ویل شوي دي چه د اسلامي نظریاتي کونسل په راپور کښې یو اځې په حدودو کښې د ښځو ګواهي مسترده شوې ده او مقبوله نه ده- لیکن د علامه طالب جوهري په نزد له حدودو پرته په طلاق، خلع، وصیت او نسب کښې هم د ښځو ګواهي د هیڅ یوه اعتبار له مخې هم د قبول وړ نه ده- د ښځو په اړه په مخصوصو امورو کښې زمونږ په نزد یو اځې د یوې ښځې ګواهي کافي ده- لیکن هغو په دغو امورو کښې هم د څلورو ښځو ګواهي ضروري ګرځولی دی- (د شهادت د قانون مسوده، مرتبه اسلامي نظریاتي کونسل، ص۵۹)

یو غړی: پوائنټ آف آرډر! جناب صاحب! دلته د اسلامي نظریاتي راپور د بحث لاندې نه دی-

جناب چئیرمین: تشریف کښېږدی- مولانا صاحب له دې راپور څخه حواله وړاندې کولی شي- مولانا! ستاسو مطلب دا دی چه دا د علامه جوهري مسلك دی؟

مولانا سمیع الحق: نه جنابه هغوی لیکلي دي چه دا زمونږ په فقه جعفریه کښې ده-

د ښځې امامت او حکمراني

نو عرض دا دی چه شیعه مسلکه ښځو ته دا معلومات نشته چه په هرې مرحلې باندې د هغوی ګواهي د قبول وړ نه بلل کیږي- دوهمه خبره دا چه علامه رضي صاحب د ښځې د امامت په باره کښې وویل کوم چه زمونږ په نزد هم جائز دی- یعنې که چیرته ښځې پخپل منځ کښې په یوه کوټه کښې سره جمع شي نو په دې کښې هیڅ حرج نشته چه یو ځای لمونځ سره وکړي او په هغوی کښې یوه ښځه د نورو امامت وکړي- لیکن ښځه د سړو امامت نه شي کولی- او بیا ئې د ښځو د حکومت مثال ورکړی دی- نو دا خو د ملکه سبا واقعه ده او کله چه حضور ﷺ تشریف راوړ نو مخکښې ټول شریعتونه منسوخ شول- نو زمونږ په نزد باندې د ښځې د حکومت په جواز کښې د وړاندې شوي دلیل هیڅ شرعي حیثیت نشته-

د حضور اکرم ﷺ واضح ارشاد دی چه: لن یفلح قوم ولوا امرهم نسائهم (او کما قال علیه السلام)

"یعنې هغه قوم هیڅکله کامیابي نه ده پیدا کړې چه اختیار او د اقتدار نظام ئې ښځو ته سپارلی دی"-

په حکمت او د حکم په علت کښې فــــرق

بیا علامه رضي صاحب د سورت بقرې تر دې آیت چه: فَاِنْ لَّمْ یَکُوْنَا رَجُلَیْنِ فَرَجُلٌ وَّ امْرَاَتَانِ وروسته دا ارشاد چه: اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰیهُمَا فَتُذَکِّرَ اِحْدٰیهُمَا الْاُخْرٰی (که چیرته له یوې ښځې څخه هیره شي نو بله دې ور په زړه کړي) حکم لره علت وباله- نو زه پوهیږم چه علامه صاحب په دې باره کښې خطاء شوی دی- او حال دا چه اصلي خبره دا ده چه یو علت وي او یو حکمت- الله تعالی دلته د ور په زړه کولو خبره د علت په توګه نه ده بیان کړې بلکه د حکمت په توګه ئې بیان کړې ده- علت خو د الله تعالی حکم وي چه دا شی ځکه لازمي دی چه الله تعالی هغه لره قانون ګرځولی دی- اوس که چیرته تاسو د کوم قانون حکمتونه بیانوی نو له دې حکمت سره هغه شی وابسته او تړلی نه وي- او که حکمت بیان شوی وي نو بهتر نه دی- نو بیا به هم هغه حکم وي- الله تعالی د روژې په باره کښې فرمایلي دي چه: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ کَمَا کُتِبَ عَلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ☆

چه له روژې څخه تقوٰی حاصلیږي نو د روژې د فرضیت لپاره تقوٰی علت نه دی- دا حکمت دی چه ښایي چه په تاسو کښې تقوٰی پیدا شي-

د لمانځه په باره کښې ئې فرمایلي دي چه: اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْکَرِ (الآیة) (لمونځ له بدیو او فحاشیو څخه منع کوي) نو دا د ده حکمت دی علت نه دی- نو که چیرته یو سړی کبیره ګناه کوي آیا هغه ته به ویل کیږي چه تاسو لمونځ مه کوی ځکه چه علت نه حاصلیږي- او یا که چیرته په چا کښې تقوٰی راغلې وي نو لمونځ دې پریږدي ځکه چه مقصد حاصل شوی دی اوس دې لمانځه ته څه ضرورت دی؟

په یوه سړي کښې تقوٰی نشته نو هغه ته دا نه شي ویل کیدلی چه ته روژه مه نیسه- نو الله تعالی د حکمت په توګه داسې ویلي دي- او علامه آلوسي صاحبؒ پخپل تفسیر روح المعاني دوهم جلد کښې همدا دول رنګا اچولې ده او ټولو مفسرینو دې ته حکمت ویلي دي- (دلته مولانا صاحب له کتاب څخه اقتباس ور واوراوه) نو دا حکمت الله تعالی د یوه مصلحت لاندې بیان کړی دی- دا د الله تعالی رحمت دی- که چیرته ئې بیان کړی هم نه وای نو له حکمت نه پرته به هم مسلمان د الله تعالی د حکم پابند وای-

په هر حال دا ګذارشات ضمناً راغلل او زما د لسو دقیقو اهمه برخه د دې نذر شوه- اوس به په اصل موضوع باندې څه کوو؟ علامه رضي صاحب د الله په فضل سره ډیر وسیع الظرفه انسان دی- زمونږ پخپل منځ کښې خبرې اترې کیږي- د خلاص زړه انسان دی- لیکن زما لپاره دا ضروري وو چه د اهل سنتو د مسلك له مخې مې د هغه بروخت تردید کړی وای- هغه د خپل مسلك وضاحت چه په کوم ډول غواړي کولی ئې شي په هغه باندې هیڅ پابندي نشته- دا که د هغه خپل اجتهاد وي خو وي دې، لیکن مسلك نه دی-

جناب چیرمین صاحب: دلته ښځو ته بار بار د دې مسئلې د ورښوولو کوشش شوی دی۔ او که چېرته مونږ د فرائضو او حقوقو لحاظ وکړو نو بیا هیڅ اختلاف باقي نه پاتې کیږي۔

شهادت فرض دی، حق نه دی

الله تعالی ځینې شیان زمونږ لپاره فرض ګرځولي دي مثلاً په عباداتو کښې لمونځ، روژه، زکات، حج او همدا رنګه شهادت هم یو فرض دی کوم چه د فقهې مسئله ده او ټولو فقهاوو او علماوو د ابواب الشهادت په کتابونو کښې د هغه تصریح کړې ده۔ دا له ما سره د فقه معتبر ترین کتاب هدایه دی۔ د دې په شروع کښې دي چه الشهادة فرض...... الخ (شهادت یو فرض دی) کوم چه د الله تعالی له خوا په بندګانو باندې عائد شوی دی۔ دا حق نه دی چه چا ته ئې ورکړی دی او چا ته ئې نه دی ورکړی۔ او دا اختیار الله تعالی ته حاصل دی چه په چا باندې کوم عبادت لازموي او په چا ئې نه لازموي۔ نو الله تعالی د ښځو په نازکې ذمه وارۍ او خِلقي کمزوریو په وجه هغوی ته په ټولو عبادتونو کښې رعایت هم ورکړی دی۔

په فـــــرائضو او احکامو کښې له ښځو سره رعایت

دا د شهادت په مسئله باندې هم که چېرته غور وکړی نو په دې کښې د ښځو لپاره رعایت دی مثلاً لمونځ فرض دی حق نه دی۔ اوس د لمانځه لپاره هم دا ویل شوي دي چه په میاشت کښې لس ورځې تاسو ته د عذر له وجهې رخصت دی۔ چه کله له حضور اکرم ﷺ څخه د ښځو د دین د نقصان په باره کښې پوښتنه وشوه نو حضور ﷺ دا خبره د دلیل په توګه وړاندې کړه۔ همدا ډول روژه یوه فریضه ده۔ خدای پاک په روژه کښې هم د دوی رعایت کړی دی چه په کومو ورځو کښې هغوی ته عذر وي په هغو ورځو کښې دې لس ورځې روژه نه نیسي۔ سختې د ګرمۍ ورځې وي نو هغوی ته د روژې د نه درلودلو رخصت دی۔ وروسته به ئې را ګرځوي۔ همدا ډول د حج مسئله ده په هر سړي باندې پابندي ده چه که چېرته قدرت ولري نو خامخا دې حج ته لاړ شي مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْهِ سَبِیْلاً (الآیة) د هغوی که ملګري وي او که نه وي نو خامخا به ځي اګر که په زرګونو خطرات دوی ته په لارې کښې هم وي لیکن د ښځو لپاره دا ویل شوي دي چه که چېرته ددوی ساتونکی محرم سړی وي نو بیا به په دوی باندې حج فرض وي او که نه وو نو نه به وي۔ نو دا څومره لوی رعایت شو او زکات او عشر کښې زما په خیال د دوی سره رعایت شوی دی۔ مثلاً په سلو کښې دوه نیمې روپۍ په سړو باندې هم دي او په ښځو باندې هم۔ لیکن زه دا وایم چه که چېرته له هغوی سره رعایت نه وای نو په ښځو باندې باید چه پنځه په سلو کښې وای ځکه چه په سړو باندې خدای پاک نورې خارجي ذمه وارۍ او د کور ټول اخراجات اړولي دي۔ د ښځو نان او نفقه او استوګنې ټول مصارف د سړي په ذمه دي۔ که چېرته له سړي سره زر روپۍ دي نو په هغه باندې دوه ګوني او څلور ګوني ذمه وارۍ هم عائد شوي دي۔ د دې

برعکس که چېرته له ښځو سره زر روپۍ وي نو نور هیڅ ذمه واري پرې نشته۔ نه د سړي د کفالت فکر ورسره وي او نه د بچیانو د ساتلو ذمه واري۔ او د هغوی خپل مصارف هم په سړو باندې دي۔ د کور د مزدورانو مصارف هم په سړو باندې دي۔ نو بیا په کار وای چه په دوی باندې زکات په سلو کښې پنځه وای لیکن خدای پاک په دې کښې هم دوی ته دا اسې رعایت ورکړی دی چه په هغوی باندې هم د سړیو برابر دوه نیم فیصده یعنې په سلو کښې دوه نیمې روپۍ زکات فرض دی۔

کوم غیر مکلف ئې په نصوصو کښې مخاطب نه دی ګرځولي

اوس مخکښې خبره د شهادت راځي او ویل کیږي چه کله الله تعالی د شهادت د ادا کولو حکم ورکړی دی نو ښځې په دې کښې له شهادت څخه ولې بندې شوي دي؟ نو عرض دا دی چه د شهادت په باره کښې چه کله الله تعالی دوی مکلفې نه دي ګرځولي او د شهادت آیتونه هم دوی ته متوجه نه دي۔ هغوی ته مثلاً د وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ حکم دی نو اوس که چېرته یو سړی نابالغ وي هغوی ته اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ متوجه هم نه دی۔ چه مسلمان نه وي هغه ته هم متوجه نه دی که نر وي او که ښځه۔ همدا رنګه د اٰتُوا الزَّکٰوةَ آیت دی۔ یو سړی فقیر دی او د نصاب خاوند نه دی نو هغوی که سړي وي او که ښځې دا آیت ورته متوجه نه دی۔ نو الله تعالی چه کله ښځه د دې فریضې مکلفه کړې نه ده نو دا آیتونه چه: (۱) وَلَا یَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَادُعُوْا (الآیة) (۲) وَلَا تَکْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ یَّکْتُمْهَا فَاِنَّهٗ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ۔ (الآیة) (۳) کُوْنُوْا قَوّٰمِیْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰی اَنْفُسِکُمْ۔ (الآیة)

دا ټول آیتونه هغوی ته متوجه هم نه دي چه هغوی ووایي چه مونږ ئې په دغو کښې مخاطب ګرځولي یو۔ نو کله چه یوه طبقه مکلف نه وي ګرځول شوې نو له هغې څخه دا آیتونه مطالبه هم نه کوي۔ او زه دا فکر کوم چه دا تضادات د خدای په کلام کښې څنګه ممکن وو او حال دا چه یوې خوا ته الله تعالی ښځو ته دا فرمایي چه: وَقَرْنَ فِیْ بُیُوْتِکُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِیَّةِ الْاُوْلٰی۔ (الآیة) یعنې په کورونو کښې کښیني او بلې خوا ته الله تعالی دا فرمایي چه: فَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعاً فَاسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَاب۔ (الآیة) یعنې چه کوم شی له هغو څخه غواړی نو د پردې له شا څخه ئې ترې غواړی۔

یوې خوا ته الله تعالی ښځې د کور پابندې ګرځولي دي نو بلې خوا ته به الله تعالی په دوی څرنګه دا فرض کوي چه عدالتونو ته لاړې شي او شهادتونه دې ورکوي۔ د خدای په کلام کښې دا اسې تضاد نه شي کیدلی۔ د دې آیتونو ټول مضمون دا دی چه هغوی دې په کورونو کښې کښیني یعنې هغوی ته ئې د پردې حکم ورکړی دی او بلې خوا ته د شهادت هغه ټول آیتونه وړاندې کوي چه الله تعالی هغو ته حکم ورکړی دی چه په عدالتونو کښې ګرځي۔ نو دا کوم انساني قانون او انساني قانون دان (Lawyer) خو نه دی-----؟ د الله تعالی په کلام کښې هیڅ ډول تضاد نشته۔ نو د اسې ټولو آیتونو مخاطب الله تعالی سړي ګرځولي دي نه ښځې۔

جناب چیرمین: مولانا صاحب تشریف کښیږدی ستاسو وخت ختم شوی دی۔

كتاب
القسمة والاكراه

کتاب القسمة و الاکراه

(د جائداد د تقسیم احکام او مسئلې)

د یوه شریك په غوښتنه د جائداد د دوباره تقسیمولو حکم

سوال: څو کسه وارثانو د پلار په جائداد کښې په شریکه حق سره لري د هغوی رأیه دا ده چه د ټول جائداد تقسیم ته ضرورت نشته۔ د دې جائداد یوائې منافع به سره تقسیموو لیکن اوس یو وارث اصرار کوي چه زما حصه بیله کړی ځکه چه زه په مشترکه توګه له جائداد څخه د منافع د اخیستلو طرفدار نه یم۔ آیا د دغه وارث په غوښتنه جائداد تقسیمدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د مورث له وفات نه وروسته په متروکه جائداد کښې د وارثانو د متقدمه حقوقو له اداکولو نه وروسته هر یو وارث د خپلې حصې د استحقاق پیدا کیږي۔ په داسې حالاتو کښې کله چه په تقسیم سره د متروکه جائداد منافع له منځه نه ځي نو هر وارث له خپلې حصې څخه استفاده کولی شي۔ لهذا د یوه شریك په غوښتنه به هم عمل کیږي او جائداد به تقسیمیږي۔

لما قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: و سببها طلب الشرکاء او بعضهم الانتفاع بملکه علی وجه الخلوص و قال شرطها عدم فوت المنفعة با لقسمة. و قال ابن عابدینؒ تحت قوله المنفعة ای المعهودة و هی ما کانت قبل القسمة. (رد المحتار ج۵، ص۱۷۸، کتاب القسمة)

قال العلامة اکمل الدین البابرتیؒ: سببها طلب احد الشرکاء الانتفاع بنصیبه علی الخلوص و رکنها ما یحصل به الافراز و التمیز النصیبین و شرطها ان لا تفوت منفعة با لقسمة. (العنایة علی هامش فتح القدیر ج۸، ص۳٤۸، کتاب القسمة) و مثله فی الهندیة ج۵، ص۲۱٤، الباب الثالث فی بیان ما یقسم و ما لا یقسم و ما یجوز من ذٰلك و ما لا یجوز.

د نابالغ د حصې د تقسیم حکم

سوال: څو کسو وارثانو د مشترکه جائداد د ویشلو غوښتنه وکړه په هغوی کښې یو شریك نابالغ وو۔ د وخت حاکم د نابالغ له خوا څخه په نمائندګي سره د نورو شریکانو په غوښتنه د هغه جائداد هم تقسیم کړ۔ شرکاوو د خپلې خپلې حصې په جائداد باندې له ډیر وخت راهیسې تصرف کاوه لیکن اوس نابالغ هلك له بلوغ نه وروسته دوباره د تقسیم غوښتنه کوي۔ نو آیا د ده په غوښتنه به تقسیم دوباره کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وارثان د یوه نابالغ وارث په حصه کښې د تقسیم حق نه لري او نه نابالغ یو څوك خپل وکیل ټاکلی شي۔ بیا هم که چېرته د وخت حاکم د نابالغ نمائندګي کړې وي او له وارثانو سره ئې جائداد تقسیم کړی وي نو داسې تقسیم بیا نافذ دی او ماتول ئې جائز نه دي۔ د وخت حاکم د نابالغ له خوا څخه نمائنده ګڼل کیږي۔

لما قال العلامة التمرتاشیؒ: و صحت برضاء الشرکاء الا اذا کان فیهم صغیر لا نائب عنه. و قال العلامة الحصکفیؒ: بعد هٰذا القول او غائب لا وکیل عنه لعدم لزومها حینئذٍ الا باجازة القاضی او الغائب او الصبی اذا بلغ. (تنویر الابصار و الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۱۸۰، کتاب القسمة)

قال العلامة فخر الدین الشهیر بقاضی خانؒ: اذا اقسم الورثة الترکة فیما بینهم بغیر امرالقاضی و فی الورثة صغیر او غائب او شریك المیت لا تصح القسمة الا باجازة الغائب او ولی الصغیر او باجازة الصبیؒ بعد البلوغ او باجازة القاضی قبل البلوغ. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۱۵٦، کتاب القسمة) و مثله فی فتح القدیر ج۸، ص۳۵۱، کتاب القسمة.

د یوه شــریك په غیاب کښې د جائداد د تقسیمولو حکم

سوال: له څو وارثانو څخه یو وارث له ډیر وخت څخه غائب دی۔ اوس که چېرته حاضر وارثان د مورث د جائداد ویشل وغواړي نو د غائب وارث د حصې تقسیم به څنګه کیږي؟ او حال دا چه حاضرو وارثانو ته د جائداد د تقسیم نه پرته نقصان رسیږي او تر غائب شریك پورې د رسیدنې څه قابل عمل ذریعه هم نشته؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته تر غائب وارثه پورې رسیدل ممکن وي نو د جائداد د تقسیم لپاره د هغه په ذاتي توګه حاضري ضروري دی او بیا هم که چېرته په ذاتي توګه له حاضري څخه قاصر وي نو څوك دې د ځان له خوا نمائنده وټاکي او که چېرته ئې له حاضریدو څخه بې له کومې وجهې ځان پټاوه نو د حاضرو وارثانو لپاره د وخت له حاکم څخه مدد اخیستل ضروري دي ځکه چه د وخت حاکم د غائب وارث له خوا څخه د نمائندګي حق اداکولی شي۔

لما قال العلامة التمرتاشیؒ: و فیهم صغیر او غائب قسم بینهم و نصب قابض لهما. و قال العلامة الحصکفیؒ تحت قول المذکور نظراً لغائب و الصغیر و لا بد من البینة علی اصل المیراث عندهٗ خلافاً لهما کما مر. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۱۸۲، کتاب القسمة)

قال العلامة قاضی خانؒ: و ذکر الخصاف اذا کان فی الورثة صغیرا و غائب لم یکن فی ید الغائب و لا فی ید ام الصغیر شیء من الترکة بل کان الکل فی ید الحضور الکبار فطلبوا القسمة من القاضی فان القاضی یجعل للصغیر وصیا یقوم با لقسمة و یقبض حقه و یجعل للغائب و کیلا و یأمرهم با لقسمة. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۱۵٦، فصل فی قسمة الوصی و الاب)

د قرعه اندازۍ نه پرته د جائداد د تقسیمولو حکم

سوال: د ځمکې یوه پراخه رقبه د یوه قوم مشترك جائداد وو۔ د قوم مشرانو پخپلو کښې په رضا او رغبت سره دا ځمکه تقسیم کړه۔ لیکن قرعه اندازي ئې سره و نه کړه۔ له شرکاوو څخه ځینې د خپلې حصې ځمکې آبادي هم کړې او د ځینو لاتر اوسه غیر آباده پرته ده۔ اوس سوال دا دی چه آیا له قرعه اندازي څخه پرته تقسیم جائز دی او که دوباره به ئې سره تقسیموي؟ بینوا توجروا۔

الجوا باسم ملهم الصواب: د تقسیم لپاره قرعه اندازي یوائې صحیح ترین صورت دی او د شرط درجه نه لري۔ لهذا په صورت مسئوله کښې که چېرته قوم په منظم ډول خپلو مشرانو ته د

تقسیم اجازه ورکړې وي نو دا تقسیم نافذ دی۔ هر برخه لرونکی دې پخپلو خپلو برخو باندې قائم دريږي او د دوباره تقسيم ضرورت نشته۔

لما قال العلامة المرغينانىؒ: و القرعة لتطيب القلوب و ازاحة تهمة الميل حتى لو عين لكل منهم نصيباً من غير اقتراع جاز لانهٗ فى معنه القضاء فيملك الالزام. (الهداية ج٤، ص٤١٦، كتاب القسمة، فصل فى كيفية القسمة)

و قال العلامة ابن عابدينؒ: (تحت قوله لتطيب القلوب اشار الى ان القرعة غير واجبة حتى ان القاضى لو عين لكل واحد نصيباً من غير اقراع جاز لانهٗ فى معنى القضاء فملك لالزام. (رد المحتار ج٥، ص١٨٤، كتاب القسمة) و مثله فى البحر الرائق ج٨، ص١٥٢، كتاب القسمة.

د غبن په صورت کښې د جائداد دوباره تقسیم حکم

سوال: د څو شریکانو په منځ کښې یو مشترك جائداد تقسیم شو۔ هر یوه شریك پخپلو خپلو حصو باندې تر ډیره وخته پورې مالکانه تصرفات کاوه۔ اوس شریکان د دې اندیښنې اظهار کوي چه د تقسیم په وخت کښې له احتیاط څخه کار نه دی اخیستل شوی چه له وجهې ئې د شرکاوو د قبضې لاندې په جائداد کښې فرق او تفاوت دی۔ اوس پوښتنه دا ده چه آیا دا تقسیم به دوباره کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې کله چه یو ځل د شریکانو تر منځ په رضا او رغبت سره جائداد تقسیم شوی وي او له تقسیم نه وروسته هر یوه پخپلو خپلو حصو باندې مالکانه تصرفات شروع کړي وي نو اوس د معمولي شبهاتو له وجهې د مخکښیني تقسیم پریښودل او دوباره تقسیم بې فائدې سعی ده۔ بیا هم که چېرته غبن فاحش شوی وي نو د شریکانو په غوښتنه به مخکښینی تقسیم کالعدم ګرځي او دوباره به له سره تقسیم کیږي۔

لما قال العلامة التمرتاشىؒ: و لو ظهر غبن فاحش فى القسمة بطلت و لو وقعت با لتراضى فى الاصح. (تنوير الابصار على هامش رد المحتار ج٥، ص١٨٧، كتاب القسمة)

و قال العلامة المرغينانىؒ: و لو اختلفا فى التقويم لم يلتفت اليه لانهٗ دعوى الغبن و لا معتبر به فى البيع فكذا فى القسمة لوجود التراضى الا اذا كانت القسمة بقضاء القاضى او الغبن الفاحش لان تصرفه مقيد با لعدل. (الهداية ج٤، ص٤٢٠، كتاب القسمة) و مثله فى البحر الرائق ج٨، ص١٥٦، كتاب القسمة.

د غلطۍ په صورت کښې د تقسیم اعاده

سوال: یو مشترك جائداد ئې سره تقسیم شو او تصرفات ئې پرې وکړل۔ وروسته معلومه شوه چه په تقسیم کښې غلطي شوې ده نو آیا د دې غلطۍ د ازالې لپاره دوباره تقسیم کیدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په تقسیم کښې غلطي ښکاره او مسلمه (منل شوې) وي او د تقسیم له ماتولو نه پرته د غلطۍ او خطایی ازاله ممکنه نه وي نو د داسې غلطۍ د ازالې لپاره دوباره تقسیم کیدلی شي۔

لما قال العلامة الكاسانىؒ: و اما صفات القسمة فانواع منها ان تكون القسمة عادلة غير جائزة الى ان قال فاذا وقعت جائزة لم يوجد التراضى و لا افراز نصيبه بكماله لبقاء الشركة فى البعض فلم تجز و تعاد و على هذا اذا ظهر الغلط

فى القسمة المبادلة با لبينة او با لاقرار تستأنف لانهٗ ظهر انهٗ لم يستوف حقهٗ فظهر ان معنى القسمة لم يتحقق بكماله. (بدائع الصنائع ج٧، ص٢٦، فصل فى صفات القسمة، كتاب القسمة)

و فى الهندية: عن محمد قاسم قسم دار بين رجلين اعطى احدهما اكثر من الآخر غلطاً و بنى احدهما فى نصيبه قال محمدؒ يستقبلون القسمة فمن وقع بنائه فى قسم غيره رفع بنائه و لا يرجعان على القاسم بقيمة البناء و لكنّهما يرجعان عليه با لاجر الذى اخذه كذا فى الظهيرة. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٢٢٨، الباب الحادى عشر فى دعوى الغلط فى القسمة) و مثله فى خلاصة الفتاوى ج٢، ص٤١٠، كتاب القسمة.

د مشترکو منافعو د تقسیم حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! مونږ دوه ورونه په مشترکه توګه یو مارکیټ جوړ کړی دی او بیا مو په کرایه باندې ورکړی دی۔ اوس آیا مونږ دغه کرایه هره میاشت د خپلې حصې په اندازه پخپل منځ کښې سره وویشو او که د یوې میاشتې کرایه زه واخلم او د یوې میاشتې کرایه هغه واخلي۔ په دغو دواړو کښې کوم صورت جائز دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه عین مال مشترك دی همدا ډول منافع ئې هم مشترك دي۔ دا منافع به هم د خپلې برخې په اندازه تقسیمیږي۔ په صورت مسئوله کښې د کرایې تقسیم د شریکانو په صوابدید باندې وي چه هغوی کوم ډول غواړي کولی ئې شي۔ که غواړي د هرې میاشتې کرایه برابره سره تقسیموي او یا د یوې میاشتې کرایه یو ورور اخلي او د یوې میاشتې کرایه بل ورور اخلي، دواړه صورتونه جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: (تحت قوله كذٰلك) اى يأخذ هٰذا شهرا و الآخر شهرا او يأخذ هٰذا غلّة هٰذه و الأخر غلة الاخرٰى. (رد المحتار ج٦، ص٢٦٩، كتاب القسمة، مطلب فى الرجوع عن القرعة)

د یوه فریق په نه شتون کښې د جائداد د تقسیمولو حکم

سوال: دوه ورونه یو محمد حنیف او بل محمد صدیق څه زمکه په مشترکه توګه سره واخیسته چه په هغې کښې ۹۰۰۰ روپۍ د محمد صدیق وې او درې زره روپۍ د محمد حنیف وې۔ یعنې د دولسو زرو روپو ۲٤ کناله زمکه ئې له نن څخه تقریباً ۳۲ کاله مخکښې په ګډه اخیستې وه۔ او دا زمکه د دواړو ورونو نومونو ته انتقال شوې هم وه۔ او تر ډیره وخته پورې دا زمکه د دواړو ورونو د پلار په تصرف کښې وه۔ د والد صاحب له وفات نه وروسته له دیارلسو کالو څخه تر ننه پورې نوموړې زمکه د محمد صدیق په قبضه او تصرف کښې ده۔ د زمکې د انتقال په وخت کښې مشر ورور ئې محمد حنیف ټول اندراجات د محمد صدیق څخه پټ ساتلي وو۔

له نن څخه ۱۳ کاله مخکښې والد صاحب ئې وفات شوی دی۔ د وفات په دریمه ورځ مشر ورور محمد حنیف د تقسیم خبره وکړه او محمد صدیق ئې د تقسیم مخالفت وکړ او وئې ویل چه د پلار د څلوېښتمې نه وروسته د زمکې ټول معاملات سره فیصله کوو او زمکه به تقسیموو۔ له دې نه وروسته د محمد صدیق په موجود والي کښې تر پنځه ورځو پورې محمد

حنیف بیا د زمکې د تقسیم خبره و نه کړه۔ نو محمد صدیق په کوم کار پسې پیښور ته لاړ او د هغه په غیر موجودګي کښې محمد حنیف څو کسان را ټول کړل او مذکوره زمکه ئې دولس دولس کناله یعنې نیم په نیمه تقسیم کړه۔ او حال دا چه نه ئې مروجه طریقۀ کار اختیار کړ او نه د هغه د تقسیم نشاند هي او حد بندي وشوه یواځې ژبنی معامله وه چه وشوه۔

د دې واقعې په دوهمه ورځ چه کله محمد صدیق کور ته راغی او د تقسیم په اړه معلومات ورته وشو نو دا تقسیم او طریقۀ کار ئې فراډ او دوکه وباله او مسترد ئې کړ او وئې ویل چه ما د دې زمکې په اخیستلو کښې درې حصې پیسې ورکړې دي۔ لهذا زما حق د دې زمکې په څلورو حصو کښې درې حصې جوړیږي او محمد حنیف د یو پر څلورو حصې قیمت ادا کړی دی۔ لهذا هغه د زمکې په څلورو حصو کښې د یوې حصې حق لري۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه:

﴿١﴾ آیا د زمکې تقسیم په فریقینو کښې د یوه په عدم موجودګي کښې د هغه له رضا پرته کیدی شي؟

﴿٢﴾ آیا یو فریق د خپلې خوښې څو کسان را جمع کولی، ګواهان جوړولی او زمکه تقسیمولی شي په داسې حال کښې چه لیکنه او مروجه طریقه یوه هم نه وي؟

﴿٣﴾ د محمد صدیق دعوٰی د زمکې له څلورو حصو څخه په دریو حصو باندې ده او محمد حنیف د نیمې حصې دعوٰی لري نو آیا د زمکې د اخیستلو په وخت کښې د ورکړ شویو روپو په بنیاد باندې محمد صدیق د دعوې حق لري او که نه؟

﴿٤﴾ آیا له دومره وخت نه وروسته محمد صدیق د دعوې د دائرلو حق لري او که نه د شریعت مقدسه په رڼا کښې ځواب عنایت کړی مهرباني به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: شراکتي کاروبار له ابتداء څخه را روان ی او خلاصون هم ترې نشته۔ لیکن د ټولو شرکاوو لپاره د یوه او بل خیال ساتل فرض دی۔ دا ځکه چه د مشترك مال په هر یو جز کښې ټول شریك وي۔ هیڅ یو حصه لرونکی هم په یقین سره دا نه شي ویلی چه دا زما مال دی۔ او یا مې دومره حصه ده۔ له دې وجهې د تقسیم په وخت کښې د ټولو شریکانو حضور او یا د هغوی اجازه ضروري ده۔ پرته له اجازې څخه او یا د یوه شریك د غیاب په صورت کښې نور شریکان مشترك مال نه شي تقسیمولی۔

لما فی الهندیة: و لو کانوا مشترین لم یقسم مع غیبة احدهم و ان اقامو البینة علی الشراء حتی یحضر الغائب. (الفتاوی الهندیة ج٥، ص ٢١٠، الباب الثالث فی بیان ما یقسم و ما لا یقسم)

همدا ډول په شرح مجله کښې دي چه: قسمة الفضولی موقوفة علی الاجازة قولاً و فعلاً فاذا قسم واحد المال المشترك بنفسه لا تکون القسمة جائزة و لکن اذا اجاز اصحابه قولا. (شرح المجلة لرستم باز ص٦٢٣، الفصل الثانی فی شرائط القسمة)

په فتاوٰی حامدیه کښې لیکلي دي چه: اذا قسم الورثة الترکة بینهم بغیر امر القاضی و فی الورثة

صغیراً و غائب او شریك للمیّت لا تصح الا باجازة الغائب او ولی الصغیر او اجازة الصبی بعد البلوغ. (بحوالۀ شرح المجلة لرستم باز ص ٦٢٤، الفصل الثانی فی شرائط القسمة)

صاحبِ درر الحکام هم دا ډول تقسیم د لا تجوز القسمة و لا تنفذ په عنوان سره ذکر کړی دی۔ چه دا قسم تقسیم جائز نه دی۔ لهذا په صورت مسئوله کښې چه کوم تقسیم شوی دی هغه کالعدم او نافذ العمل نه دی۔

کوم شیان چه په مشترکه توګه واخیستل شي او ابتداءً د هیڅ ډول معاهدې یعنې د نیمې او یا د ثلث خبره نه وي شوې مګر د رأس المال د اداکولو په وخت کښې د یوه شریك د حصې پیسې زیاتې وې او د بل شریك حصه کمه وي نو بیا به په دې شي کښې حصه داري د رأس المال په اعتبار سره وي۔ د چا پیسې چه زیاتې وي هغه به د زیاتې حصې حق دار وي۔ له دې وجهې اګر که په ژبې سره هغو د حصه داری تعین نه دی کړی لیکن د حال ژبه د دې خبرې ګواهي کوي چه هغوی د پیسو له وجهې حصه داري مقرره کړې ده۔ لهذا په صورت مسئوله کښې د محمد صدیق رأس المال ٩٠٠٠ روپۍ دي چه د ټول رأس المال درې په څلورو برخه جوړوي نو ځکه محمد د ٤/٣ حصې حقدار دی۔ او محمد حنیف د ٤/١ برخې حقدار دی۔ له دې وجهې په دې زمکې کښې د هغه حصه ٤/١ ده اګر که مطلق شراکت د تنصیف صورت اختیاروي۔

نظیره فی درر الحکام: اذا اختلط دینار احد بدینارین لآخر من جنسه بصورة لا تقبل التمیز ثم ضاع اثنان منهما فیکون الدینار الباقی بینهما مشترکا اثلاثا ثلثاه لصاحب الدینارین و ثلثه لصاحب الدینار. (درر الحکام ج٣، ص١٧، المادة، ١٠٦١، الباب الاول فی بیان شرکة الملك)

د چا د حق په اسقاط کښې د ډیرې زمانې تیریدل کوم اثر نه کوي۔ بلکه حق په هیڅ صورت کښې او همدارنګه د ډیرې زمانې په تیریدو سره هم نه ساقطیږي۔ له دې وجهې د محمد صدیق استحقاق د دومره وخت له تیریدو وروسته هم برقرار دی او ده ته د دعوې حق حاصل دی۔

لما فی شرح المجلة: لا یسقط الحق بتقاد الزمان. (شرح المجلة لرستم باز المادة ١٦٧٤)

هٰذا ما ظهر لی و اللّٰه اعلم

د مشترکې زمکې د تقسیم مسئلـــــه

سوال: زمونږ څه مشترکه زمکه ده او اوس ئې د تقسیم مسئله ده ځکه چه د دې زمکې تقسیم په فروعو باندې دی او حال دا چه په فروعو کښې ډیر اختلاف دی۔ ځکه چه په آسانی سره په هغوی باندې تقسیم په صحیح توګه نه شي کیدلی۔ لهذا د شریعت مقدسه په رڼا کښې د دې زمکې د تقسیم طریقه مطلوبه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: زما په نزد دا مشترکه زمکه په اصل کښې په مالکانو باندې د ارث د قاعدې مطابق تقسیمول په کار دي۔ او بیا د اصل مالکانو څخه د هغوی فروعو ته د میراث د ضابطې مطابق منتقل کیږي۔ اګر که فروع په قلت او کثرت کښې سره مختلف وي۔

Maktaba Tuhfshaat.com

کتاب الاکراه

(د مجبورۍ احکام او مسئلې)

د رعایاوو په یو شي باندې د حکومت لخوا جبراً د قبضې حکم

سوال: یوه سړي له نن څخه پنځه کاله مخکښې لس کناله زمکه په یو لک روپو باندې په قطعي بیع واخیسته چه ثبوت ئې د حکومت په متعلقه دفتر کښې پروت دی. نوموړي په مذکوره زمکه کښې د چرګو فارم خلاص کړ وروسته بیا حکومت غوښت چه دا زمکه د لسو زرو روپو په عوض واخلي. لیکن د زمکې مالك انکار وکړ. حکومت جبراً په دې زمکې باندې قبضه وکړه نو آیا حکومت د چا په ذاتي زمکې باندې داسې قبضه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د حکومت قبضه د یوې معاهدې لاندې نه وي نو د حکومت داسې کول د اکراه په حکم کښې راځي. له دې وجهې بیع المکره نافذ نه وي. لهذا د اکراه د زوال په وخت کښې پخپله د زمکې مالك او یا د هغه وارثان دا زمکه بیرته اخیستلی شي. بیا هم که چېرته حکومت د خپل قرض د وصولولو لپاره دا اقدام وکړي نو په دې کښې بیا د اکراه صورت له منځه ځي.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: امر السلطان اکراه و ان لم یتوعده و امر غیره لا الا ان یعلم المامور بدلالة الحال انه لو لم یتمثل امره یقتله او یقطع یده او یضربه ضرباً یخاف علی نفسه او تلف عضوه. (رد المحتار ج٦، ص١٣٢، مطلب بیع المکره فاسد و زوائده مضمونة با لتعدی)

قال العلامة سلیم رستم باز رحمه الله: لا یعتبر البیع الذی وقع با لاکراه المعتبر و لا الشراء و الایجار و لا الهبة و لا الفراغ و لا الصلح عن مال و الاقرار و الابراء و تاجیل الدین و اسقاط الشفعه ملجئاً کان الاکراه او غیر ملجیء. (شرح مجلة الاحکام مادة ١٠٠٦، ص٥٥٩، الباب الثانی فی بیان المسائل التی یتعلق با لاکراه) و مثله فی الهدایة ج٣، ص١١٣، کتاب الکفالة.

د جبراً نکاح حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! که چېرته یو سړی په زور سره کومه نجلۍ وتښتوي او بیا د توري په زور له هغې سره نکاح وکړي او نجلۍ د ځان د حفاظت لپاره دا نکاح قبوله کړي نو آیا شرعاً دا نکاح صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه په دې قبلولو کښې د ښځې د اختیار هم څه دخل شته ځکه دا نکاح صحیح ده. او دا ښځه د مکره ښځه ګڼل کیږي. اګر که داسې کول شرعاً جائز نه دي.

لما فی الهندیة: المرأة اذا کرهت علی النکاح ففعلت صح النکاح. (الفتاوی الهندیة ج٥، ص٥٣، کتاب الاکراه، الباب الرابع فی المتفرقات)

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو اکره علی عقد من العقود ان کان عقداً لا یبطله الهزل کا لنکاح و الطلاق و العتاق جاز العقد. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٢٠٦، کتاب الاکراه) و مثله فی البحر الرائق ج٨، ص٧٥، کتاب الاکراه.

په جبراً زنا کښې ښځه ګنهګاره نه وي

سوال: جناب مفتي صاحب! که چېرته یو سړی کومې ښځې ته د مرګ اخطار ورکړي او جبراً له هغې سره زنا وکړي او ښځه په دې زنا باندې هیڅکله هم راضي نه وي او تر حتی الامکانه پورې ئې د ځان د حفاظت کوشش هم کړی وي چه له مخې ئې زخمي شوې هم وي. نو آیا دا ښځه به ګنهګاره وي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته له کوشش سره سره ښځې خپل ځان نه شوای ساتلی او نه ئې هغه زاني ته تمکین (ځای) ورکړی وي. لیکن بیا هم جبراً له هغې سره زنا وشوه نو دا ښځه به ګنهګاره نه وي.

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و اما المرأة هل تأثم ذکر شیخ الاسلام ان اکرهت علی ان تمکن نفسها فمکنت تأثم و ان لم تمکن و زنی بها فلا و هٰذا لو بملجئی و الا فعلیه الحد بلا خلاف لا علیها و لکنها تاثم. (رد المحتار ج٦، ص١٣٧، کتاب الاکراه)

لما فی الهندیة: اما المرأة اذا کانت مکرهة علی الزنا هل تأثم ذکر شیخ الاسلام فی شرحه فی باب الاکراه علی الزنا انها ان اکرهت علی ان تمکن من نفسها فمکنت فانها تأثم و ان لم تمکن هی من الزنا و زنی بها لا اثم علیها و ذکر ایضاً فی الاکراه اذا اکرهت علی الزنا فمکنت من نفسها فلا اثم علیها و هٰذا کله اذا کان الاکراه بوعید تلف. (الفتاوی الهندیة ج٥، ص٤٨، کتاب الاکراه، الباب الثانی)

د اکراه په صورت کښې د کفر د کلمې ویل

سوال: که چېرته کوم مسلمان ته څوك د قتل اخطار ورکړي او د کفر د کلمې په ویلو باندې ئې مجبور کړي او هغه د خپل ځان د ژغورنې په خاطر د کفر کلمه په ژبه ووایي او حال دا چه زړه ئې په ایمان باندې مطمئن وي نو آیا دا سړی به کافر ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اکراه په حالت کښې له خولې څخه د کفر د کلمې ایستل په ایمان باندې څه اثر نه کوي خو په دې شرط چه زړه ئې په ایمان باندې مطمئن وي. البته که دا سړی د کفر د کلمې له ویلو څخه انکار وکړي او د دې انکار په وجه قتل شي نو د شهادت درجه به پیدا کوي.

لما قال العلامة الحصکفیؒ: و ان اکره علی الکفر با للّٰه تعالٰی او سبّ النبی ﷺ بقطع او قتل اخص لهٗ ان یظهر ما امر به علی لسانه و قلبه مطمئن با لایمان...... و یوجر لو صبر لترکه الاجراء المحرم. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص١٣٤/١٣٥، کتاب الاکراه)

لما قال العلامة وهبة الزحیلی: التصرف الحسی المرخص با لاکراه هو کاجراء کلمة الکفر علی اللسان مع اطمینان القلب با لایمان او سبّ النبی ﷺ او الصلٰوة الی الصلیب او اتلاف مال المسلم فهٰذه الامور لا تباح و لکن یرخص فعلها عند الاکراه التام و ان امتنع المستکره عن فعلها حتی قتل کان مثاباً ثواب الجهاد. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٥،

ص ۳۹۲، المبحث الثالث اثر الاكراه فی التصرفات) و مثله فی الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۸، الباب الثانی فیما یحل للمكره.

د جبر په حالت کښې د زنـــا حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا د معاشرې حالات په اخلاقي ډول سره ډیر خراب دي۔ عیاشي، فحاشي او بې حیایي عروج ته ختلي دي۔ که چېرته یو سړی په زنا کولو باندې مجبور کړی شي او د نه کولو په صورت کښې د هغه ځاني خطره یقیني وي۔ نو آیا د مجبورۍ په صورت کښې زنا کول ورته جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د زنا حرمت د شریعت او عقل دواړو له مخې ثابت دی۔ په هیڅ صورت کښې ئې هم حرمت نه ساقطیږي۔ اګر که د زنا کوونکي ځان ته خطره هم وي۔ نو له دې وجهې د نومړي صورت په بناء د داسې سړي لپاره زنا کول په هیڅ صورت کښې هم جائز نه دي۔ او که ئې زنا وکړه نو د خدای په نزد به مجرم وي۔

لما قال العلامة الشیخ وهبة الزحیلی: و كذلك الزنا فانهٗ لا یرخص و لا یباح للرجل با لاكراه مطلقاً و لو فعل اثم لان حرمة الزنا ثابتة عقلاً قال الله تعالی: وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّسَآءَ سَبِيْلًا. و كذا المرأة لا یرخص لها ایضاً عند الاكراه و لو كان تاماً. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۳۹۵، المبحث الثالث اثر الاكراه)

لما قال العلامة الحصكفیؒ: و لو اكره علی الزنا لا یرخص لهٗ لان فیه قتل النفس بضیاعها لكنه لا یحد استحساناً. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۱۳۷، كتاب الاكراه)

یو مسلمان د بل مسلمان په قتل باندې د مجبورولو حکم

سوال: که چېرته یو مسلمان په دې خبرې باندې مجبور کړی شي چه فلانی سړی قتل کړه او که نه نو تا به پخپله قتلوم۔ نو اوس که چېرته دا سړی د خپل ځان د حفاظت لپاره یو څوك قتل کړي نو ګنهګار به وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اکراه او جبر په صورت کښې اګر که ځینې افعال مباح یا مرخص ګرځي لیکن د یوه مسلمان په ناحقه قتلول د دې لاندې نه راځي۔ له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د داسې مجبور سړي لپاره هیڅکله هم دا جائز نه دي چه د خپل مرګ د ویرې له وجهې یو بې ګناه مسلمان قتل کړي او که چېرته دا عمل وکړي نو د خدای په نزد به ګنهګار وي۔

لما قال العلامة وهبة الزحیلی: التصرف الحسی الحرام الذی لا یباح و لا یرخص با لاكراه هو قتل المسلم بغیر حق او قطع عضو من اعضائه و لو نملة لان القتل حرام محض. قال الله تعالی وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۳۹۵، المبحث الثالث، اثر الاكراه)

قال العلامة الكاسانیؒ: النوع الذی و لا یرخص با لاكراه اصلاً فهو قتل المسلم بغیر حق سواء كان الاكراه ناقصاً او تاماً لان قتل المسلم بغیر حق لا یحتمل الاباحة بحال. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۷۷، كتاب الاكراه) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۱۳۵، كتاب الاكراه.

د جبر په صورت کښې د شرابو په څښلو باندې حد نشته

سوال: که چېرته یو سړی په زور سره مجبور کړی شي چه شراب وڅښه او هغه ئې وڅښي او بیا ئې حکومت ونیسي نو آیا شرعاً به په دې سړي باندې حد جاري کیږي یعنې هغه ته به شرعي سزا ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اکراه په صورت کښې چه کله په چا باندې شراب وڅښل شي او بیا ئې حکومت ونیسي نو شرعاً له هغه څخه حد ساقطیږي۔

قال العلامة الكاسانیؒ: الحكم الذی یرجع الی الدنیا فی الانواع الثلاثة اما النوع الاوّل فا لمكره علی الشرب لا یجب علیه الحد اذا كان الاكراه تاماً لان الحد زاجراً عن المستقبل. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۷۸، كتاب الاكراه)

لما قال العلامة وهبة الزحیلی: الاكراه علی شرب الخمر اذا كان الاكراه تاماً فلا یجب الحد علی المستكره علی شرب الخمر اتفاقاً لان الحد شرع زاجراً من الجنایة فی المستقبل و الشرب المكره علیه لیس جنایة بل هو مباح. (الفقه الاسلامی و ادلتهٗ ج۵، ص۳۹۵، المبحث الثالث فی اثر الاكراه) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۱۳۳، كتاب الاكراه.

جبراً د زنا په صورت کښې د حد حکم

سوال: که چېرته په یوه سړي باندې جبراً زنا وکړی شي او حکومت ئې ونیسي نو آیا شرعاً په هغه باندې د زنا حد نافذ کیږي او که نه؟ او همدارنګه که له ښځې سره په زوره زنا شي نو بیا ئې حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: زنا په هر حالت کښې حرامه او شرعاً ئې هیڅ اجازه نشته که اکراه وي او که نه وي۔ بیا هم که چېرته د اکراه تام صورت وي یعنې په ریښتیا هم د هغه د مرګ خطر وي نو که ئې وکړي د مفتٰی به قول په بنا حد پرې نه نافذ کیږي که سړی او که ښځه۔ اګر که د ځینو ائمه کرامو په نزد په سړي باندې به په هر صورت کښې حد جاري کیږي۔

لما قال العلامه وهبة الزحیلی: فاذا اكرهت المرأة علی الزنا فلا یقام علیها الحد عند جمهور الفقهاء سواءً كان الاكراه تاماً ام ناقصاً....... فاذا اكره الرجل علی الزنا..... قال الصاحبان: لا یجب الحد حالة الاكراه التام سواءً كان الاكراه من السلطان ام من غیره و رایهما هو الارجح عند الحنفیة و هو رأی ابی حنیفةؒ اخیراً. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۴۰۱، المبحث الثالث، النوع الثالث)

لما فی الهندیة: اذا اكره الرجل علی الزنا بامرأة فزنی بها كان ابو حنیفةؒ اولاً یقول یجب علیه الحد ثم رجع و قال لاحد علیه و هو قولهما....... و اما المرأة فلا حد علیها. ولكنها تاثم. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۴۸، كتاب الاكراه، الباب الثانی) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۱۳۷، كتاب الاكراه.

په مجبورۍ مزنیې باندې د حد زنـــا حکم

سوال: که چېرته کومې ښځې ته اخطار ورکړی شي چه که دې له ما سره زنا و نه کړه نو تا او ستا مور به دواړه قتلوم او بیا هغه د خپل ځان او مال د هلاکت له ویرې د زنا غوندې قبیح عمل ته

ځان ور اندې كړي نو آيا په دې باندې به حد جاري كيږي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اكراه او جبر كه تام وي او كه ناقص وي د ښځې په حق كښې دواړه برابر دي۔ كه چيرته هغې د جبر په هر يوه صورت كښې د زنا ارتكاب وكړي نو د شبهې له وجهې له هغې ښځه د زنا حد ساقط ګرځي۔

لما قال العلامة الكاسانیؒ: و اما فی حق المرأة فلا فرق بين الاكراه التام و الناقص و يدرأ با لحد عنها فی نوعی الاكراه لانه لم يوجد منها فعل الزنا بل الموجود هو التمكين و قد حرج من ان يكون دليل الرضا با لاكراه فيدرأ عنها الحد. (بدائع الصنائع ج۷، ص ۱۸۱، كتاب الاكراه)

لما قال العلامة وهبة الزحيلی: فاذا اكرهت المرأة على الزنا فلا يقام عليها الحد عند جمهور الفقهاء سواء أ كان الاكراه تاما ام ناقصا. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص ٤٠٠، المبحث الثالث فی اثر الاكراه) و مثله فی الهندية ج۵، ص٤٨، كتاب الاكراه، الباب الثانی.

جبراً د هـــــلاك شوي مال د ضمان حكم

سوال: جناب مفتي صاحب! كه چيرته د مجبورۍ په حالت كښې د چا مال هلاك كړی شي نو د هغه مال د تاوان ضامن به څوك وي۔ آيا د جبر او اكراه كوونكی به ئې ضمان وركوي او كه هلاكوونكی به ئې ضامن وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله كښې چونكه د اكراه نوعيت نه دی بيان شوی نو ځكه د دواړو صورتونو ځواب به بيانيږي۔

﴿۱﴾ كه چيرته اكراه يا جبر تام وي يعنې د هلاكوونكي د ځان او يا د هغه د كومې عضوې د ضائع كيدو يقيني خطره وي نو ضمان به په مجبور كوونكي باندې وي ځكه چه د مال هلاكوونكی د آلې غوندې وي۔

﴿۲﴾ كه چيرته جبر يا اكراه ناقص وي يعنې د ځان او يا د كومې عضوې د ضائع كيدو يقيني خطره نه وي نو ضمان به د هلاكوونكي په ذمه وي۔

لما قال العلامة الكاسانیؒ: المكره على اتلاف مال الغير اذا اتلفه يجب الضمان على المكره دون المكره اذا كان الاكراه تاماً لان المتلف هو المكره من حيث المعنى و انما المكره بمنزلة الآلة على معنى انه مسلوب الاختيار........ و ان كان الاكراه ناقصا فا لضمان على المكره لان الاكراه الناقص لا يجعل المكره آلة المكره لانهٗ لا يسلب الاختيار اصلاً فكان الاتلاف من المكره فكان الضمان عليه. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۷۹، كتاب الاكراه)

لما قال العلامة وهبة الزحيلی: فان كان الاكراه تاماً فا لضمان على المكره عن الحنفية و الحنابلة فی الارجح عندهم و بعض الشافعية لان المستكره مسلوب الارادة و ما هو الآلة للمكره و لا ضمان على الآلة اتفاقاً......... و ان كان الاكراه ناقصاً فا لضمان على المستكره عند الحنفية و المالكية الخ. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۳۹۸، كتاب الاكراه، المبحث الثالث)

جبراً د خوړل شوي مال د ضمان حكم

سوال: كه چيرته يو سړی دې ته مجبور كړی شي چه د فلاني سړي مال (غواوې، چرګې او د اسې) به ضرور خورې او كه نه نو ځاني تاوان به در رسول كيږي۔ لهذا د دې مجبورۍ له مخې ئې د بل چا مال د هغه له اجازې پرته وخوړ ځكه چه د نه خوړلو په صورت كښې هغه ته د ځاني تاوان قوي امكان وو۔ اوس چه د كوم سړي مال جبراً خوړل شوی دی له خوړونكي ښځه د خپل د مال تاوان غوښتنه كوي۔ نو آيا شرعا د مال مالك له نوموړي ښځه تاوان اخيستلی شي او كه نه او كه به ئې له جبر كوونكي ښځه غواړي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر كه د جبر په صورت كښې مجبور سړی د آلې حيثيت لري ليكن د چا د مال د خوړلو په صورت كښې د دې سړي خپل فعل هم دخل لري نو ځكه د هغه د مال ضمان د خوړونكي په ذمه واجب الاداء ده۔ او د مال مالك به د خپل مال غوښتنه له ده ښځه كوي۔

لما قال العلامة الكاسانیؒ: كذٰلك لو اكره على ان يأكل مال غيره فا لضمان عليه لان هٰذا النوع من الفعل و هو الاكل مما لا يعمل عليه الاكراه لانه لا يتصور تحصيله بآلة غيره فكان طائعاً عليه فكان الضمان عليه. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۷۹، كتاب الاكراه)

قال العلامة شيخ زاده المشهور بداماد افندی رحمه اللّٰه: و ان اكره على اتلاف مال مسلم لاحدهما ای با لقتل او القطع رخص الاتلاف ای للمكره لان الاتلاف مال الغير يستباح للضرورة كما فی المخمصة و قد ثبت و الضمان على المكره با لكسر لان المكره فی حق الاتلاف آلة للمكره فلم يلزم عليه الضمان و فيه اشارة الی الاحتراز عن الاكل و التكلم و الوطی فان فيها لا يصلح آلة. (مجمع الانهر ج٤، ص٤٤، كتاب الاكراه)

په مجبور مفعول باندې د حد د جـــــاري كولو حكم

سوال: جناب مهتمم صاحب جامعۀ حقانيه! الحمد للّٰه ستاسو د دعاوو او مساعيو په بركت سره په افغانستان كښې اسلامي امارت قائم دی او د شرعي قوانينو اجراء هم شوې ده۔ اوس يوه مسئله مونږ ته پيښه شوې ده او هغه دا چه كه چيرته له يوه چا سره جبراً يعنې د توپك په زخه لواطت وشي او هغوی دواړه د دې قبيح فعل په كولو سره ونيول وشي نو آيا حد به په دواړو جاري كيږي او كه يوازې په جبر كوونكي فاعل باندې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله مطابق مفعول چونكه مجبور محض دی او دا قبيح فعل جبراً ورسره شوی دی نو له دې وجهې سزا به يوازې فاعل ته وركول كيږي۔

لما قال العلامة الحصكفیؒ: ظاهر تعليلهم ان حكم اللواطة كحكم المرأة لعدم الولد فترخص با لملجی الا ان يفرق بكونها اشد حرمة من الزنا لانها لم تبح بطريق ما و لكون قبحها عقلياً. (الدر المختار على صدر در المحتار ج٦، ص۱۳۷، كتاب الاكراه)

قال العلامة محمد بن علی بن محمد الحصنی رحمه اللّٰه: و على هٰذا ظاهر تعليلهم ان حكم اللواطة كحكم المرأة لعدم الولد فترخص با لملجئی الا ان يفرق بكونها اشد حرمة من الزنا لقبحها عقلاً ايضاً. (الدر المنتقی فی ذيل مجمع الانهر ج٤، ص٤٩، كتاب الاكراه)

كتاب البيوع

کتــــاب البیوع

باب شرائط البیع و ارکانه

په اخیستلو او خرڅولو کښې د دواړو خواؤ د رضامندی اعتبار

سوال: د نن صبا د رواجي طریقې مطابق په تللو (د وزن په معلومولو) کښې مختلف آلات او اسباب استعمالیږي۔ د رخت دوکاندار عموما په متر باندې رخت اخلي او په گز باندې ئې خرڅوي کوم چه له متر څخه کم دی او همدارنگه عام دوکاندار په پاخه سېر (کوم چه ۱۰۰ توله دی) باندې شی اخلي او په کلوگرام (کوم چه ۱۵توله دی) ئې خرڅوي او بائع او مشتري دواړه په دې خبر دي۔ د دې باوجود پخپل منځ کښې په رضا او رغبت سره معامله پرمخ بیایي۔ آیا دا ډول تول په نوموړي طریقې سره د شریعت له مخې جواز لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مشتري (اخیستونکي) څخه د تللو د حقیقت پټ ساتل په دوکه او فریب کښې راځي او دا ناجائز دي لیکن که چېرته د خرڅوونکي او اخیستونکي په رضا او رغبت سره معامله طی شي نو شرعا په دې کښې څه حرج نشته۔

کما قال الله تبارك و تعالي: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لاَ تَاكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِا لْبَاطِلِ اِلاَّ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلاَ تَقْتُلُوْا اَنْفُسَكُمْ اِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا☆ (سورة النساء، آیت ۱)

و قال العلامة الكاسانی: اذا وجدت الاجازة من المالك فی الانتهاء و بین وجود الرضاء فی التجارة عند العقد او بعده فیجب العمل باطلاقها. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۴۹، کتاب البیوع وما الذی یرجع التی) و مثله فی تبیین الحقائق (ج۴، ص۳ کتاب البیوع)

د مکـــــره (په چا باندې چه زور شوی وي) بیع صحیح نه ده

سوال: یوه سړي خپل یوه خپلوان ته د قتل اخطار ورکړ او په جبر و اکراه سره ئې تریکټر پرې واخیست او حال دا چه هغه په دې عقد باندې بالکل راضي نه ده نو آیا د شریعت له مخې دا بیع صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق و الصواب: شریعت مطهره په اخیستلو او خرڅولو کښې د بائع او مشتري رضاء او طیب نفس ضروري گرځولی دی۔ لهٰذا که چېرته په کوم عقد کښې د خرڅوونکي رضاء موجود نه وي او په جبر و اکراه سره ئې مجبور کړی وي او عقد شوی وي نو دا بیع صحیح نه ده۔

لما قال العلامة الكاسانی رحمه الله و منها الرضاء فلا یصح بیع المكره اذا باع مكرها و سلم مكرها لعدم الرضاء. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۷۶، کتاب البیوع، فصل و اما شرائط الصحة فانواع)

و قال النبیﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفسه منه. (مشكوٰة المصابیح ج۱، ص۲۷۵، کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة). و مثله فی رد المحتار (ج۴، ص۵۰۳، کتاب البیوع، مطلب فی بیع المكره و الموقوف)

د نابالغ په اخیستلو او خرڅولو کښې د اذن عـــــرفي اعتبار

سوال: په کلیو کښې په بعضې وختونو کښې وړوکي بچیان په دوکان کښې کښیني او د خوړلو او چښلو شیان پلوري او اخیستونکو ته معلوم نه وي چه د بچیانو پلرونه یا سرپرست په دې باندې راضي دي او که نه؟ او حال دا چه د بچیانو والدین هغوی د اخیستلو او خرڅولو څخه نه منع کوي۔ نو آیا د داسې بچیانو څخه د شیانو اخیستل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم بچیان چه د نفع او نقصان تمیز کولی شي نو د پلار په اذن سره د هغوی بیع او شراء شرعا نافذه وي او اذن صراحتاً او دلالتاً دواړه صحیح دي۔ پس د بچیانو د والدینو په خاموشي سره او د تجارت څخه نه منع کول هم په اذن او اجازه کښې داخل دي۔ له دې وجهې له هغو سره سودا کول مرخص دي۔

لما قال العلامة المرغینانی: ثم الاذن كما یثبت با لصریح یثبت با لدلالة كما اذا رأی عبده یبیع و یشتری فسكت یصیر ماذونا عندنا. (الهدایة ج۳، ص۲۶۲، کتاب الماذون) و قال فی الهندیة: اذا اذن لصبی یعقل البیع و الشراء یجوز یرید به انه یعقل معنی البیع و الشراء بان عرف ان البیع سالب للملك و الشراء جالب عرف الغبن الیسیر من الفاحش لا نفس العبارة كذا فی الصغریٰ. (الفتاویٰ الهندیة ج۵، ص۱۱۰، الباب الثانی عشر فی الصبی او المعتوه الخ) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۸۷، کتاب الماذون)

د مجنون (لیوني) اخیستل او خرڅول

سوال: د یوه سړي دماغي توازن صحیح نه دی یعنې لیونی او مجنون دی۔ آیا د شریعت له مخې د دغه سړي بیع او شراء جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مطهره د بیع او شراء د صحت او انعقاد لپاره د نورو شرائطو سره سره د عقل صحیح والی یعنې د عقل صحت ئې هم ضروري شرط گرځولی دی او چونکه لیونی او مجنون شخص د ښه او بد، گټه او تاوان تر منځ توپیر نه شي کولی نو ځکه د مجنون او لیوني بیع به منعقده نه وي۔

لما قال العلامة الكاسانی رحمه الله: و اما شرائطها فمنها ان یكون حرا فلا تثبت ولایة العبد و منها ان یكون عاقلا فلا تثبت ولایة المجنون. (بدائع الصنائع ج۳، ص۱۵۳) کتاب البیوع، فصل و اما شرائطها فانواع الخ)

و قال العلامة ابن عابدین: فشرائطها العاقد اثنان العقل و العدد فلا ینعقد بیع مجنون و صبی لا یعقل. (رد المحتار ج۴، ص۵۰۴، کتاب البیوع، فصل مطلب شرائط البیع انواع اربعة) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۲، کتاب البیوع، الباب الاول فی تعریف البیع الخ)

د نرخ له تعین څخه مخکښې په مبیعه کښې تصـــرف کول

سوال: د مونږ په علاقه کښې دهقانان د پنبې (مالو) د فصل د تیاریدو په وخت کښې پنبه کارخانې ته لیږي او د کارخانې خاوند مال تلي او استعمالوي ئې او دهقانان بیا وروسته له څه

وخت نه کارخانې ته ځي او د نرخ فیصله ورسره کوي آیا د تجارت دا طریقه صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د کارخانې والا هغه لیږل شوی مال وصول کړي او د امانت په توګه ئې له خپل ځان سره کښېږدي او یا په باقاعده توګه سره نرخ ورته مقرر کړي او د روپۍ یعنې د قیمت د ادا کولو تاریخ ورته وټاکي او بیا هغه پخپل استعمال کښې راولي نو په دې صورت کښې شرعا څه جرم او فساد نشته۔ لېکن که چېرته د قیمت د ټاکلو څخه مخکښې د کارخانې مالکان هغه پنبه استعمال کړي او د استعمال څخه وروسته نرخ یعنې قیمت ورته وټاکي نو دغه بیعه فاسده ده۔ د دې مال د استعمال څخه مخکښې ئې قیمت ټاکل لازمي دي۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: منها ان یکون المبیع معلوما و ثمنه معلوما علما یمنع من المنازعة. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۵۶، کتاب البیوع، فصل و اما شرائط الصحة فانواع) و قال فی الهندیة و منها ان یکون المبیع معلوما و الثمن معلوما علما لیمنع من المنازعة. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص۳، کتاب البیوع، الباب الاول فی تعریف البیع) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۵۰۵، کتاب البیوع، مطلب شرائط البیع)

د مسروقه (غلا شوی) مـــال د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: یوه سړي د چا څخه څه مال واخیست د عقد کولو څخه وروسته هغه ته معلومه شوه چه دا مال د غلا دی نو اوس اخیستل شوی مال شرعا څه حکم لري۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مقدسه کښې د دې خبرې تصریح شوې ده چه د غلا مال اصل مالك ته بیرته ورکول واجب دي۔ د کوم شي متعلق چه په قرائنو سره غالب ګمان داوي چه دا مال د غلا دی نو د داسې مال د اخیستلو نه دې لرې ګرځي او که چېرته ئې په خطائي او غلطۍ سره اخیستی وي او وروسته ئې حقیقت ورته واضح شي نو هغه دې د هغه اصل مالك ته واپس کړي او اخیستونکي ته د خرڅوونکي څخه د خپلې روپۍ د مطالبې حق شته۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: لو ظهر غیر حلال ای مسروقا او مغصوبا یرجع علیه المشتری. (رد المحتار ج۴، ص۱۰۶، کتاب البیوع)

قال الملك العلماء العلامة الکاسانی رحمة اللّٰه: و لو باع السارق المسروق من انسان او ملکه منه بوجه من الوجوه فان کان قائما فلصاحبه ان یأخذه لانه عین ملکه و للماخوذ منه ان یرجع بالضمان علی السارق. (بدائع الصنائع ج۵، ص۸۵، کتاب البیوع) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۶۸، کتاب البیوع، باب خیار العیب)

د یوه شي د اخیستلو لپاره پیشکي روپۍ ورکول

سوال: محترم مفتي صاحب زه د یوه ټیکسي موټر خرڅوونکی یم او د ټیکسي موټرونو کاروبار کوم اول له اخیستونکي څخه روپۍ وصولوم او بیا ورته نوې ټیکسي له کمپنۍ څخه راباسم او اخیستونکي ته ئې حواله کوم۔ نو که چېرته د اخیستونکي خوښ شي نو اخلي ئې او که ئې خوښ نه شي نو خپلې روپۍ واپس اخلي او عقد ماتیږي۔ اوس پوښتنه دا ده چه دا ډول معامله

کول د شریعت له مخې جواز لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: متاخرین فقهاء د مذکوره صورت په جواز باندې تصریح کړې ده ځکه چه د بیع په نیت سره پیشکي ورکول بیع نه ده بلکه هغه یوازې د بیع وعده ده۔ او حال دا چه حقیقي بیع د مبیعې د وصولولو نه وروسته متحقق کیږي۔ لهذا د بیع تعاطی په وجه سره بیع منعقد کیږي او صحیح کیږي۔ او مشتري ته د خیار رؤیت حق حاصل دی ځکه د یوه شي د اخیستلو لپاره پیشکي پیسې ورکول جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و لو اعطاه الدراهم و جعل یأخذ منه کل یوم خمسة امناء و لم یقل فی الابتداء اشتریت منك یجوز و هذا حلال و ان کان نیته وقت السراء لانه بمجرد النیة لا ینعقد و انما ینعقد البیع الان با لتعاطی و الان المبیع معلوم ینعقد البیع صحیحا. (رد المحتار ج۴، ص۵۱۶، مطل البیع با لتعاطی)

قال العلامة سلیم رستم باز: و یصح البیع با لتعاطی .... و صورته ان یتفق علی الثمن ثم یأخذ المستری المتاع و یذهب برضا صاحبه من غیر ان یرفع الثمن او ان یرفع المشتری الثمن للبائع و یذهب بدون قبض المبیع فان البیع لازم علی الصحیح. (شرح المجلة للعلامة سلیم رستم باز تحت المادة ۱۷۵، ص۷۹) و مثله فی شرح المجلة للعلامة خالد الآتاسی (تحت المادة ۱۷۵، ج۱، ص۲۶)

د مبیعې په وصولولو باندې د اخیستونکي مجبورول

سوال: ما د یوه سړي په لاس د ونې د پریکولو شرط ولګاوه او چه ونې مو خرڅې کړې نو هغه اوس زما د ننګولو په غرض نه هغه ونې پرې کوي او نه هغه سودا واپس کوي په دې صورت کښې د شریعت له مخې ما ته څه کول په کار دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: باقاعده بیع منعقد کیږي د ثمن د ورکولو نه وروسته اخیستونکی به د مبیعې په وصولولو باندې مجبور کیږي۔ په دې بناء باندې په مذکوره صورت کښې د بائع په غوښتنه اخیستونکی به د ونې په پرې کولو یا د دواړو په رضاء باندې د بیع په فسخ کولو مجبوریږي او که چېرته اخیستونکی د دې باوجود څه خبره تسلیم نه کړي نو بائع د قاضي یا د اهل حل و عقد په ذریعه خپل حق وصولولی شي۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و یقال للبائع اقلعها و سلم المبیع و کذا اذا کان فیها زرع لان ملك المشتری مشغول بملك البائع فکان علیه تفریغه و تسلیمه کما اذا کان فیه متاع. (الهدایة ج۳، ص۳۱، کتاب البیوع، فصل و من باع دارا.....الخ)

قال العلامة الحصکفیؒ: و یؤمر البائع بقطعهما و تسلیم المبیع عند وجوب تسلیمها فلو لم ینقد الثمن لم یؤمر به خانیة. و قال العلامة ابن عابدینؒ تحت قوله: عند وجوب تسلیمها ای تسلیم الارض و الشجر و ذلك عند نقد المشتري الثمن فلو لم ینقد الثمن لم یؤمر به. (رد المحتار ج۴، ص۵۵۴، مطلب فی بیع الثمر و الزرع و الشجر مقصودا) و مثله فی البحر الرائق (ج۵، ص۳۰۰، کتاب البیوع)

Maktaba.TuIIshaat.com

د ټیلیفون په ذریعه د بیع د عقد حکم

سوال: په نن زمانه کښې په عام ډول تجار حضرات د لرې لرې ځایونو او ملکونو نه د ټیلفون په ذریعه مالونه غواړي نو آیا د اخیستلو او پلورلو دا طریقه د شریعت له مخې صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د اخیستلو او پلورلو په وخت کښې د ایجاب او قبول لپاره د مجلس یووالی ضروري ګرځولی دی لیکن یووالی عام دی که حقیقي وي او که حکمي۔ حقیقي خو ظاهر دی او د حکمي صورت دا دی چه په یوه مجلس کښې ایجاب و قبول وشي او مشتري ته په کومه مناسبه طریقه (د خط یا د پیغام رسان په ذریعې سره) اطلاع ورکړ شي۔ په اوسني دور کښې فقهاء د انساني ضروریاتو او حوائجو په خاطر د ټیلیفون په ذریعه بیع و شراء، طلاق او نور شیان هم په دې زمرې کښې را اخیستي دي لهذا د ټیلیفون په واسطه که چېرته د یوه شي په باره کښې په باقاعده توګه ایجاب و قبول وشي نو دا بیع به شرعا نافذ العمله وي۔

لما قال الشیخ محمد کامل ابن مصطفی الطرابلسیؒ: سئل بعد صلوٰة الجمعة حضر خبر الشام فی التلغراف لبعض الثغور بانه ثبت فی الشام رؤیة هلال .... فاجاب ان السلاطین المسلمین وضعوا التلغراف لتبلیغ الاخبار من البلاد القریبة و البعیدة فی مدة یسیرة جدا و اقاموا لاعماله اشخاصا مسلمین و انفقوا علی ذٰلك اموالا جسیمة و استغنوا به عن السعادة و ارسال المکاتیب غالبا فصار قانونا فی ذٰلك یخاطب به السلاطین بعضهم لبعضهم فی مهمات الامور و تبعهم الناس علی ذٰلك. (فتاویٰ الکاملیة ص ۲۸۵، مطلب هل یثبت رمضان با لتلغراف)

قال الدکتور الوهبة الزحیلی: البیع با لمراسلة او بواسطة رسول یصح اتفاقا و یکون مجلس التعاقد هو مجلس بلوغ الرسالة من العاقد الاول الی العاقد الثانی. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۴، ص۵۰۳، ثانیا البیوع بسبب الصیغة)

د بالغ زوی د نه موجودوالي په صورت کښې د هغه د جائداد خرڅول

سوال: د یوه سړي بالغ زوی دی او هغه چېرته په لرې ځای کښې اوسیږي او پلار ئې د هغه د نشتوالي په صورت کښې او د هغه د اجازې نه بغیر د هغه جائداد خرڅ کړي نو آیا دا بیعه شرعا جائزه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه هر یوه سړي له پخپل ملکیت کښې خود مختاره یعنې خپلواك ګرځولی دی او حال دا چه د بل چا په ملکیت کښې تصرف کول د اصل مالك تر اجازې پورې موقوفه ده۔ له دې وجهې چه کله بالغ زوي موجود او حاضر نه وي نو د والد له خوا څخه د هغه خرڅ شوی جائداد د بیع فضولي تر حکم لاندې راځي او د زوی تر اجازې پورې به موقوفه وي۔

لما قال علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: یبیع الاب عرض ابنه الکبیر الغائب لا الحاضر اجماعا لاعقاره. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۳، ص۶۳۱، مطلب فی نفقة قرابة غیر الولاد من الرحم المحرم)

قال العلامة عبد العلی البرجندیؒ: یجوز للاب ان یبیع عروض ولد الغائب ابنا کان او بنتا و تصرف فی ثمنه اذا کان من جنس نفقة و لا یجوز ان یبیع عقاره لذٰلك. (البرجندی ج۲، ص۸۹، کتاب البیوع) و مثله فی آداب الاوصیاء علی هامش جامع الفصولین (ج۲، ص۱۲۳، فصل فی الآباق و الکتابة و العتاق...... الخ)

د جائداد په اخیستلو او خرڅولو باندې د کمیشن د اخیستلو شرعي حیثیت

سوال: یوه سړي "د جائدادونو د اخیستلو او پلورلو د با اعتمادې ادارې" په نامه یو دفتر خلاص کړی دی کوم چه د زمکې د اخیستلو او خرڅولو کاروبار کوي۔ او په دې معاملې باندې هغه د دواړو خواوو (د اخیستونکي او خرڅوونکي) څخه دوه فیصده کمیشن اخلي۔ نو آیا په دې طریقې سره د دواړو خواوو څخه د کمیشن اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه یوه سړي ته د بائع او مشتري د دواړو له خوا څخه د وکالت د حق د خپلولو اجازه نه ده ورکړې۔ لېکن د دواړو له طرفه دلال جوړېدی شي۔ په وکیل او دلال کښې بنیادي فرق دا دی چه وکیل ته په مبیعه کښې د جائز تصرف حق حاصل وي او د دلال په ذمې باندې د مال د اخیستلو خوا ته یوائې ترغیب ورکول وي۔ او په مبیعې کښې ورته د هیڅ ډول تصرف حق حاصل نه وي۔ له دې وجهې په نوموړي صورت کښې چونکه دا سړی یوائې د دلال په حیث کار کوي څکه ورته د دواړو خواوو څخه د مناسب کمیشن اخیستل د شریعت له مخې منع نه دي۔ بیا به هم دې ادارې ته له اول څخه د مناسبې دلالی د اخیستلو وضاحت او معلومول ضروري دی ترڅو چه وروسته د زړه بدګی او جنګ و جدل سبب ونه ګرځي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: فتجب الدلالة علی البائع او المشتري علیهما بحسب العرف. (رد المحتار ج۴، ص۴۶، کتاب البیوع)

او مفتي محمد شفیعؒ فرمایلي دي چه که چېرې د بائع یعنې مالك په اجازې باندې پخپله دلال مال خرڅ کړي نو اجرت ئې د بائع په ذمې باندې دی او که چېرې محض کوشش کوونکی وي او د معاملې طی کوونکی او خرڅوونکی پخپله بائع وي نو بیا به د عرف او رواج اعتبار وي د عرف په مطابق چه د چا په ذمې باندې اجرت راځي له هغه څخه اخیستل به ئې جائز وي۔ (امداد المفتیین الشهیر بفتاوی دار العلوم دیوبند ج۲، ص۸۲۵، کتاب الاجارة و مثله فی تالیفات رشیدیه ص۴۱۸، کتاب الاجارة)

د بیع نفاذ (جاري کیدنه) په حکومتي کاغذاتو کښې په درجیدو پورې اړه نه لري

سوال: یوه سړي څه زمکه واخیسته لېکن د بې پروایي له وجهې ئې په حکومتي کاغذاتو کښې د اندراج او انتقال نه بغیر د زراعت په توګه د هغه سړي په حواله کړه له چا نه ئې چه اخیستې

وه۔ اوس د څه وخت د تیریدو نه وروسته هغه سړي په دې زمکې باندې قبضه کړې ده او دلیل دا وایي چه دا زمکه په حکومتي کاغذاتو کښې زما ملکیت دی نو آیا اخیستونکی د حکومت په کاغذاتو کښې د اندراج نه بغیر د دې زمکې مالك ګرځیدی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د بیع نفاذ په حکومتي کاغذاتو کښې تر اندراجه پورې نه ده موقوفه کړې بلکه دبیع د نفاذ لپاره ئې د دواړو خواوو رضا او ایجاب و قبول ضروري ګرځولی دی نو له دې وجهې له دې سره سره چه دا زمکه په حکومتي کاغذاتو کښې اندراج نه دی د زمکې ټول حقوق به اخیستونکي ته حاصل وي او په دې باندې د خرڅوونکي قبضه غصب او ظلم ګڼل کیږي کوم چه ناجائز او حرام دي۔

لما قال فی مجلة الاحکام: البیع ینعقد بایجاب و قبول. (مجلة الاحکام، المادة ۱۶۷، الفصل الاول فی ما یتعلق برکن البیع)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: اما القول فا لایجاب و القبول و هما رکنه ظاهره ان الضمیر للایجاب و القبول. (رد المحتار ج۴، ص۵۰۴، کتاب البیوع)

په حق مهر کښې د ورکړ شوې زمکې د خرڅولو حق یواځې د ښځې دی

سوال: یوه سړي د عقد نکاح په وخت کښې خپلې منکوحې ته په مهر کښې څه زمکه ورکړه۔ اوس دا سړی په مهر کښې هغه ورکړ شوې زمکه د زوجې د اجازې نه بغیر خرڅول غواړي اوس پوښتنه دا ده چه د شریعت له مخې خاوند یعنې میړه یا زوج ته دا حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په حق مهر کښې د ورکړ شوې زمکې ټول مالکانه حقوق زوجې ته حاصل وي د زوجې د اجازې نه بغیر د میړه د تصرف حق نشته۔ په نوموړي صورت کښې چونکه په دې زمکې کښې میړه ته د ملکیت او دولایت حق حاصل نه دی نو له دې وجهې د ښځې د اجازې نه بغیر به دا بیع نافذ العمله نه وي۔

و فی الهندیة: و اما شرائط النفاذ فنوعان الملك او الولایة و الثانی ان لا یکون فی المبیع حق لغیر البائع. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص۳، کتاب البیوع، الباب الاول فی تعریف البیع ...... الخ)

قال العلامة الکاسانیؒ: و منها و هو شرط انعقاد البیع للبائع ان یکون مملوکا للبائع عند البیع فان لم یکن لا ینعقد. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۴۷، کتاب البیوع، فصل و اما الذی یرجع الی المعقود علیه الخ و مثله فی فتح القدیر ج۵، ص۴۵۵، کتاب البیوع)

د بیع په عقد کښې ونې د زمکې تابع دي

سوال: یوه سړي له چا څخه یوه ټکړه زمکه واخیسته لیکن د زمکې په خنډو کښې ئې د ولاړو ونو هیڅ یادونه و نه کړه۔ وروسته د دوی تر منځ په دغو ونو باندې اختلاف پیدا شو نو آیا دا ونې د شریعت له مخې د خرڅوونکي حق دی او که د اخیستونکي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زمکې د خرڅولو په وخت کښې په دې زمکې کښې هغه ذکر شوي شیان مثلاً ونې یا آبادي او داسې نور پخپله د بیع په عقد کښې شاملیږي۔ نو په دې بناء په نوموړي صورت کښې ونې هم د اخیستونکي دي البته که چېرته دا شیان د بیع د عقد په وخت کښې ورنه مستثنیٰ کړی شي نو په دې وخت کښې به دغه شیان په بیع کښې شامل نه وي۔

لما قال العالمة ابن نجیم رحمه اللّٰه: و یدخل البناء و الشّجر فی بیع الارض بلا ذکر لکونه متصلا بها للقرار فیدخل تبعا. (البحر الرائق ج۵، ص۲۹۴، کتاب البیع، فصل یدخل البناء و المفاتیح فی بیع الدار)

قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و من باع ارضا دخل ما فیها من النحل و الشّجر و ان لم یسمه لانه متصل بها للقرار فاشبه البناء. (الهدایة ج۳، ص۲۰۵، کتاب البیوع و مثله فی فتح القدیر ج۵، ص۴۸۵، کتاب البیوع)

د جومات په آمدني باندې تجارت کول

سوال: د یوه جومات عائد یعنې آمدنې او ذخیره فی الحال د جومات د ضروریاتو څخه زیاته ده آیا په دې ذخیرې باندې تجارت کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جومات عوائد په اصل کښې د جومات د ضروریاتو د پوره کولو لپاره وي او که چېرته د جومات د ضروریاتو او استعمال څخه زیات وي نو بیا دې په یو نفع مند تجارت کښې ولګوي او د هغه څخه حاصلیدونکې ګټه دې د جومات په منافع کښې جمع کړي۔ په دې طریقې سره د جومات په روپو باندې تجارت کول شرعا جائز دي لیکن په دې شرط چه د چنده ورکوونکو له خوا څخه په دې روپو باندې د تجارت کولو اجازه وي۔

لما قال فی الهندیة: متولی المسجد اذا اشتری بمال المسجد حانوتا او دارا ثم باعها جاز اذا کانت له ولایة الشّراء. (الفتاویٰ الهندیة ج۲، ص۴۱۷، الباب الخامس فی ولایة الوقف و تصرف القیم)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری رحمه اللّٰه: متولی المسجد اذا اشتری بمال المسجد حانوتا او دارا ثم باعها جاز اذا کانت له ولایة الشّراء و فی التجنیس فی الفتاوی قال الامام حسام الدین هذا هو المختار و فی الخانیة هو الصحیح. (التاتارخانیة ج۵، ص۸۶۲، کتاب الوقف، مسائل وقف المسجد و قیم المسجد و مثله فی السراجیة علی هامش الخانیة ج۳، ص۱۴۲، کتاب الوقف)

د رشوت په روپو سره د قبرستان لپاره د زمکې اخیستل

سوال: د رشوت په ګټل شوي مال باندې د قبرستان لپاره د زمکې اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د مالُ د حصول لپاره جائزه طریقه او د مخاطب رضا ضروري ګرځولې ده۔ او رشوت چونکه په ناجائزې طریقې سره حاصلیږي۔ له دې وجهې هغه اصل مالك او یائې وارثانو ته واپس کول ضروري دي۔ د رشوت مال چونکه د اصل مالك له ملك څخه نه ووځي نو په دې بناء باندې د رشوت په پیسو سره د قبرستان لپاره د زمکې

اخیستل او په هغې باندې د مسلمانانو مړي خښنول جائز نه دي۔ لهذا د داسې مال د ورثاء یا د اصل مالکانو په موجودګي کښې د هغوی رضاء نه بغیر دا روپۍ د خیر په کارونو کښې د لګولو څخه ئې ذمه نه فارغیږي۔

لما قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: لو مات رجل و کسبه من ثمن البازق و الظلم و اخذ الرشوة تعد الورثة و لا یأخذون منه شیئا و هو الاولیٰ لهم و یردونه علی اربابه ان عرفوهم و الا یتصدق لان سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد. (البحر الرائق ج٨، ص٢٠١، فصل فی البیع)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فی البزازیة اخذ مورثة رشوة او ظلما ان علم ذٰلك بعینه لا یحل له اخذه و الا فله اخذه حکما اما فی الدیانة فیتصدق به بنیة ارضاء الخصماء. (رد المحتار ف٥، ص٩٩، مطلب فی من ورث مالا حراما) و مثله فی غمز عیون البصائر شرح الاشباه و النظائر (ج٤، ص٥٠٤، کتاب الکراهیة)

د کرایې په دوکان یا مکان باندې د پګړۍ د اخیستلو شرعي حیثیت

سوال: په ځنې علاقو کښې د دوکان یا مکان په کرایې باندې د نیولو په وخت کښې مخکښې پیسې ورکول ضروري وي او دا روپۍ د کرایې نه علاوه وي کوم ته چه په عرف کښې پګړۍ وایي آیا د داسې روپیو اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ډېر ځله یو سړی خپل دوکان یا کور د ډېر وخت لپاره په کرایه باندې ورکوي او د کرایه وال څخه د کرایې نه علاوه څه روپۍ په یوه ځای هم اخلي کومو ته چه پګړۍ ویل کیږي۔ چا چه هغه دوکان په کرایې باندې نیولی وي د دې خبرې حقدار دی چه د یوې اوردې مودې یا تر مرګه پورې کرایه داري جاري وساتي۔ په بعضې حالاتو کښې هغه خپل دا حق چېرته بل کرایه دار ته حواله کوي او خپل حق له هغه څخه وصولوي او که چېرته اصلي مالك دوکان واپس کول غواړي نو هغه اصل مالك دغه پیسې واپس هغه ته ورکوي۔

د دې مروجې پګړۍ په باره کښې علماء کرامو د عدم جواز خبره کړې ده ځکه چه دا نه له حق څخه نزول دی او نه معجله اجرت دی بلکه دا د حق مجرد خرڅول دي کوم چه ناجائز دي او دا پیشکي روپۍ رشوت دي کوم چه د نص قطعي له مخې حرامې دي لهذا د مروجې پګړۍ رواج د شرعې خلاف دی۔

البته دا یو ځایي روپۍ که چېرته د یوه مقرر وخت پورې اجرت وګرځوي او تر مقرر وخت پورې کرایه هم له همدې پیشکي څخه ګرځوي نو جائز دي ځکه چه بیا به په اجاره کښې شمار شي او د اجارې ټول احکام به جاري وګرځي نو دا ډول پیسې اخیستل جائز دي او مروجه د پګړۍ په نامه روپۍ اخیستل ناجائز دي۔

قال الدکتور وهبة الزحیلی: الحق المجرد او المحض هو الذی لا یترك اثرا با لتنازل عنه صلحا او ابراءً فلا یجوز الاعتیاض عنه کحق الولایة علی النفس و المال و حق الشفعه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٤، ص٢١، الحقوق المجردة و غیر المجردة)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق السفعة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٤، ص٥١٩، کتاب البیوع)

د بل چا په سودا باندې سودا کول

سوال: یوه سړي له چا څخه د کور د اخیستلو په باره کښې خبرې کولې چه په دې دوران کښې یو دریم سړی پکښې ورګډ شو او په ډېر قیمت باندې ئې هغه کور واخیست آیا د داسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د خرڅوونکي او اخیستونکي د خبرو اترو په دوران کښې د بل چا لپاره منځ ته راتلل او قیمت جګول مناسب نه دي ځکه چه نبي کریم ﷺ د داسې کولو څخه منع فرمائلې ده بیا هم د با قاعده ایجاب و قبول په صورت کښې بیع تامه او صحیح ده اګر چه د داسې کول له کراهیت څخه خالي نه دي۔

لما ورد فی الحدیث: عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال لا یبیع الرجل علی بیع اخیه و لا یخطب علی خطبة اخیه الا ان یأذن له و ایضا عن ابی هریرة ان نبی علیه السلام نهیٰ ان یستام علی سوم اخیه. (الصحیح المسلم ج٢، ص٣، باب تحریم بیع الرجل علی بیع اخیه و سومه علی سومه)

قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: نهی رسول الله ﷺ عن النجش و عن السوم علی سوم غیره. (الهدایة ج٣، ص٦٩، فصل فیما یکره) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص٩٩، فصل فیما یکره)

په حرام مال باندې د سودا کولو حکم

سوال: په رشوت، سود، قیمار او نورو حرامو طریقو سره په ګټل شوي پیسو باندې اخیستل او خرڅول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په رشوت، سود او نورو حرامو ذرائعو سره حاصلې شوې روپۍ په ذاتي ضروریاتو باندې لګول جائز نه دي۔ له داسې پیسو څخه د ذمې د فارغوالي لپاره ضروري دي چه که چېرته اصل مالك ژوندی وي نو هغه ته دې ورسوي او که نه وي نو په غریبانو او محتاجانو باندې ئې د اصل مالك له طرفه صدقه کړي۔ په دې بناء باندې د علم باوجود د دې شیانو په بدل کښې د اخیستلو او پلورلو نه ځان ساتنه ضروري ده۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و الحاصل ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم و الا فان علم عین الحرام لا یحل له و یتصدق به بنیة صاحبه و ان کان مالا محتلطا مجتمعا من الحرام و لا یعلم اربابه و لا شیء منه بعینه حل له حکما و الاحسن دیانة التنزه عنه. (رد المحتار ج٥، ص٩٩، مطلب فی من ورث مالا حراما)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: لو مات رجل و کسبه من ثمن البازق و الظلم او اخذ الرشوة تعود الورثة و لا یأخذون منه شیئا و هو الاولی لهم و یردونه علی اربابه ان عرفوهم و الا یتصدق به لان سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد. (البحر الرائق ج٨، ص٢٠١، فصل فی البیع، کتاب الکراهیة) و مثله فی الاشباه و النظائر (ج٤، ص٥٠٤، کتاب الکراهیة)

د حکومت له خوا د ورځني استعمال د شیانو د نرخ ټاکلو حکم

سوال: ډېر ځله د ځیني شیانو په قیمت کښې ورځ په ورځ زیاتوالی راځي او حال دا چه حکومت یو نرخ مقرروي او د زیات قیمت په حاصلولو باندې بندیز لګوي آیا د حکومت لپاره دا ډول بندیز لګول جائز دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق و الصواب: د شریعت له مخې د یوه شي اخیستل او پلورل د بائع او مشتري (خرڅوونکي او اخیستونکي) په رضا او رغبت پورې موقوف دی که چېرې هغه قیمت زیات وي او که کم وي۔ د ځینو شیانو په ښه والي کښې د فرق په وجه د هغو په نرخونو کښې هم فرق موجود وي نو ځکه حکومت ته شرعا دا حق حاصل نه دی چه د شیانو نرخونه مقرر کړي او په هغه باندې بندیز ولګوي۔ ځکه چه په دا ډول بندیزونه په خلکو باندې د حرج او تکلیف سبب جوړیږي لیکن په ځینو حالاتو کښې دا خلک یعني تجاران او دوکانداران د ضروري شیانو په قیمتونو کښې بې اندازه زیاتوالی کوي او خلك پریشانه کوي او د خلکو له مجبورۍ څخه ناجائزه فائده اخلي او خلك مجبور کیږي چه د کم قیمت والاشیان په ډېره جګه بیعه واخلي چه له هغه سره د ملك معیشت او اقتصاد خرابیږي نو په دې صورت کښې حکومت د اقتصادیاتو د ماهرینو او هوښیارو خلکو او تاجرانو په مشوره د ضروري شیانو د نرخونو تعین کولی شي او د زیات قیمت په وصولولو باندې بندیز لګولی شي ترڅو چه عوام پریشان نه شي او د ملك د نیادارہ طبقه د غریبانو څخه ناجائزه فائده وانه خلي۔

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: و لا یسعر حاکم الا اذا تعدی الارباب عن القیمة تعدیا فاحشا بمشورة اهل الرای. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج۶، ص ۴۰۰، کتاب الکراهیة، فصل فی البیع)

قال العلامة عبد الله بن محمود الموصلیؒ: و لا ینبغی للسلطان ان یسعر علی الناس لما بینا قال الا ان یتعدی ارباب الطعام تعدیا فاحشا فی القیمة فلا بأس بذٰلك بمشورة اهل الخبرة به لان فیه صیانة حقوق المسلمین عن الضیاع.
(الاختیار لتعلیل المختار ج ۴، ص ۱۶۱، کتاب الکراهیة، فصل فی الاحتکار)

نباتي غوړي د اصلي غوړي په نامه خرڅول

سوال: که چېرته په نباتي غوړي کښې دا سې صفائي پیدا کړی شي چه هغه هو به هو د اصلي غوړي غوندې معلوم شي نو آیا دا د اصلي غوړي په قیمت باندې خرڅول جائز دي او که نه؟ او حال دا چه د نباتي او د اصلي غوړي په قیمتونو کښې ډېر زیات فرق دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بائع او مشتري په رضاء سره دا سې غوړي د اصلي غوړي په نرخ باندې په پلورلو باندې هیڅ حرج نشته بیا هم که چېرته نباتي غوړي په دوکه او فریب سره اصلي غوړي وښیي او د اصلي غوړي په قیمت ئې ورباندې وپلوري نو دا به د تزویر او تلبیس مترادف شي کوم چه ناجائز دی۔

لما جاء فی الحدیث: عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال نهی رسول اللهﷺ عن بیع الحصاة و عن بیع الغرر. (صحیح المسلم ج۲، ص۲، کتاب البیوع، باب بطلان الحصاة الخ)

و فی الهندیة: رجل اراد ان یبیع السلعة المعیبة و هو یعلم یجب ان یبینها. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۲۱۰، الباب العشرون فی البیاعات المکروهة و الارباح الفاسدة) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۱۰۲، مطلب احکام نقصان المبیع فاسدا)

د ډېرې ګټې لپاره مال ذخیره کول

سوال: د کلي یا د ښهر د ضرورت سره سره یو سړي غله اخلي او هغه ذخیره کوي ترڅو چه په مناسب وخت باندې هغه خرڅه کړي او منافع ډېره حاصله کړي نو آیا دا اقدام شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تنګي او عسرت په ورځو کښې چه څوك غله اخلي او د مصنوعي ګران والي د پیدا کولو لپاره ذخیره احتکار بلل کیږي کوم چه شرعا حرام دی بیا هم که چېرته د عوام الناس ضرورت په بازار کښې پوره کیږي نو بیا یو شی د زیاتې منافع د حاصلولو په خاطر ذخیره کول جائز دي۔

لما ورد فی الحدیث: عن عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه قال قال رسول اللهﷺ الجالب مرزوق و المحتکر ملعون. (ابن ماجة ص۱۵۶، باب الحکره)

قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و یکره الاحتکار فی اقوات الآدمیین و البهائم اذا کان ذٰلك فی بلد لغیر الاحتکار باهله و کذٰلك التلقی فاما اذا کان لا لغیره فلا بأس به. (الهدایة ج۴، ص۴۷۰، کتاب الکراهیة، فصل فی البیع) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۱۲۹، کتاب الاستحسان)

د تقاعد دا خیستلو او پلورلو حکم

سوال: نن صبا د نوکرۍ په ختمیدو باندې ملازمینو ته د حکومت له طرفه د تقاعد په نامه باندې څه وظیفه ورکول کیږي۔ د دغې وظیفې څه حصه د ملازمت او نوکرۍ په وخت کښې د ملازم له تنخواه څخه راګرځوي او څه حصه حکومت له خپلې خوا نه ورکوي۔ همدارنګه دا وظیفه د تقاعد نه وروسته دغه تقاعد شوی سړی له حکومت څخه وخت په وخت حاصلوي نو که چېرته دا وظیفه هغه خرڅه کړي او یو ځای پیسې واخلي نو آیا دا شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا وظیفه په حقیقت کښې د ملازمت په دوران کښې د محنت او خدمت په بدله کښې د اکرام او اعزاز په ډول سره د ملازمت څخه تقاعد شوي ته د حکومت له خوا څخه ورکول کیږي چه په دې کښې څه حصه عطاء سلطاني وي او څه حصه ئې د خپل محنت په بدل کښې وي۔ د دې د پلورلو دوه صورته کیدای شي۔ یو دا چه په حکومت باندې

ئې وپلوري او بل دا چه په کوم شخص باندې ئې وپلوري. د حکومت څخه علاوه په بل چا باندې پلورل ئې د څو خرابیو په وجه روا نه ده ځکه چه په بل باندې هغه پیسې پلوري کوم چه تر اوسه د ده په قبضه کښې نه دي نو د غیر مقدور التسلیم والي په وجه سره ئې خرڅول جائز نه دي. د فقهاوو له عباراتو او نبوي احادیثو څخه د دې ډول بیعې څخه منع راغلې ده.

سربیره پر دې د ثمنینو په خپل منځ کښې د بیع په وخت کښې لاس په لاس او مثل په مثل کیدل ضروري دي او هغه په دې بیعه کښې نشته لهذا د دې نقصاناتو او خرابیو په وجه سره د تقاعد پلورل جائز نه دي. او په حکومت باندې پلورل ئې په حقیقت کښې پلورل نه دي بلکه هغه له مؤجلې ورکړې نه معجله ورکړه جوړول دي او هغه داسې چه حکومت کومه وظیفه قسط واره مقرره کړې ده اوس ئې هغه له حکومت څخه په یو ځای اخلي. یعنې په اول صورت کښې تاجیل وو او په دوهم صورت کښې تعجیل چه د شریعت له مخې په دې کښې هیڅ حرج نشته.

لما قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: و بیع الدین لا یجوز و لو باعه من المدیون او وهبه جاز. (الاشباه و النظائر ج٤، ص١٤، القول فی الدین)

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: و اما بیع هذه الدین من غیر من علیه و الشراء بها من غیر من علیه فینظر ان اضاف البیع و الشراء الی الدین لم یجز آه. (بدائع الصنائع ج٥، ص١٨٢، کتاب البیوع، فصل و اما شرائط الصحة فانواع)

په بیع کښې نامعلومه نېټه بیع فاسدوي

سوال: یوه سړي له چا سره معامله طی کړه چه له ما څخه څه پیسې واخله او د هغه په بدله کښې د راتلونکي غنمو په موسم کښې چه کوم نرخ وي د هغه مطابق ما ته غنم راکړه نو آیا دا معامله شرعاً صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په هره معامله کښې د وخت تعین ضروري وي. د وخت د تعین نه بغیر معامله طی کول مفضي الی النزاع وي ځکه د شریعت له مخې دا ډول معاملې فاسد ګرځول شوي دي. دغه ذکر شوې معامله هم له همدې ډلې څخه ده خواه که هغه بیع مطلق ورته وایي او که بیع سلم. البته که چېرته دا معامله د قرض شي نو بیا به د شریعت له مخې په دې کښې څه قباحت نه وي.

قال العلامة ظفر احمد عثمانیؒ: و قد اجمعوا علی فساد السلم الی اجل مجهول ففساد البیع کذٰلك اول کما مر. (اعلاء السنن ج١٤، ص٥، ابواب البیع، دلیل فساد البیع الی اجل مجهول)

قال العلامة ابن عابدینؒ: رجل باع شیئا بیعا جائزا او اخرج الثمن الی الحصاد او الدباس قال مفید البیع فی قول ابی حنیفة. (رد المحتار ج٤، ص٢٦، کتاب البیوع) و مثله فی شرح الوقایة (ج٣، ص ٦٠، کتاب البیوع)

د قیمت له یادولو پرته د شوي بیع او شراء حکم

سوال: یوه سړي د قیمت له معلومولو پرته د جوارو څه ګیډۍ په چا باندې وپلورلې او دا ئې وویل چه دا ګیډۍ د جوارو د عامو ګیډیو څخه ډېرې دي لیکن د څلورو میاشتو نه وروسته هغه سړي انکار وکړو نو د شریعت له مخې ئې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع او شراء په وخت کښې د قیمت مقررول ضروري وي د قیمت له تعین څخه بغیر معامله فاسدیږي. لهذا دا ذکر شوې معامله هم له همدې ډلې څخه ده نو ځکه دا بیع هم فاسده ده دواړو ته په کار دي چه دا معامله له سره وکړي.

کما فی السنن الکبریٰ مع الجوهر النقی. ج٦، ص٢٤، تحت لا یجوز السلف حتی یکون بثمن معلوم الخ.

قال ابن الهمام رحمه اللّٰه: لقوله علیه السلام فی کیل معلوم و وزن معلوم الی اجل اخره. (فتح القدیر ج٦، ص٢٦٢، باب السلم) و مثله فی الهدایة (ج٣، ص٥٨، کتاب البیوع)

د قبول لفظ د ایجاب مطابق ضروري دی

سوال: یوه شخص خپل ټول مال په یوه ځای باندې خرڅول غواړي او حال دا چه بل سړی د هغه مال په قرض سره د اخیستلو خواهش مند دی او اخیستونکی د بائع سره خبره هم کوي لیکن بائع په هغه باندې راضي نه دی نو آیا دغه بیع تامه ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع د تکمیل لپاره ضروري دي چه مشتري د بائع د ایجاب مطابق ځواب ورکړي یعنې چه خرڅوونکی څومره مال پلورل غواړي د هغومره مال مطابق ځواب ورکړي. که چېرته اخیستونکی د خرڅوونکي د ایجاب څخه زیات یا کم اخیستل غواړي نو هغه د بائع په رضا پورې موقوفه ده که چېرته هغه اجازه ورکړي نو بیعه تامه ده او که نه نو بیعه به تامه نه وي.

لما فی مجلة الاحکام: اذا اوجب احد العاقدین ببیع شیء بشیء یلزم لصحة العقد قبول العاقد الآخر علی الوجه المطابق للایجاب و لیس له تبعیض الثمن او الثمن و تفریقهما. (شرح المجلة الاحکام لرستم باز ص٨١، المادة١٧٧، الفصل الثانی فی بیان لزوم موافقة القبول و الایجاب)

باب ما یجوز بیعه و ما لا یجوز

د جائزې او د ناجائزې بیعې مسائل او احکام

د شرابو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: په اسلام کښې د شرابو اخیستل او پلورل څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې شراب د قطعي نص له مخې ناجائز او حرام دي بلکه دې عمل ته ئې له شیطاني عمل سره تشبیه ورکړې ده۔ قال الله تبارك و تعالی: إِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَيْسِرُ وَ الْأَنْصَابُ وَ الْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ (سورة المائدة، آیت ۹۰) نو ځکه د شرابو خرڅول او اخیستل حرام بلکه بیعه ئې باطله ده له دې وجهې مسلمانانو ته په کار دي چه ځان ترې وساتي۔

و فی الهندیة: فا لباطل ما لم یکن محله مالا متقوما کما لو اشتریٰ خمرا او خنزیرا او صید الحرم..... الخ. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۱٤٦، کتاب البیوع، الباب الحادی عشر فی احکام البیع لغیر الجائز)

د شرابو د آمدنۍ په عوض کښې د شیانو پلورل

سوال: یو سړی کوم چه د رخت کاروبار کوي که چېرته هغه ته د یوه خریدار په اړه دا معلومات وشي چه دا سړی د شرابو په واسطه په ګټل شویو پیسو باندې له ما څخه رخت اخلي نو په داسې خریدار باندې د رخت پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمانانو لپاره په شرابو باندې ګټل شوې روپۍ ناجائزې او حرامې دي او نه د دغو آمدنیو په عوض د نورو شیانو پلورل جائز دي ځکه چه د شرابو د پلورلو په عوض چه کومې روپۍ دي هغه د بل چا دي مسلمان د هغه مالك نه شي جوړېدی۔

لما جآء فی الحدیث: ابو حنیفة عن محمد بن قیس الهمدانی عن ابی عامر الثقفی انه کان یهدی للنبی ﷺ روایة من خمر...... فقال رسول الله ﷺ یا ابا عامر ان الله تعالیٰ قد حرم الخمر فلا حاجة لنا فی خمرك قال خذها فبعها فاستعن بثمنها علی حاجتك فقال یا ابا عامر ان الله تعالی قد حرم شربها و بیعها و اکل ثمنها. (المسند للامام الاعظم ص۳۷۳، باب حرمة اکل ثمن الخمر)

قال المرغینانی رحمه الله: و اذا باع المسلم خمرا و اخذ ثمنها و علیه دین فانه یکره لصاحب الدین ان یأخذ منه و ان کان البائع نصرانیا لا بأس به. (الهدایة ج٤، ص٤٦٨، کتاب الکراهیة) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۱۲۸، کتاب الاستحسان)

په دار الحرب کښې د شرابو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: په دار الحرب کښې د مسلمانانو لپاره په کفارو باندې د شرابو پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دار الحرب کښې د غیر مسلمانانو (کفارو) مال بې له غدره او دوکې

څخه د هغوی په خوښه چه په کومې طریقې سره وي هیڅ حرج پکښې نشته۔ لهذا د هغوی مال مباح دی او هغه په فاسدو عقودو باندې حاصلول او د شرابو په عوض باندې اخیستل جائز دي بیا هم چه د نصوصو اطلاقو ته نظر وکړې شي نو باید چه د فاسدو عقودو او د شراب فروشي څخه خامخا اجتناب وشي۔

لما قال ابن نجیم المصری رحمه الله: و لا بین الحربی و المسلم ثمة ای لا ربوٰا بینهما فی دار الحرب عندهما خلافا لابی یوسفؒ و فی البنایة و کذا اذا باع خمرا او خنزیرا او میتةً او قامرهم و اخذ المال کل ذٰلك یحل له. (بحر الرائق ج٦، ص۱۳۵، باب الربوٰا)

و فی الهندیة: دخل مسلم او ذمی دار الحرب بامان او بغیره و عقد مع الحربی عقد الربوٰا...... او باع منهم خمرا او خنزیرا او میتةً او دما بمال فذٰلك کله جائز عند الطرفین. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۲٤۸، الفصل السادس فی الصرف فی دار الحرب) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج۵، ص۱۸٦، باب الربوٰا)

په کومو شیانو کښې چه شراب ګډ وي د هغو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: هغه شیان چه په هغو کښې شراب ګډ وي لکه ادویات او داسې نور آیا د داسې شیانو اخیستل او خرڅول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې چونکه شراب حرام او نجس دي نو ځکه له هغه څخه د هر ډول فائدې حاصلول جائز نه دي۔ چه په کومو شیانو کښې شراب ګډ شي هغه شی حرام او نجس ګرځي اګر که ډېره لږه اندازه هم وي۔ په دې بناء باندې په کومو دوائي ګانو او نورو شیانو کښې چه په یقیني توګه یا په غالب ظن سره معلوم شوي وي چه په هغه کښې شراب شته او علاج هم په کومې بلې دوايي سره ممکن وي نو د داسې شیانو له اخیستلو څه اجتناب کول پکار دي۔

لما ورد فی الحدیث: فقال رسول الله ﷺ یا ابا عامر ان الله تعالی قد حرم الخمر فلا حاجة لنا خمرك قال خذها فبعها فاستعن بثمنها علی حاجتك فقال یا ابا عامر ان الله تعالی قد حرم شربها و بیعها و اکل ثمنها. (المسند الامام الاعظم، ص۳۷۳، کتاب البیوع)

قال محمد بن الحسن الشیبانیؒ: محمد عن یعقوب عن ابی حنیفة رحمه الله قال الخمر حرام قلیلها و کثیرها. (الجامع الصغیر ص۳۹۸، کتاب الاشربة)

د هغو ادویاتو د تجارت شرعي حیثیت چه په هغه کښې الکحل ګډ وي

سوال: آیا د هغو ادویات تجارت چه په هغو کښې الکحل ګډ وي د شریعت له مخې جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په ادویاتو کښې ګډ شوی الکحل د انګورو او د خرماوو څخه علاوه د نورو شیانو څخه ایستل شوي وي نو د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما

الله په نزد ئې استعمال د ضرورت له مخې جائز دي۔ په دې شرط چه د نشې او د سکر حد ته نه وي رسیدلی او د علاج ضرورت ته په کتو سره د شیخینو په مذهب باندې عمل کول مرخص دي۔ بیا هم که چېرته الکحل د انګورو یا د خرماوو څخه ایستل شوي وي نو د داسې دواګانو استعمال د شدید ضرورت او اضطرار څخه علاوه جائز نه دي۔ البته که چېرته دا معلومه وي چه الکحل په دوایي کښې د ګډوالي نه وروسته خپل حقیقت او ماهیت بدل کړی دی نو په داسې صورت کښې چه حقیقت ئې ختم شوی وي نو بیا به ئې استعمال بالاتفاق جائز وي لیکن دا مسئله د طب د فن د ماهرینو په مرسته حاصلیدلی شي۔

لما قال العلامة المفتی تقی عثمانی: و بهذا یتبین حکم الکحول المسکرة التی عمت بها البلوٰی الیوم فانها تستعمل فی کثیر من الادویة و العطور و المرکبات الاخریٰ فانها ان اتخذت من العنب او التمر فلا سبیل الی حلقها او طهارتها و ان اتخذت من غیرهما فا لامر فیها سهل علی مذهب ابی حنیفة رحمه الله و لا یحرم استعمالها للتداوی او لاغراض مباحة اخرٰی ما لم تبلغ حد الاسکار لانها انما تستعمل مرکبة مع المواد الاخری و لا یحکم بنجاستها اخذا بقول ابی حنیفة رحمه الله و ان معظم الکحول التی تستعمل الیوم فی الادویة و العطور و غیرها لا تتخذ من العنب او التمر انما تتخذ من الحبوب او القشور او البترول وغیره. (تکملۂ فتح الملهم ج۳، ص۶۰۸، کتاب الاشربة)

د منشیاتو تجارت

سوال: د افیون، چرس، بنګ، هیروئینو او د اسې نورو تجارت د شریعت له مخې څه حکم لري؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د افیون، چرس، بنګ او هیروئینو تجارت په دې لحاظ سره چه نشه کوونکي شیان دي حرام دی لهذا د حرام شي قیمت او په ګناه باندې د اعانت له وجهې ئې له اخیستلو او پلورلو څخه پرهیز باید وشي۔ ځکه چه د دې شیانو په سبب د انسان دیني او دنیوي بربادي لازمیږي۔

لما قال علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله: و صح بیع غیر الخمر و مفاده صحة بیع الحشیشه و الافیون قلت و قد سئل عن بیع الحشیشه هل یجوز فکتب لا یجوز فیحمل علی انه مراده بعدم الجواز عدم الحل قاله المصنف. (الدر المختار مع رد المحتار ج۶، ص۴۵۴، کتاب الاشربة)

قال العلامة الحدار الیمنیؒ: و لا یجوز اکل البنج و الحشیشه و الافیون و ذٰلك کله حرام. (الجوهرة النیرة ج۲، ص۲۷۰، کتاب الاشربة) و مثله فی خلاصة الفتاویٰ (ج۴ ص۲۰۵، کتاب الاشربة)

د تمباکو اخیستل او خرڅول

سوال: جناب مفتي صاحب د تمباکو د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د تمباکو استعمال د شریعت له مخې منع نه دی لهذا د استعمال د مرخص والي له وجهې ئې تجارت هم ممنوع نه دی۔ او حال دا چه نن صبا د تمباکو خرڅول او اخیستل د معاش یوه لویه ذریعه ګرځیدلې ده۔ د غربت او تنګي په دې دور کښې ئې په

تجارت کښې څه شرعي جرم نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و با لجملة ان ثبت فی هذا الدخان اضرار صرف خال من المنافع فیجوز الافتاء بتحریمه ان لم یثبت انتفاعه فا لاصل حله مع ان فی الافتاء بحله دفع الحرج عن المسلمین فان اکثرهم مبتلون بتناوله مع ان تحلیله ایسر من تحریمه و ما خیر رسول اللهﷺ بین امرین الا اختار ایسرهما. (فتاوی تنقیح الحامدیة، ج۲، ص۳۶۶، مسائل و فوائد شتی الخ)

قال العلامة ابو الحسنات عبد الحی لکهنویؒ: فی رسالة رفع الالتباك فی حکم تعاطی بشجرة التمباك اما بیعها و شرائها فیجوز لامکان الانتفاع بها. (مجموعة الفتاوی ج۲، ص۱۹۷، کتاب البیع) و مثله فی رد المحتار (ج۶، ص۴۵۹، کتاب الاشربة)

د راډیو، ټیپ او د اسې نورو اخیستل او خرڅول

سوال: د تلاوت قرآن کریم او د دیني پروګرامونو او خبرونو د اوریدو لپاره د راډیو او ټیپ بیع او شراء جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د راډیو او ټیپ استمال په جائزو امورو کښې جائز دی نو ځکه د هغو په اخیستلو او پلورلو کښې هم څه حرج نشته بیا هم دا شیان په داسې کسانو باندې خرڅول چه له هغه څخه د خیر هیڅ توقع نه وي بلکه محض د بې دینۍ په کارونو کښې ئې د استعمالولو یقین وي نو بیا په ګناه کښې د امداد له شبهې څخه خالي نه ده۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: قلت و افاد کلامهم ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما و الا فتنزیها (قوله نهر) و عبارته و عرف بهذا انه لا یکره بیع ما لم تقم المعصیة به کبیع الجاریة المغنیة به و الکبش النطوح. (رد المحتار ج۴، ص۲۶۸، باب البغاة........ الخ)

قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه و ما لا فلا و لذا قال انه لا یکره بیع الجاریة المغنیة و الکبش النطوح. (البحر الرائق ج۵، ص۱۴۳، باب البغاة) و مثله فی تنقیح الحامدیة (ج۲، ص۱۵۳، کتاب الاجارة)

د موسیقي (ساز او سرود) د آلاتو د اخیستلو او خرڅولو حکم

سوال: د باجه، رباب، ستار او د موسیقي د نورو آلاتو تجارت شرعا جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: موسیقي چونکه په اسلام کښې ناجائز او حرام دی نو ځکه هغه آلات کوم چه یوائې د موسیقي لپاره استعمالیږي او بې له کوم تغیر او تبدیلۍ څخه د هغو څخه د موسیقي کار اخیستل کیږي په دې وجه چه هغه د ګناه آلات دي نو تجارت ئې جائز نه دی ځکه چه په هغه کښې اعانت علی المعصیت راځي نو له دې وجهې د جواز ګنجائش ئې هم نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و یکره تحریما بیع السلاح من اهل الفتنة لانه اعانة علی المعصیة...... قلت و افاد کلامهم ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما و الا فتنزیها نهر و نظیره کراهة بیع

المعازف لان المعصیة تقام بها. (رد المحتار ج۲، ص۲۶۸، کتاب السیر)

قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: نظیره بیع المزامیر یکره هنا ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه و الا فلا. (البحر الرائق ج۵، ص۱۴۳، بتغییر یسیر آخر کتاب البغاة) و مثله فی تنقیح الحامدیة (ج۲، ص۱۵۳، کتاب الاجارة)

د ګمراه کوونکو کتابونو تجارت

سوال: نن صبا ځینې خلك د بې دینۍ او فحش ویلو، فرضي ناولونو د شرك او بدعاتو او نورو جرائیم پیشه خلکو په حالاتو او په سوانحو باندې د مشتملو کتابونو تجارت کوي آیا د ا تجارت جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه مسلمانان د شرك، بدعت، فحش ناولونو او د لادینیت خپرونکي کتابونو له مطالعې څخه منع کړي دي ځکه چه له دین څخه د لرې والي او ګمراهۍ سبب جوړیږي۔ له دې وجهې د داسې کتابونو له مطالعې څخه د ځان ساتنه ضروري ده۔ د اسې نه چه دغه تاجران د لادینیت آله کار او معاون جوړ شي۔ البته د راسخ العلم علماوو لپاره د ځواب دهي په نیت سره د داسې کتابونو د مطالعې ګنجائش شته ترڅو چه خلك د هغو له مطالعې څخه منع کړي۔

لما قال العلامة محمود آلوسیؒ: و استدل بعضهم على القول بان لهو الحدیث الکتب التی اشتراها النضر بن الحارث على حرمة مطالعة التواریخ الفرس القدیمة و سماع ما فیها و قرائته و فیه بحث و لا یخفٰی ان فیها من الکذب ما فیها فا لاشتغال بها لغیر غرض دینی حوض فی الباطل. (روح المعانی ج۷، ص۷۹، سورة المائدة)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: اذا اصاب المسلمون الغنائم و کان فیما اصابوا مصحف فیه شیء من کتب الیهود و النصارٰی...... فانه لا ینبغی للامام ان یقسم ذٰلك فی غنائم المسلمین مخافة ان یقع فی سهم رجل من المسلمینؒ...... و بیعه من المشرکین مکروه. (الفتاوی التاتارخانیة ج۵، ص۳۱۳، کتاب السیر، مسائل قسمة الغنائم)

د تعویذونو د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت

سوال: ځینې خلك د تعویذونو د اخیستلو او پلورلو دنده خپله کړې ده او د خلکو څخه د تعویذاتو په عوض کښې پیسې وصولوي آیا د تعویذاتو په عوض کښې پیسې اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تعویذ چونکه د علاج او معالجې لپاره استعمالیږي۔ په دې بناء باندې په جائزو معاملاتو کښې د مشروع تعویذ په عوض پیسې اخیستل او ورکول دواړه جائز دي۔ بیا هم مناسبه نه ده چه تعویذ فروشيؑ څوك د خپل معاش ذریعه جوړه کړي۔

لما اخرج الامام محمد بن اسماعیل البخاریؒ: عن ابی سعید الخدری رضی اللّٰه عنه ان ناسا من اصحاب النبی ﷺ اتوا على حی من احیاء العرف فلم یقروهم فبینما هم اذ لدغ سید اولٰئك هل معکم دواء اوراق فقالوا نعم انکم لا تقرون و لا نفعل حتٰی تجعلوا لنا جعلا فجعلوا لهم قطیعا من الساة فجعلوا یقرء بام القرآن و یجمع بزاقه و یتفل فبرأ فاتوا با

لساة فقالوا لا نأخذه حتی نسأل النبی علیه السلام فسئلوه فضحك و قال ما ادراك انها رقیة خذوها و اضربوا لی بسهم. (صحیح البخاری ج۲، ص۸۵۴، باب الرقی بفاتحة الکتاب و یذکر عن ابن عباس عن النبی ﷺ)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و لا بأس با لمعاوضات اذا کتب فیها القرآن....... اختلف فی الاستسقاء با لقرآن بان یقرأ على المریض او الملدوغ الفاتحة او یکتب فی ورق و یعلق علیه او طست و یغسل و یسقی و عن النبی علیه السلام انه کان یعوذ نفسه قال رضی اللّٰه عنه و على الجواز عمل الناس الیوم و به وردت الآثار. (رد المحتار ج۶، ص۳۶۴، فصل فی اللبس) وٗ مثله فی شرح المسلم للامام النوویؒ. (ج۲، ص۲۲۴، باب جواز اخذ الاجرة على الرقیة)

د اخبارونو اخیستل او خرڅول

سوال: په اخباراتو کښې اکثر تصویرونه وي او همدارنګه په داسې خبرو باندې مشتمل وي چه له حقیقت سره ئې ډیر لرې تعلق هم نه وي نو آیا د داسې اخباراتو اخیستل اوپلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اخباراتو د اخیستلو او پلورلو بنیادي مقصد د ملکي او غیر ملکي حالاتو څخه خبرتیا وي۔ باقي پاتې شو د تصویرونو مسئله نو د دې ګناه په هر حالت کښې په جوړوونکي باندې وي۔ البته که چېرته د اخباراتو او رسائلو مقصد یواځې فحاشي او عریاني ته ترقي ورکول وي او له هغه څخه د معاشرې د افرادو اخلاق او عادات متاثر کیږي نو په داسې صورت کښې ئې له اخیستلو او خرڅولو څخه ځان ساتنه ضروري ده۔

لما قال علی بن سلطان القاری رحمه اللّٰه: قال اصحابنا وغیرهم من العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم...... و اما اتخاذ المصور بحیوان فان کان معلقا على حائط سواء کان له ظل ام لا او ثوبا ملبوسا او حمامة او نحو ذٰلك فهو حرام و اما الوسادة و نحوها مما یمتهن فلیس بحرام. (المرقاة شرح مشکٰوة ج۸، ص۲۶۶، باب التصاویر)

قال العلامة فخر الدین الشهیر بقاضی خانؒ: و اذا سئل الرجل غیره الاخبار المحدثة فی البلد قال بعضهم یکره الاخبار و الاستخبار و قال بعضهم لا یکره الاستخبار و یکره الاخبار و الصحیح انه لا بأس با لاخبار ایضا لیکون عالما با لمصالح. (خانیة على هامش الهندیة ج۳، ص۴۲۵) و مثله فی الصحیح البخاری (ج۱، ص۲۸۳، باب کم یجوز الخیار)

په نورو ممالکو کښې د مال اخیستل او تررسیدلو مخکښې ئې د پلورلو حکم

سوال: نن صبا لوی لوی تجاران له نورو ملکونو څخه مالونه غواړي او تررسیدلو مخکښې ئې خرڅوي او د مشتري په نامه اخیستل شوی د تجارت مال د مشتري ملك تصور کوي۔ نو آیا مخکښې له قبض څخه د مالونو پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په باقاعده توګه په مال باندې له قبضې څخه مخکښې د مال پلورل شرعا جائز نه دي۔ لیکن نن صبا لوی لوی کاروباري خلك د نورو ممالکو څخه چه کوم شیان غواړي نو په رسیدلو کښې ئې ډېر وخت لګیږي چه په هغه کښې د بازار د سست والي

اندیښنه وي او د اخیستونکو د کمیدو خطره هم وي نو له دې وجهې د د اسې مالونو د پلورلو دوه صورتونه کیدلی شي۔

﴿۱﴾ مال غوښتونکی د مال اخیستونکي سره د بیع په ځای د بیع وعده وکړي چه کله مال ورسیږي یعني د مال په رسید و سره په دومره قیمت سره ئې په تا باندې خرڅوم نو بیا به د مال په رسید و باندې به بیع درسته وي۔ البته په دې صورت کښې د وعدې خلاف ورزي خو کله کله ضرور پیښیږي په دې صورت کښې بیا له جانبینو څخه د یوه په انکار باندې هغه په دوهمې بیعې باندې مجبورولی نه شي۔

﴿۲﴾ یو څوك یا مال برداري کمپنۍ (کوم چه د مال د رسولو کاروبار کوي) دې وکیل با لقبض جوړ کړي او د مال د رسولو کرایه چونکه په خرید ار باندې وي نو ځکه د دغه اخیستونکي په اجازې سره ئې خرڅوونکی چه چا ته هم حواله کړي نو هغه به د مشتري ملك او قبضه تصور کیږي اګر که اخیستونکی د دغه شخص یا مال بردار ې کمپنۍ تعین هم و نه کړي۔ په دې بناء باندې چه کله هم مال د هغه سړي یا مال برداري کمپنۍ په تحویل کښې راشي نو دا به د خرید ار یعنې مشتري ملك تصور کیږي نو بیا به بیع جائزه وي۔

لما قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: رجل اشترى عبدا و لم یقبضه فامره ان یهبه من فلان ففعل البائع ذٰلك و دفعه الى الموهوب له جازت الهبة و صار المشترى قابضا و كذا لو امر البائع ان یواجره فلانا معینا او غیر معین ففعل جاز و صار المستاجر قابضا لمشترى اولا ثم یصیر قابضا لنفسه و الاجر الذى یاخذه البائع من المستاجر یحسبه من الثمن ان كان من جنسه. (البحر الرائق ج٦، ص١١٧، باب المرابحة و التولیة)

لما قال فى الهندیة: اذا قال المشترى للبائع ابعث الى ابنى و استاجر البائع رجلا یحمله الى ابنه فهذا لیس بقبض و الاجر على البایع الا ان یقول استاجر علىّ من یحمله فقبض الاجیر یكون قبض المشترى ان صدقه انه استاجر و دفع الیه و ان انكر استجاره و الدفع الیه فا لقول قوله كذا فى التاتار خانیة. (الفتاوى، الهندیة ج٣، ص١٩، الباب الرابع فى حبس المبیع با لثمن) و مثله فى رد المحتار (ج٥، ص١٤٩، مطلب فى تصرف البایع فى المبیع قبل القبض)

د سپیو د تجارت شرعي حیثیت

سوال: د سپو اخیستل او پلورل د شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: رسول اللّٰهﷺ د جائزې، فائدې او نفعې لپاره د سپي د اخیستلو او پلورلو اجازه ورکړې ده۔ مثلا د ښکار لپاره یا د چوکیدارۍ یعنې د کور د څارنې او حفاظت لپاره ئې اخیستل او پلورل شرعا مرخص دی۔

لما قال النبیﷺ: ابو حنیفة عن الهیثم عن عكرمة عن ابن عباس رضى اللّٰه عنهما قال رخّص رسول اللّٰهﷺ فى ثمن كلب الصید. (المسند الامام الاعظم ص٣١٩، باب الرخصة فى ثمن كلب الصید)

قال على بن ابى بكر المرغینانى رحمه اللّٰه: یجوز بیع الكلب....... و لانه ینتفع به حراسة و اصطیادا فكان مالا فیجوز بیعه. (الهدایة ج٣، ص١٠٣، مسائل منثوره، كتاب البیوع) و مثله فى رد المحتار (ج٥، ص٢٢٧، باب المتفرقات، كتاب البیوع)

د مرغانو د تجارت حکم

سوال: ځینې خلك مرغان نیسي او پلوري ئې لکه باز، بټیر، تیتر، زرکه او د اسې نور مرغان نیسي او ښې روپۍ پرې ګټي نو آیا د شریعت له مخې دغه کاروبار جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د مرغانو ښکار او نیول جائز ګرځولی دی او د هغو د اخیستلو او خرڅولو اجازه ئې هم ورکړې ده په دې معامله کښې د جانبینو له خوا څخه په رضاء او رغبت چه کوم قیمت مقرر شي نو شرعا به مرخص وي او له یوه او بل سره ئې د جنګولو لپاره اخیستل او پلورل جائز نه دي له دې څخه باید هر څوك اجتناب وکړي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و صح بیع الكلب......... و كذا الطیور اى الجوارح و الفهد و الباز یقبلان التعلیم فیجوز بیعها على كل حال. (رد المحتار ج٥، ص٢٢٧، باب المتفرقات، كتاب البیوع)

قال فى الهندیة: و كذا بیع السور و سباغ الوحش و الطیر جائز عندنا معلما كان او لم یكن كذا فى الفتاوى قاضى خان. (الفتاوى الهندیة ج٣، ص١١٤، الفصل الرابع فى بیع الحیوانات) و مثله فى البرجندى (ج٣، ص٤٤، كتاب البیوع)

د خنزیر د تجارت حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! آیا په اسلام کښې د خنزیر د اخیستلو او پلورلو د جواز ګنجائش شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام چونکه خنزیر حرام او نجس العین ګرځولی دی او له خنزیر څخه هر ډول انتفاع او اخیستل او خرڅول ئې حرام او ناجائز ګرځولی دی نو ځکه د هر یوه مسلمان لپاره د اسلام له مخې خنزیر د آمدن او ګټې ذریعه ګرځول جائز نه دی او نه ورسره ښایي۔ دا وجه ده چه شرعا خنزیر چه کله په عقد کښې راشي نو که مبیعه وي او که ثمن عقد ئې باطل دی۔ له دې وجهې د خنزیر اخیستل او پلورل جائز نه دي۔ بیا هم که چېرته په یوه اسلامي ملك کښې ذمي کافران اوسیدل نو هغو ته ئې پخپل منځ کښې د اخیستلو او پلورلو ګنجائش شته۔

لما قال العلامة مرغینانى رحمه اللّٰه: اذا كان احد العوضین او كلاهما محرما فا لبیع فاسد كا لبیع با لمیتة و الدم و الخمر و الخنزیر. (الهدایة ج٣، ص٥٣، باب البیع الفاسد)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشیدؒ: و لو باع الخمر و الخنزیر كان باطلا باعها من مسلم او لمسلم. (خلاصة الفتاوىٰ ج٣، ص٤١، كتاب البیوع، الباب الرابع فى البیع الفاسد و احكامه) و مثله فى الهندیة (ج٣، ص١٤٦، كتاب البیوع، الباب الحادى عشر فى احكام البیع الغیر الجائز)

له دباغت څخه وروسته د مردار ځناور د پوستکي پلورل

سوال: د مړه شوي غیر مذبوح ځناور د پوستکي ایستل او په باقاعده توګه ئې له دباغت نه وروسته پلورل جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه له غیر مذبوح ځناور څخه انتفاع ممنوع ګرځولې ده لیکن د پوستکي ئې په باقاعده توګه له دباغت او یا وچولو نه وروسته پلورل جائز ګرځولي دي۔

لما ورد فی الحدیث: عن عبد الله بن عباس رضی الله عنهما اخبره ان رسول اللهﷺ مر بساة فقال هلا استمتعتم باهابها قالوا انها میتة قال انما حرم اکلها. (رواه البخاری ج۱، ص۲۹۶، باب جلود المیتة قبل ان تدبغ)

قال العلامة الزیلعیؒ: و جلد المیتة قبل ان تدبغ یعنی لا یجوز بیعه و بعده یباع و ینتفع به......... یعنی بعد الدباغ یجوز بیعه. (تبیین الحقائق ج۴، ص۵۱، باب البیع الفاسد) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص۵۵، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد)

د مردار ځناور د هډوکو پلورل

سوال: هغه مردار ځناور چه د غوښې خوړل ئې په شریعت کښې منع دي آیا د هغوی هډوکي جمع کول او بیائې پلورل جائز دي او که نه او حال دا چه دغه ځناور ئې په باقاعده توګه ذبح کړی نه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له خنزیر څخه علاوه د نورو مردارو ځناورو پوستکي د دباغت نه مخکښې پلورل جائز نه دي لیکن د هډوکو، ویښتانو او وړیو اخیستل او پلورل ئې شرعا مرخص دي ځکه چه د یوه ځناور د مرګ په وجه سره ئې دا شیان نه مرداریږي۔ له دې وجهې که چېرته یو ځناور په باقاعده توګه مذبوح هم نه وي نو بیائې هم د هډوکو پلورل جائز او مرخص دي۔

لما قال المرغینانی رحمه الله: و لا باس بیع عظام المیتة و عصبها و صوفها و قرنها و شعرها و وبرها و الانتفاع بذلك کله لانها طاهرة لا یحلها الموت لعدم الحیاة. (الهدایة ج۳، ص۵۸، باب البیع الفاسد)

قال العلامة الزیلعیؒ: و جلد المیتة قبل الدباغ و بعده یباع و ینتفع به کعظم المیتة و عصبها و صوفها و قرنها و وبرها یعنی بعد الدباغ یجوز بیعه کما یجوز بیع عظم المیتة. (تبیین الحقائق ج۴، ص۵۱، باب البیع الفاسد) و مثله فی الخانیة علی هامش الهندیة (ج۲، ص۱۳۳، کتاب البیع، فصل فی البیع الباطل)

د ګندګۍ خوړونکي ځناورو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: ځینې ځناور مثلا چرګان، ووزې او داسې نور د ګندګیو او بدبو دارو شیانو د خوړلو عادي وي نو که چېرته د داسې شیانو د خوړلو په وجه سره د هغوی څخه بدبویي محسوس شي نو په داسې حالت کښې د هغوی اخیستل او پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغه ذکر شوي ځناور د ګندګۍ د خوړلو په وجه سره بدبو شوي وي نو په دې صورت کښې ئې خوړل او اخیستل او پلورل مکروه دي او که بیا هم د ګندګۍ د خوړلو څخه منع کړی شي او د بدبویی تر زائلیدو پورې ئې بند وساتل شي نو بیائې خوړل، اخیستل او پلورل جائز دي او څه حرج پکښې نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: الجلالة التی تاکل العذرة کره لحمها و تحبس الجلالة حتی یذهب نتن لحمها و فی المنتقی الجلالة المکروهة التی اذا قربت وجدت منها رائحة فلا توکل و لا یشرب لبنها و لا یعمل علیها و تلك حالها و یکره بیعها و هبتها و تلك حالها. (رد المحتار ج۶، ص۳۴۰، کتاب الحظر و الاباحة)

قال ابن نجیمؒ: و لا تؤکل الجلالة و لا یشرب لبنها لانه علیه السلام نهی عن اکلها و شرب لبنها و الجلالة التی تعتاد اکل الجیف و لا تخلط فیکون لحمها متنا و لو حبست حتی یزول النتن حلت. (البحر الرائق ج۸، ص۱۸۲، فصل فی الاکل و الشرب) و مثله فی الهندیة (ج۶، ص۳۰۸، الفصل الثانی عشر فی الاجارات و المزارعات)

د ییږ ذبح کول او غوړي ئې ایستل او خرڅول

سوال: ییږ په شرعي طریقې سره ذبح کول او بیا بیا د غوښې، غوړي، او تیل ایستل د دې لپاره چه ځناورو ته ئې د طاقت د زیاتوالي لپاره ورکړي نو آیا په دې طریقې سره چه څوك د ییږ غوړي وباسي او بیائې وپلوري نو ورته جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په باقاعده شرعي ذبحې سره د حرامو ځناورو غوښه او پوستکي پاکیږي لیکن حلالیږي نه۔ نو په دې بناء باندې د هغه د غوښې او نورو شیانو څخه د غوړیو یا تیلو ایستل او د انسان د خوراك نه علاوه د ځناورو او نورو ضروریاتو لپاره ئې استعمالول جائز دي او اخیستل او پلورل ئې هم جائز دي۔

لما قال فی الهندیة: و اما حکمها فطهارة المذبوح و حل اکله من الماکول و طهارة غیر الماکول للانتفاع لا بجهة الاکل کذا فی محیط السرخسی. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۲۸۲، کتاب المعاملة، الباب الثانی فی المتفرقات)

قال فخر الدین عثمان بن علی الزیلعیؒ: فجاز بیعه و لحوم السباع و شحومها و جلودها بعد الزکاة کجلود المیتة بعد الدباغ حتی یجوز بیعها و الانتفعاع بها فی غیر الاکل لطهارته با لزکاة. (تبیین الحقائق ج۴، ص۵۱، باب البیع الفاسد) و مثله فی الهدایة (ج۴، ص۴۴۲، کتاب الاضحیة)

د دباغت نه مخکښې د مردارو ځناورو د پوستکي د پلورلو حکم

سوال: په ځینې علاقو کښې د مردارو ځناورو پوستکي ایستل کیږي او د دباغت څخه مخکښې پلورل کیږي۔ آیا د داسې پوستکي استعمال او پلورل جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د مردارو ځناورو له اجزاء څخه د هیڅ ډول فائدې اخیستل هم جائز نه دي۔ لهذا د هغه د پوستکي ایستل او د دباغت (رنګولو) نه مخکښې ئې پلورل ناجائز او حرام دي البته د پوستکی له باقاعده دباغت نه وروسته په استعمالولو او پلورلو کښې شرعا هیڅ حرج نشته۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و لا یبیع جلود المیتة قبل ان تدبغ لانه غیر منتفع به و لا بأس ببیعها و الانتفاع بها بعد الدباغ. (الهدایة ج۳، ص۵۸، باب البیع الفاسد)

قال ابن نجیم رحمه الله: (و جلد المیتة قبل الدبغ) ای لم یجز بیعه لانه غیر منتفع به. (البحر الرائق ج۶، ص۸۱، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۱۱۵، کتاب البیوع، الفصل الخامس فی بیع المحرم الصید.. الخ)

د روح لرونکو شیانو د مجسمو پلورل او اخیستل

سوال: که چېرته د لوبو شیان د چرګ، هیلی، کوتره او نورو ځناورو او مرغانو په شکل کښې جوړ کړی شي نو د داسې شیانو اخیستل او پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بغیر له ضرورته د تصویرونو ایستل او جوړول د شریعت له مخې ممنوع دي نو د دې لپاره د یوه مسلمان لپاره ضروري دي چه د مرغانو او ځناورو په شکل کښې د لوبو د شیانو د اخیستلو او پلورلو څخه اجتناب وکړي۔ چنانچه حضرت عبد الله ابن عباس یوه ورځ له دې څخه منع وفرمائله او د اسې ئې وویل۔

لما ورد فی الحدیث: فقال ابن عباس رضی الله عنهما لا احدثك الا ما سمعت رسول اللهﷺ یقول سمعته یقول من صوّر صورة فان الله معذبه حتی ینفخ فیها الروح و لیس بنافخ فیها ابدا فربا الرجل ربوة شدیدة و اصفر وجهه فقال ویحك ان ابیت الا ان تصنع فعلیك بهذا الشجر کل شیء لیس فیه روح. (صحیح البخاری ج۱، ص۲۹۶، باب بیع التصاویر التی لیس فیها روح و ما یکره من ذٰلك)

قال العلامة الحصکفیؒ: اذا ثبت کراهیة کسبها لتختم ثبت کراهیة بیعها وضعها لما فیه من الاعانة علی ما یجوز و کل ما ادی الی ما لا یجوز لا یجوز. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۶۰، فصل فی اللبس) و مثله فی عمدة القاری (ج۲، ص۳۸، باب بیع التصاویر الخ)

د چرګانو په تول خرڅول

سوال: ژوندي چرګان تلل، د هغو وزن معلومول او بیا ئې پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: روح لرونکي شیان په دې لحاظ سره چه هغوی عددي تفاوت سره لري نو د وزن یعنې تلل او یا د پیمانه کولو یعنې کچلو په ذریعې سره ئې پلورل جائز نه دي ځکه چه د سا د اخیستلو په وجه د هغو په وزن کښې د کموالي او زیاتوالي احتمال وي کوم چه مفضي الی النزاع دی۔ البته په دور حاضر کښې خلك د دې معمولي غوندې کموالي او زیاتوالي پروا نه کوي نو د نزاع د نشت والي په صورت کښې د اسې بیع باید جائزه شي ځکه چه په دې زمانې کښې عادات په دې باندې جاري دي۔ او حال دا چه په تیرې زمانې کښې د عادت په وجه سره د داسې بیعې د عدم جواز فتوی ورکړ شوې وه۔

لما قال المرغینانی رحمه الله: لان الحیوان لا یوزن عادتا و لا یمکن معرفة ثقله با لوزن لان یخفف نفسه مرة و یثقل اخرٰی. (الهدایة ج۳، ص۸۴، کتاب البیوع، باب الربوٰ)

قال ابن الهمامؒ: و انما قلنا ان الحیوان لیس بموزون لانه لا یوزن عادةً فلیس فیه احد المقدرین الشرعیین الوزن او الکیل. (فتح القدیر ج۶، ص۱۶۷، کتاب البیوع، باب الربوٰ) و مثله فی العنایة علی هامش فتح القدیر (ج۶، ص۱۶۷، باب الربوٰ)

د آزادې او اصیلې ښځې د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: په ځینې علاقو کښې دا رواج دی چه د خور یا لور د ودولو په وخت کښې والد یا سر فهرست د مهر په نامه سره یوه اندازه کافي پیسې اخلي او پخپله ئې استعمالوي لیکن په دې کښې د ډیرولږو روپو خپلې هغې خور او لور ته سامان اخلي او ورکوي ئې آیا په دې طریقې سره د پیسې اخیستل او پخپله ئې استعمالول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې دا خبره واضحه ده چه په مهر کښې مبالغه ښه نه ده۔ او مهر باید چه د منځنۍ درجې وي او چه د چا په حق کښې تعین شوی وي نو د هغه حق به وي د هغه له اجازې نه علاوه بل چا ته د هغه د استعمالولو حق نشته او د بعضې علاقو دا مذکوره رواج د آزادې ښځې د پلورلو غوندې ګرځیدلی دی بلکه په ظاهره سره هغه ته د مهر نوم ورکوي۔ له دې وجهې د اسې پیسې اخیستل ناجائز او حرام دي۔

لما قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: و بطل بیع ما لیس بمال کا لدم و المیتة و الحر. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۵۲، باب البیع الفاسد)

قال علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه الله: اذا کان احد العوضین او کلاهما محرما فا لبیع فاسد و کذا اذا کان غیر مملوك کا لحر. (الهدایة ج۳، ص۵۳، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد) و مثله فی مجلة الاحکام (ص۲۱۰، الفصل الثانی فیما یجوز بیعه و ما لا یجوز)

د سوځول شویو وینو د ایرو تجارت

سوال: محترم مفتي صاحب نن صبا اکثره په لویو لویو ښهرونو بلکه په بعضې کلیو کښې هم د ځناورو د وینو تجارت عام دی چه له مذبح ځایونو څخه وینه جمع او هغه سوزوي او بیائې ایرې په هغو کارخانو باندې خرڅوي کوم چه د فارمي چرګانو کاروبار کوي آیا د ځناورو د وینو تجارت شرعا جواز لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یو ځناور وینه اګرکه مال متقوم نه دی چه خرڅ کړی شي لیکن ډیر وخت د عرف له وجهې د کوم ضرورت لاندې غیر مال لکه وینه، سره (د انسان یا نورو ځناورو ګندګي) او د اسې نور هم مال جوړیدلی شي او فقهاء اسلام د غه بیع جائزه ګرځولې ده۔ نو د صورت مسئوله مطابق نن صبا د ځناورو له وینې څخه د فارمي چرګانو خوراکونه جوړیږي او د ضرورت لاندې د اسې کاروبار کیږي۔ نو ځکه د عرف په بناء د غه مال ګڼل کیږي او په ذکر شوي صورت کښې هغه وینه وینه هم نه پاتې کیږي بلکه ایره ترې جوړه شوي وي۔ او خپل حقیقت او ماهیت ئې ختم شوی وي۔ نو ځکه د سوزول شوې وینې تجارت بغیر د شك او شبهې څخه جائز دی۔

لما قال العلامة ظفر احمد العثمانی: "دا تجارت جائز دی .... د دغو قولونو مقتضٰی دا ده چه که چېرې هر وخت د وینې قیمت د عرف او رواج له مخې کیښودل شي نو د هغې اخیستل

او خرڅول صحیح دي او د وینې ایره خو پاکه ده د هغې په خرڅولو کښې هیڅ شك او شبهه نشته۔ (امداد الاحکام ج۳، ص۳۵۴، ۳۵۵، کتاب البیوع)

د وینې د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د وینې اخیستل او پلورل د شریعت له مخې جواز لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وینه چونکه مال متقوم نه دی نو ځکه ئې شرعاً اخیستل او پلورل جائز نه دی بیا هم که چېرته د یوه مریض د ضرورت شدیده په وخت کښې بغیر له قیمت څخه وینه نه پیدا کیدله نو قیمت دې ورکړي په داسې وخت کښې به د وینې اخیستل د تداوي بالمحرم په وجه سره مرخص وي لیکن د وینې ورکوونکي لپاره د وینې د قیمت اخیستل جائز نه دي ترڅو چه وینه د بازار متاع و نه ګرځي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰہ: بطل بیع ما لیس بمال ای لیس بمال فی سائر الادیان کا لدم. (رد المحتار ج۵، ص۵۱، مطلب لبیع الموقوف من قسم الصحیح)

قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: لم یجز بیع المیتة و الدم لانعدام المالیة هی رکن البیع. (البحر الرائق ج۶، ص۷۰، باب البیع الفاسد) و مثله فی تبیین الحقائق (ج۴، ص۴۴، باب البیع الفاسد)

د انساني اعضاؤ د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت

سوال: په ځینو حالاتو کښې کله کله یو مریض ته د سترګې، ګردې یعنې پښتورګي یا د کوم بل انساني عضو (اندام) ضرورت وي نو آیا د دغو اعضاوو اخیستل او پلورول جائز دي او که نه. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: انسان په مجموعي ډول سره اللّٰه تعالی مکرم او مشرف پیدا کړی دی۔ د دې تکریم او شرافت په بناء سره د انساني اعضاوو اخیستل او پلورل جائز نه دي۔ ځکه چه په دې صورت کښې انساني اعضاء د بازار متاع جوړیږي او بیا ئې عظمت متاثر کیږي او اهانت ئې لازمیږي۔ بیا هم کله کله د ډیرې مجبورۍ په خاطر مرخص کیدی شي۔

لما قال العلامة کمال الدین ابن الهمام رحمه اللّٰہ: و الانتفاع به لان الآدمی مکرم غیر مبتذل فلا یجوز ان یکون شیء من اجزائه مهانا و مبتذلا و فی بیعه اهانة له و کذا فی امتهانه با لانتفاع. (فتح القدیر ج۶، ص۶۳، باب البیع الفاسد)

قال العلامة الکاسانیؒ: و الآدمی بجمیع اجزائه محترم و مکرم و لیس من الکرامة و الاحترام ابتذاله با لبیع و الشراء. (البدائع الصنائع ج۵، ص۱۴۵، کتاب البیوع، فصل و اما الذی یرجع الی المقصود........ الخ) و مثله فی رد المحتار (ج۶، ص۳۷۲، کتاب الخطر و الاباحة، فصل فی النظر و المس)

په ځنګل کښې لرګي وهل او بیائې د خرڅولو حکم

سوال: په ځنګلونو کښې د لرګیو وهل او بیائې پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ځنګل که چېرته د یوه قوم، خاندان یا د حکومت باقاعده مملوك او

ملکیت نه وي نو له داسې ځنګل څخه لرګي او داسې نور شیان جمع کول او بیا پلورل شرعا جائز دي او که چېرته ځنګل د چا شخصي ملکیت وي نو چونکه په دې کښې د نورو شریکانو د حق تلفی اندیښنه وي له دې وجهې د هغوی د رضاء نه بغیر ئې د لرګو پلورل جائز نه دي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰہ: و الحطب فی ملك رجل لیس لاحد ان یحتطبه بغیر اذنه و ان کان غیر ملك فلا باس به و لا یضر نسبة الی قریة او جماعة ما لم یعلم ان ذلك ملك لهم و کذلك الزرنیخ و الکبریت و الثمار فی المروج و الادویة. (رد المحتار ج۶، ص۴۴۰، فصل الشرب)

قال العلامة سلیم رستم باز رحمه اللّٰہ: الاشجار التی تنبت بلا غرس فی الجبال المباحة غیر المملوکة (بحذف یسیر) و القبر، و الزرنیخ و الفیروزج کا لشجر فمن اخذ من هذه الاشیاء ضمن و الحطب فی ملك رجل لیس لاحد ان لحتطبه بغیر اذنه و ان کان فی غیر ملك فلا باس به و لا تضر نسبته الی قریة او جماعة ما لم یعلم ان ذلك ملك لهم. (شرح المجلة تحت المادة ۴۴، ص۱۲۴۳، الفصل الاول فی الاشیاء المباحة) و مثله فی الجامع الفصولین (ج۲، ص۲۶۶ و ۲۶۷، الفصل الخامس و الثلاثون فیما یمنع عنه و ما لا یمنع)

د قبرستان د ونو له پرې کولو څخه مخکښې د پلورلو حکم

سوال: د قبرستان د ونې له کټ کولو څخه مخکښې پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قبرستان زمکه که چېرته په باقاعده توګه وقف شوې وي نو بیا د داسې زمکې ونې څوك په ذاتي استعمال کښې نه شي راوستلی البته د هغو ونو کومې چه میوه نه لري له کټ کولو یعنې پرې کولو څخه مخکښې ئې پلورل جائز دي او میوه لرونکي ونې مخکښې له کټ کولو څخه خرڅول جائز نه دي۔ او د ونو په عوض کښې چه کومې پیسې حاصل شوي دي هغه به د قبرستان په ضروریاتو کښې مصرف کیږي او چا ته د دغو پیسو پخپل ذاتي احتیاجاتو کښې د مصرف کولو اختیار او اجازه نشته۔

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری رحمه اللّٰہ: و فی الجامع و فی فتاوی ابن الفضل سئل عن اشجار موقوفة مع الارض ا یجوز بیعها قال لا یجوز قبل القلع کبیع الارض و بعد القلع یجوز. و قال ایضا الاشجار الموقوفة اذا کانت غیر مثمرة یجوز بیعها قبل القلع لانها هی الغلة بعینها و المثمرة لم یجز بیعها الا بعد القلع کبناء الوقف و الباب لا یجوز بیعه قبل الدفع. (التاتارخانیة ج۵، ص۸۷۵، کتاب الوقف، مسائل وقف الاشجار)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰہ: و فی البزازیة و قال الفضلی و بیع الاشجار الموقوفة مع الارض لا یجوز قبل القلع کبیع الارض. و قال ایضا اذا لم تکن مثمرة یجوز بیعها قبل القلع ایضا لانه غلتها و المثمرة لا تباع الا بعد القلع کبیع البناء الوقف بحر. (فتاوی تنقیح الحامدیة ج۱، ص۱۱۵، فصل فی مطلب بیع الاشجار الوقف) و مثله فی الهندیة (ج۲، ص۴۱۷، الباب الخامس فی ولایة الوقف و تصرف القیم)

د پخپله شنو شویو ونو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: که چېرته د چا په مملوکه زمکه کښې خپل سري وابنه شنه شوي وي نو د هغو خرڅول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: خپل سري و ابنه اګر که په مملوکه زمکې باندې هم وي- تر ریبدلو مخکښې ئې اخیستل او پلورل جائز نه دي بیا هم که چېرته په خپل سري و ابنه یعنې د پخپله شنه کیدونکو وښو په کرلو او حفاظت کښې د زمکې د مالك محنت او خواري شامل وي مثلاً د هغه حفاظت ئې په دیوال، تارونو یا په بل شي باندې کړي وي او اوبو ئې ورکړې وي نو د دې محنت له وجهې د زمکې د مالك لپاره د د اسې ډول وښو پلورل جائز دي- په دې شرط سره چه و ئې ریبي او بیا ئې خرڅ کړي-

لما قال النبی ﷺ عن رجل من مهاجرین من اصحاب النبی ﷺ قال عزوت مع النبی ﷺ ثلاثا اسمعه یقول المسلمین شرکاء فی ثلاث الماء و الکلاء و النار. (ابو داؤد ج۲، ص۱۲۶)

قال فی الهندیة: و لا یجوز بیع الکلاء و اجارته و ان کان فی ارض مملوکة غیر ان لصاحب ان یمنع ففی الذخیرة و المحیط و النوازل یجوز بیعه لانه ملکه و هو مختار الشهید. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص۱۰۹، الفصل الثانی فی بیع الاثمار و انزال الکروم و الاوراق الخ) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۷۷، باب البیع الفاسد)

له خپلې مملوکه ونې څخه د شهدو (ګبین) پلورل

سوال: که چېرته د کوم سړي په زمکې باندې ونه وي او په هغې کښې د شهدو مچیو ګبین جوړ کړي وي نو د دغو ګبینو د پلورلو اختیار به د همدې زمکې مالك ولري او که هر څوك ئې پرې کولی او بیا ئې خرڅولی شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پخپله مملوکه زمکه کښې د شهدو پلورل او د نورو مالکانه تصرفاتو حق یوائې د زمکې مالك ته حاصل دی ځکه چه شهد د ونې تابع ګرځي او د ونې په حکم کښې راځي نو په دې بناء چونکه په دې کښې د تصرف حق یوائې د زمکې مالك ته حاصل دی نو له دې وجهې په شهدو باندې اختیار هم هغه ته حاصل دی بل څوك ئې د پلورلو او د نورو تصرفاتو هیڅ حق نه لري-

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: بخلاف ما اذا عسل النخل فی ارضه لانه عد من انزاله فیملکه تبعا لارضه کالشجر النابت فیه و التراب المجتمع فی ارضه بجریان الماء. (الهدایة ج۳، ص۱۰۶، کتاب البیوع، مسائل منثورة)

قال ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: بخلاف معسل النحل فی ارضه حیث یملکه و ان لم تکن ارضه معدة لذلك من انزال الارض حتی یملکه تبعا لها کا لاشجار النابتة. (البحر الرائق ج۶، ص۱۷۸، کتاب البیوع، باب المتفرقات) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۴۳۵، کتاب البیوع)

په بیعه باندې د اخیستل شویو ونو له بیخه (له ولیو) څخه د ایستلو حکم

سوال: یوه سړي څو دانې ونې واخیستلې د کټ کولو په وخت کښې د دواړو په منځ کښې سختې خبرې وشوې چه ونه به له کوم ځای څخه پرې کوو- د زمکې مالك ئې له تنې څخه د پرې کولو اصرار کوي او حال دا چه مشتري ئې د وُلیې څخه ایستل غواړي نو آیا د شریعت له

مخې د ونې د پرې کولو څه حد مقرر دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د بیع د عقد په وخت کښې د ونو سودا بغیر د څه شرط نه شوې وي نو د مشتري لپاره د ونې ایستل د ولیې څخه جائز دي لیکن که چېرته د بیع په وخت کښې د زمکې له مخ څخه ئې د کټ کولو شرط لګولی وي نو د زمکې د سطحې نه به ئې پرې کوي او که چېرته د ولیې څخه د ایستلو په صورت کښې ونې ته نژدې کوهي، دیوال یا د اسې نورو ته د نقصان د رسیدو خطره وي نو بیا به ئې هم له بیخه نه باسي بلکه د زمکې له مخ سره به ئې برابر پرې کوي-

لما قال ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: و فیها اذا اشتری شجرة للقلع فانه یؤمر بقلعها بعروقها و لیس له حفر الارض الی انتهاء العروق بل بقلعها علی العادة الا ان شرط للبائع القلع علی وجه الارض او یکون فی القلع من الاصل مضرة علی البایع کما اذا کانت بقرب حائط او بئر لانه یقطعها علی وجه الارض. (بحر الرائق ج۵، ص۲۹۴، کتاب البیع، فصل یدخل البناء و المفاتیح فی بیع الدار)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: اشتری شجرة للقلع یؤمر بقلعها بعروقها و لیس له حفر الارض الی نتهاء العروق بل بقلعها علی العادة الا ان شرط البایع القطع علی وجه الارض او یکون فی القلع من الاصل مضرة للبایع ککونها بقرب حائط او بئر فیقطعها علی وجه الارض. (رد المحتار ج۴، ص۵۵۴، مطلب فی بیع الثمر و الزرع و الشجر مقصودا) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۳۵، کتاب البیوع، الفصل الثانی)

په د اسې حالت کښې د باغ د پلورلو حکم چه ځینې میوې ئې ښکاره وي او ځینې ئې نه وي

سوال: ځینې خلك د باغ د بعضې میوو د ښکاریدلو په حالت کښې په اخیستونکي باندې پلوري او حال دا چه دا معلومات نه وي چه د میوو مقدار به څومره وي او یا په مستقبل کښې به ئې کیفیت څرنګه وي په دې حالت کښې کیدی شي چه په ونه کښې د اسې میوه هم وي چه د هغه تر اوسه پورې وجود هم نه وي ښکاره شوی که چېرته د اسې باغ خرڅ کړی شي نو د شرعې له مخې به ئې څه حکم وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت کښې د یوه شي د پلورلو د صحت لپاره دا ضروري ده چه مبیعه د عقد په وخت کښې موجود وي ترڅو چه بائع هغه مبیعه مشتري ته وسپاري او خپله ذمه فارغه کړي- په نوموړي صورت کښې چه کومه میوه ښکاره شوې وي که د انسانانو د خوړلو قابل وي او که نه وي نو د هغه اخیستل او پلورل جائز دي لیکن که چېرته د باغ د پلورلو په وخت کښې میوه ښکاره نه وي نو بیا ئې دوه صورته کید ای شي- یو دا چه میوه تر اوسه پورې بالکل ظاهره نه وي نو دا عقد به معدوم او ناجائز وي او دوهم دا چه ځینې میوې ئې ظاهرې وي او ورځ په ورځ په باغ کښې میوې زیاتیږي- په دې حالت کښې که چېرته مالك دا

موجوده یعنې ښکاره شوې میوه وپلوري لیکن کومې میوې چه تر اوسه ښکاره شوې نه وي هغه ئې نه وي پلورلی نو ظاهر مذهب دا دی چه دا بیعه فاسده ده۔

لیکن د عموم بلوی او د ضرورت له وجهې علماوو د جواز فتوی ورکړې ده او هغه داسې چه کومې میوې چه وروسته پیدا کیږي د هغو لپاره د باغ د اجارې په عوض د مشتري لپاره د درنې یا ښې برخې په معین کولو سره بائع ته مثلاً د زرمې حصې د ورکولو حیله جوړوي نو بیا به معامله او بیع صحیح کیږي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: و الحیلة ان یأخذ السجرة معاملة علی ان له جزءً من الف جزءٍ و فی الزرع و الحشیش یشتری الموجود ببعض الثمن و یستاجر الارض مدة معلومة یعلم فیها الادراك بباقی الثمن و فی الاشجار الموجود و یحل له البایع ما یوجد فان خاف ان یرجع یقول علی انی متی رجعت فی الاذن تکون ماذونا فی الترك شمنی ملخصا. (الدر المختار مع رد المحتار ج ٤، ص٥٥٨، کتاب البیوع)

قال العلامة ابن الهمامؒ: و فی ثمار الاشجار یشتری الموجود و یحل له البایع ما یوجد فان خاف ان یرجع یفعل فی الاذن فی ترك الثمر علی الشجر و هو ان یأذن المشتری علی انه متی رجع من الاذن کان ماذونا فی الترك باذن جدید فیجعله علی مثل هذا الشرط. (فتح القدیر ج٥، ص٤٩٢، کتاب البیوع) و مثله فی خلاصة الفتاوی (ج٣، ص٢٩، کتاب البیوع، الفصل الثالث فیما یجوز بیعه الخ)

تر پخید و پورې د شرط لګولو په صورت کښې د فصل اخیستل

سوال: که د غنمو او اوربشو اوم فصل په دې شرط سره واخیستل شي چه په همدې زمکې کښې به د پخیدلو تر وخته پورې وي او د پخیدلو نه وروسته به ئې ریبي نو آیا دا بیع به شرعا صحیح وي او که نه او همدا رنګه د جواز ئې کوم صورت کیدلی شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غنمو، اوربشو او نورو فصلونو په دې شرط سره پلورل چه د پخیدلو نه وروسته به ئې ریبي نو دا صورت ناجائز دی البته فقهاوو د جواز یو صورت ذکر کړی دی او هغه دا چه فصل په مستقل ډول سره قیمتا واخلي او تر یوې خاصې مودې پورې زمکه په اجاره ورته ونیسي او په هغه تاکل شوې نیټې کښې فصل وریبي نو په دې صورت کښې دا بیع صحیح او همدا رنګه تر پخیدلو پورې به د فصل باقي پاتې کیدل صحیح وګرځي۔

لما قال طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و ان کان البیع بشرط الترك لا یجوز. (خلاصة الفتاویٰ ج٣، ص٢٩، کتاب البیوع، الفصل الثانی فیما یجوز بیعه......... الخ)

قال طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو اراد ان یترك فی الارض و یکون له الولایة الشرعیة فا لحیلة ان یشتری الحشیش و اشجار البطیخ ببعض الثمن و یستاجر الارض ببعض الثمن من صاحب الارض ایاما معلوما. (خلاصة الفتاوی ج٣، ص٢٩، کتاب البیوع، الفصل الثانی فیما یجوز بیعه و ما لا یجوز) و مثله فی الهندیة (ج٣، ص٣٣، کتاب البیوع، الفصل الثانی فیما یدخل فی بیع الاراضی الخ)

د پچې (قرعه اندازي) په ذریعه اخیستل او پلورل

سوال: د یوه شي قیمت یو زر روپۍ ده شل کسانو په خپل منځ کښې پنځوس پنځوس روپۍ جمع کړې او دا فیصله ئې وکړه چه د پچو اچولو (قرعه اندازۍ) په ذریعه سره چه چا ته دا شي ووځي نو دا روپۍ به هغه ته ورکول کیږي او دا نور افراد به محروم پاتې کیږي آیا د تجارت دا طریقه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مطهره کښې چه د اخیستلو او پلورلو لپاره کوم اصول وضع کړی شوي دي د هغه د نه موجودیت له وجهې د اسې بیع ناجائزه ده۔ په نوموړي صورت کښې یو ممنوع امر خو دا هم دی چه که چېرته نوم ووځي نو هغه ته به مبیعه ورکول کیږي او که نوم ئې و نه خیژي نو هغه ته نه ورکول کیږي کوم چه یو فاسد شرط دی او دوهم امر دا چه هر یو امیدوار د خپل نوم د وتلو متمني وي لیکن دا معلوم نه وي چه نوم به ئې وخیژي او که نه نو دا ګویا داسې شو لکه بیع علی خطر الوجود نو په دې صورت کښې قمار (جواري) لازمیږي کوم چه د قرآن د صریح نص له مخې ممنوع دی۔ په دې بناء باندې مذکوره معامله د شرط فاسد او قمار (جواري) له وجهې ناجائزه ده۔

لما قال اللّٰه تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَيْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ☆ (سورة المائدة، آیت ٩٠)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: ما کان مبادلة مال بمال یفسد با لشرائط الفاسد و یبطل تعلیقه. ایضا لدخوله فی التملیکات لانها اعم. (رد المحتار ج٥، ص٢٤٠، باب ما یبطل با لشرط الفاسد و لا یصح تعلیقه به) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص١٧٩، کتاب البیوع، باب المتفرقات)

د تجارتي لیسنس د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت

سوال: له یوه سړي سره د حکومت لخوا د جاري شوې تحریري شهادت نامې (سند) په صورت کښې یو تجارتي لیسنس موجود دی ترڅو چه د درآمداتو او برآمداتو په وخت کښې څوك اعتراض ونه کړي۔ نوموړی سړی اوس د دغې اجازه نامې پلورل غواړي۔ دا اجازه نامه چونکه د کاغذ په شکل کښې وي نو آیا شرعا ئې اخیستل او پلورل جائز دي او که څنګه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نننۍ زمانې کښې اکثر ممالك په سود اګرو له اجازه نامې پرته د تجارت لپاره په تلو او راتلو باندې بندیز لګولی وي نو حقیقت دا دی چه دا اجازه نامه یو مادي شی نه دی بلکه له نورو ممالکو څخه د مال د راوړلو او یا په نورو ممالکو باندې د مال د پلورلو دوهم نوم دی۔ او د دغې اجازه نامې د حصول لپاره چونکه وخت، کوشش، زیار او مال مصرف کیږي او وروسته بیا صاحب او حامل ته ئې د یوه تحریري سند په توګه قانوني حالت حاصلیږي

چه له وجهې ئې هغه د مختلف ډول آسانتیاوو حقدار جوړیږي او بغیر د دغې اجازه نامې نه د مال راوړل او وړل قانونا جرم وي۔ همدارنګه د دې په ذریعې سره د میلیونونو روپۍ تجارت ممکن وي۔ نو د دې ډول تجارتي سند یا اجازه نامې په سبب سره د اموالو د تجارت معامله کیږي او چونکه د دغې اجازه نامې حامل ته دا حق اصالتاً ثابت وي نو که چېرته عوض واخلي او له خپل حق څخه لاس په سر شي او د بل چا نامه ته ئې منتقل کړي نو شرعا پکښې هیڅ حرج نشته۔ ځکه چه فقهاوو دا تصریح کړې ده چه د مال په بدل کښې د خپلو وظائفو او حقوقو څخه ابراء کول شرعا مرخص دي البته که چېرته دغه لیسنس د یوه ټاکلي شخص او د یوې معینې کمپنۍ وي چه بل فرد یا کمپنۍ ته ئې انتقال قانونا بالکل اجازه نه وي نو د داسې اجازه نامې د انتقال په صورت کښې دروغ او دوکه لازمیږي چه له وجهې ئې خرڅول ناجائز ګرځي۔

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله: و لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعه و علی هذا لا یجوز الاعتیاض عن الوظائف با لاوقاف و فیها فی آخر بحث تعارض العرف مع اللغة المذهب عدم اعتبار العرف الخاص لکن افتیٰ کثیر باعتباره و علیه فیفتیٰ بجواز النزول عن الوظائف بمال. (الدر المختار ج٤، ص٥١٩، کتاب البیوع)

قال العلامة خالد آتاسیؒ: اقول و علی ما ذکروه من جواز الاعتیاض عن الحقوق المجردة بمال ینبغی ان یجوز الاعتیاض عن التعلی و عن حق الشرب و عن حق المسیل بمال......... کما جاز النزول عن الوظائف و نحوها لا سیما اذا کان صاحب حق العلو فقیرا قد عجز عن اعادة علوه فلو لم یجز ذلك له علی الوجه الذی ذکرناه یتضرر فلیتامل و لیحرر. (شرح مجلة الاحکام، ج١، المادة٢، ص١٢١، الفصل الثانی فی بیع ما یجوز و ما لا یجوز) و مثله فی فقهی مقالات (ج١، ص١٩، بیع حقوق المجردة)

د انعامي بانډ (عهد نامې) اخیستل او پلورل

سوال: نن صبا حکومت د انعامي بانډ په نامه سره یو کاروبار شروع کړی دی کوم چه د مختلف مالیت د بانډز په شکل کښې وي او طریقه ئې دا ده چه د بانډ د حاصلولو نه وروسته هره میاشت قرعه اندازي کیږي د پچې په اچولو کښې چه کوم نمبر وخیژي نو د هغه حاملینو ته ډېرې روپۍ ورکول کیږي او پاتې نور امیدواران ئې له ډیرو پیسو څخه محروم شي نو یا خپلې هغه جمع شوې پیسې ورسره پریږدي او یا ئې واپس اخلي نو آیا د داسې قسم انعامي بانډونو د اخیستلو او پلورلو او د هغه په ذریعه د حاصل شویو روپو استعمال شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی کاروبار د دوو وجوهاتو په بناء غیر مشروع دی یوه وجه دا چه په دې کښې ربوٰ (سود) موجود دی او اعانت علی الربوٰ هم دی ځکه چه حکومت د هغه له امیدوارانو څخه هغه پیسې چه د هغه بانډ په بدل کښې اخیستي وي هغه پیسې د ملك د ننه

او د باندې په سودي معاملاتو کښې استعمالوي چه دا د حکومت سره په سودي معاملاتو کښې تعاون دی او د مختلفو افرادو څخه د جمع کیدونکو روپیو فائده یوائې څو مخصوصو افرادو ته حاصلیږي او نور محروم پاتې کیږي۔ او دوهمه وجه دا چه ټول امیدواران د خپلو پیسو په بدل د زیاتو پیسو د حصول متمني (هیله مند) وي لیکن په دوی کښې د هر یوه حصه علی خطر الوجود وي۔ او دا معلومه نه وي چه انعام حاصل کیږي او که نه۔ لهذا دا د قمار (جواري) متشابه دی کوم چه په شریعت کښې حرام او ناجائز دي۔ نو د دې وجوهاتو په بناء نوموړی کاروبار د سود او قمار سره د برابروالي په وجه ناجائز او حرام دی۔ او چونکه دغه دواړه د قرآني نص له مخې قطعي حرام دي له دې وجهې د دې کارو بار او د دې په ذریعه حاصلیدونکی مال د یوه مسلمان له شان سره نه ښایي چه وئې خوري او یائې استعمال کړي۔

لما قال الله تبارك و تعالی: یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اِنَّمَا الخَمْرُ وَ المَیْسِرُ وَ الاَنصَابُ وَ الاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشیطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ (سورة المائدة، آیة ٩٠)

لما ورد فی الحدیث: عن جابر قال لعن النبیﷺ اکل الربٰوا و موکله و کاتبه و شاهدیه و قال هم سواء. (مشکٰوة ج١، ص٢٤٤، کتاب الربوٰا)

د بل ملك د ویزې د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: یوه سړي ته د هغه ورور د سعودي عربستان ویزه لیږلې ده د ځینو وجوهاتو په بنا سره هغه پخپله عربستان ته نه شي تللی او ویزه په بل چا باندې په پنځوس زره روپۍ باندې پلورل غواړي۔ اوس پوښتنه دا ده چه آیا د دې سړي لپاره د ویزې پلورل او پیسې حاصلول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اوسنۍ زمانې کښې اکثر ممالك په خپل ملك کښې څوك غیر ملکي ته بغیر د ویزې نه د داخلیدو اجازه نه ورکوي بلکه دا ئې یو قانوني جرم ګرځولی دی۔ او حال دا چه ویزه پخپله څه مادي شی نه دی بلکه په یو بل ملك کښې د داخلیدو او هلته تر یوه معلوم وخته پورې د اوسیدو تحریري اجازه نامه ده چه له مخې ئې د ویزې حاملینو ته مناسبې آسانتیاوې هم حاصلې وي او بغیر له ویزې نه بل ملك ته داخلیدل ممنوع وي۔ چونکه د یوه ملك د ویزې د حصول لپاره کافي وخت او مال لګول کیږي او د ویزې حامل ته هلته د داخله او د اوسیدلو حق اصالتاً حاصلیږي نو له دې وجه که چېرته هغه د خپل حق او وظیفې څخه ابراء کوي یعنې لاس ترې اخلي او په بل باندې ئې پلوري نو شرعا په دې کښې هیڅ حرج نشته۔ نو د دې لپاره که یو څوك مناسب عوض واخلي او چا ته خپل حق او وظیفه پریږدي نو فقهاوو دا بیع مرخصه ګرځولې ده۔ لهذا د ویزې پلورل او په هغې باندې د پیسو حاصلول څه پروا نه لري۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق شفعة و علی هذا لا یجوز الاعتیاض

عن الوظائف با لاوقاف و فیها فی آخر بحث تعارض العرف مع اللغة المذهب عدم اعتبار العرف الخاص لکن افتی کثیر باعتباره و علیه فیفتٰی بجواز النزول عن الوظائف بمال. (الدر المختار علی صدر رد المحتار، ج٤، ص٥١٩، کتاب البیوع)

قال العلامة خالد الآتاسیؒ: اقول و علی ما ذکروه من جواز الاعتیاض عن الحقوق المجردة بمال ینبغی ان یجوز الاعتیاض عن التعلی و عن حق الشرب و عن حق المسیل بمال........ کما جاز النزول عن الوظائف و نحوها لا سیما اذا کان صاحب حق العلو فقیرا قد عجز عن اعادة علوه فلو لم یجز ذٰلك له علی الوجه الذی ذکرناه یتضرر فلیتامل و لیحرر. (شرح مجلة الاحکام ج١، المادة٢، ص١٢١، الفصل الثانی فی بیع ما یجوز و ما لا یجوز) و مثله فی فقهی مقالات (ج١، ص١٩، بیع حقوق المجردة)

د انتخاباتو په وخت کښې د ووټ د اخیستلو او پلورلو مسئله

سوال: په ځینې علاقوکښې د انتخاباتو په وخت کښې خلك د کاندید انو (امیدوارانو) څخه درنې یعني ډیرې پیسې اخلي او خپل ووټ (رأیه) د هغه په حق کښې استعمالوي نو آیا د ووټ په بدل کښې د پیسې اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: ووټ یا رأیه چه د چا په حق کښې استعمالیږي هغه د هغه په حق کښې د ملك او ملت د خیرخواهی شهادت یا ګواهي وي او ووټ یو ډول سفارش هم دی چه د کاندید لپاره د متعلقې عهدې یعني منصب سفارش کوي او ووټ یو ډول مشوره هم ده چه دغه امیدوار د دغې عُهدې مستحق دی۔ نو له دې وجهې د ووټ د ذکر شوي حیثیتونو له مخې دا خبره واضح کیږي چه ووټ متقوم مال نه دی او د یو شي د اخیستلو او د پلورلو لپاره دا ضروري ده چه هغه به مال متقوم وي لهذا د ووټ په بدل کښې د پیسو اخیستل شرعا هیڅ جواز نه لري۔

لما قال الدکتور وهبة الزحیلیؒ: اتفق الفقهاء علی صحة البیع اذا کان المعقود علیه مالا متقوما محرزا موجودا مقدورا علی تسلیمه معلوما للعاقدین لم یتعلق به حق الغیر. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٤، ص٥٠٤، کتاب البیوع، ثالثا البیوع الممنوعة بسبب المعقود علیه الخ)

قال العلامة الشیخ عبد الرحمٰن الجزائریؒ: و منها ان یکون المبیع مملوکا للبائع حال البیع...... و ان یکون مقدورا علی تسلیمه فلا ینعقد بیع المغصوب .... و منها ان یکون المبیع معلوما و الثمن معلوما علما یمنع من المنازعة فبیع المجهول جهالة تفضی الی المنازعة غیر صحیح. (کتاب الفقه علی مذاهب الاربعه ج٢، ص١٢٤، کتاب البیع، الرکن الثالث، المعقود علیه)

دټریډ مارك (تجارتي علامت) د پلورلو او اخیستلو حکم

سوال: د ځینو کمپنیو او ادارو خپلې تجارتي علامې وي چه په حکومت کښې درج او رسمي وي او هغه د خریدار د رغبت او تیزۍ لپاره استعمالیږي آیا د داسې علامو اخیستل او پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوې کمپنۍ په مصنوعاتو باندې تجارتي علامت (ټریډ مارك) د رغبت او یا بې رغبتۍ سبب وي ځکه د سودا ګرو په نظر کښې د هغه وقعت او قدر زیات وي چونکه په اوسني دور کښې د التباس، دوکه بازي او غلطۍ د عاموالي په وجه سره د حکومتونو له خوا دغه تجاري علامې په حکومت کښې سبت یعني رسمي شوي وي او یو تاجر د بل تاجر د تجارتي علامې په استعمال باندې قانوني مجرم وي نو ځکه دسودا ګرو په نظر کښې د هغه قیمت ګویا مادي ګرځیدلی دی او تجاران هغه په ارزان او قیمتي بیع باندې پلورې او اخلي۔ او تجاري علامې ته د تحریري سند شکل ورکړ شوی دی نو دغه یو مجرد حق دی لیکن د هغه د حصول لپاره چونکه ډېر مال مصرف کیږي ګواکه چه هغه د یوه تاجر لپاره یو ثابت حق جوړیږي کوم چه د هغه لپاره اصالتاً ثابت دی۔ نو د فقهاو د تصریحاتو مطابق که چېرې د خپل حق او وظیفې په عوض کښې پیسې حاصلې کړي او خپل حق او وظیفه پرېږدي نو دا جائز دی۔ له دې وجهې د تجارتي علامتونو په اخیستلو او پلورلو کښې هیڅ حرج نشته البته دا ضروري ده چه دغه تجاري علامت په حکومت کښې رسمي وي ځکه چه د رسمیت نه علاوه دغه علامت د قبول وړ نه وي او د وهمه دا چه دوکه او التباس پکښې نه وي چه پخپله ئې هم استعمال کړي او د له بل چا څخه هم پیسې پرې واخلي۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: فی الاشباه لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعه و علی هذا لا یجوز الاعتیاض عن الوظائف با لاوقاف و فیها فی آخر بحث تعارض العرف مع اللغة المذهب عدم الاعتبار العرف الخاص لکن افتی کثیر باعتباره و علیه فیفتٰی بجواز النزول عن الوظائف بمال. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٤، ص٥١٨ و ٥١٩، کتاب البیوع)

قال العلامة خالد الآتاسیؒ: اقول و علی ما ذکروه من جواز الاعتیاض عن الحقوق المجردة بمال ینبغی ان یجوز الاعتیاض عن التعلی و عن حق الشرب و عن حق المسیل بمال........ کما جاز النزول عن الوظائف و نحوها لا سیما اذا کان صاحب حق العلو فقیرا قد عجز عن اعادة علوه فلو لم یجز ذٰلك له علی الوجه الذی ذکرناه یتضرر فلیتامل و لیحرر. (شرح مجلة الاحکام ج١، المادة٢، ص١٢١، الفصل الثانی فی بیع ما یجوز و ما لا یجوز) و مثله فی فقهی مقالات (ج١، ص١٩، بیع حقوق المجردة)

د عام نیلام په ذریعه د بیع حکم

سوال: نن صبا د بیع او شراء دا طریقه رائجه ده چه یو شی په منډیي او په مارکیټ کښې کښیږدي او د خرڅولو اعلان ئې کیږي۔ خریدار خپل خپل قیمتونه او نرخونه معلوموي او د مبیعې د اخیستلو خواهش ظاهروي لیکن کوم یو اخیستونکی چه زیات قیمت وښایي نو هغه مبیعه هم هغه ته ورکول کیږي آیا دا اخیستلو او پلورلو دا طریقه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه خریدار سره د مکملې معاهدې څخه علاوه د داسې متعددو

خريد ارانو د رأيو د معلومولو او تر تولو د زيات قيمت وركوونكي سره ايجاب او قبول كول جائز دي د فقهاوو په اصطلاح كښې دې ته "بيع من يزيد" ويل كيږي۔ پخپله رسول كريم ﷺ د يوه سړي د څو شيانو په پلورلو كښې دا طريقه خپله كړې وه۔

لما جاء فى الحديث: عن انس بن مالك ان رسول الله ﷺ باع حلسا و قدحا و قال من يشترى هذا الحلس و القدح فقال رجل اخذتهما بدرهم فقال النبى ﷺ من يزيد على درهم فاعطاه رجل درهمين فباعها منه. (ترمذى ج۱، ص۲۳۱، باب ما جاء فى بيع من يزيد، كتاب البيوع)

قال العلامة المرغينانى رحمه الله: و لا باس ببيع من يزيد. لانه بيع الفقراء و الحاجة ماسة اليه. (الهداية ج۳، ص۶۹، كتاب البيوع، فصل فيما يكره) و مثله فى رد المحتار (ج۵، ص۱۰۲، مطلب احكام نقصان المبيع فاسدا)

په حكومتي كاغذاتو كښې د جعلسازۍ له مخې خپل ځان د مالك په ښكارولو سره د بل چا د زمكې د پلورلو حكم

سوال: يوه سړي خپله زمكه بل چا ته د رهن (ګروي) په توګه وركړې ده او هغه (چا ته ئې چه زمكه په رهن وركړې ده) په حكومتي كاغذاتو كښې په دوكې او جعلسازۍ سره د هغې زمكې كاغذات پخپل نامه اړولي دي۔ كه چېرته په حكومتي كاغذاتو كښې د رد و بدل له وجهې اوس دا سړی دغه زمكه وپلوري نو آيا شرعا به دا بيعه جائزه وي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق و الصواب: د صدق او د ثبوت په شرط سره كه چېرته دغه زمكه د چا لپاره تسليم ښوې يا د ګواه په ذريعه ثابته شوې وي نو د بل چا غاصبانه او ظالمانه قبضه په دې زمكې باندې شرعا د هغه ملكيت نه ثابتوي بلكه د دې زمكې ټول حقوق به د خرڅولو د حق تر څنګ اصل مالك ته حاصل وي۔ البته د دې زمكې پلورل به موقوف على شرط التسليم وي يعنې تر څو پورې چه زمكه مشتري ته حواله شوې نه وي نو بيع به موقوفه وي۔

لما قال العلامة الكاسانى رحمه الله: منها ان يكون مقدور التسليم عند العقد فان كان معجوز التسليم عنده لا ينعقد. (البدائع الصنائع ج۵، ص۱٤۷، كتاب البيوع، فصل و اما الذى يرجع الى المعقود عليه)

قال طاهر بن عبد الرشيد البخارى رحمه الله: و اما بيع المغصوب فقد ذكر محمدؒ انه موقوف ان اقربه الغاصب ثم البيع و ان جحدوا للمغصوب منه بينة فكذلك و ان لم يكن ز لم يسلمه حتىٰ هلك ينقض البيع. (خلاصة الفتاوىٰ ج۳، ص۴۰، الباب الرابع فى بيع الفاسد و احكامه) و مثله فى الجامع الفصولين ج۲، ص۹۰، الفصل الثانى و الثلاثون فى بيع الغصب)

د حكومت له اجازې نه بغير د نورو ملكونو د شيانو تجارت

سوال: هغه غير ملكي شيان چه په اخيستلو او پلورلو باندې ئې حكومت بنديز لګولى وي د هغو د تجارت شرعي حيثيت څه شى دى؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كوم شيان چه د نورو ملكونو څخه اخيستل كيږي او راوړل كيږي په هغو باندې حكومت د تاجرانو څخه ټيكس (ګمرك) اخلي۔ ډير وارې حكومتونه په ګمركونو كښې بې اندازې زياتوالى كوي نو كه چېرته دغه ګمرك يا ټيكس په مناسبه اندازه او جائزې طريقې سره اخيستل كيږي او هغه په ملكي خزانې كښې جمع كيږي او په قومي او ملكي مفاداتو كښې استعماليږي نو بيا د تجارت سامان په پټه باندې راوړل صحيح نه دي ځكه چه د وخت حكومت په راوړل شوي شيانو كښې ضروري او مناسب ګمرك اخيستلو مجاز دى۔ البته كه چېرې حكومت په دغو ګمركونو كښې بې اندازې زياتوالى كوي او سوداګر تنګوي او د ګمرك يا ټيكسونو په نامه سره وصول شوې روپۍ د قومي خزانو په ځاى پخپلو جيبونو او خپلو ضرورياتو كښې مصرفوي نو په دې صورت كښې كه مال راوړونكى مناسب تدبير اختيار كړي نو څه پروا نشته۔ البته له دروغ ويلو، خيانت او دوكه بازۍ څخه په هر حال كښې د ځان ساتنه ضروري دى۔

قال القاضى ابو يعلى محمد بن الحسين الفراءؒ: ان كان البلد ثغراً يتاخم دار الحرب و كانت اموالهم اذا دخلت دار الاسلام معشورة من صلحٍ استقر معهم اثبت فى الديوان عقد صلحهم و قدر المأخوذ منهم من عشر او خمس او زيادة او نقصان منه و ان كان يختلف باختلاف الازمنة و الاموال فصلت فيه و كان الديوان موضوعا لاخراج رسومه و الاستفاء ما يرفع اليه من مقادير الامتعة المحمولة اليه. (الاحكام السلطانية ص۲٤۶)

قال فخر الدين الزيلعيؒ: و الاصل ان متىٰ عرفنا ما يأخذون منا اخذنا منهم مثله بذلك امر عمر رضى الله عنه و ان لم نعرف اخذنا منهم العشر لقول عمر فان اعياكم فالعشر و ان كان يأخذون الكل ناخذ منهم الجميع الا قدر ما يوصله الى مامنه فى الصحيح. (تبيين الحقائق ج۱، ص۲۸۵، باب العاشر) و مثله فى الجامع الصغير (ص۱۰۱، باب فيمن يمر على العاشر بمال)

د حكومت د اجازې نه بغير د حكومتي ونو د اخيستلو او پلورلو حكم

سوال: د حكومتي مامورينو په ذريعه په حكومتي زمكو كښې د شنه شويو ونو د اخيستلو او پلورلو حكم څه دى؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق و الصواب: د حكومت له خوا كه چېرته دغو مامورينو ته د دغو سركاري ونو د پلورلو اجازه وي او له هغو څخه تر لاسه شوې روپۍ ئې په قومي خزانې كښې داخلولې او جمع كولې ئې نو د مامورينو لپاره د ونو په پلورلو كښې شرعا څه حرج نشته۔ او البته كه چېرته دغو مامورينو په خيانت، بد ديانتۍ او دوكې سره دا ونې پلورلې نو په هغو باندې د علم باوجود له هغو څخه د ونو اخيستل ناجائز دي او ځان ساتنه ترې ضروري ده۔ ځكه چه دا ونې د حكومت ملكيت دي او د ټول قوم برخه پكښې شامله ده۔

لما فى مجلة الاحكام: ليس للوكيل ان يبيع بانقص مما عينه الموكل يعنى اذا كان الموكل قد عين ثمنا فليس

للوكيل ان يبيع ما نقص من ذٰلك و اذا باع ينعقد البيع موقوفا على اجازة موكله او قال العلامة خالد الآتاسی: ثم لو خالف الوكيل با لبيع و باع و سلم المبيع للمشترى ثم هلك فى يد المشترى يكون الوكيل ضامنا لقيمته لانه با لمخالفة صار غاصبا آه (شرح المجلة لخالد الآتاسى ج٤، ص٤٨٥ و ٤٨٦، مادة ١٤٩٥، ص ٧١)

د حکومت له خوا د ضبط شوي مالونو د اخيستلو حکم

سوال: ځینې خلك په ملك كښې د ننه د بعضې مخصوصو علاقو نه نورو علاقو ته رخت، لوښي یا نور سامان په خفیه ډول سره وړي او حال دا چه كله كله د حكومت مؤظفين هغوی ونيسي، سامان ئې ضبط كړي او نيلام ئې كړي آيا د داسې ضبط شوي مالونو اخيستل او پلورل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونكه په شريعت كښې دغه مالونه د اصلي مالك د ملك څخه په ضبطولو سره نه ووځي ځكه چه د حكومت لپاره د رعيت د اموالو ضبطول مناسب نه دي۔ لهذا د اسې سامان د اصل مالك د ملك څخه د نه وتلو له وجهې واجب الرد دی نو په دې بناء د ضبط شوي مالونو اخيستل او پلورل جائز نه دي او په ملك كښې د ننه د حكومت له خوا د اشياوو په انتقال باندې بنديز لګول هم جائز نه دي۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: و ليس للامام ان يخرج شيئا من يد احد الا بحق ثابت معروف. (رد المحتار ج٤، ص ١٨٠، مطلب القول الذى اليدان الارض ملكه و ان كانت خراجية)

قال العلامة القاضى ابو يعلى الحنبلى رحمه اللّٰه: فاما اعشار الاموال المنتقلة فى دار الاسلام من بلد الى بلد فمحرمة لا يبيحها شرع و لا يسوغها اجتهاد و لا هى من سياسات العدل و قلما تكون الا فى البلاد الجائرة و لذٰلك قال رسول اللّٰه ﷺ لا يدخل الجنة صاحب مكس. (الاحكام السلطانية ص٢٤٦، فصل فى وضع اليلون، القسم الثانى اعشار الاموال) و مثله محمد حامد الفعى على هامش الاحكام السلطانية (ص٢٤٦)

د غير محفوظو سركاري كاغـــــــذاتو په ذريعه د جائداد وغيره د اخيستلو او پلورلو شرعي حيثيت

سوال: د ملكي قانون لاندې يوه سړي د سركاري كاغذاتو د انتقال په ذريعه خپل جايداد وغيره پلورلی شي۔ نو آيا د دغو كاغذاتو د اعتبار او نه اعتبار په اړه د مقدس شريعت څه حكم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شريعت له مخې كوم سركاري يعنې حكومتي سندونه چه له تغير او تبدل څخه محفوظ وي نو د اعتبار وړ ګرځيدلی شي او د هغو مطابق به فيصله كيږي او په اوسنۍ زمانې او موجوده حالاتو كښې چونكه رشوت، دروغ، دوكه او فريب په هر ځای كښې غالب شوی دی په دې بناء باندې په نننۍ عصر كښې يواځې د كاغذاتو په ذريعه د زمكو اخيستل او پلورل مناسب نه دي۔

لما فى مجلة الاحكام: لا يعمل با لخط و الختم و احدهما الا اذا كان سالما من شبهة التزوير و التصنع به يعنى انه يكون مدارا للحكم و لا يحتاج الى الثبوت بوجه آخر. (المجلة الاحكام، ماده ١٧٣٦، الباب الثانى، الفصل الاول فى الحجج الخطبة)

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: فا لحاصل ان المدار على انتفاء الشبهه ظاهرا و عليه فما يوجد فى دفتر التجار فى زماننا اذا مات احدهم و قد حرر بخطه ما عليه فى دفتره الذى يقرب من اليقين انه لا يكتب فيه سبيل التجريد و الهزل يعمل به. (تنقيح الحامدية ج٢، ص ٢١، مطلب فى دفاتر التجار حادثة فى تاجر له دفتر)

د وقف شوې زمكې د پلورلو حكم

سوال: يوه سړي خپله مملوكه زمكه د جومات يا د قبرستان لپاره وقف كړه۔ له وقف څخه وروسته د هغې زمكې پلورل غواړي نو آيا واقف ته د دغې موقوفې زمكې د پلورلو شرعا جواز شته او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: زمكه د وقف كولو نه وروسته شرعا د واقف له ملكيت څخه ووځي په دې شرط چه د وقف د شرائطو ټول لحاظ پكښې شوی وي او وقف تام ګرځيدلی وي۔ د وقف نه وروسته په زمكې كښې واقف ته د هيڅ ډول ذاتي يا مالكانه تصرفاتو حق نشته۔ لهذا د دغې زمكې اخيستل او پلورل او يا چا ته هبه كول با لكل جواز نه لري او نه په دغې زمكې كښې وراثت جاري كيدلی شي۔

لما قال على بن ابى بكر المرغينانى رحمه اللّٰه: و اذا صح الوقف لم يجز بيعه و لا تمليكه. (الهداية ج٢، ص٦١٦، كتاب الوقف)

قال العلامة التمرتاشى رحمه اللّٰه: فاذا تم اى الوقف فلا يملك و لا يعار و لا يرهن. (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٤، ص٣٥٢، كتاب الوقف) و مثله فى بدائع الصنائع(ج٦، ص ٢٢١، كتاب الوقف والصدقة، فصل واما حكم الوقف الجائز...... الخ)

د جومات له ضرورت څخه د زياتو سامانونو د پلورلو حكم

سوال: كه چېرته د يوې محلې يا كلي خلك د خپلې محلې يا كلي څخه په مكمله توګه بل ځای ته منتقل شي او هلته د جومات ضرورت پاتې نه شي نو آيا په داسې حالت كښې د جومات د سامان پلورل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چېرته حقيقتاً ټول كلي وال په مكمله توګه له خپل كلي څخه منتقل كيدل او هلته د جومات د باقي پاتې كيدو ضرورت نه پاتې كيده نو په داسې صورت كښې دې جومات همداسې پريږدي۔ او كه د سامان د ضائع كيدو خطره ئې وي نو د داسې جومات د شيانو پلورل جائز دي او له هغو څخه حاصليدونكي روپۍ دې چېرته د بل جومات په ضرورياتو كښې مصرف كړي۔ البته د جومات زمكه د بل هيڅ مقصد لپاره نه شي استعماليدلی۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قلت لکن الفرق غیر ظاهر فلیتامل و الذی ینبغی متابعة المشائخ المذکورین فی جواز النقل بلا فرق بین مسجد او حوض کما افتٰی به الامام ابو شجاعؒ و الامام الحلوانیؒ و کفٰی بهم قدوة و لا سیما فی زماننا فان المسجد او غیره من رباط او حوض اذا لم ینقل یاخذ انقاضه اللصوص و المتغلبون کما هو مساهد و کذلك اوقافه یأکلها النظار اوغیرهم و فی فتاویٰ النسفی سئل شیخ عن اهل قریة رحلوا و تداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه و ینقلونه الی دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضی و یمسك الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هذا المسجد قال نعم. (رد المحتار ج۴، ص ۳۶۰، مطلب فی نقل انقاض المسجد و نحوه)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاری رحمه الله: خشیش المسجد اذا کان له قیمة فلاهل المسجد ان یبیعوها و ان رفعوا الی الحاکم فهو احب و کذا الحباب و النعش اذا افسدا فلاهل المسجد ان یبیعوها و ان رفعوا الی الحاکم فهو احب. (الفتاویٰ التاتارخانیة ج۵، ص ۸۵۰، کتاب الوقف، مسائل وقف المساجد) و مثله فی الهندیة (ج۲، ص۴۵۸، الباب الحادی عسر فی المسجد و ما یتعلق به)

د غیر موقوف قبرستان د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: یوه سړي یوه ټوټه زمکه واخیستله او حال دا چه د ځینو خلکو خیال دا وو چه دا زمکه د قبرستان ده لیکن تقریبا شپیته کاله کیږي چه په دغې زمکې کښې یو مړی هم نه دی ښخ شوی او دغه ټکړه زمکه د زمکې مالك د قبرستان لپاره وقف کړې هم نه وه آیا اوس د زمکې مالك ته ئې د پلورلو حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په غیر موقوف قبرستان کښې که چېرته دغه یقین وي چه د امواتو جسدونه ختم شوي او خاورې شوي دي نو په داسې صورت کښې ئې مالك په دغې زمکې کښې هر ډول تصرفات کولی شي البته که چېرته د وقف معمولي شائبه هم موجوده وي نو د موقوفه قبرستان اخیستل او پلورل او نورو مالکانه تصرفاتو حق ورته حاصل نه دی۔

لما قال الشیخ فخر الدین عثمان بن علی الزیلعی رحمه الله: و لو بلی المیت وصار ترابا جاز دفن غیره فی قبره و زرعه و البناء علیه. (تبیین الحقائق ج۱، ص۲۴۶، باب الجنائز)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و لو بلي المیت و صار ترابا جاز دفن غیره فی قبره و زرعه و البناء علیه. (رد المحتار ج۲، ص۲۳۳، مطلب فی دفن المیت) و مثله فی الهندیة (ج۱، ص۱۶۷، الفصل السادس فی القبر و الدفن و النقل من مکان الی مکان آخر.)

د خپل حق د لاس ته راوړو لپاره د غاصب د جاید اد پلورل جائز دي

سوال: زما یوه خپلوان زما خپله زمکه په حکومتي کاغذاتو کښې په جعلسازۍ او دوکې سره رد او بدل کړې او پلورلې ئې ده ما ډېر اصرار وکړ چه خپله زمکه دې ماته واپس کړې لیکن هیڅ کله هم زما د زمکې واپس کولو ته تیار نه شو اوس زما دغه نسبي خپل د څه وجوهاتو له

مخې ملك پرېښی دی او حال دا چه د هغه دوه کناله زمکه زما په قبضې کښې ده نو آیا زما لپاره د دغو دوه کنالو د پلورلو شرعا جواز شته او که نه؟ بینوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سوال د صحت په شرط سره د هغه په غاصبانه قبضې سره ستا زمکه د هغه ملکیت نه شي ګرځیدلی او نه په ناجائزه طریقې سره په اسنادو او کاغذاتو کښې په تبدیلۍ او پلورلو سره د هغه شرعي ملکیت ثابتیږي۔ لهذا په ذکر شوي زمکې کښې مالك ته په باقاعده توګه د هر ډول تصرفاتو حق حاصل دی او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د غاصب د منقوله او غیر منقوله اشیاوو پلورل ورته جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قال و نقل جد والدی لامه الجمال الاشقر فی شرحه للقدوری ان عدم جواز الاخذ من خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق و الفتویٰ الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان لا سیما فی دیارنا لمداومتهم للعقوق. (رد المحتار ج۴، ص۹۵، مطلب یعذر با لعمل بمذهب الغیر عند الضرورة)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و فیه ان ابن ابی لیلیٰ و الشافعی یطلقان اخذ خلاف جنس حقه للمجانسة فی المالیة و قالا هو الاوسع و یجوز الاخذ به و ان لم یکن مذهبنا فان الانسان یعذر فی العمل به عند الضرورة. (البحر الرائق ج۵، ص۵۶، کتاب السرقة) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج۴، ص۹۵، مطلب یعذر با لعمل بمذهب الغیر عند الضرورة)

د بت فروشۍ یعنې د بتانو د پلورلو حکم

سوال: ځینې خلك د بتانو د اخیستلو او پلورلو کاروبار کوي د شریعت له مخې دغه کاروبار جائز دی او که نه؟ بینوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بت چونکه د معاصي آله او د بت پرستي لپاره تاکل شوی شی دی لهذا د اعانت علی المعصیت په بناء سره ئې اخیستل او پلورل جائز نه دي۔ برسیره پر دې رسول اللهﷺ د بتانو د پلورلو څخه منع فرمایلې ده۔

اخرج الامام البخاری رحمه الله: عن جابر بن عبد الله انه سمع رسول اللهﷺ یقول عام الفتح و هو بمکة ان الله و رسوله حرم بیع الحمر و المیتة و الخنزیر و الاصنام. (الصحیح البخاری ج۱، ص۲۹۸، باب البیع المیتة و الاصنام)

قال العلامة علی بن سلطان محمد القادریؒ: حرم بیع الخمر و المیتة و الخنزیر و الاصنام و ان کانت من ذهب او فضة. (المرقاة ج۶، ص۴۹، باب الکسب و طلب الحلال، الفصل الاول) و مثله فی عمدة القاری ج۱۲، ص۵۴، باب بیع المیتة و الاصنام)

د غصب شوي زمکو د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت

سوال: په ځینې وختونو کښې په خپل منځي جنګونو کښې یو قوم بل قوم مغلوبوي د هغوی ټول جاید اد، مالونه، څناور او نورو شیانو باندې غاصبانه او ظالمانه قبضه کوي او ضبط کوي

ئې۔ نو آیا له غاصب قوم څخه د مغلوب قوم د غصب شوی جاید ادونو اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مسلمانانو په خپل منځ کښې د یوه او بل په ځان او مال باندې د اسې غاصبانه قبضه لګول جائز نه دي او نه د اډول قبضه شوې زمکه د یوې ډلې ملکیت ګرځیدلی شي بلکه مقدس شریعت د د اسې غصب شوې زمکې خپلو مالکانو یا د هغو وارثانو ته واپس کول واجب ګرځولي دي۔ او که چېرته اصل مالکان یا وارثان معلوم نه وي نو د هغوی له طرفه دې په فقیرانو او مسکینانو صدقه کړي او خپله ذمه دې فارغه کړي یعنې خپله غاړه دې خلاصه کړي۔ له دې وجهې که چېرته اخیستونکي ته دا علم وي چه کوم جاید اد چه دی ئې اخلي دا په غصب ، ظلم او جبر سره لاس ته راوړل شوی دی نو بیا د هغه لپاره د د اسې جاید اد، مال او د اسې نورو اخیستل جائز نه دي او کوم بیعه چه وشي نو هغه به د بیع فضولي په حکم کښې وي او موقوفه به وي۔

لما قال النبی ﷺ: الا لا تظلم الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفسه منه. (مشکٰوة المصابیح ج۱، ص۵۰۳، کتاب الغصب)

قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: الغصب فی الشریعة اخذ مال متقوم محترم بغیر اذن المالك علی وجه یزیل یده…… و علی الغاصب رد العین المغصوبة. (الهدایة ج۳، ص۳۷۰، کتاب الغصب) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۱۰۸، کتاب الغصب)

پخپل زوی باندې د زمکې د پلورلو حکم

سوال: آیا په اسلامي شریعت کښې پلار خپله مملوکه زمکه پخپل زوی باندې پلورلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پلار پخپلې مملوکه زمکې کښې یواځې دا نه چه هر ډول مالکانه تصرفات لري بلکه چه په چائې وپلوري نو پلورلی ئې شي۔ لهذا پخپل زوی باندې د زمکې په پلورلو کښې هیڅ ډول بدي نشته او نه شرعا ممنوع دی۔

لما قال حافظ الدین محمد بن البزازؒ: دار لرجل او مشترك بین الاب و الرجل و للاب ابن صغیر له ام فقالت اشتریت هذه الدار لابنی بماله و الاب حاضر او اشتریت منکما لابنی بماله فقال بعنا وقع الملك للابن. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۴، ص۴۷۶، باب الثامن فی بعی ابّ و امّ و وصّی)

لما قال العلامة فخر الدین الشهیر بقاضیخانؒ: امرأة قالت لزوجها و بینهما ولد صغیر اشتریت منك دارك هذه لابننا بکذا و قال الاب لبعتها جاز لان الاب لما قبل البیع فقد جاز شرائها للصغیر فیجوز. (الخانیة علی هامش الهندیة ج۲، ص۲۸۴، باب فی بیع غیر المالك) و مثله فی شرح المجلة الاحکام لسلیم رستم باز (تحت المادة ۱۶۷، ص۷۵)

د نریو جامو (باریکو کپړو) د تجارت حکم

سوال: د نري رخت د اغوستلو سره عموما تول بدن صفاء معلومیږي نو آیا د د اسې نري رختونو تجارت شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسې باریکه کپړه چه د وجود د ښایسته کولو تر ځنګ بدن هم ترې معلومیږي، د اسې رختونه د بې حیایي او عریانی سبب جوړیږي همدارنګه پرده هم ترې متاثره کیږي نو چه څوك ئې تجارتکوي په حقیقت کښې د اعانت علی المعصیت سره برابر دی۔ نو له دې وجې د د اسې رختونو له تجارت څخه ځان ساتنه ضروري ده لیکن بیا هم په ایجاب او قبول سره بیعه تامه ګرځي۔

لما قال العلامة محمد بن محمد ابن البزار الکردویؒ: و بیع المکعب المفضض للرجال اذا علم انه یشتریه للبسه یکره. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۴، ص۵۲۰، الباب الثالث فی المتفرقات)

قال العلامة ابن عابدینؒ: ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما و الا فتنزیها و بیع المکعب المفضض للرجل انه یلبسه یکره لانه اهانة علی لبس الحرام. (رد المحتار ج۶، ص۳۹۲، کتاب الخطر و الاباحة) و مثله فی البحر الرائق (ج۵، ص۱۴۳، نعیم بتغیر یسیر فی آخر باب البغاة)

د کفارو د ملبوساتو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د غیر مسلمو قومونو د بې حیا ملبوساتو مثلا پتلون، او تایي او د اسې نورو د اخیستلو او پلورلو شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هغه شیان چه بغیر د تغیر او تبدیل نه د بې دینۍ او معصیت آلې وي او یا د کافرانو شعار او علامه وي نو د د اسې شیانو له اخیستلو او پلورلو څخه اجتناب ضروري دی ځکه چه د استعمال ممانعت د اخیستلو او پلورلو دلیل دی ترڅو چه د اعانت علې المعصیت په زمره کښې را نه شي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما و الا فتنزیها و بیع المکعب المفضض للرجل انه یلبسه یکره لانه اهانة علی لبس الحرام خیاطا امره ان یخذ له ثوبا علی ذی الفساق یکره له ان یفعل لانه سبب التشبه با لمجوس و الفسقة. (رد المحتار ج۶، ص۳۹۲، فصل فی البیع، کتاب الکراهیة)

قال النبی ﷺ : عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال علیه الصلوٰة و السلام من تشبه بقوم فهو منهم. (ابو داوٗد ج۲، ص۲۰۳، کتاب اللباس) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۱۴۳، کتاب الکراهیة)

د کفارو د متروکه جاید ادونو د پلورلو حکم

سوال: د ملك د تقسیم او د هندوانو له پاکستان څخه د وتلو نه وروسته د هغوی جاید ادونه او نور شیان پاتې شوي۔ یوه سړي ئې په څه حصې باندې قبضه کړې ده او هغه ئې پخپل ملکیت کښې راوستلې ده آیا د هغه لپاره ئې پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کافرانو د متروکه جاید ادونه او نور شیان چونکه د بیت المال او د ملکي خزانې حق وي نو په دې بناء باندې د ذاتي مفاد لپاره په هغو باندې قبضه کول او پلورل ئې جائز نه دي۔ هو که چېرته د حکومت له باقاعده اجازې سره ئې وپلوري او پیسې ئې په ملکي خزانې کښې جمع شي نو په دې صورت کښې به بیع جائزه وي۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و ما اوجف المسلمون علیه من اموال اهل الحرب بغیر قتال یصرف فی المصالح المسلمین کما یصرف الخراج قالوا هو مثل الاراضی التی اجلوا اهلها عنها. (الهدایة ج۲، ص۵٦٤، باب المستأمن)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و ما اخذ منهم بلا حرب و لا قهر کا لهدیة و الصلح فهو لا غنیمة و لا فیء و حکمه حکم الفیء لا یخمس و یوضع فی بیت المال. (رد المحتار ج٤، ص۱۳۸، مطلب فی بیان معنی الغنیمة و الفیء) و مثله فی فتح القدیر ج۵، ص۲۷۲، کتاب البیوع)

بغیر د اجازې نه د چا د زمکې د پلورلو حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې دا رواج دی چه خلك د خپلو خویندو او لونړو کوم چه له ترکې څخه ئې محروم کړي وي زمکې او د اسې نور شیان پلوري۔ نو آیا له د اسې خلکو څخه د اسې زمکې او یا نورو جاید ادونو اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د خویندو او لونړو په جاید ادونو کښې هغوی د خپلو جاید ادونو او نورو حقوقو څخه محروmol د اسلامي تعلیماتو تر پښو لاندې کول دي او د هغوی په حصو باندې د هغوی د رضاء نه بغیر قبضه کول او بیائې پلورل د مغصوبه زمکې د پلورلو په حکم کښې راځي۔ نو له دې وجهې د هغوی د اجازې نه بغیر پلورل شوې زمکه د بیع فضولي په حکم کښې وي۔ یعنې د لونړو او خویندو تر اجازې به موقوفه وي که چېرته اجازه وکړي نو بیع به نافذه وي او که نه نو نه به وي۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: کل واحد من الشرکاء فی شرکة الملك اجنبی فی حصة سائرهم فلیس احدهم وکیلا عن الآخر و لا یجوز له من ثم ان یتصرف فی حصة شریکه بدون اذنه. (شرح المجلة الاحکام المادة۱۰۷۵، ص٦۰۱، الفصل الثانی فی بیان کیفیة التصرف فی الاعیان المسترکة)

قال فـــی الهندیة: و لا یجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الآخر الا بامره و کل واحد منهما کا لاجنبی فی نصیب صاحبه. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۳۰۱، الفصل الاول فی بیان انواع الشرکة) و مثلـــــه فی البرجندی (ج۳، ص۱٤۲، کتاب الشرکة)

د حقِ تعلّی د پلورلو حکم

سوال: په موجوده زمانه کښې په ځینو ځایونو کښې د خلکو له مجبورۍ څخه غلطه فائده اخیستل کیږي او د زمکې د پلورلو په وخت کښې دا شرط لګوي چه تا ته د لسو منزلونو د ننه

به د یو چت د جوړولو اجازه وي۔ او که چېرته د لسو منزلونو کور جوړوي نو د هغه قیمت به هم ادا کوي البته د هغه قیمت به د لاندې حصې څخه کم وي۔ اوس پوښتنه دا ده چه د زمکې د پلورلو په وخت کښې دا شرط لګول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو په دې خبرې باندې دا تصریح کړې ده چه فضاء مال نه دی ځکه چه احراز (لاس ته راوړل) ئې ممکن نه دي او د حقوق مجرده پلورل شرعا ممنوع دی۔ د دې مثال د اسې دی چه لاندې منزل به د یوه سړي وي او پورته منزل به د بل سړي وي او خدا نخواسته دواړه ولویږي نو پاس منزل خلك خپل حق د لاندې منزل په خلکو وپلوري نو دا بیعه ناجائزه ده ځکه چه دغه حق تعلي ده او د حق تعلي له پلورلو څخه فقهاوو منع فرمایلې ده۔

قال العلامة الکاسانی رحمه الله: سفل و علو بین رجُلین انهداما فباع صاحب العلو علوه لم یجز لان الهواء لیس بمال. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱٤۵، کتاب البیوع، فصل و اما الذی یرجع الی المعقود علیه فانواع)

قال العلامة المرغینانیؒ: لان حق التعلّی لیس بمال لان المال ما یمکن احرازه. (الهدایة ج٦، ص٦٤، کتاب البیوع)

د یوه شي د پلورلو په وخت کښې د شرط لګولو حکم

سوال: یو سړي په چا باندې د خپل کور د پلورلو په وخت کښې دا شرط لګوي چه زه به تر اتو میاشتو پورې په دې کور کښې اوسیږم نو آیا له دې شرط سره دغه بیعه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د کور بیعه په دې شرط باندې موقوفه ګرځول شوې وي چه که چېرته مشتري دغه شرط نه قبلاوه نو بائع په دې باندې نه راضي کیده نو دغه بیعه به فاسده وي ځکه چه شریعت مقدسه د بیع او شراء په وخت کښې هر هغه شرط ممنوع ګرځولی دی چه په هغه کښې یو جانب یا مبیعې ته پکښې فائده وي لهذا په نوموړي صورت کښې به دا بیعه فاسده وي۔ بیا هم که چېرته ئې بیع تر دې شرطه پورې موقوفه نه وي ګرځولې بلکه د مشورې په حیثیت سره ئې دا شرط ایښی وي نو په دې کښې شرعا څه حرج نشته چه په نتیجه کښې ئې د هغه شرط رعایت ضروري نه وي بلکه د شرط رعایت به د احسان (ښیګړې) مترادف وي۔

لما قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: و لا بیع بشرط لا یقتضیه العقد و لا یلائمه و فیه نفع لاحدهما او المبیع. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۸۵، باب البیع الفاسد)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله: لو کان فی الشرط منفعة لاحد المتعاقدین بان شرط البایع ان یقرض المشتری او علی القلب یفسد العقد. (خلاصة الفتاوی ج۳، ص۵۰، کتاب البیوع، الفصل الخامس فی البیع) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۳، کتاب البیوع، الباب الاول فی تعریف البیع الخ)

په يو شي باندې تر قبضې وروسته په زيات قيمت باندې د پلورلو حکم

سوال: يوه سړي يو موټر په يو لك روپۍ باندې واخيست او قبض ئې نه کړ او په بل سړي ئې په دوه لکه روپۍ خرڅ کړ. دوهم سړي په دريم سړي په دوه لکه لس زره روپۍ وپلوره نو آيا دغه معامله سود په سود کښې ده او که شرعا جائزه ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له قبض نه مخکښې په يوه شي باندې شريعت د تصرف اجازه نه ده ورکړې ليکن په باقاعده توګه چه کله يو شی قبض شي نو بيائې پلورل مشروع ګرځي. لهذا د بايع او مشتري په منځ کښې چه کوم قيمت هم مقرر او متعين شي هغه صحيح او روا ده خو چه قبض پکښې وي.

قال العلامة ابن الهمام رحمه الله: هو مبادلة المال با لمال با لتراضی. (فتح القدير ج۵، ص ٤٥٤، کتاب البيوع)

قال العلامة جلال الدين رحمه الله: البيع مبادلة المال با لمال با لتراضی. (کفاية شرح الهداية فی ذيل فتح القدير ج۵، ص ٤٥٤، کتاب البيوع) و مثله فی العناية علی هامش فتح القدير ج۵، ص ٤٥٤، کتاب البيوع)

له زمکې نه بغير څخه يو ائې د اوبو د پلورلو حکم

سوال: که چېرته د زمکې حق شرب بغير د زمکې له پلورلو څخه وپلوري نو آيا دا بيعه به شرعا صحيح وي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: شريعت له ماء محرز (يعنې هغه اوبه چه په لوښي کښې محفوظې وي) څخه پرته عامې اوبه مباح الاصل ګرځولي دي او د زمکې د شرب حق ئې د زمکې په توابع کښې شمار کړی دی فقهاء کرامو تصريح فرمايلې ده چه که چېرته زمکه پرته د اوبو له يادونې څخه وپلورل شي نو د زمکې سره د شرب حق پخپله په بيعه کښې شمارل کيږي. لهذا مفتی به او د ظاهر الروايت د قول مطابق په مستقله توګه د حق شرب اخيستل او پلورل، هبه او تصدق او د اسې نور جائز نه دي.

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و لا يباع الشرب و لا يوهب و لا يؤجر و لا يتصدق به لانه ليس بمال متقوم فی ظاهر الرواية و عليه الفتوٰی. (رد المحتار ج۵، ص ۸۰، باب البيع الفاسد)

قال العلامة قاضيخانؒ: و لا يجوز بيع مسيل الماء و هبته و لا بيع الطريق بدون الارض و کذلك بيع الشرب. (فتاوی قاضيخان علی هامش الهندية ج۲، ص ١٥٤، کتاب البيوع، باب البيع الفاسد) و مثله فی شرح المجلة (تحت المادة ۲۱٦، ص ۱۰۵، الفصل الثانی فيما يجوز بيعه و ما لا يجوز)

د يو موټر د متوقع ګټې پلورل

سوال: دوه کسانو پخپل منځ کښې په شريکه سره يو بس واخيست. اوس په دواړو کښې يوه ورته ووېل چه د بس کلنۍ ګټه توله په ما باندې په دومره روپۍ وپلوره نو آيا دا عقد شرعا جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اخيستلو او پلورلو لپاره شريعت مقدسه د مبيعه موجود والي ضروري ګرځولی دی. په نوموړي صورت کښې چونکه کلنۍ ګټه يعنې منافع مجهول او معدوم دي. له دې وجهې دا بيع د بيع معدوم په زمره کښې راځي کومه چه باطله ده.

لما قال العلامة الکاسانی رحمه الله: منها ان يکون موجودا فلا ينعقد بيع المعدوم و ماله خطر العدم. (بدائع الصنائع ج۵، ص ۱۳۸، کتاب البيوع، فصل و اما الذی يرجع الی المعقود الخ.)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: و بيع ما ليس فی ملکه لبطلان المعدوم اذ من شرط المعقود عليه ان يکون موجودا مالا متقوما فی نفسه. (رد المحتار ج۵، ص ۵۸، کتاب البيوع، مطلب الآدمی مکرم شرعا و لو کافرا) و مثله فی البحر الرائق ج٦، ص ۱۱٦، کتاب البيوع)

له ټاکل شوي نرخونو څخه په لوړ قيمت د شيانو د پلورلو حکم

سوال: يوه سړي د کيمياوي کود شرکت خلاص کړی دی او هغه د حکومت له خوا څخه په ټاکلي نرخ باندې خپل کيمياوي کود پلوري او کله کله د کيمياوي کود د کموالي له وجهې کود په مارکيټ کښې کم پيدا کيږي. له د اسې موقع نه د فائدې اخيستلو له مخې دغه خرڅوونکی کيمياوي کود په زيات قيمت باندې پلوري آيا د اسې کول ورته جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې دغه د کود پلورونکی د حکومت وکيل نه دی ځکه چه د يوه کاروبار ټول منافع مالك ته حاصليږي ليکن هغه د حکومت سره د کود په مقرره نرخ باندې عهد او پيمان کړی دی او حکومت هغه ته نرخ ورښيي او کود ورکوي له دې وجهې په لوړ قيمت باندې په پلورلو کښې بد عهدي او خلاف ورزي، دروغ او د خدای په مخلوق باندې ظلم او زياتی او بې رحمي لازميږي ځکه له دې څخه اجتناب او پرهيز ضروري دی.

قال الله تبارك و تعالی: وَ اَوفُوا بِا لعَهدِ اِنَّ العَهدَ كَانَ مَسئُولاً☆ (بنی اسرائيل آيت ۳٤)

قال العلامة التمرتاشیؒ: و لا يسعر حاکم الا اذا تعدی الارباب عن القيمة تعديا فاحشًا فيسعر بمشورة اهل الرای. (تنوير الابصار علی صدر رد المحتار ج٦، ص ٤۰۰، کتاب الکراهية، فصل فی البيع)

په بيع کښې د بل سړي د فعل شرط لګول

سوال: يوه سړي په چا باندې په دې شرط زمکه خرڅه کړه چه فلانی سړی په ما معينه ټکړه زمکه پلوري او که چېرته هغه په ما باندې زمکه و نه پلورله نو ما ته د بيع د واپس کولو حق شته. د مستقلې بيعې نه وروسته هغه بل سړي په ده باندې د زمکې له پلورلو څخه انکار وکړ نو اوس بائع وايي چه چونکه ما د خپلې زمکې د واپس کولو شرط لګولی وو لهذا زه اوس خپله بيع منسوخوم. نو آيا ده ته اوس د خپلې زمکې واپس کول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په بيع کښې هغه شرطونه پوره کيږي چه د بيعې د مقتضياتو او د عقد له لوازماتو څخه وي۔ نوموړې شرط چونکه له مقتضياتو او ملازماتو څخه نه ده او نه مفسد للعقد دی۔ ځکه چه دا شرط ئې د اجنبي په فعل پورې معلق کړی دی نو په دې بناء باندې شرط فاسد ګڼل کيږي او بائع ته د زمکې د واپس اخيستلو حق نشته۔

لما قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله: و فى المنتقىٰ قال محمد كل شىء يشترطه المشترى على البائع يفسد به البيع فاذا شرطه على اجنبى فهو باطل (اى فا لسرط باطل منحة الخالق) كما اذا اشترىٰ دابة على ان يهبه فلان الاجنبى كذا فهو باطل. (البحر الرائق ج٦، ص٨٦، باب البيع الفاسد)

قال ال العلامة ابن عابدينؒ: المراد با لنفعَ ما شرط من احد العاقدين على الآخر فلو على اجنبى لا يفسد و يبطل الشرط لما فى الفتح عن الولوالجية بعتك الدار بالف على ان يقرضنى فلان الاجنبى عشرة دراهم فقبل المشترى لا يفسد البيع لانه لا يلزم الاجنبى و لا خيار للبائع. (رد المحتار ج٥، ص٨٥، مطلب فى الشرط الفاسد اذا ذكر بعد العقد او قبله) و مثله فى شرح المجلة لسليم رستم باز (تحت المادة ١٨٩، ص٨٩)

د ايجاب او قبول په وخت کښې مبيعه مشتري ته د حواله کولو لپاره د څو ورځو د مهلت شرط لګول

سوال: د بيع د عقد په دوران کښې دا شرط لګول چه مبيعه تر اوسه پورې نشته څو ورځې وروسته ئې در حواله کوم نو آيا دبائع لپاره دغه شرط لګول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ذکر شوی شرط نه د بيع له مقتضياتو څخه او نه د ملازماتو څخه دی بلکه يواځې د بائع د فائدې لحاظ پکښې شوی دی او بيع شوې ده او د مبيعې په حواله کولو کښې د مهلت شرط لګول فقهاوو فاسد بللی دی په دې بناء باندې دا شرط هم ناجائز دی البته که چېرته ئې پيسې د وعده په توګه واخيستې او څو ورځې وروسته ئې د مبيعې د حواله کولو فيصله وکړه نو د بيعې د استجراء له رويه دا پيشکي روپۍ د بيعې وعده شمارل کيږي او د مبيعې د حواله کولو په وخت کښې به بيعه منعقده کيږي۔

لما قال العلامة على بن ابى بكر المرغينانى رحمه اللهؒ: و من باع عينا على ان لا يسلمه الى رأس الشهر فا لبيع فاسد لان الاجل فى المبيع العين باطل فيكون شرطا فاسدا و هذا لان الاجل شرع ترفيهاً فيليق با لديون دون الاعيان. (الهداية ج٣، ص٦٣، باب البيع الفاسد)

قال فى الهندية: اذا شرط الاجل فى المبيع فسد العقد و ان شرط الاجل فى الثمن و الثمن دين فان كان الاجل معلوما جاز البيع و ان كان مجهولا فسد البيع. (الفتاوى الهندية ج٣، ص١٤٢، الباب العاشر فى الشروط التى تفسد البيع الخ) و مثله فى البحر الرائق (ج٦، ص٨٥، باب البيع الفاسد)

د نفع په خاطر خريدار ته له بل دوکان څخه د سودا د اخيستلو لپاره په قرض باندې پيسې ورکول

سوال: يو سړی له يوه دوکاندار څخه څه شی په قرض باندې اخيستل غواړي ليکن هغه شی له دوکاندار سره نشته او دوکاندار په دې شرط باندې هغه سړي ته په قرض روپۍ ورکوي چه ما ته به دومره ګټه پکښې راکوې نو آيا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې چونکه دوکاندار خريدار ته قرض ورکوي د ګټې مطالبه کوي نو د قرض ورکولو په صورت کښې د شريعت له مخې ترې هر ډول منافع حاصلول ممنوع دي ځکه چه فقهاوو تصريح کړې ده چه شرط لګول او په شرط باندې قرضه ورکول او په شرط باندې عمل کول لازم نه دي لهذا په نوموړي صورت کښې د قرض له ورکولو نه وروسته نه په خريدار باندې ضروري دی چه ګټه ورکړي او نه ئې دوکاندار ته اخيستل جائز دي۔

لما قال النبىﷺ: قل قرض جرّ نفعا فهو ربوٰا (نصب الراية ج٤، ص٦٠، كتاب الحوالة)

قال الحصكفىؒ: القرض با لشرط حرام و الشرط لغو. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٥، ص١٦٦، فصل فى القرض) و مثله فى البحر الرائق ج٦، ص١٨٧، كتاب البيوع، باب المتفرقات)

د عيب لرونکو شيانو اخيستل او پلورل

سوال: له يوه دوکاندار سره مختلف قسم غنم دي چه په مختلفو نرخونو باندې ئې پلوري اوس که چېرته دوکاندار دغه مختلف قسم غنم سره يو ځای کړي او يو ځانته ډول غنم ترې جوړ کړي چه په هغه کښې ادنی او اعلی هر ډول غنم موجود وي نو آيا د غنمو دا ډول ګډول او بيا ئې خرڅول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دوکاندار د غنمو حقيقت پټ کړي او د اعلی قسم غنمو په بيه ئې ادنی غنم خرڅ کړي نو دا جائز نه دي او که چېرته ئې خريدار ته ور وښيي او بيا ئې خرڅ ئې کړي نو په دې کښې څه حرج نشته۔ ځکه چه د بائع د ښوولو نه وروسته د عيب دار شي په پلورلو کښې هيڅ حرج نشته او د يو شي عيب پټول او بيا ئې خرڅول ګناه ده۔

لما قال العلامة الحصكفىؒ: لا يحل كتمان العيب فى مبيع او ثمن لان الغش حرام. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٥، ص٤٧، كتاب البيوع، باب خيار العيب)

قال على بن ابى بكر المرغينانىؒ: اذا اطلع المشترى على عيب المبيع فهو با لخيار ان شاء اخذه بجميع الثمن و ان شاء رده. (الهداية ج٣، ص٤٤، باب خيار العيب، كتاب البيوع) و مثله فى البحر الرائق ج٦، ص٢٥، باب خيار العيب، كتاب البيوع)

د نقدو روپو د پور په ځای په چا باندې د یوه شي په لوړ قیمت خرڅول

سوال: یوه سړي له چا څخه درې زره روپۍ د قرض په توګه وغوښتې. هغه د پور ورکولو په ځای هغه ته د درې نیمو زرو روپو رخت ورکړ په داسې حال کښې چه د دریو زرو روپو رخت دی. هغه حاجت مند رخت را واخیست او په بازار کښې ئې په درې زره روپۍ وپلوره. په دې صورت کښې قرض ورکوونکي ته پنځه سوه روپۍ ګټه پاتې شوه او ضرورت مند ته درې زره روپۍ په لاس ورغلې. چه وروسته به بیا د رخت اخیستونکی سړی د رخت پلورونکي ته د درې زرو روپو په ځای درې زره او پنځه سوه روپۍ ورکوي نو آیا د شریعت له مخې د اسې معامله صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که په دې صورت کښې د قرض په ورکولو سره له حاجتمند سره د ښیګړې په ځای مفاد پرستي ښکاره په نظر راځي لیکن د بیع د ټولو شرایطو د رعایت په وجه سره د دغه عقد جائز دی په دې صورت کښې د مشتري مقصد او ضروریات پوره کیږي او بایع ته د مروجې نسیئې له وجهې له خپل قیمت څخه زیاتې روپۍ لاس ته ورځي په دې کښې شرعا څه حرج نشته ځکه چه د نقدو په نسبت په پور باندې د زیات قیمت لګول جائز دي.

لما قال العلامة کمال الدین ابن الهمام رحمه اللّٰه: کان یحتاج المدیون فیأبی المسئول ان یقرض بل ان یبیع ما یساوی عشرة بخمسة عشر الی اجل فیشتریه المدیون و یبیعه فی السوق بعشرة حالة و لا بأس فی هذا فان الرجل قام له قسط من الثمن و القرض غیر واجب علیه دائما بل هو مندوب فان ترکه بمجرد رغبة منه الی زیادة الدنیا فمکروه او لعارض یعذر به فلا .... و ما لم ترجع الیه العین التی خرجت منه لا یسمّی بیع العینة لانه من العین المسترجعة لا العین مطلقا و الا فکل بیع بیع العینة. (فتح القدیر ج٦، ص٣٢٤، کتاب الکفالة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: فان لم یعد کما اذا باعه المدیون فی السوق فلا کراهة فیه بل خلا ف الاولیٰ لان الاجل قابلة قسط من الثمن و القرض غیر واجب علیه دائما بل هو مندوب و ما لم ترجع الیه العین التی خرجت منه لا یسمّٰی بیع العینة لانه من العین المسترجعة لا العین مطلقا و الا فکل بیع بیع العینة و اقره فی البحر و النهر و الشرنبلالیؒ و هو ظاهر و جعله السید ابو السعود محمل قول ابی یوسفؒ و حمل قول محمدؒ و الحدیث علی صورة العود. (رد المحتار ج٥، ص٣٢٦، کتاب البیوع، باب المتفرقات، مطلب بیع العینة) و مثله فی البحر الرائق ج٦، ص٢٣٥، کتاب الکفالة)

د غنمو د وړه کولو په بدل کښې غله جمع کول او بیا ئې د خرڅولو حکم

سوال: نن صبا په ځینې علاقو کښې په مشین باندې د وړه کولو (میده کولو) په بدل کښې غنم، جوار او نور شیان اخلي نو آیا د غنمو یا جوارو د وړه کولو په بدل کښې د غنمو یا جوارو اخیستل، جمع کول او بیا ئې پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د غنمو یا جوارو د وړه کولو په عوض کښې د غنمو یا جوارو اخیستل ائز دي که ئې د ځان لپاره استعمالوي او که ئې جمع کوي او بیا ئې خرڅوي دواړه جائز دي

البته د میده شویو وړو څخه په خصوصي ډول سره مزدوري مقررول او اخیستل د قفیز طحان په حکم کښې راځي. چه په دې صورت کښې بیا اجاره فاسده ګرځي.

لما قال ابن عابدین رحمه اللّٰه: استاجر بغلا لیحمل طعاما ببعضه او ثورا لیطحن برّه ببعض دقیقة فسدت........... و الحلیة ان یفرز الاجر اولا او یسمّٰی قفیزا بلا تعین ثم یعطیه قفیزا منه فیجوز قال الرملی و به علم با لاولیٰ الجواز ما یفعل فی دیارنا من اخذ الاجرة من الحنطة و الدراهم معا و لا شك فی جوازه. (رد المحتار ج٦، ص٥٧، کتاب الخطر و الاباحة، فصل فی البیع)

قال فی الهندیة: و الحلیة فی ذٰلك لمن اراد الجواز ان یشترط صاحب الحنطة قفیزا من الدقیق الجید و لم یقل من هذه الحنطة. (الفتاویٰ الهندیة ج٤، ص٤٤٤، کتاب المجازة، الفصل فی قفیز الطحان و ما هو فی معناه) و مثله فی شرح المجلة لسلیم رستم باز (تحت المادة ٤٦٠)

له مشترکه زمکې څخه د خپلې حصې د پلورلو حکم

سوال: د څو تنو په منځ کښې لس کناله مشترکه زمکه ده په هغو کښې یو شریك د خپلې حصې پلورل غواړي نو آیا په شریعت مقدسه کښې له مشترکې زمکې څخه یو شریك ته د خپلې حصې د پلورلو اجازه شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له مشترکې زمکې څخه د خپلې معلومې حصې پلورل د شریعت له مخې جائز دي اګر که تقسیم شوې هم نه وي. که چېرته د خپلې حصې د پلورلو په وخت کښې دا معلومه نه وي چه مثلا ثلث ده که ربع، یو کنال دی که دوه کناله دي نو په داسې صورت کښې دا بیعه د جهالت په وجه سره باطله ګڼل کیږي او ناجائزه به وي.

لما قال محمد خالد الآتاسیؒ: بیع حصة شائعة معلومة کا لنصف و الثلث و العشر من عقار مملوك قبل الفراز صحیح لانه لا یشترط فی صحة البیع الافراز عند التسلیم لاتفاقهم علی صحة بیع مساع لا یمکن افرازه. (شرح مجلة الاحکام تحت المادة ٢١٤، ص١٠٣)

قال محمد بن اسماعیل الشهیر بابن قاضی سماوةؒ: اما بیعه فقسمان یحتمل القسمة اولا و کل قسم علی وجهین اما ان باع من اجنبی او من شریکه فا لوجه الاول و هو البیع من اجنبی علی صنفین و اما ان کان الکل له فباع نصفه او کان بین اثنین فباع احدهما نصیبه فا لبیع جائز فی المواضع کلها. (جامع الفصولین ج٢، ص٨٢، الفصل الحادی و الثلاثون فی المسائل الشیوع) و مثله فی تنقیح الحامدیة ج١، ص٢٤٦، کتاب البیوع)

په مشترکه توګه له اخیستل شوي شي څخه د خپلې حصې د ایستلو طریقه

سوال: څو تنه ملګري پخپل منځ کښې پیسې جمع کړې او یو شی ئې پرې واخیست. د څو میاشتو له استعمال نه وروسته په هغو کښې یو شریك خپله حصه بیرته اخلي نو آیا نوموړي

ملګري ته به د هغه شي د اوسني قیمت په لحاظ سره پیسې بیرته ورکوي او که د قیمت خرید په لحاظ سره؟ او حال دا چه د استعمال په وجه سره د هغه شي په قیمت کښې ډیر کموالی راغلی وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم شی چه په مشترکه توګه واخیستل شي او د استعمال نه وروسته کله چه هر یو شریك خپله حصه وغواړي نو هغه ته به د اوسني وخت د قیمت په اعتبار سره خپلې روپۍ ورکول کیږي نه چه د قیمت خرید په اعتبار سره۔ ځکه چه په استعمال او د وخت په تیریدو سره د هغه په قیمت کښې ضرور ښکته او پورته راځي۔

لما قال علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله: وَ لو تراضيا ان تقوم الكتَبَ و ياخذ كل بعضها با لقيمة لو كان با لتراضي جاز و الا لا. (الدر المختار مع رد المحتار، ج٦، ص٢٦١، كتاب الخطر و الاباحة)

قال فخر الدين حسن بن منصور الاوزجندى رحمه الله: و العبد الواحد و الدابة الواحدة با ع و يقسم ثمنها لانها لا تحتمل القسمة و كذلك كل ما يكون فى تبعيضه ضرر. (الخانية على هامش الهندية ج٣، ص١٥٠، كتاب القسمة) و مثله فى شرح المجلة لسليم رستم باز (تحت المادة ١١٤٢، ص٦٣٣)

د زیاتې ګټې په هیله د یوه شي په پلورلو کښې د ځنډ او تاخیر حکم

سوال: د کاروبار په سلسله کښې که چېرته یو سړي له بل ښهر څخه د حیواناتو خوراك یا غله او داسې نور شیان راوړي او په دې وخت کښې په مارکیټ کښې ارزان وي اوس دا سړی په دې امید باندې د مال پلورل د څو میاشتو لپاره ځنډوي چه مال پورته شي او ده ته ګټه زیاته پاتې شي آیا د دې سړي دا اقدام د ذخیره اندوزۍ په دائره کښې راځي او حرام دی او که د جواز ګنجائش ئې شته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په ذخیره کولو کښې په بنیادي توګه هغه څه راځي کوم چه د هغه ځای د خلکو حق تلفي په کښې راشي او خرڅوونکی یوائې خپل منافع او ګټې په نظر کښې ونیسي۔ لیکن له بل ښهر څخه اجناس او نور شیان خپل ښهر او خپل کلي ته په راوړلو سره د دغه کلیوالو حق تلفي نه کیږي۔ نو ځکه په نوموړي صورت کښې د دغه سړي دا اقدام جائز دی ځکه چه په دې کښې د مقامي خلکو حق تلفي نه کیږي۔ البته مسلمانانو ته تکلیف ورکول او په تکلیف کښې اچول او ذاتي مفاد او فائدې ته ترجیح ورکول د مسلمان له شان سره نه ښایي۔

لما قال على بن ابى بكر المرغينانى رحمه الله: و من احتكر غلة ضيعته او ما جلبه من بلد آخر فليس بمحتكر. (الهداية ج٤، ص٤٧١، كتاب الكراهية، فصل البيع)

قال فى الهندية: و من اشترىٰ طعاما فى مصر و جلبه الى مصر آخر و احتكره فيه فانه لا يكره هٰكذا فى المحيط. (الفتاوى الهندية ج٣، ص٢١٣، كتاب البيوع، فصل فى الاحتكار) و مثله فى بدائع الصنائع ج٥، ص١٢٩، كتاب الاستحسان)

له قطعي بیع څخه انحراف (په ش کیدل) صحیح نه دی

سوال: یوه سړي پخپل رضا او رغبت په بل سړي باندې خپل دوکان په پنځوسو زرو روپو باندې وپلوره او مشتري څه روپۍ هم ورکړې۔ د نورو روپو په حق کښې ئې دا وعده ورسره وکړه چه څو ورځې وروسته به ئې درکوم۔ اوس بایع په بل چا باندې هم د دغه دوکان خرڅول غواړي نو آیا د بائع لپاره د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په باقاعده ډول سره د ایجاب او قبول نه وروسته بائع د بیعې د فسخ کولو او د مبیعې په بل چا باندې د پلورلو شرعا هیڅ حق نه لري البته که چېرته بائع او مشتري پخپل منځ کښې په رضا او رغبت سره بیع فسخ کړي نو د بائع بل چا ته د مبیعې په ورکولو کښې څه حرج نشته۔

لما قال على بن ابى بكر المرغينانى رحمه الله: و اذا حصل الايجاب و القبول لزم البيع و لا خيار لواحد منهما من عيب او عدم رؤية. (الهداية ج٣، ص٢٥، كتاب البيوع)

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله: البيع يلزم بايجاب و قبول اى حكم البيع يلزم بهما لانه جعلهما غيره و انه يلزم بهما مع ان البيع ليس الا هما لانهما اكناه. (البحر الرائق ج٥، ص٢٦٢، كتاب البيوع) و مثله فى التبيين الحقائق ج٤، ص٣، كتاب البيوع)

د بائع او مشتري په یو ځل تللو باندې اکتفاء کول

سوال: کله چه موزوني شیان د تللو په حساب سره وتلل شي او د مشتري په وړاندې یو ځل یو شی وتلل شي نو آیا د مشتري لپاره دوهم وارې تلل ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: یو شی د تللو په حساب سره چه واخلي او د دواړو خواوو په موجودوالي کښې دغه مطلوبه شی وتلل شي نو مشتري ته بیا دوهم ځل د تللو ضرورت نشته بلکه د اخیستلو نه وروسته د دواړو په موجودوالي کښې تلل کافي دي۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قال فى الخانية لو اشترىٰ كيلاً مكايلةً او موزونا موازنة فكال البائع بحضرة المسترى قال الامام ابن الفضل يكفيه كيل البائع و يجوز له ان يتصرف فيه قبل ان يكيله. (رد المحتار ج٥، ص١٥١، مطلب فى تصرف البائع فى المبيع قبل القبض)

قال ابن نجيم رحمه الله: اما اذا كاله فى حضرته فانه يغنى عن كيله و هو الصحيح لان المبيع صار معلوما بكيل واحد. (البحر الرائق ج٦، ص١١٨، فصل فى بيان التصرف فى المبيع و الثمن قبل قبضه) و مثله فى الهداية (ج٣، ص٨٥، كتاب البيوع)

د شرکاوو خپلې خپلې حصې په یوه شریك باندې پلورل

سوال: څو شریکان پخپل منځ کښې په مشترکه توګه یو شی اخلي د اخیستلو څخه وروسته بیا پخپل منځ کښې بولۍ کوي۔ کوم یو چه په زیات قیمت باندې اخیستلو ته تیار شي نو هغه

ملګري ته به د هغه شي د اوسني قيمت په لحاظ سره پيسې بيرته ورکوي او که د قيمت خريد په لحاظ سره؟ او حال دا چه د استعمال په وجه سره د هغه شي په قيمت کښې ډير کموالی راغلی وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم شی چه په مشترکه توګه واخيستل شي او د استعمال نه وروسته کله چه هر يو شريك خپله حصه وغواړي نو هغه ته به د اوسني وخت د قيمت په اعتبار سره خپلې روپۍ ورکول کيږي نه چه د قيمت خريد په اعتبار سره۔ ځکه چه په استعمال او د وخت په تيريدو سره د هغه په قيمت کښې ضرور ښکته او پورته راځي۔

لما قال علاؤ الدين الحصكفى رحمه اللّٰه: و لو تراضيا ان تقوم الكُتَبَ و ياخذ كل بعضها با لقيمة لو كان با لتراضى جاز و الا لا. (الدر المختار مع رد المحتار، ج٦، ص۲٦۱، كتاب الخطر و الاباحة)

قال فخر الدين حسن بن منصور الاوزجندى رحمه اللّٰه: و العبد الواحد و الدابة الواحدة با ع و يقسم ثمنها لانها لا تحتمل القسمة و كذلك كل ما يكون فى تبعيضه ضرر. (الخانية على هامش الهندية ج۳، ص۱٥۰، كتاب القسمة) و مثله فى شرح المجلة لسليم رستم باز (تحت المادة ۱۱٤۲، ص٦۳۳)

د زياتې ګټې په هيله د يوه شي په پلورلو کښې د ځنډ او تاخير حکم

سوال: د کاروبار په سلسله کښې که چېرته يو سړي له بل ښهر څخه د حيواناتو خوراك يا غله او داسې نور شيان راوړي او په دې وخت کښې په مارکيټ کښې ارزان وي اوس دا سړی په دې اميد باندې د مال پلورل د څو مياشتو لپاره ځنډوي چه مال پورته شي او ده ته ګټه زياته پاتې شي آيا ددې سړي دا اقدام د ذخيره اندوزۍ په دائره کښې راځي او حرام دی او که د جواز ګنجائش ئې شته؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په ذخيره کولو کښې په بنيادي توګه هغه څه راځي کوم چه د هغه ځای د خلکو حق تلفي په کښې راشي او خرڅوونکی يوائې خپل منافع او ګټې په نظر کښې ونيسي۔ ليکن له بل ښهر څخه اجناس او نور شيان خپل ښهر او خپل کلي ته په راوړلو سره د دغه کليوالو حق تلفي نه کيږي۔ نو ځکه په نوموړي صورت کښې د دغه سړي دا اقدام جائز دی ځکه چه په دې کښې د مقامي خلکو حق تلفي نه کيږي۔ البته مسلمانانو ته تکليف ورکول او په تکليف کښې اچول او ذاتي مفاد او فائدې ته ترجيح ورکول د مسلمان له شان سره نه ښايي۔

لما قال على بن ابى بكر المرغينانى رحمه اللّٰه: و من احتكر غلة ضيعته او ما جلبه من بلد آخر فليس بمحتكر. (الهداية ج٤، ص٤٧۱، كتاب الكراهية، فصل البيع)

قال فى الهندية: و من اشترى طعاما فى مصر و جلبه الى مصر آخر و احتكره فيه فانه لا يكره هٰكذا فى المحيط. (الفتاوى الهندية ج۳، ص۲۱۳، كتاب البيوع، فصل فى الاحتكار) و مثله فى بدائع الصنائع ج٥، ص۱۲۹، كتاب الاستحسان)

له قطعي بيع څخه انحراف (په شا کيدل) صحيح نه دی

سوال: يوه سړي پخپل رضا او رغبت په بل سړي باندې خپل دوکان په پنځوسو زرو روپو باندې وپلوره او مشتري څه روپۍ هم ورکړې۔ د نورو روپو په حق کښې ئې دا وعده ورسره وکړه چه څو ورځې وروسته به ئې درکوم۔ اوس بايع په بل چا باندې هم د دغه دوکان خرڅول غواړي نو آيا د بائع لپاره د اسې کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په باقاعده ډول سره د ايجاب او قبول نه وروسته بائع د بيعې د فسخ کولو او د مبيعې په بل چا باندې د پلورلو شرعا هيڅ حق نه لري البته که چېرته بائع او مشتري پخپل منځ کښې په رضا او رغبت سره بيع فسخ کړي نو د بائع بل چا ته د مبيعې په ورکولو کښې څه حرج نشته۔

لما قال على بن ابى بكر المرغينانى رحمه اللّٰه: و اذا حصل الايجاب و القبول لزم البيع و لا خيار لواحد منهما من عيب او عدم رؤية. (الهداية ج۳، ص۲٥، كتاب البيوع)

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه اللّٰه: البيع يلزم بايجاب و قبول اى حكم البيع يلزم بهما لانه جعلهما غيره و انه يلزم بهما مع ان البيع ليس الا هما لانهما اكناه. (البحر الرائق ج٥، ص۲٦۲، كتاب البيوع) و مثله فى التبيين الحقائق ج٤، ص۳، كتاب البيوع)

د بائع او مشتري په يو ځل تللو باندې اکتفاء کول

سوال: کله چه موزوني شيان د تللو په حساب سره وتلل شي او د مشتري په وړاندې يو ځل يو شی وتلل شي نو آيا د مشتري لپاره دوهم واري تلل ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: يو شی د تللو په حساب سره چه واخلي او د دواړو خواوو په موجودوالي کښې دغه مطلوبه شی وتلل شي نو مشتري ته بيا دوهم ځل د تللو ضرورت نشته بلکه د اخيستلو نه وروسته د دواړو په موجودوالي کښې تلل کافي دي۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: قال فى الخانية لو اشترىٰ كيلياً مكايلةً او موزونا موازنة فكال البائع بحضرة المسترى قال الامام ابن الفضل يكفيه كيل البائع و يجوز له ان يتصرف فيه قبل ان يكيله. (رد المحتار ج٥، ص۱٥۱، مطلب فى تصرف البائع فى المبيع قبل القبض)

قال ابن نجيم رحمه اللّٰه: اما اذا كاله فى حضرته فانه يغنى عن كيله و هو الصحيح لان المبيع صار معلوما بكيل واحد. (البحر الرائق ج٦، ص۱۱۸، فصل فى بيان التصرف فى المبيع و الثمن قبل قبضه) و مثله فى الهداية (ج۳، ص۸٥، كتاب البيوع)

د شرکاوو خپلې خپلې حصې په يوه شريك باندې پلورل

سوال: څو شريکان پخپل منځ کښې په مشترکه توګه يو شی اخلي د اخيستلو څخه وروسته بيا پخپل منځ کښې بولۍ کوي۔ کوم يو چه په زيات قيمت باندې اخيستلو ته تيار شي نو هغه

مبیعه واخلي او هر یو شریك ته خپلي پیسې د هغه د ګټې سره ورکوي نو آیا دا معامله په دې ډول شرعا جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې چه ټولو شریکانو په مشترکه توګه څه شی واخلي او پخپل منځ کښې ئې نیلام کوي او کوم چه زیات قیمت ورکوونکی وي نو مبیعه هغه ته حواله کوي۔ نو په دې کښې خو په نیلام سره طی شوي پیسې د خپلې حصې نه علاوه د نورو شریکانو د حصو عوض وي نو دا به جائزه وي او که چېرته نه وي نو د مجموعه وو اخیستل به ناجائز وي چه په هغه کښې ئې خپله حصه هم شامله وي۔

لما قال فی مجلة الاحکام: الشریك مخیر ان شاء باع حصته من شریکه و ان شاء باعها عن اجنبی بدون اذن شریکه. لکن فی صور خلط الاموال و اختلاطها التی بیناها فی الفصل الاول. (مجلة الاحکام المادة۱۰۸۸، ص ۱۲۰)

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و کل من شرکاء الملك اجنبی فی مال صاحبه فصح له بیع حصته و لو من غیر شریکه بلا اذن الا فی صورة الخلط. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص ۳۰۰، کتاب الشرکة، مطلب الحق ان الدین یملك) و مثله فی شرح المجلة لسلیم رستم باز تحت المادة۱۰۸۸، ص۶۰۸)

د قـــــــــرض د پلورلو حکم

سوال: ما په سعودي عرب کښې کاروبار کاوه۔ هلته زما په چا باندې لس زره روپۍ قرضه وه لیکن اوس هلته تلل او د خپلې قرضې وصولول راته ډېر مشکل دي ځکه دغه قرضه زه په چا باندې په ۹زره روپو باندې پلورل غواړم آیا د قرضې د روپو په دې طریقې سره پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مقروض نه علاوه په بل چا باندې د قرض پلورل فقهاوو ممنوع ګرځولی دی۔ په نوموړي صورت کښې چونکه د ۹زرو نقدو روپو په بدله کښې لس زره روپۍ اخیستل کیږي نو د ربوٰا نسئیه په وجه سره ئې اخیستل حرام دي۔

لما قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و بیع الدین لا یجوز و لو باعه من المدیون او وهبه جاز. (الاشباه و النظائر ج٤، ص ١٤، المادة١٦، کتاب البیوع)

قال ملك العلماء علامة کاسانی رحمه اللّٰه: بیع هذه الدیون من غیر من علیه و الشراء بها من غیر من علیه فینظر ان اضاف البیع و الشراء الی الدین لم یجز. (بدائع الصنائع ج٥، ص ۱۸۲، فصل و اما شرائط الصحة) و مثله فی فتاوی تنقیح حامدیة ج۲، ص۲٤۹، کتاب المداینات)

د غیر مسلمو د متروکه شیانو پلورل

سوال: په یوه ملك کښې کافر ترڅه وخته پورې د آبادی نه وروسته چه له هغه ځای څخه لاړ شي نو د هغوی د پاتې شوني اشیاوو حکم څه دی؟ آیا د هغو پلورل او روپۍ ئې پخپل ذاتي استعمال کښې راوستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له یوه مسلمان ملك څخه د کافرانو د تللو نه وروسته د هغوی پاتې کیدونکي جاید ادونه یا نور شیان د ذاتي مفاد لپاره پلورل شرعا ممنوع دي بلکه هغه شیان یا د هغو قیمت به بیت المال ته حواله کیږي او که چېرته د بیت المال قابل اعتماد نظام نه وي بلکه په هغه کښې د هغو شیانو د ضائع کیدو خطر وي نو بیا ئې په داسې ځای کښې مصرفول مناسب دي له کوم ځای سره چه عامه فائده تړلې وي۔ د داسې مالونو لپاره دیني مدارس او درس ګاوې د مصرف بهترین ځایونه دي۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه اللّٰه: و ما اوجف المسلمون علیهم من اموال اهل الحرب بغیر قتال یصرف علیه فی مصالح المسلمین کما یصرف الخراج قالوا هو مثل الاراضی التی اجلوا اهلها عنها. (الهدایة ج۲، ص ٥٦٤، کتاب السیر، فصل و اذا دخل الحربی الینا)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و ما اخذ منهم بلا حرب و لا قهر کالهدیة و الصلح فهو لا غنیمة و لا فیٔ و حکمه حکم الفیء لا یخمس و یوضع فی بیت المال. (رد المحتار ج٤، ص۱۳۸، باب المغنم و قسمته، مطلب فی بیان معن الغنیمة و الفیء)

د هم جنسه موزوني شیانو له تللو پرته پلورل

سوال: په ځینې علاقو کښې څه شیان بغیر د تللو نه پلورل کیږي۔ پس که چېرته بعضې موزوني اشیاء لکه پیاز، اوړه، او داسې نور په اندازې سره بغیر له تول نه پخپل هم جنسه شي باندې وپلوري نو د شریعت له مخې به دا بیعه صحیح وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: موزوني شیان بغیر له تللو نه پخپل هم جنسه شیانو باندې پلورل او تبادله کول جائز نه دي ځکه چه په دې کښې د ربوٰا یعنې د سود شبه وي پس دغه شبه د یقیني سود قائم مقام ګرځي او بیعه ناروا ګرځي۔

د ګړې د معیار د ښه کولو لپاره د "رنګ کاټ" استعمالول

سوال: په ځینې علاقو کښې د ګړې د صفاء کولو لپاره رنګ کاټ (یو خاص ډول کیمیاوي مواد) استعمالیږي ترڅو چه سپینه شي او قیمت ئې زیات شي آیا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د ګړې د صفائي او د هغې د معیار د ښه کولو لپاره دغه کیمیاوي مواد استعمال شي نو په دې کښې هیڅ حرج نشته۔ او که چېرته ددغه مواد په استعمال ادنی ګړه اعلی ښکاریږي او یا اخیستونکي ته دوکه ورکول مقصود وي نو دا به د ګډون مترادف وي کوم چه ناجائز او حرام دی۔

اخرج الامام ابو داوٗد: عن ابی هریرة رضی اللّٰه عنه ان رسول اللّٰهﷺ مرّ برجل یبیع طعاما فسئله کیف تبیعه فاخبره فاوحی الیه ان ادخل یدك فادخل یده فیه فاذا هو مبلول فقال رسول اللّٰهﷺ لیس منا من غشّ. (ابو داوٗد، ج۲،

ص۱۳۳، کتاب البیوع، باب نهی عن الغش)

قال فی الهندیة: و یکره ان یلبس الجید با لردی و ان یصبغ اللحم با لزعفران. (الفتاوٰی الهندیة ج۳، ص۲۱۰، فصل فی الاحتکار) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۱۰۲، باب البیع الفاسد، بعد مطلب احکام نقصان المبیع فاسدا)

د جُمعې د آذان نه وروسته د تجارت کولو حکم

سوال: د جُمعې د آذان نه وروسته تجارت (کاروبار) کول د شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جُمعې په ورځ کله چه وخت داخل شي او آذان وشي نو په دې وخت کښې د جمعې د متعلقه کارونو نه علاوه په نورو امورو کښې مصروفیدل مناسب نه دي ځکه چه د جُمعې د آذان ځخه وروسته تجارت کول مکروه دي ځکه چه له دې سره د جُمعې سعی او تیاري متاثره کیږي نو د جُمعې تر آذان وروسته مسلمانان باید خپل تجارتونه بند کړي۔

لما قال الله تبارك و تعالى: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَ ذَرُوا الْبَيْعَ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ☆ (سورة الجمعة، آیت ۹)

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و البیع عند آذان الجمعة قال الله تعالی و ذرو البیع ثم فیه اخلال بواجب السعی علی بعض الوجوه و قد ذکرنا الآذان المعتبر فیه فی کتاب الصلٰوة کل ذٰلك یکره لما ذکرنا و لا یفسد به البیع. (الهدایة ج۳، ص۶۹، فصل فیما یکره، کتاب البیوع) و مثله فی البحر الرائق ج۶، ص۹۹، فصل فی البیع الفاسد)

د ضرورت ځخه زیاته ډوډۍ جمع کول او بیائې پلورل

سوال: ځینې خلك د ضرورت ځخه زیاته ډوډۍ (ټکړې یا وظیفې) جمع کوي او بیائې پلوري نو آیا د داسې ډوډۍ اخیستل او پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه شي د اخیستلو او پلورلو لپاره دا ضروري ده چه هغه شی مال متقوم وي نو له دې وجهې ډوډۍ او وړه مال متقوم دي لهذا اخیستل او پلورل ئې شرعا جائز دي۔

لما قال فخر الدین عثمان بن علی الزیلعیؒ: و شرط ان یکون فی العقد عوضان کل واحد منهما مال یتحقق رکن البیع و هو مبادلة المال با لمال. (تبیین الحقائق ج۴، ص۶۱، فصل فی قبض المشتری المبیع فی البیع الفاسد بامر البائع)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و قید بقوله و کل من عوضیه مال لیخرج البیع با لمیتة و کل بیع باطل. (البحر الرائق ج۶، ص۹۲، فصل فی البیع الفاسد) و مثله فی حاشیة السبلی علی هامش تبیین الحقائق ج۴، ص۳، کتاب البیوع)

د کاریز د اوبو پلورل

سوال: په ځینې علاقو کښې د اوبه د کموالي د لرې کولو لپاره کاریز استعمالیږي نو آیا د دغو کاریزونو د اوبو پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرام کاریز د نهر جاري په حکم کښې ګرځولی دی۔ د نهر غوندې د کاریز اوبه هم مملوك او محرز نه دي نو ځکه د کاریز د اوبو پلورل جائز نه دي۔ او که چېرې بیا هم په باقاعده توګه محرزې شي او ونې پلورې نو څه حرج پکښې نشته۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و الثالث اذا دخل الماء فی المقاسم فحق الشفعه ثابت و لان البئر و نحوها ما وضع للاحراز و لا یملك المباح بدونه کا لظبی اذا تکنّس فی ارضه. (الهدایة ج۴، ص۴۸۲، فصول فی مسائل الشّرب)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و القناة مجری الماء تحت الارض........ لانه نهر فی الحقیقة تعتبر با لنهر و لان الانهار و الآبار و الحیاض لم توضع للاحراز و المباح لا یملك الا با لاحراز. (البحر الرائق ج۸، ص۲۱۲، کتاب احیاء الموات) ومثله فی رد المحتار ج۶، ص۴۳۹، کتاب احیاء الموات)

د بیع فضولي حکم

سوال: د یوه سړي مملوکه زمکه د هغه د اجازې او رضا و رغبت نه علاوه د هغه ورور وپلورله اوس هغه خپله زمکه واپس کول غواړي۔ د ده د اصرار باوجود ئې نه مشتري په واپس کولو باندې راضي دی او نه ئې ورور۔ نو اوس د نوموړې زمکې شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په یوه مملوکه زمکې کښې د مالك د اجازې نه علاوه هیچا ته هم د تصرف حق نشته لهذا کومه زمکه چه د چا د شهادت په ذریعه سره د چا منل شوی ملکیت وي نو په هغې کښې بل چا ته د هیڅ تصرف حق نشته او شرعا خپله ملکیتي زمکه واپس کولی شي۔

لما قال علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه الله: و من باع ملك غیره بغیر امره فا لمالك با لخیار ان شاء اجاز البیع و ان شاء فسخ. (الهدایة ج۳، ص۹۰، کتاب البیوع، فصل فی بیع الفضولی)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: شرائط النفاذ اثنان الملك او الولایة و ان لا یکون فی البیع حق لغیر البائع فلم ینفذ بیع الفضولی. (رد المحتار ج۴، ص۵۰۵، کتاب البیوع، مطلب شرائط البیع انواع اربعة)

د ځناورو د وینو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د ځناورو د وینو پلورل ځرنګه دي او د هغې ځخه شرعا د انتفاع حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: وینه پخپله یو نجس شی دی او اسلام د هغې اخیستل او پلورل حرام کړي دي۔ برسیره پر دې له هغې ځخه د شرعي ضرورت نه بغیر انتفاع اخیستل هم جائز نه دي

له دې وجهې د ځناورو د وینو اخیستل او پلورل او له هغو څخه انتفاع اخیستل جائز نه دي۔

كما قال الله تعالى: إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ الآية. (سورة البقرة آيت ۱۷۳)

كما قال الرسول ﷺ ان الله اذا حرم على قوم اكل شىء حرم عليهم ثمنه. (اعلاء السنن ج ۱۴، ص ۸۰، ابواب البيوع الفاسدة، باب حرمة بيع الخمر الخ)

قال العلامة التمرتاشیؒ: بطل بيع ما ليس بمال كا لدم و الميتة. (تنوير الابصار ج ۴، ص ۱۱۲، كتاب البيوع)

قال العلامة على بن ابى بكر المرغينانىؒ: بيع الميتة و الدم و الحر باطل لانها ليست اموالا فلا تكون محلا للبيع. (الهداية ج ۳، ص ۳۳، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

د مشترکه جایدادونو او زمکو د بیع او شراء حکم

سوال: د مشترکه جایداد او اراضي اخیستل او پلورل جائز دي او که نه؟ د فقهې په رڼا کښې ځواب راکړی، مهرباني به مو وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مشترکه جایداد اخیستل او پلورل جائز دي په دې شرط چه د ټولو شرکاوو رضا پکښې شامله وي ځکه چه هر یو د خپلې حصې مالك دی او مالك پخپلې حصې کښې تصرف کولی شي لهذا دا بیع صحیح ده او فاسده نه ده۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: اذا باع احد الشريكين نصفها فان ثم يجوز البيع فى نصف الدار لان بيع المالك انصرف الى نصيبه باع احدهما نصيبه فا لبيع جائز فى المواضع. (تنقيح الحامدية ج ۱، ص ۲۴۵، كتاب البيوع)

قال العلامة الزيلعى رحمه الله: هذا لانه با لبيع صار شركة ملك حتىٰ لا يجوز لكل واحد منهما ان يتصرف فى نصيب الاجر ثم با لقصد بعد ذٰلك صار شركة عقد فيجوز لكل واحد منهما ان يتصرف فى نصيب صاحبه. (تبيين الحقائق ج ۳، ص ۳۱۷، كتاب البيوع)

د مشتري بایع ته د دوکه ورکولو حکم

سوال: یوه سړي له چا څخه په غبن فاحش سره زمکه واخیسته۔ اوس له دیارلسو یا څوارلسو کلونو وروسته غواړي چه دا زمکه بایع ته بیرته ورکړي نو آیا ده ته دا حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې اخیستل او پلورل چه په هغه کښې یوه او بل ته پکښې دوکه ورکول شوې وي فریقین ته ئې د واپس کولو او د بیع د فسخ کولو حق حاصل دی۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: و ان غر المشترى البائع او با لعكس او غره الدلال فله الرد. (رد المحتار ج ۴، ص ۱۷۸، باب المرابحة و التولية)

لیکن په دې شرط چه دغبن فاحش د معلومیدو څخه مخکښې مشتري په مبیعه کښې تصرف نه وي کړی او نه بایع په ثمن کښې تصرف کړی وي چه بیا له هغه څخه رضا معلومیږي۔

كما قوله عليه السلام: نهى عن بيع الحصاة و عن بيع الغرر. (اعلاء السنن ج ۴، ص ۸۹)

قال العلامة خالد آتاسیؒ: اذا غر احد المتبائعين الآخر و تحقق ان فى البيع غبنا فاحشا فللمغبون ان يفسخ البيع حينئذ. (شرح المجلة ج ۱، ص ۱۹۹، الفصل السابع)

د قربانۍ لپاره د اخیستل شوي حامله ځناور د واپس کولو حکم

سوال: یوه سړي د قربانۍ لپاره له چا څخه یو ځناور واخیست۔ له بیع نه وروسته مشتري ته معلومه شوه چه حامله ده آیا یواځې په دې وجهې سره هغه واپس کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع د تام کیدو نه وروسته کله چه په یوه ځناور کښې د عیب پته ولګیږي او هغه عیب د بایع په نزد په دې ځناور کښې موجود وي او ښوولی ئې نه وي نو په دې وجه مشتري ته د بیع د فسخ کولو اختیار حاصل دی لیکن په دې صورت کښې د ځناور حامله توب څه عیب نه دی نو ځکه مشتري ته بیع د فسخ کولو اختیار نشته بیا هم د اقالې په صورت کښې مبیعه واپس کیدلی شي۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: نعم له ردها بعيب الحبل و الحبل عيب فى الجارية لا فى البهائم. (تنقيح الحامدية ج ۱، ص ۲۷۰، كتاب البيوع، باب الخيارات)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: رجل اشترى حمارا و احبلها لا يردها با لعيب. (خلاصة الفتاوىٰ ج ۳، ص ۷۳، كتاب البيوع، باب خيار العيب) و مثله فى البحر الرائق (ج ۶، ص ۴۵، باب خيار العيب)

د بیع د فسخ کولو په صورت کښې په بایع باندې د جرمانه لګولو حکم

سوال: دوو کسانو څه مشترکه زمکه وپلورله او له مشتري څخه ئې څه پیسې نقدې واخیستې او باقي روپۍ ئې د اسنادو تر اړولو پورې مؤخرې کړې او مشترې دا شرط هم ورسره ولګاوه چه که چېرته بایع زمکه واپس اخیستله نو بیا به ۲۵ روپۍ جرمانه ادا کوي۔ نو آیا داسې معامله شرعا جواز لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې که چېرته دغه شرط او د روپۍ وصولي وغیره ئې د بیع د ایجاب او قبول په وخت کښې لګولی وي نو دا بیعه فاسده ده او په دغه کښې هر یو پرته د بل له رضا څخه بیعه فسخ کولی شي او همدا رنګه د فسخ په صورت کښې د هغو اخیستل شویو روپو واپس کول ضروري دي۔ له فسخ کوونکي څخه جرمانه اخیستل جائز نه دي او که چېرته د ایجاب او قبول څخه وروسته وي نو بیا ئې هیڅ اعتبار نشته۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: طلب فى الشرط الفاسد اذا ذكر بعد العقد او قبله لا يقتضيه العقد و لا يلائمه و فيه نفع لاحدهما او فيه نفع مبيع هو اهل الاستحقاق بنفع. (رد المحتار ج ۴، ص ۱۳۶، باب بيع الفاسد)

كما فى الحديث قوله عليه الصلوٰة و السلام: كل شرط ليس فى كتاب الله فهو باطل فبطل الشرط الواحد و

کل ما لم یعقداه به. (اعلاء السنن ج۱٤، ص۱۱۳، باب النهی عن البیع با لشرط) ومثله فی الهدایة ج۳، ص٤۳، کتاب البیوع، باب بیع الفاسد)

تر ټاکلي وخته پورې د روپو د ادا کولو اختیار ورکول

سوال: علماء کرام د لاندې درج شوې مسئلې متعلق څه فرمایي چه که چېرته بایع مشتري ته دا ووایي چه که دې تر ماښامه روپۍ راکړې نو ستا او زما په منځ کښې به معامله باقي وي او که چېرته دې رانه کړې نو معامله به فسخه وي نو آیا داسې کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې بیع کول د عقد بیع د صحت منافي نه ده له دې وجهې که چېرته د نوموړي صورت مطابق مشتري تر ماښامه پورې هغه معینه ثمن بایع ته ونه رسوله نو بیعه به استحساناً له منځه ځي۔

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: و من باع علی انه ان لم ینقد الثمن الی ثلثة ایام فلا بیع بینهما جاز. (الهدایة ج۳، ص۳٤، باب خیار الشرط)

قال العلامة ابن عابدینؒ: فان نقد الثمن تم البیع و ان لم ینقد انفسخ البیع و فی بعضها فسد البیع و لو باع عبد علی انه ان لم ینقد المشتری الثمن الی ثلثة ایام فلا بیع صح استحسانا. (رد المحتار ج٤، ص٥٤، کتاب البیوع)

په پښېمان کېدو باندې د پیسو واپس ورکول لازم دي

سوال: یوه سړي له یو چا څخه کور واخیست او څه پیشکي روپۍ ئې هم ورکړې لیکن د ایجاب او قبول او په مبیعې باندې د قبضه کولو نه وروسته مشتري د مکان له اخیستلو څخه پښېمانه شو او بایع ته د مکان واپس ورکول غواړي او خپلې هغه پیشکي روپۍ هم بیرته ځنې غواړي نو آیا چه کله مشتري مکان واپس کړي نو له بایع څخه د خپلو پیسو د اخیستلو شرعاً حقدار دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بایع لپاره د پښېمانتیا روپۍ اخیستل حرامې دي بلکه بایع دې په خپلې مبیعې باندې له قبضې نه وروسته د مشتري ټولې روپۍ واپس کړي۔

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: فان شرط اکثر منه او اقل فا لشرط باطل و یرد مثل الثمن الاول لقوله علیه السلام من اقال نادما بیعته اقال اللّٰه عسراته یوم القیامة. (الهدایة ج۳، ص۷۱، باب الاقالة)

قال العلامة ابن الهمام رحمه اللّٰه: و حقیقة الفسخ لیس الا رفع الاول کان لم یکن فیثبت الحال الاول و ثبوت الحال الاول هو برجوع عین الثمن الاول الی مالکه کان لم یدخل فی الوجود غیره و هو یستلزم تعیین الاول. (فتح القدیر ج۶، ص۱۱٤، باب الاقالة)

په بیع کښې د بیعانه (ټیپۍ) د ضبط کولو رواج

سوال: یوه سړي په یو چا باندې یو مکان وپلوره او د رواج مطابق د مشتري څخه څه روپۍ د بیعانه په ډول واخیستې او په دې بیع کښې فریقینو په مابین کښې دا شرط طې شو یعنې په دې شرط باندې فیصله وشوه چه که چېرته تر یوه ټاکلي وخته پورې که چېرته بایع انکار وکړ نو هغه به مشتري ته ۱۰۰۰۰ روپۍ د جرمانې په توګه ورکوي او که چېرته مشتري په مقرره وخت کښې باقي پیسې ادا نه کړې او د مکان اسناد ئې جوړ نه کړی شو نو د بیعانې روپۍ به ئې ضبط کیږي نو آیا مشتري ته د جرمانې د اخیستلو او بایع ته د بیعانې د ضبط کولو شرعاً حق شته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې دا مشروط عقد فاسد دی او متعاقدینو ته د بیع د فسخ کولو اختیار شته۔ او همدارنګه بایع ته د بیعانې د ضبط کولو شرعاً هیڅ حق نشته۔

کما قوله علیه الصلوٰة و السلام: نهی عن بیع العربان. (اعلاء السنن ج۱٤، ص۱۲۷، باب النهی عن بیع العربان)

قال العلامة المرغینانیؒ: کل شرط لا یقتضیه العقد و فیه منفعة لاحد المتعاقدین او للمقود علیه و هو من اهل الاستحقاق یفسده. (الهدایة ج۳، ص۶۲، باب البیع الفاسد)

د کلوګرام په حساب سره د یو شي اخیستل او د سیر په حساب سره ئې پلورل

سوال: یوه سړي له بل ملك څخه څه شیان د کلوګرام په حساب سره اخلي او پخپل ملك کښې ئې د سیر په حساب سره پلوري او همدارنګه د هغه ځای څخه رخت د متر په حساب سره اخلي او دلته ئې د ګز په حساب سره ئې پلوري نو آیا د اسې کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق د تجارت دا طریقه بالکل جائزه ده په دې شرط سره چه په هغه کښې هیڅ دوکه نه وي۔

قال العلامة المرغینانیؒ: یجوز بیع الطعام و الحبوب مکایلة و مجازفه...... قال و یجوز باناء بعینه لا یعرف مقداره و بوزن حجر بعینه لا یعرف مقداره لان الجهالة لا تفضی الی المنازعة. (الهدایة ج۳، ص۲۷، کتاب البیوع)

قال العلامة بدر الدین العینی رحمه اللّٰه: یباع الطعام کیلا ای من حیث الکیل و یباع ایضا و جزاما لان بکل منهما یصیر معلوما اما المکایلة فظاهر و اما الجزاف فلانه با لاشارة تفع الجهالة. (عینی شرح کنز ج۲، ص۳، تحت فی بیان احکام البیوع) و مثله فی البحر الرائق (ج۵، ص۲۸۲، تحت احکام البیوع)

د نـــــابالغ جايداد په جبر سره پلورل

سوال: څه فرمايي علمائ دين د لاندیني درج شويو مسائلو په باره کښې چه:

﴿۱﴾ آيا د يوه نابالغ جايداد جبراً ځوك پلورلی شي او که نه؟

﴿۲﴾ د دوو نابالغ ورونو څخه يوه د خپل بل ورور جايداد پلورلی شي او که نه او حال دا چه هغه ته د هغه علم هم نه وي؟

﴿۳﴾ د شفعې حق د نسبيت په وجه سره حاصليږي او که د ګاونډيتوب او قرب په وجه سره؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ يو اجنبي يعنې پردي سړي ته د يو نابالغ جايداد د هغه له رضاء څخه پرته پلورل صحيح نه دي. بيا هم پلار ته د منفعت په وجه سره د تصرف حق شته.

﴿۲﴾ که چېرته دغه پلورونکی پخپله يتيم وي اوله دې سره سره نابالغ اوغيرعاقل هم وي نود هغه اخيستل اوپلورل کالعدم او نامنظور دي.

لما قال العلامة الحصكفیؒ: و شرط اهلية المتعاقدين بكونهما عاقلين لا يسرط البلوغ. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٤، ص٥، كتاب البيوع)

﴿۳﴾ د شفعې حق د نسبيت له نسبت څخه نژديوالي ته زيات حاصل دی.

قال العلامة على بن ابی بكر المرغينانی رحمه اللّٰه: و اذا اكره الرجل على بيع ماله او على شراء سلعة او على ان يقر لرجل بالف يواجر داره و اكره على ذٰلك با لقتل او با لضرب الشديد او با لحبس فباع او اشترىٰ فهو با لخيار ان شاء مضى البيع و ان شاء فسخه با لمبيع. (الهداية ج٣، ص ٣٣٠، كتاب البيوع)

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: (و قوله با لجور) القضاء بخلاف الحق اما عن خطاء او عمد و كل على وجهين اما فی حقه تعالى او حق العبد فا لخطاء فی حق العبد اما ان يمكن فيه التدارك و الرد اولا فان امكن بان قضى بمال او صدقة او طلاق او عتاق...... يبطل القضاء. (رد المحتار ج٤، ص ٣٨٠، كتاب القضاء، مطلب فيما لو قضىٰ با لجود)

و ايضا (وقف بيع مال الغير) لو الغير بالغا عاقلا فلو صغيرا او مجنونا لم ينعقد اصلا كما فی الزواهد معزيا للحاوی. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٢، ص١٥٢، كتاب الوقف)

د بايع د منفعت شرط لګول باطل دی

سوال: يوه سړي په چا باندې يو مکان د رهن يعنې ګروي په ډول سره دا شرط ولګاوه او وئې پلوره چه کله پيسې واپس کوي نو مکان به هم واپس کيږي نو آيا دا بيع جائزه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: چه په کومه بيعه کښې د بايع ته داسې شرط لګولی شوی وي چه په هغه کښې د بايع نفع وي نو دغه بيع به فاسده وي لکه څرنګه چه په حديث شريف کښې د هغه نه منع راغلې ده.

قال العلامة المرغينانیؒ: و كل شرط لا يقتضيه العقد و فيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه و هو من اهل الاستحقاق يفسده العقد. (الهداية ج٣، ص٦٢، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد) و مثله فی خلاصة الفتاوىٰ (ج٣، ص٥٤، كتاب البيوع، باب البيع الفاسدة)

د منفعت عامه د کارونو لپاره د بيع او شراء حکم

سوال: د يوه کلي اوسيدونکي په ګډه سره دا فيصله وکړه چه مونږ د خپل کلي شيان مثلا هګۍ، چرګان او داسې نور په فلانی معين سړي باندې پلورو. همدارنګه هغوی په دغه معين سړي باندې دا شرط هم لګوي چه ته به مونږ ته هره مياشت شل روپۍ چنده راکوې چه هغه مونږ د منفعت عامه په کارونو کښې مصرف کوو نو آيا د اخيستلو او د پلورلو لپاره داسې شرط لګول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په پورته ذکر شوي صورت کښې په منصوبه بندۍ سره د يوه معين سړي سره د اخيستلو او پلورلو رواج جائز دی ليکن په دې شرط سره چه په دې کښې دا مقصد نه وي چه د شيانو قيمت پرې زياتيږي البته د چندې شرط لګول جائز نه دي. هو که چېرته څوك پخپل طبعيت سره چنده ورکوي نو بيا په دې کښې هيڅ مضايقه نشته.

و فی المجلة الاحكام: البيع بسرط ليس فيه نفع لاحد العاقدين يصح و الشرط لغو. (مجلة الاحكام ص٨٩، المادة ١٨٩، كتاب البيوع، الفصل الرابع فی السرط با لبيع)

قال العلامة سليم رستم باز اللبنانیؒ: لو شرطا فی البيع نفعا على اجنبی كما اذا باعه شيئا بشرط ان يقرضه فلان عسرة دراهم فا لبيع صحيح و الشرط لغو. (شرح مجلة الاحكام ص٨٩، المادة ١٨٩، كتاب البيوع، الفصل الرابع فی الشرط با لبيع)

د موهوبه (هبه کړل شوې) زمکې د اخيستلو او پلورلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء دين متين د موهوبه زمکې د اخيستلو او پلورلو په باره کښې چه شرعا جواز لري او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: موهوبه زمکه د باقاعده هبې نه وروسته پلورلی شي بلکه له دې څخه د واهب د رجوع حق هم شته.

قال العلامة سليم رستم بازؒ: اذا باع الموهوب له الموهوب او اخرجه عن ملكه با لهبة و التسليم لا يبقٰى للواهب حق الرجوع. (شرح المجلة المادة ٨٧٠، ص ٤٨٠، تحت احكام الهبة)

قال العلامة ابن نجيمؒ: خروج الهبة من ملك الموهوب له با لكلمة بان باع الهبة او وهبها. (البحر الرائق ج٤، ص٢٩٣، تحت باب الرجوع فی الهبة)

د الکحل د تجـــــارت حکم

سوال: نن صبا په ځينو دوايي ګانو کښې الکحل استعماليږي چه د هغه په سره د هغه تجارت رواج ميندلی دی نو آيا د الکحل اخيستل او خرڅول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د امام ابوحنيفه رحِمهُ اللّٰه په نزد د اشربۀ اربعه نه پرته کله چه شراب د نورو غلو او شيانو څخه جوړ شوی وي نو د شرعي مجبورۍ له مخې د هغه استعمال جائز دي

او د تجارت ګنجائش ئې هم شته۔ موجوده الکحل کوم چه د شرابو یو ډول دی لکه څرنګه چه له پیټرولو، اوربشو، جوارو او نورو شیانو څخه جوړیږي او د ضرورت له مخې له ډیرو ادویاتو او رنګونو څخه پرته په نورو کیمیاوي موادو کښې هم استعمالیږي۔ نو د امام ابوحنیفه رحِمهُ الله د قول په بناء د دې اخیستل او پلورل جائز دي او په موجوده دور کښې د عموم بلوٰی په وجه سره په دې باندې فتوٰی هم شوې ده۔

قال العلامة الحصكفیؒ: السراب لغة كل مائع یسرب و اصطلاحا ما یسكر و المحرم منها اربعة........ و صح بیع غیر الخمر. قال ابن عابدینؒ (تحت قوله صح بیع غیر الخمر) ای عنده خلافا لهما فی البیع و الضمان لكن الفتوٰی علی قوله فی البیع. (رد المحتار ج٦، ص ٤٥٤، كتاب الاشربة)

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: الاشربة المحرمة اربعة........ و قد بینا المعنی من قبل الا ان حرمة هذه الاشربة دون حرمة الخمر حتٰی لا یكفر مستحلها و یكفر مستحل الخمر........... و یجوز بیعها و یضمن متلفها عند ابی حنیفةؒ خلافا لهما فیهماالخ. (الهدایة ج٤، ص ٤٩٢، كتاب الاشربة)

د حیواناتو په پور باندې د پلورلو حکم

سوال: یوه سړي بل سړي ته وویل چه ته ما ته سږ کال خپل غویي راکړه او زه د غوایي په بدل کښې بل کال تا ته غویي درکوم نو آیا شرعا دغه بیعه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د څناورو بیعه د څناورو په بدل کښې د قرض یعنې پور په صورت کښې ده کومه چه شرعا حرامه ده نو د دواړو عاقدینو دغه عقد د بیعې ناجائز دی۔

عن ابن عمر رضی اللّٰه عنهما ان النبیﷺ نهی بیع الحیوان با لحیوان نسیئة. (معانی الآثار ج٢، ص٢٢٩، باب النهی عن بیع الحیوان با لحیوان نسیئة)

قال الشیخ ظفر احمد العثمانیؒ: لا یجوز بیع شیء من الحیوان من الرقیق و لا غیره بسیء من الحیوانات الرقیق و لا غیره نسیئة لان الحیوان لا یجوز فیه السلم ای التاجیل و قال عن عبد اللّٰه بن مسعود رضی اللّٰه عنه انه نهی السلم فی الحیوان. (اعلاء السنن ج٤، ص٣٨٥، باب النهی عن بیع الحیوان با لحیوان نسیئة) و مثله فی كتاب الفقه علی مذاهب الاربعة (ج٢، ص٣٠٨، كتاب البیع، اركان السلم)

په وچې او لمدې خرما کښې تفاضل (زیاتوالی)

سوال: تیاره خرما کومه چه په بازار کښې عامه پیدا کیږي په لمدې خرماء (کومه چه تر اوسه پورې په ونه کښې وي) په دوه چنده وزن باندې ئې پلورل جائز دي او که نه؟ او حال دا چه په بازار کښې د دواړو په قیمتونو کښې ډېر فرق دی مثلا لمده خرما فی کیلو په لس روپۍ او پخه خرما فی کیلو دیرش روپۍ پلورل کیږي۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د احنافوؒ په نزد رطب او تمر دواړه د یوه جنس څخه دي نو ځکه هغه به

سر په سر پلورل کیږي او زیاتوالی په سود کښې شمارل کیږي۔ له دې وجهې رطب د تمر په مقابله کښې په دوه چنده وزن او په دوه ګوني قیمت باندې پلورل جائز نه دي۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و یجوز بیع الرطب با لتمر مثلا بمثل عند ابی حنیفةؒ و قالا لا یجوز لقوله علیه السلام حین سئل عنه او ینقص اذا جف فقیل نعم فقال علیه الصلوٰة و السلام لا اذا وله ان الرطب تمر لقوله علیه الصلوٰة و السلام حین اهدی الیه رطب او كل تمر خیبر هكذا سماه تمرا و بیع التمر با التمر بمثله جائز. (الهدایة علی صدر فتح القدیر ج٦، ص١٦٨، باب الربوٰا)

قال العلامة اكمل الدین البابرتیؒ: (قال و یجوز بیع الرطب با لتمر مثلا بمثل) بیع الرطب با لتمر متفاضلا لا یجوز با لاجماع و مثلا بمثل جوزه ابو حنیفةؒ خاصة و قالا لا یجوز. (العنایة علی هامش فتح القدیر ج٦، ص١٦٨، باب الربوٰا) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج٥، ص١٨١، باب الربوٰا)

د مختلفو ملکونو د پیسو د تجارت حکم

سوال: نن صبا صرافانو په بازار کښې د یوه ملك روپۍ د بل ملك د روپو په مقابله کښې په زیاتو پیسو باندې د پلورلو عام رواج جوړ کړی دی۔ د مثال په ډول یوه سړي امریکایي ډالر یوه ورځ مخکښې په پنځوس روپۍ باندې اخیستې ده اوس هغه په پنځه پنځوس باندې پلوري۔ نو آیا د شرعې له مخې د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دوو ملکونو پیسې چونکه په مختلف الاجناسو شیانو کښې داخل دي او په دې وجهې سره د هغو د نومونو واحدات او نور هم مختلف دي او د مختلف الاجناسو شیانو په تفاضل سره پلورل جائز دي لهذا د یوه ملك پیسې د بل ملك د پیسو په بدل په تفاضل سره پلورل جائز دي۔

قال العلامة الحصكفی رحمه اللّٰه: و ان عدما........ حلا كحصروی بمرویین لعدم العلة فبقی علی اصل الاباحة و ان وجد احدهما ای القدرة وحده او الجنس حل الفضل و حرم النسیاء و لو مع التساوی. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٥، ص١٧٢، باب الربوٰا، مطلب فی الابراء عن الربوٰا)

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و اذا عدم الوصفان الجنس و المعنی المضموم الیه حل التفاضل و النسیاء لعدمة العلة المحرمة و الاصل فیه الاباحة و اذا وجد احرم التفاضل و النسیاء لوجود العلة و اذا وجد احدهما و عدم الآخر حل التفاضل و حرم النساء. (الهدایة علی فتح القدیر ج٦، ص١٥٣، باب الربوٰا) و مثله فی فتح القدیر (ج٦، ص١٥٣، باب الربوٰا)

قبل القبض د یوه شي د پلورلو حکم

سوال: محترم مفتي صاحب! زه د جاید ادونو د اخیستلو او پلورلو کاروبار کوم، په دې تجارت کښې کله کله زمکې، مکانات او د اسې نور د هغه له مالك څخه د قبضې په توګه اخیستل کیږي تر څو چه ئې په بل چا باندې و نه پلوري نو آیا د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګرچه قبل القبض د یو شي پلورل ممنوع دی البته د احنافوؒ په نزد زمکه له دغه حکم څخه مستثنیٰ ده۔ له دې وجهې په زمکې باندې د قبضې کولو نه مخکښې د هغې بیع جائزه ده۔

قال الشیخ عبد الرحمٰن الجزائریؒ: اما البیع الاعیان غیر المنقولة قبل قبضها کبیع الارض و الضیاع و النخیل و الدور و نحو ذٰلک من الاشیاء الثابتة التی لا یخشٰی هلاکها فانه یصح. (کتاب الفقه علی مذاهب الاربعة. ج۲، ص۲۳۴، کتاب البیع، مبحث التصرف فی المبیع)

قال الشیخ ظفر احمد العثمانیؒ: و الثالث لا یجوز بیع مبیع قبل قبضه الا الدور و الارض قاله ابو حنیفة و ابو یوسف رحمهما الله. (اعلاء السنن ج۱۴، ص۲۳۶، باب النهی عن بیع المشتری قبل القبض) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۱۸۱، فصل شرائط صحة البیع)

د قسطونو تر ختمیدو مخکښې موټر ته د رسیدونکي نقصان ذمه وار به څوك وي؟

سوال: که چېرته یو موټر په قسطونو باندې واخیستلی شي او د قسطونو د مکمل ادا کولو څخه مخکښې موټر ته څه نقصان ورسیږي نو دا نقصان به د بایع متصور کیږي او که د مشتري؟ د قرآن او سنت په رڼا کښې د ځواب د راکولو مهرباني وکړي۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بیع که په نقدو روپو وي او که په پور، د ایجاب او قبول او قبض څخه وروسته چه مبیعې ته کوم نقصان رسیږي نو هغه به د مشتري وي په بایع باندې ئې رجوع صحیح نه دی البته که چېرته مبیعه د بایع په لاس کښې هلاك شي نو نقصان به بیا په بایع باندې وي۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: المبیع اذا هلك فی ید البائع قبل ان یقبضه المشتری یهلك من مال البائع و لا شیء علی المشتری.......... اذا هلك المبیع بعد القبض هلك من مال المشتری و لا شیء علی البائع. (شرح مجلة الاحکام المادة ۲۹۳ و ۲۹۴، ص۱۵۰)

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه الله: و لو قبضه المشتری و هلك فی یده فی مدة الخیار ضمنه با لقیمة.......... و لو هلك فی ید البائع انفسخ البیع لا شیء علی المشتری اعتبارا با لبیع الصحیح المطلق. (الهدایة علی صدر فتح القدیر ج۵، ص۵۰۴، کتاب البیوع) و مثله فی فتح القدیر (ج۵، ص۵۰۴، کتاب البیوع)

د قسط د ځنډ له وجهې مبیعه نه شي واپس کیدلی

سوال: د موټرونو تجارت کوونکي ځیني خلك په قسطونو باندې د ګاډي د پلورلو په وخت کښې دا شرط لګوي چه که چېرته مشتري په دومره وخت کښې ټول مکمل قسط ادا نه کړي نو مخکښیني ادا کړل شوي قسطونه به ضبط کیږي او مبیعه به زما ملکیت وي او دواړه (بایع او مشتري) په دې شرط باندې دستخط وکړي۔ اوس پوښتنه دا ده چه د اقساطو د ځنډ له وجهې

نه یعنې د نه ادا کولو په صورت کښې بایع د مبیعې د واپس اخیستلو شرعا حق لري او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په تجارت کښې د ایجاب او قبول نه وروسته بیعه تامه ګرځي۔ د دې نه وروسته د جانبینو څخه هیڅ یو ته هم شرعا دا حق حاصل نه دی چه هغه له بل جانبه څخه د رضاء او رغبت نه بغیر په مبیعه باندې لاس واچوي په دې وجه په نوموړي صورت کښې د داسې ټول شرطونو لګول لغوه ده۔ روپۍ باقاعده د مشتري په ذمه واجب الاداء ده او که چېرته هغه د ټال متول څخه کار واخلي نو په قانون کښې پیسې وصولولی شي او همدارنګه بهانې کول او په دې بهانو باندې قسطونه نه ختم کیږي او نه بایع د هغه له رضاء څخه پرته مبیعه واپس اخیستلی شي۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: اذا کان البیع لازما فلیس لاحد المتبایعین الرجوع عنه. (شرح المجلة الاحکام المادة ۳۷۵، ص۳۱۱، الفصل الثانی فی احکام انواع البیوع)

قال العلامة علی حیدرؒ: لیس لاحد المتبایعین او ورثته فی البیع النافذ اللازم ان یرجع عنه رضاء الآخر بوجه من الوجوه. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۱، ص۴۰۱، الفصل الثانی فی بیان احکام انواع البیع)

په اخیستونکو باندې په مختلفو قیمتونو سره د سودا د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! اکثر دوکانداران حضرات مونږ لیدلي دي چه یو ګاهك یا خریدار ته په یوه نرخ باندې یو شی ورکوي او بل ګاهك ته هغه شی په بل نرخ باندې ورکوي نو آیا د داسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بیعه د یوه مال په بل مال باندې پخپل منځ کښې په رضا او رغبت باندې د بدلولو نوم دی، مقدس شریعت په دې معاملې کښې په چا پابندي نه ده لګولې۔ نو له دې وجهې د دوکاندار د داسې معامله کول جائز دي۔ البته د ناجائزې معاملې او ګټې څخه باید پرهیز وکړي۔

قال العلامة علی حیدرؒ: و جاء تعریف البیع فی کثیر من الکتب الفقهیة بانه مبادلة المال با لمال با لرضاء. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام، ج۱، ص۱۰۶، مقدمة فی بیان الاصطلاحات الفقهیة)

قال العلامة ابن الهمامؒ: فقال فخر الاسلام البیع لغة مبادلة المال با لمال و کذا فی السرع لکن زید فیه قید التراضی. (فتح القدیر ج۵، ص۴۵۵، کتاب البیوع) و مثله فی کنز الدقائق (ص۲۲۷، کتاب البیوع)

په تجارت کښې د ګټې تعین نشته

سوال: ځینې سودا ګر یو شی چه په کوم قیمت سره اخلي بیا هغه په دوه ګوني بلکه په درې ګوني او له دې نه هم په زیات قیمت باندې پلوري نو آیا د داسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه په تجارت کښې د مال د منافعو څه مقرر حد نه دی

مقرر کړی یعنې څه حد ئې نشته۔ دا ټول د دواړو عاقدینو په منځ کښې معامله ده۔ کوم ډول چه د دوی په منځ کښې دا معامله طی شي هغه جائز دي۔ البته تر هغه حده پورې منافع اخیستل چه د هغه په وجه سره خلکو ته ضرر رسیږي د مروت خلاف دی په حکومت د وخت باندې لازم دي چه په ناجائزو منافعو اخیستلو باندې د قابو پیدا کولو لپاره مناسب اقدام وکړي۔

قال العلامة علی حیدرؒ: و جاء تعریف البیع فی کثیر من الکتب الفقهیة بانه مبادلة المال با لمال با لرضاء. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۱، ص۱۰۶، مقدمة فی بیان الاصطلاحات الفقهیة)

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: هو مبادلة المال با لمال با لتراضی. (کنز الدقائق ص۲۲۷، کتاب البیوع) و مثله فی فتح القدیر (ج۵، ص۴۵۵، کتاب البیوع)

ښځې ته د خپل خاوند یعنې میړه د اجازې نه بغیر د هغه د مال د پلورلو حکم

سوال: آیا ښځه د خپل میړه مملوکه شیان د هغه د اجازې نه بغیر پلورلی شي او که نه او د خبرېدو نه وروسته ئې میړه دا اختیار لري چه هغه شیان واپس کړي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ښځه سره د قربت و میړه ته د میړه په مال کښې د اجنبیه مثال لري چه د میړه په مال کښې ئې تصرفات د بیع فضولي په حکم کښې دی۔ د معلوماتو نه وروسته میړه ته دا اختیار شته چه هغه دا بیع باقي ولري او یا ئې مسترد کړي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: کل تصرف صدر منه تملیکا کان کبیع و تزویج او اسقاطا کطلاق و اعتاق و له مجیز ای لهذا التصرف من یقدر علی اجازته حال وقوعه انعقد موقوفا. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۱۰۶، کتاب البیوع، فصل فی الفضولی)

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: البیع الذی یتعلق به حق الغیر کبیع الفضولی و بیع المرهون ینعقد موقوفا علی اجازة ذالك الآخر. (مجلة الاحکام المادة۳۶۸، کتاب البیوع) و مثله فی درر الحکام شرح مجلة الاحکام (ج۱، ص۳۹۱، الباب السابع، تحت المادة ۳۶۸)

د برق د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب د برق بیع او شراء جائزه ده او که نه حال دا چه برق عین نه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د مبیعې لپاره دا ضروري نه ده چه هغه د عین وي ځکه چه که چېرته یو شی عین نه وي لیکن عرفا هغه مال ګڼل کیږي نو د هغه بیع جائزه ده۔ برق اګر که عین نه دی لیکن د هغه بیع او شراء جائزه ده ځکه چه دا ډول شیان په مالیت کښې داخل دي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: المالیة تثبت بتمول الناس کافة او بعضهم. (رد المحتار ج۴، ص۵۰۱، کتاب البیع، مطلب فی تعریف المال و الملك)

قال الشیخ وهبة الزحیلیؒ: المال هو کل عین ذات قیمة مادیة بین الناس. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۴، ص۳۴۵، الفصل الاول عقد البیع) و مثله فی الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر (ج۲، ص۳، کتاب البیوع)

د ډرافټ (حوالې) د رسید د اخیستلو او خرڅولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما ورور په سعودي عرب کښې مزدوري کوي که چېرته هغه د حوالې په ذریعه څه پیسې پاکستان کښې د خپل اهل و عیال لپاره ولیږي او د څه وجهې څخه هغه حواله ناوخته او د هغه اهل و عیال ته د پیسو اشد ضرورت وي نو آیا زه د هغه د اهل و عیال نه د دغې حوالې د مالیت په عوض کښې هغه حواله اخیستلی شم او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ډرافټ (حوالې) رسید اګر چه پخپله في ذاته یو ساده کاغذ دی چه د هغه په ذاتي ډول سره هیڅ قدر و قیمت نشته لیکن اوس هغه د یو معین مقدار پیسو نمائندګي کوي ځکه اوس هغه د عرف په بناء سره یو قیمتي مال جوړ شوی دی ځکه په دومره قیمت ئې اخیستل جائز دي چه څومره په هغه کښې وي۔ همدارنګه د سفر چیك او انعامي بانډ او نورو هم دغه حکم دی۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و المالیة تثبت بتمول الناس کافة او بعضهم. (رد المحتار ج۴، ص۵۰۱، کتاب البیع، مطلب فی تعریف المال و الملك)

قال الشیخ وهبة الزحیلیؒ: المال هو کل عین ذات قیمة مادیة بین الناس. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۴، ص۳۴۵، الفصل الاول عقد البیع) و مثله فی الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر (ج۲، ص۳، کتاب البیوع)

د ژوندي چرګانو په تول باندې پلورل

سوال: نن صبا په بازار کښې ژوندي چرګان تلل کیږي او پلورل کیږي او حال دا چه د حساب شوي وزن څخه کم وي نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د ژوندي چرګانو په مروجې طریقې بیعه کښې د چرګانو مالك په مشتري باندې یواځې غوښه نه پلوري بلکه هغه ژوندی چرګه پلوري نو اصل مبیعه معلومه ده نو چه مبیعه معلومه ده په دې بناء سره په داسې معامله کښې هیڅ قباحت نشته۔

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله: البیع شرعا مبادلة شیء مرغوب فیه بمثله........ علی وجه مفید مخصوص ای بایجاب او تعاط آه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۴، ص۵، کتاب البیوع)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: البیع و اصطلاحا عند الحنفیة مبادلة مال بمال علی وجه مخصوص او هو مبادلة شیء مرغوب فیه مثله علی وجه مخصوص ای بایجاب او تعاط آه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۴، ص۳۴۴، الفصل الاول عقد البیع) و مثله فی فتح القدیر (ج۵، ص۷۳ کتاب البیوع)

د چرګانو ګندګۍ د سرې په شکل کښې د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا کوم خلك چه د چرګانو فارمونه لري نو هغوی د چرګانو ګندګۍ د سرې په صورت کښې په د هقانانو باندې پلوري نو آیا د شرعې له مخې ئې اخیستل او خرڅول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له مشاهداتو څخه معلومیږي چه د دغو فارمونو سره یوائې د چرګانو په ګندګۍ باندې مشتمله نه ده بلکه په هغه کښې څه د وریژو هغه پوستکي خته، خاوره او بیر وغیره ګډ وي او ځیني نور شیان هم په کښې ګډ وي نو ځکه ئې اخیستل او پلورل مرخص او د هغې په بدل کښې حاصلیدونکي روپۍ جائزې او حلالې دې۔ په فقهي ذخائرو کښې نظائر موجود دي۔

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله: و رجيع الآدمى لم يغلب عليه التراب فلو مغلوبا به جاز كسرقين و بعر و اكتفى فى البحر بمجرد خلط بتراب. قال ابن عابدينؒ تحته و يجوز بيع السرقين و البحر و الانتفاع به و الوقود به. (رد المحتار ج٤، ص١١٧، فصل بيع الفاسد قبل مطلب الآمى مكرم شرعا و لو كافرا)

قال الشيخ وهبة الزحيلى: و لا بأس ببيع السرقين او السرجين و هو الزبل و بيع البعر لانه منتفع به لانه يلقى فى الارض لاستكثار الريح فكان مالا و المال محل للبيع. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٤، ص٤٤٦، بيع النجس و المتنجس)

د تصنیف یا طباعت د حقوقو پلورل

سوال: نن صبا د تصنیف او تالیف او طباعت د حقوقو تجارت عام دی مصنف حضرات د خپلو تصانیفو مسودې د کتابخانو په مالکانو باندې په ډېرو لوړو قیمتونو پلوري نو آیا شرعا د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حق تصنیف اګر که د حقوق مجرده وو سره تعلق لري لیکن حقوق مجرده هم په دوه ډوله دي۔

﴿۱﴾ هغه حقوق، چه د هغه سره مالي منفعت وابسته یعنې تړلی وي لکه حق وظیفه او د اسې نور۔

﴿۲﴾ هغه حقوق چه د هغه سره مالي منفعت تعلق نه لري لکه حق شفعه او د اسې نور نو په شریعت اسلامي کښې د مالي منفعت لرونکي حقوق مجرده له حقوقو څخه د ابراء په صورت کښې د هغه په عوض کښې د مال اخیستل جائز دي نو د حق تصنیف سره هم نن صبا چونکه مالي منفعت وابسته ده ځکه د هغه بیعه او شراء جائزه ده او په فقهي اصطلاح کښې هغه ته حق اسبقیت ویل کیږي۔

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله: و لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعه و على هذا لا يجوز الاعتياض عن الوظائف با لاوقاف و فيها فى آخر بحث تعارض العرف مع اللغة المذهب عدم اعتبار

العرف الخاص لكن افتىٰ كثير باعتباره و عليه فيفتىٰ بجواز النزول عن الوظائف بمال. (الدر المختار على رد المحتار ج٤، ص١٦، كتاب البيوع)

قال العلامة خالد آتاسىؒ: اقول و على ما ذكروه من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال ينبغى ان يجوز الاعتياض عن التعلى و عن حق الشرب و عن حق المسيل بمال........ كما جاز النزول عن الوظائف و نحوها لا سيما اذا كان صاحب حق العلو فقيرا قد عجز عن اعادة علوه فلو لم يجز ذلك له على الوجه الذى ذكرناه يتضرر فليتامل و ليحرز. (شرح مجلة الاحكام، ج١، المادة٢، ص١٢١، الفصل الثانى فى بيع ما يجوز و ما لا يجوز) و مثله فى نظام الفتاوىٰ (ج٢، ص٣١٤، كتاب المعاملات)

د فارمي چرګانو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: نن صبا چه کوم فارمي چرګان پلورل کیږي او هغه ته چه کوم خوراك ورکول کیږي په هغه کښې د نورو شیانو برسیره وچه وینه هم وي کومه چه حرامه ده نو آیا د داسې وینې خوړونکو چرګانو اخیستل او پلورل جائز دي او که نه او همدارنګه د غوښې خوړل ئې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په دغو چرګانو کښې د وینې او د نورو نجاستونو د خوړلو په وجه سره بد بویي پیدا شوی وي نو بیا د هغو خوړل ناجائز او اخیستل او خرڅول ئې مکروه دي او که چېرته هغو چرګانو ته وینه او نور نجس شیان ور خوړل بند کړي او پاك خوراك ورکړي تر هغه وخته پورې چه هغه بد بویي ئې ختمه شي نو بیا ئې خوړل، اخیستل، خرڅول او هبه کول ټول صحیح کیږي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و فى الملتقى المكروه الجلالة التى اذا قربت وجد منها رائحة فلا توكل و لا يشرب لبنها و لا يعمل عليها و لا يكره بيعها و هبتها و فى تلك حالها. (رد المحتار ج٥، ص٢١٥، كتاب الذبائع)

و فى الهندية: انما تكون جلاة اذا نتن و تغير لحمها و وجدت منه ريح منتنة فهى الجلالة حينئذ لا يشرب لبنها و لا يؤكل لحمها و بيعها و هبتها جائز هذا اذا كانت لا تخلط و لا تأكل الا العذرة غالبا الخ. (الفتاوىٰ الهندية ج٥، ص٢٨٩، الباب الثانى فى بيان ما يؤكل من الحيوان و مالا) و مثله فى البحر الرائق (ج٨، ص١٢٣، كتاب الكراهية)

او چونکه په دې باره کښې د تحقیق کولو څخه دا معلومه شوې ده چه د چرګانو په غذا کښې وینه یا نور نجس شیان ډېر په کم مقدار استعمالیږي او بله دا چه د هغې غذا په جوړولو کښې کیمیاوي مواد استعمالیږي او په کیمیاوي طریقې سره جوړیږي چه د هغو په وجه سره د وینې او نورو نجسو اجزاؤ ماهیت او حقیقت بالکل بدلیږي لهذا د قلب ماهیت او د نجسو شیانو د اجزاؤ د کموالي په وجه سره د فارمي چرګانو خوړل او د هغوی اخیستل او پلورل او هبه کول ټول درست او جائز دي۔

د سپې د تي رودونکي خوسکي د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: څه فرمايي د دين علماء د دې مسئلې په باره کښې چه د غوا بچې يعنې خوسکی که چېرته د سپې تی وروي او مالك ته ئې معلومات وشي چه دغې خوسکی د سپې شيدې رودلي دي اوس ئې که چېرته مالك پلورل غواړي نو آيا د هغه اخيستل او پلورل او خوړل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغې خوسکی څو ورځې وروسته پاك خوراك کړی وي نو بيا د هغې اخيستل، پلورل او خوړل ئې پروا نه لري او که نه نو له کراهت څخه خالي نه ده۔

لما فی الهندية: الجدی اذا كان يربی بلبن الاتان و الخنزير ان اعتلف اياما فلا باس بمنزلة الجلالة و الجلالة اذا حبست اياما فعلفت لا باس بها فكذا هذا (الفتاوی الهندية ج۵، ص ۲۹۰، الباب الثانی فی بيان مايؤكل من الحيوان و ما لا يؤكل)

قال العلامة الحصكفیؒ: و كره لحمها ای الجلالة........ كما حل اكل جدی غذا بلبن خنزير لان لحمه لا يتغير و ما غذی به يصير مستهلكا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص ۲۴۰، كتاب الخطر و الاباحة) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص ۱۸۲، كتاب الكراهية)

اول خرڅوونکي ته لـــــه دوهم اخيستونکي څخه د شي بيرته اخيستل جـــائز دي

سوال: زيد په عمرو باندې يو موټر په نقدو روپو باندې وپلوره وروسته بيا عمر هغه موټر په بکر باندې د څلورو مياشتو په پور باندې خرڅ کړ اوس که چېرته زيد هغه موټر د بکر څخه د پلورل شوي قيمت څخه په کم يا زيات قيمت باندې واخلي نو آيا دا جائز دي او که نه ځينې خلك ئې سود ګني نو آيا دا واقعي سودي معامله ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د اول خرڅوونکي لپاره دا مبيعه د دوهم اخيستونکي څخه له هغه قيمت څخه په کم يا زيات قيمت باندې اخيستل جائز دي۔ په کوم قيمت باندې چه هغه په اول اخيستونکي باندې پلورلی وو په هغه کښې د سود هيڅ صورت موجود نه دی۔

لما فی الهندية: و لو باع المشتری من رجل ثم ان البائع الاول اشتراه من المشتری الثانی باقل مما باع جاز. (الفتاوی الهندية ج۳، ص ۱۳۲، الفصل العاشر فی بيع شيئين احدهما لا يجوز البيع فيه......)

قال العلامة الحصكفی رحمه الله: المشتری اذا باع المبيع من آخر قبل نقد الثمن جاز للبائع شراؤه منه باقل. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۴، ص ۱۶۷، باب الاقالة) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص ۱۰۴، باب الاقالة)

د نابالغو يتيمانو د جائدادونو د اخيستلو او پلورلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء دين د دې مسئلې په باره کښې چه څلور يتيمان ورونه دي چه په دوی کښې يو بالغ او نور نابالغه دي۔ د دوی په کابل کښې يو مکان دی اوس هلته د حالاتو د خرابوالي او د کمونستانو د انقلاب د راتګ په وجه سره د دوی بالغ ورور غواړي چه دغه مکان وپلوري ځکه چه هلته خطره ده چه مکان غصب نه شي نو آيا د دغو دريو نابالغو او د يوه بالغ په صلاح او مشورې سره د دغه مکان اخيستل او پلورل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې که چېرته د دغه مکان د نه پلورلو په صورت کښې هغو يتيمانو ته نقصان رسيده نو هغه دې وپلوري او د هغه روپۍ دې په بل محفوظ ځای کښې مکان او يا زمکه واخلي او يا د داسې صورت اختيار کړي چه په هغه کښې د دغو يتيمانو فائده وي او کوم ضرر او نقصان ور ته نه وي۔

قال العلامة الحصكفیؒ: و جاز شراء ما لا بد للصغير منه و بيعه ای بيع ما لا بد للصغير منه لاخ و عم و امٍّ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص ۲۷۶، كتاب الخطر و الاباحة، فصل فی البيع)

قال العلامة ابن نجيمؒ: و شراء ما لا بد للصغير منه و بيعه للعم و الام و الملتقط...... يعنی يجوز لهٰؤلآء الثلاثة ان يستروا للصغير و يبيعوا ما لا بد منه و ذٰلك مثل النفقة و السكونة و لانه لو لم يكن لهم ذٰلك لتضر التسغير و هو ممنوع. (البحر الرائق ج۸، ص ۲۰۹، كتاب الكراهية، فصل فی البيع)

د ژلۍ د اوريدو له وجې د متأثر شوي ماهيانو د اخيستلو او پلورلو حکم

سوال: کله کله د باران يا ژلۍ د وريدلو په وجه سره ماهيان د اوبو د پاسه لامبي چه په ظاهره سره مړه معلوميږي ليکن په هغوی کښې هيڅ ډول تعفن او بد بويي نه وي نو ځينې خلك هغه ماهيان يو ځای کوي او په بازار کښې ئې په خلکو باندې پلوري نو آيا د داسې ماهيانو خوړل او پلورل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم ماهيان چه په طبعي موت سره مړه شوي وي نو د هغوی خوړل او د خوراك لپاره د هغوی پلورل جائز نه دي او کوم ماهيان چه په عارضي سبب سره مړه شي لکه د باران يا ژلۍ او نورو شيانو په ذريعه نو د هغوی خوړل، اخيستل او پلورل جائز دي لهذا د نوموړي صورت بيع هم صحيح ده۔

لما فی الهندية: و الاصل ان السمك متی مات بسبب حادث حل اكله و ان مات حتف انفه لا بسبب ظاهر لا يحل اكله. (الفتاوی الهندية ج۵، ص ۴۲۸، الباب السادس فی الصيد السمك)

قال العلامة الحصكفیؒ: و لا يحل حيوان مائی الا السمك الذی مات بآفة و لو متولدا فی ماء نجس و لو طافية مجروحة وهبانية غير الطافی علی وجه الماء الذی مات حتف انفه. (الدر المختار علی هامش رد المحتار، ج۵، ص ۲۱۶، كتاب الذبائع) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص ۱۷۲، فصل فی ما يحل و ما لا يحل)

په مبیعه کښــــــــې زیاتوالی د بائع حق دی

سوال: یوه سړي دوه جریبه زمکه وپلورله او د هغه حدود اربعه ئې هم ولیکل او ورئې کړه او د هر جریب قیمت ئې هم مقرر کړ. له عقد څخه وروسته ئې نوموړې زمکه وکچله نو هغه زمکه د هغې کچل شوي مقررې اندازې څخه زیاته شوه اوس د دغه زیاته شوې زمکه د بائع حق دی او که د مشتري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې له ټاکلي اندازې څخه هغه زیاته زمکه د بایع حق دی البته مشتري ته دا اختیار حاصل دی چه یا مبیعه پریږدي او یا دې د هغې زیاتې زمکې پیسې ورکړي او ټوله مبیعه دې لاس ته راوړي۔

لما فی الهندیة: و لو قال بعت منك هذا الثوب او هذه الارض علی انها عشرة اذرع كل ذراع بدرهم فوجدها عشرة لزمته بعشرة درهم و لا خیار له و ان وجدها خمسة عشر ذراعا فهو با لخیار ان شاء اخذ الجمیع كل ذراع بدرهم و ان شاء تركها. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص ۱۲٤، الفصل الثامن فی جهالة المبیع او الثمن)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: و ان زاد شیء علیه فهو للبائع لان البیع وقع علی مقدار معین و القدر لیس بوصف. (البحر الرائق ج۸، ص۲۸۸، كتاب البیع)

د تصویرونو (عکسونو) د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زه د عکسونو او تصویرونو کاروبار کوم آیا دغه کاروبار جائز دی او که نه او د هغه نه لاس ته راوړل شوي روپۍ حلالې دي او که حرامې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه ذي روح یعنې روح یا سا لرونکي شي عکس او تصویر جوړول او د هغه اخیستل او خرڅول ناجائز او حرام دي او دا معلومه خبره ده چه په ناجائزې طریقې سره ګټل شوې روپۍ هم ناجائزې او حرامې دي۔

لما اخرج الامام محمد بن اسماعیل البخاریؒ: عن عون ابن ابی جحیفة عن ابیه ان النبیﷺ نهٰی عن ثمن الدم و ثمن الكلب و كسب البغی و لعن اكل الربٰوا و موكله و الواشمة و المستوشمة و المصور. (صحیح البخاری، ج۲، ص۸۸۱، كتاب اللباس، باب من لعن المصور)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: و لا یجوز علی الغناء و النوح و الملاهی لان المعصیة لا یتصور استحقاقها با لعقد فلا یجب علیه الاجر من غیر ان یستحق علیه لان المبادلة لا تكون الا عند الاستحقاق. (البحر الرائق ج۸، ص۲۰، باب الاجارة الفاسدة)

د زقوم د میوې د خوړلو، اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: ځینې خلك د زقوم میوه ډېر په شوق سره خوري او نن صبا په بازارونو کښې د هغې تجارت هم کیږي او حال دا چه ځینې خلك وایي چه زقوم د جهنم ونه ده نو ځکه د هغې د میوې خوړل او تجارت کول جائز نه دي نو آیا دا خبره صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دنیا د زقوم او د قیامت د زقوم ترمنځ د زمکې او د آسمان فرق دی او د زقوم په میوه کښې د حرمت هیڅ وجه هم نشته له دې وجهې د هغه خوړل او تجارت دواړه جائز دي۔

قال العلامة الحصكفی رحمه اللّٰه: (البیع) شرعا مبادلة شیء مرغوب فیه بمثله خرج غیر المرغوب كتراب و میتة و دم الخ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص٤، كتاب البیوع)

قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: (البیع) هو مبادلة المال با لمال با لتراضی...... و فی كشف الكبیر المال ما یمیل الیه الطبع......... و المالیة انما تثبت بتمول الناس كافة او بتقوم البعض و التقوم یثبت بها و باباحة الانتفاع له شرعا. (البحر الرائق ج٥، ص۲٥٦، كتاب البیع)

د اجرت قبل القبض د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: زید ټیکه دار دی د هغه د کاروبار دا طریقه ده چه هغه د نورو کسانو نه ګاډي په کرایه نیسي او د اجرت رسید ورکوي لیکن اجرت د کار د ختم کیدو نه وروسته ورکوي اوس که چېرته د ګاډي د مالك پیسو ته ضرورت وي او د هغه دا اراده وي چه دغه رسید په ټیکه دار یا په بل چا وپلوري نو آیا هغه شرعا دغه کار کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع د صحت لپاره ضروري دی چه بائع ته په مبیعې باندې ملك تام حاصل وي او په مبیعې قبل القبض باندې چونکه تام ملکیت حاصل نه وي ځکه د اسې بیع صحیح نه ده او همدارنګه په نوموړي صورت کښې چونکه مؤجر هغه اجرت قبل القبض پلورلی دی ځکه دغه معامله درست او صحیح نه ده۔

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: لا یملك الاجرة الا بواحد من هذه الاربعة و المراد انه لا یستحقها المؤجر الا بذلك....... لكن لیس له بیعها قبل قبضها. (البحر الرائق ج۷، ص۳۰۰، كتاب الاجارة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: قوله و ما یستجره الانسان الخ ذكر فی البحر ان من شرائط المعقود علیه ان یكون موجودا فلم ینعقد بیع المعدوم الخ. (رد المحتار ج٤، ص۱۳، مطلب فی بیع الاستجرار) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۳، كتاب البیوع).

د خرو او سپیو د غوښو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: په ځینې ملکونو کښې د خرو او سپیو غوښې په بازار کښې پلورل کیږي نو آیا خره او سپي ذبح کول او د غوښو خرڅول ئې د احنافوؒ په نزد جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: خره او سپي که چېرته په باقاعده ډول سره ذبح کړی شي نو بیا د هغو د غوښو او د پوستکو پلورل جائز دي لیکن د پلورلو له جواز څخه ئې د خوړلو جواز نه لازمیږي۔

لما فی الهندیة: و یجوز بیع لحوم السباع و الحمر المذبوحة فی الروایة الصحیحة و لا یجوز بیع لحوم السباع المیتة كذا فی محیط السرخسی و اما جلود السباع و الحمر و البغال فما كانت مذبوحة او مدبوغة جاز بیعها و ما لا فلا.

(الفتاوی الهندیة ج۳، ص۱۱۵، الفصل الخامس فی بیع المحرم الصید و فی بیع المحرمات)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قوله و جلد میتة قید بها لانها لو کانت مذبوحة فباع لحمها او جلدها جاز لانه یطهر با لزکاة الا الخنزیر خانیة. (رد المحتار حاشیة علی الدر المختار ج٤، ص۱۲۷، مطلب الدراهم و الدنانیر جنس واحد فی مسائل)

د زمري او ییږ د وازګې د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د زمري او ییږ وازګه حکماء او طبیبان اخلي او هغه په مختلفو امراضو کښې د دوائي په توګه استعمالوي نو آیا ددغو درندګانو د وازګو اخیستل او پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغه وازګه د مذبوح زمري او ییږ وي نو تجارت ئې جائز دی او د مردار زمري او ییږ د وازګې تجارت جائز نه دی۔

لما فی الهندیة: و یجوز بیع لحوم السباع و الحمر المذبوحة فی الروایة الصحیحة و لا یجوز بیع لحوم السباع المیتة کذا فی محیط السرخسی. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۱۱۵، الفصل الخامس فی بیع المحرم الصید و فی بیع المحرمات)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قوله و جلد میتة قید بها لانها لو کانت مذبوحة فباع لحمها او جلدها جاز لانه یطهر با لزکوٰة الا الخنزیر خانیة. (رد المحتار حاشیة علی الدر المختار ج٤، ص۱۲۷، مطلب الدراهم و الدنانیر جنس واحد فی مسائل) و قال ایضا بخلاف الودك ای دهن المیتة لانه جزئها فلا یکون مالا ابن مالك فلا یجوز بیعه الخ. (رد المحتار حاشیة علی الدر المختار ج٤، ص۱۲۷، مطلب الدراهم و الدنانیر جنس واحد فی مسائل)

له ذبح څخه مخکښې د څرمن د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د قربانۍ د څناورو له حلالولو څخه مخکښې ئې د پوستکي پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ څخه مخکښې د څناور د پوستکي وغیره اخیستل او پلورل جائز نه دي۔

لما فی الهندیة: و لو باع الجلد و الکرش قبل الذبح لا یجوز فان ذبح بعد ذٰلك و نزع الجلد و الکرش و سلم لا ینقلب العقد جائزا کذا فی الذخیرة. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۱۲۹، الفصل التاسع فی بیوع الاشیاء المتصلة بغیرها....)

په روغو او ښو شیانو کښې د خرابو شیانو ګډول او بیا ئې پلورل

سوال: یو سړی ښه جوار په ګرانه بیعه اخلي او خراب جوار په کمه بیعه باندې اخلي او بیا دواړه سره ګډوي او د هغو د معیار مطابق نرخ ورته ټاکي او بیا ئې پلوري نو آیا د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته اخیستونکي ته د دغه ګډون متعلق معلومات ورکړي او

هغه ئې بیا هم اخلي نو دا معامله به لا بأس به وګرځي او که چېرته دغه ګډون د خریدار یعنې اخیستونکي څخه پټ وساتي او ورته ئې و نه ښایي او هغه ئې ډ ګډون څخه پاك وبولي نو دا معامله د دې حدیث تر وعید لاندې راځي چه "مَنْ غَشَّ فَلَیْسَ مِنَّا"

اخرج الامام ابو داوٗد: عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول اللهﷺ مرّ برجل یبیع طعاما فسئله کیف تبیعه فاخبره فاوحیٰ الیه ان ادخل یدك فادخل یده فیه فاذا هو مبلول فقال رسول اللهﷺ لیس منا من غشٌ. (بذل المجهود فی حل ابو داوٗد، ج۱۵، ص۱۲٤، کتاب البیوع، باب نهی عن الغش)

عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ مر علی صبرة طعام فادخل یده فیها فنالت اصابعه بللا فقال ما هذا یا صاحب الطعام قال اصابته السماء یا رسول الله فقال افلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس من غشٌ فلیس منّی. (مسکوٰة ج۲، ص۲٤۸، کتاب البیوع، باب المنهی عنها من البیوع، الفصل الاول)

ژبنۍ سودا د بیع بالمعدوم په حکم کښې ده

سوال: احمد د زید سره سودا وکړه چه صبا ته سل افغانۍ په یوه روپۍ او شپږ آنې پاکستانۍ باندې زه تا ته درکوم۔ بله ورځ احمد له بکر سره د سل افغانۍ په یوه روپۍ او څلور آنې سودا وکړه دغه یوائې ژبنۍ کلامي سودا وه له یوې خوا څخه هم قبض نه دی شوی اوس احمد، بکر، زید ته راووست او له زید څخه دوه آنې منافع واخیسته او لاړ او باقي معامله ئې زید او بکر ته پرېښوده نو اوس دغه دوه آنې منافع احمد ته جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مبیعې بیعه قبل القبض جائزه نه ده یوائې په ژبې سره په کلامي سودا سره بیع تامه نه ګرځي چونکه په نوموړي صورت کښې هم د احمد او د زید په منځ کښې بیعه تامه نه وه ګرځیدله له دې وجهې د احمد لپاره ددغو دوه آنو منافع اخیستل جائز نه دي۔

و فی الهندیة: و منها فی المبیع و هو ان یکون موجودا فلا ینعقد بیع المعدوم و ماله خطر العدم. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۲، کتاب البیوع)

قال العلامة الحصکفیؒ: لان رکن البیع مبادلة المال با لمال و لم یوجد و المعدوم کبیع التعلی.......... لانه عدوم. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص۱۱۳، باب بیع الفاسد، مطلب فی بیع المغیب فی الارض)

د مشتري د پلمې او اخوا دیخوا په صورت کښې د بیع د فسخ کولو حکم

سوال: که چېرته د بیع د انعقاد څخه وروسته مشتري د ثمن (قیمت) په ادا کولو کښې تال متول یعني بهانې جوړوي نو آیا بائع دغه بیع فسخ کولی شي او که نه او حال دا چه نن صبا دا یو رواج جوړ شوی دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بیعه یوه داسې معامله ده چه په هغه کښې د فریقین رضا او رغبت ضروري ده په نوموړي صورت کښې د مشتري په بهانو چونکه بایع راضي نه دی چه مشتري خو نه قیمت ادا کوي او نه شی واپس کوي لهذا د دې مجبورۍ په وجه بائع ته د ا حق حاصل

دی چه بیع فسخ کړي۔

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: لان المشتری لما جحد کان فسخا من جهته اذا الفسخ یثبت به کما اذا تجاهد فاذا عزم البائع علی ترك الخصومة تم الفسخ بمجرد العزم......... و لانه لما تعذر استیفاء الثمن من المشتری فات رضا البائع فستقبل بفسخه. (البحر الرائع ج۷، ص۳۶، مسائل شتی، باب التحکیم)

د ثمن د ادا کولو د غیر متعین وخت حکم

سوال: نن صبا د ارواج عام دی چه خرید ار یو پیژندګلي دوکاندار ته ځي او د سودا د اخیستلو څخه وروسته ورته وایي چه روپۍ بیا بل وخت درکوم او د ادا کولو نیټه نه معلوموي نو آیا د اسې ډول بیعه جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د پور په بیعه کښې تر څو پورې چه د ثمن د ادا کولو وخت سره معلوم او مقرر نه کړي نو هغه بیعه به فاسده وي لیکن په نوموړي صورت کښې چونکه د بیعې د انعقاد نه وروسته هغه خرید ار دوکاندار ته ویلي دي چه پیسې وروسته درکوم نو که چېرته دوکاندار ئې په خوښې او رضا و رغبت سره قبول کړي نو هیڅ حرج پکښې نشته۔

قال الحصکفیؒ: و صح بثمن حال و هو الاصل او مؤجل الی معلوم لئلا یفضی الی النزاع. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۴، ص۲۵، مطلب فی التأجیل الی اجل مجهول)

قال العلامة ابن نجیمؒ: قوله و صح بثمن حال و باجل معلوم ای البیع لاطلاق النصوص و فی السراج الوهاج ان الحلول مقتضی العقد و موجبه و الاجل لا یثبت با لشرط قید بعلم الاجل لان جهالة تفضی الی النزاع. (البحر الرائق ج۵، ص۲۷۹، کتاب البیع)

د مردار څناور د هډوکو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: که چېرته په یوه ځای کښې یو څناور مردار شي او مالك ئې هغه د باندې وغورځوي نو آیا د هغه هډوکي پلورلی شي او که نه او که د غوښو غوندې ئې د هډوکو بیعه هم ناجائزه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شریعت له مخې خو د غیر مذبوحه څناور بیعه جائزه نه ده لیکه د دې حکم څخه د همدغه څناور بعضې اجزاء لکه هډوکي، ویښتان او ښکرونه او د اسې نور مستثنی دي نو له دې وجهې د مردار څناور د نوموړي اجزاوو اخیستل او پلورل جائز دي۔

قال العلامة قاضی خان رحمه الله: و بیع جلود المیتات باطل اذا لم تکن مذبوحة او مدبوغة و یجوز بیع عظامها و عصبها و صوفها و ظلفها و قرنا. (الفتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ج۲، ص۱۳۳، فصل فی البیع الباطل)

و فی الهندیة: اما شعر المیتة و صوفها و قرنها فلا بأس با لانتفاع بها و بیع ذٰلك کله جائز. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۱۱۵، الفصل الخامس فی بیع المحرمات)

د واوچر (رسید) د پلورلو حکم

سوال: زمونږ خلك تمباکو د کمپنیو په مالکانو خرڅوي او د کمپنۍ خاوندان د نقد په ځای مونږ ته د هغو پیسو رسید راکوي چه دې رسید ته واوچر ویل کیږي نو آیا مونږ د غه رسید د ضرورت په وخت کښې په کم قیمت باندې پلورلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: رسید پخپله د کاغذ یوه بې ارزښته ټکړه ده لیکن د دغو روپو په وجه قیمتي جوړیږي ځکه ئې په پلورلو کښې هیڅ حرج نشته لیکن په رسید کښې د هغه درج شوي قیمت څخه په کم قیمت باندې پلورل د سود څخه خالي نه ده نو ځکه د ا بیعه ناجائزه ده۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (الربا‌ء) قال فی البحر فضل احد المتجانسین نعم هذا یناسب تعریف الکنز بقوله فضل مال بلا عوض فی معاوضة مال بمال. (رد المحتار حاشیة علی الدر المختار ج۴، ص۱۹۶، باب الربوٰ)

قال العلامة ابن نجیمؒ: فضل مال بلا عوض فی معاوضة مال بمال ای فضل احد المتجانسین علی الآخر با لعیار السری ای الکیل و الوزن. (البحر الرائق ج۶، ص۱۲۴، باب الربوٰا)

د بیع قبل القبض حکم

سوال: یوه سړي له چا څخه د ۳۰۰۰ کلو ګرامو مال ژبنۍ سودا وکړه لیکن مال ئې اوچت نه کړ بلکه هغه مال له بائع سره پروت وو څو ورځې وروسته په هغه مارکیټ کښې د هغه مال قیمت زیات شو نو مشتري بائع ته وایي چه ته ما ته منافع راکړه او مال د خپل ځان سره وساته نو آیا د مشتري لپاره د د اسې منافع اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مقدسه کښې په مبیعې باندې د قبض نه مخکښې د هغه په چا باندې پلورل جائز نه دي په دې سره ملکیت نه ثابتیږي چونکه په نوموړي صورت کښې هم په ظاهره سره بیع المنقول قبل القبض ده نو ځکه بیع هم جائزه نه ده۔

لما فی الهندیة فنقول من حکم المبیع اذا کان منقولا ان لا یجوز بیعه قبل القبض الی ان قال و اما اذا تصرف فیه مع بائعه فان باعه منه لم یجز بیعه اصلا قبل القبض. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص۱۳، الفصل الثالث فی معرفة المبیع و الثمن و التصرف)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و هو لا یصح به القبض...... و قید با لقبض لان العقد فی ذاته صحیح غیر انه لا یجب علی المشتری دفع الثمن لعدم القبض. (رد المحتار ج۴، ص۴۸، مطلب اشتریٰ دار ماجورة لا یطالب با لثمن قبل قبضها)

مبیعه په بایع باندې د بیرته خرڅولو شرط لګول

سوال: ځینې خلك د یوه شي د پلورلو په وخت کښې په مشتري باندې د ا شرط لګوي چه کله هم زما لاس ته پیسې راشي نو د ا شی به بیا په ما باندې پلورې او یا چه کله ئې ته پلورل غواړې نو په ما به ئې خرڅوې په بل چا باندې به ئې نه خرڅوې نو آیا د عقد په وخت کښې د د ا ډول شروطو

لګول جائز دي او که نه او د دغو شرائطو په وجه سره په دې بیعه باندې څه اثر پریوځي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په بیعه کښې د اسې شرط چه په هغه کښې بائع یا مشتري یا مبیعې ته پکښې څه فائده وي شرعا جائز نه دی په دې ډول شرط لګولو سره بیع فاسدیږي۔ لهذا د نوموړي صورت بیع فاسده ده۔

قال العلامة الحصکفیؒ: و لا یبیع بشرط عطف علی الی النیروز یعنی الاصل الجامع فی فساد العقد بسبب شرط لا یقتضیه العقد و لا یلائمه و فیه نفع لاحدهما او فیه نفع لمبیع. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص١٣٥، مطلب فی البیع بشرط الفاسد)

و فی الهندیة: و لو باع شیئا علی ان یهب له المشتری او یتصدق علیه او یبیع منه شیئا او یقرضه کان فاسدا. (الفتاوی الهندیة ج٣، ص ١٣٤، الباب العاشر فی الشروط التی تفسد البیع و التی لا تفسده)

د سرو زرو د ګینړې په پور باندې د تجارت حکم

سوال: مونږ څو کسه پاکستاني ملګري په ملائشیا کښې اول د رخت په پور باندې تجارت کاوه لیکن د رخت کاروبار ډېر سست دی او اوس د سروزور د ګینړې لګه ګوتې، ډډۍ او د اسې نورو زیوراتو بازار ډېر ګرم دی نو مونږ اوس د ا تجارت شروع کړی دی او د سروزرو دغه زیورات مونږ په پور باندې په خلکو باندې پلورو او میاشت په میاشت مونږ ته قسطونه راکوي۔ اوس چا ویلي دي چه په دې طریقې سره د سرو زرو تجارت جائز نه دی او د عدم جواز وجه او دلیل ئې مونږ ته نه دی بیان کړی نو له دې وجهې که تاسو د دغه تجارت د جواز او عدم جواز وضاحت وکړی نو ډېره مهرباني به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د سروزرو تجارت په د اسې طریقې سره وي چه سره زر نقد وي او پیسې پور وي لکه چه په سوال کښې ذکر دی نو بیا د ا تجارت جائز دی ځکه چه دغه دواړه مختلف الاجناس شیان دي او که چېرته دواړه په پور وي نو بیا ناجائز دی۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: (تنبیه) سئل الحانوتی عن بیع الذهب با لفلوس نسیئة فاجاب بانه یجوز اذا قبض احد البدلین. (رد المحتار حاشیة علی در المختار ج٤، ص٢٠٥، کتاب البیوع، باب الربٰوا)

لما فی الهندیة: و روی الحسن عن ابی حنیفةؒ اذا اشتری فلوسا بدراهم و لیس عند هذا فلوس و لا عند الآخر دراهم ثم ان احدهما دفع و تفرقا جاز و ان لم ینقد واحد منهما حتی تفرقا لم یجز کذا فی المحیط. (الفتاویٰ الهندیة ج٣، ص٢٢٤، الفصل الثالث فی بیع الفلوس) و مثله فی الفتاویٰ البزازیة علی هامش الهندیة (ج٥، ص٢، کتاب الصرف

د جعلي ویزې د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا ځینې خلك په پاسپورټ او ویزې او د اسې نورو باندې اصل عکس بدلوي او په جعلي توګه د بل سړي عکس لګوي او نورو ملکونو ته ئې لیږي او په دې

باندې کافي روپۍ اخلي نو آیا د دغو خلکو د ا ډول کاروبار شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ویزه اګر که د کاغذ یوه ټکړه وي لیکن د متعلقه ملك د حکومت له خوا څخه هغه ته قانوني تحفظ حاصلیږي چه له دې وجهې د هغې قیمت زیاتیږي لهذا په قانوني د ائرۀ اختیار کښې د هغې پلورل او ډېر قیمت اخیستل جائز دي لیکن په یوې خاصې ویزې باندې عکس بدلول او په بل چا باندې پلورل ئې سراسر دوکه ده او نه د د اسې ویزې قانوني حیثیت نه وي لهذا په دوکې او په غیر قانوني طریقې سره په چا باندې د ویزې پلورل او ډېرې پیسې اخیستل ناجائز او حرام دي ځکه چه د ویزې په بدل کښې پیسې اخیستل د قانوني تحفظ په بناء سره جائز دي نه د دوکې ورکولو په ذریعې سره۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: (قوله فیفتی بجواز النزول عن الوظائف بمال) قال العلامة العینیؒ: فی فتاواه لیس شیء یعتمد علیه و لکن العلماء و الحکام مشوا ذٰلك للضرورة و اشترطوا امضاء الناظر مثلا یقع فیه نزاع. (رد المحتار ج٤، ص٥١٩، کتاب البیوع، مطلب فی النزول عن الوظائف با لمال)

د خرابو (ورستو) هګیو د پلورلو حکم

سوال: یو دوکاندار پخپل یو ګاهك باندې څه هګۍ وپلورلې هغه چه کور ته لاړ چه هګۍ ئې ماتې کړې نو ورستې وې نو آیا دغه خریدار ته د ا حق حاصل دی چه هګۍ دوکاندار ته واپس کړي او خپلې پیسې ورنه واخلي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: هګۍ چه کله ورستې شي نو هغه مال نه پاتې کیږي یعني هغه ته مال نه ویل کیږي او پلورل ئې جائز نه دي او که چېرته د ا معامله وشوه او اخیستونکي هغه ورستې هګۍ پخپل استعمال کښې نه وې راوړې نو هغه ته شرعا د ا حق حاصل دی چه دوکاندار ته ئې واپس کړي او له هغه څخه خپلې پیسې واخلي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: من اشتریٰ بیضا او بطیخا او قثاءً او خیارا او جوزا فکسره فوجوده فاسدا فان لم ینتفع به رجع با لثمن لانه لیس بمال فکان البیع باطلا. (الهدایة ج٣، ص٢٧، باب البیع الفاسد)

باب فی الخیار

په بیع کښې د خیار مسائل او احکام

د خیار رؤیت حکم

سوال: که چېرته یو شی په د اسې حالت کښې واخیستل شي چه مشتري نه اصالتا او نه وکالتا لیدلی وي او د لیدلو څخه وروسته د مشتري خوښ نه شي نو آیا هغه دا شی واپس کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم شی چه بغیر له لیدلو نه څوك وکړي نو د بیع حقیقت موجود شو او د دې معاملې په جواز کښې هیڅ شك پاتې نه شو لیکن بیا هم مشتري ته تر لیدلو پورې اختیار حاصل دی که چېرته د هغه خوښ نه شو نو بغیر د څه وجهې له ښولو نه هغه شی بائع ته واپس کولی شي او بیائې که کولو ته تیار وي نو بیا به پوره قیمت ورکوي۔

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانیؒ: و من اشتریٰ شیئا لم یره فا لبیع جائز و له الخیار اذا اراه ان شاء اخذه بجمیع الثمن و ان شاء رده. (الهدایة ج۳، ص ۴۰، کتاب البیوع، باب خیار الرؤیة)

قال فی الهندیة: من اشتری شیئا لم یره فله الخیار اذ راه ان شاء اخذه بجمیع الثمن و ان شاء ردسواء راه علی الصفة التی وصفت له او علی خلافها. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۵۷، الباب السابع فی خیار الرؤیة) و مثله فی البحر الرائق ج۶، ص۲۶، باب خیار الرؤیة)

د غبن فاحش مسئله

سوال: یوه سړي له چا څخه زمکه واخیسته لیکن د اخیستلو په وخت کښې هغه دلال یا بائع د چل ول نه کار واخیست او زمکه ئې په د اسې قیمت باندې وپلورله چه د عام بازار له نرخ څخه ګران وو نو آیا په دې بنا باندې مشتري دغه زمکه بائع ته شرعا واپس کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته مشتري د دغو ټولو حالاتو نه خبر وي او بیا ئې هم په دې زمکې کښې تصرف کړی وو او د هغه په مالکانه تصرفاتو باندې څه وخت تیر شوی هم وي نو بیا مشتري ته د واپس کولو حق حاصل نه دی ځکه چه په غبن فاحش کښې اګر که مشتري ته د مبیعې د واپس کولو حق حاصل وي لیکن په هغه باندې د ده د علم با وجود د تصرفاتو په کولو سره دا حق باقي نه پاتې کیږي یعنې د واپس کولو حق ئې باطلیږي۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: المشتری الذی حصل له تغریر اذا اطلع علی الغبن الفاحش ثم تصرف فی المبیع تصرف الملاك سقط حق فسخه کما......... لو سقی الارض المبیعة او غرسها الی غیر ذٰلك من التصرفات الدالة علی الرضاء. (شرح مجلة الاحکام تحت المادة ۳۵۹، ص ۳۴۰)

قال حافظ الدین محمد بن البزازؒ: کل تصرف یدل علی الرضا بعد العلم به یمنع الرد و الرجوع با لنقص............ و سقی الارض و زراعتها و کسح الکرم رضاء. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۴، ص۳۵۱ و ۳۵۲، کتاب البیوع، باب الخیار) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۷۵، کتاب البیوع)

د یوه شي له ټولو عیبونو څخه د پاکوالي په بیانولو سره د هغه خرڅول

سوال: یو سړي د یو شي د پلورلو په وخت کښې مشتري ته د اسې وویل چه چه که چېرته د دغه شي د نقصانونو په باره کښې د څه ویل وي اوس ئې وایه او که نه وروسته بیا د هیڅ عیب ذمه وار نه یم آیا د بائع مشتري ته د د اسې وینا جواز شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په تجارت کښې بیع بشرط برائت من العیوب درست او صحیح دی چه بائع د ټولو عیوبو څخه د برائت اعلان او اظهار وکړي ځکه په د اسې کولو کښې وروسته د تنازع او د خفګان هیڅ ګنجائش نه پاتې کیږي ځکه په دې شرط باندې معامله کول شرعا مرخص دي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و صح البیع بشرط البرأة من کل عیب و ان لم یسم خلافا للشافعی لان البرأة عن الحقوق المجهولة لا یصح عنده و یصح عندنا لعدم افضائه الی المنازعة و یدخل فیه الموجود و الحادث بعد العقد قبل القبض فلا یرد بعیب بان قال بعتك هذا العبد علی انی بریء من کل عیب. (رد المحتار ج۵، ص۴۲، تحت مطلب فی البیع بسرط البرأة من کل عیب)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و صح البیع بشرط البرأة من کل عیب و ان لم یسم خلافا للشافعی لان البرأة من الحقوق المجهولة لا تصح عنده و تصح عندنا لعدم افضائه الی المنازعة. (فتاویٰ تنقیح الحامدیة، ج۱، ص۲۷۳، جواب السوال، باب خیار الرؤیة) و مثله فی شرح المجلة لسلیم رستم باز (تحت المادة ۱۸۹، ص۸۹)

د بیع بالوفاء حکم

سوال: یو سړي د لسو زرو روپو په بدل کښې په بیع قطعي سره د مشتري څخه معاوضه نقد وصول کړې ده او اوس په دې زمکې کښې د بائع هیڅ دخل نه دی پاتې شوی لیکن بیع ئې په دې شرط سره کړې ده چه په مقرره وخت کښې د پیسو په بیرته ورکولو سره به زمکه واپس راکوې نو آیا نوموړې بیعه شرعا جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اصل قواعدو نه مخې دا معامله رهن ګرځي نو د دې زمکې څخه انتفاع اخیستل به حرام وي او که چېرته دغه معامله بیع تصور کړی شي نو د دې شرط په وجه سره دغه بیعه فاسده ده لیکن بیا هم د اضطرار په وخت کښې د بائع لپاره د متاخرینو په فتوی باندې د عمل کولو ګنجائش شته لیکن بغیر له سخت ضرورت څخه له دې څخه اجتناب ضروري دی۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و بیع الوفاء ذکرته هنا تبعا للرد و صورته ان یبیعه العین بالف علی انه اذا

رد علیه الثمن رد العین.......... قیل هو رهن قدمنا آنفا عن جواهر الفتاویٰ انه الصحیح و قیل بیع یفید الانتفاع به هذا متحمل لاحد القولین. الاول انه بیع صحیح مفید لبعض احکامه من حل الانتفاع به الا انه لا یملک بیعه و قال الزیلعیؒ فی الاکراه و علیه الفتویٰ. الثانی القول الجامع لبعض المحققین انه فاسد فی حق بعض الاحکام کحل الانزال و منافع المبیع و رهن فی حق البعض حتی لم یملک المشتری بیعه من آخر و لا رهنه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۲۷۷، کتاب البیوع، باب الصرف، مطلب بیع الوفاء)

قال العلاة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: القول الثامن الجامع لبعض المحققین انه فاسد فی حق بعض الاحکام حتی ملک کل منهما الفسخ و صحیح فی بعض الاحکام کحل الانزال و منافع المبیع و رهن فی حق البعض (بحذف یسیر و ینبغی ان لا یعدل فی الافتاء عن القول الجامع. (البحر الرائق ج۶، ص۸، باب خیار الشرط، تحت "فرع") و مثله فی التبیین الحقائق (ج۵، ص۱۸۳، باب خیار الشرط)

په عیب بـــــاندې د خرید ار د خبرولو حکم

سوال: زید په عمر باندې د یوه شي د پلورلو په وخت کښې دا وویل چه په دغه شي کښې فلانی عیب شته مشتري (عمر) زید ته وویل چه دا څه خبره نه ده یعنې پروائې نشته او هغه شی ئې واخیست مشتري په هغه باندې قبضه هم وکړه او په هغه شي باندې ئې تصرف هم وکړ۔ اوس له یو کال څخه وروسته مشتري د دغه عیب په وجه سره مبیعه واپس کول غواړي نو آیا هغه ته د مبیعې د واپس کولو حق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بائع چه کله مشتري د مبیعې په عیب باندې خبر کړي او د اطلاع علی العیب نه وروسته چه مشتري بیع تامه کړي او په مبیعې باندې له قبضې او تصرف نه وروسته چه بایع ته د دغه عیب په وجه سره واپس کول غواړي نو شرعا هغه ته دا حق حاصل نه دی لیکن بیا هم که چېرته بائع او مشتري پخپل منځ کښې اقاله کول غواړي نو هیڅ حرج پکښې نشته۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: بعد اطلاع المشتری علی عیب فی المبیع اذا تصرف فیه تصرف الملک سقط خیاره مثلا و عرض المشتری المبیع للبیع بعد اطلاعه علی عیب قدیم فیه کان عرض المبیع للبیع رضی با لعیب فلا یرده بعد ذٰلک. (شرح المجلة ص۱۸۵، المادة ۳٤٤)

لما فی الهندیة: الاصل ان المشتری متیٰ تصرف فی المشتری بعد العلم با لعیب تصرف الملک بطل حقه فی الرد. (الفتاوی الهندیة ج۳، ص۷۵، کتاب البیوع، باب الخیار)

د عدم رؤیت (نه لیدلو) له وجې د ځمکې د تبادلې منسوخول

سوال: دوه ملګري (زید او عمر) پخپل منځ کښې د لیدلو نه بغیر د ځمکې تبادله کړې وه لیکن وروسته د یوه ځمکه غیر آباده او د بل ځمکه آباده وه نو آیا زید له عمر څخه د خپلې ځمکې د واپس کولو حق لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع او شراء او تبادلې په صورت کښې د عاقدینو د مبیعې او یا د عوضین کتل ضروري دي که چېرته کومه سودا او تبادله له کتلو څخه پرته سرته ورسیږي نو د عدم رویت په وجه سره د واړو ته د خپلو خپلو شیانو د واپس اخیستلو او رد کولو حق حاصل دی لهذا عمر له زید څخه خپله آباده ځمکه واپس اخیستلی شي۔

قال الشیخ ابن الهمامؒ: و لنا قوله علیه السلام من اشتریٰ شیئا لم یره فله الخیار اذا راٰه. (فتح القدیر ج۶، ص۳۳۶، باب الخیار)

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: من اشتریٰ شیئا لم یره فله الخیار اذا رأت ان شاء اخذه بجمیع ثمنه و ان شاء رده سواء الخ. (الهدایة ج۳، ص۵۷، باب خیار العیب)

د عیب لرونکو شیانو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: د عیب لرونکي شیانو بیع او شراء جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په بیع کښې دا ضروري ده چه هغه مال به متقوم وي او عیب یو خارجي شی دی ځکه د عیب لرونکي شیانو بیعه جائزه ده خو په دې شرط چه هغه عیب له مشتري څخه پټ نه کړي۔

عن زید بن ثابت انه قال من باع غلاما با لبرأة فهو برئ من کل عیب و کذٰلك الی آخره. (اعلاء السنن ج۱٤، ص۹۲، باب البیع با لبرأة من کل عیب)

قال العلامة ابن عابدینؒ: رجل اشتری ارضا او کرما فظهر ان شربه فکان علی ناوقة ای میزا...... توضح علی ظهر نهر او موضح آخر کان له ان یرد لان ذٰلك یعد عیبا عند الناس الخ المشتری با لخیار ان شاء اسکها بجمیع الثمن و ان شاء رد. (تنقیح الحامدیة ج۱، ص۲۷٦، کتاب البیوع، باب الخیار)

د بهرني هیوادونو د ویزې په اخیستلو او پلورلو کښې د خیار عیب حکم

سوال: زید له عمر څخه د ریاض ویزه په دې شرط باندې واخیسته چه کفیل به د ریاض اوسیدونکی وي، اوس عمر په ریاض کښې د زید لپاره د کفیل د میندلو څخه عاجز شو چه له دې وجهې زید د څه وخت لپاره په غرونو کښې له حکومت څخه پټ تیر کړ بالآخره مجبورا ئې خپل ځان د سعودي په حکومت باندې ونیوه او سعودي حکومت د قانوني کاروایي نه وروسته پاکستان ته ولیږه او زید عمر ته ٤۰۰۰۰ څلویښت زره پاکستانی روپۍ مخکښې ورکړې وې او د نورو دېرشو زرو ۳۰۰۰۰ وعده ئې کړې وه نو اوس په دې صورت کښې به زید عمر ته د وعدې مطابق د دیرشو زرو روپو د ورکولو پابند دی او که عمر به زید ته څلویښت زره روپۍ واپس ورکوي۔ د شریعت په رڼا کښې د دې مسئلې څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې که چېرته د سعودي عرب ویزه د بیعې په وخت کښې موجوده وه او په هغې کښې د ریاض د ښهر د یوه اوسیدونکي نوم ذکر وو لیکن

رياض ته په رسيدو باندې معامله د معاهدې برعکس ووتله نو په دې کښې مشتري ته د نقص او فسخې حق حاصل دی۔

لما فی الهندية: و ان اشترىٰ ثوبا على انه عشرة اذرع بعشرة الى قوله فا لمشترى با لخيار الى قوله و ان نقص فقد فات الوصف المرغوب فيختل رضاه فيخير الخ. (الفتاوى الهندية ج٣، ص ١٢٤، الفصل الثامن فی جهالة المبيع او الثمن)

قال العلامة الحصكفیؒ: ثم الخيارات بلغت سبعة عشر الثلاثة....... و فوات وصف مرغوب فيه. قال ابن عابدینؒ: هو ما يذكره فی هذا الباب فی قوله اشترىٰ عبد بشرط خبره او كتبه الخ. (الدر المختار مع رد المحتار ج٤، ص ٥٠ و ٥١، باب خيار الشرط) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص ٢٤، باب خيار الشرط)

او په نوموړي احتمالي صورت کښې هم ظاهره ده چه هغه وصف مرغوب وجود نه لري لهذا مشتري د نقص اختيار لري۔

خيار رؤيت نا قابل انتقال حق دی

سوال: زمونږ والد صاحب د کراچۍ څخه څه مال وغوښت او د مال له رسيدلو نه مخکښې والد صاحب انتقال وکړ او چه کله مال ورسيد نو په هغه مال کښې عيب وو کوم چه مونږ ته خوښ نه وو اوس مونږ غواړو چه د غه مال واپس کړو ليکن د کمپنۍ والائې نه مني نو آيا شرعا مونږ ته دغه حق حاصل دی چه مونږ په دې مال کښې د خيار رؤيت حق استعمال کړو او دغه مال واپس کړو؟

الجواب باسم ملهم الصواب: خيار رؤيت داسې حق دی چه په دې کښې ارث نه جاري کيږي او نه دغه د ورثاوو خوا ته منتقل کيږي نو لهذا که چېرته ستاسو والد صاحب مال ليدلی هم نه وي او د هغه د انتقال نه وروسته ستاسو خوښ هم نه شو نو بيا تاسو ته دا حق حاصل نه دی چه د خيار رؤيت حق استعمال کړی او هغه مال واپس کړی ځکه چه بيعه تامه شوې ده بيا هم که چېرته د کمپنۍ خاوند اقاله کول غواړي نو صحيح دی۔

لما فی مجلة الاحكام: خيار الرؤية لا ينتقل الى الوارث فاذا مات المشترى قبل ان يرى المبيع لزم البيع و لا خيار لوارثه. و قال العلامة رستم بازؒ: لان خيار الرؤية ليس الا مجرد ارادة و مسيئته و هذا وصف فلا يمكن انتقاله الى الوارث. (شرح مجلة الاحكام ص ١٧١، المادة ٣٢١، باب الخيارات)

باب الاقالة

د بيعه د واپس کولو احکام او مسائل

په اقاله کښې د طرفينو (دواړو خواوو) رضا

سوال: د بايع او مشتري په منځ کښې د مکمل عقد نه وروسته که چېرته يو فريق د واپسۍ خواهش وکړي ليکن دوهم فريق په هغې باندې رضاء نه وي نو آيا هغه فريق چه د واپسۍ خواهش ئې کړی وي جبراً خپل حق واپس غوښتلی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مکمل ايجاب او قبول نه وروسته عقد بيع لازم ګرځي او يوه ته هم جبراً د عقد د ختم کولو حق حاصل نه دی بيا هم که چېرته د اقالې صورت وي نو د هغه لپاره د دواړو خواوو رضاء ضروري ده۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: من شرائطها اتحاد المجلس و رضا المتعاقدين لان الكلام فی رفع عقد لازم و اما رفع ما ليس بلازم فلمن له الخيار يعلم صاحبه لا برضاه بحر. (رد المحتار ج٥، ص ١٢١، باب الاقالة)

قال فی الهندية: و شرط صحة الاقالة رضاء المتقائلين. (الفتاوىٰ الهندية ج٣، ص١٥٧، الباب الثالث عشر فی الاقالة) و مثله فی شرح مجلة الاحكام لسليم رستم باز (تحت المادة ١٩٠، ص٩٢)

په اقاله کښې د قيمت د کمولو شرط لګول

سوال: د بيعې د انعقاد نه وروسته که چېرته دواړه خواوې په دې شرط باندې د بيع فسخ کول وغواړي چه مشتري بائع ته د هغه ورکړ شويو روپو څخه څه پرېږدي نو آيا شرعا د دواړه لپاره داسې کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بيعې د فسخ کولو په وخت کښې که چېرته بائع او مشتري د قيمت د کمولو شرط لګوي نو د دواړو په رضاء سره بيع فسخ کيږي او بايع به مشتري ته ټولې روپۍ ور واپس کوي د پيسو د کمولو شرط کالعدم او باطل ګرځي۔

لما قال العلامة على بن ابى بكر المرغينانى رحمه اللّٰه: الاقالة جائزة فی البيع بمثل الثمن الاول فان شرط اكثر منه او اقل فا لشرط باطل و يرد مثل الثمن الاول. (الهداية ج٣، ص ٧١، باب الاقالة)

قال العلامة سليم رستم باز رحمه اللّٰه: الثالث انها لا تفسد الشرط الفاسد و ان لم تصح تعليقها به بل يكون الشرط لغوا فلو تقايلا على ان يؤخر المشترى الثمن سنة او على ان يحط منه خمسين صحة الاقلاة لا التاخير و الحط. (شرح مجلة الاحكام لسليم رستم باز ص ٩١، المادة ١٩٠، الفصل الخامس فی الاقالة) و مثله فی الهندية (ج٣، ص١٥٦، الباب الثالث عشر فی الاقالة)

پلورل شوی شی بيرته په کم قيمت باندې اخيستل

سوال: يوه سړي په چا باندې په پور اوبښ وپلوره د قيمت د ادا کولو په وخت کښې مشتري د پور د ورکولو نه انکار وکړ او غوښتل ئې چه مبيعه واپس کړي اوس بائع دغه اوبښ له مشتري څخه په

همدې قیمت او یا له هغه نه په کم قیمت باندې واپس اخیستلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې بیعه په مکمل ډول سره تامه شوې ده او قطعي ګرځیدلې ده چه له وجې ئې مبیعه د بائع له ملکیت څخه وتلې ده او د مشتري ملکیت ته داخله شوې ده لیکن اوس که چېرته مشتري غواړي چه بیع فسخ او مبیعه واپس کړي نو بائع ته مبیعه په مخکښیني قیمت او یا له هغه نه په زیات یا کم قیمت باندې په واپس کولو کښې هیڅ حرج نشته او دا جائزه ده چه بائع مبیعه په کم قیمت سره واپس کړي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: لو باع شیئا اصالةً بنفسه او وکیله او وکالة عن غیره لیس له شراءه با لاقل لا لنفسه و لا لغیره. (رد المحتار ج۵، ص۷۴، باب البیع الفاسد، مطلب فی التداوی بلبن البنت الخ)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: شراء ما باع باقل مما باع من الذی اشتراه او من وارثه قبل نقد الثمن لنفسه او لغیره......... فسد عندنا. (خلاصة الفتاوٰی ج۳، ص۴۱، کتاب البیوع، الفصل الرابع فی البیع الفاسد و احکامه) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۱۳۴، الباب العاشر فی الشروط التی تفسده و التی لا تفسده)

د مبیعې د نه خوښیدو په صورت کښې د هغې د واپس کولو حکم

سوال: یوه سړي په بل باندې یو شی په دې شرط باندې وپلوره چه دغه د فلانۍ کمپنۍ له مصنوعاتو څخه دی کوم چه ښه او عمده معیار والا دی لیکن له اخیستلو نه وروسته د هغه شي حقیقت بل شی وخوت نو آیا په دې صورت کښې مشتري ته د مبیعې د واپس کولو حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع د عقد په وخت کښې د یوه شي د هغو اوصافو بیانول چه د هغې خوا ته د خلکو رغبت جلب کیږي نو په مبیعه کښې د هغو اوصافو موجود والی ضروري دی ورنه د نه موجودوالي په صورت کښې مشتري ته په ټول قیمت باندې د اخیستلو او یا د بیع د فسخ کولو حق حاصل دی په دې بناء باندې په مذکوره صورت کښې د کمپنۍ د مصنوعاتو د بیعې په وخت کښې بیان کړل شوي اوصاف یعنې عمده والي او د مضبوط والي څخه عاري معلوم شو نو مشتري ته په ټول قیمت باندې د اخیستلو او یا د واپس کولو حق حاصل دی۔

لما قال فی الهندیة: و ان اشترٰی ثوبا علی انه عشرة اذرع بعشرة او ارضا علی انها مائة اذرع بمائة فوجدها اقل فا لمشتری با لخیار ان شاء اخذها بجمیع الثمن و ان شاء ترك و ان وجدها اکثر من الذراع الذی سماه فهو للمشتری علی خیار للبائع و ان نقص فقد فات الوصف المرغوب فیختل رضاه و لا یحط شیء من الثمن کذا فی الکافی. (الفتاوٰی الهندیة ج۳، ص۱۲۴، الفصل الثامن)

قال العلامة ابن عابدینؒ: اشترٰی من آخر فرسا ذکر البائع انها من نسل خیل فلان لفرس مشهور با لجودة ثم تبین کذبه هل له الرد ام لا فاجاب اذا اشتراها بناءً علی ما وصف له بثمن لو لم یصفها بهذه الصفة لا تشترٰی بذٰلك الثمن

و التفاوت بین الثمنین فاحش و هی لا تساوی ما اشتراها به له الرد اذا تبین خلاف ذٰلك. (تنقیح الحامدیة ج۱، ص۲۳۷، باب الخیارات) و مثله فی شرح المجلة الاحکام (تحت المادة ۱۸۹، ص۸۹، باب الخیارات)

د اقالې په صورت کښې د پیسو زیاتوالی جائز نه دی

سوال: زید د خپلې زمکې یو پټی په بکر باندې په یو لك روپو باندې وپلوره بکر زید ته لس زره روپۍ پیشګي ورکړه او د نورو روپو ئې څو ورځې بعد د ورکولو وعده وکړه۔ د یوې میاشتې له تیریدو څخه وروسته زید غوښتل چه خپل پټی واپس کړي او وئې ویل چه زه خپل پټی نه پلورم او بکر ته ئې د خپلو لسو زرو روپو سره پنځه زره د پښیمانتیا په ډول هم ورکوي نو آیا د بکر لپاره پنځه زره روپۍ د پښیمانتیا په توګه جائزې دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې اګر که د ایجاب او قبول څخه وروسته بیعه تامه شوې ده او زید ته د زمکې د واپس اخیستلو حق حاصل نه دی لیکن کله چه بکر د بیع په فسخ کولو باندې راضي شي او بیعه ختمه کړي (چه دې ته اقاله ویل کیږي) نو بیا په دې صورت کښې بکر ته له زید څخه د جرمانې یا پښیمانتیا په توګه د زیاتو روپو د اخیستلو جواز نشته۔

لما ورد فی الحدیث: لا یحل مال امرئ مسلم الا عن طیب قلبه انتهٰی. (مشکوٰة المصابیح ج۱، ص۲۵۵، باب الغصب و العاریة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: قوله و تصح بمثل الثمن الاول حتی لو کان الثمن عشرة دنانیر فدفع الیه دراهم ثم تقابلا و قد رخصت الدنانیر رجع با لدنانیر لا بما دفع و کذا لو ردّ بعیب الخ. (رد المحتار علی هامش الدر المختار ج۴، ص۱۶۵، باب الاقالة) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۱۰۴، باب الاقالة)

د ثمن د مصرف کیدو په صورت کښې د اقالې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! یوه سړي له یوه بزګر (دهقان) څخه اخیستل شوی شی هغه ته واپس کول غواړي او بزګر هم په هغه باندې راضي دی لیکن کومې روپۍ چه هغه له مشتري څخه اخیستي دي له هغه څخه لګیدلي دي اوس بزګر مشتري ته وایي چه ته ما ته دغه شی واپس کړه لیکن روپۍ یوه میاشت وروسته درکوم نو آیا دا سې اقاله جائزه ده او که نه حال دا چه په ربښتیا هم له بزګر سره روپۍ موجودې نه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ثمن تلف یا خلاصیدل د اقالې د انعقاد لپاره مانع نه ده ځکه که چېرته دواړه متعاقدین د یوه بل په رضا او رغبت سره اقاله کول غواړي او مشتري انتظار کولی شي چه پیسې ئې واپس ورکړي نو په دې باندې شرعا هیڅ حرج نشته۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: هلاك الثمن ای تلفه لا یمنع صحة الاقالة. قال العلامة سلیم رستم بازؒ: و ذٰلك لان الاقالة رفع البیع و الاصل فی البیع المبیع لا الثمن و لهذا لو هلك المبیع قبل القبض یبطل البیع بخلاف هلاك الثمن. (شرح مجلة الاحکام ص۹۵، المادة ۱۹۶، فصل فی الاقالة)

باب المرابحة و التولية

د بیع مرابحه او تولیه احکام او مسائل

په بیع مرابحه کښې د منافع مقدار متعین نه ده

سوال: د یوه دوکاندار په عامه توګه له بازار څخه په اوچت نرخ باندې د سودا پلورل څرنګه دي او همدارنګه شریعت د یوه شي په پلورلو کښې د منافعو څه حد مقرر کړی دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د پیرلو او پلورلو لپاره بایع او مشتري ته اختیار ورکړی دی او د دوی پخپل منځ کښې ئې بیع د دوی تر رضاء پورې موقوفه کړې ده او بائع او مشتري چه په کوم نرخ باندې سره موافق شي هغه نرخ شرعا جائز دی او فقهاء د بیع مرابحه حقیقت بیان کړی دی او د ربح تعین ئې نه دی فرمایلی البته د بازار د عامو نرخونو څخه په جګ نرخ باندې ئې پلورل خو جائز لیکن د غیرت او مروت خلاف کار دی۔

لما قال فی الهندية: و من اشترٰی شيئا و اغلی فی ثمنه جاز. (الفتاوٰی الهندية ج۳، ص۱۶۱، کتاب البیوع، الباب الرابع عشر فی المرابحة و التولية..... الخ)

قال العلامة جلال الدين الخوارزمی رحمه اللّٰه: هو مبادلة المال با لمال با لتراضی. (الکفاية فی ذيل فتح القدير ج۵، ص۴۵۴، کتاب البیوع) و مثله فی فتح القدير ج۴، ص۴۵۵، کتاب البیوع)

په بیع مرابحه کښې د خیانت له شبهې څخه ځان ساتل ضروري دي

سوال: که چېرته یو شی څوك په پور واخلي نو د پلورلو په وخت کښې هغه داووایي چه دا شی ما په دومره قیمت باندې اخیستی دی خو په پور او په دومره ګټه باندې ئې خرڅوم نو آیا دا صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیع مرابحه دارومدار په دیانت او امانت باندې ده په دې کښې د هر هغه قدم اخیستلو څخه اجتناب ضروري دی چه په هغه کښې د خیانت شبهه وي چونکه په پور کښې عموما د نقد په نسبت باندې زیات قیمت ښودل کیږي ځکه په پور باندې اخیستونکی شی که چېرته ګاهك ته ئې قیمت خرید وښایي او په هغه باندې ئې وپلوري نو د اصل قیمت سره ئې د پور اظهار هم ضروري دی۔

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغينانی رحمه اللّٰه: و من اشترٰی غلاما بالف درهم نسيئة فباعه بربح مائة و لم يبين فعلم المشتری فان شاء رده و ان شاء قبل لان للاجل شبها با لمبيع الا يری انه يزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهداية ج۲، ص۷۶، باب المرابحة و التولية)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: اشتراه بالف و باع بربح مائة بلا بيان خير المستری. و قال العلامة ابن عابدينؒ:

ای بعين رده و اخذه بالف و مائة حالة لان للاجل شبها با لمبيع الا ترٰی انه يزاد فی الثمن لاجله. (الدر المختار مع رد المحتار ج۵، ص۱۴۱ و ۱۴۲، مطلب اشترٰی من شريکه سلعة) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۲۲۴، باب المرابحة و التولية)

په بیع مرابحه کښې د ګز او متر د تعین ضرورت

سوال: د رخت یو دوکاندار ځینې رختونه د ګز په حساب سره او ځینې د متر په حساب سره اخلي او ګاهك ته ئې په یوه روپۍ منافع فې ګز ورکوي او د خرید رسید ور ښکاروي او د ګز او متر د تفصیل نه بغیر دا معامله سره طی کوي نو آیا د دوکاندار لپاره د اسې کول جائز دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ګاهك (خریدار) ته د یوه شي قیمت خرید ور ښوولو او د هغه پلورلو ته بیع مرابحه وایي په متر او ګز کښې تقریبا درې نیم انچه فرق دی نو ځکه د ګز په حساب سره اخیستل شوی رخت د متر او د ګز د تعین نه بغیر په پلورلو کښې د خیانت قوي احتمال موجود دی ځکه د دې معاملې د اسې مبهم پرېښودل جائز نه دي دوکاندار ته په کار دی چه اول ګاهك ته قیمت خرید و نه ښایي او که چېرته ئې ور وښایي نو بیا د ګز او متر د فرق ښودل هم ډیر ضروري دی چه ور وئې ښایي۔

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغينانی رحمه اللّٰه: و لهذا کان مبناهما علی الامانة و الاحتراز عن الخيانة و عن شبهتها. (الهداية ج۳، ص۷۳، باب المرابحة و التولية)

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: فا لاصل فيه ان بيع المرابحة و التولية بيع امانة...... فتجب صيانتها عن الخيانة و عن سبب الخيانة و التهمة لان التحرز عن ذٰلك کله واجب ما امکن. (بدائع الصنائع ج۵، ص۲۲۳، باب المرابحة و التولية) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۱۳۸، باب المرابحة و التولية)

د لارې مصرف او خرڅ د اخیستل شوي شي د اصل قیمت سره ګډول

سوال: که یو دوکاندار د یوه شي د اخیستلو لپاره بل ښهر ته لاړشي نو د لارې کرایه او نور مصارف چه کوم راځي د دغه شي د اخیستلو په قیمت کښې جمع کړي او بیائې وپلوري نو د دې شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه شي د اخیستلو په وخت په هغه باندې په راتلونکي اخراجاتو د عقد مرابحه په صورت کښې چه په قیمت خرید کښې ئې ګډ کړي او دغه اخراجات د ګاهك څخه وصول کړي د شبهه خیانت مقتضی ده ځکه چه د شریعت له مخې بائع ته د اصل قیمت د ښوولو په وخت کښې د اضافي اخراجاتو ضم کول ناجائز دي۔ بیا هم که چېرې د قیمت خرید څخه قطع نظر بائع د پلورلو لپاره چه کوم معیار مقرروي په هغه کښې د اصل قیمت سره اضافي اخراجات هم شامل کړي او د بائع او مشتري په منځ کښې په رضا او رغبت باندې پرې اتفاق وي نو په دې کښې شرعا هیڅ حرج نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: لا يضم نفقة نفسه ای فی سفره ککسوته و طعامه و مرکبه و غسل ثيابه.

(رد المحتار ج۵، ص۱۳۷، باب المرابحة و التولية)

لما قال فی الهندية: و لا يحمل عليه ما انفق عليه فی سفره من طعامٍ و لا كراء و لا مؤنة لانعدام العرف فيه ظاهرا كذا فی المبسوط. (الفتاوی الهندية ج۳، ص۱۶۲، الباب الرابع عشر فی المرابحة و التولية) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۱۱۰، كتاب البيوع، باب المرابحة و التولية)

د یوه شي د خرید په قیمت کښې د نورو اخراجاتو د ګډولو صورت

سوال: د بهرني ملکونو څخه د تجارت د سامان د غوښتلو په صورت کښې د مختلفو حکومتي ټکسونو ادا کول او د نورو اخراجاتو په وجه سره قیمت څو چنده زیاتیږي تر دې پورې چه د یوه شي قیمت په بین المللي بازار کښې یو زر روپۍ وي نو تر دغه ځایه پورې په رسولو سره د هغه ټول اخراجات د لسو زرو روپیو څخه هم زیاتیږي نو آیا دلته دغه شی په دغه څو چنده اضافي اخراجاتو سره د هغه پلورل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تجارت په سامان باندې د راتلونکي اخراجاتو له اصل قیمت سره ضم کول مرخص دی په دې صورت کښې هغه اضافي اخراجات په اخیستل شوي مال باندې تقسیمول او د ګاهک څخه ئې په وصولولو باندې شرعا هیڅ حرج نشته۔ خو بیا هم که د شبه خیانت څخه د بچ کیدو لپاره د اخیستلو د قیمت ضرورت محسوس شي نو هغه اضافي اخراجات ګډول او د قیمت ښودل د دیانت خلاف دی البته که چیرته داوویل شي دغه شی ماته په دومره روپۍ لویدلی دی نو د دې ګنجائش موجود دی او دا جائز دي۔

لما قال العلامة علی بن ابی بكر المرغينانی رحمه الله: و يجوز ان يضيف الی رأس المال اجرة القصار و الطراز و الصبغ و الفتل و اجرة حمل الطعام و يقول قام علی بكذا و لا اشتريته بكذا كيلا يكون كاذبا. (الهداية ج۳، ص۷۳، باب المرابحة و التولية)

قال العلامة ابن نجيمؒ: و له انْ يضم الی رأس المال اجر القصار و الصبغ و الطراز و الفتل و حمل الطعام و سوق الغنم و يقول قام علی بكذا و لا يقول اشتريته لانه كذب. (البحر الرائق ج۶، ص۱۱۰، باب التولية و المرابحة) و مثله فی رد المحتار ج۵، ص۱۳۵، كتاب البيوع، باب المرابحة و التولية)

په بیع مرابحه کښې د خیانت له وجې بائع ته د مبیعې د بیرته ورکولو حکم

سوال: مشتري که چیرته په بائع باندې اعتبار وکړي او د دوو فیصدو ګټې ته تیار شي او په نتیجه کښې بائع د څلورو زرو روپو شی په پنځه زره روپو باندې په مشتري پلورلی وي او وروسته بیا مشتري په یوه ذریعه د بائع په دروغو باندې خبر شو یعنې معلومات ورته وشو چه دغه شی بائع د څلورو زرو څخه په کمو روپو باندې پیرلی دی نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا مشتري له بائع څخه اداکړل شوې زائدې روپۍ واپس اخیستلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په بیعه مرابحه کښې چه کله هم خیانت ثابت او ظاهر شي نو مشتري ته د بیع د فسخ کولو حق حاصل دی۔ او په هغه شوي بیعې کښې د پیسو د کمولو حق نه لري۔

له دې وجهې په نوموړي صورت کښې به مشتري یا هغه شی بائع ته ټول واپس کوي او خپلې ټولې روپۍ به اخلي او یا به هغه ټول قیمت ورکوي۔

لما قال علی بن ابی بكر المرغينانی رحمه الله: فان اطلع المشتری علی خيانة فی المرابحة فهو با لخيار عند ابی حنيفةؒ ان شاء اخذه بجميع الثمن و ان شاء تركه. (الهداية ج۳، ص۷۴، باب المرابحة و التولية)

قال العلامة الحصكفیؒ: فان ظهر خيانة فی مرابحة باقراره او برهان علی ذلك او بنكوله عن اليمين اخذه المشتری بكل ثمنه او رده. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۱۳۷، باب المرابحة و التولية) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۲۲۶، باب المرابحة و التولية)

سیل ټکس په قیمت خرید کښې د ګډولو حکم

سوال: حکومت له سوداګرو او وړوکي دوکاندارانو څخه د سیل ټکس په نامه باندې پیسې اخلي نو آیا د بائع لپاره په دغومره اندازه پیسې د مبیعې په قیمت خرید کښې ګډول او هغه بیا له مشتري څخه وصولول شرعا جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په موجوده وخت کښې د حکومت له خوا څخه لګول شوي ټکس او یا نور ټکسونه او مالیې چونکه د جائزو حدودو څخه وتلي دي او د ظلم او تعدی حدودو ته داخل شوي دي او په دې کښې د امیر او غریب تمیز او فرق هم نشته او د ټکس او مالیې شرح هم دومره زیات وي چه ورکوونکی د هغه له ورکولو څخه عاجزه دي نو په دې بناء سیلز ټکس یعنې مالیې بالکل هغه شی دی لکه په لارو کښې ئې چه د تاجرانو څخه ظلما او جبراً وصولوي۔ په نوموړي صورت کښې بایع ته د قیمت خرید د ښوولو په وخت کښې په هغه کښې د ټکس د اضافي پیسو په ضم کولو کښې د خیانت اړخ غالب وي۔ بیا هم که چیرته بایع مشتري ته د قیمت خرید د ښوولو نه بغیر د ټولو ټکسونو حساب وکړي او حساب ورته وکړي او بایع او مشتري په یوه قیمت باندې سره راضي شي نو څه حرج پکښې نشته۔

لما قـــــال العلامة علاؤ الدين الحصكفی رحمه الله: لا يضم اجر الطبيب.. و ما يؤخذ فی الطريق من الظلم الا اذا جرت العادة بضمه هذا هو الاصل كم علمت فليكن المعوّل عليه. (الدر المختار مع رد المحتار ج۵، ص۱۳۷، باب المرابحة و التولية)

قال العلامة ابن نجيم المصری رحمه الله: هی ای التولية بيع بثمن سابق و المرابحة بيع و بزيادة. (البحر الرائق ج۶، ص۱۰۷، باب المرابحة و التولية) و مثله فی الهندية (ج۳، ص۱۷۳، كتاب البيوع، باب المرابحة و التولية)

د ضلع ټکسونه (د ولسوالۍ مالیې)، د پلونو مالیې، محصولات او د اسې نورو اخراجاتو له اصل قیمت سره د ګډولو حکم

سوال: د ولسوالۍ مالیې (ضلع ټکسونه)، راهداري او د چونګي محصولات او د اسې نور اخراجات د مبیعې د اصل قیمت سره ګډول جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نن صبا د حکومت له خوا ځخه لګول شوي پورتني ذکر شوي ټکسونه ظالمانه او جابرانه صورت اختیار کړی دی د دې اضافي اخراجاتو د مبیعې د قیمت خرید سره ګډول یا نه ګډول د تجارو په عرف او عادت باندې بناء دي پس که چېرته د تجارو عرف او عادت د ګډولو وو نو بیا د اسې کول جائز دي او که نه وو نو د اضافي اخراجاتو په اصل قیمت کښې ګډول جائز نه دي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله: لا یضم اجر الطبیب....... و ما یؤخذ فی الطریق من الظلم الا اذا جرت العادة بضمه هذا هو الاصل کم علمت فلیکن المعوّل علیه. (الدر المختار مع رد المحتار ج۵، ص۱۳۷، باب المرابحة و التولیة)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: و الذی یآخذ فی الطریق من الظلم لا یضم الا فی موضع جرت العادة فیه بینهم با لضم. (البحر الرائق ج٦، ص ۱۱۰، باب المرابحة و التولیة) و مثله فی الهندیة (ج۳، ص۱۷۳، کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة)

په قسطونو باندې د شیانو د اخیستلو او پلورلو شرعي حیثیت

سوال: نن صبا ځینې تجارتي ادارې د عوامو د سهولت او آسانتیا لپاره د ورځني استعمال شیان په قسطونو پلوري لیکن د نقدو روپو د اداکولو پر خلاف هغه شی په قسط باندې مشتري ته په زیات قیمت ورکوي نو آیا د قسطونو په ذریعه د ځینې حکومتي ادارو ځخه او یا شخصي ادارو ځخه دغه ضروري شیان اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په موجوده زمانه کښې د قسطونو په ذریعه د ورځني ضروري شیانو د اخیستلو او پلورلو رواج عام شوی دی ځکه چه غریب او د متوسطې طبقې خلك د ګرانۍ په وجه د خپل ضرورت شیان په نقدو روپو سره د اخیستلو استطاعت نه لري لهذا دغه ضروري شیان او نور سامان مجبوراً په قسطونو باندې اخلي چه د هغه مطلب دا وي چه بائع په دغه وخت کښې خپل سامان د خریدار په طلب سره هغه ته حواله کوي او حال دا چه مشتري د هغه شي قیمت نقد نه اداکوي بلکه د فیصله شوي قسطونو په صورت کښې ئې ورکوي او په دې طریقې باندې د یوه شي په اخیستلو کښې زیات قیمت لګول کیږي۔ که چېرته مشتري دغه شی په نقدو باندې وغواړي نو د مقرره قیمت ځخه د بازار ځخه په کم قیمت باندې اخیستلی شي او حال دا چه په قسطونو کښې د پور په وجه سره په زیات قیمت اخلي۔

د بیعې په نوموړي ذکرشوي طریقې کښې یوائې یو جنجال معلومیږي چه د پور د اخیستلو په صورت کښې په زیات قیمت او د نقد اخیستلو په صورت کښې په کم قیمت باندې اخیستل کیږي۔ د ائمۀ اربعه وو، د جمهورو فقهاوو او محدثینو متفقه رأیه دا ده چه د ر د بیعې په مقابله کښې په نقدو باندې د بیعې کم قیمت لګول مرخص دی لیکن په دې ښې شرط دا دی چه عاقدین په یوه قیمت باندې سره متفق وي او د دې مطلب دا شو چه که

چېرته بائع دا ووایي چه دغه شی زه په پور په دومره او په نقدو ئې په دومره ورکوم او دواړه خواوې په یوه نرخ باندې د اتفاق نه بغیر جدا شي نو دا بیع ناجائزه ده البته که چېرته په دغه مجلس کښې په نقد او یا په پور باندې چېرته په یوه قیمت باندې د دواړو اتفاق راشي نو بیعه جائزه ده۔ دلته یو سوال پیدا کیږي چه که چېرته د نقدو او د پور په ځای د مختلفو وختونو په مقابله کښې مختلف قیمتونه مقرر کړی شي مثلا په نقد په ۱۰۰ روپۍ او په پور باندې په ۱۲۰ روپۍ او دغه پور به د یوې میاشتې لپاره وي او که چېرته پور د دوو میاشتو لپاره وي نو ۱۵۰ روپۍ او که چېرته پور د دریو میاشتو لپاره وي نو د دې نه به هم قیمت زیات شي۔ نو لکه ځنګه چه د نقد او پور په بنیاد باندې په قیمتونو کښې اختلاف جائز دی همدارنګه د وختونو د اختلاف په بناء باندې هم په قیمتونو کښې اختلاف جائز دی ځکه چه د بیع په دغو دواړو ډولونو کښې په ظاهره هیڅ فرق نه معلومیږي۔ البته دا خبره ضروري ده چه د عاقدینو په منځ کښې په عقد بیع کښې د مختلفو وختونو او مختلفو قیمتونو په منځ کښې چېرته د یوې مودې او یوه قیمت تعین ضروري دی او که چېرته ئې د اسې وویل چه که تر یوې میاشتې پورې پیسې راکوې بیا په دومره قیمت او که تر دوو میاشتو پورې پیسې راکوې بیا په دومره قیمت او که چېرته د دریو میاشتو پورې پیسې راکوې نو بیا په دومره قیمت که چېرته د تعین نه بغیر سره جدا شول نو د جهالت په وجه سره بیع ناجائزه ګرځي۔

قال الامام ترمذی رحمه الله: تحت هذا الحدیث نهی رسول الله ﷺ عن بیعتین فی بیعةٍ و قد فسر بعض اهل العلم قالوا بیعتین فی بیعة ان یقول ابیعك هذا الثوب بنقدٍ لعسرة و بنسینة بعشرین و لا یفارقه احد البیعین فان فارقه فلا باس به اذا کانت العقدة علی احد منهما. (الترمذی ج۱، ص۲۳۳، کتاب البیوع، باب ما جاء فی النهی عن بیعتین فی بیعة)

قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه الله: لان للاجل شبها با لمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهدایة ج۳، ص۷٦، باب المرابحة و التولیة، کتاب البیوع) و مثله فی البحر الرائق ج٦، ص۱۱٤، باب المرابحة و التولیة)

د پور له وجهې یو شی په زیات قیمت باندې پلورل

سوال: په ځینې وختونو کښې یو شی د نقدو روپو د ورکولو په صورت کښې په زیات قیمت باندې پیدا کیږي نو آیا د نقد او پور په صورت کښې په قیمت کښې کموالی یا زیاتوالی جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نقد او د پور په صورت کښې په قیمت کښې کموالی او زیاتوالی مرخص دی لیکن شرط دا ده چه د عقد په مجلس کښې مقدار او د قیمت د اداکولو وخت مقرر کړی شي۔

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه الله: لان للاجل شبها با لمبیع الا یرٰی انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهدایة ج۳، ص۷٦، کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله: لان للاجل الا ترٰی انه یزاد الثمن لاجل الاجل. (البحر الرائق ج٦،

ص۱۱٤، کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة) و مثله فی فتح القدیر (ج٦، ص۱۳۳، کتاب البیوع، باب المرابحة و التولیة)

په بیع مـــــرابحه کښې په دوکې سره په اخیستل شوي زیاتو روپو بـــــاندې د رجوع حکم

سوال: یوه سړي له چا څخه د شوتلې اخیستل غوښتل او هغه سړي د شوتلې د نرخ پوښتنه وکړه نو هغه ورته وویل چه ما ته بورۍ (بوجۍ) په ٤٥ روپۍ تمامه شوې ده او تا ته بوجۍ په ۵۰ روپۍ درکوم هغه مشتري یوه بوجۍ واخیسته او وروسته بیا هغه ته معلومه شوه چه په بازار کښې فی بوجۍ په ٤۸ روپۍ ده اوس د دې په باره کښې د شریعت څه حکم دی آیا هغه د بائع څخه هغه زیاتې روپۍ واپس اخیستلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی صورت د بیع مرابحه یو ډول دی په بیع مرابحه کښې کومه چه بیع د عاقدینو په منځ کښې فیصله شي نو هغه د هغه شي قیمت شو البته د غبن فاحش په صورت کښې مشتري ته دا اختیار وي چه دغه فیصله شوی قیمت قبول کړي او یائې رد کړي او له بائع څخه خپلې پیسې واپس واخلي د نقصان او صرف د زیاتوالي د واپسي مطالبه نه شي کولی۔

قال العلامة المرغینانیؒ: فان اطلع المشتری علی خیانة فی المرابحة فهو با لخیار. (الهدایة ج۳، ص۵۵، باب المرابحة و التولیة)

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: فان خان فی مرابحة اخذ بکل ثمنه. (کنز الدقائق علی هامش البحر الرائق ج۳، ص۱۱۰، تحت باب المرابحة) و مثله فی رد المحتار (ج٤، ص۱۷٤، باب المرابحة و التولیة)

مبیعه په زیات قیمت باندې د پلورلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء دین متین د دې مسئلې په باره کښې چه یو دوکاندار د یوې روپۍ شی په درې روپۍ باندې پلوري لیکن هغه قیمت خرید پټ ساتي او نه ئې ښکاره کوي نو آیا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله مطابق د اسې کول جائز او حلال خو دی لیکن د مروت (ځوانمردي) خلاف دی لهذا بهتره دا ده چه په مناسب قیمت ئې وپلوري د قیمت خرید د ښوولو نه بغیر د مبیعې په پلورلو کښې هیڅ قباحت نشته۔

قال العلامة الکاسانیؒ: و لو اشتری ثوبا بعشر دراهم رقمه اثنی عشر فباعه مرابحة علی الرقم بغیر بیان جاز اذا کان الرقم معلوما و الربح معلوما و لا یکون خیانة لانه صادق لکن لا یقول اشتریته لانه یکون کاذبا فیه. (بدائع الصنائع ج۵، ص۲۲۳، فی تحت بیان المرابحة)

قال العلامة المرغینانیؒ: المربحة نقل ما ملکه با لعقد الاول با لثمن الاول مع زیادة ربح و التولیة نقل ما ملکه با لعقد الاول با لثمن الاول من غیر زیادة ربح و البیعان جائزان. (الهدایة ج۳، ص٥٤، باب المرابحة و التولیة) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص۱۰۷، تحت باب المرابحة و التولیة)

په بیع مرابحه کښې د فیصدي له مخې د منافع تعین

سوال: که چېرته یوه سړي د بیع مرابحې په وخت کښې د اصل قیمت څخه زائد رقم د اخیستلو لپاره په فیصدي باندې حساب کوي۔ مثلا زید بکر ته وایي چه زه په دې مال کښې له تا څخه پنځه فیصده ګټه اخلم نو آیا د اسې عقد جائز دی او آیا دغه د سود په زمره کښې داخل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په عقد مرابحه کښې په دې قسم سره د منافع تعین اګر که نن صبا د سود د لین دین سره مشابه ده لیکن په حقیقت کښې دغه سود نه ده لهذا یوائې د مشابهت په وجه دا حرام نه شي ګرځیدلی ځکه د نوموړي صورت مطابق د منافع تعین د فیصدي په اعتبار سره جائز دی ځکه چه په دې عقد کښې د بیع مرابحې د ټولو لوازماتو پوره لحاظ شوی دی۔

وضــــــــاحت

نن صبا بلکه له ډیر وخت څخه په بازارونو کښې یو رواج جوړ شوی دی او روان دی چه سود اګر حضرات یو شی د نقدو روپو په مقابله کښې په کم قیمت پلوري او د پور په صورت کښې په زیات قیمت پلوري او اهل علم حضرات د هغه د شرعي حیثیت د وضاحت لپاره ډیر څه لیکلي دي او په راتلونکي کښې ئې هم لیکي۔ د دار العلوم حقانیې د ترجمان ماهنامه "الحق" کښې هم په دې موضوع باندې یو اورد بحث لیکلی دی۔ په دې بحث کښې مولانا طاسین صاحب د کراچۍ، مولانا قاضي عبد الکریم صاحب د کلاچۍ خپل نظرونه وړاندې کړي دی او حال دا چه د دار العلوم حقانیې نائب مفتي غلام الرحمٰن صاحب د دار العلوم موقف په دلائلو او براهینو سره وړاندې کړی دی او اوس د عامې افادې لپاره چه ټول خلک ورنه استفاده وکړي دغه سلسله بحث په فتاویٰ دار العلوم حقانیه کښې شاملوي۔

د مرتب لخوا

د پور په صورت کښې د یوه شي په زیات قیمت د پلورلو شرعي حیثیت

حضرت مولانا طاسین صاحب

په لاندیني مضمون او بحث کښې زما اصل مقصد د یوې خاصې مسئلې د شرعي حیثیت څخه بحث او تحقیق کول دي او هغه مسئله دا ده چه د پور په صورت کښې د یوه شي د اصل قیمت څخه په زائد قیمت باندې پلورل چه کوم قیمت د هغه شي په بازار کښې د نقد په صورت کښې رائج وي، مثلاً یو شی چه د هغه قیمت په عام ډول په بازار کښې د نقد په صورت کښې سل روپۍ ده همدغه شی د یوه کال په پور باندې په یو سل او پنځوسو روپو باندې پلورل۔ د دې مسئلې شرعي حیثیت څه دی؟ یعنې په دې کښې چه کوم د معاشۍ معامله ذکر ده د قرآن او د حدیثو په رڼا کښې دا جائزه معامله ده او که ناجائزه؟ په دې تحقیق کښې اصل مقصود د دې تعینول دي او دا ځکه چه متعدد اشخاص له ما څخه د دغې مسئلې پوښتنه کړې ده او له دې سره سره چه دا یوه اهمه او ژوندۍ مسئله ده نو د اثراتو او معروضی له لحاظه ډیره اهمه او ضروري مسئله ده۔

د بحث په شروع کښې دا عرض کول ضروري دي چه په حقیقت کښې د یوې مسئلې او معاملې په اړه شرعي حکم یوازې هغه کیدی شي چه د هغه تفصیلي او یا اجمالي ثبوت په قرآن او حدیث کښې موجود وي ځکه چه د اسلامي شریعت حقیقي مأخذ او سرچشمه یوازې قرآن او حدیث دی لهذا اصلاً د دې بحث دائره به هم تر دغو پورې محدوده وي او د صحابۀ کرامو تعامل په اصل کښې په کتاب او سنت باندې مبني ده لهذا د یوې مسئلې او معاملې د شرعي حیثیت د متعین کولو لپاره د هغه کتل او له هغې څخه فائده اخیستل هم ضروري دي۔ د محدثین کرامو په نزد چه د حدیث کوم وسیع مفهوم دی په هغه کښې د صحابه وو آثار هم شامل دی۔ مطلب دا چه د یوې مسئلې د شرعي جواز او عدم جواز په اړه یوازې دومره کافي نه ده چه د فقهې او فتاوی په فلاني کتاب کښې فلاني فقیه هغه جائز ګرځولی دی او نورو ناجائز ګرځولی دی بلکه له هغه سره سره د قرآن او حدیث هغه نص هم ضروري دی چه د هغه په بناء سره فقیه د اسې ویلي دي او یا ئې د اسې لیکلي دي او دا ځکه هم چه د هغه سره د قرآن او حدیث څه دلیل موجود وي ځکه چه د پاکستان د دستور د ننه یوازې قرآن او حدیث د اسلامي احکامو مأخذ تسلیم کړل شوي دي (لیکن په عمل کښې نه)۔

په اصل مسئلې باندې د بحث څخه مخکښې دا واضح کول ضروري بولم چه تر کومه ځایه پورې په پور باندې د یوه شي د اخیستلو او پلورلو تعلق دی نو دا د قرآن او حدیث له مخې په قطعي توګه جائز دی د دې په ثبوت کښې د قرآن مجید آیت مداینه او د رسول اللهﷺ د هغو احادیثو وړاندې کول ضروري دي چه په هغو کښې پخپله رسول اللهﷺ له نورو څخه په پور باندې د ضرورت د شیانو د اخیستلو واضح بیان، او دا هم چه کله ئې د ادا کولو په وخت

کښې ده مبارکﷺ په احسنې طریقې سره هغه خپل پورونه ادا کول، په قرآن او حدیث کښې د قرض حسنه په اړه چه کوم تعلیم دی له هغه څخه په صریح ډول سره د هغه پور جواز ثابتیږي چه په هغه باندې څه شی اضافه نه وي یو حاجتمند ته په پور باندې د هغه د ضرورت یو شی ورکړي نو دا هم د قرض حسنه په تعریف کښې راځي کوم چه د لوی اجر او ثواب نیك عمل دی په ځینې احادیثو کښې ئې په صدقې سره تعبیر کړی دی کوم چه نه یوازې جائز بلکه مستحب او مستحسن عمل دی۔

او همدارنګه د بیع مرابحې هغه شکل هم په قطعي ډول سره جائز دی چه په هغه کښې د هغه پلورل شوی شی اصل قیمت صحیح وښودل شي او په هغه باندې ئې د نفع مقدار هم یوازې دومره تعین کړی وي چه د سود اګرو په نزد او په بازار کښې رائج وي او یا د هغه څخه هم کم وي، مثلاً که چېرته په بازار کښې په عامه توګه د نفع مقدار لس فیصده رائج وي او په بیع مرابحه باندې پلورونکی په هغه پلورل شوي شي باندې یوازې لس فیصده واخلي نو د هغه په جواز کښې هم هیڅ شك او شبهه نشته، یا په بل الفاظ په بازار کښې د عام نرخ مطابق د یو شي قیمت سل روپی دی او د مرابحت په شکل کښې هغه شی بیا په یو سل و لس روپی دی او یا رعایت وکړ او هغه شی ئې په یو سل او پنځه روپی ورکړ نو د بیع برابحې دا صورت هم جائز دی او په شرعي ډول باندې دغه معامله قطعا درسته ده ځکه چه په دې کښې د معاملې د حقیقي فریقینو رضامندي موجوده ده او دا ځکه موجوده وي چه په دې کښې د هر فریق لپاره هغه شی د هغه د رضاء مطابق هغه ته معاوضه پیدا کیږي کوم چه د قلبي رضامندي خارجي او معروضي معیار دی په خلاف د مرابحت د داسې شکل څخه چه په هغه کښې پلورونکی د اخیستونکي له مجبورۍ څخه په فائده اخیستلو سره خپل شی د بازار په مقابله کښې په زیاته نفع باندې پلوري مثلاً داګوري چه دا سړی خو د نقدې روپۍ نه شي ادا کولی بلکه د څه وخت لپاره ئې په پور باندې وړي لهذا د پور په وجه سره د لس فیصدو په ځای شل یا دیرش فیصده ګټه لګوي په دې صورت کښې اګر که په ظاهره خو د مشتري رضا او رغبت موجود وي لیکن په حقیقي ډول سره موجوده نه وي ځکه چه هغه ګوري چه کوم شی د پور په وجه سره هغه په یو سل او پنځوس روپۍ اخلي نو هغه شی په بازار کښې د نقدو په صورت کښې په سل روپۍ اخیستلی شي او دا چه پلورونکی یعنې دوهم فریق د هغه له مجبورۍ څخه په ګټه اخیستلو سره پنځوس روپۍ زیاتوي لهذا هغه سړی هغه شی د ضرورت په بناء اخلي لیکن په زړه کښې خوښ نه وي ځکه چه د هغه لپاره د هغو پنځوسو روپو د اضافي په مقابله کښې مالي معاوضه موجوده نه وي لهذا د مرابحې دا شکل د حقیقت په لحاظ سره درست نه وي بلکه د باطلې معاملې تر تعریف لاندې راځي۔ د دې مزید تفصیل مخکښې راځي۔

زه اوس خپلې اصلي مسئلې ته راځم یعنې هغه دا چه د پور په صورت کښې یو شی د

نقدو په مقابله کښې په زیات قیمت باند پلورل جائز دي او که نه؟

تر کومه ځایه چه د جواز تعلق لري د انتهائي تلاش او پلټنې سره سره ما ته قرآن کریم، احادیث نبي کریمﷺ او د صحابه رضی الله عنهم په اقوالو کښې څه داسې دلیل پیدا نه شو چه له هغو څخه د معاملې مذکور جواز معلوم او ثابت شوي وای۔ البته د عدم جواز په اړه په قرآن او حدیث او آثار صحابه کښې واضح او قطعي دلائل موجود دي۔ د ربوٰا د حراموالي په اړه چه کوم آیتونه او حدیثونه او د صحابه وو رضی الله عنهم آثار دي د هغو له مخې د بحث لاندې مسئلې په قطعي ډول سره ناجائز والی ثابتیږي او هغه داسې چه قرآن کریم په عهد جاهلي کښې چه د کوم متعارفې ربوٰا په قطعي ډول سره حرام او ممنوع ګرځولی دی د هغو له څو شکلونو څخه یو شکل دا هم وو چه یوه سړي په بل باندې یو شی په پور باندې پلوره او د پور د مودې په لحاظ سره د هغه شي په قیمت کښې به ئې زیاتوالی کاوه د مثال په ډول د یو شي قیمت په بازار کښې سل روپۍ وو نو د یوه کال په پور باندې ئې په یو نیم سل روپو پلوره۔ بیا که چېرته مشتري د یو کال څخه وروسته هم هغه روپۍ نه شوای ادا کولی نو د پور غوښتونکي به هغه ته وویل چه زه د قرض په مودې کښې دومره زیاتوالی کوم نو ته پخپلې ذمې د پیسې مقدار دومره اضافه کړه او بیا د قرض هغه روپۍ د مزید یو کال د مودې په بدل کښې دوه سوه روپۍ کیدې او بل که چېرته بیائې په هغه دوهمې معینې مودې کښې هم پور نه شو ادا کولی نو د مزید مهلت په عوض کښې به د قرض په رقم کښې نور هم زیاتوالی راته۔ او په دې طریقې سره دا روپۍ زیاتیدلې او د اصل روپو څو چنده کیدې۔ یعنې اضعافا مضاعفه جوړیدې او همدا حال د نقدو د قرض هم وو۔ لکه یوه سړي بل سړي ته سل درهمه د یوه کال لپاره پور ورکاوه نو د هغې مودې په لحاظ سره په هغه کښې زیاتوالی راته چه په دې منځ کښې د هرې میاشتې او کال نه وروسته په یو ځای واجب الاداء کیده لکه څرنګه چه په موجوده بینکاري نظام کښې دي۔ غرض دا چه قرآن حکیم د ربوٰا النسیه چه کوم مروج شکلونه ئې حرام ګرځولي دي په هغو کښې یو شکل دا هم دی چه په پور باندې یو شی د نقدو په مقابله کښې په زیات قیمت باندې وپلورل شي چه اظهار ئې د لاندیني روایاتو څخه کیږي کوم چه مفسرینو کرامو د تحریم ربوٰا د آیت په تفسیر کښې رانقل کړی دی۔

﴿۱﴾ عن زید بن اسلم رضی الله عنه قال کان الربٰوا الذی آذن الله فیه با لحرب لمن لم یترکه عند الجاهلیة یکون للرجل علی رجل حق الی اجل فاذا حل الاجل قال صاحب الحق اتقضی ام تربی فان قضاه اخذ منه و الا طواه. (جامع الاصول ج ۱، ص ۴۷۹، رقم حدیث ۴۰۴، باب الربٰوا الفرع الثالث فی احادیث المتفرقة)

”د حضرت زید ابن اسلم رضی الله عنه نه روایت دی: چه وئې فرمایل هغه سود کوم چه د هغه د نه پرېښودونکي لپاره الله تعالی د جنګ اعلان کړی دی د جاهلیت په زمانې کښې د هغه شکل او صورت داسې وو چه د یوه سړي په بل سړي باندې د یوې خاصې مودې لپاره

حق یعنې قرض او دین وو نو کله چه هغه مقرره موده به راتله نو د حق خاوند یعنې د پور غوښتونکی به خپل مقروض ته ووېل چه ادا کوې ئې او که د مزیدې مودې لپاره یعنې د نور مهلت په عوض کښې د قرض په مال کښې زیاتوالی کوې که چېرته هغه ادا کولو نه اخیستل به ئې او معامله به ئې ختمه کړه او که نه وو نو بیا به ئې هر ځل پکښې زیاتوالی کاوه“۔

﴿۲﴾ عن مجاهد رضی الله عنه قال فی ربٰوا الذی نهی الله عنه کان فی انجاهلیة یکون للرجل علی الرجل دَین فیقول لك كذا و کذا و تؤخر عنی فیؤخر عنه. (تفسیر الطبری ج۳، ص۱۰۱، سورة البقرة، آیت ۲۷۵)

”حضرت مجاهد وفرمایل چه هغه سود کوم چه الله تعالی له هغه څخه منع فرمایلې ده د هغه شکل به داسې وو چه د یوه سړي به په بل سړي باندې واجب الاداء دین یعنې قرض وو نو کله چه به د هغه د ادا کولو مقرر وخت پوره کیده نو مقروض خپل د قرض غوښتونکي ته ووېل چه مهلت زیات کړه او مطالبه وځنډوه د دې په بدله کښې به ستا لپاره دومره دومره زیاتوالی وي چنانچه هغه به معامله وځنډوله او مهلت به ئې زیات کړ او سلسله به همدا رنګه جاري وه“۔

﴿۳﴾ عن سعید بن جبیر رضی الله عنه قال ان الرجل کان یکون له علی الرجل المال فاذا حل الاجل طلبه من صاحبه فیقول المطلوب آخر عنی و ازیدك فی مالك فیفعلان ذٰلك. (تفسیر الدر المنثور ج۱، ص۶٤٥، سورة البقرة، آیت۲۷۵)

”حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه د جاهلیت د زمانې د سود په بیانولو سره وفرمایل چه ”هغه داسې وو چه د یوه سړي به په بل سړي باندې د قرض په ډول سره مال وو نو بیا چه کله د پور هغه ټاکلې موده پوره کیده نو د پور خاوند به له خپل مقروض څخه خپل مال وغوښت بیا که چېرته مقروض هغه ادا کولی نه شوی نو بیا به ئې ورته ووېل چه ما ته نور مهلت راکړی او زه د هغه په عوض کښې په مال کښې ستا لپاره زیاتوالی کوم چنانچه هغوی په خپل منځ کښې داسې کول او دا سلسله به همداسې جاري وه“۔

﴿٤﴾ عن قتادة رضی الله عنه قال ان ربٰوا الجاهلیة یبیع الرجل المبیع الی اجل مسمی فاذا حل الاجل و لم یکن عند صاحبه قضاء زاده و اخر عنه. (تفسیر الطبری ج۳، ص۱۰۱، سورة البقرة، آیت ۲۷۵)

”له حضرت قتاده رضی الله عنه څخه روایت دی چه هغه وفرمایل چه د جاهلیت د زمانې د سود یو شکل دا وو چه یوه سړي خپل یو شی د خاص وخت لپاره په پور باندې پلوره بیا چه کله هغه خاص وخت راغی او له مقروض سره به د ادا کولو انتظام نه وو نو مال ئې زیاتولو او نور مهلت به ئې ورکاوه“۔

﴿٥﴾ عن عطاء ابن ابی رباح رضی الله عنه قال کانت ثقیف تدائن فی بنی المغیرة فی الجاهلیة فاذا حل الاجل قالوا نزیدکم و تؤخرون. (تفسیر الدر المنثور ج۲، ص۱۲۸، سورة آل عمران، آیت ۱۳۰)

”حضرت عطاء بن ابي رباحؒ فرمایي چه د جاهلیت په زمانه کښې بنو ثقیف، بنو مغیره ته قرض ورکاوه نو کله چه د ادا کولو وخت به ئې راغی نو بنو مغیره، بنو ثقیف ته ووېل چه

مونږ ستاسو مال زیاتوو او تاسو مونږ ته نور مهلت راکړی“۔

له دې پورتنیو روایتونو څخه صفا معلومېږي چه د جاهلیت د زمانې سود چه بل نوم ئې ربٰوا النسیه دی د قرض داسې معامله وه چه په هغه کښې مهلت او د قرض د مال په عوض کښې به په قرض کښې زیاتوالی کیده که هغه قرض به د نقدو په صورت کښې او که به د یوه شي د قیمت په صورت کښې، او دا چه قرآن حکیم حرام او ممنوع ګرځولی دی او د دې خیال نفي او تردید ئې کړی دی چه قرض ورکوونکی د قرض د مهلت په عوض کښې له مقروض څخه د قرض په اصل مال کښې زائد مال پیدا کیدی شي۔

دلته دا خبره مفیده او مناسبه ګڼم چه د اکابرو مفسرینو کرامو عبارات وړاندې کړم کوم چه هغوی د ربٰوا جاهلي په تفسیر کښې لیکلي دي تر څو چه حقیقت حال په ښه توګه واضح شي۔ چنانچه امام ابو بکر الجصاص پخپل جلیل القدر فقهي تفسیر کښې لیکلي دي۔

و الربٰوا الذی کانت العرب تعرفه و تفعله انما کان قرض الدراهم و الدنانیر الی اجل بزیادة علی مقدار ما استقرضه علی ما یتراضون به هذا کان المتعارف المشهور عندهم. (احکام القرآن ج۱، ص۵۵۲، باب الربٰوا)

”هغه سود کوم چه اهل عربو پیژندل او پرې پوهیدل او کول به ئې د هغه حقیقت له دې نه علاوه بل څه نه وو چه ”هغوی به تر یوې مقررې مودې پورې د درهم او دینارو د قرض معامله کوله چه په هغې کښې به داسې فیصله کیدله چه د قرض په اصل مال باندې به څه زایدې روپۍ ضرور اخیستل او ورکول کیدې او د سود دا معامله د عربو په نزد متعارف او مشهور وو“۔

له دې نه مخکښې یو بل عبارت داسې ده۔

و لم یکن تعاملهم با لربٰوا الا علی الوجه الذی ذکرنا من قرض دراهم و دنانیر الی اجل مع شرط الزیادة. (احکام القرآن ج۱، ص۵۵۲، باب الربٰوا)

”په عربو کښې چه په کوم سود باندې عمل وو د هغه شکل دا وو چه هغه مونږ مخکښې ذکر کړو یعنې د یوې خاصې مودې پورې د درهمو او دینارو قرض چه له هغه سره به د زیاتوالي شرط وو“۔

بیا له دوو صفحو نه وروسته یو دریم عبارت داسې ده۔

انه معلوم ان الربٰوا الجاهلیة انما کان قرضا مؤجلا بزیادة مشروطة فکانت الزیادة بدلا من الاجل فابطله الله و حرمه و قال و ان تبتم فلکم رؤوس اموالکم لا تظلمون و لا تظلمون. (احکام القرآن ج۱، ص٥٥٤، باب الربٰوا من ابواب الربٰوا الذی تضمت الآیة تحریمة)

”دا یوه معلومه خبره ده چه د جاهلیت د زمانې سود د دې نه علاوه بل څه نه وو چه د زیاتوالي له شرط سره د میعادي قرض معامله وه او په هغې کښې د پور په اصل مال چه کوم زیاتوالی کیده هغه به د مهلت او مودې بدل ګڼل کیده۔ پس هغه الله تعالی باطل وګرځاوه او

وئي فرمایل چه که چېرته تاسو له هغه څخه توبه کوی او بیا ئې نه کوی نو بیا ستاسو لپاره یو اځې ستاسو هغه اصل مال دی کوم چه تاسو د قرض په ډول سره ورکړی دی۔ نه تاسو له هغو څخه زائدې پیسې واخلی ترڅو په هغو باندې ظلم وکړی او نه دې هغوی ستاسو اصل مالونه وګرځوي او په تاسو ظلم وکړي“۔

په دریم عبارت کښې کومه خبره چه په عام ډول سره د لحاظ وړ ده هغه دا چه د قرض په اصل مال باندې کوم زیاتوالی به چه مشروط کیدلې هغه د اجل یعنې د قرض د مودې او عوض ګڼل کیده۔

دوهم مفسر امام فخر الدین رازي صاحب پخپل عظیم المرتبت تفسیر په مفاتیح الغیب کښې کوم چه د تفسیر کبیر په نامه سره مشهور دی د ربوٰا په تفسیر کښې داسې لیکلي۔

اما الربٰوا النسیئة فهو الامر الذی کان مشهورا متعارفا فی الجاهلیة و ذٰلك انهم کانوا یدفعون المال علی ان یأخذوا کل شهر قدرا معینا و یکون رأس المال باقیا، ثم اذا حل الدَّین طالبوا المدیون برأس المال فان تعذر علیه الاداء زادوا فی الحق و الاجل فهذا هو الربٰوا الذین کانوا فی الجاهلیة یتعاملون. (تفسیر الکبیر ج۷، ص۹۱، سورة البقرة)

”البته ربوٰا النسیه کوم چه د جاهلیت په عهد کښې مشهور او متعارف وو عملا د هغه صورت داسې وو چه ځینې خلکو نورو ته د قرض په ډول سره روپۍ یا مال په دې شرط ورکاوه چه هغه به هره میاشت له خپل مقروض څخه په خاصې اندازې کښې څه مال د سود په ډول اخیست او د قرض هغه اصلي مال به پخپل حال باقي پاتې وو او بیا چه کله د اداکولو هغه مقرره موده راتله نو هغه به د مقروض څخه خپل د اصل مال غوښتنه کوله نو بیا به که چېرته هغه اداکولی نه شوی نو د خپل حق او قرض په مودې کښې به ئې زیاتوالی راووست۔ پس دا هغه سود وو چه خلکو د جاهلیت په دور کښې د هغه لین دین او کاروبار کولو“۔

په همدې تفسیر کښې د سود په اړه یو بل عبارت داسې دی۔

کان الرجل فی الجاهلیة اذا کان له علی انسان مائة درهم الی الاجل فاذا جاء الاجل و لم یکن المدیون واجدا لذٰلك قال زدنی فی المال حتی ازید فی الاجل فربما جعله مائتین. (تفسیر الکبیر ج۹، ص۲، سورة آل عمران، آیت ۱۳۰)

”د جاهلیت په دور کښې د یوه سړي به چه په بل باندې د یوې خاصې مودې لپاره سل درهمه قرض وو بیا چه کله هغه وخت پوره کیده او له مقروض سره به د پور د اداکولو لپاره مال نه وو نو هغه به وویل چه ته زما په حق کښې زیاتوالی وکړه ترڅو چه زه هغه نیته کښې زیاتوالی وکړم۔ پس ډېر وخت به هغو سلو درهمو څخه دوه سوه درهمه جوړیدل“۔

په نوموړي عباراتو کښې د دې تصریح شوی دی چه د جاهلیت د زمانې سود کوم چه قرآن کریم په قطعي توګه حرام ښوولي دي په هغه ښې چه کوم مرکزي تصور وو هغه دا وو چه مقرض یعنې پور ورکوونکی د قرض د وخت په بدله او عوض کښې په اصل مال باندې د څ

زیاتوالي حقدار ګرځي او قرآن کریم دغه سود حرام وګرځولو او دائې وفرمایل چه کوم چه مقرض د خپل اصل مال څخه زیاتی اخلي نو دا د هغه حق نه دی بلکه د مقرض حق دی۔ د ذکر شوي تصور نفی ئې کړی دی او ګواکه داسې ئې فرمائلی دی چه اجل او د قرض موده داسې شیان نه دي چه د مال بدل جوړیدی شي چه د هغه بدل او معاوضه ورکول کیدی او اخیستل کیدی شي۔

تر دې پورې چه د ربوٰا الجاهلي او ربوٰا النسیه حقیقت او ماهیت او د هغه شرعي حیثیت په اړه څه په تفصیل سره کوم شی چه لیکلی شوی دی او عرض کړی شوی دی د هغه په رڼا کښې کله چه مونږ د بحث لاندې معاملې تحقیقي جائزه اخلو نو صفا معلومیږي چه دا معامله د خپل حقیقت، شکل، منشأ، مقصد او د خپلو لازمي اثراتو په لحاظ سره د ربوٰا النسیه غوندې معامله ده او همدارنګه هغه داسې چه په هغه کښې یو شی چه د هغه قیمت په بازار کښې د نقدو په بدل کښې په عامه توګه په سل روپۍ وي او د یو کال په پور باندې هغه په یو سل او پنځوس روپۍ شي نو په دې کښې چه کومې هغه پنځوس روپۍ زیاتی دي هغه په اصل کښې د یوه کال د مودې او مهلت معاوضه ده او همدارنګه په ربوٰا النسیه کښې د مقروض څخه د قرض په اصل مال باندې اخیستونکی زائد مال بلا عوض ګرځي او د مقروض حق تلفي په کښې کیږي۔ د پلورونکي له خوا څخه د اخیستونکي لپاره هیڅ بدل او معاوضه موجوده نه وي لهذا پلورونکی چه کوم زائد مال اخلي هغه د اخیستونکي حق اخلي او د هغه حق تلفي کوي او لکه څرنګه چه په ربوٰا النسیه کښې د پور ورکوونکي مقصد بغیر د دماغي محنت او جسماني محنت او مشقت او تکلیف څخه او بې له نقصان برداشت کولو څخه د خپلې سرمایې د زیاتوالي مقصد وي۔ همدارنګه د بحث لاندې د بیع المؤجل په معامله کښې د پلورونکي ګټه او د خپلې سرمایې زیاتوالی مقصد وي بیا لکه څرنګه چه د ربوٰا النسیه په معاشره کښې د عدم توازن او په غیر عادي او فطري ښکته والی او پورته والی پیدا کیږي۔ او هغه ملکیت د دولت د څو اغنیاؤ او دولت مندو خلکو لاسونو ته ورځي او نور ټول ورنه محروم پاتې کیږي او همدارنګه د بحث لاندې معاملې کښې په عام رواج سره په معاشرې کښې هغه رنګ په ژوند کښې د ابترې حالت پیدا کیږي۔ غرض دا چه هغه تمام اخلاقي، معاشري او معاشي خرابۍ کومې چه د ربوٰا النسیئه په وجه سره اسلام ربوٰا النسیئه حرام او ممنوع ګرځولی دی۔ او هغه ټول د بحث لاندې مسئلې یعنې د بیع مؤجل له معاملې څخه هم ضرور ښکارندوی دی۔ لهذا د قیاس د اصولو تقاضا دا ده چه په کار دا دی چه په دې معاملې کښې دې هم هغه شرعي حکم وي کوم چه د ربٰوا النسیئه د معاملې شرعي حکم دی یعنې حرام دې وي۔ ځکه چه په بنیادي توګه د هغه په منځ کښې هیڅ فرق نشته یو اځې لفظي فرق دی کوم چه په عقودو او معلاملاتو کښې شرعا هیڅ لحاظ او اعتبار نه لري۔ ”الاعتبار فی العقود للمقاصد و

المعانی لا للالفاظ و الالمبا" مسلمه قاعدهٔ کلیه ده۔

يَا يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ الآية. (سورة النساء آیت ۲۹)

"ای هغه خلکو چه تاسو ایمان راوړی دی تاسو پخپل منځ کښې د یو بل مالونه په ناحقه طریقه مه خوری مګر دا چه هغه داسې تجارت وي چه په هغه کښې د دواړو خواوو حقیقي رضاء او رغبت وي"۔

د دې آیت کریمه دوه حصې دي په اوله حصه کښې ئې په باطلې طریقې سره د یو او بل د مالونو د خوړلو ممانعت دی او د "اِلَّا" حرف استثناء نه وروسته په بله حصه کښې د تجارت په داسې طریقې سره د یو او بل د مال د اخیستلو اجازه شته چه په هغې کښې د هر فریق حقیقي او رښتونې رضاء او رغبت موجود وي۔ په اوله حصه کښې چه کوم لفظ د "باطل" دی هغه د حق ضد دی په دې وجه د هغه ترجمه دا کیږي چه "ناحق" ځینې مفسرینو کرامو د باطل په تفسیر کښې د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما او د حضرت حسن بصريؒ دا قول وړاندې کړی دی۔

الباطل هو کل ما یؤخذ من الانسان بغیر عوض. (تفسیر الکبیر ج۱، ص ۷۰، سورة النساء، آیت ۳۰)

"د هر هغه مال اخیستل باطل دي چه له یوه انسان څخه بې له عوضه واخیستل شي"۔

علامه رشید الرضاء د باطل په تفسیر کښې لیکي:

اما الباطل ما لم یکن فی مقابلة شیء حقیقي. (تفسیر المنار)

"باطل هغه دی چه د یوه حقیقي شي په بدل او عوض کښې نه وي"۔

یعنې د هغه په مقابله کښې حقیقي شی نه وي۔ لهذا د ذکر شوي آیت د اولې حصې مطلب دا شو چه ای مسلمانانو چه تاسو د یوه او بل مال پخپل منځ کښې بې له عوض څخه مه اخلی یعنې د معاوضې په معاملاتو کښې د یو او بل مال بې له داسې عوض نه مه اخلی کوم چه په مالیت او په قدر او قیمت کښې د هغه برابر نه وي۔ ځکه چه د یو مال صحیح بدل او عوض یواځې هغه وي کوم چه په قدر او قیمت کښې د دغه مال برابر وي۔ بناء پر دې د آیت کریمه د اولې حصې له مخې هر هغه معاشي معامله باطل او ممنوع ګرځي چه په هغې کښې د یوه فریق لپاره د هغه مال بیخي عوض موجود نه وي۔ یا خو عوض وي لیکن د قدر او قیمت په لحاظ سره د هغه مال مساوي نه وي۔ د آیت کریمه په دوهمې حصې کښې د معاوضې ئې یواځې دا معامله له باطل والي څخه مستثنٰی او جائزه ښوولې ده چه په هغه کښې د هر فریق لپاره د هغه شي بدل موجود وي۔ لهذا د فریقینو حقیقي رضاء موجوده وي چونکه تجارت یعنې د بیع او شراء معامله همداسې ده۔ په دې کښې بائع ته د خپل شي د عوض ثمن او د قیمت په شکل کښې او مشتري ته د خپل شي په عوض د مبیعې په شکل کښې ورته پیدا کیږي۔ البته کله داسې هم کیږي چه بائع د مشتري له مجبورۍ څخه په فائدې اخیستلو سره خپل شی د هغه له قیمت څخه په زیات قیمت باندې ورکوي کوم چه په عامه توګه په بازار کښې

د هغه شي قیمت وي۔ او یا کله مشتري د بائع له مجبورۍ څخه په فائدې اخیستلو سره هغه شي د بازار له قیمت څخه په کم قیمت باندې اخلي کوم چه په بازار کښې په عامه توګه پلورل کیږي۔ لهذا د بیع او شراء په دې صورت کښې ظاهره ده چه د یوه فریق حقیقي رضاء نه وي موجوده له دې وجهې چه د هغه د شي لپاره پوره او صحیح عوض او بدل موجود نه وي۔ نو ځکه د بیع او شراء داسې معامله چه د یوه فریق د رضاء د نه موجود والي په وجه سره ناجائز او ممنوع ګرځي۔ کومه رضاء چه ظاهري وي او د ژبې سره تعلق لري هغه د سود په معامله کښې هم موجود وي لیکن له هغه سره سره بیا هم سود حرام او ممنوع دی۔ بلکه په حقیقت کښې د رضاء خارجي او معروضي معیار د هر فریق لپاره د هغه شي د صحیح عوض او بدل موجود والی وي که هغه موجود وي نو دا مطلب شو چه رضاء موجوده ده۔ او که عوض او بدل موجود نه وي نو مطلب دا شو چه رضاء نه ده موجوده۔ د پورته ذکرشوي آیتونو په تفسیر کښې دا یادونه شوې ده۔ که چېرې د هغو په رڼا کښې د بحث لاندې معامله په غور سره وکتل شي نو دا د باطلې معاملې مصداق معلومیږي۔ ځکه چه په دې کښې خرڅوونکی د پور په وجه سره د خپل د سلو روپو شی چه په یو سل او پنځوس روپو باندې خرڅوي او پنځوس روپۍ زیاتې اخلي د هغو هیڅ عوض د ده له خوا څخه د خریدار لپاره موجود نه وي۔ لهذا دغه بې له عوض نه د بل چا مال اخلي کوم چه آیت شریف په باطل سره تعبیر کړی دی او ممنوع ئې ګرځولی دی۔ همدارنګه د بیع او شراء دغه معامله داسې معلومیږي چه په هغې کښې د یوې ډلې لپاره د هغه شي عوض د نه موجودوالي په وجه د هغه رضا موجوده نه وي ښکاره خبره ده چه په هغه کښې د خریدار لپاره د پورتنیو مثالونو مطابق د پنځوسو روپو عوض موجود نه وي۔ کوم چه د قرض په وجه سره هغه پلورونکی ئې له خریدار څخه اخلي نو له دې وجهې د هغه حقیقي رضاء هم موجوده نه وي۔ له همدې وجهې او له همدې اړخه دا معامله ناجائزه او ممنوع ګرځي۔

د بحث لاندې معاملې د شرعي حیثیت په اړه تر کومه ځایه چه په نبوي احادیثو پوره اړه لري نو د ډېرو احادیثو له مخې هم د دغې معاملې ناجائز والی او حراموالی ثابتیږي۔ هغه ډېر حدیثونه چه په هغو کښې د سود څخه په سختۍ سره مذمت او ممانعت دی د اوږدوالي نه د بچ کیدو په خاطر هغه دلته نه نقل کوم۔ او همدارنګه د بیع عینیه د ممانعت په اړوند چه کوم احادیث دي د هغو څخه هم د دې معاملې د عدم جواز مفهوم مستنبط کیږي البته دلته د هغه حدیث ذکر ضروري دی چه په هغه کښې د ربٰوا النسیئه حقیقت بیان شوی دی۔ چه د حدیثو په ځینې کتابونو کښې په دې الفاظو سره موجود دی۔

عن علی رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ کل قرض جر منفعة فهو ربا. (بلوغ المرام (مترجم) ص ۱۷۳، حدیث ۸۸۲)

"له حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي چه هر هغه قرض چه د جاري منفعت سبب وګرځي هغه سود دی"۔

مطلب دا چه کوم قرض چه د قرض ورکوونکي لپاره د قرض اخیستونکي له طرف څخه د مالي منفعت سبب وګرځي هغه ربوٰا ده۔ د دې حدیث په اړه ویل شوي دي چه دغه حدیث اګر که د سند په لحاظ سره ضعیف دی لیکن د دې حدیث د مضمون تائید د صحابۂ کرامو په اکثرو او متعددو آثارو سره شوی دی۔ له دې وجهې د تل لپاره د اعتماد قابل ګرځیدلی دی او فقهاء کرام پرې استدلال کوي۔ د صحابۂ کرامو هغه آثار چه د هغو په وجه دا حدیث قوي ګرځي په سنن الکبریٰ للبیهقي، اعلاء السنن او د اسې نورو کتابونو کښې مذکور دي۔ له دغو آثارو څخه واضح معلومیږي چه صحابۂ کرامو دا جائزه نه ګڼله چه مقرض د قرض په وجه د خپل مقروض څخه څه مادي فائده لاس ته راوړي۔ اګر که ډېر معمولي شی دې ولې نه وي۔ د اختصار په غرض سره هغه آثار دلته نه را نقلوم او که څوك غواړي چه وئې ګوري په ذکر شوي کتابونو کښې ئې کتلی شي۔ مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله د ربوٰ په موضوع باندې پخپلې رسالې "کشف الدجی" کښې هغه آثار په یو ځای سره جمع کړي دي۔ چه په امداد الفتاویٰ کښې هم شامل شوی دی۔

په هر حال د دې حدیث له مخې د بحث لاندې مسئله ناجائزه ګرځول شوې ده۔ دا یو واضح حقیقت دی چه کوم سړی د سلو روپو شی په پور باندې په یو نیم سل روپو پلوري دغه کومې پنځوس روپۍ چه زیاتې اخلي د دې مطلب نه علاوه نور څه کیدی شي کوم چه له قرض څخه د فائدې اخیستل او منفعت حاصلول دي۔ او که چېرته قرض نه وی نو د نقدو په صورت کښې هغه ته هم هغه شی په سلو روپو ملاویږي۔ او بیا کله چه دغه معامله د ذکر شوي حدیث مطابق د ربوٰا په تعریف کښې راځي نو کوم حکم (حراموالی او ناجائزوالی) چه د شریعت له مخې د ربوٰا یا سود دی هغه حکم د دې معاملې هم دی۔

تر دې ځایه پورې چه کوم شی ولیکل شو د هغو په بناء باندې په پوره یقین سره دا ویل کیدای شي چه د بحث لاندې مسئله د قرآن او حدیث په رڼا کښې حرامه او ناجائزه ده د دې نه وروسته دا واضح کول هم ضروري دي چه د هندوستان ځینې علماء کرامو پخپلو کتابونو کښې د فتویٰ په ډول سره لیکلي دي چه دغه ذکر شوې معامله د شریعت له مخې جائزه ده او هیڅ حرج پکښې نشته چه په پور باندې یو شی د نقدو په مقابله کښې په زیات قیمت باندې وپلورل شي۔ چنانچه د دغې فتویٰ په بناء د بلا سود بینکاري لپاره د سود متبادل کوم معاملات چه تجویز شوي دي په هغو کښې یوه معامله دا هم ده۔ ګوا که بینك ته دا اجازه ورکړ شوې ده چه د دغه بینك څخه که څوك د مشین او نورو شیانو قرضه وغواړي نو هغه دې په سود باندې د نقدو روپو ورکولو په ځای دې ورته ووایي چه زه ستا مطلوب شی اخلم او تا ته ئې د یوه کال په پور باندې درکوم او د پور په وجه د مرابحې په نامه د هغه دومره قیمت مقرر وي کوم چه د بازار له مروجه قیمت څخه زیات وي۔ مثلا دا وایي چه دا شی کوم چه ما ته په سلو روپو باندې

لویدلی دی د پنځوسو روپو په ګټه باندې ئې په تا پلورم او ته یو سل او پنځوس روپۍ د یو کال نه وروسته راکړه۔ مطلب دا چه د اسې معامله د بینکونو لپاره جائز ګرځول شوې ده کومه چه په حقیقت د خپل مقصد، اثراتو او نتائجو په لحاظ سره د ربوٰا غوندې معامله ده۔ اګر که هغه ئې په بیع مرابحه او بیع مؤجل باندې تعبیر کړې ده۔ د اسې لکه څرنګه چه ما په اول کښې عرض وکړ چه بیع مرابحه هم په هغه وخت کښې شرعا جائزه ده چه د هغې د ربحې او نفعې مقدار د بازار د عام عرف او رواج څخه مخالف نه بلکه موافق وي۔ او همدغه بیع مؤجل هم شرعا چه هغه وخت کښې جائز دی کله چه د پلورلو د هغه شی قیمت په پور هم دومره وي څومره قیمت چه ئې په نقدو باندې دی۔

زه اوس دا عرض کول غواړم چه کوم حضرات علماء کرام چه د بحث لاندې معامله شرعا جائزه بولي د هغوی دلائل څه دي۔ چه د هغو په وجه سره په پور باندې د یوه شي په زیات قیمت باندې پلورل جائز او درست ګڼي۔ لیکن په دې باره کښې نه زه په هغو حضراتو کښې د چا نوم اخلم او نه د هغو د کتابو نومونه لیکم چه په هغو کښې چا د اسې لیکلي دي۔ بلکه یواځې هغه دلائل ذکر کوم چه هغه حضرات ئې د خپل موقف د ثبوت لپاره وړاندې کړي دي او فیصله اهل علم حضراتو ته پریږدم کوم چه د استدلال او استنباط په مختلفو طریقو باندې ښه علم لري، د صحیح او غلط استدلال په منځ کښې تمیز کولی شي او په فیصله کولو کښې له انصاف او حقیقت څخه کار اخلي۔

لوستونکي حضرات چه کله دا ولولي نو حیران او متعجب به شي چه کوم اهل علم حضرات د بحث لاندې معاملې د جواز قائل دي هغوی ئې په ثبوت کښې نه د قرآن مجید کوم آیت وړاندې کوي، نه د رسول الله ﷺ کوم حدیث او نه د صحابه رضی الله عنهم له آثارو څخه یو اثر او نه د ائمه مجتهدینو کوم اجتهادي قول او نه په مسلمه فقهي قواعدو کښې کومه قاعده وړاندې کوي بلکه د دې په ثبوت کښې د دلیل په ډول سره د فقه حنفي د دوو مشهور کتابونو د مبسوط او هدائې د اسې عبارات وړاندې کوي چه له هغو څخه هیڅکله هم دا مطلب نه راوځي چه په پور باندې یو شی د نقدو په مقابله کښې په زیات قیمت باندې اخیستل او پلورل د اسلامي شریعت له مخې جائز وي۔ زه د هغو عباراتو د وړاندې کولو نه مخکښې چه په کوم عبارت سره هغو حضراتو استدلال فرمایلی دی د هغه سیاق و سباق بیانول ضروري بولم کوم چه په هغو کښې ذکر شوی دی چه د واقعې حقیقت په آسانۍ سره معلوم شي۔

په کوم سیاق و سباق کښې چه هغه واقعه واقع ده د هغه څه نا څه تفصیل دا دی چه د فقه حنفي په پورته دوو ذکر شوو کتابونو کښې چه چېرته د بیع مرابحې بحث دی په هغه کښې د بیع مرابحې فقهي تعریف او د هغه د صحت شرائط او د هغې مختلف شکلونه او د هغې

متعلق د شرعي احکامو بيان دی۔ د بيع مرابحې تعريف چه په کومو الفاظو سره بيان شوی دی په پښتو ژبې کښې د هغې مطلب د اسې بيانيدلی شي چه "بيعه مرابحه د اخيستلو او پلورلو د اسې معامله ده چه په هغې کښې يو سړی د ا ووايي چه خپل يو شی په بل باندې پلوري چه د ا شی ما په دومره باندې اخيستی دی او يا ما ته په دومره لويدلی دی او په دومره ګټه ئې پلورم او هغه بل سړی په هغه باندې اعتماد او بروسه وکړي او هغه شی ورنه واخلي ګواکه په هغه کښې څه شی د هغه په قيمت خريد باندې په متعينې ګټې باندې پلورل کيږي او اخيستل کيږي او چونکه په دې بيعه کښې ربښتونولي، ديانت داري او صداقت بنيادي حيثيت لري لهذا د غې ته بيع الامانت هم وايي او د دغې بيعې د صحت او تکميل لپاره ضروري دي چه په دې کښې نه يوائې دا چه دروغ به نه وايي، خيانت به نه کوي بلکه د دروغو او خيانت شبهه به هم پکښې نه وي۔ چنانچه همدا وجه ده چه د معاملې د فيصله کولو نه وروسته که چېرته د دروغو او خيانت شبهه ښکاره شي نو خريدار ته د هغه شي د رد او قبول اختيار وي يعنې که وغواړي چه بيعه برقراره وساتي او که وغواړي چه بيعه ختمه کړي په دواړو کښې اختيار ورکړ شوی دی۔

د بيع مرابحې هغه شکلونه چه په هغو کښې د دروغو او خيانت د شبهې په بناء سره خريدار ته د معاملې د فيصله کولو نه وروسته چه د رد او قبول خيار وي په هغو کښې يو شکل کوم چه امام محمد شيباني رحمه اللّٰه پخپل کتاب "جامع الصغير" کښې ذکر کړی دی د اسې دی۔

من اشترىٰ غلاما بالف درهم نسيئة فباعه بربح مائة درهم و لم يبيّن فعلم المشترى فان شاء رده و ان شاء قبل. (جامع الصغرى ص۳۴۸، باب فى المرابحة و التولية)

"يوه سړي يو غلام په زر درهم باندې په پور واخيست او بيا ئې په سل درهمه نفعې باندې ئې وپلوره او اخيستونکي ته ئې دا و نه ويل چه ما دا غلام په پور باندې په يو زر درهم اخيستی دی نو د معاملې د فيصلې نه وروسته که چېرته اخيستونکي ته معلومه شي نو په د اسې صورت کښې اخيستونکي ته د رد او قبول د دواړو اختيار شته"۔

په جامع الصغير کښې امام محمد الشيباني رحمه اللّٰه د ذکر شوي عبارت نه وروسته د دې هيڅ توجيه نه ده فرمايلې چه په دې صورت کښې خريدار ته د معاملې د رد اختيار ولې حاصل دی؟ په عقلي دليل باندې د دې څه وجه ده؟ ليکن د وروسته ځينو حنفي فقهاء کرامو د ذکر شوي جزئې د نقل کولو نه وروسته د دې توجيه هم ليکلې ده۔ شمس الائمه السرخسي پخپل کتاب "المبسوط" کښې د د دې په اړه چه کوم ليکل کړي دي هغه په لاندې ډول دي۔

قال رحمه اللّٰه و اذا اشترىٰ شيئا نسيئة فليس له ان يبيعه مرابحة حتىٰ يتبين انه اشتراه نسيئة لان بيع المرابحة بيع الامانة تنفى عنه كل تهمة و جناية و يتحرز فيه من كل كذب و فى معاريض الكلام شبهة فلا يجوز استعمالها فى بيع المرابحة. ثم الانسان فى العادة يشترى الشىء با لنسيئة باكثر مما يشترى با لنقد. (المبسوط ج۱۳، ص۷۸، باب المرابحة والتولية)

د دې عبارت هغه برخه چه د دې بحث مقصود دی دا دی چه:

ثم الانسان فى العادة يشترى الشىء با لنسيئة باكثر مما يشترى با لنقد.

"بيا د انسان عادت دی چه شی په پور باندې د هغه له قيمت څخه په زيات قيمت باندې اخلي کوم چه په نقدو وي"۔

مطلب دا چه په پور باندې اخيستل شوی شی چه کله د مرابحې په ډول سره وپلورل شي نو د امانت داري او صداقت تقاضا دا ده چه پلورونکی اخيستونکي ته په واضحه توګه دا ووايي چه دا شی ما په پور په دومره باندې اخيستی دی۔ او په دومره ګټه ئې پلورم او دا ښودل ځکه ضروري دي چه هغه ضرورت مند او مجبور انسان کله چه يو شی په پور باندې اخلي نو عادتاً ئې د نقدو په مقابله کښې په پور باندې په زيات قيمت اخلي لهذا کيدی شي چه دغه شی هم هغه د خپلې مجبورۍ او غريبۍ په وجه په زيات قيمت اخيستی وي کوم چه په بازاو کښې د نقدو په صورت کښې په دې قيمت نه وي۔ او اوس ئې هغه نقدو په صورت کښې پلوري او د پور په صورت کښې ئې نه پلوري۔ نو له دې وجهې په هغه باندې لازم دي چه اخيستونکي له دې حقيقت څخه خبر کړي۔ لهذا د خبرولو نه وروسته هم که چېرته مشتري دا شی په مطلوبه قيمت باندې اخلي نو بيا مشتري ته د معاملې د فيصلې نه وروسته د فسخ کولو اختيار نه پاتې کيږي۔ په خلاف د هغه صورت نه کوم چه خريدار له هغه څخه نه خبروي ځکه چه په دې صورت کښې خريدار دغه معامله فسخ کولی شي۔

د المبسوط په ذکر شوي عبارت کښې چه د کوم انسان او د هغه د عادت ذکر دی واضح دی چه هغه د اسې کيد ای شي چه يو شي ته مجبور وي او د غريبي په وجه ئې په نقدو باندې نه شي اخيستلی او هغه شی د نقدو په ډول په قرض حسنه باندې هم نه شي پيدا کولی نو د اسې انسان د خپل حاجت د پوره کولو لپاره مجبوريږي چه هغه د پور ورکوونکي د مرضي مطابق هغه شی په زيات قيمت باندې واخلي۔ او د عادت د لفظ مطلب هم همدغه دی نه دا چه لازماً او دائماً دې د اسې وي۔ ځکه چه د اسې هم کيدی شي چه د قرض حسنه په اسلامي تعليم باندې د عمل کوونکي او د ربوا د هر شکل څخه د بچ کيدونکي او اجتناب کوونکي مسلمان چه کله يو مجبور انسان ته د هغه د ضرورت او د حاجت شی په پور باندې ورکوي نو په هغه قيمت باندې ئې ورکوي کوم چه د نقدو په صورت کښې ئې په بازار کښې ورکوي او رائج وي او د پور په وجه ئې په زيات قيمت نه ورکوي۔

په هر حال په دې کښې هيڅ شک نشته چه په مسلمانانو کښې د اسې خلک هم وي چه د مادي نفع نه بغير چا ته پور نه ورکوي او پخپلو معاشي معاملاتو کښې د اسلامي اصولو احکاماتو او د حلالو او حرامو خيال نه ساتي۔ نو ځکه د د اسې خلکو چال چلن او طرز عمل د اسلامي شريعت له مخې جائز او درست نه وي۔

د شمس الائمه السرخسي په ذکر شوي عبارت کښې یو لفظ هم د اسې نشته چه په دې باندې دلالت وکړي چه د هغوی په نزد د خلکو دغه ذکر شوی عادت شرعا جائز او درست عادت دی۔ پاتې شو د اسوال چه بیا دوی ناجائز ولې نه دی لیکلی؟ د دې جواب دا دی چه دلته د هغو مقصد د دغه عادت د جواز او عدم جواز نه دی بلکه د دوی اصل مقصد د بیع مرابحې د یو خاص شکل متعلق د امام محمد صاحبؒ د ذکر شوي قول توجیه کول دي کوم چه د ذکر شوي عادت د ناجائز والي په شکل کښې هم راځي۔

د مبسوط د ذکر شوي عبارت نه وروسته زه اوس د صاحب هدایې علامه المرغینانيؒ هغه عبارت نقل کوم چه له هغه څخه د بحث لاندې معاملې د جواز لپاره استدلال نیول شوی دی۔

قال من اشترٰی غلاما بالف درهم نسیئة فباعه بربح مائة و لم یبین، فعلم المشتری فان شاء رده و ان شاء قبل لان للاجل شبها با لمبیع الا یری انه یزداد فی الثمن لاجل الاجل و الشبهه فی هذا ملحقة با لحقیقة فصار کانه اشترٰی شیئین و باع احدهما مرابحة بثمنها. (هدایة ج۳، ص۵۷ و ۵۸، باب المرابحة و التولیة)

”امام محمد وفرمایل: چا چه د یو زر درهمو په بدل او عوض کښې یو غلام په پور باندې اخیستی وي او بیا ئې د مرابحې په ډول سره د یو سلو درهمو په منافع باندې وپلوري او اخیستونکي ته و نه ښایي چه دا ما په پور باندې اخیستی دی او وروسته اخیستونکي ته معلوم شو۔ نو که چېرته هغه وغواړي رد کولی ئې هم شي او که وغواړي قبلولی ئې هم شي ځکه چه اجل یعنې د قرض مهلت او مدت د پلورلو د شي سره مشابهت لري آیا دا نه وینی چه د اجل په وجه سره په قرضو کښې زیاتوالی کیږي۔ او چونکه د مرابحت په باب کښې د مبیع شبهه د مبیع له حقیقت سره ملحق کړل شوی دی۔ لهذا مطلب دا شو چه ګوا که پلورونکي په کوم قیمت چه دوه شیان اخیستي وو یعنې غلام او اجل (مهلت) په هغه قیمت باندې ئې یو شی یعنې غلام وپلوره“۔

په دې عبارت کښې د بحث مقصود د هغه دا حصه ده چه په هغې کښې صاحب د هدایې د امام محمدؒ د نوموړي قول توجیه وړاندې کړې ده۔ یعنې د مرابحې په نوموړي شکل کښې د فیصله کولو نه وروسته خرید ار ته د معاملې د فسخ کولو د جواز اختیار حاصل وي۔ په عقلي دلیل سره د هغه څه وجه ده؟ د هغه وجه د صاحب هدایې په نزد د مرابحې په دې شکل کښې د شبه خیانت موجودیدل دي۔ له دې څخه د بیع مرابحې پاکول په کار دي۔ ځکه چه بیع مرابحه بیع الامانت دی۔ او د شبه خیانت چه کوم وضاحت هغوی فرمایلی دی هغه دا چه کوم شخص په پور کوم شی اخلي د هغه متعلق ګوا که یقین نه وي۔ لیکن دا شبه ضرور کیدلی شي چه هغوی چه په کوم قیمت هغه شی اخیستی دی هغه قیمت یوازې د هغه شي نه وي بلکه چه د پور کوم اجل او مهلت دی د هغه هم وي۔ ځکه چه څه ناڅه د اسې خلك هم وي کوم چه د

پور د مهلت او د مدت په وجه سره د پلورونکي شي قیمت زیاتووي۔ لهذا په پور باندې د اخیستونکي هر شی په اړه دا شبهه ضرور موجوده وي چه د هغه کوم قیمت چه دی یوازې د هغه شي قیمت نه وي بلکه له هغه سره د اجل، مهلت او د پور هم وي۔ بناء په دې صورت کوم سړی چه د نقدو په صورت کښې هم د هغه شي هغه قیمت حاصلوي او وصولوي کوم چه د پور په صورت کښې د هغه قیمت وي نو ګوا که د هغو دوو شیانو قیمت په یوه شي باندې وصولوي ځکه چه د نقدو په صورت کښې اجل نه وي یوازې شی وي له دې وجهې هغه د یو ډول خیانت مرتکب جوړیږي کوم چه د مرابحې په معاملې کښې عیب ګڼل کیږي۔ او چونکه په مبیعې کښې د عیب د ظاهریدو په صورت کښې خرید ار ته د رد او د قبول اختیار وي۔ لهذا د بیع مرابحې په دې شکل کښې هم خرید ار ته د رد او قبول اختیار حاصل دی۔

د دې توجیه په ضمن کښې علامه المرغینانيؒ د خپلې دا خبرې په تائید کښې چه اجل د مبیعې سره څه نا څه مشابه دی و ئې فرمایل چه:

الا یرٰی انه یزداد فی الثمن لاجل الاجل.

”آیا دا نه ګوری چه د اجل یعنې د پور د مودې په وجه سره د شي قیمت زیاتوي“۔

له دې نه ځینو اهل علم حضراتو دا مطلب را ایستلی دی چه د پور د شي قیمت د نقدو په مقابله کښې زیاتول د اسلامي شریعت له مخې جائز دی۔ او حالانکه د ذکر شوي عبارت مطلب با لکل دا نه راوځي۔ په دې عبارت کښې چه کومه خبره شوې ده د واقعې په لحاظ سره با لکل صحیح دی۔ ځکه چه څه نا څه خلك د اسې کوي۔ یعنې د پور د شي قیمت زیاتوي لیکن د هغوی د اسې کول د قرآن او حدیث له مخې جائز وي او که ناجائز؟ د ذکر شوي عبارت د یوه لفظ څخه هم د دې اظهار نه کیږي ځکه چه د صاحب هدایې مقصد یوازې دلته د دې بیانول دي چه اجل د مبیعې سره څه مشابهت او یا د اجل د مبیع والي شبهه پکښې شته ځکه چه ځینې خلك د اجل په وجه سره په قیمت کښې زیاتوالی کوي په دې ځای کښې د هغه مقصد د هغه د جواز او عدم جواز څخه بحث کول نه او دا ئې نه دي ښوولي چه د اسې کول شرعا جائز دي او که ناجائز؟ همدا وجه ده چه د هدایې شارحینو هم په دې باره کښې څه نه دي لیکلي۔ فتح القدیر، بنایه، غایه، کفایه او نورو کښې وګوری هیچا دا نه دي لیکلي چه د اجل په وجه سره دې د شي په ثمن کښې اضافه کول جائز دي۔ او همدا رنګه د ناجائز د نه لیکلو وجه هم دا ده چه په دې ځای کښې مقصد د جواز او د عدم جواز څخه بحث کول نه دي۔ همدا رنګه چه کومه معامله په بدیهي ډول ناجائز وي د هغه د ناجائز د لیکلو ضرورت څه شی دی۔ په هر حال د یوې معاملې د جواز او نه جواز اصل معیار قرآن او حدیث دی او د هغو اصول او احکام دي۔ لکه څرنګه چه کومه معامله چه د قرآن او حدیثو مطابقه وي هغه جائزه او کوم شی چه د قرآن او حدیثو مطابق نه وي بلکه خلاف ئې وي هغه ناجائز ګرځي۔ د خلکو د کول او نه کول د جواز او

عدم جواز هیڅ معیار نه دی ورنه شریعت همد اسې تش کالبوت پاتې کیږي۔

برسیره پر دې که چېرته د غه ذکر شوي عبارت "یزداد فی الثمن لاجل الاجل" څخه مفهوم دا وي چه د پور اجل (مهلت) د یو ثمن او قیمت عوض او بدل جوړیدی شي نو د درې لیکو نه وروسته پخپله صاحب د هدایې په واضحو الفاظو سره د دې نفی کړې ده او فرمایلي ئې دي چه "و ان استهلکه ثم علم لزمه بالف و مائة لان الاجل لا یقابله شیء من الثمن" (او که چېرته په ذکر شوي مثال کښې د اخیستونکي د اخیستلو نه وروسته غلام هلاك شي او یا ئې وپلوري او بیا هغه ته معلوم شو چه هغه یو غلام په یو زر درهم باندې په پور اخیستی وو او په یو سل درهم منافع سره ئې په ما باندې پلورلی دی نو بیا له پلورونکي څخه هیڅ شی واپس نه شي اخیستلی او هغه ته دا نه شي ویلی چه ما کوم یوولس سوه درهم تا ته درکړي وو کوم چه په هغه کښې د اجل عوض وو ما ته واپس راکړه ځکه چه اجل یو د اسې شی دی چه د هغه په مقابله کښې هیڅ ثمن نه وي)۔ "لان الاجل لا یقابله شیء من الثمن" له دې څخه صفا معلومیږي چه د پور د اجل او مودې په مقابله کښې د هیڅ مال ورکول او اخیستل جائز نه دي او چونکه زمونږ د بحث لاندې معامله کښې د پور په صورت کښې د نقدو په مقابله کوم زیات قیمت چه لګول کیږي هغه د اجل او د پور د مودې په وجه وي له دې وجهې د هدایې د دوهم عبارت څخه برعکس د دغې معاملې ناجائزوالی معلومیږي۔

خلاصه: دا چه د المبسوط او هدایې د کومو عبارتونو څخه چه د بحث لاندې مسئلې د جواز لپاره چه کوم استدلال شوی دی نو که چېرته لږ د غور او فکر څخه کار واخیستل شي نو دا استدلال بې روحه معلومیږ او له دې عباراتو څخه هیڅ ډول جواز د دې معاملې نه راوځي۔ او حال دا چه د دغو په مقابلې کښې د عدم جواز دلایل د قرآن او حدیث سره تعلق لري چه ډېر مضبوط او مستحکم دلایل دي۔ کوم چه په تفصیل سره مخکښې تیر شو۔ او زه امید لرم چه کوم اهل علم حضرات د بحث لاندې معاملې د جواز قائل دي هغوی دې دا مسئله له سر نه وګوري، غور او فکر دې وکړي او په پوره توجه او احتیاط سره دې د دغې مسئلې د شرعي حیثیت تعین وکړي۔

جواب له طرفه

د حضرت العلامه مولانا قاضي عبد الکریم صاحب مد ظله کلاچي

استفتاء: بخدمت استاد محترم حضرت مولانا قاضي عبد الکریم صاحب مد ظله۔

السلام علیکم و رحمه الله و برکاته

عرض دا دی چه په ماهنامه الحق اکوړه ختك کښې د رجب د میاشتې په ۱۴۱۲؁ هجري چه له دسمبر ۱۹۹۱ء؁ سره سمون خوري د حضرت مولانا طاسین صاحب یو مضمون راغلی وو چه په هغه کښې دوی د بیع نسیئه او نقد کښې د قیمت فرق ناجائز ګرځولی دی او تر حرامه پورې ئې د هغې تعبیر کړی دی او حال دا چه زمونږ اکابرینو (مشرانو علماوو) هغه جائز ګرځولې ده۔ لکه څرنګه چه حضرت تهانوي صاحب رحمه الله تعالی په فتاوی امدادیه کښې، حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله تعالی په امداد المفتین کښې، حضرت مولانا رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی په احسن الفتاوی کښې او مفتي هند حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب دهلوي رحمه الله تعالی په کفایت المفتي کښې دا بیعه جائزه ګرځولې ده۔ تاسو له صحیح صورت حال څخه مونږ خبر کړی چه د غو دوو فتوٰی ګانو کښې تعارض دی او که نه؟ او که چېرته وي نو مونږ کومه یوه فتوٰی صحیح وبولو او د پوښتنې کوونکو ته څه ځواب ورکړو؟ او که چېرته اجازه وي ستاسو ځواب د تطبیق یا ترجیح میاشتنی "الحق" ته ولیږم۔ له ظاهره خو د اسې معلومیږي چه "الحق هم د مولانا طاسین صاحب د رائې تایید کوي۔ ځکه چه هغه بلا نکیر شائع کړی دی۔

حافظ عبد القیوم حقاني خطیب جامع مسجد لوهاران کلاچي

۲۸ رجب، ۱۴۱۲؁ هجري

الجواب باسم ملهم الصواب: د دواړو فتوا ګانو تر منځ تعارض ښکاره دی۔ د اکابرو علماوو کوم چه په سوال کښې ذکر شول د فتوٰی د غلط پوهیدو څه خاصه وجه نشته۔ د حضرت مولانا طاسین مضمون په "الحق" کښې نیمګړی دی او په میثاق کښې غالبا پوره دی۔ او ما ته چا د هغه د مضمون عکس (فوتو کاپي) هم لیږلې ده۔ مولانا صاحب پخپل مضمون کښې دوه خبرې فرمایلي دي او زه غواړم چه په هغو باندې مختصر عرض وکړم۔

اوله خبره دا چه د جواز ورکوونکو سره دلیل یوازې د المبسوط او الهدایې دا عبارت دی چه "الا ترٰی انه یزداد الثمن لاجل الاجل" دی فرمایي چه د دې دا مطلب نه دی چه دا معامله جائزه هم ده هغوی د مرابحې په بحث کښې یوازې د خلکو د عادت ذکر کړی دی او د جواز خبره ئې نه ده کړې۔ او دوهمه دا چه د هغو کسانو سره چه څوك ئې جائز ګڼي د قرآن او حدیث دلیل خو نه بلکه د مجتهد قول هم نشته۔ نو د دغه ناکاره د ناتمامې مطالعې مطابق د حضرت مولانا

صاحب دواړه خبرې صحيح نه دي۔ د ده دا وينا چه علامه سرخسي يوائې د خلكو دعادت ذكر كړى دى او هغه ئې جائز نه دى ګرځولى د دې لپاره كتونكو ته د علامه سرخسي رحمه الله د مبسوط ج۱۳، ص۸ ملاحظه كول پكار دي عبارت دا دى۔

و اذا عقد العقد على انه الى اجل كذا بكذا و بالنقد بكذا او قال الى شهر بكذا و الى شهرين بكذا و هو فاسد لانه لم يعامله على ثمن معلوم و نهى النبى ﷺ عن شرطين فى بيع و هذا هو تفسير الشرطين فى بيع.

”كله چه عقد داسې وكړي چه په اجل باندې دومره قيمت دى او په نقدو باندې په دومره دى او كه اجل يوه مياشت وي نو په دومره دى او كه دوه مياشتې وي نو بيا په دومره دى نو دا عقد به فاسد وي او فاسد به ځكه وي چه په معاملې كښې ثمن معلوم نه شو په تردد كښې پاتې شو او فاسد والى ئې په دې وجه دى چه حضور ﷺ په بيع كښې د شرطونو څخه منع فرمايلې ده او د دوو شرطونو په بيع كښې همدا معنى ده (يعنې په ثمن يا په مبيعه كښې تردد)“

تاسو وليدل چه په دې صورت كښې د فساد وجه علامه سرخسي رحمه الله تردد فى الثمن بيان كړى دى چه د بيعې د اصولو هم خلاف دى او د نص صريح څخه هم خلاف دى۔ علامه سرخسي رحمه الله دا نه دي فرمايلي چه دا صورت چونكه په ربٰوا النسيئه كښې راځي نو ځكه دا عقد فاسد دى په دې باندې مو كه اطمينان نه وي نو د علامه سرخسي د دغه عبارت سره متصل دا صريح عبارت هم مطالعه كړى۔ دى فرمايي:

و هذا اذا افترقا على هذا فان كان يتراضيان بينهما و لم يتفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم و اتمّا العقد فهو جائز لانهما ما فترقا الا بعد تمام شرط صحة العقد.

”او د دې صورت فساد په هغه وخت كښې دى چه كله بائع او مشتري په دغه متردد حالت كښې له يوه او بل څخه جلا شي ليكن كه چېرته هغه دواړه راضي شول او د جلاوالي نه مخكښې مخكښې ئې ثمن سره معلوم كړل او عقد ئې اتمام ته ورساوه (يعنې يو صورت ئې د اجل يا د نقدو متعين كړل) نو بيا دغه عقد جائز دى ځكه چه اوس بائع او مشتري د عقد د صحت شرط پوره كړل او پخپل منځ كښې سره جدا شول“۔

نو په داسې صورت كښې نه خو د بيع د عامو اصولو خلاف ورزي كيږي ځكه چه نه ثمن مجهول دى او نه مبيع او نه د حضرت محمد ﷺ خلاف ورزي وشوه ځكه چه د شرطين في البيع معنىٰ علامه سرخسي رحمه الله دا بيان كړې ده چه په ثمن وغيره كښې دا تردد وي يا دغه يا هغه لكه څرنګه چه هغوى وفرمايل ”و هذا هو الشرطين فى البيع“ او تاسې پخپله وفرمايل چه د مولانا صاحب په دغه تأويل كښې څومره روح دى چه علامه سرخسي رحمه الله د خلكو د عادت ذكر كړى دى چه د جواز فتوىٰ ئې وركړې ده۔

دوهمه خبره دا چه د مجوزينو حضراتو سره د مجتهد قول هم نشته۔ (له دې څخه په هر حال دومره معلومات خو كيږي چه د حضرت مولانا په نزد د غير مجتهد لپاره (لكه څرنګه

چه مونږ تول يو) د مجتهد قول هم دليل شرعي دى) نو د دې لپاره د كتاب الاصل المعروف با لمبسوط ج۵، ص۹۱ مطالعه كړى۔ دا دې واضح وي چه د كتاب په لوح باندې دا عبارت درج دى او په دې كښې غالبا د چا اختلاف هم نشته۔

كتاب الاصل المعروف با لمبسوط

للامام الحافظ المجتهد الربانى ابى عبد الله محمد بن الحسن الشيبانى رحمه الله تعالى

و اذا باع الرجل بيعا فقال هو با لنسيئة بكذا و با لنقد بكذا كذا او قال الى اجل كذا بكذا. و كذا فا فترقا على هذا فانه لا يجوز بلغنا عن رسول الله ﷺ انه نهى عن شرطين فى بيع قال محمدؒ حدثنا بذلك ابو حنيفةؒ رفعه الى النبى ﷺ

”يعنې كله چه څوك داسې بيعه وكړي چه په پور باندې په دومره دى او په نقدو باندې په دومره دى او يا د يوې مياشتې په مهلت باندې په دومره دى او د دوو مياشتو په پور باندې په دومره دى او بيا د تردد په حالت كښې بائع او مشتري له يوه او بل څخه جلا شي نو دا بيع ناجائزه ده ځكه چه حضور ﷺ په يوې بيعې كښې له دوو شرطونو څخه منع فرمايلې ده۔ يعنې د ثمن او نورو شيانو تردد لكه اجل، مهلت او داسې نور۔ لكه څرنګه چه په شرح سرخسي كښې مخكښې تير شول“۔

د كتاب الاصل دا عبارت ځكه نقل شو تر څو چه كتونكو ته دا معلومه شي چه تر بحث لاندې مسئلې ته د جائز ويونكو سره د يوه مجتهد قول شته او كه نه؟ او پاتې شو هغه ډېر دلائل او عبارتونه كوم چه ده پخپل مضمون كښې تحرير فرمايلي دي نو د هغو تفصيل ته د تلو نه بغير دومره عرض دى چه د مولانا په خيال كښې د بحث لاندې صورت په ربٰوا النسيئه كښې داخل دى او د مجوزينو په نزد چه په هغو كښې د صاحب هدايې او د صاحب مبسوط پخپله مجتهد رباني امام محمد شيباني هم شامل دي دا صورت په ربٰوا النسيئه كښې داخل نه دى۔ او كه نه نو د هغه د عدم جواز صورت به ئې تر تردد پورې محدود كړي نه واى۔ او د تعين صورت په نقدو يا په نسيئه باندې به ئې د جواز فتوىٰ نه وركولى او صفا او واضح به ئې فرمايلي واى چه دا صورت د ربٰوا النسيئه دى نو ځكه حرام دى۔

حقيقت دا دى چه اجل يو وصف دى او د وصف عوض نه اخيستل كيږي او نه ئې عوض وركول كيږي ليكن د وصفِ مرغوب په وجه سره قيمت زياتيدلى شي او د غير مرغوب وصف په وجه سره قيمت كميدلى شي۔ وګورى چه حضور ﷺ عام اصول بيان كړي دي چه ”جيدها و رديها سواء“ يعنې چه د جيد او د ردي مقابله هم وي نو برابر او مساوي به ئې اخلى او د جودت په عوض كښې به نه زيات شى وركولى شى او نه ئې اخيستلى شى۔ د ښې خرما د يوې كيلو په عوض كښې د ردي (بيكاره) خرما د دوو كيلو د اخيستلو نه ئې منع فرمايلې ده۔ ځكه چه د دغه سير په مقابله كښې ئې سېر راغى او دوهم سير د جودت (ښه والي) په عوض كښې اخيستل كيږي كوم چه حرام او ناجائز دي۔ ليكن پخپله ئې د حيلې صورت وښوده چه ردي

خرما په کم قیمت وپلوري او بیا ښه خرما په زیات قیمت واخلي نو آیا د ښې خرما د قیمت زیاتوالی د وصفِ مرغوب په وجه سره نه راغی؟ د دغه عقلي او فطري خبرې انکار آخر څوك کولی شي چه د مرغوب شي قیمت به د نامرغوب شي په مقابله کښې زیات وي. د دې باوجود هم دغه صورت جائز نه دی چه د یوې کیلو ښې خرما په بدله کښې د ردي خرما یوه کیلو خو د کیلو په مقابلې کښې وي او دوهمه کیلو دې د هغې بلې خرما د جودت (ښه والی) په مقابله کښې وي. او همدارنګه دا هم ناجائز دي چه د هغه ښې خرما د یوې کیلو په عوض کښې د ردي خرما د یوې کیلو سره یوه روپۍ هم ورکړي ځکه چه په دې صورت کښې دغه روپۍ یا دغه یوه کیلو د بل کیلو د وصف عوض ثابتیږي. او د وصف عوض اخیستل جائز نه دي. او حالانکه ښه خرما له عامې خرما څخه په نرخ کښې په زیات قیمت باندې اخیستل جائز دي. او حال دا چه دلته هم د قیمت زیاتوالی د وصف په وجه سره ده نه د بلې وجهې څخه. د اجل هم دغه معامله ده چه د نفس اجل عوض اخیستل جائز دي او د اجل په وجه سره د قیمت زیاتول فطري او عقلي خبره ده او شریعت نه ده منع کړې لکه چه حضورﷺ د وصف په اړه فرمایلي دي چه ښه خرما په زیات قیمت باندې واخلی. په دې وجه فقهاء کرام د اسې فرمایلي دي. "ان الاجل لا يقابله الثمن و ان الثمن يزاد لاجل الاجل" په نفس اجل باندې د عوض د اخیستلو هغه صورت دی چه ستاسو په عبارت کښې هم شته. او کوم ئې چه په ربوٰا النسیئه کښې بیان فرمایلی دی. چه یو ځل عقد وشي په دې باندې چه له یوې میاشتې وروسته به د دغې مبیعې یوه روپۍ راکوې نو کله مشتري بائع ته یوه میاشت وروسته پیسې ور نه کړې نو بائع وویل چه ښه ده په بل اول تاریخ کښې ئې راکړه لیکن دوه روپۍ راکړه دغه صورت ناجائز دی ځکه چه صرف اجل ئې وپلوره. لیکن اجل یو صفت مرغوب دی ځکه چه مشتري فوري روپۍ نه ورکوي او په هغه باندې په آسانۍ سره خپل کار کولی شي. البته د جنس او د قدر د یو والي په صورت کښې په دغې آسانۍ سره د کار چلولو اعتبار نشته ځکه چه اموال ربویه دي او د نص خلاف دی ځکه چه د هغه قیمت زیات شو لکه د ښې خرما قیمت د جودت په وجه سره زیات شو حالانکه یو اخې د جودت عوض نه پخپل جنس سره ورکول کیدی شي او نه په غیر جنس سره لکه څرنګه چه مخکښې بیان شول.

په هر حال د فقهاء کرامو حتی چه د امام محمد رحمه الله په نزد د بحث لاندې مسئله او صورت په ربوٰا النسیئه کښې داخل نه دی. بلکه په دې مسئلې باندې اوس د مولانا طاسین صاحب هم فکر و هم خیال حضرت مولانا مفتي سیاح الدین مرحوم یو مضمون په جنوري کښې په "حکمت قرآن" کښې چاپ شوی دی چه هغه ده د ډیرو عبارتونو د نقل کولو نه وروسته لیکلی دی کوم چه د مولانا په مضمون کښې دی چه د سود سره د دغه بیع مؤجل فرق په دوو وجهو سره دی. چه دغه په دین یعنې په پور باندې زیاتوالی نه دی بلکه د اول نه ئې قیمت ورته زیات او ګران ښودلی دی. او همدارنګه د وخت د زیاتوالي سره سره په دغه

زیاتوالي کښې اضافه نه ده شوې. او بیا مې مخکښې وکتل چه دغه د بحث لاندې صورت اګر چه عین ربوٰا خو نه ده لیکن دلته ذهنیت هغه سود خوارانه دی او بیا دا وایي چه دغه د مقاصدو او مفاسدو له لحاظه یوه حرامه حیله ده. او یا که چېرته نرمه ژبه استعمال کړی شي نو مکروه دی او د شریعت اسلامي د اصل مزاج خلاف یوه حیله ده. (که چېرته حضرت مفتي صاحب مرحوم ژوندی وي نو د هغه څخه به مو د اسلام د اصل مزاج او غیر اصل مزاج معلوم کړي وای) په هرحال د مفتي صاحب په نزد هم د دغو عباراتو څخه تر بحث لاندې مسئلې په یقیني ډول باندې ثابت نه دی ځکه چه په ربوٰا السیئه او په دې صورت کښې په دوو وجهو سره فرق دی. ربوٰا النسیئه عین سود دی او حال دا چه دا عین سود نه دی نو دغه ته د حرام ویلو په ځای د مکروه ویلو ګنجائش شته.

پاتې شوه دا چه د مولانا صاحب دغه جذباتي خبره چه په دې سره د مجبورو خلکو له مجبورۍ څخه فائده اخیستل کیږي نو عرض او وړاندیز دا دی چه که چېرته د ژوندانه بنیادي ضروري اشیاء لکه د خوړلو او څښلو شیان، د علاج او ادویاتو شیان، د ستر د پټولو عام لباس حتی چه د څناورو واښه او د اسې نورو شیانو د کموالي له وجهې څخه ئې که چېرته په ګرانه بیعه وپلورل شي نو هغه به یقینا حرام او د الله جل جلالُه د عذاب باعث وي لیکن په دغو کښې د مؤجل او معجل فرق نشته. که چېرته د نقدو په صورت کښې د اسې وکړي نو هم ګناه کبیره ده او که د پور په صورت کښې ئې وکړي نو بیا هم د عذاب الٰهي مستحق ګرځي. او په دې معنی سره نه چه بیع نه وشوه بلکه بیع وشوه هغه فیصله شوی قیمت به ورکوي. هو د ضرورت په وخت کښې حکومت د تسعیر (سختي) څخه کار اخیستلی شي او د دې په مخالفت سره د تعذیر حق هم لرلی شي لیکن د دې څخه د بحث لاندې مسئلې ته مطلقا حرام او سود ویل یا بار بار حرام قطعي ورته ویل مناسب نه دي ځکه چه په دې سره یا خو د ټولو فقهاؤ مجوزینو او د هغوی د متبعینو تجهیل یا تفسیق لازمیږي کوم چه د اخلاف صالحینو د شان سره نه ښایي. تجهیل ځکه لازمیږي چه دغه روایات او عبارات عام او معروف دي او یقینا چه مولانا صاحب د نظر نه به تیر شوي وي او تفسیق ځکه لازمیږي چه قصدا اله هغو څخه سترګې پټول او خلك په غلطې لارې باندې روانول دي. که چېرته اخلاف په دې طریقې سره د اسلافو بدنامي کوي نو شریعت او اسلام به ښه وشرموو او برسیره پر دې دغه کاروبار یعنې په پور باندې مال اخیستل هیشه له مجبورۍ نه هم نه وي بلکه زیات صورتونه ئې د اسې دي چه کاروباري خلك د خپل کارو بار د وسیع کولو لپاره د اسې کوي نو په د اسې کولو کښې ظاهره خبره ده چه ګناه نشته. فقط و الله اعلم.

د "الحق" میاشتنۍ رسالې ته په لیږلو کښې هم څه حرج نشته باقي دا چه د هغوی خیال به هغوی ته معلوم وي شاید د مضمون د تکمیل نه وروسته به تایید یا تردید، ترمیم وغیره ولیکي. او بهتره ده چه د "حکمت قرآن" لاهور رسالې ته هم ولیږل شي ځکه چه هغوی په دې موضوع باندې د مختلفو مقالاتو د شائع کولو وړاندیزونه کړي دي.

ځواب له طرفه د

مولانا مفتي غلام الرحمٰن صاحب مد ظله دار العلوم حقانیه اکوړه خټك

دا مضمون په حقیقت کښې د حضرت مولانا محمد طاسین صاحب د هغه مضمون تفصیلي تجربه ده کوم ئې چه په مجله "الحق" ج۲۷ او په شماره نمبر ۴/۳ کښې "په پور باندې شی په زیات قیمت د پلورلو د شرعي حیثیت" تر عنوان لاندې شائع کړی وو۔ او مخکښې له دې نه د حضرت مولانا قاضي عبد الکریم دامت برکاتهم وقیع مضمون به هم د جواب په توګه د قارئین کرامو له نظره تیر شوی وي چه په هغه کښې تر زیاتې اندازې پورې د بحث لاندې مسئلې د واضح کولو کوشش شوی دی۔

د لومړني مضمون نګار په اسلامي او جدیدو معاشیاتو باندې عمیق نظر او په اړونده فن کښې د وافرو معلوماتو د لرلو څخه د هیچا انکار نشته۔ د موصوف شمار د ملك د څو غوره شویو شخصیاتو څخه کیږي کوم چه د نظر خاوندان ئې په جدید معاشي نظام کښې د اسلامي نظام معیشت وکیل ګڼي۔ د ده علمي کاوشونه په "علمي مجلس" کښې د ادب او تحقیق په میدان کښې مسلم او منل شوي دي۔ سره له دې تولو ممکنه ده چه د موصوف د بحث لاندې مسئله کښې رأیه د وخت د مصلحت او د مروجه حالاتو او واقعاتو سره د هم آهنګۍ او پیوستون لپاره موزون وي۔ لیکن له شرعي نقطۀ نظره د موصوف هغه اخیستل شوي نکات قابل توجه خو نه ده بلکه محل نظر خو دی۔ د موصوف رأیه دا ده چه "د پور په صورت کښې د قیمت زیاتوالي حرام او ناجائز دی" له تجزیې څخه مخکښې د قرآن او حدیث په حوالې سره د مسئلې یوه طائرانه مطالعه کوو او د داخلي او خارجي قرائنو له مخې د هغې جائزه اخلو لیکن له هغو څخه مخکښې د مسئلې اجمالي تعارف هم ضروري ګڼو تر څو د لوستونکي حضرات د څه شخړې یا غلط فهمۍ ښکار نه شي۔

د قدیمي معاشرې له مطالعې څخه پرته د موجوده زمانې د معاشرې ۹۸٪ آبادي په داسې مسائلو کښې ښخ دي چه هیڅ څوك هم نه شي کولی چه د خپل ضرورت کوم شی په یو ځای په نقدو باندې واخلي نو د خپل قوت و طاقت او وس مطابق د خپلې ژوندانه د ضرورت شیان د کال یا د میاشتې په قسطونو باندې اخلي او دا هم ظاهره خبره چه بائع د نقدو په ګاهك باندې د هغه په نسیئه (چه په پور شی ورنه واخلي) ډېر پرې خوښ وي۔ (او په معاملاتو کښې د تقوٰی او دیانت داري خبره بیله ده) ځکه چه د پور په صورت کښې د هغه مالي منفعت ضرور تر تاثیر لاندې راځي۔ نو ځکه بائع په پور باندې د تیارولو لپاره د پلورلو په قیمت کښې څه زیاتوالی کوي۔ او نتیجه دا راوځي چه که چېرته د نقدو په صورت کښې د هغه شي قیمت په بازار کښې سل روپۍ وي نو د پور په وجه سره د هغه قیمت یو سل او شلو ته رسیږي۔ اوس بائع د پور په وجه سره د شلو روپو زیاتوالی او یا مشتري ته د داسې معاملې د ارتکاب شرعي

حیثیت څه دی؟ زما په ناقص خیال کښې د نورو عام فهمو مسائلو په شان د دې ځواب هم ډېر په آسانو الفاظو ورکول کیدی شي لیکن د موصوف دغه علمي او تحقیقي مزاج او باریك بیني دا مسئله یو طرفه او پیچیده کړې ده۔

له آسانۍ څخه زما مقصد دا دی چه مونږ په پاکستان او افغانستان کښې ۹۸٪ د حنفي مذهب مقلدین یو شاید په دواړو ملکونو کښې به تبحر فی العلم حضرات ډېر کم وي لیکن مجتهدین فی الشرح، فی المذهب او فی المسائلو تر رتبې رسیدونکي خو پرېږده د اصحاب تخریج او اصحاب الترجیح تر درجې پورې هم څوك نه معلومیږي۔ د داسې علمي انحطاطی په حوالې سره مونږ د سیدنا امام ابو حنیفه رحمه اللّٰه او یا د هغه د مذهب د مسلم قاعدو او ضابطو له مخې د مسلك ذیلي یعنې لاندیني مجتهدینو کښې چېرته د یوه په فرموداتو باندې په عمل کولو سره هغه اصل مراجع یعنې آیات قرآني او یا د حدیثو د مطالبې څه خاص ضرورت نشته۔ په داسې نازکې مرحلې کښې د دریمې طبقې مشر علامه سرخسي او یا د پنځمې طبقې مشهور فقهي صاحب د هدایې (علامه مرغیناني رحمه اللّٰه) په قول باندې عمل کول بې له تاویلو د حیل او په حجت باندې د اعتماد کولو نه زمونږ منصبي فریضه ده۔

په قدیمو فقهي ذخائرو کښې د جزئې د میسر کیدو سره سره اصل مراجع یعنې د قرآن او حدیث څخه د یوه دلیل مطالبه کول په حقیقت کښې د مجتهدینو کار دی، نو ځکه د موصوف دغه تمهیدي بیان دامت د اکابرینو د رائې سره موافق نه دی چه:

"د یوې معاملې د شرعي جواز په اړه یوائې دومره کافي نه دی چه د فقه او دفتاوو په فلاني کتاب کښې فلاني فقیه جائز یا ناجائز ګرځولې ده۔ بلکه له دې سره سره د قرآن او حدیثو د هغه نص او دلیل ذکر کول هم ضروري دي چه د هغو په بناء هغه فقیه داسې ویلي دي او داسې ئې لیکلي دي"۔ (ماهنامه الحق ج۲۷، شماره۳، ص۲۱)

د مقلد ذمه واري

زما په خیال مقلد ته د تسلیم او رضاء نه علاوه بله لاره نشته او که نه شاید د داسې بې موقعې نیوکو څخه پخپل مذهب او مسلك باندې د بدګمانۍ په ښکار کیدو سره به د خپل مذهب او مسلك څخه لاس پرې مینځو۔ د دولسمې صدۍ مشهور فقهي علامه ابن عابدین صاحب رحمه اللّٰه د افتاء د اصولو په ضمن کښې په دې باندې د خپل خیال اظهار کړی دی او ویلي ئې دي چه:

فاقول ان هذا الشرط (اعنی لا یحل ان یفتی بقولنا حتٰی یعلم من این قلنا) کان فی زمانهم اما فی زماننا فیکتفی با لحفظ کما فی القنیة و غیرها فیحل الافتاء بقول بل یجب و ان لم من این قال. (شرح عقود رسم المفتی ص۷۲، فلیس الا القول با لتفصیل)

"زما په خیال د امام ابو حنیفه رحمه اللّٰه تعالی قول دی چه: "زمونږ په قول باندې تر

هغه وخته پورې فتوی ورکول جائز نه دي تر څو پورې چه اصل مرجع معلومه نه وي" دغه شرط د هغوی پخپلې زمانې کښې وو او زمونږ په زمانې کښې محض د مذهب په جزئیاتو باندې فتوی ورکول جائز نه بلکه واجب دي اگر که مونږ ته دا معلومه نه وي چه امام د کوم دلیل په رڼا کښې دا خبره کړې ده"۔

چه څوك مقلد جوړیږي او د دلیل مطالبه کوي نو دا د مقلدینو کار نه دی بلکه دا د مجتهدینو کار دی لکه څرنگه چه فرمایي:

و لا شك ان هذا خاص با لمفتی المجتهد دون المقلد المحض فان التقلید هو الاخذ بغیر معرفة دلیل. (شرح عقود رسم المفتی ص ۷۳، فلیس الا القول با لتفصیل)

"په دې کښې هیڅ شك نشته چه د دلیل مطالبه کول د مجتهد کار دی او د مقلد لپاره خو د دلیل له مطالبې څخه پرته په جزئیه باندې د عمل کولو نه علاوه بله لار نشته"۔

د دلیل د مطـــالبې حقیقت

څکه چه د دلیل دا مطلب نه دی چه په اړونده مسائلو کښې یوائې د قرآن کریم د آیت او یا حدیث اجمالي تذکره وي او نه د داسې سړي د شکوکو او شبهاتو د ازالې لپاره اجمالي علم بس دی چه له ابتداء څخه په فقهي اقوالو باندې د قناعت نظریه و نه لري۔ بلکه د دلیل د مطالبې په وخت کښې په هغه کښې د مذهب او مسلك د قواعد او ضوابطو له مخې د استدلال طریقه او بیا د داخلي او خارجي قرائنو په حوالې سره د تللو صلاحیت ضروري دی۔ او د متعلقه مسلك په ټولو مسائلو باندې علم ضروري دی ترڅو د سیاق او سباق په حوالې سره په مسئلې باندې پوره علم ولري۔ ظاهره ده چه کله د یوه سړي علمي بصیرت دغه معیار ته ورسیږي نو د مقلد پر ځای دی پخپله د مجتهد د جوړیدو حقدار دی او بیا هغه ته د تقلید څه خاص ضرورت نه پاتې کیږي لکه څرنگه چه علامه صاحب فرمایي:

لان معرفة الدلیل انما تکون للمجتهد لتوقفها علی معرفة سلامته من المعارض و هی متوقفة علی استقراء الادلة کلها و لا یقدر علی ذلك الا المجتهد اما مجرد معرفة ان المجتهد الفلانی اخذ الحکم الفلانی من الدلیل الفلانی فلا فائدة فیها. (شرح عقود رسم المفتی ص ۷٤، فلیس الا القول با لتفصیل)

"د دلیل پیژندل د مجتهد وظیفه ده څکه چه د هغه لپاره د دلیل له معارضې څخه د محفوظ کیدو علم ضروري ده چه د هغه لپاره د ټولو دلائلو استقراء ضروري ده او په دې باندې د مجتهد نه پرته نور څوك قادر نه وي او محض دا پیژندل چه فلاني امام د فلاني دلیل څخه دغه حکم اخیستی دی څه خاصه فائده پرې مرتبه نه ده"۔

مونږ مقلدین یو او زمونږ لپاره د علامه مرغیناني رحمه اللّٰه او د علامه سرخسي رحمه اللّٰه جزئیه خو پریږده بلکه یوائې د حضرت تهانوي، مولانا مفتي محمد شفعیع، مفتي کفایت اللّٰه دهلوي رحمه اللّٰه او د فقیه العصر حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب رحمه

اللّٰه رأیه هم د قبول وړ دی۔ د تقلید په حوالې سره مونږ د دغو ائمه وو په باره کښې حسن ظن لرو او د اصل مراجعو ضرورت نه محسوسوو لیکن دلته د بحث لاندې مسئله کښې د مولانا صاحب محترم او د ده د هم فکرو حضراتو د تسلي لپاره د خپلې طالبانه مطالعې په حوالې سره د څو حوالو د وړاندې کولو جرأت کوم۔ تر څو چه لوستونکو ته معلومه شي چه د فقهاوو دغه مسئله د هغو ذاتي اختراع او عندیه نه بلکه د دې په تائید کښې منصوصي واقعات، آیات او احادیث د استناد په ډول موجود دي۔

د نظر لاندې مسئله کښې په قیمت کښې د زیاتوالي حقیقت

د هغه پوره حقیقت خو به انشاء اللّٰه په راتلونکي صفحاتو کښې د موصوف د مضمون د تجزیې نه وروسته واضح کیږي چه د نقد و په نسبت په پور کښې دا فرق آیا د پور عوض دی او یا د پور په وجه سره دی د دواړو دائره کار څه شی دی؟ او د دواړو په منځ کښې ما به الامتیاز څه شی دی؟ ترڅو چه منصوصي حرام او ناجائز کاروبار د "ربوٰا النسیئة" په وجه د هغه فرق وشي۔ مونږ د غه مقدمه دلته پریږدو او د دلائلو په طرف قدم اخلو چه د نظر لاندې مسئلې کښې د پور په وجه سره په قیمت کښې دغه فرق د پور معاوضه نه ده په حقیقت کښې داسې هیڅ کله نه ده چه په زرِ بیعه کښې څه قیمت د مبیعې ده او څه قیمت د هغه د اجل یا مهلت دی ترڅو چه د ضرورت په وخت کښې څه د یوه بل څخه بیلیدلی شي۔ بلکه د معاشي، معاشرتي او د واقعاتي نظائرو او حالاتو لحاظ ساتلو سره په نقدو کښې د پور په نسبت سره منافع، فوائد او د نورو ښه والي او یا زیاتوالي په وجه سره څه زیاتوالی راځي۔ مونږ د آسانتیا لپاره د هغه دا تعبیر کولی شو۔ ان الزیادة هٰهنا لاجل الاجل لا لعوض الاجل (دلته زیاتوالی د پور په وجه سره دی نه د پور په عوض او بدل کښې)۔

په قرآن او حدیث کښې د دې زیات مثالونه موجود دي چه په هغو کښې د پور په وجه سره په قیمت کښې زیاتوالی راغلی دی بلکه د صحابهٔ کرامو ځینې واقعات په عملي ډول د دې شاهد دي۔

له قرانکریم څخه استدلال

د قرآن مجید په "آیت المداینه" باندې د سوچ او فکر نه وروسته د دې حقیقت پیژندنې لپاره مواد پیدا کیدی شي چه د اجل په وجه سره په قیمت کښې فرق جائز دی۔ حضرت ابن عباسؓ به فرمایل:

"په خدای مې دې قسم وي چه اللّٰه تعالې تر مقرره وخته پورې د عقد سلم په معاملې کښې پخپل کتاب کښې د "یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اِذَا تَدَا یَنْتُمْ بِدَیْنٍ اِلٰی اَجَلٍ مُّسَمًّی فَاکْتُبُوْهُ". (سورة البقرة آیت ۲۸۲) له مخې حلال گرځولی دی او اجازه ئې ورکړې ده"۔ (تفسیر مظهري ج۱، ص٤۱٤، سوره البقره)

او حضرت ابن عمرؓ هم فرمايي:

لا باس با لطعام الموصوف يسعر معلوم الى اجل معلوم. (بخاری شریف ج۱، ص ۳۰۰)

"د معينې مودې پورې په معين نرخ باندې د غلې په کاروبار کښې هيڅ حرج نشته"۔

معلومه شوه چه آيت مد اينه په بنيادي توګه د عقد سلم په باره کښې دی او د عقد سلم تعريف علماوو په دې ډول کړی دی چه:

"بيع اجل بعاجل" (فتح القدير ج٦، ص ٢٠٤)

د دې اجمال حقيت دا دی چه که چېرته يو مشتري د مقرره شرايطو رعايت وکړي د مثال په توګه يوه سړي ته زر روپۍ ورکړي او دا معاهده ورسره وکړي چه دغه پيسې پيشکي وصول کړه او په فلاني وخت کښې ما ته به د غنمو د دې نرخ په اعتبار سره د ادا کولو پابند وې۔ او بائع هم د مقرره شرايطو لحاظ وکړي او هغه پيسې وصول کړي او معاهده قبوله کړي۔ نو دې ته "عقد سلم" ويل کيږي۔ د خير القرون د دور نه ونيسه تر ننه پورې بغير له څه انکاره دا معامله جائزه ده او روانه ده۔ د عقد سلم په حقيقت او ماهيت باندې د غور او فکر نه وروسته دا حقيقت به په هيڅا باندې مخفي پاتې نه شي چه مشتري مخکښې له مخکښې نه په يو وار د زر سلم ادا کولو ته تيار شي او په مياشتو مياشتو د مبيعې د وصولولو لپاره به د کومې جذبې سره انتظار کوي؟ هيڅ کله نه! آيا د دې لپاره د خير خواهۍ او همدردۍ کومه بهترينه جذبه په کار اچول شوې ده؟ که چېرې د خيرخواهۍ جذبه وای نو د قرض حسنه په صورت کښې له بائع څخه د مجبورۍ په وخت کښې به ئې د کومك او تعاون لاس اوږد کړی وای۔ د زياتو شرائطو په رعايت کولو سره مخکښې پيسې ورکړي او تر مياشتو مياشتو پورې د مبيعې د وصولۍ لپاره انتظار کولو څخه ئې بنيادي مقصد دا وي چه د دغه درروند بار د تحمل په وجه سره او د دې په عوض په دې مقرره وخت کښې مبيعه په ارزانه بيع سره تر لاسه کيږي۔ ځکه چه په عقد سلم کښې مبيعه د بازار له قيمت څخه بائع ته عموما ارزانه پريووزي۔ قاضي ثناء الله پاني پتي رحم الله د عقد سلم په مشروعيت کښې د دې فلسفې په طرف اشاره کوي او فرمايي:

انما ابيح على خلاف القياس رفع حاجة الفقير حالا عن نفقة عياله الندر على المسلم فيه مالا و حاجة المشترى الى الاسترباح لعياله و هو با لسلم اسهل اذ يكون المبيع فى السلم نازلا عن قيمته فى البيع غالبا. (التفسير المظهرى ج۱، ص٤١٥، سورة البقرة)

"عقد سلم له دې سره سره چه د قياس خلاف دی بيا هم جائز ګرځول شوی دی ځکه چه په هغه کښې بائع پخپل خراب حالت کښې د مصرف او خرچې بندوبست کوي او په مستقبل کښې د هغه په ادا کولو قادر شي او هغه ادا کړي او حال دا چه مشتري ته په سلم کښې فائده ډېره وي ځکه چه عموما په عقد سلم کښې قيمت د مروجه قيمت څخه ارزانه وي"۔

څرګنده شوه چه په عقد سلم کښې د بيع د زر پيشګي ادا کول او د مبيعې له تاخير څخه د بازار په قيمت کښې بدلون راځي او متاثر کيږي۔ په عقد سلم کښې پور يعنې نسيئه لازمي شرط دی که چېرته په دې کښې پور نه وی نو د سلم حقيقت بيا ختم کيږي له دې وجهې کله چه بيع عاجل په عاجل سره د نسيئه او د پور په وجه په قيمت کښې تفاوت او فرق ممنوع نه دی او په سود کښې هم نه راځي۔ نو د نظر لاندې معامله کښې يعنې په پور کښې کوم چه د بيع عاجل په عاجل سره په مخصوص صورت کښې د قيمت تفاوت به ولې ممنوع ګرځي۔ او دلته دا شبهه مه کوی چه عقد سلم خلاف القياس وو او رد شوی دی او په دې باندې بله معامله نه قياس کيږي۔ ځکه چه عقد سلم د غير موجود مبيعې د پلورلو د جواز په حيثيت سره خلاف القياس دی۔ مونږ په دې باندې د څه شي قياس نه کوو بلکه زمونږ د وينا مطلب دا دی چه په نقدو او پور کښې د مبيعې يا ثمن متأثر کيدل او د کموالي او زياتوالي راتلل مشروع معامله ده په ربوٰا او نسيئه کښې نه راځي۔

د رسول اللهﷺ له يوې عملي واقعې څخه استدلال

د نسيئه په وجه سره په قيمت کښې د زياتوالي د راتللو جواز له يوه روايت څخه هم معلوميږي چه د دغه تعلق پخپله د رسول اللهﷺ د ذاتي ژوند سره دی امام بخاري رحمه الله په صحيح بخاري کښې "باب شراء النبيﷺ با لنسيئه" تر عنوان لاندې يو باب تړلی دی او دا مسئله ئې مستنبط کړې ده چه رسول اللهﷺ په ذاتي ډول سره د نقدو غوندې په ځينو وختونو کښې په پور باندې هم د ژوند انه ضروري شيان اخيستل په دې باب کښې امام بخاريؒ د حضرت عايشه صديقه رضى الله عنها يو روايت راوړی دی۔ چه په هغه کښې فرمايي چه:

ان النبىﷺ اشترىٰ طعاما من يهودى الى اجل و رهنه درعا من حديد. (صحيح البخارى ج۱، ص ٢٤١، باب الرهن عند اليهود وغيرهم)

"رسول اللهﷺ له يوه يهودي څخه څه غله په پور واخيسته او له اوسپنې څخه جوړه شوې خپله زغره ئې ورته په ګروي پرېښوده"۔

امام بخاري رحمه الله دغه روايت ډېر ځل په مختلفو مسائلو کښې نقل کړی دی۔ نو ځکه په نسيئې باندې د معاملې جواز ناقابل انکار حقيقت دی۔ موصوف هم د خپلې مقالې په شروع کښې دې طرف ته اشاره کوي او فرمايي:

"تر کومه ځايه چه په پور باندې د اشياوو د اخيستلو او پلورلو تعلق دی د قرآن او حديث له مخې جائز دی چه د هغه په ثبوت کښې د قرآن مجيد د آيت المداينه او د رسول اللهﷺ د هغو احاديثو وړاندې کول کافي دي چه په هغو کښې پخپله رسول اللهﷺ له نورو څخه په پور باندې د ضرورت د شيانو د اخيستلو بيان دی۔ او د اسې هم وو چه کله به ئې د ادا کولو په وخت کښې بهترينه ادائيګي کوله"۔ (ماهنامه الحق ج۲۷، شماره۳، ص۲۲)

د رسول اللهﷺ د دې په شان د نورو معاملاتو له مطالعې څخه پرته مونږ د يهودي د مذكوره معاملې جائزه اخلو۔ له يوه متعصب او د اسلام له دښمن سره د رسول اللهﷺ معامله او بيا له هغه څخه وروسته د ورځنۍ ضروري شی "درع" د رهن كولو له پردې شا ته واقعات د جائزې څخه كوم صورت چه مخكښې راځي۔ په هغو كښې د نظر لاندې مسئلې د جواز لپاره قوي مستدل موجود دی د دې پردې تر شا د حقيقت د پيژندلو لپاره مونږ ته د دغې واقعې مطالعه د مدينې منورې حالاتو په نظر كښې نيولو سره بايد وشي۔

مونږ ګورو چه په معاشره كښې د يوه شي غوښتنه زياته وي نو د هغه خريدار هم زيات وي او كله چه اخيستونكي زيات وي نو د هغه شي د بدلولو مواقع په ډېرې اندازې سره موجود وي۔ په داسې وخت كښې بائع د پور په نسبت سره نقدو ته ډېر ترجيح وركوي ليكن كه په پور كښې چېرته مالي منفعت د نقدو په نسبت سره زيات وي نو هغه بيا په صوابديد باندې فيصله كوي يعنې په كومه خوا كښې ئې چه فائده وي په هغې باندې فيصله كوي۔ د رسول اللهﷺ د دې معاملې په وخت كښې د مدينې منورې د معاشي حالت په حوالې سره مونږ داويلی شو چه په دې وخت كښې په مدينه منوره كښې د غلې ډېر زيات ضرورت وو، عموما خلك به د باندينيو قافلو د راتګ په انتظار كښې وو او كله چه به د كومې قافلې د راتلو خبره راغله نو ډېر وخت به د لوږې ځپلې معاشرې حالت بدليده چنانچه يو وارې صحابه كرامو ته د تجارتي قافلې د راتګ خبره هغه وخت ورسيده چه په هغه وخت كښې رسول اللهﷺ د جمعې خطبه ويله۔ نو ډېرو صحابۀ كرامو رسول اللهﷺ يواځې پرېښوده او د قافلې په خوا ئې منډې كړې چه په هغه باندې د سورة الجمعه آخري آيتونه نازل شول۔

دا دې هم څرګنده وي چه په دې وخت كښې د مدينې منورې د تجارت په بازار كښې د يهودو قبضه وه۔ هغوی به د قافلې والو څخه غله واخيستله او د خپل زړه په قيمت به ئې پلورله۔ هغو ته د به نقدو د خريدار د داسې ضروري شيانو په اخيستلو كښې لازما ميسر وو ليكن د دغه خلك د نقدو په نسبت پور د كوم شوق په وجه سره نه خوښاوه بلكه د مالي منفعت په خاطر به د دغو خلكو د پور معاملې كولې۔ په دې حالاتو كښې د رسول اللهﷺ د پور په معاملې كښې غالب ګمان دا دی چه د نقدو په نسبت سره په پور كښې د قيمت تفاوت او فرق به اختيار كړی وو۔ او كه نه د نقدو د خريدار د پيدا كيدو سره سره يهوديانو ته د پور د معاملې كولو څه ضرورت وو؟ د مالي منفعت او زيات قيمت د وصولۍ نه علاوه د يهوديانو د دغه اقدام لپاره بله څه وجه نه وه۔

په دې كښې خو د دې احتمال هم نشته چه يهوديانو به چېرته له رسول اللهﷺ سره محض د احسان تر جذبې لاندې حسن سلوك كړی وي او د نقدو په قيمت باندې ئې د پور په ور كړي وي۔ ځكه چه "لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا" د صريح والي سره

سره د يهوديانو په شان له متعصب قوم څخه د مسلمانانو سره او په خاصه توګه له حضور سرور دو عالمﷺ سره ښيګړه، حسن سلوك او د مواساتو د جذباتو توقع كول بې فائدې دي۔ بلكه په حديثو كښې "و رهنه درعه" له الفاظو څخه هم د ښيګړې د جذبې ترديد كيږي۔ آخر كه چېرته همدردي مقصود وای نو له ده مباركﷺ څخه به ئې ولې د توثيق لپاره د رهن مطالبه كوله؟ او رسول اللهﷺ خپله درعه مباركه د رهن په ډول سره اېښودلو ته څرنګه تيارېده۔ كوم چه د ده مباركﷺ د مجاهدانه ژوند ورځنی ضرورت وو۔

دا داسې امور دي چه له دغو څخه دا اندازه لګول كيږي چه په دې معاملې كښې د نسيئه په صورت كښې د نقدو په نسبت سره زيات قيمت لګول شوی وو۔

په خير القرون كښې د بحث لاندې مسئلې عملي ثبوت

له ذكر شوي شهادتونو څخه پرته د صحابۀ كرامو په ژوندانه كښې مونږ ته داسې واضح، غير مبهم او مكمل ثبوت ملاويدلی شي چه له هغو څخه د دې مسئلې شرعي حيثيت پخپله واضح كيږي۔ او په جواز كښې ئې د صحابۀ كرامو په دور كښې هيڅ اختلاف موجود نه وو۔ او صحابۀ كرامو پخپله داسې معاملې كولې۔

د سيده حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها او زيد بن ارقم رضی الله عنه په واقعې كښې د دې صريح دليل موجود دی او د امام محمد رحمه الله په روايت كښې څه زياتوالی هم شته ليكن صاحب د هدايې علامه مرغيناني رحمه الله چه د كوم روايت خوا ته اشاره كړې ده هغه د سيدنا امام ابو حنيفه رحمه الله په واسطه سره مروي دی چه د هغه الفاظ دا دي۔

ان امرأة قال لعائشهؓ ان زيد بن ارقم باعني جاريته بثمانمائة درهم ثم اشتراها مني فقالت ابلغيه عني ان الله قد ابطل جهاده مع رسول اللهﷺ ان لم يتب. (فتح القدير ج٦، ص ٧٠، باب البيع الفاسد)

"يوه ښځه حضرت عائشې رضی الله عنها ته عرض وكړو چه زيد بن ارقمؓ په ما باندې يوه مينځه په اته سوه درهمه وپلورله او بيا ئې په شپږ سوه درهم باندې بېرته له ما نه واخيستله حضرت عائشېؓ وفرمايل چه زما له طرفه زيد بن ارقمؓ ته دا پيغام ورسوه چه كه چېرته هغه له خپل دې كار څخه توبه ونه كړي نو الله تعالی به د هغه جهاد ضائع كړي كوم چه ئې د رسول اللهﷺ په ملګرتيا كښې كړی وو"۔

اګر كه په دې روايت كښې د نقدو او د نسيئې هيڅ ذكر نشته ليكن د مسند احمد په روايت كښې په دې باندې دا زياتوالی شوی دی۔

انی بعثت من زيد غلاما بثمانمائة درهم نسيئة و اشتريته بستمائة نقد. (فتح القدير ج٦، ص ٧٠، باب البيع الفاسد)

"چه ما له هغه څخه په اتو سوو درهمو پور باندې غلام واخيست او په شپږ سوه درهم نقدو باندې مې په هغه باندې وپلوره"۔

دې روايت ته په كتو سره په كار دی چه د چا په زړه كښې دا شك او شبه باقي پاتې نه

شي۔ ځکه چه د زید بن ارقم په دې معاملې کښې د نقدو قیمت که چېرته شپږ سوه درهمه ده نو د پور قیمت اته سوه درهمه مقررېږي۔

شاید په دې باندې د چا شبهه وي، ممکنه ده چه دا د حضرت زید بن ارقمؓ انفرادي عمل وي او د نورو صحابه وو ورسره اتفاق نه وي۔ همدا وجه ده چه حضرت عائشه رضی اللّٰه عنها چه کله په دې باندې خبره شوه نو په سختو الفاظو ئې پیغام ور ولیږه چه که چېرته هغه د خپل کړي کار څخه توبه و نه کړي نو د هغه د جهاد په شان مبارك عمل به ئې ضایع کیږي۔ ګوا که چه دې دا اقدام ګناه کبیره ګڼلی وو۔ او د نورو اعمالو لپاره ئې مبطل ګرځولی وو۔

لیکن دا شبهه بې بنیاده ده ځکه چه دلته د زید بن ارقم په دې معاملې کښې دوه شیان دي۔ اول خو دا دی چه د نقدو او د پور په قیمت کښې ده فرق کیښوده او دوهم دا چه ده خپل غلام او یا پلورل شوې وینځه دوهم ځل په کم قیمت قبل نقد الثمن واخیست په ظاهره خو ئې د سود د عمل ارتکاب وکړ۔ د حضرت عائشې رضی اللّٰه عنها د انکار تعلق د اولنۍ مسئلې سره نه دی بلکه د دې دومره په شدت سره انکار دې د دوهمې مسئلې په نظر کښې نیولو سره کړی وو۔ دې مبارکې هغه د ربوٰا یو ذیلي شکل ګڼلی وو او په هغه باندې ئې د ربوٰا آیت تلاوت کړی وو او بیا د ربوٰا تعلق هم د اولې معاملې سره نه وو یعنې په نسیئه کښې د هغه شي قیمت اته سوه روپۍ په مقررولو کښې څه قباحت نه وو۔ که چېرته یو اځې عقد شوی وی نو په هغه باندې د انکار ګنجائش نه پاتې کیده لیکن په دوهمه معامله کښې خپل پلورل شوی شی قبل نقد الثمن په کم قیمت باندې په اخیستلو کښې د سود عنصر معلومیده ځکه هغې انکار وکړ۔ او اوله معامله هم په دې اعتبار سره صحیح نه شوه چه د دوهمې حرامې معاملې مکمل عمارت په دې باندې بناء وه۔ ځکه حضرت عائشې دواړو باندې انکار وکړو او وئې فرمایل چه بد دی هغه شی چه تا اخیستی او تا پلورلی دی۔ علامه جلال الدین الخوارزمي د دغې تفرقې په طرف اشاره کوي او فرمایي چه:

و انما ذمت البیع الاول و ان کان جائزا عندها لانها صارت ذریعة الی البیع الثانی هو موسوم با لفساد. (الکفایة علی الهدایة، فتح القدیر ج٦، ص ٧٠، باب البیع الفاسد)

”دې د اولې بیعې مذمت هم کړی وو او حال دا چه دغه د تاسو په نزد هم جائزه معامله وه ځکه چه دا د دوهم ناجائز او فاسد عقد لپاره ذریعه وه“۔

همدا وجه ده چه د دې په کلام کښې ”بئس ما اشتریت و اشتریت“ (بد دی هغه شی کوم چه تا اخیستی او پلورلی دی) د عقد ثاني د وجود په اعتبار سره د مؤخر کیدو سره سره ئې د اوله ذکر کړه ځکه چه په بنیادي توګه د همدې مذمت ئې مقصود وو۔

د حضرت زید بن ارقمؓ په دې تفاوت باندې له اقدام څخه او د حضرت عائشې رضی اللّٰه عنها په دې تفاوت باندې له خاموشۍ څخه دا اندازه لګول کیږي چه د پور په معاملې

کښې د قیمت تفاوت د خیر القرون په معاشرې کښې هم مروج وو او هېچا هم انکار نه کاوه او نه چا هغه په ربوٰا النسیئه کښې شمارل۔

د مختلف الجنس شیانو په تبادلې کښې حقیقي او حکمي تفاضل دواړه جائز دي

د شریعت له مخې د اخیستلو او پلورلو معامله د عاقدینو پخپل منځ کښې په رضا او رغبت باندې مشتمله ده۔ لیکن په اموال ربویه کښې په هغه باندې څو بندیزونه لګول شوي دي۔ د ”اشیاء ستّه“ له حدیث څخه چېرته چه ائمه وو د خپلو مصلحتونو مطابق د علت په را ایستلو سره د ربوٰا شکلونه متعین کړل نو احنافو د ”جنس او قدر“ علت وایست ځکه چه چېرته دواړه علتونه موجودیږي نو هلته احناف تفاضل حقیقي او تفاضل حکمي دواړه حرام ګرځوي۔ د مثال په توګه که چېرته یو سړی غنم په غنمو باندې بدلوي او یا ئې پلوري نو لکه څرنګه چه د یو من په عوض کښې دوه منه حرام دي، نو همدارنګه تفاضل حکمي (چه یو شی وصول شي او د بل شي د وصولي لپاره مهلت ورکړی شي) هم حرام دی او که چېرته په جن او قدر کښې علت موجود وي نو هلته تفاضل حکمي حرام دی لیکن په تفاضل حقیقي کښې څه حرج نشته ځکه چه د یو من غنمو په عوض کښې دوه منو جوار په اخیستلو کښې څه حرج نشته۔ لیکن په دغه کښې بیا نسیئه حرامه ده او چېرته چه جنس او قدر دواړه نه وي نو په مختلف الجنس کښې ”و اذا اختلف الجنسان فبیعوا کیف شئتم“ له مخې تفاضل حکمي او حقیقي دواړه حلال دي۔

د نظر لاندې معامله کښې ثمن او مبیعه دواړه مختلف الجنسه شیان دي چه د دغو په منځ کښې قدر هم مشترك نه دی ځکه ئې په تفاضل کښې څه حرج پیدا کول نه دي پکار، بیا هم د نسیئه او د نقدو په منځ کښې د تفاوت اعتبارول د عقد د تکمیل نه وروسته وروستني اموردي کوم چه د هغو د عقد له قوام سره هیڅ تعلق نشته۔

د نقد او نسیئه په قیمت کښې د تفاوت جواز د ائمه وو اختلافي مسئله ده

د ائمۀ کرامو په منځ کښې د نظر لاندې مسئلې کښې د اتفاق ښکارندوی له یوې بلې مسئلې څخه هم کیږي چه په هغه کښې حضرت زید بن ارقمؓ مخکښینی روایت وړاندې کیږي۔ هغه مسئله دا ده چه یو سړی که چېرته یو شی د نسیئه او د پور په وجه سره په زیات قیمت سره وپلوري او بیا بغیر له څه ثمن د ادا کولو څخه دوهم ځل هغه خپل پلورل شوی شی بغیر د دریم سړي د حائل کیدو نه په منځ کښې په کم قیمت سره واخلي نو د امام شافعي صاحب په نزد د ثالث د حائل کیدو بغیر هم دا عقد جائز دی لیکن د احنافو په نزد د دریم د حائل کیدو نه پرته دا عقد ناجائز دی۔ بیا هم که چېرته په منځ کښې دریم راشي او د پلورلو په وخت کښې د

نسیئه په وجه سره د هغه قیمت پنځه سوه روپۍ کیښودل شوی وي لیکن دوباره بائع نقدي روپۍ ورکړې او خپل هغه پلورل شوی شی ئې په کم قیمت باندې یعنې په څلورو سوو روپو باندې واخیست نو بیا د شوافعو غوندې د احنافو په نزد هم جائز دی او همدارنګه د ثمن د وصولي نه وروسته ئې جواز اتفاقي دی۔ علامه کمال ابن همام رحمه الله فرمایي چه:

و قید بقوله قبل نقد الثمن لان ما بعده یجوز با لاجماع باقل الثمن. (فتح القدیر ج٦، ص٦٨، باب البیع الفاسد)

"دثمن د اد اکولونه مخکښې د مسئلې دتقیید څخه معلومیږي چه که چېرته معامله وروسته دنقد الثمن نه وي نوبیابالاتفاق جائز دی"۔

له دې څخه زمونږ مقصد دا دی چه په اصل قیمت کښې په زیاتوالي کښې لکه څرنګه چه په نقدو کښې د زیاتوالي احتمال شته نو د "حالت نسیئې" له عموم څخه د نسیئه احتمال هم شته۔ نو په نسیئه کښې زیات قیمت مقرر کړی او وروسته بیا په کم قیمت په نقدو باندې په اخیستلو سره زمونږ د موقف تائید کیږي۔

د یوې غلط فهمۍ ازاله (له منځه وړل)

د مقاله نګار د بیان له اندازه معلومیږي چه د نظر لاندې مسئله د فقه حنفي ښایي یواځې په هغو دوو کتابونو کښې وي لیکن په حقیقت کښې د اسې نه ده بلکه حنفي فقهي په اکثرو کتابونو کښې دا مسئله پیدا کیږي۔ لکه څرنګه چه علامه ابن عابدین دا مسئله د علاؤ الدین الحصکفيؒ د عبارت په شرح "رد المحتار علی الدر المختار ج٤، ص١٥٨ باندې او ابن نجیم المصريؒ په بحر الرائق ج٦، ص١١٤ باندې ذکر کړې ده اګر که اکثرو فقهاؤ چه کوم علت بیان کړی دی له هغو ټولو څخه دا یو شی معلومیږي۔لیکن زما په خیال کښې د فقه حنفي په اهمو کتابونو کښې ښایي چه د اسې کوم کتاب وي چه په هغه کښې دا مسئله نه وي لیکن د فقهي ذخیرو څخه د عباراتو نقل کول د موصوف په نزد په خاصه توګه څه د فائدې حامل نه دی۔ ځکه د عباراتو د نقل کولو څه خاص ضرورت هم نشته۔ او دلته دا واضح کول ضروري دي چه د نظر لاندې مسئلې د نه جواز په باره کښې چېرته په یوه کتاب کښې هم څه صریحه جزئیه نه شته او نه پیدا کیږي۔ ځکه موصوف د خپل موقف د اثبات لپاره له نورو جزئیاتو څخه ګټه پورته کوله۔ او که چېرته ناجائز وای نو په دومره ضخیمو فقهي ذخائرو کښې چېرته خو به په دې باندې تصریح ضرور موجود وای۔

د موصوف د مقالې څیړنــــــــه

تر دې ځایه پورې د اصل مسئلې د جواز په باره کښې خبره وه اوس مونږ لږ مخکښې قدم اخلو او د موصوف د هغه دلائلو جائزه اخلو د کومو په وجه سره ئې چه موجوده مسئله ناجائزه او حرامه ګرځولې ده۔ په دوو قسطونو باندې د مشتملې مقالې له مطالعې څخه دا

اندازه لګول کیږي چه د نه جواز نظریه په دریو خبرو باندې مبني ده۔

﴿١﴾ **ربوٰا النسیئه:** د ده په نزد د نظر لاندې مسئله د "ربوٰا النسیئه" یو ذیلي قسم دی، کبرٰی خو د دین له مسلماتو څخه دی چه د قرآن او حدیثو له مخې د ربوٰا ټول قسمونه حرام دي له دې وجهې دا معامله هم حرامه ده۔ ظاهره خبره دا ده چه د کبرٰی د تسلیمولو په وجه سره په دې باندې د بحث څه خاص ضرورت نه وو لیکن صغرٰی له دې وجه چه یوه نظري مسئله ده د مکمل غور او خوض محتاج وو ځکه موصوف په دې باندې ډېر په محنت سره کار کړی دی۔ لکه څرنګه چه د اول قسط د دوه پر څلور حصو څخه زیاته مقاله په دې باندې مشتمله ده۔ موصوف فرمایي:

"لنډه دا چه قرآن کریم چه د ربوٰا النسیئه کوم مروج شکلونه حرام ګرځولي دي په هغوی کښې یو شکل په پور باندې یو شی د نقدو په نسبت په زیات قیمت باندې د پلورلو شکل هم وو چه د هغه اظهار له لاندې لیکل شوي آیتونو څخه کیږي۔ کوم چه مفسرین کرام د تحریم ربوٰا د آیتونو په تفسیر کښې نقل کړی دی"۔ (الحق ج٢٧، شماره٣، ص٤٣)

ده د ربوٰا النسیئه حقیقت د زید بن اسلمؒ، مجاهدؒ، سعید بن جبیرؒ، قتادهؒ او عطاء بن ابي رباحؒ غوندې جګ پوړو حضراتو په حواله سره نقل کړی دی۔ او دا کوشش ئې کړی دی چه همدا حقیقت د ربوٰا د نظر لاندې مسئلې کښې هم جاري دی۔ او بیا د زیات وضاحت لپاره ئې د ابو بکر الجصاص او امام فخر الدین رازي اقوال هم راوړي دي او په هغو باندې ئې تکیه کړې ده۔ دې خیال ته د زیاتې تقویې ورکولو لپاره ئې د هغو بدو اثراتو جائزه هم اخیستې ده چه د سود په وجه په معاشرې باندې پریوتې ده۔ د ده په خیال دغه اثرات د نظر لاندې د مسئلې هم دي۔

﴿٢﴾ **بیع باطل:** موصوف چه کوم په بل حقیقت باندې د نظر لاندې مسئلې د نه جواز عمارت قائم کړی دی۔ او د قائمیدو کوشش کړی دی هغه د بیع باطل تعریف دی۔ د حضرت ابن عباسؓ، حضرت حسن بصري او علامه رَشید رضاء په حوالې سره د بیع باطل حقیقت بیان کړی دی۔ او وروسته له هغې نه ئې بیا په مروجه معاملې باندې دغه حقیقت تطبیق کړی دی او فرمایي چه:

"د ذکر شوي آیت په تفسیر کښې کوم چه عرض کړی شو د هغه په رڼا کښې د بحث لاندې معامله چه کله په غور سره وکتل شي نو دغه معامله د باطل هم مصداق معلومیږي"۔ (الحق ج٢٧، شماره٤، ص٣٦)

﴿٣﴾ دریم شی کوم چه موصوف د خپل موقف د تایید لپاره وړاندې کوي هغه په قرضو کښې د څه منفعت د حرمت حکم دی۔ چنانچه د حضرت علي د روایت په حوالې سره د رسول اللهﷺ فرمان دی چه: "هر هغه قرض کوم چه د منفعت اندوزي ذریعه وګرځي هغه ربوٰا ده"

او موصوف د دې روایت په آخر کښې فرمایي چه:

"بهر حال د دې حدیث له مخې هم دغه د بحث لاندې معامله ناجائزه ګرځي"۔ (الحق ج۲۷، شماره ٤، ص۳٦)

سربیره پر دې د موصوف د مقالې په آخر کښې د هدایې او مبسوط سرخسي د واضحو جزئیاتو څخه د ځان د بچ کولو لپاره داسې کمزور توجیهات کړي دي چه هغه د "توجیه بما لا یرضیٰ قائله" مصداق دی۔ د دغو توجیهاتو حقیقت، قوام و ثبات او یا د ضعف او کمزورۍ لپاره لوستونکي حضرات د حضرت مولانا قاضي عبد الکریم صاحب دامت برکاتهم له مقالې څخه استفاده کولی شي او مونږ اوس د موصوف په دغو دریو نکاتو باندې بحث کوو چه د مقاله نګار په ګمان د نظر لاندې مسئلې د حرمت لپاره بنیادي حیثیت لري۔

د اولې وجهې کمزوري

ترکومه ځایه پورې چه د نظر لاندې معاملې ته د "ربوٰا النسیئه د یو ډول ګرځولو خبره ده نو د ربوٰا دائره دومره وسیع نه ده چه د پور معامله هم پخپل ځان کښې ځای کړي۔ د څو وجوهات په بناء سره د پور معامله د ربوٰا النسیئه څخه مختلف دی۔

﴿۱﴾ مونږ ګورو چه په ربوٰا النسیئه کښې اجل ته باقاعده او د مستقلې مبیعې په حیثیت سره کتل کیږي۔ د موصوف د مقالې په حواله سره د امت د اکابرینو څخه د هغه چه کوم حقیقت نقل کړی شوی دی۔ له هغه څخه معلومیږي چه د مقررې مودې تر ختمې پورې دائن مدیون ته ورتللو او ورته ویل به ئې چه زما هغه فلانی روپۍ چه ستا په ذمې دي ادا ئې کړه او که چېرته ئې نه ادا کوې نو د دومره وخت نه وروسته ما ته د دې مودې په عوض کښې د متعینو روپو سره مزید دومره نورې روپۍ راکړه۔ د عروضو غوندې د اجل زیاتوالي او کموالي ته ئې کتل او قیمت به ئې ورته وټاکه د مالیت او د تقوم د حقیقت د نشتوالي په وجه سره دائن ته په اصل رقم باندې بغیر د څه معاوضې نه زیاتوالی ورکول کیده۔ چه دغه قرآن حرام ګرځولی دی۔ شیخ عبد الرحمٰن الجزایري ربوٰا تقسیموي او د دې حقیقت خوا ته اشاره کوي چه:

وینقسم الی قسمین الاول ربوٰا النسیئة و هو ان تکون الزیادة المذکورة فی مقابلة تاخیر الدفع..... لا خلاف بین ائمة المسلمین فی تحریم ربوٰا النسیئة و هو کبیرة من الکبائر بلا نزاع. (الفقه علی مذاهب الاربعه ج۲، ص۲٤٥، مباحث الربوٰا)

"ربوٰا په دوه قسمه ده اول قسم "ربوٰا النسیئه" ده چه په هغه کښې د ذکر شوی زیاتوالی د تاخیر (ځنډ) په مقابله کښې ورکول کیده۔ د امت په اکابرینو کښې د دې په حرمت کښې د هیڅ اختلاف نشته دا بالاتفاق ګناه کبیره ده"۔

دا هغه حقیقت دی کوم چه د مفسرینو، محدثینو، فقهاوو او د تحقیق د نورو خاوندانو په تحریراتو کښې معلومیږي او ښایي چه په تعبیر کښې څه مبالغه نه وي چه مونږ له دې څخه دا ووایو چه دغه زیاتوالی د اجل معاوضه ده۔

لیکن د دې په مقابلې کښې د نظر لاندې معاملې کښې دغه مفروض زیاتوالی د معاوضې په حیثیت نه معلومیږي۔ نه د مقرره میعاد څه قیمت مقرریږي او نه هغه عاقدین ئې د مبیعې جز تسلیموي چه ترڅو کوم مقرر وخت په قیمت، مبیعې او اجل باندې تقسیم شي۔ همدا وجه ده چه فقهاء د دې زیاتوالي لپاره د "بعوض الاجل" په ځای "لاجل الاجل" علت ذکر کوي۔ صاحب د هدایې فرمایي چه: "یزاد فی الثمن لاجل الاجل" ابن عابدین او ابن نجیم المصري فرمایي چه: "و یزاد فی الثمن لاجله" ګواکه چه د دواړو بنیادي فرق دا شو چه د پور په معاملې کښې زیاتوالی "لاجل الاجل" او په ربوٰا النسیئه کښې زیاتوالی "لعوض الاجل" دی۔ د داسې واضح فرق سره بیا هم دغه معامله د ربوٰا ذیلي قسم ګرځول غلط فهمي او یا د زړه زور دی بیا هم دا فرق باریک دی، ښایي چه د دې فرق مزید وضاحت د یوه مثال په ورکولو باندې وشي۔ د مثال په توګه یو سړي له کراچۍ څخه تر پېښوره پورې په ریل ګاړي کښې سفر کوي۔ نو اصل کرایه درې سوه روپۍ ده کوم چه په هر یو موټر کښې د خپل ځان لپاره سیټ تر ټاکل شوي مسافې پورې په دې قیمت باندې اخیستلی شي لیکن په دې ګاډي کښې د ائر کنډیشن د سیټ کرایه پنځه سوه روپۍ اخلي۔ له دې وجهې دواړو کرایو ته په نظر کولو سره مونږ دا ویلی شو چه اصلي کرایه خو درې سوه روپۍ دي لیکن دغه مؤخر الذکر سیټ په کرایه کښې زیاتوالی محض د سهولیاتو او د مراعاتو د زیاتوالي په وجه سره ده او دغه زیاتوالی د هیڅ یوه سهولت عوض نه دی۔

او همدارنګه دلته هم معامله ده چه په پور کښې دغه زیاتوالی د اجل معاوضه نه ده چه هغه په حرامو او ممنوعه معاملاتو کښې وشمارو بلکه دا د "النقد خیر من النسیئه" په نظر کښې نیولو سره د وروسته ادا کولو په وجه سره مقرریږي۔ ممکن دی چه د نقدو په وصولي کښې مشتري ته په وخت باندې د ادا کولو تکلیف وي لیکن بائع ته به فائده وي او حال دا چه په تاخیر سره په ادا کولو کښې مشتري ته سهولت ورکول کیږي او د بائع د جذباتو د قابو کولو لپاره د پلورلو قیمت نسبتاً زیات لګول کیږي ترڅو چه بائع په ښه زړه د ادا کولو لپاره تیار شي او مشتري هم خپل سهولت ته په نظر کښې نیولو سره په رضاء او خوښي سره قیمت ادا کړي۔

﴿۲﴾ دوهم فرق دا هم دی چه په حرامه معامله کښې د داسې دوو شیانو تبادله ده چه هغه جنس او قدر پخپل منځ کښې سره متحد وي۔ او چونکه دائن چه کله له مدیون څخه د معاهدې په آخري کښې دا مطالبه کوي چه که چېرې اوس زما روپۍ مثلاً یو زر روپۍ نه راکوې نو د شپږو میاشتو نه وروسته د یو زر روپو په ځای به پنځلس سوه روپۍ راکوې نو ګواکه په دې کښې تبادله د عرض او د ثمن پاتې نه شو لکه څرنګه چه د معاهدې په اختتام کښې د دائن د مبیعې حق نه پاتې کیږي بلکه د مبیعې قیمت پاتې وي نو تبادله د روپو په روپو باندې

راغله نو په داسې حالت کښې لازمي خبره ده چه د جنس او د قدر په موجود والي کښې تفاضل حقیقي او حکمي دواړه راغلل کوم چه قطعي حرام دي۔

لیکن د نظر لاندې مسئلې کښې دا صورت بالکل نشته، دلته تبادله یعنې بدلول د مبیعې او د ثمن دی۔ له اوله د بائع او د مشتري ترمنځه په ایجاب او قبول کښې د غه قیمت د نظر وړ نه وي په داسې حالت کښې چېرته چه د مطلقې بیعې تعریف صادقیږي یعنې د مبیعې او د ثمن تبادله وي نو په تفاضل کښې څه حرج نه وي۔ هو دا ضروري ده چه چېرته د بائع او مشتري په منځ کښې په نقد قیمت باندې معاهده وشي او وروسته د هغه نه مشتري د نقدو د ادا کولو څخه قاصر شي او د څه معاوضې په وجه سره د ثمن ادا کول ونه کړي نو په دې وخت کښې به ضرور د ربوٰا النسیئه مترادف وي ځکه چه د نقدو په ادا کولو باندې د معاهدې په وخت کښې اوس د بائع حق له ټاکل شویو روپو په مقدار کښې متعین شونو اوس د اجل په وجه سره زیاتی نه دی د دې ټاکل شوي حق په مقابله کښې دی کوم چه ناجائز دی۔

د دوهمې وجهې کمزوري

ترکومه ځایه چه د موصوف د دلیل د دوهمې حصې تعلق دی نو دا هم د شبهې څخه خالی نه دی۔ دا مشکله خبره ده چه د بیع باطل تعریف دې د نظر لاندې معاملې باندې صادق وي۔ د دې د بطلان لپاره مونږ اول د یوې مقدمې په طرف توجه کوو چه په عقد بیع کښې د ایجاب او د قبول نه وروسته ترڅو چه د دغه عقد په فسخ کولو سره د یوې بلې معاملې تجدید و نه شي نو د کموالي او زیاتوالي نسبت د اصل عقد په طرف ځي۔ مثلا بایع او مشتري د ایجاب او قبول په کولو سره معاهده وکړي او وروسته له هغه نه بائع د ټاکلي مبیعې سره او یا مشتري د ټاکلي قیمت څخه څه زیات ادا کړي نو د هغه نسبت به د اصل عقد په طرف کیږي۔ لکه څرنګه چه د استحقاق په صورت کښې به د غه کموالی او زیاتوالی په لازمي توګه ظاهرېږي فقهای کرام لیکي چه:

و یجوز للمشتری ان یزید للبائع فی الثمن و یجوز للبائع ان یزید للمشتری فی المبیع و یجوز ان یحط عن الثمن و یتعلق الاستحقاق بجمیع ذلك فالزیادة و الحط یلتحقان باصل العقد عندنا. (الهدایة ج۳، ص۵۲، کتاب البیوع)

"د مشتري لپاره جائز دي چه هغه د بائع لپاره په قیمت کښې زیاتوالی وکړي او د بائع لپاره جائز دي چه هغه د مشتري لپاره په مبیعه کښې زیاتوالی وکړي او په قیمت کښې کموالی هم جائز دی او استحقاق به په دغو ټولو پورې متعلق وي۔ پس کموالی او زیاتوالی زمونږ په نزد د اصل عقد سره ملحق کیږي"۔

په دې قاعده باندې په تلو سره دا ویلی شو چه د نظر لاندې معاملې کښې په قیمت کښې د غه زیاتوالی د اصل مبیعې په عوض کښې راځي، که چېرته قیمت د نقدو په صورت کم وي او یا د پور په صورت کښې زیات وي په دواړو صورتونو کښې د مبیعې قیمت

ګڼل کیږي۔ نو د بیع باطل تعریف "ما یؤخذ من الانسان بغیر عوض" او یا "ما لم یکن فی مقابلة شیء حقیقی" کوم چه په مروجه معامله باندې هیڅکله نه صادقیږي، او دا بالکل نه ترې معلومیږي چه بائع ته زیاتوالی بغیر د عوض نه ملاو شوی دی بلکه په دې کښې به ټول قیمت د مبیعې وي۔ د اصل او د زیاتوالي په منځ کښې داسې شدت اتصال موجود دی چه د دواړو له یوه او بل څخه جلاوالی متصور نه دی۔ داسې هیڅ کله نه ویل کیږي چه د دې قیمت دومره حصه د مبیعې ده او دومره ئې په منځ کښې د اجل دی۔ آخر په "اجل" کښې دومره قوي اتصال چېرته شته چه هغه مبیعه شمار کړی شي۔ علامه ابن عابدینؒ فرمایي:

لان الاجل فی نفسه لیس بمال فلا یقابله شیء حقیقة اذا لم یشترط زیادة الثمن بمقابلة قصدا و یزاد فی الثمن لاجله اذا ذکر الاجل بمقابلة زیادة الثمن قصدا. (رد المحتار علی الدر المختار ج۴، ص۱۵۸، باب المرابحة و التولیة)

"ځکه چه اجل پخپله کوم مال نه دی، پس په حقیقت کښې چه کله د ثمن زیاتوالی قصدا د هغه په عوض کښې نه وي شمار شوی نو هیڅ شی د هغه معاوضه نه ده۔ البته په قیمت کښې زیاتوالی کیدلی شي او حال دا چه اجل د ثمن د زیاتوالي په مقابلې کښې ذکر کړی شوی دی"۔

په هر حال د بیع باطل تعریف په دې باندې صادق نه شي راتلی ځکه چه "لَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ" له مخې دا معامله ناجائزه نه راووځي بلکه د "اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ" له مخې جائز دی۔ د قسط او د ادا کولو په صورت کښې د مشتري د سهولت په نظر کښې نیولو سره دا وینا بې ځایه نه ده چه مشتري په یوه وخت کښې د ادا کولو طاقت د نه درلودلو په وجه سره د مبیعې د اخیستلو نه محروم شي او مشتري په یو ځای د ادا کولو له بار څخه خلاص شي۔ او دا معمولي زیاتوالی د روپو په خوښۍ سره برداشت کوي او پرې راضي وي۔ نو ځکه د مشتري د ناخوښۍ خبره بې ځایه ده او د دې دعوې خلاف واقع ده۔ او دا ځانته خبره ده چه که چېرته بائع د احسان څخه کار واخلي او په کم قیمت باندې د مبیعې پلورلو ته تیار شي نو د هغه څخه به مشتري ته نوره خوښي هم حاصلیږي لیکن د ده د زیاتې خوښۍ یو بل صورت هم دی چه بائع یواځې د الله تعالې د رضا په خاطر مبیعه بې له څه عوضه مجاناً د مشتري په حواله کړي۔ لیکن هغه د معاشرې لازمي حصه ګرځول او یا هر څوك د احسان پابند جوړول د شریعت د عادلانه نظام سره تصادم لري۔ ځکه چه شریعت په چا باندې د داسې اضافي بار اچولو په حق کښې نه دی البته د تقوٰی او د نیکۍ د حاصلولو دروازې هر وخت په دواړو باندې خلاصې دي۔

د دریمې وجهې کمزوري

د حضرت علي رضی الله عنه نه دا روایت چه "هر هغه پور چه د منفعت اندوزۍ ذریعه جوړیږي نو هغه سود دی" حکم ئې ظاهر دی او په دې معاملې باندې ئې نښلول او تطبیقول ډېر مشکل معلومیږي ځکه چه د غه حکم هلته دی چېرته چه د پور په

موجودوالي کښې د ائن له مديون څخه د کوم مادي منفعت استفاده وکړي او ظاهره خبره ده چه دا حکم هلته کيدلی شي چه چېرته د پور معامله د وجود په اعتبار سره د منفعت د حصول څخه مخکښې وي۔ ليکن د دې معاملې نوعيت له دې څخه مختلف دی۔ هيڅکله هم د اسې نه دي شوي چه اول قرض يعنې پور ورکړي او بيا وروسته د پور د ورکولو په وجه د منفعت معامله ورسره وکړي۔ بلکه د دې معامې مونږ د اسې تعبير کولی شو چه دا يوه د اسې معامله ده چه د دې په سر فائده يعنې مشتري ته د پيسو په ورکولو کښې د آسانتيا فائده او بائع ته په قيمت کښې مالي فائده ورسيده۔ ګواکه د ظاهري انتفاع د ائره د اسې هم نه ده کومه چه يو اځې د دائن تر ذاته پورې محدوده وي بلکه د ائن او مديون دواړه د دغې فائدې څخه برخمن کيږي۔ بيا هم د انتفاع د کوم غير واقعي او امکاني احتمال شبهه ور سره ممکنه ده۔ او په دې عقد باندې د غير مستحسن حکم لګول کيږي کوم چه د خواصو تر دائرې پورې محدود دی۔ ليکن دا بالکل حرام او ناجائز ګرځولو سره د نورو اصولو سره هم متصادم دی۔ مونږ ګورو چه د معاشرې ۹۸ فيصده خلك په دې کاروبار کښې مبتلا دي نو دوی د جواز د احتمال په لرلو سره سره په حرامو کښې ګڼول د انشمندي نه دی۔ چېرته چه د جواز امکان وي او دغه احتمال له يوه شرعي نص سره په ظاهره متصادم هم نه وي نو د جواز د معاملې لپاره د اسې احتمال بنياد جوړول اوفق بالروايت و الدرايت دی اګر که د حراموالي لپاره په بله خوا کښې کوم احتمال معلوميږي، بيا هم د تقوی خبره له دې څخه جدا ده ځکه چه د تقوی لپاره د د اسې مشتبهاتو څخه د ځان ساتل هم کمال ګڼل کيږي۔

بـــــاب السلم

د بيع سلم احکـــــــام او مسئلې

د بيع سلم حقيقت

سوال: يوه کارخانه يا کمپنی چه خپل مصنوعات په سيزن کښې پلورې نو يو قيمت ورته معلوموي نو که چېرته يو څوك هغه ته پيشګي روپۍ ورکړې بيا هغه ته خصوصي رعايت ورکوي او د تاکلي قيمت څخه ئې په کم قيمت ورکوي او د وعدې مطابق خپل مصنوعات هغه ته ورکوي۔ نو آيا د يوې کمپنی يا کارخانې لپاره دا طريقه اختيارول شرعا جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: يوې کمپنی يا کارخانې ته مخکښې پيشګي ورکول او په تاکلي وخت باندې په رعايتي قيمت سره د هغې د مصنوعاتو اخيستل د بيع سلم په حکم کښې راځي۔ او د اسې عقد په هغه وخت کښې جائز دی کله چه په هغه کښې لاندينې شرائط موجود وي۔

۱۔ جنس معلوم وي ۲۔ نوع معلومه وي ۳۔ صفت معلوم وي ٤۔ قدر او اندازه معلومه وي ٥۔ موده او وخت معلوم وي يعنې کم تر کمه يوه مياشت وي ٦۔ رأس المال معلوم وي ۷۔ د مطلوبه شي د ورکولو ځای به معلوم وي ۸۔ د جد ايي نه مخکښې په رأس المال باندې قبضه وي۔

لما قال العلامة الحصكفیؒ: السلم هو........ شرعا بيع آجل و هو السلم فيه بعاجل و هو رأس المال. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٥، ص۲۰۹، باب السلم)

قال العلامة ابن الهمام رحمه الله: معناه الشرعی بيع آجل بعاجل........ و سيذكر المصنف شرائطه. (فتح القدير ج٦، ص٢٠٤، باب السلم) و مثله فی الهندية ج٣، ص١٧٨، باب السلم)

د مالدار لپاره د بيع سلم اجازه او رخصت

سوال: آيا په شريعت مطهره کښې د غني لپاره د بيع سلم رخصت شته او که بيع سلم يو اځې د غريبانو لپاره خاص دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په عقد سلم کښې د فقيرانو او غريبانو ضرورت په بنيادي ډول سره محرك دی ليکن د ضرورت موجودوالی يوه خفيه معامله ده چه په دې باندې هر څوك خبريدل يو مشکل کار دی ځکه شريعت په د اسې حالت کښې په بيع سلم کښې د شرائطو موجودوالي ته اعتبار ورکوي او د غريبانو او اميرانو د دواړو لپاره ئې جائز ګرځوي۔ لکه څرنګه چه د سفر په حالت کښې د مشقت او تکليف څخه پرته محض سفر ئې د مشقت او تکليف قائم مقام ګرځولی دی۔

لما قال العلامة ابن الهمام رحمه اللّٰه: و لما كان جوازه للحاجة و هی باطنة انيت بامر ظاهر كما هو المستمر فی قواعد الشرع كالسفر للمشقه و نحوه و هو ذكر الاجل فلم يلتفت بعد ذٰلك الی كوّن المبيع معدوما عند السلم اليه حقيقة او موجودا قادراً هو عليه. (فتح القدير ج٦، ص٢١٨، باب السلم)

قال العلامة جلال الدین الخوارزمیؒ: قلنا شرعیته لرفع حاجة المفالیس و الافلاس امر باطن لا یمکن الوقوف علی حقیقته و الشرع بنی هٰذه الرخصة علی الحاجة...... و البیع با لخسران دلیل الحاجة و نظیره اقامة السفر مقام المشقه اقامة النکاح مقام الماء فی النسب. (الکفایة فی ذیل فتح القدیر ج۶، ص۶۱۹، باب السلام، قادرا تحت قوله: لو کان قادرا علی التسلیم لم یوجد المرخص) و مثله فی العنایة علی هامش فتح القدیر (ج۶، ص۲۱۷، باب السلم)

په نوټونو کښې هم د بیع سلم اجازه شته

سوال: یوه سړي له چا څخه امریکایي ډالر واخیستل او د هغو په بدل کښې ئې د پاکستاني نوټونو د ورکولو وخت وټاکه او معامله ئې سره فیصله کړه نو دا شرعا جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نوټ چونکه په خلقي او پیدائشي ډول سره ثمن نه دی بلکه د عرف او رواج په وجه سره ئې د ثمن حیثیت اختیار کړی دی ځکه د ثمن عرفي د جوړیدلو نه وروسته په هغه کښې څه قدر پاتې نه شو بلکه د عدد متقارب په حکم کښې راغی او د عقد سلم د جواز ګنجائش پکښې پیدا کیږي. نو که چېرته د سلم د شرائطو رعایت پکښې وشي او یو سړي د اسې معامله وکړي نو په ظاهره سره په دې کښې څه حرج نشته، او بیا هم که چېرته د سود خوري لپاره دغه طریقه خپله شي نو بیا له دې څخه اجتناب ضروري دی.

لما قال العلامة علاؤ الدین ابو بکر الکاسانی رحمه اللّٰه: و اما السلم فی الفلوس عددا فجائز عند ابی حیفة او ابی یوسف رحمهما اللّٰه و عند محمد رحمه اللّٰه لا یجوز بناءً علی ان الفلوس اثمان عنده فلا یجوز السلم فیها کما لا یجوز السلم فی الدراهم و الدنانیر و عندهما ثمنیتها لیست بلازمة بل تحمل الزوال لانها ثبت با لاصطلاح فتزول با لاصطلاح. (بدائع الصنائع ج۵، ص۲۰۸، باب السلم، فصل و اما الذی یرجع الی المسلم فیه فانواع)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و یصح فی العددی المتقارب کا لبیض و الجوز و الفلس لانه عددی یمکن ضبطه فیصح المسلم فیه و قیل لا یصح عند محمدؒ لانه ثمن ما دام یروج و ظاهر الروایة عن الکل الجواز. (البحر الرائق ج۶، ص۱۵۶، باب السلم) و مثله فی رد المحتار (ج۵، ص۲۱۰، باب السلم)

په بیع سلم کښې د ټول قیمت وصولول ضروري دي

سوال: د بائع او مشتري په منځ کښې په دوه زره روپو باندې د لسو منو غنمو عقد په دې شرط باندې وشو چه شپاړس سوه روپۍ اوس درکوم او حال دا چه دوه سوه روپۍ دوه میاشتې وروسته د غلې د وصولولو په وخت کښې درکوم، نو آیا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په بیع سلم کښې د رأس المال تعین او په عقد مجلس کښې ئې ادا کولو ضروري دي لهذا که د رأس المال د قبض کولو نه مخکښې که چېرته دواړه خواوې سره جلا شي نو دا بیع صحیح نه ده. بیا هم چه د رأس المال څومره حصه ادا شوې وي نو په ومره کښې به سلم جاري کیږي نو په نوموړي معاملې کښې به هم په اتو منو غنمو کښې بیع م صحیح دی او په دوو منو کښې باطل دی. البته که د مجلس د پورته کیدو نه مخکښې ټولې پیسې ادا کړی شي نو عقد جائز دی.

و فی الهندیة: السادس ان یکون مقبوضا فی مجلس السلم سواء کان رأس المال دینا او عینا عن عامة العلماء استحسانا و سواء قبض فی اول المجلس او فی آخره لان الساعات المجلس لها حکم ساعة واحدة و کذا لو لم یقبض حتی قاما یمسیان فقبض قبل ان یفترقا بابدانهما جاز. آه

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و بقی من الشروط قبض رأس المال و لو عینا قبل الافتراق بابدانهما و ان ناما او سارا فرسخا او اکثر. قال العلامة ابن عابدینؒ: (قوله قبض رأس المال) فلو انتقض القبض بطل السلم. آه (رد المحتار ج۵، ص۲۱۶، کتاب البیوع، باب السلم) و مثله فی الاختیار لتعلیل المختار (ج۲، ص۳۴، باب السلم)

په څناورو کښې د بیع سلم حکم

سوال: د دې مسئلې په باره کښې د دین علماء څه فرمایي چه په حیواناتو کښې بیع سلم شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په حیواناتو کښې د بیع سلم د فقهاوو تر منځه مختلف فیه ده. د احنافو په نزد چونکه د بیع سلم لپاره به دا شرط وي چه هغه د وزني، کیلي او یا به د اعدادو متقاربه وو څخه وي. او حیوانات په یوه قسم کښې هم نه دي داخل نو ځکه د احنافو په نزد په حیواناتو کښې بیع سلم جائز نه دی.

عن ابن عباس رضي اللّٰه عنه قال: قدم رسول اللّٰهﷺ المدینة و هم یسلفون فی الثمر فقال من اسلف فلیسلف فی کیل معلوم و وزن معلوم الی اجل معلوم. (جامع الترمذی ج۱، ص۲۴۵، باب ما جاء فی السلف فی الطعام او التمر)

قال الشیخ ظفر احمد عثمانی رحمه اللّٰه: عن ابن عباس رضي اللّٰه ان رسول اللّٰهﷺ نهی عن السلف فی الحیوان. اخرجه الحاکم فی المستدرک ج۲، ص۵۲، و قال صحیح الاسناد. (اعلام السنن ج۴، ص۴۱۹، باب النهی عن السلف فی الحیوان) و مثله فی رد المحتار. (ج۵، ص۲۱۱، باب السلم)

د رسائلو او جریدو مالکان له خریدارو څخه مخکښې قیمت اخیستل

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا د مذهبي او غیر مذهبي رسالو مالکان د اخیستونکو څخه د سالانه چندې روپۍ مخکښې وصولوي او حال دا چه د ټول کال رسالې د پیسو د وصولولو نه وروسته ورکول کیږي. نو آیا د رسائلو او جریدو مالکانو ته مخکښې پیسې اخیستل شرعا جواز لري او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د رسالو د یو کال پیسې مخکښې وصولول د بیع سلم معامله ده کومه چه شرعا جائزه ده. ځکه چه په دې کښې اصل معامله د کاغذ وي او هغه په ټول کال کښې په بازار کښې موجود وي.

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: السلم شرعا بیع آجل و هو المسلم فیه بعاجل و هو رأس المال و رکنه رکن البیع حتی ینعقد بلفظ بیع فی الاصح..... و شرطه ای شروط صحته التی تذکر فی العقد سبعة بیان جنس کبر و

تمر و بيان نوع كمسقى او بعلى و صفته و قدر و اجل و بيان قدر رأس المال آه (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٥، ص۲۰، ۲۱٤، باب السلم)

قال الشيخ وهبة الزحيلى: و هو ان يسلم عوضا حاضرا فى عوض موصوف فى الذمة الى اجل.........

الثامن ان يكون جنس المسلم فيه اى المبيع موجودا فى الاسواق بنوعه و صفته من وقت العقد الى حلولو اجل التسليم و لا يتوهم انقطاعه عن ايدى الناس. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٤، ص۵۹۸، ۶۰۸، المطلب الثانى تعريف السلم)

د جوس په کریټ یعنې ډبیو یا کارټنونو کښې د بیع سلم حکم

سوال: د شربت او د جوس د کمپنیو د خپلو مصنوعاتو د پلورلو یوه طریقه دا ده چه کمپنۍ خپل یو تاجر ته په عام نرخ مثلاً ۶۲ روپۍ باندې کارټن ورکوي، لیکن که چېرته هغه تاجر کمپنۍ ته دغه پیسې د سیزن څخه څه وخت مخکښې ادا کړي نو کمپنۍ هغه ته په ۵۲ روپۍ کارټن ورکوي او د اسې هغه اخیستونکي ته ۱۰ روپۍ په یوه کارټن کښې ګټه کیږي۔ د پلورلو او د اخیستلو دا طریقه د تاکلې مودې او نه تاکل شوې مودې دواړه قسمه وي۔ نو آیا د بیعې دا طریقه شرعاً صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغه بیع د سلم په طریقې سره وي نو صحیح ده خو چه د سلم شرائط پکښې موجود وي او د بیع سلم شرائط دا دي۔

۱۔ جنس معلوم وي ۲۔ د مال نوعیت معلوم وي ۳۔ صفت ئې معلوم وي ٤۔ مقدار ئې معلوم وي ۵۔ د وخت تعین ئې شوی وي ۶۔ د مبیعې د اداکولو ځای معلوم وي۔ (اشراق نوري شرح قدوري ۱۳٤، باب السلم) او که چېرته ئې د پیشګي دغه پیسې کمپنۍ ته د پور په ډول ورکړي نو د دې حدیث له مخې چه "كل قرض جر نفعه فهو ربوٰا" دا به د سود معامله وګرځي۔

قال العلامة الحصكفى رحمه الله: و شرطه اى شروط صحته التى تذكر فى العقد سبعة بيان جنس و نوع و صفة و قدر و اجل و اقله فى السلم شهر و بيان مكان الايفاء للمسلم فيه الخ. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٤، ص۲۳۱، باب السلم)

که چېرته مسلم فیه ورك شي نو.......؟

سوال: که چېرته یو سړي د چا سره بیع سلم وکړي او د تاکلي وخت څخه مخکښې هغه شی معدوم شي نو آیا مشتري د هغه په عوض او بدل کښې بل شی اخیستی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په بیع سلم کښې چه کله مسلم فیه (د کوم شي په باره کښې چه بیع شوې ده) له تاکلي وخت نه مخکښې معدوم وګرځي او مسلم الیه (بائع) ئې له اداکولو څخه عاجز شي نو په دې صورت کښې مشتري ته اختیار حاصل دی چه هغه دې د مسلم فیه پورې انتظار وکړي او یا دې خپلې روپۍ واپس واخلي او که نه وي نو په بدل کښې د بل شي اخیستل شرعاً جائز نه دی او بیا هم د عقد د ختم کولو نه وروسته یعنې چه کله خپلې پیسې ورنه واخلي له هغه نه وروسته له سره د نوې بیعې په کولو کښې هیڅ حرج نشته۔

قال العلامة الحصكفى رحمه الله: و لو انقطع بعد الاستحقاق خير رب السلم بين انتظار وجوده و الفسخ و

اخذ رأس المال. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٤، ص۲۳۸، باب السلم)

و فى الهندية: و لا يجوز ان ياخذ عوض رأس المال شيئا من غير جنسه فان اعطاه من جنس اجود منه او اردأ فيه الصفة الخ. (الفتاوٰي الهندية ج۳، ص۱۸۶، الفصل الثالث فيما يتعلق بقبض رأس المال و المسلم فيه)

لـــــه دواړو خواوو څخه په موزوني شیانو کښې بیع سلم جائز نه دی

سوال: یوه سړي څو بوجۍ بوره یوه بوجۍ په ۸۱۰ روپۍ په یوه سړي باندې د دوه نیمې میاشتې په میعاد باندې وپلورله او له هغه څخه ئې وعده واخیسته چه ته به ما ته په دغه وخت کښې شرشم راکوې او حال دا چه د معاهدې په وخت کښې د شرشمو من په ۶۱۰ روپۍ وو او کله چه هغه تاکلې نیټه پوره شوه نو د شرشمو من تقریباً په یوولس سوه روپۍ وو نو په ده باندې هغه د شرشمو مالك انکار وکړ او بالآخره په ۹۰۰ روپۍ في من فیصله وشوه۔ نو اوس دغه نفع یعنې ۲۹۰ روپۍ في من اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په ظاهره سره د بیع سلم دا صورت ناجائز دی لهذا دواړه خواوې دې دا عقد ختم کړي۔ هر یو دې خپل خپل مال او یا د هغه مثل که چېرته عین مال موجود نه وي واپس واخلي او که چېرته د سلم ټول شرائط موجود هم وي بیا هم په بوره او شرشمو کښې بیع سلم جائز نه دی لهذا په نوموړي صورت کښې په دې بیعې باندې به د بیع فاسد حکم جاري شي ځکه چه دغه عقد ربوٰا ده او عقد ربوٰا د فاسدې بیعې په حکم کښې راځي۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: من جملة صور البيع الفاسد جملة العقود الربوية. (رد المحتار على حاشية الدر المختار ج٤، ص۱۹۷، باب الربوٰا)

و قال العلامة خالد الآتاسىؒ: ثم اعلم ان اسلام الموزون فى الموزون و المكيل فى الموزون لا يصح لوجود محلى الربوٰا او احدهما الخ. (شرح المجلة ج۲، ص۲۸۷، باب السلم)

و فى الهندية: العاشر ان لا يشمل البدلين احد وصفى علة ربا الفضل و هو القدر او الجنس و هذا مطرد الا فى الاثمان فانه يجوز اسلامها فى الموزونات لحاجة الناس. (الفتاوىٰ الهندية ج۳، ص۱۸۰، ۱۸۱، الباب الثامن عشر فى السلم، الفصل الاول)

په ځنغوزو (چلغوزي) کښې د بیع سلم حکم

سوال: زمونږ په علاقې (وزیرستان ایجنسي) کښې خلك د ځنغوزو په دانو کښې بیع سلم کوي او دغه ځنغوزي په ټول ملك کښې په مختلفو مارکیټونو او بازارونو کښې د کال په دولسو میاشتو کښې پیدا کیږي او حال دا چه زمونږ په علاقې کښې تر اوسه پورې په ونو کښې دي نو آیا په داسې ځنغوزو کښې بیع سلم جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ظاهره خبره ده چه په دغو نویو ځنغوزو کښې چه تر اوسه پورې په ونو کښې دي او مارکیټ ته نه وي رسیدلي او په مارکیټونو کښې موجود هم نه وي نو دا بیع سلم درست نه دی۔

لما فی الهندیة: السادس ان یکون المسلم فیه موجودا من حین العقد الی حین المحل حتی لو کان منقطعا عند العقد موجودا عند المحل و علی العکس او منقطعا فیما بین ذلك و هو موجود عند العقد و المحل لا یجوز کذا فی فتح القدیر وحد الوجود ان لا ینقطع من السوق وحد الانقطاع ان لا یوجد فی السوق و ان کان یوجد فی البیوت هکذا فی السراج الوهاج. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص ۱۸۰، الباب الثامن عشر فی السلم، الفصل الاول)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و لا فی حنطة حدیثة قبل حدوثها لانها منقطعة فی الحال و کونها موجودة وقت العقد الی وقت المحل شرط فتح القدیر. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص ۲۳۰، باب السلم) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص ۱۵۵، باب السلم)

په افیونو کښې بیع سلم جائز دی

سوال: یوه سړي مثلا زید بکر ته وویل چه ما ته زر روپۍ راکړه، د دغو روپو په بدل کښې زه راتلونکی کال کښې د فصل په موقع یوه کیلو افیون درکوم او حال دا چه ده ته دا هم معلومه ده چه په راتلونکي کال کښې به د افیونو کیلو به په دری زره روپۍ وي نو آیا دا معامله د سود ده او که جائزه ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا د بیع سلم یو صورت دی لهٰذا که د بیع سلم د ټولو شرائطو لحاظ وساتل شي نو جائز دی او که د شرائطو لحاظ و نه ساتل شي نو جائز نه دی او په دې معاملې کښې د قیمت د زیاتوالي او کموالي هیڅ فرق نه پریوزي- یعنې اثر نه پرې کوي-

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: (السلم) هو...... بیع آجل...... بعاجل...... و رکنه رکن البیع.... و یصح فیما امکن ضبط صفته و معرفة قدره کمکیل و موزون الخ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص۲۲٦، باب السلم)

و فی الهندیة: ان یکون المسلم فیه موجودا من حین العقد الی حین المحل...... ان یکون السلم فیه مما یتعین با لتعین و هکذا شروط آخر. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص ۱۸۰، باب السلم)

په رختونو کښې د بیع سلم حکم

سوال: که څېرته یو سوداګر د یوې کارخانې له مالك سره د اسې معامله وکړي چه په راتلونکي کال کښې د ګرمۍ په موسم کښې دوه تانه رخت په کار ده او ټول شرائط سره طی کړي او د کارخانې مالك ته روپۍ ورکړي نو آیا دا سودا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د بیع سلم مسئله ده نهذا د سودا د کولو په وخت کښې که څېرته د کپړې ټول اوصاف، مقدار، او کپړه به د کوم شي نه جوړه وي او د داسې نورو شرائطو موجود والی چه په کښې وي نو شرعا دا سودا جائزه د..

لما فی مجلة الاحکام: الکرباس و الجوخ و امثالهما من المزروعات یلزم تعیین طولها و عرضها و رقتها و من ای شیء نسج و من نسج ای محل هی. (شرح المجلة لرستم باز ص۲۱۸، المادة، ص۳۸۵، الفصل الثالث فی السلم)

کتاب الربٰوا

قال الله تعالیٰ

یا ایها الذین امنوا لا تاکلوا الربوٰا اضعافا

مضاعفة واتقوا الله لعلکم تقلحون

کتاب الربوٰا

د سود احکام او مسئلې

د سود حقیقت

سوال: جناب مفتي صاحب د سود تعریف څه دی او دا په کومو صورتونو او په کومو شیانو کښې وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پورورې ته د خاص وخت لپاره څه پیسې په دې شرط سره ورکول چه د واپس اخیستلو په وخت کښې د اصل زر یعنې روپو څخه څه زیاتې روپۍ ترې واخلي، سود ویل کیږي۔ او د اسې پور ته د پور سود وایي۔

لما قال الامام الجصاص الرازیؒ: هو القرض المشروط فیه الاجل و زیادة مال علی المستقرض. (الاحکام القرآن ج۱، ص۴۶۹، باب البیع)

یوه ربوٰا د بیع او شراء د معاملاتو وي۔ له حضور اقدس ﷺ څخه په دې باره کښې د شپږو شیانو ذکر راغلی دی چه پخپل منځ کښې د هغو تبادله په برابره اندازه کوی او هغه شپږ شیان دا دي سره زر، سپین زر، غنم، وربشې، خرما او انګور۔ په دې شیانو کښې د سود علت د احنافو په نزد قدر او جنس دی او که چېرته جنس بدل کړی شي او کوم یو شی پکښې کیلي او وزني نه وي نو بیا په بدلولو کښې کموالی او زیاتوالی جائز دی او که چېرته د یوه شي په منځ کښې قدر او جنس وي نو د تبادلې په وخت کښې کموالی او زیاتوالی وشي نو دا به سود وي په دغو کښې د پور معامله به هم سود وي او که چېرته د سود په دواړو علتونو کښې یو علت موجود شي نو کموالی او زیاتوالی به جائز وي لیکن پور بیا هم په سود کښې راځي۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: الربا و شرعا فضل و لو حکما فدخل ربا النسیئة و البیوع الفاسدة فکلها من الربٰوا خال عن العوض بمعیار شرعی و هو الکیل و الوزن مشروط لاحد المتعاقدین فی المعاوضة و علة القدر مع الجنس و ان وجد احرم الفضل و النساء و ان وجد احدهما حل الفضل وَ حرم النساء. (الدر المختار علیٰ هامش رد المحتار ج۴، ص۱۷۶، باب الربٰوا)

لما فی الهندیة: و هو فی الشرع عبارة عن فضل مال لا یقابله عوض فی معاوضة مال بمال و هو محرم فی کل مکیل و موزون بیع مع جنسه و علته القدر و الجنس و ان وجد القدر و الجنس حرم الفضل و النساء و ان وجد احدهما و عدم الآخر حل الفضل و حرم النساء. (الفتاوٰي الهندیة ج۳، ص۱۱۷، باب الربٰوا) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۱۲۴، باب الربٰوا)

له سود څخه د بچ کیدو حیله

سوال: نن صبا بانکونه خلکو ته تراکتورونه اخلي او بیا بانك د تراکتورو کمپنیو ته چه څومره روپۍ ورکړي وي هغه روپۍ له خریدار څخه له سود سره سره په قسطونو وصولوي نو آیا له دې سود څخه د بچ کیدو څه حیله شته او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ که چېرته بانك له کمپنۍ څخه تراکتور اخلي او بیا ئې په خلکو پلوري نو په قسطونو سره زیاتې پیسې له قیمت خرید څخه وصولولی شي او دپیسو دا زیاتوالی دپورله وجهې دی کوم چه شرعا مرخص دی۔

لما قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: الا یریٰ انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهدایة ج۳، ص۷٤، باب الربوٰا)

﴿۲﴾ او که چېرته بانك د خرید اروکیل جوړ شي او تراکتور خپل مؤکل ته له قیمت خرید نه په زیاتو روپو باندې ورکوي نو دا ناجائز دی ځکه چه وکیل به د خپل مؤکل د شرائطو مطابق چلیږي۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: اذا قال له اشتر لی جاریة بالف درهم فاشتری جاریة باکثر من الالف تلزم الوکیل دون المؤکل لانه خالف المؤکل فیصیر مشتریا لنفسه. (بدائع الصنائع ج٦، ص۲۹، بیان فی حکم التوکیل)

﴿۳﴾ بانك مثلاً د خرید ار له خوا څخه کارخانې ته یو لك روپۍ ورکړي او له خرید ار څخه یو نیم لك روپۍ وصولول غواړي او تراکتور خرید ار له کمپنۍ څخه واخیست لیکن اوس د بانك پیسې په هغه باندې پور دی او بانك غواړي چه زیاتې پیسې وصول کړي نو د دې حیله دا ده چه بانك د خپل یو لك روپو په عوض کښې له خرید ار څخه زمکه یا نور شیان واخلي او پخپلې قبضې کښې ئې راولي او بیا دغه زمکه په خرید ار باندې په یو نیم لك روپو وپلوري او دغه یو نیم لك روپۍ په قسطونو وصول کړي۔

قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: رجل له علی آخر عشرة دراهم فاراد ان یؤجلها الی السنة و یاخذ منه ثلاثة عشر فا لحیلة ان یشتری منه بتلك العشرة متاعا و یقبض المتاع منه و قیمة المتاع عشرة ثم یبیع المتاع منه بثلاثة عشر الی سنة. (البحر الرائق ج٦، ص۱۲٦، باب الربوٰا)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: رجل له آخر عشرة دراهم فاراد ان یؤجلها الی سنة و یأخذ منه ثلاثة عشر فا لحیلة ان یشتری منه بتلك العشرة متاعا و یقبض المتاع منه و قیمة المتاع عشرة ثم یبیع المتاع منه بثلاثة عشر الی سنة. (خلاصة الفتاویٰ ج۲، ص۱۰۲، باب الربوٰا)

د سود د روپو مصرف

سوال: د بانك له خوا څخه د منافعو په شکل کښې پیدا کیدونکي روپۍ کوم چه د سود روپۍ دي پخپل استعمال کښې راوستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اول خو دا ضروري دی چه په بانك کښې د پیسو د ایښودلو څخه ځان لرې وساتی او که چېرته مجبورا د حفاظت په نیت ئې پکښې جمع کوی نو په هغو باندې چه کوم سود د منافعو په صورت کښې ورته حاصلیږي هغه د بانك والو ته مه پرېږدی بلکه له هغو څخه ئې را واخلی او په غریبانو او فقیرانو باندې ئې بې له نیت د ثواب څخه صدقه کړی۔

قال العلامة الحصکفیؒ: کما لو غصب عبدا و آجره فینقص فی هذه الاجارة..... و ان استغله فنقصه الاستغلال او آجر المستعار و نقص ضمن النقصان و تصدیق بما بقی من الغلة و الاجرة.

قال العلامة ابن عابدینؒ: و یؤمر ان یتصدق بها لاستفادتها ببدل خبیث و هو التصرف فی مال الغیر. (الدر المختار و رد المحتار ج٦، ص۱۸۸، کتاب الغصب)

لما قال العلامة ابن البزاز رحمه اللّٰه: و لو بلغ المال الخبیث نصابا لا یجب فیه الزکوٰة لان الکل واجب التصدق. (البزازیة علی هامش الهندیة ج٤، ص۸٦، کتاب الزکوٰة، الفصل الثانی فی المصرف)

ګره، غنم په پور ورکول او د بیرته ادا کولو په وخت کښې د زیاتوالي شرط لګول سود دی

سوال: یوه سړي له بل څخه ګړه او غنم د یوې خاصې پیمانې مطابق د خاص وخت لپاره په پور واخیست او په ټاکلي وخت کښې ئې د بیرته اخیستلو سره د زیاتوالي شرط ولګاوه چه د پور د ادا کولو په وخت کښې به په دومره مقدار کښې ګړه او غنم او ورسره به دومره اندازه زیاتی هم راکوې آیا د شریعت له مخې د اسې معامله جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اشیاء ربویه کښې یو تر بله قرض او اقراض جائز دی لیکن د واپس کولو په وخت کښې مساوات شرط دی۔ غنم خو منصوص دی، په حدیث شریف کښې مساوات شرط دی او په ګړه کښې د دې منصوص علت، قدر او جنس موجود دی لهذا د غنمو او ګړې د واپس کولو په وخت کښې د زیاتوالي شرط لګول سود دی۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: الحنطة با لحنطة مثلا بمثل یداً بیدٍ و الفضل ربوٰا و عد الاشیاء الستة. (الهدایة ج۳، ص۷۷، باب الربوٰا)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: کل قرض جر نفعاً حرام اذا کان مسروطا. (رد المحتار ج٥، ص۱٦٦، باب الربوٰا، مطلب کل قرض جر نفعا حرام) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص۲٥٤، باب الربوٰا)

په سود باندې قرض ورکول نا جائز دي

سوال: جناب مفتي صاحب آیا په سود باندې پور ورکول شرعا جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په سود باندې پور ورکول د شریعت له مخې قطعا ممنوع او حرام دي په دې کښې د هېڅا اختلاف نشته۔ په قرآن مجید او حدیث نبویؐ کښې صراحتا د دې ممانعت موجود دی ځکه په سود باندې پور ورکول جائز نه دي۔

لما قال اللّٰه تعالی: احل اللّٰه البیع و حرم الربوٰا. (سورة البقرة، آیت ۲۷٥)

و فی الهندیة: قال محمدؒ فی کتاب الصّرف ان ابا حنیفةؒ کان یکره کلّ قرض جر منفعة. (الفتاویٰ الهندیة ج۳، ص۲٦٤، فصل فی الصّرف) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص۱۳۱، کتاب الحوالة)

په مؤجل پور کښې د کموالي په کولو سره معجل وصولول حرام دی

سوال: د یوه سړي په بل سړي باندې پنځه زره روپۍ پور وې پوروړي په هغه کښې د کموالي مطالبه وکړه او د پور غوښتونکي وویل چه دوه زره روپۍ په دې شرط درته معاف کوم چه باقي

دري زره روپۍ زر او دستي راكړي نو د مقرض داسې كول جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرض غوښتونكي مقروض ته په دې شرط دوه زره روپۍ معاف كول چه باقي دري زره روپۍ فورا وصول كړي دا ناجائز دي په عقد كښې چه كوم وخت مقرر شوی وو دا د هغه عوض دی او دين مؤجل معجل كوي نو دا حرام دي۔

قال الامام الجصاص الرازى رحمه اللّٰه: الرجل يكون عليه الف درهم دين مؤجل فيصالحه منه على خمس مائة حاله فلا يجوز. (الاحكام القرآن ج۲، ص۱۸۷)

قال العلامة برهان الدين المرغينانیؒ: لو كانت له الف مؤجلة فصالحة على خمس مائة حالة لم يجز لان المعجل خير من المؤجل و هو غير مستحق با لعقد فيكون بازاء ما حطه عنه و ذٰلك اعتياض عن الاجل و هو حرام. (الهداية ج۳، ص۲۵۱، باب الصلح فى الدّين) و مثله فى الجوهرة النيرة (ج۲، ص۷، كتاب الصلح)

د پور په وركولو سره د ګټې متعين كول جائز نه دي

سوال: يوه سړي ته د كارو بار لپاره د سرمايې ضرورت وو او بل سړي ورته وويل چه په دې شرط باندې پيسې دركوم چه لس فيصده منافع به ماته ضرور راكوې نو آيا په دې شرط باندې قرضه وركول شرعا جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: روپۍ د پور په ډول وركول او په هغه باندې لس فيصده يا څومره منافع چه وي مقررول سود دی كوم چه ناجائز او حرام دی۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: كل قرض جر نفعاً حرام اى اذا كان مسروط كما علم مما نقله عن البحر. (رد المحتار ج۵، ص۱۶۶، باب الربوٰا، مطلب كل قرض جر نفعا حرام)

قال العلامة قاضى ثناء اللّٰه: قوله و حرم الربوٰا و المعنٰى ان اللّٰه تعالٰى حرم الزيادة فى القرض على القدر المرفوع. (تفسير مظهرى ج۱، ص۲۹۹، سورة البقرة) و مثله فى الاحكام القرآن للجصاص (ج۲، ص۱۸۹، سورة البقرة)

د مساوي حقوقو په وخت قرعه اندازي سود نه ده

سوال: څو كسان هره مياشت څه پيسې سره جمع كوي او بيا د قرعه اندازۍ په ذريعه چه د كوم يوه نوم راووځي نو هغه جمع شوې روپۍ هغه ته وركوي او بيا وروسته هم هره مياشت د خپلې حصې پيسې جمع كوي ليكن د قرعه اندازي په وجه بيا د هغه نوم نه ووځي او همدارنګه په هر ځل قرعه اندازي كښې د يوه يوه نوم راووځي اوس سوال دا دی چه آيا دا قرعه اندازي سود دی او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د څو كسانو په داسې مساوي طريقې سره پيسې جمع كول او د قرعه اندازي په وجه سره يوه كس ته هغه پيسې وركول دا د يوه او بل سره امداد او قرض دی۔ په دې كښې تملك او تمليك نشته بلكه هريو شريك دا غواړي چه دا ځل دغه جمع شوي روپۍ ماته راورسيږي نو د نزاع د رفع او د خوشحالتيا لپاره پچه سره اچوي او حال دا چه د ټولو شريكانو

حقوق سره مساوي وي نو دلته د زړه د طيب او رضاء لپاره د پچې اچول جائز دي۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و يكتب اساميهم و يقرع لتطيب القلوب. (رد المحتار ج۵، ص۱۶۶، كتاب القسمة)

قال العلامة ابوبكر الكاسانى رحمه اللّٰه: لا لان القرعة يتعلق بها حكم بل لتطيب النفوس و لورود السنة بها و لان ذٰلك انفٰى للتهمة فكان سنة. (بدائع الصنائع ج۷، ص۱۹، كتاب القسمة) و مثله فى البحر الرائق (ج۸، ص۱۵۲، كتاب القسمة)

د مشتري په لاس كښې مبيعه د نفع په شرط باندې د پلورلو وعده سود نه دی

سوال: زيد غوښتل چه بكر ته په سود باندې پور وركړي ليكن بكر انكار وكړ او په دې باندې د واړو د سود نه د بچ كيدو لپاره يوه حيله جوړه كړه چه: زيد بكر ته ووئيل چه زه تا ته دوه زره روپۍ دركوم او ته په هغو باندې رخت واخله او د دواړو طرفونو كرايه او خرچه هم دركوم او مال پخپله قبضه كښې اخلم او بيا يوه پيسه في روپۍ د نفع په حساب سره ئې په تا باندې پلوم نو آيا د سود څخه د بچ كيدو دا حيله صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له سود څخه د بچ كيدو مذكوره حيله صحيح ده، بكر د زيد وكيل جوړ شو او مال ئې واخيست او زيد ته ئې حواله كړ او بيا زيد په بكر د دوو زرو په رخت كښې يوه انه في روپۍ ګټه باندې په پور وپلوره نو دا بيع صحيح ده ځكه چه په دې صورت كښې زيد په نفع باندې خپل مال په بكر پلوري اګر كه سودا په پور ده ليكن په دې كښې هيڅ ډول سود نشته۔ زيد ابتداءً يواځې د بكر سره وعده كړې ده چه مال په تا باندې پلورم دا هم څه ناجائزه خبره نه ده۔

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه اللّٰه: كل حيلة يحتال بها الرجل يتخلص بها عن حرام اويتوصل بها الى حلال فهى حسنة. (الاشباه و النظائر ج۴، ص۳۱۹، كتاب الحيل)

قال العلامة محمد خالد الآتاسى رحمه اللّٰه: و كل حيلة يحتال بها الرجل ليتخلص بها عن حرام او ليتوصل بها الى حلال فهى حسنة. (شرح الجملة ج۲، ص۴۵۲، احكام الربوٰا) و مثله فى الهندية (ج۶، ص۳۹۰، كتاب الحيل)

د سود د روپو په عوض كښې د سود د روپو په وركولو سره ځان له پور څخه خلاصول

سوال: د يوه سړي په بانك كښې څه روپۍ وې چه په هغو كښې د همدغو روپو سود هم جمع شوی وو اوس هغه سړی د خپل كوم ضرورت لپاره له بانك څخه څه پيسې په پور باندې واخيستې او په هغو باندې هم د بانك سود راغی نو آيا دغه سړی خپل سود د بانك د سود په عوض كښې قبل القبض يا بعد القبض وركولی شي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په بانك كښې د پيسو په كيښودلو سره له دواړو خواوو څخه د سود معامله ده، په بانك كښې د پيسو كيښودل او يا د بانك د كوم سړي په ذمه روپۍ دواړه قوي دين دی او دواړه چه كله يوه او بل ته خپل سود پريږدي نو دا بيعه مقاصه او له سود څخه د نفع

15/15

حاصلول دي نو د سود د حرمت په وجه سره دا معامله هم حرامه ده۔

قال الله تعالی: احل الله البیع و حرم الربٰوا. (سورة البقره، آیت ٢٧٥)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: کل قرض جر نفعا حرام. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٥، ص١٦٦، باب الربٰوا) ومثله فی الاحکام القرآن للجصاصؒ (ج٢، ص١٨٩، سورة البقرة)

له مرهونه شي څخه د نفع شرط سود دی

سوال: زید له عمر څخه پنځه سوه روپۍ په پور واخیستې او خپله څه ځمکه ئې هغه ته د ګروي (رهن) په شکل په دې شرط ورکړه چه د ځمکې په حاصلاتو کښې دواړه برابر شریك یو نو شرعا د دوی دا معامله څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته زید عمر ته په دې شرط باندې قرض ورکړی وي چه د مرهونه شي څخه به نفع اخلي نو دا حرامه ده ځکه چه د "کلّ قرض جرّ نفعه فهو ربٰوا" په حکم کښې ده "اذا کان مشروطا صار قرضا فیه منفعة و هو ربٰوا و الا فلا باس" او که چېرته ئې د نفعې شرط نه وي لګولی بیا هم له هغه څخه نفع اخیستل جائز نه دي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و الغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع و لولاه لما اعطاه الدراهم و هٰذا بمنزلة الشرط لان المعروف کا لمشروط و هو ما یعین المنع. (رد المحتار ج٥، ص٣١٠، ٣١١، کتاب الرهن)

قال العلامة ابوبکر الجصاص الرازیؒ: قال ابوحنیفة او بویوسف و محمد رحمهم الله و الحسن بن زیادؒ و زفرؒ لا یجوز للمرتهن الانتفاع بشیء من الرهن و لا للراهن ایضا. (الاحکام القرآن ج١، ص٥٣١، باب ضمان الرهن) و مثله فی الاشباه و النظائر (ج٣، ص٢٤٤، کتاب الرهن)

د قدر د اشتراك په صورت کښې د پور تبادله ناجائزه ده

سوال: یوه سړي ته د جوارو ضرورت دی او هغه له یوه بزګر څخه د یوې معاهدې لاندې یوه خاصه اندازه جوار اخلي۔ بزګر ورته وایي چه زه درې میاشتې وروسته په دومره اندازه د دې په بدله کښې غنم درکوم نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې ډول پور بدلول شرعا جائز نه دی اګر که د جوارو او غنمو جنس سره مختلف دي لیکن جوار او غنم دواړه کیلي دي یعنې په پیمانې سره دواړه اندازه کیږي۔ د دوو شیانو په تبادلې کښې چه د جنس یا د قدر اشتراك نه وي نو تفاضل جائز دی او پور نا جائز دی او دې ته ربٰوا النسیئه وایي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: و ان وجد احدهما ای القدر وحده او الجنس وحده حل التفاضل و حرم النساء. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص٤٩٩، باب الربٰوا)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و النساء فقط باحدهما ای وحرم التاخیر لا الفضل بوجود القدر فقط او الجنس فقط. (البحر الرائق ج٦، ص١٢٨، باب الربٰوا) و مثله فی الهدایة (ج٣، ص٧٩، باب الربٰوا)

د نفع په شرط باندې په پور پیسې ورکول سود دی

سوال: له یوه دوکاندار څخه یوه خریدار غوښتل چه یو شی واخلي او حال دا چه هغه شی له هغه دوکاندار څخه نه وي۔ دوکاندار ورته وویل چه له ما څخه دا روپۍ واخله او د ځان لپاره مطلوبه شی واخله لیکن ما ته چه کله خپلې روپۍ واپس راکوې نو له اصلو روپو سره به دومره منافع هم راکوې، شرعا د دې حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مذکوره دوکاندار دا فعل بعینه د ربوا معامله ده ځکه چه په پور باندې ئې پیسې ورکړې او د واپس اخیستلو په وخت کښې د خپلو اصلو پیسو څخه د زیاتو روپو د اخیستلو شرط ولګاوه کوم چه سود دی نو دوکاندار ته یوائې د خپلو روپو د واپس اخیستلو حق حاصل دی۔

قال العلامة المرغینانیؒ: الذهب با لذهب مثلا بمثل و وزنا بوزن یداً بید و الفضل ربٰوا. (الهدایة ج٣، ص١٠٦، کتاب الصرف)

قال العلامة الزیلعی رحمه الله: اذ بیع جنس الاثمان بجنسه کا لذهب با لذهب او الفضة با لفضة یشترط فیه التساوی و التقابض قبل الافتراق و لا یجوز التفاضل فیه. (تبیین الحقائق ج٤، ص١٣٥، کتاب الصرف) ومثله فی البحرالرائق ج٦، ص١٩٢، کتاب الصرف)

د پور له وجهې د زیات قیمت وصولول سود نه دی

سوال: یو دوکاندار چه کله یو شی په پور باندې پلوري نو قیمت ئې د نقدو د قیمت په پرتله زیاتوي آیا داسې کول د شریعت له مخې سود خو نه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه شي په پور باندې د پلورلو په وجه د هغه په قیمت کښې زیاتوالی جائز دی ځکه د پور په مقابله کښې د نقدو فوائد او منافع زیات وي۔ مشهور متل دی چه "٩ روپۍ نقد ښې دي نه دیارلس روپۍ پور" نو له دې وجهې د نقدو او د پور په سودا کښې تفاوت جائز دی۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه الله: الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهدایة ج٣، ص٧٦، باب المرابحة و التولیة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و یزاد فی الثمن لاجله اذا ذکر الاجل بمقابلة زیادة الثمن قصدا فاعتبر مالا فی المرابحة احترازاً عن شبه الخیانة و لم یعتبر مالا فی حق الرجوع عملا با لحقیقة. (رد المحتار ج٤، ص١٧٧، باب الربٰوا) و مثله فی البحر الرائق (ج٦، ص١١٥، باب المرابحة و التولیة)

په سودي شیانو کښې د پور معامله

سوال: په سودي شیانو کښې د اخیستلو او پلورلو په وخت کښې د برابرۍ او د نقدو معامله وي په هغو کښې د پور معامله صحیح نه وي۔ که چېرته یو سړی چا ته غنم په پور ورکړي او دا ورته ووایي چه درې میاشتې وروسته زما پور به واپس غنم راکوې۔ نو آیا په دغو شیانو کښې د پور معامله د شریعت له مخې څنګه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په سودي شيانو کښې د اخيستلو او پلورلو د معاملې په وخت کښې کموالی او زياتوالی او پور ناجائز دی ليکن د قرضو معامله له دې څخه جلا ده ځکه چه قرض تبرع او احسان دی۔ د دې هيڅ عوض نه وي ځکه چه له تاکلي وخت نه وروسته د دې شي بدل واپس کيږي۔

قال العلامة ابو بكر الكاسانى رحمه اللّٰه: ان القرض تبرع الا يرى انه لا يقابله عوض للحال...... كان المستقرض انتفع با لعين مدة ثم رد عين ما قبض و ان كان يرد بدل فى الحقيقة. (بدائع الصنائع، ج۷، ص۳۹۶، كتاب القرض)

قال الكاسانىؒ: فيختص جوازه بما له مثل. (بدائع الصنائع، ج۷، ص۳۹۶، كتاب القرض)

و فى الهندية: و يجوز القرض فيما هو من ذوات الامثال كا لمكيل و الموزون و العددى ا لمتقارب كا لبيض. (الفتاوىٰ الهندية. ج۳، ص۲۰۱، باب فى القرض و الاستقراض) و مثله فى الدر المختار على هامش رد المحتار (ج۴، ص۱۷۱، باب القرض)

حاصل دا چه دا په مثلي شيانو کښې جائز دی۔

نقدې روپۍ د قسطونو په صورت کښې زياتې وصولول

سوال: يوه سړي خپله لارۍ په چا خرڅه کړه او څه پيسې ئې نقدې واخيستې او خريدار ته ئې وويل چه نورې روپۍ به مبلغ درې زره د مياشتې قسط وار راکوې۔ له دې وروسته د لارۍ مالك ته د روپو ضرورت پيدا شو نو ئې له دريم سړي څخه څلويښت زره روپۍ نقدې واخيستې او بيا ئې خريدار ته حواله کړ او ور ته ويې ويل چه دا مشتري يا خريدار به تا ته په قسطونو اويا زره روپۍ درکوي نو دا معامله شرعا څنګه ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بائع ته د خريدار په دې طريقې باندې دريم سړي ته حواله کول صحيح نه دی او دا بعينهٖ سود دی ځکه چه په دې صورت کښې دريم سړي څلويښت زره روپۍ نقدې ورکړې دي او اويا زره په قسطونو وصولوي نو ديرش زره روپۍ سود پکښې اخلي ځکه دا معامله شرعا ناجائزه او حرامه ده۔

لما قال اللّٰه تعالىٰ: احل اللّٰه البيع و حرم الربٰوا. (سورة البقرة، آيت ۲۷۵)

قال العلامة مرغينانى رحمه اللّٰه: و قد نهى الرسول عليه السلام عن قرض جر نفعاً. (الهداية ج۳، ص۱۳۱، كتاب الحوالة) و مثله فى تبيين الحقائق (ج۴، ص۸۵، كتاب الحوالة)

د مضاربت ګټه سود نه ده

سوال: زما ورور له ما څخه شل زره روپۍ په دې شرط واخيستې چه په هغو باندې کومه ګټه کيږي نيمې به ستا وي او نيمې به زما وي او دائې هم را ته وويل چه زه هره مياشت حساب و کتاب نه شم کولی او په اندازه او تحرى سره حساب لګوم او تا ته منافع درکوم۔ په دې طريقې سره هغه کله ما ته ۱۰۰ روپۍ او کله درې سوه روپۍ راکولې او په دې کموالي او زياتوالي مونږ ه او بل ته بخشش سره کاوه۔ څه وخت وروسته ما ته شك پيدا شو چه دا خو سود دی او د

ورور سره مې د دې سلسلې د ختمولو خبره وکړه۔ اوس سوال دا دی چه داسې کاروبار شرعا صحيح دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا د سود کاروبار نه دی بلکه د مضاربت يو صورت دی او نفع په تحرىٰ سره معلومول هم مفضي الى الجهالت نه دی ځکه دا صورت جائز دی په مضاربت کښې داسې شرط لګول کوم چه د جهالت فې الربح باعث وي هغه ناجائز دی۔

كما نقل الشيخ علاؤ الدين بن محمد الحصكفىؒ من الجلالية: كل شرط يوجب جهالة فى الربح او يقطع الشركة فيه يفسدها و الا بطل الشروط صح العقد اعتباراً با لوكالة. آه (الدر المختار على هامش رد المحتار ج۴، ص۵۴۰، كتاب المضاربة)

و قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه اللّٰه: الرابع ان يكون الربح بينهما شائعا كا لنصف و الثلث لا سهما معينا يقطع الشركة كمائة درهم. الخامس ان يكون نصيب كل منهما معلوما فكل شرط يؤدى الى الجهالة الربح فهى فاسدة و ما لا فلا. آه (البحر الرائق ج۷، ص۲۶۴، كتاب المضاربة) و مثله فى الهندية ج۴، ص۲۸۷، كتاب المضاربة، الفصل الاول)

د بـــــانك په ذريعه د پيسو د ليږلو شـــــرعي حيثيت

سوال: نن صبا خلك د بانکونو په ذريعه له يوه ځای څخه بل ځای ته پيسې ليږي چه په هغو باندې د بانك والا څه زياتې روپۍ وصولوي آيا دا سود دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د بانك په ذريعه د ډرافټ په شکل کښې د پيسو ليږل بانك ته پور ورکول دي، امانت نه دی ځکه چه هغه پيسې بدليږي هم او د ضائع کيدو په صورت کښې بانك ذمه وار هم وي۔ ځکه د زياتوالي شرط پکښې سود دی۔ البته په دې کښې دا تاويل کول ممکن دی چه هغه زياتې روپۍ د کاغذ او کتابت او د داسې نورو فيس وبولې نو په دې طريقې سره د سفتج شکل جوړيږي کومو ته چه فقهاء کرام مکروه ويلي دي۔ د عموم بلوىٰ په وجه په دې کښې د جواز ګنجائش کيدلی شي ځکه چه په ټوله دنيا کښې دا طريقه رائجه ده۔

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه اللّٰه په امداد الفتاوىٰ کښې د دې تحقيق داسې کړی دی:

مني آرډر مرکب دی له دوو معاملو څخه يو د پور کوم چه د اصل روپو سره اړه لري او دوهمه اجاره کومه چه د فارم د ليکلو او ليږلو د فيس په نوم سره ورکول کيږي او دا دواړه معاملې جائزې دي او د دواړو مجموعه هم جائزه ده او چونکه عامه ابتلاء هم ده نو ځکه دا تاويل کول او د جواز فتوىٰ ورکول مناسب دي۔ (امداد الفتاوىٰ ج۳، ص۱۴۶، کتاب الربوٰا)

په ډاکخانه کښې په جمع شوي پيسو باندې د منافع د اخيستلو حکم

سوال: په ډاکخانه کښې چه کومې پيسې جمع کيږي د کال نه وروسته په هغو باندې څه نفع ورکول کيږي نو د دې نفعې شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه د بانك څخه سود اخیستل منع دي همدارنګه په ډاکخانه کښې د جمع شویو روپو سود اخیستل هم منع دي۔ د سود حقیقت چه چېرته هم پیدا کیږي نو هغه به حرام وي۔

لما قال اللّٰه تعالٰی: احل اللّٰه البیع و حرم الربٰوا. (سورة البقرة، آیت ۲۷۵)

قال العلامة مرغینانی رحمه اللّٰه: و قد نهی الرسول علیه السلام عن قرض جر نفعاً. (الهدایة ج۳، ص۱۳۱، کتاب الحوالة) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۵۳، کتاب الحوالة)

بیع محاقله هم په سود کښې داخله ده

سوال: کوم غنم چه تر اوسه صفا شوي نه وي او په وږي کښې وي د صفا شوي غنمو په عوض کښې ئې پلورل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کومو شیږو شیانو په تبادله کښې چه برابروالی، نقد قیمت او لاس په لاس والی ضروري دي په هغو کښې غنم هم داخل دی۔ د دې تبادلې په وخت کښې کله چه جنس یو وي په هغو کښې کموالی او زیاتوالی او پور سود دی۔ په پټیو کښې ولاړ غنم د صفا شوي غنمو په عوض کښې پلورلو ته بیع محاقله وایي کومه چه په سود کښې داخله ده او حضور انورﷺ له د اسې بیعې څخه منع فرمایلې ده۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: نهی عن المزابنة و المحاقلة فالمزابنة ما ذکرنا و المحاقلة بیع الحنطة فی سنبلها بحنطة. (الهدایة ج۳، ص۵۶، باب البیع الفاسد)

قال العلامة ابن الهمامؒ: نهی رسول اللّٰهﷺ عن المزابنة و المحاقلة. (فتح القدیر ج۶، ص۵۳، باب بیع الفاسد) و مثله فی البحر الرائق (ج۶، ص۷۶، باب بیع الفاسد)

پي ایل ایس (غیر سودي خاته)

سوال: نن صبا خلك په بانکونو کښې د پي ایل ایس په نامه خاتې خلاصوي نو آیا په دغو خاتو کښې د روپو جمع کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بانکونو تول کاروبارونه له سود سره منسلك دي۔ حکومت له سود څخه د بچ کېدو په خاطر د نفعې او نقصان په نامه سره د بانك دا شاخ خلاص کړی دی لیکن دا خبره ئې چه دا د صحیح اسلامي اصولو مطابق دی مشکوکه ده۔ اګر که د حکومت او بانکونو د منتظمینو دعوٰی دا ده چه په دې کښې د سود عنصر نشته لیکن د دې دعوٰی سره سره کوشش دا کول په کار دي چه د نفع او نقصان په نامه شاخ کښې هم روپۍ مه جمع کوی احتیاط هم په دې کښې دی۔ ځکه چه سود ډېره لویه ګناه ده۔ د سود د شبهې په وجه له دې نه ځان ساتل بهتر دي۔

لما اخرجه الامام ابو داؤد رحمه اللّٰه: لما لعن رسول اللّٰه احل الربٰوا و مؤکله و کاتبه و شاهدیه و قال و هو

سواء. (سنن ابی داؤد ج۲، ص۴۷۳، باب الربٰوا)

کمـــا ورد فی الحدیث: عن جابر رضي اللّٰه عنه قال لعن رسول اللّٰهﷺ اکل الربٰوا و مؤکلـــه و کاتبه و شاهدیه و قال و هو سواء. (مسلم شریف ج۲، ص۲۷، باب الربٰوا) و مثله فی الترمذی ج۱، ص۲۲۹، باب ما جاء فی آکل الربٰوا، ابواب البیوع)

د انعامي بانډونو د اخیستلو او پلورلو حکم

سوال: نن صبا د انعامي بانډونو په نامه باندې د انعامونو د پیدا کېدو رواج عام شوی دی نو آیا د اسې انعام اخیستل جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: انعامي بانډونه د سود او قیمار په شان دي۔ د حکومت په حساب و کتاب کښې چه کله هم تاوان پېښیږي نو د هغه د پوره کولو لپاره مختلفې حیلې او بهانې اختیاروي۔ دغه انعامي بانډ هم د حکومتي نقصان د پوره کولو یوه ذریعه ده۔ د اخیستل شوي بانډ په قیمت باندې سود لګیږي او کوم سود چه جوړیږي هغه د قرعه اندازۍ په ذریعه قیمار جوړیږي د څو کسانو په نامه دغه پیچې ووځي او نور خلك محروم پاتې کیږي لهذا د سود او قیمار په وجه سره د دغو بانډونو اخیستل او پلورل او په هغو باندې هغه وتلی انعام اخیستل شرعا جائز نه دي۔

لما قال اللّٰه تعالٰی: احل اللّٰه البیع و حرم الربٰوا. (سورة البقرة، آیت ۲۷۵) و ایضا قال: اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَیْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ. (المائدة، آیت ۹۰)

قال العلامة الجصاص الرازیؒ: و لا خلاف بین اهل العلم فی تحریم القمار و ان المخاطرة من القمار. (الاحکام القرآن، ج۱، ص۳۲۹، سورة البقرة) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص۱۳۱، کتاب الحوالة)

د مروجه نوټونو په تبادله کښې مساوات شرط دی

سوال: د یوه ملك د لوټونو په تبادله کښې کموالی او زیاتوالی جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نن صبا په دنیا کښې دا رائج الوقت روپۍ او لوټونه د ثمن عرفي حیثیت لري چه هغه ته مونږ فلوس نافقه ویلی شو۔ د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما اللّٰه په نزد د فلوس نافقه پخپل منځ کښې په بدلون کښې هم تفاضل جائز دی لیکن د امام محمد رحمه اللّٰه په نزد جائز نه دی ځکه چه نن صبا په ټوله دنیا کښې د کاغذي لوټونو رواج دی او سره زر او سپین زر بیخي مبیعه ګرځېدلي دي او که چېرته د دې په تبادله کښې د تفاضل اجازه ورکړی شي نو د سود دروازه خلاصیږي لهذا دا امام محمدؒ د قول مطابق د لوټونو په بدلون کښې تفاضل ناجائز ګرځول په کار دي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: قوله فلس بفلسین هٰذا عندهما و قال محمدؒ لا یجوز. (رد المحتار ج۴، ص۱۱۸، باب الربٰوا)

قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: صح بیع الفلس بفلسین معنیین عندهما و قال محمدؒ لا یجوز. (البحر الرائق

ج٦، ص١٣١، باب الربوٰا) و مثله في الهندية (ج٣، ص١١٨، الباب الربوٰا، الفصل السادس في تفسير الربوٰا و احكامه)

په دار الحرب کښې د غیر مسلم څخه سود اخیستل منع دي

سوال: آیا د مسلمان لپاره په دار الحرب کښې له کافر څخه سود اخیستل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله په دار الحرب کښې له غیر مسلمو څخه سود اخیستل جائز ګرځولي دي لیکن د سود د حرمت په باره کښې په قرآن او حدیث کښې نصوص مطلق دي چه له دې وجې په هر ځای کښې د سود حرمت معلومیږي۔ د جمهور علماوو او امام ابویوسفؒ په نزد په دار الحرب کښې له هر یوه کافر څخه سود اخیستل حرام دي ځکه احتیاط په دې کښې ده چه په دار الحرب کښې له کافرو څخه هم سود وانخلي۔

قال المرغينانيؒ: و لا بين المسلم و الحربي في دار الحرب خلافا لابي يوسفؒ و الشافعيؒ. (الهداية ج٣، ص٨٧، باب الربوٰا)

قال العلامة ابن نجيمؒ: اى لا ربوٰا بينهما في دار الحرب عندهما خلافا لابي يوسفؒ. (البحر الرائق ج٦، ص١٣٥، باب الربوٰا)

لما قال الزيلعي رحمه الله: و قال ابويوسفؒ و الشافعيؒ لا يجوز لان المسلم التزم با لامان ان لا يملل اموالهم الا با لعقد. (تبيين الحقائق ج٤، ص٩٧، باب الربوٰا)

په دار الاسلام کښې له یوه کافر څخه هم سود اخیستل جائز نه دي

سوال: په دار الاسلام کښې چه کوم ذمي یا نور کافران چه د تجارت لپاره د څه وخت لپاره راشي نو د هغو څخه سود اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په قرآن او حدیث کښې د سود مطلق حراموالی مذکور دی او فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه له هر کافر څخه سود اخیستل منع دي که په دار الاسلام کښې وي او که په دار الحرب کښې۔

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله: بخلاف المستأمن منهم لان ماله صار محظورا بعقد الامان. (الهداية ج٣، ص٨٧، باب الربوٰا)

قال العلامة ابن الهمامؒ: بخلاف المستأمن منهم عندنا لان ماله صار محظورا با لامان. (فتح القدير ج٦، ص١٧٨، باب الربوٰا) و مثله في تبيين الحقائق (ج٤، ص٩٧، باب الربوٰا)

د "لا رِبٰوا بين المسلم والحربي" وضاحت

سوال: د فقه حنفي په کتابونو کښې صراحتا مذکور دي چه "ولا رباً بين المسلم و الحربي في دار الحرب" څخه معلومیږي چه په دار الحرب کښې له کفارو څخه سود اخیستل جائز دي نو مهرباني وکړی د دې عبارت وضاحت وفرمایی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: اول خو په دې کښې اختلاف دی۔ د جمهورو علماوو، امام ابو یوسفؒ امام شافعي رحمه الله په نزد دا جائز نه دي۔ او د نوموړي عبارت مطلب او مفهوم دا دی چه ار الحرب کښې د مسلمان او کافر په منځ کښې بیخي د سود تحقق نه کیږي ځکه چه د

حربي مال مباح دی او چه په کومه طریقه ئې حاصلوي جائز دی لو ځکه فقهاء کرام د دې عبارت په تشریح کښې فرمايي: "و لان مالهم مباح في دارهم فباى طريق اخذه المسلم اخذ مالا مباحا الا لم يكن فيه غدر" فقهاء کرامو د دې لپاره د جواز لفظ نه دی استعمال کړی۔ په حدیثو کښې هم داسې راغلي دي۔

قال العلامة برهان الدين المرغينانيؒ لا ربا بين المسلم و الحربي في دار الحرب. (الهداية ج٣، ص٨٧، باب الربوٰا)

قال العلامة ابن الهمامؒ: و لان مالهم مباح و اطلاق النصوص في مال محظور و انما يحرم على المسلم اذا كان بطريق الغدر فاذا لم ياخذ غدرا فباى طريق يأخذه حل بعد كونه برضا. (فتح القدير ج٦، ص١٧٨، باب الربوٰا) و مثله في تبيين الحقائق (ج٤، ص٩٧، باب الربوٰا)

ذاتي فنډ او د سود مسئله

سوال: د هر حکومتي ملازم له تنخواه څخه حکومت هره میاشت څه حصه اخلي او جمع کوي ئې له کال نه وروسته په هغو باندې سود لګوي۔ د ملازمت په ختمیدو سره حکومت هغه ټولې روپۍ ملازم ته له سود سره ورکوي نو آیا د دغو روپو شرعا څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حکومت له خوا چه کوم حکومتي ملازم ته د نوکرۍ په اختتام کښې کومې روپۍ ورکول کیږي شرعا سود نه دي ځکه چه د سود لپاره د دوو کسانو په منځ کښې عقد شرط وي او حال دا چه د جانبین له خوا څخه به مال وي او مال د هغوی د هر یوه مملوك وي۔ په نوموړي مسئله کښې د ملازم د تنخواه څخه چه کومې روپۍ ګرځول کیږي او اخیستل کیږي هغه د ملازم ملك نه وي۔ علامه ابن نجیم فرمایي:

قولــــــه بل با لتعجيل او بشرطيه او با لاستفهاء او با لتمكن اى لا يملك الاجرة الا بواحد من هذه الاربعـــــة. (البحر الرائق ج٧، ص٣٠٠)

په دې پیسو باندې تر اوسه نه د هغه د مالك قبضه وي او نه د وکیل تر قبضې لاندې راغلې وي، د هغه تصرفات پکښې نافذ نه وي د داسې روپو سره د حکومت معامله یوه طرفه ده۔ دا جمع کړل شوې روپۍ که چېرته حکومت په سود باندې ورکړي او یا بله معامله وکړي او یا په هغو باندې خپله سود ولګوي دا ټول یو طرفه وي د ملازمت په پای ته رسیدو کښې کله چه حکومت دغه پیسې ملازم ته ورکوي نو د حکومت له خوا څخه دې ته اجرت ویل کیږي۔ همدارنګه دا پیسې به د حکومت لخوا د اجرت مؤجله حصه وي نه سود۔

قال الشيخ المفتي محمد شفيع الديوبنديؒ: په جبري ذاتي فنډ باندې چه کومې د سود په نامه روپۍ ورکول کیږي هغه شرعا سود نه دی بلکه دا اجرت او تنخواه یوه حصه ده۔ (په ذاتي فنډ باندې د سود او زکوٰة مسئله ص٤)

و مثله في امداد الفتاوٰى (ج٣، ص١٤٨، كتاب الربوٰا)

د جي پي فنډ د روپو د حصول څخه مخکښې کمپنۍ يا بانك ته په سود باندې د ورکولو حکم

سوال: که چېرته يو حکومتي ملازم عريضه وکړي او خپل د جي پي فنډ د يوې کمپنۍ يا بانك په حواله کړي او په هغه باندې سود واخلي نو د دغو سودي روپو شرعي حيثيت څه دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که کوم سرکاري ملازم عريضه وکړي او خپل د جي پي فنډ روپۍ د کمپنۍ يا بانك په حواله کړي نو هغه کمپنۍ د ده وکيل جوړيږي او د وکيل قبضه د مؤکل قبضه وي لهذا کمپنۍ چه د وکيل لپاره څومره د سود کاروبار کوي نو دا به د اسې وي لکه چه پخپله دی په دې سود کښې ملوث وي ځکه چه ملازم پخپل اختيار دا پيسې کمپنۍ ته د سود لپاره حواله کړې او دا د سود روپۍ دوباره د حکومت په خزانې کښې جمع کيږي۔ د ملازم په اختتام باندې چه کله دا پيسې ملازم ته ورکول کيږي نو دا به د سود روپۍ وي او شرعائې پخپل استعمال کښې نه شي راوستلی۔

قال العلامة المرغيناني رحمه اللّٰه: و قد نهى الرسول عليه السلام عن قرض جر نفعا. (الهداية ج۳، ص ۱۳۱، کتاب الحوالة)

قال الشيخ المفتى محمد شفيع الديوبندیؒ: که چېرې بانك يا کمپنۍ او يا نور په دې پيسو باندې څه سودورکړي نو دا به شرعا هم سود وي چه اخيستل به ئې د ملازم لپاره قطعا حرام وي۔ (په ذاتي فنډ باندې د سود او زکوٰة مسئله ص٤)

د ملازم په اجازې سره د هغه له تنخواه څخه په ذاتي فنډ کښې د څه ور اچولو حکم

سوال: يو سرکاري ملازم چه کله له خپلې تنخواه څخه بې له جبر او زور نه پخپلې رضاء سره څه پيسې وګرځوي او هغه جمع شي نو د ملازمت په آخر کښې د دغو جمع شويو روپو سره د حکومت له خوا څخه کومې زياتی روپۍ چه ورکول کيږي د شريعت له مخې د هغو څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې د ذاتي فنډ سره چه کومې زياتی روپۍ د حکومت له خوا ورکول کيږي نو هغه به تشبه با لربوٰا وي اګر که ملازم د خپل اجرت نه مخکښې دا پيسې ګرځوي ليکن بيا هم پخپل اجرت کښې تصرف دی او د سود د خوړلو د قوي ذريعې احتمال په کښې موجود دی لهذا له داسې روپو څخه پرهيز وکړی که ئې له محکمې څخه وصولوی او که ئې له بل ځای نه وصولوی۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: کل قرض جر نفعا حرام اذا کان مشروطا. (رد المحتار ج۵، ص۱٦٦، باب الربوٰا، مطلب کل قرض جر نفعا حرام)

قال الشيخ المفتى محمد شفيع الديوبندیؒ: که چېرې په ذاتي فنډ کښې پيسې پخپل اختيار

باندې وګرځول شي نو بيا هم په دې کښې تشبه له ربٰوا سره شته او د سود د ذريعې د جوړيدلو خطره هم شته نو ځکه له دې څخه پرهېز کول په کار دي۔ (په ذاتي فنډ باندې د سود او زکوٰة مسئله ص٤)

د موټر د بيرته ورکولو په عوض کښې له اصل روپو څخه د زياتو روپو غوښتنه سود دی

سوال: نن صبا د موټرو په کاروبار کښې دا رواج دی چه يو سړی بل ته پخپلو پيسو باندې موټر اخلي او د هغه نه دا اقرار اخلي چه کال يا دوه کاله وروسته د دوو لکو روپو په ځای به درې لکه روپۍ راکوې نو آيا داسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د کاروبار دا ذکر شوی صورت د سود صورت دی ځکه چه د موټر اخيستونکی د مشتري وکيل دی او د موټر پيسې د مشتري په ذمه باندې پور دی او حال دا چه په پور باندې منافع اخيستل سود دي البته دا جائزه ده چه اول موټر د خپل ځان لپاره واخلي او بيائې په درې لکه روپو باندې په مشتري وپلورې۔

قال العلامة الحصکفیؒ: کل قرض جر نفعا حرام. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۵، ص۱٦٦، فصل فى القرض)

قال الشيخ وهبة الزحيلى: القرض الذى جر منفعة قال الحنفية فى الراجح عندهم کل قرض جر نفعا حرام اذا کان مشروطا. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٤، ص ٧٢٤، فصل فى القرض)

د انعامي سکيمونو حکم

سوال: لکي انعامي پروګرام يا د نورو انعامي ټکټونو کاروبار شرعا څنګه ده او د دې په ذريعه د ميندل شوي انعام څه حکم دی بينوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په داسې انعامي سکيمونو باندې د قيمار، جواري تعريف صادقيږي نو ځکه د لکي انعامي سکيم يا نورو هر ډول انعامي ټکټونو کاروبار شرعا جائز نه دی او په دې طريقې سره د ګټل شويو روپو صدقه کول واجب دي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: اکتسب حراما و اشترٰى به........ تصدق با لربح و الا لا و هٰذا قياس و قال ابوبکر کلاهما سواء و لا يطيب له. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج٤، ص۲۱۹، مطلب اذا اکتسب حراما ثم کتار)

و فى الهندية: کان المال بمقابلة المعصية فکان الآخذ معصية و السبيل فى المعاصى ردها وذٰلك هٰهنا برد المأخوذ ان تمکن من رده بان عرف صاحبه و با لتصدق به ان لم يعرفه. (الفتاوٰى الهندية ج۵، ص۳٤۹، الباب الخامس عشر فى الکسب، کتاب الکراهية)

د بهرني ملکونو کرنسي په زيات قيمت باندې اخيستل

سوال: نن صبا د نورو ملکونو د پيسو اخيستل او پلورل عام شوي دي۔ سوداګر د نورو ملکونو پيسې په کم قيمت سره اخلي او په زيات قيمت ئې پلوري۔ مثلا سعودي ريال په ۱۳ روپۍ اخلي او په ۱۵ روپو ئې پلوري نو آيا په دې طريقې سره د غير ملکي روپو اخيستل او پلورل په سود

کښې داخل دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سود د متحقق کیدو لپاره ضروري دي چه د واړه شیان له یوه جنسه وي او که چیرته جنس مختلف شي نو په هغو کښې تفاضل جائز دی، په موجوده زمانه کښې د مختلفو ملکونو لوټونه او روپۍ په مختلفو جنسونو کښې داخل دي نو ځکه د هغو په اخیستلو او پلورلو کښې کموالی او زیاتوالی جائز دی۔ له دې وجهې په نوموړي صورت کښې که یو سعودي ریال په دیارلس روپۍ واخلي او په پنځلس روپۍ ئې وپلوري نو جائز دی او هیڅ حرج پکښې نشته۔

لما قال العلامة ابو الحسن القدوریؒ: فاذا عدم الوصفان الجنس و المعنی المضمون الیه حل التفاضل و النساء و اذا وجد حرم التفاضل و النساء و اذا وجد احدهما و عدم الآخر حل التفاضل و حرم النساء. (مختصر القدوری علی صدر اللباب ج۱، ص۱۲۱، باب الربوٰا)

د بانك د تعمیر یعنې جوړولو لپاره د زمکې ورکول

سوال: د بانك د جوړولو لپاره خپله مملوکه زمکه په قیمت باندې ورکول جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: حکومت ته د بانك د جوړولو لپاره د زمکې له ورکولو څخه اجتناب په کار دی ځکه چه هغه زمکې ورکوونکي ته د زمکې په بدل کښې له سود څخه حاصل شوي پیسې ورکول کیږي او بله دا چه د باندك دا موجوده نظام په ملك کښې د ننه او د ملك نه دباندې په لویو لویو سودي معاملاتو کښې ښخ دی او حال دا چه د زمکې په ورکولو کښې اعانت علي المعصیت لازمیږي نو لکه څنګه چه له سود څخه ځان ساتل ضروري دي همدارنګه د سودي معاملاتوسره امداد کول هم مناسب نه دي نو د دې لپاره حکومت ته د بانك جوړولو لپاره د زمکې له ورکولو څخه اجتناب په کار دی۔

لما قال الله تعالی: وَ تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى وَ لاَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ☆ (سورة المائدة، آیت ۲)

قال العلامة سلطان بن علی القاری رحمه اللّٰه: عن جابرؓ قال لعن النبیﷺ اکل الربوٰا و مؤکله و کاتبه و شاهدیه قال النواوی فیه تصریح بتحریم کتابة المترائبین و الشهادة علیهما و بتحریم الاعانة علی الباطل و قال هم سواء. (المرقاة ج۶، ص۵۹، باب الربوٰا، الفصل الاول) و مثله فی الجامع الصغیر (ص۴۲۹، باب الربوٰا)

د زړو لوټونو په نوي باندې په کم قیمت سره د بدلولو حکم

سوال: د زړو لوټونو د بدلولو لپاره طریقه دا ده چه کله یو سړی خپل خیرې لوټ په نوي لوټ باندې بدلول غواړي نو بانك له هغه څخه څه روپۍ ګرځوي مثلاً د سلو روپو په ځای نوي یا پنځه اتیا روپۍ ورکوي نو آیا د شریعت له مخې د اسې کول څنګه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مروجو لوټونو حیثیت اوس د فلوس نافقه دی په دې باندې د ثمنیت

صفت د عرف له مخې راغلی دی۔ د فلوس نافقه پخپل منځ کښې په تفاضل سره په پلورلو کښې اختلاف راغلی دی۔ د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما اللّٰه په نزد پخپل منځ کښې ئې بیع په تفاضل سره جائزه ده او حال دا چه د امام محمد رحمه اللّٰه په نزد جائز نه دی اګر که په عمومي ډول له سود څخه د ځان ساتلو په خاطر زمونږ په زمانه کښې مفتٰی به قول د امام محمد صاحبؒ قول دی لیکن د زړو لوټونو له بانك سره په بدلولو کښې ډیرې باریکۍ او مشکلات دي لهذا د دغو پیچیدګیو او مشکلاتو په بنا د شیخینو د قول مطابق پرې او زاړه لوټونه په نوي لوټونو باندې په تفاضل سره بدلول جائز دي۔

لما قال العلامة مرغینانیؒ: و یجوز بیع الفلس با لفلسین باعیانهما عند ابی حنیفةؒ و ابی یوسفؒ و قال محمدؒ لا یجوز الخ. (الهدایة علی صدر البنایة ج۱۰، ص۴۱۷، کتاب البیوع، باب الربوٰا)

د زمکې له زمکې سره بدلول جائز دي

سوال: یوه سړي د خپلې زمکې یوه معلومه حصه د بل سړي د زمکې د معلومې اندازې په عوض کښې ورکوي نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په سودي مالونو کښې زیاتوالی په هغه وخت کښې حرام دی چه کله جنس او قدر یو وي او که نه نو بیا تفاضل جائز دی لهذا زمکه د زمکې په عوض کښې په پلورلو کښې هیڅ حرج نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: سئل فیما اذا کان لزیدٍ قطعة ارض جاریة فی ملکه فباعه من عمر و بقطعة ارض مثلها بیع مقائضة بیعا بانا شرعیا مسلما لدی بینةٍ شرعیة فهل صح البیع المزبور. الجواب نعم. (تنقیح الحامدیة ج۱، ص۲۶۴، کتاب البیوع)

د غنمو او جوارو تبادله

سوال: د غنمو او جوارو تبادله کله برابره او کله کله په کمۍ او زیاتوالي سره کیږي او همدارنګه کله لاس په لاس او کله په پور سره معامله فیصله کیږي نو آیا په دې طریقې سره د غنمو او جوارو بدلول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غنمو او جوارو تبادله که چیرته لاس په لاس وي نو جائزه ده اګر که یو کم او بل زیات هم وي لیکن پور ئې صحیح نه دی ځکه چه دواړه په قدر کښې یو او په جنس کښې مختلف دي نو ځکه په پور باندې ئې له بدلولو څخه اجتناب وکړی۔

لما قال العلامة علی بن ابی بکر المرغینانی رحمه اللّٰه: و اذا عدم الوصفان الجنس و المعنٰی المضموم الیه حل التفاضل و النسیاء لعدم العلة المحرمة و الاصل فیه الاباحة و اذا وجد حرم التفاضل و النسیاء لوجود العلة و اذا وجد احدهما عدم الآخر حل التفاضل و حرم النساء مثل ان یسلم هرویًّا فی هرویٍ و حنطة فی شعیر فحرمة و با لفضل با لوصفین و حرمة النسیاء باحدهما. (الهدایة ج۳، ص۸۱، باب الربوٰا)

قال السليم رستم باز اللبنانیؒ: بيع المقايضة بيع العين با لعين اى مبادلة مال بمال غير النقدين و شرط صحة المقايضة التساوى فى التقايض ان اتفقا جنسا و قدراً كبيع حنطة بحنطة و الا فا لتقايض لا التساوى كبيع كر حنطة بكرى شعيرٍ. (شرح المجلة تحت المادة۱۲۲، ص۱٤، كتاب البيوع) و مثله فى البحر الرائق (ج٦، ص۱۲۸، باب الربوٰا)

د فصل په بدل کښې د غلې د ورکولو حکم

سوال: يوه سړي ته د غلې ضرورت دی لیکن فصل ئې تر اوسه پوخ شوی نه دی په داسې حالت کښې که چېرته هغه له چا څخه تیاره غله واخلي او د هغې په بدل کښې په پټي کښې ولاړ فصل ورکړي نو آیا داسې کول شرعا درست دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې د تیارې غلې په بدل کښې د هغه غلې اخیستل کوم چه په پټي کښې دي او اندازه ئې هم معلومه نه ده یوائې اندازتا او تخمیناً ئې اندازه کیږي او پلورل کیږي۔ چونکه د غلې په بدل کښې د غلې د پلورلو په وخت کښې د هغو د اندازې معلومول ضروري دي نو ځکه د تبادلې دا نوموړی صورت جائز نه دی۔

لما قال العلامه على بن ابى بكر المرغينانیؒ: و لا يجوز...... بيع المزانبة...... و المحاقلة فا لمزانبة ما ذكرنا و المحاقلة بيع الحنطة فى سنبلها بحنطة مثلى كيلها حرصاً و لانه باع لكيلاً بكيلٍ من جنسه فلا يجوز بيع بطريق الحرص كما اذا كان موضوعين على الارض. (الهداية ج۳، ص٥٤، باب ما يجوز و ما لا يجوز)

قال العلامة ابن نجيم المصریؒ: و المزانبة اى لم يجز بيع المزانبة لنهيهﷺ عن بيع المزانبة و المحاقلة. و المحاقلة بيع الطعام فى سنبله با لبر. (البحر الرائق ج٦، ص۷٦، تحت قوله و المزانبة، كتاب البيوع) و مثله فى فتح القدير ج٦، ص٥٤، باب البيع الفاسد)

سره زر او سپین زر د قرض په شکل کښې په زیات قیمت باندې پلورل

سوال: څه فرمایي علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چه نن صبا زرګر حضرات د سرو زرو او سپینو زرو خریدار ته په نقدو پیسو باندې في توله په ۴۰۰۰ روپۍ ورکوي او که چېرته ئې په قرض ورکوي نو په ۴۵۰۰ روپۍ ئې ورکوي نو آیا د دوی دا ډول معامله جائزه ده او که نه له حوالې سره ځواب ولیکۍ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا موجوده لوټونه نه د سرو زرو او نه د سپینو زرو غونډې ثمن خلقي دي او نه د سرو او سپینو زرو رسید دی بلکه د قانوني تحفظ او تقرر په بناء سره ثمن عرفي یعنې د فلوس نافقه شکل ئې اختیار کړی دی کوم چه په جنسیت کښې د سرو او سپینو زرو څخه بېل دی او همدارنګه سره او سپین زر مقدوري دي او موجوده لوټونه عددي دي نو ځکه د دواړو پخپل منځ کښې تجارت په تفاضل او په پور په دواړو جائز دی په دې شرط چه په احد العوضین یعنې په دواړو کښې په یو باندې قبضه شوې وي۔ نو په دې صورت کښې زر په نقدو په ۴۰۰۰ او په پور په ۴۵۰۰ روپۍ في توله پلورل جائز دي لیکن د عقد په وخت کښې په زرو باندې د مشتري قبضه د بیعې د صحت لپاره ضروري ده بې له دې نه بیع نه صحیح کیږي۔

لما قال العلامه مفتي محمد تقي عثماني: لیکن په دې زمانه کښې د علماوو او فقهاوو یوه ډله داسې هم ده چه دغه کاغذي لوټونه د ثمن عرفي په ډول مال بولي۔ (فقهي مقالات ج۱، ص۲۱)

و قال ایضا: همدارنګه او سره زر د پیسې والي له دائرې څخه با لکل وتلي دي او اوس د سرو زرو له ثمن سره هیڅ تعلق باقي نه دی۔ (فقهي مقالات ج۱، ص۲۱)

قال العلامة الحصكفى رحمه الله: باع فلوسا بمثلها او بدراهم او بدنانير فان نقد احدهما جاز و ان تفرقا بلا قبض احدهما فلا يجز. (الدر المختار ج٤، ص۲۰٤، باب الربوٰا، مطلب فى استقراض الدراهم)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: سئل الحانوتى عن بيع الذهب فا لفلوس نسيئة فاجاب بانه يجوز اذا قبض احد البدلين. (رد المحتار ج٤، ص۲۰٥، باب الربوٰا، مطلب فى استقراض الدراهم)

د استیټ لائف کمپنۍ د جل او تلبیس او د بیمه په شرعي حیثیت باندې د دار العلوم حقانیه اصل فتوٰی

د سود د نظام ساتونکی حکومت او د یوې بیمه کمپنۍ د مکر او تلبیس تازه کارنامه د لاندې هغه جعلي فتوی ده کومه چه هغوی د جامعهٔ دار العلوم حقانیه د شیخ الحدیث او صدر مفتي حضرت مولانا مفتي فرید صاحب مد ظله ته ئې منسوب کړې ده او د زرهاوو په تعداد ئې تقسیم کړې ده حال دا چه په هغې باندې د مفتي صاحب موصوف دستخط او فتوٰی نمبر دواړه جعلي دي۔ د یوې استفتاء په ځواب کښې مفتي صاحب ته د منسوبې جعلي فتوٰی عبارت په لاندې ډول دی۔

جواب: د دې حوالې څخه واضحه ده چه دیني مسائل د تیر شوي زمانې په بد نیتي سره پیدا کیږي۔ د بر صغیر اکثریت خلك چه د کومو علماوو پیروي کوي د اکثرو فتوٰی بیمه جائزه ګرځولې ده۔ په دې خبرې کښې چا ته د شك او شبهې ګنجائش نشته چه د شراکت مسئله په ظاهره قابل اعتراض نه ده پس که چېرته بیمه کمپنۍ په هغو پیسو سره تجارت، صناعت او خدماتو ته انجام ورکړي یا په نورو شعبو کښې ممبرانو ته د منافعو په شکل کښې څه ناڅه ورکوي نو د اعتراض قابل نه دی۔

برسیره پر دې سائل پخپل تحریر کښې چه د کومو خیالاتو اظهار کړی دی دا هم رښتیا دي چه ټول حواله جات هغه مشهور او تسلیم شوي حقائق دي او په هغو کښې د څه بحث او مباحثې ګنجائش نشته حقیقت خو دا ده چه انتشار او افتراق څخه د بچ کیدو لپاره دا ضروري دي چه په یوه اسلامي ملك کښې چه څوك اوسیږي نو هغه به بار بار مشکله مسئله نه جوړوي۔ الغرض له سود څخه مراد هغه روپۍ دي چه په پور ئې ورکړي او یائې په پور واخلي۔

نو اهل علم، لوستونکي حضرات او د حضرت مفتي صاحب په فتاواو او د هغه په طرز تحریر باندې خبر خلك بنه پوهیږي چه د جعلي فتوٰی دا عبارت څومره په جهالت باندې مبني دی۔ په دې سلسله کښې د حضرت مفتي صاحب اصل فتوٰی د اکتوبر د میاشتې ۱۹۸۶ء سنه په ماهنامه الحق کښې شائع شوې ده۔ اوس بیا هغه فتوٰی لوستونکو ته وړاندې کیږي تر څو چه د سود دغه محافظ حکومت د شرمناك کردار او د بیمه کمپنۍ له جعل سازۍ او دجل او فریب څخه پرده پورته او بې نقابه شي۔ (مرتب)

د بیمه ژوند شرعي حیثیت

سوال: دلته په ټول ملك کښې (انګلینډ) کښې داسې کمپنۍ دي چه سړی بیمه کوي له هغه څخه چه کومه د دوی د دستور مطابق خرچه کیږي هغه اخلي او له هغه څخه وروسته د ټاکلي مودې د ننه دا ذمه واري اخلي چه که چېرته په ده باندې څه وشي نو هغه ته په کافي اندازې سره روپۍ چه څومره د هغه ځای د پالیسي او قانون مطابق وي عائد شوی وي د هغه پاتې وارثانو ته ورکوي او علاوه له دې نه دلته کار هم په هغه صورت کښې پیدا کیږي چه چا د دې ځای د حکومت د پالیسي مطابق له مخکښې نه ځان بیمه کړی وي نو تاسې مهرباني وکړی د دې مسئلې په اړه په تفصیل سره ولیکی چه اسلامي قانون د دې ډول په کارونو باندې څومره پابندي لګولې ده۔ امید دی چه تاسو د دې پوره تحقیق وکړی او مونږ پرې خبر کړی؟ زمونږ د کمیټۍ لخوا تاسو ټولو ته مسنون سلام وړاندې کوو۔

الجواب: زمونږ د علم تر حده پورې د بیمه ژوند چه کوم حقیقت دی هغه دا دی چه دا د بیمه شوي اشخاصو او کمپنۍ ترمنځه یو خاص ډول معامله او عقد دی چه په دې کښې د افرادو او کمپنیو په منځ کښې د هغو د قوانینو مطابق حسب ذیل څو امور فیصله کیږي۔

﴿۱﴾ بیمه لرونکي اشخاص د یوې ټاکلي اندازې پیسې مثلاً زر روپۍ په ټاکلي مودې کښې مثلاً یو کال کښې په قسطونو ادا کوي او کمپنۍ هغو ته ټاکل شوي منافع په هر کال کښې ورکوي۔

﴿۲﴾ دغه پیسې کمپنۍ چه په کوم کار کښې لګول غواړي لګوي ئې که هغه کار جائز وي لکه د عمارتونو جوړول او داسې نور او که ناجائز وي سودي کاروبار او داسې نور۔

﴿۳﴾ بیمه کړ شوی شخص که چېرته تر ټاکلي وخته پورې ژوندی وي او پوره معلومې پیسې کمپنۍ ته ورکړي له کمپنۍ څخه په قسطونو د مجموعه پیسو څخه د زیاتو پیسو حقدار کیږي لیکن که چېرته هغه د ټاکلي مودې څخه مخکښې مړ شي نو د دغې بیمې د پیسو مالك هغه سړی ګرځي کوم چه د ده په وارثانو کښې ده معلوم کړی وي۔

﴿٤﴾ بالفرض که چېرته بیمه لرونکی سړی د ټاکلي مودې څخه مخکښې د قسطونو ادا کول

بند کړي او د بیمې عقد فسخ کړي نو هغه ته هغه ورکړ شوي پیسې بیرته نه ورکول کیږي۔ که چېرته په حقیقت کښې د بیمه ژوند حقیقت همدغه وي لکه چه زمونږ خیال دی نو مونږ ئې د لاندې څو وجوهاتو په بناء ناجائز او حرام ګڼو۔

اوله وجه: دا چه په دې عقد کښې یو طرف ته سود موجود دی ځکه چه کمپنۍ دغه سړي ته کلنۍ ټاکلې ګټه ورکوي او تر ټاکلي وخته پورې د ژوندي اوسیدلو او د ټولو قسطونو د ادا کولو په صورت کښې هغه بیمه لرونکی سړی د قسطونو د ټولو روپو څخه د زیات زر بیمه مستحق جوړیږي او له کمپنۍ څخه په یوه ځای هم اخیستلی شي او په قسطونو ئې هم اخیستلی شي نو دا د سود نه بغیر بل څه نه شي کیدلی۔

دوهمه وجه: بله دا چه دا عقد په قیمار او میسر باندې مشتمل دی ځکه که چېرته بیمه لرونکی شخص د ټاکلي وخت څخه مخکښې مړ شي نو په دې صورت کښې په کافي اندازې سره د پیسو هغ سړی مالك جوړیږي چه ده کمپنۍ ته نومولی وي او په دې کښې د میسر او قیمار معنی موجود دی ځکه چه په دې کښې د محض یو اتفاقي خبرې باندې ډېرې روپۍ د نومول شوي شخص په ملك کښې راځي لکه په میسر او قیمار کښې چه راځي۔ او چونکه اسلامي شریعت سود او قیمار په قطعي ډول سره حرام ګرځولي دي۔ له دې وجهې د بیمه دا عمل هم په دواړو باندې د مشتمل کیدو په وجه حرام ګرځي او همدارنګه که چېرته بیمه لرونکی سړی د معلوم وخت څخه مخکښې د بیمې عقد فسخ کړي او د قسطونو ادا کول منع کړي نو په دې صورت کښې ټولې روپۍ کمپنۍ ځان ته ګرځوي کوم چه د قسطونو په صورت کښې ده ورته ادا کړي وو او دا هم قیمار دی۔

دریمه وجه: د بیمه د عقد د ناجائز والي او حراموالي دریمه وجه دا ده چه د بیمه لرونکي سړي د مرګ په صورت کښې کمپنۍ ته د هغه ادا کړل شویو ټولو روپو مالك یوائې هغه سړی ګرځي کوم چه هغه نومولی وي او نور ټول وارثان له دې پیسو څخه بیخي محروم پاتې کیږي حالانکه د اسلامي قانون د وراثت له مخې په دې پیسو کښې ټول هغه وارثان حقدار وي کوم چه شرعا د ده جائز وارثان دي په دې وجه سره په دې عقد کښې په ځینې تقدیرونو کښې د شرعي د قانون وراثت په صریحه توګه خلاف ورزي ده کوم چه یقینا ناجائز دی۔

څلورمه وجه: د پورته ذکر شوي وجوهاتو نه برسیره د بیمې د دې عقد د حرام والي او ناجائز والي لپاره څلورمه وجه دا هم کیدلی شي چه له همدې کمپنۍ سره تعاون علی الاثم و العدوان په زمره کښې هم راځي ځکه چه کمپنۍ د دې خبرې پابند نه دی چه هغه به دا پیسې خامخا په روا کارونو کښې لګوي بلکه په سودي معاملاتو او نورو ناجائزو کارونو کښې ئې هم لګوي۔ په هر حال د شرعي قوانینو او احکاماتو په رڼا کښې د بیمه ژوند په باره کښې زمونږ خیال دا دی چه د پورته ذکر شوي وجوهاتو په بناء حرام عقد دی۔

یوه شبهه او د هغې ځواب

کید ای شي چه زمونږ په پورته ذکر شوي معروضاتو باندې څوك دا اعتراض وکړي چه د بیمه ژوند دا عقد او معامله د عقد مضاربت سره زیات مشابهت لري ځکه چه لکه څرنګه چه په عقد مضاربت کښې یو طرف ته سرمایه وي او بلې خوا ته مزدوري او محنت۔ او منافع د رب المال او مضارب په منځ کښې تقسیمیږي او همدارنګه په بیمه ژوندانه کښې چه د کوم بیمه شوي سړي له خوا سرمایه وي او د کمپنۍ له خوا مزدوري وي او منافع د کمپنۍ او د بیمه شوي سړي په منځ کښې تقسیمیږي نو که مونږ عقد بیمه ته هم د عقد مضاربت په شان جائز ووایو نه څه به وشي۔

الجواب: د دې اعتراض په ځواب کښې باید ووایو چه په دې کښې شك نشته چه د بیمه ژوند معامله د نوي تصوراتو څخه یو تصور دی او په شریعت کښې د دې په اړه صریح نص نه دی وارد شوی او د دې ډول معاملاتو د احکامو د معلومولو لپاره د دې نه علاوه بله هیڅ چاره نشته چه داسې نوي معاملات د یوه داسې عقد او معاملې سره پیوسته کړو کوم چه شریعت د هغه لپاره یوه منصوصې حکم بیان کړی وي چه له هغه سره دا نوي عقدونه ډېر مشابهت ولري۔ او همدارنګه نوي عقدونو او معاملاتو کښې کوم یو عقد او معامله چه د منصوصې معاملاتو او عقدونو سره زیات مشابه او مطابق وي نو په دواړو به یو ډول حکم جاري کیږي لیکن دلته مصیبت دا دی چه د بیمه ژوندانه د عقد مضاربت سره لګول د لاندې ذکر شوي څو وجوهاتو په بناء صحیح نه دی اګر که په ظاهره سره دواړه څه ناڅه مشابهت لري او په بادی النظر کښې داسې معلومیږي چه دواړه یو ډول معاملات او عقدونه دي او په کار دی چه د دواړو حکم دې هم یو وي د کومو وجوهاتو په بنا چه مونږ دا صحیح نه بولو په لاندې ډول دي۔

﴿۱﴾ په بیمه او مضاربت کښې څو بنیادي فرق موجود دی چه د دې فرق په وجه بیمه په مضاربت باندې نه شي قیاس کیدلی د مثال په ډول مضاربت کښې د صحت لپاره شرط دا تسلیم شوی دی چه په دې کښې د منافع تقسیم د نسبت په بنیاد سره وي او مضارب او رب المال یوه ته هم معلومه ګټه په لاس نه ورځي۔ بلکه د معلومې ګټې شرط د عقد مضاربت لپاره مفسد ګرځول شوی دی۔ په خلاف د بیمې چه په دې کښې سرمایه کار ته ټاکلې ګټه په لاس ورځي مثلاً د کال ۱۰٪ ګټه ورکول کیږي او د نسبت په بنیاد سره د منافعو تقسیم نه پکښې کیږي۔ یعنې په بیمه کښې د مضاربت غوندې دا نه وي چه د منافعو څخه نیمه یا دریمه یا څلورمه حصه او داسې نور چېرته یوه فریق ته او نوره ګټه بل ته ورکول کیږي۔ د دې فرق په بناء د اجتهاد د اصول او د قیاس قوانین د دې خبرې تقاضا کو چه بیمه په مضاربت باندې په قیاس کولو سره د دواړو حکم یو نه ګرځول شي بلکه د دواړو حکم د جدا جدا وګرځول شي۔

﴿۲﴾ په بیمه او مضاربت کښې دوهم فرق هم داسې وجود لري چه د هغه په موجودوالي سره بیمې لره په مضاربت باندې قیاس کول صحیح نه دی او هغه فرق دا دی۔

که چېرته په مضاربت کښې نقصان وشي نو هغه نقصان به په رب المال وي او په بیمه کښې دا ډول هیڅ شی نشته۔ دلته رب المال ته یوائې او یوائې نفع رسیږي او د نقصان سره بالکل نه مخامخ کیږي او که کوم نقصان رسیږي نو د هغه ذمه وار به یوائې کمپنۍ وي او بیمه لرونکی سړی به له هغه نقصانه بري وي۔

﴿۳﴾ په بیمه او مضاربت کښې بل فرق دا دی چه که په مضاربت کښې رب المال مړ شي نو وارثانو ته یوائې دومره سرمایه ملاویږي څومره چه د هغه مورث هغه ته سپارلې وي او د هغه څخه زیاتې پیسې هغو ته هیڅکله نه ورکول کیږي۔ په خلاف د دې چه که چېرته په بیمه کښې د بیمه لرونکي سړي نقصان وشي نو د هغه د مرګ نه وروسته کوم سړي ته چه زر بیمه ملاویږي نو هغه په کافي اندازې سره د زر بیمه حقدار جوړیږي او دا یوه داسې مخاطره ده چه له هغې څخه شارع علیه السلام منع فرمائلې ده ځکه چه ماسوٰی د اتفاقیاتو څخه د هغه هیڅ اصل او ضابطه نشته ځکه چه ځینې اشخاص داسې هم پیدا کیږي چه نن هغوی بیمه وکړه او صبا ته د دغه بیمه لرونکي سړي وارث په دغو ډېرو روپو باندې قبضه وکړه او بعضې داسې اشخاص هم وي چه د بیمه کیدو د اوږدې مودې څخه وروسته په دغو پیسو د قبضه کولو حقدار جوړیږي۔

﴿۴﴾ برسیره پر دې په مضاربت کښې که چېرته سرمایه دار مړ شي نو د مضارب سره چه د ده څومره روپۍ دي نو هغه د ټولو وارثانو په منځ کښې د شرعي د قانون وراثت مطابق تقسیمیږي۔ د دې برخلاف که چېرته په بیمه کښې بیمه دار سړی مړ شي نو د زر بیمه مستحق یوائې هغه جوړیږي کوم چه بیمه دار سړي نومولی وي او نور وارثین له دې حق څخه محرومیږي۔ دا یوې خوا ته په هغو باندې عظیم ظلم دی او بلې خوا ته د اسلام د قانون وراثت واضحه او صریح خلاف ورزي ده۔ د دغو واضحو فرقونو په وجه سره بیمه په مضاربت باندې قیاس کول باطل دي او هیڅ یو عالم هم د هغه د جواز قائل نه شي جوړیدلی۔ بالخصوص چه په دې کښې د سود او قیمار شبهه هم کیدی شي کوم چه په قطعي توګه حرام او منع دي۔ د دې نه علاوه که چېرته مونږ دا هم ومنو چه په دې کښې ځینې وجهې داسې هم شته چه د حلت متقاضي دي لیکن د دې نه هم انکار نه شي کیدلی چه په دې عقد کښې داسې وجهې هم شته چه د عدم جواز او حرمت متقاضي دي لکه څرنګه چه پورته په تفصیل سره بیان شول نو د حضور ﷺ د دې ارشاد په موجب چه ”دع ما یریبك الی ما لا یریبك“ له دې عقد څخه اجتناب کول په کار دی او د احتیاط اړخ راجح هم دی۔ حضور ﷺ د داسې معاملاتو په باره کښې فرمایي چه: ”ما اجتمع الحلال و الحرام الا و قد غلب الحرام علی الحلال“ له دې څخه د اصول حدیث او اصول فقه علماوو دا قانون جوړ کړی دی چه د تعارض په وخت کښې محرم ته په مبیح باندې ترجیح حاصل وي۔

فقط و اللّٰه تعالی اعلم

د سود په اخیستلو او ورکولو باندې ګواه جوړېدل او د مجبورۍ په حـــالت کښې د سود ورکولو حکم

سوال: ﴿۱﴾ یو سړی سود ورکوي او بل سړی سود اخلي او څو کسان د سود په دې معامله کښې ګواهان جوړېږي د اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې به د دغو څه حکم وي؟

﴿۲﴾ که چېرته یو سړي د مجبورۍ په حالت کښې وي نو آیا د هغه لپاره په سود باندې پور اخیستل جائز دي او که نه؟ او د ورکوونکي به څه حکم وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ سود یو داسې حرام قطعي عمل دی چه په هغه باندې قرآني آیات او نبوي ﷺ احادیث او د ټول امت اجماع دال دی او د هغه په حرمت کښې هیڅ چا ته شك او شبهه نشته۔ سود خوړلو ته د خپلې مور سره د زنا کولو سره برابره ګناه ګرځول شوې ده او په مبارکو احادیثو کښې د سود ورکوونکي، اخیستونکي او په هغو باندې د ګواهانو لپاره د برابرې سزا حقدار ګرځول شوي دي او په هغو ټولو باندې لعنت ویل شوي دي۔

په صحیح مسلم او د حدیثو په نورو کتابونو کښې له حضرت جابر رضی اللّٰه عنه څخه روایت دی چه ”لعن رسول اللّٰه ﷺ اکل الربوٰا و مؤکله و کاتبه و شاهدیه و قال هم سواء“ او په البنایه کښې دي چه ”قال ابن مسعود رضي اللّٰه عنه اکل الربوٰا و مؤکله و کاتبه و شاهدیه اذا علموا به ملعونون علی لسان محمد ﷺ“ نو د سود د معاملې کوونکي او په دې باندې د ګواه جوړېدونکي او د دې معاملې د لیکونکي متعلق ډېر وعیدونه راغلي دي د دې لپاره له دې څخه پرهیز وکړی۔

﴿۲﴾ او که چېرته یو څوك د ډېرې مجبورۍ په حالت کښې وي او د خپل سخت ضرورت د پوره کولو لپاره ئې بله طریقه نه وه او ضرورت هم دومره سخت وي چه د ده د مرګ او ژوند سبب ګرځیده نو په دې صورت کښې د سخت ضرورت په وجه سره څه نا څه ګنجائش شته لیکن د سود اخیستل په هیڅ صورت کښې هم جواز نه لري۔

كما قال العلامة ظفر احمد عثمانیؒ: قلتُ و قد قالت الفقهاء بجواز اعطاء الرشوة للمضطر لدفع مضره لا تندفع الا باعطائه و اما اخذ الرشوة فلا یجوز بحال و الربٰوا و الرشوة من باب واحدٍ فمقتضاه ان یجوز اعطاء الربٰوا للمضطر لدفع مضرة لا تندفع الا باعطائه و اما اخذ الربٰوا فلا یجوز اصلا. آه (امداد الاحکام ج۳، ص ٤٧٠، کتاب الربٰوا)

کتاب الرهن

قال الله تعالیٰ

وان كنتم على سفر ولم تجدوا

كاتبا فرهان مقبوضة

کتاب الـــــرهن

(د رهن (ګروي) مسائل او احکام)

د مرهونه زمکې د اخراجاتو د ذمه وارۍ حکم

سوال: که چېرته زمکه مرهونه وي او مرتهن بغیر د کومې ګټې اخیستنې نه د حکومتي مالیې د ادا کولو ذمه واري قبول کړي او څه پیسې ادا کړي نو آیا د مرهونه زمکې د واپسۍ په وخت کښې مرتهن ته د راهن څخه د دې اخراجاتو د مطالبې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د راهن په اجازه مرتهن په مرهونه زمکې پیسې ولګوي نو د اجازې په وجه سره د مرتهن د مطالبې حق شته او که نه وي نو په بل صورت کښې مرتهن په شوي اخراجاتو کښې متبرع دی او د راهن څخه د مطالبې حق نه لري۔

لما قال الامام ابن البزاز الكردريؒ: اخذ السلطان الخراج او العشر من المرتهن لا يرجع على الرهن لانه ان تطوع فهو متبرع ان مكرها فقد ظلمه السلطان و المظلوم لا يرجع الا على الظالم. آه. (الفتاوٰى البزازية على هامش الهندية ج٦، ص٥٩، نوع نفقة الرهن)

لما قال الشيخ سليم رستم باز رحمه الله: كل من الراهن و المرتهن اذا انفق على الرهن ما ليس عليه بدون اذن الآخر يكون متبرعا و ليس له ان يطالب الآخر بما انفق. (شرح المجلة الاحكام مادة٧٢٥، ص٣٩٩، كتاب الرهن) و مثله فی الفتاوٰی الهندية (ج٥، ص٤٥٥، الباب الرابع فی نفقة الرهن)

له مرهونې زمکې څخه د ګټې اخیستنې حکم

سوال: که چېرته مالك مرتهن ته د مرهونې زمکې څخه د فائدې اخیستلو اجازه ورکړي نو د مالك د اجازې په وجه سره د مرهونه زمکې څخه انتفاع اخیستل جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که د مالك د باقاعده اجازې په وجه سره د هغه د مملوکه شي څخه د انتفاع اخیستلو د ګنجائش په صورت کښې د جواز دلیل جوړېدلی شي لیکن مرتهن ته د راهن له خوا څخه کومه اجازه چه ورکول کیږي د هغه په سبب د کومو جذباتو دخل دی چه مالك د خپل ملکیت څخه د خپل ضرورت سره سره بل ته د استفادې اجازه ورکوي۔ د راهن او مرتهن پخپل منځ کښې د دې معاملې په نظر کښې نیولو سره دا حقیقت تر لمر روښانه دی چه مرتهن ته دا موقع د دې قرض په عوض کښې ورکول کیږي کوم چه مالك ورکړی دی۔ مالك د مرتهن د احسان څخه مجبورېږي او بې له چون او چرا څخه د مرتهن په وړاندې سر ټیټوي او سر ورته ردي او اجازه ورکوي۔ نو د ده دا اجازه د مجبورۍ اجازه ده چه هیڅ اعتبار ئې نشته او

همدا وجه ده چه فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه د مالك د اجازې سره سره د مرتهن لپاره د رهن څخه د ګټې اخیستنې ګنجائش نشته.

لما قال العلامة السید احمد الطحطاوىؒ: (تحت قوله و سیجیء آخرهن) قلت و الغالب من احوال الناس انهم یریدون عند الدفع الانتفاع و لولاه لما اعطاه الدراهم و هذا بمنزلة الشرط لان المعروف کا لمشروط و هو مما یعین المنع و الله تعالیٰ اعلم انتهى. (حاشیة الطحطاوى على الدر المختار ج٤، ص٢٣٤، کتاب الرهن)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و الغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع لولاه لما اعطاه الدراهم و هذا بمنزلة السرط، لان المعروف کا لمسروط و هو مما یعین المنع. و الله تعالى اعلم. (رد المحتار ج٦، ص٤٨٢، کتاب الرهن)

رهن د ملکیت سبب نه دی

سوال: که چېرته له یوه سړي سره له ډېر وخت راهیسې زمکه په رهن کښې پاتې وي نو آیا له دې څخه د مرتهن ملکیت ثابت کیدی شی او که نه؟ او راهن ته تر څه وخته پورې د ملکیت د دعوې حق حاصل دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: رهن یوازې یوه وثیقه ده او د اعتماد سبب دی چه د هغه په وجه سره مرتهن د مرهونه شي مالك نه شي جوړیدلی د دې مالك به هر وخت راهن وي او کله هم چه وغواړي مرتهن ته د هغه پور ورکړي نو مرهونه شی واپس کولی او مالك هم د پور د ادا کولو نه بغیر د مرهونه شي د واپسی حق نه لري.

لما قال العلامة ابن البزاز الکردرى رحمه الله: الرهن امانة عند المرتهن کا لودیعة. (الفتاوىٰ البزازیة على هامش الهندیة. ج٦، ص٨٦، کتاب الرهن، الباب الرابع فى اعارته)

قال المحدث و الفقیه على بن سلطان محمد القارىؒ: ان رسول اللهﷺ قال لا یغلق الرهن. اى عقده (الرهن) اى المرهون (من صاحبه) اما لك (الذى رهنه) اى صاحبه بحیث یزول عنه منفعتهٗ بل یکون المرهون کا لباقى فى ملك الرهن. (المرقاة شرح مسکوٰة ج٦، ص٩٣، کتاب الرهن) و مثله فى الفتاوىٰ الهندیة (ج٥، ص٤٦٥، الباب الثامن فى تصرف الراهن و المرتهن)

د مالك د اجازې نه بغیر د مرهونه شي څخه انتفاع موجب ضمان دی

سوال: که چېرته مرتهن د مالك د اجازې نه بغیر د مرهونه شي فائده لاس ته راوړي نو آیا مالك ته د تاوان د مطالبې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجراو.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مفتیٰ به قول له مخې چه کله د مالك د اجازې سره سره د مرتهن لپاره ګټه اخیستنه مرخص نه دی نو د اجازې نه بغیر دا کار د مالك په حقوقو باندې د خیتې اچولو سره برابر دی نو ځکه مالك ته د ضمان د مطالبې حق حاصل دی.

لما قال العلامة قاضى خان رحمه الله: رجل استقرض دراهم و اسکن المقرض فى داره قالوا یجب اجر المثل

على المقرض لان المستقرض انما اسکنه فى داره عوضاً منفعة القرض لا مجاناً فیجب اجر المثل على المقرض. (الفتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندیة ج٢، ص٣٠٩، کتاب القرض)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: رجل استقرض دراهم و اسکن المقرض فى داره قالوا یجب اجر المثل على المقرض لان المستقرض انما اسکنه فى داره عوضاً عن منفعة القرض لا مجاناً. (رد المحتار ج٦، ص٦٣، کتاب القرض) و مثله فى الفتاوىٰ تنقیح الحامدیة(ج٢، ص١٢٣، کتاب القرض)

د مرهونه شي د اجارې حکم

سوال: که چېرته مرتهن د مرهونه شي څخه انتفاع واخلي او راهن ته ئې په اجاره ورکړي نو آیا له دې څخه د مرتهن لپاره د انتفاع د جواز صورت پیدا کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اجاره یوه جائزه معامله ده مالك خپله زمکه هر هغه شخص ته د اجارې د شرائطو په نظر کښې نیولو سره په اجاره باندې ورکولی شي چه په چائې اعتماد وي که هغه مرتهن وي او یا بل څوك لیکن که چېرته د مالك او د اجارې نیوونکي ترمنځ له دې نه مخکښې د رهن معامله موجوده وي نو د رهن نه وروسته د اجارې د معاهدې له تجدید څخه مخکښیني د رهن عقد ختم کیږي او د مرتهن د انتفاع په اخیستلو کښې هیڅ حرج نشته او بیا هم راهن له مقرره وخت نه وروسته د قرض له ادا کولو پرته هم خپل رهن له مرتهن څخه واپس اخیستلی شي او مرتهن ئې د واپس کیدو څخه انکار نه شي کولی.

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: اما الاجارة فا لمستاجر ان کان هو الراهن فهى باطلة....... و ان هو المرتهن وجدد القبض للاجارة....... بطل الرهن و الاجرة للراهن. (رد المحتار ج٦، ص٥١١، کتاب الرهن)

لما فى الهندیة: و کذٰلك لو استاجره المرتهن صحت الاجارة و بطل الرهن اذا جدد القبض للاجارة. (الفتاوىٰ الهندیة ج٥، ص٤٦٥، الباب الثامن فى تصرف الراهن و المرتهن........ الخ) و مثله فى العنایة شرح الهدایة على هامش فتح القدیر (ج٩، ص١١٧، کتاب الرهن)

په مرهونه شي کښې د مالك تصرف د مرتهن په اجازې پورې موقوف دی

سوال: آیا راهن ته د مالك په حیثیت په مرهونه شي کښې د مالکانه حقوقو د اجراء حق حاصل دی او که نه؟ او که چېرته مالك دغه مرهونه شی وپلوري نو دا بیعه به نافذه وي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د رهن په وجه د مالك ملکیت اګر که نه زائلیږي لیکن د مرتهن د حقوقو د تړون په وجه سره د مالك ټول مالکانه تصرفات د مرتهن تر اجازې پورې موقوفه وي ځکه چه د مالك د مرهونه شي د پلورلو معامله د مرتهن د اجازې محتاج دی.

لما قال العلامة التمرتاشىؒ: توقف بیع الراهن رهنه على اجازة مرتهنه او قضاء دینه فان وجد احدهما نفذ و صار ثمنه رهنا. قال العلامة ابن عابدینؒ و کذا توقف على اجازة الراهن بیع المرتهن فان اجاز جاز و الا فلا. انتهى. (رد المحتار ج٦، ص٥٠٦، کتاب الرهن)

لما قال الشیخ سلیم رستم بازؒ: لو باع الراهن الرهن بدون رضی المرتهن لا ینفذ البیع و لا یطرء خلل علی حق الجنس الثابت للمرتهن و لکن اذا قضی الراهن الدین نفذ البیع و کذا لو اجاز المرتهن ذٰلك البیع فانه ینفذ. (شرح المجلة الاحکام مادة۴۱۲، ص۲۳۴، بیع الوفاء) و مثله فی الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۴۶۲، الباب الثامن فی تصرف الراهن و المرتهن)

د مرهونه زمکې له رهن څخه د خلاصولو نه بغیر په بل چا پلورل

سوال: د لاندینې مسئلې په باره کښې د دین علماء څه فرمایي چه زید خپل پلرنۍ ملکیتي زمکه د عمر سره رهن کړه څه وخت وروسته زید خپله مرهونه زمکه له عمر څخه د خلاصولو نه بغیر په خالد باندې وپلورله خو په دې شرط چه زما دغه زمکه کومه چه له عمر سره ګرو ده که چېرته تر دعوې لاندې شوه نو هغه د ګروي روپۍ کومې چه دا زمکه ئې پرې ګرو کړې ده مرتهن یعنې عمر ته به ئې نه ورکوي بلکه ما ته به ئې راکوې. اوس زید له دغې قطعي بیعې څخه پښیمانه دی او خالد ته وایي چه ما ته د بیع قطعي انتقال واپس کړه حالانکه تر اوسه پورې په دې زمکې د خالد قبضه هم نه ده راغلې. بلکه د مرتهن یعنې د عمر په قبضه کښې ده اوس د دغې قطعي بیعې د شریعت له مخې څه حکم دی؟ فاسد دی او که صحیح؟ او که چېرته فاسدوي نو واجب الرد دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د نومورې مسئلې ځواب په دوو برخو باندې ویشل کیږي چه په لاندې ډول دی.

﴿۱﴾ د راهن په مرهونه زمکې کښې تصرف مخکښې له سقوطه له رهن څخه په مرهون کښې په دوه قسمه ده یو هغه تصرف دی کوم چه د فسخ قابل دی لکه بیع، کتابت، هبه، اجاره، صدقه او اقرار. او دوهم هغه تصرف چه په هغه کښې د فسخ احتمال هم نه وي لکه عتق، تدبیر، استلاء. دوهم ډول تصرف له بحثه د باندې ده. او اول ډول تصرف کوم چه د فسخ احتمال لري حکم ئې دا دی چه په هغه کښې تصرف د مرتهن د رضاء نه بغیر نه نافذیږي. او له مرتهن د حبس حق په ګرو شوي شي کښې نه باطلیږي. یعنې دا ډول تصرف که چېرته راهن وکړي نو هغه به د مرتهن په اجازه پورې موقوفه وي که چېرته هغه اجازه وکړه نو نافذیږي او مرتهن ته دا حق حاصل دی چه تر څو پورې خپلې ګروي روپۍ وصول نه کړي تر هغو پورې مرهونه شی له خپل ځان سره بند ساتلی شي او کله چه راهن مرتهن ته دین ورکړي نو د مرهونه شي د بند ساتلو حق باطلیږي او د راهن هغه مخکښینی تصرف کوم چه موقوف وو اوس نافذ کیږي. دا تفصیل په فتاوی عالمګیري ج۵، ص۴۸۷ د لاندې عبارت څخه اخیستل شوی دی.

تصرف الراهن قبل سقوط الدین فی المرهون اما تصرف یلحقه الفسخ کا لبیع فا لکتابة و الاجارة و الهبة و الصدقة و الاقرار و نحوها او تصرف لا یحتمل الفسخ کا لعتق و التدبیر و الاستیلاء. اما الذی یلحقه الفسخ لا ینفذ بغیر رضاء المرتهن و لا یبطل حقه فی الحبس و اذا قضی الدین و بطل حقه فی الحبس نفذت التصرفات کلها.

او همدا رنګه که چېرته مرتهن د خپلو پیسو له وصولولو څخه مخکښې اجازه ورکړي نو د راهن تصرف نافذیږي. اوس رهن رهن نه پاتې کیږي لیکن د رهن پیسې په هر حال کښې د ده په ذمې پاتې دي او د اجازې په ورکولو سره د مرتهن حق نه باطلیږي. او په دې صورت کښې که چېرته دغه تصرف بیع وي نو اوس د مرهونه په ځای د هغه رهن هغه پیسې مرهون ګرځي. چنانچه په فتاوی عالمګیري کښې په همدغه جلد (ج۵، ص۴۸۷) کښې لیکلي دي.

و لو اجاز المرتهن تصرف الراهن نفذ و خرج من ان یکون رهنا و الدین علی حاله و فی البیع یکون الثمن رهناً مکان المبیع..... الخ

د فقهاوو له د دې تحقیق په رڼا کښې په نومورې صورت کښې راهن چه کوم تصرف کړی دی هغه د بیع تصرف دی نو هغه به د مرتهن تر اجازې پورې موقوفه وي اوس که چېرته عمر یعنې مرتهن راهن یعنې زید ته اجازه ورکړي نو د هغه به دا تصرف نافذ شي او د عمر (مرتهن) به هغه پیسې د زید په ذمې لازمې دي او که چېرته عمر اجازه ور نه کړي نو بیع موقوفه ده او د رهن د زر یعنې روپو تر وصولي پورې عمر دغه مرهونه زمکه پخپلې قبضې کښې ساتلی شي.

﴿۲﴾ فقهاوو تصریح کړې ده چه د اسې شرائط چه د عقد مقتضی او ملامت کوونکی نه وي په هغه سره عقد فاسدیږي چه د هغه تفصیل فقهاوو د اسې کړی دی.

په الدر المختار کښې دي چه:

و لا بیع بشرط لا یقتضیه العقد و لا بلائمه و فیه نفع لاحدهما او فیه نفع لمبیع الخ

او علامه شامي د تنبیه په صورت کښې ورسره لیکي:

قولهٗ و فیه نفع لاحدهما الماء با لنفع ما شرط من احد المتعاقدین علی الآجر (ج۴، ص۱۶۷)

او د بیع فاسد حکم دا دی چه مشتري د بیع مالك ګرځي یعنې بیع فاسد مفید للملک دی او په هر یوه باندې یعنې بائع او مشتري د هغه فسخ قبل القبض واجب وي. او همدا رنګه بعد القبض هم تر څو پورې چه مبیعه د مشتري په لاس باقي وي او په دې کښې د مرافع الی القاضي شرط نشته ځکه چه کوم شی شرعا واجبیږي هغه د قاضي د قضاء محتاج نه وي. هو! که چېرته څوك د بائع او مشتري څخه هر یو د هغه په بقاء باندې اصرار وکړ نو قاضي ته جبرا د هغه د فسخ کولو حق حاصل دی.

علامه حصکفيؒ صاحب فرمایي: و یجب علی کل واحد منهما فسخه قبل القبض و یکون امتناعا عند او بعدهٗ ما دام المبیع مجاله فی ید المشتری للفساد لانه معصیة فیجب رفعها و لذا لا یشترط فیه قضاء قاضٍ لان الواجب شرعا لا یحتاج للقضاء و اذا امر احدهما علی امساکه و علم به القاضی فلهٗ فسخهٗ جبرا علیهما حقا للشرع. (در مختار بهامش الرد المحتار ج۴، ص۱۷۳)

د دې تحقیق په نظر کښې نیولو سره په صورت مسئوله کښې د مرتهن (زید) په

اجازې سره راهن (خالد) څخه چه کوم یوه د بیع عقد کړی دی۔ زما په نزد دغه بیع فاسده ده ځکه چه زید د عقد په وخت کښې چه کوم شرط لګولی دی چه که چېرته زما زمکه په ایکټ کښې راغله نو د رهن پیسې به مرتهن ته نه ورکوې بلکه ما ته به ئې راکوې او مشتري (خالد) دا شرط منظور کړ نو دا یو داسې شرط دی کوم چه نه د عقد مقتضٰی ده او نه د عقد ملائم دی او په دې کښې احد العاقدین یعنې زید (بائع) ته نفع ده لهذا په دې سره بیع فاسده شوې ده او د هغه فسخ کول واجب دی پس زید دا بیع فسخ کولی شي ځکه چه مشتري (خالد) تر اوسه پورې قبضه هم نه ده کړې او که چېرته زید د دې بیعې د باقي کیدو باندې اصرار وکړي نو د عدالت په ذریعه به فسخ کاوه شي۔

هٰـــذا هو الذی یعلم ما ذکر فی کتب مذهبنا و ان لم یسرح به القلب و لم تطمئن به النفس فـــان للمقال فیه مجالاً. (فقط و اللّٰه تعالی اعلم)

د کافر د مرهونه زمکې څخه د ګټې اخیستلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب زمونږ په علاقه کښې سیکان او هندوان هم اوسیږي او له مسلمانانو سره ئې روابط هم ښه دي لکه اخیستل، پلورل، اجاره، په شادي او غم کښې شرکت، د یوه او بل په تکلیف او درد کښې شریکیدل او داسې نور ګوا که په دنیوي معاملو په ټولو کښې سره شریك دي۔ اوس مسئله دا ده چه یو هندو زما څخه پنځوس زره روپۍ په قرض واخیستې او خپله مملوکه زمکه ئې له ما سره د ګروي یا رهن په توګه پرېښوده نو آیا زه په دغې زمکې فصل کرلی شم او زما لپاره ئې منافع جائزې دي او که نه او حال دا چه ځینې علماء کرامو څخه مې اوریدلي دي چه د مرهونه زمکې څخه د ګټې اخیستل جائز نه دي مهرباني وکړی په دې مسئلې کښې زما رهنمایي وکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تر دې ځایه پورې خو د ټولو اتفاق دی چه د مسلم ان د مرهونه شي څخه انتفاع جائز نه دی لیکن د ځینې علماء کرامو په نزد د حربي کافر مال مباح دی ځکه د هندو د مرهونه زمکې څخه فائده اخیستل ستا لپاره جائز دي البته په پاکستان کښې د کافر د مرهونه زمکې څخه انتفاع صحیح نه دی۔ لما قال العلامه اشرف علي تهانوي: الجواب د بعضې علماوو په قول "یباح مال الحرب رضاه و لو بعقد فاسد" جائز دی۔ (امداد الفتاوٰی ج۳، ص٤٦٦، کتاب الرهن)

د مرهونه زمکې حاصل راهن ته بیرته ورکول ضروري دي

سوال: جناب مفتي صاحب زمونږ په علاقه یارحسین ضلع صوابی کښې د پور د اخیستلو او ورکولو په سلسله کښې دا رواج دی چه پور ورکوونکی د هغه په عوض کښې چه زمکه په وي کښې ورکړي او هغه له مرهونه زمکې څخه د راهن په اجازه نفع اخلي۔ په دې سلسله

کښې بنده څه وخت مخکښې یوه استفتاء درلیږلې وه او په جواب کښې تاسو د راهن د اجازې سره سره د مرهونه زمکې څخه نفع اخیستل ناجائز ګرځولي وو نو اوس مسئله دا ده چه که چېرته یوه سړي د مرهونه زمکې څخه انتفاع حاصل کړي وي نو خپله ذمه له دې څخه څنګه فارغولی شي او د هغه به عملي صورت څه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مرهونه زمکې څخه د راهن د اجازې سره سره له هغې څخه انتفاع د مفتٰی بهٖ قول له مخې ناجائز او حرام دی او اوس که چېرته چا داسې کړي وي او هغه د خپلې ذمې فارغول غواړي نو هغه ته په کار دي چه د مرهونه زمکې څخه ئې چه کوم حاصلات اخیستي وي هغومره حاصلات او یا د هغه قیمت دې راهن ته واپس ورکړي نو ذمه به ئې فارغیږي۔

لما قال العلامه محمد عبد الحی اللکهنوي رحمه اللّٰه: الجواب بکر ته د دې حاصلاتو واپس کول لازم او بکر ته د دې حاصلاتو څخه نفع اخیستل جائز نه وو او په یوه روپۍ ئې هم هغه حاصلات نه شوی پلورلی البته د ټولو حاصلاتو په بیرته ورکولو باندې ئې غاړې خلاصیږي۔

(مجموعه الفتاوٰی اردو ج۳، ص۱۲۹، کتاب الرهن)

كتاب الاجارة

کتاب الاجـــــاره

(د اجارې احکام او مسائل)

د اجارې په عقد کښې د وخت تعین ضـــــــــروري دی

سوال: مؤجر (اجاره ورکوونکي) مستأجر (اجاره نیوونکي) ته د وخت د تعین نه بغیر دوکان په اجاره ورکړ اوس څو کاله وروسته د هر شي د نرخونو د لوړوالي په وجه د دوکان مالك هم د کرایې زیاتول غواړي لیکن مستاجر نه کرایه زیاته ورکوي او نه د دوکان خالي کولو ته تیار دی او حال دا چه مؤجر د حکومتي قانون په وجه مجبور دی ځکه چه د حکومت قانون دا دی چه ترڅو پورې مستاجر پخپله دوکان خالي نه کړي څوك ئې په زوره نه شي ایستلی او د کرایې کموالی او زیاتوالی هم د حکومت په اختیار کښې دی نو آیا په دې صورت کښې خو به مستاجر ګنهګاریږي نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې شرط سره چه دا سوال صحیح وي نو دا اجاره فاسده ده مؤجر ته شرعا دا حق حاصل دی چه هغه د مستاجر څخه د هرې میاشتې په سر کښې یا د دوکان د خالي کولو او یا د کرایې د زیاتولو مطالبه وکړي او که نه وي نو په بل صورت کښې به اجاره فسخ کیږي او په دې مطالبه کښې د مستاجر لیت او لعل (کاشکې او ښایي) حرام دی او د انکار په صورت کښې په مستاجر باندې د مؤجر د مطلوبه کرایې ورکول لازم دي۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: آجر حانوتا كل شهر بكذا جاز فى واهد فقط و فسد فى الباقى لجهالتها و الاصل انه متىٰ دخل كل فيما لا يعرف منتهاه تعين ادناه و اذا مضى الشهر فلكل فسخها بشرط حضور الآخر لانتهاء العقد الصحيح. (رد المحتار ج٦، ص ٥٠، باب الاجارة الفاسدة)

قال العلامة ابن بزاز رحمه اللّٰه: آجر داره كل شهر بكذا ينعقد عند رأس كل شهر و لكل خيار الفسخ عند رأس كل شهر فلو ابرأ المستاجر عن اجرة الا بدلا يصح الا عن شهر واحد. (الفتاوىٰ البزازية على هامش الهندية ج٥، ص١٧، كتاب الاجارات، الفصل الثانى فى صفتها) و مثله فى مجلة الاحكام (مادة ٢٩٤، الفصل الرابع فى المسائل التى تتعلق بمدة الاجارة)

د اوږدې مودې لپاره زمکه په اجاره باندې ورکول جائز دي

سوال: یوه سړي خپله ذاتي مملوکه زمکه کوم بل سړي ته د پنځوسو کلونو لپاره په اجاره ورکړې وه نو آیا خپله مملوکه زمکه د ډېرې مودې لپاره په اجاره ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: خپله مملوکه زمکه د اوږدې مودې لپاره د اجارې په ورکولو باندې

شرعا څه قباحت نشته که ئې اجرت کم تاکلی وي او یا زیات خو په دې شرط سره چه نور فاسد شرطونه پکښې نه وي۔

قال العلامة برهان الدين المرغينانىؒ: و المنافع تارة تصير معلومة با لمدة كاستيجار الدور للسكنىٰ و الارضين للمزارعة فيصح العقد على مدة معلومة اى مدة كانت لان المدة اذا كانت معلومة كان قدر المنفعة فيها معلوما اذا كانت المنفعة لا تتفاوت و قوله اى مدة كانت اشارة الى انه يجوز طالت المدة او قصرت لكونها معلومة. (الهداية ج٣، ص٢٩٤، كتاب الاجارات)

قال العلامة اكمل الدين البابرىؒ: و لا فرق بين طويل المدة و قصيرها عندنا اذا كانت بحيث يعيش اليها العاقدان لان الحاجة التى جوزت الاجارة لها قد تمس الى ذٰلك. (العناية على هامش فتح القدير ج٨، ص٧، ٨، كتاب الاجارات) و مثله فى الجوهرة النيرة (ج١، ص٣١٧، كتاب الاجارات)

په معلوم اجرت باندې د اجارې حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې درې مزدوران د ورځې په پنځوس روپو باندې مزدوري کوي۔ چونکه د کار په وخت کښې د ګهیځ (سهار) د ناشتې وخت هم راځي نو د دې لپاره د سهار ناشته ئې زمونږ په کور باندې دی۔ په دې منځ کښې د رمضان المبارك میاشت راغله او اوس د مزدورانو غوښتنه دا ده چه لکه څرنګه چه په رمضان المبارك کښې د ګهیځ خوراك نشته نو د هغه په ځای مونږ ته د پنځوسو روپو په ځای شپیته روپۍ راکړه نو آیا د مزدورانو دا غوښتنه جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرې د رمضان المبارك په میاشت کښې دا اجرت په رضا او رغبت سره د دواړو خواوو تر منځ وتاکل شي نو په دې کښې هیڅ حرج نشته او که چېرې دا اندازه معلومه وي نو بیا هم صحیح دی او که نه وي نو په بل صورت کښې دا د فاسدې اجارې په حکم کښې راځي کوم چه صحیح نه دی۔

لما قال الشيخ سليم رستم بازؒ: لو استاجر احد اجير على ان يعمل يوما يعمل من طلوع الشمس الى العصر او الى الغروب على وفق عرف البلدة فى شان العمل. (شرح مجلة الاحكام لسليم رستم باز مادة٤٩٥، ص٢٧٤، الكتاب الثانى فى الاجارة، الباب الرابع فى المسائل التى تتعلق بمدة الاجارة)

قال العلامة قاضيخانؒ: رجل استاجر اجيرا يوما لعمل له كذا قالوا ان كان العرف بينهم انهم يعملون من طلوع الشمس الى العصر فهو على ذٰلك و ان كان العرف انهم يعملون من طلوع الشمس الى غروب الشمس فهو على ذٰلك و ان كان العرف مشتركا فهو على طلوع الشمس الى غروبها اعتبار الذكر اليوم. (الفتاوىٰ قاضيخان مع السراجية ج٣، ص٣٣، كتاب الاجارات، فصل فى اجارة الدواب و الضمان فيما يجب و فيما لا يجب) و مثله فى الفتاوىٰ الهندية (ج٤، ص٤١٦، كتاب الاجارة، الباب الثالث فى الاوقات التى يقع عليها عقد الاجارة)

د نامعلوم وخت لپاره د اجارې عقد

17/17

سوال: یوه نوکر له مالك نه یو کور په پنځه سوه روپو باندې په کرایه ونیوه. له څو میاشتو وروسته ئې د کور مالك ته وویل چه زه د دریو میاشتو لپاره په رخصتي باندې خپل کور ته ځم چه کله بیرته راشم نو ستا کور به بیا په کرایه ونیسم او خپل سامان ئې په همدې کور کښې پریښود او لاړ. اوس د دواړو تر منځ تنازعه (شخړه) راغله. د کور مالك وایي چه لکه څرنګه چه ستا سامان زما په کور کښې پروت وو او د تګ په وخت کښې دې عقد هم ختم نه کړ نو له دې وجهې ته به د دغو دریو میاشتو کرایه پرې کوې. او حال دا چه نوکر وایي چه چونکه ما د تګ په وخت کښې دا ویلي وو چه بیرته راشم نو له سره به دا کور په کرایه نیسم نو د دې دا مطلب شو چه اجاره ختم شوه. پوښتنه دا ده چه په دوی دواړو کښې د کوم یوه خبره صحیح ده؟ او همدارنګه آیا نوکر یا ملازم د دغو دریو میاشتو د کرایې د اداکولو شرعا پابند دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله مطابق چه کله د مودې تعین نه دی شوی یوائې دومره ویل شوي دي چه کرایه به ئې د میاشتې پنځه سوه روپۍ. وي نو په دې صورت کښې د کور مالك او کرایه ورکوونکی هر یوه ته د میاشتې په پای کښې د دواړو په موجودګي کښې د اجارې د فسخ کولو حق شته. لهذا چه کله ملازم په واضحه توګه د کور مالك ته دا ویلي دي چه د رخصتیو نه چه بیرته راشم نو دا کور به بیا په کرایه ونیسم نو دا اجاره د نوکر کور ته تګ سره ختمه شوه نو له دې وجهې دا نوکر د دغو دریو میاشتو د کرایې د ورکولو پابند نه دی.

لما قال العلامة سلیم رستم باز رحمه اللّٰه: لو استوجر عقارا کل شهر بکذا من دون بیان عدد الاشهر یصح العقد فی شهر واحد فقط و یفسد فی بقیة الشهور لجهالتها و الاصل انه متی دخلت لفظة کل فیما لا یعرف منتهاه تعین ادناه (در منتقی) لکن عند اختتام الشهر الاول لکل من الآجر و المستاجر فسخ الاجارة فی الیوم و لیلته من الشهر الثانی الذی یلیه. (شرح مجلة الاحکام لسلیم مادة ۴۹۴، ص۲۷۴، کتاب الذی فی الاجارات، باب الرابع فی المسائل التی تتعلق بمدة الاجارة)

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و من استاجر دارا کل شهر بدرهم فا لعقد صحیح فی شهر واحد فاسد فی بقیة الشهور الا ان یسمی جملة الشهور معلومة. (الهدایة ج۳، ص۳۰۲، کتاب الاجارات، باب الاجارة الفاسدة) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۱۷، کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة)

د موټر ټایرونه په کرایه ورکول

سوال: نن صبا ځینې دوکانداران د موټرو چښتنانو ته ټایرونه په کرایه ورکوي نو آیا د شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اجاره د یوه شي د منافعو څخه د اجرت په بدل کښې د فائدې حاصلولو ته وایي په دې شرط چه د اجارې ټول شرائط موجود وي ځکه که چېرته په نوموړې صورت کښې موده او کرایه معلومه او متعینه وي نو د موټر ټایرونه په کرایه باندې په ورکولو کښې هیڅ حرج نشته.

لما فی مجلة الاحکام: یشترط ان تکون الاجرة معلومة..... یشترط فی الاجارة ان تکون المنفعة معلومة بوجه یکون مانعا للمنازعة. (شرح المجلة لستم باز مادة ۴۵۰/۴۵۱، ص۲۵۴، الفصل الثالث فی شروط صحة الاجارة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: فی شرح الطحاوی عقد الاجارة لا یجوز الا ان یبین البدل من الجانبین جمیعا اما بیان المنفعة فباحدی معان ثلاثة بیان الوقت و هو الاجل و بیان العمل و بیان المکان. (خلاصة الفتاوىٰ ج۳، ص۱۰۳، الفصل السادس فی الاجارة) و مثله فی الخانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص۱۰۳، کتاب الاجارة)

په اجاره باندې په نیول شوې زمکې کښې د موجودو ونو حکم

سوال: یوه سړي له چا څخه د هغه مملوکه زمکه د لسو دولسو کلونو لپاره په اجاره نیولې ده او په دې زمکې کښې ونې هم شته نو آیا شرعا دا ونې د موجر (د زمکې د مالك) دي او که د مستاجر (د اجاره نیوونکي) دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغه ونې د زمکې مالك لګولې وي او خدمت د هقان کړې وي نو دا ونې د زمکې د مالك دي او خدمت کوونکي ته به د خدمت معاوضه ورکول کیږي او که چېرته ونې د هقان یا اجاره دار د زمکې د مالك په اجازه لګولې وي نو بیا هم دغه حکم دی او که چېرته د هقان ونې د زمکې د مالك د اجازې نه پرته لګولې وي نو بیا به دا ونې د د هقان وي او د زمکې مالك ته له زمکې څخه د انتفاع اجر مثل ورکول کیږي.

قال العلامة محمد کامل الطرابلسی رحمه اللّٰه: و قد اطال صاحب التنقیح الکلام فی تحقیق هٰذه المسئلة قال فا لحاصل ان من زرع ارض غیره بلا اذنه علی وجه الغصب فان کانت الارض مِلکا اعدها بها للزراعة اعتبر العرف فی الحصة ان کان ثمة عرف و الا فان اعدها للایجار فا لخارج کله للزراع و علیه اجر مثلها لربها و الا فان انتقصت فعلیه النقصان و الا فلا شیء علیه. (فتاوىٰ الکاملیة ص۲۰۹، کتاب الاجارة)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: فا لحاصل ان من زرع ارض غیره بلا اذنه و لو علی وجه الغصب فان کانت الارض مِلکا و اعدها و بها للزراعة اعتبر العرف فی الحصة ان کان ثمة عرف و الا فان اعدها للایجار فا لخارج کله للزراع و علیه اجر مثلها لربها و الا فان انتقصت فعلیه النقصان و لا فلا شیء علیه. (تنقیح الحامدیة ج۲، ص۱۷۲، کتاب الغصب) و مثله فی رد المحتار (ج۶، ص۱۹۵، کتاب الاجارة)

و فی الهندیة: دفع بقرة الی رجل علی ان یعلفها و ما یکون من اللبن و السمن بینهما انصافا فا لاجارة فاسدة و علی صاحب البقرة للرجل اجر قیامه و قیمة علفه ان علفها من علف. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٤٥، کتاب الاجارة، الفصل الثالث فی قفیز الطحان و ما هوفی معناه)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و فی فتاوی النسفی رجل دفع بقرة الی رجل با لعلف منها صفة و هی التی با لفارسیة گاو نیم سود بان دفع علی ما یحصل من اللبن و السمن بینهما نصفان فهٰذا فاسد و الحارث کله لصاحب البقرة و الاجارة فاسدة. (خلاصة الفتاوٰی ج٣، ص١١٤، کتاب الاجارات و ما یتصل بهٰذا) و مثله فی الفتاوٰی البزازیة علی هامش الهندیة (ج٥، ص٣٧، کتاب الاجارة، النوع الثالث فی الدواب)

په مزدوري کښې مزدور ته زمکه ورکول

سوال: آیا مزدور ته د مزدوري په بدل کښې زمکه ورکول کید ای شي او حال دا چه په عقد کښې فیصله د پیسو د ورکولو شوې وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې د عقد په اجرت کښې هر هغه شی ورکول کید ای شي چه مال متقوم وي لهذا مزدور ته په مزدوری کښې د زمکې ورکول جائز دی اګر که د عقد په شروع کښې د پیسو د ورکولو معاهده شوې وي۔

و فی الهندیة: و ما صلح ان یکون ثمنا فی البیع کا لنقود و المکین و الموزون صلح ان یکون اجرة فی الاجارة و ما لا یصلح ثمنا لا یصلح اجرة. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤١٢، کتاب الاجارة فی الباب الاول)

قال العلامة خالد آتاسیؒ: ما صلح بدلا فی البیع یصلح بدلا فی الاجارة. (مجلة الاحکام ماد ٤٦٣، ص٢٦٠، فی بدل الاجارة) و مثله فی البحر الرائق (ج٧، ص٢٩٨، کتاب الاجارة)

په اجاره کښې بزګر ته د کرنې عامه اجازه ورکول

سوال: که چېرته یو سړي بل چا ته خپله زمکه په داسې توګه په اجاره ورکړي چه ته څه غواړې هغه پرې کرلی شې نو آیا د شریعت له مخې داسې عقد جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې په عقد کښې اګر که د فصل او د اسې نورو تعین ضروري وي او له تعین نه پرته اجاره فاسدېږي لیکن که چېرته مؤجر مستأجر ته د دې خبرې عامه اجازه کړې وي چه څه غواړي هغه کرلی شي نو په دې صورت کښې به دا اجاره صحیح او درست ګڼل کېږي۔

و فی الهندیة: و لا بد فی اجارة الاراضی من بیان ما یستاجر له من المزارعة و الفرس و البناء وغیر ذٰلك فان لم یبین کانت الاجارة فاسدة الا اذا جعل له ان ینفتع بما شاء هٰکذا فی البدائع. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٤٠، کتاب الاجارة، الباب الخامس عشر فی بیان ما یجوز من الاجارة و ما لا یجوز)

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و لا یصح العقد حتی یسمی ما یزرع فیها لانها قد تستاجر للزراعة و لغیرها و ما یزرع فیها متفاوت فلا بد من التعیین کی لا یقع المنازعة او یقول ان یزرع فیها ما شاء لانه لما فوض

الخیرة الیه ارتفعت الجهالة المفضیة الی المنازعة. (الهدایة ج٣، ص٢٩٦، کتاب الاجارات، باب ما یجوز من الاجارة او ما یکون خلافا فیها) و مثله فی فتاوٰی الکاملیة (ص١٩١، کتاب الاجارة)

اجاره په اجاره باندې صحیح ده لیکن په دې شرط چه پخپله په مؤجر باندې نه وي

سوال: په ځینو علاقو کښې دا رواج دی چه یو سړی د زمکې له څښتن څخه زمکه په نیمای باندې په اجاره اخلي او بیا هغه زمکه بل چا ته په دوو برخو سره په اجاره ورکوي۔ اوس پوښتنه دا ده چه د دغې اجاره شوې زمکې بل سړي ته په اجارې باندې ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مستاجر لپاره اجاره په اجارې باندې صحیح دی خو په دې شرط چه خپله مؤجر ته به ئې نه ورکوي او اجرت له اولې اجارې سره برابر او یا به په کمې اندازې باندې وي او که چېرته له اول اجرت څخه زیات وي نو هغه زیاتی پیسې به په فقیرانو باندې صدقه کوي۔ هو! دوه صورتونه له دې څخه مستثنی دي اول دا چه دوهمه اجاره خلاف الجنس وي۔ او دوهم دا چه مستاجر د اجاره شوي شي اصلاح کړې وي۔ مثلا که چېرته کور وي نو هغه ئې جوړ کړی وي او رنګ، چونه ئې ورکړې وي او که زمکه وي نو د هغې ویالې او د اسې نور ئې سم کړي وي۔ په دغو دواړو صورتونو کښې دوهمه اجاره به په اولې اجارې باندې په زیاتو پیسو باندې ورکول هم جائز دي۔

و فی الهندیة: و اذا استاجر دارا و قبضها ثم اجرها فانه یجوز ان اجرها بمثل ما استاجر او اقل و ان آجرها باکثر مما استاجر فهی جائزة ایضا الا انه ان کانت الاجرة الثانیة من جنس الاجرة الاولٰی فان الزیادة لا تطیب له و یتصدق بها و ان کانت من خلاف جنسها طابت له الزیادة و لو زاد فی الدار زیادة کما لو وتد فیها وتداً او حفر فیها بیراً او اصلح ابوابها او شیئا من حوائطها طابت له الزیادة. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٢٥، کتاب الاجارة، الباب السابع فی اجارة المستاجر)

قل ابن عابدینؒ: (قوله المستاجر ان یؤجر المؤجر الخ) ای ما استاجره بمثل الاجرة الاولٰی او ما نقص، فلو باکثر تصدق با لفضل الا فی مسئلتین کما مر اول باب ما یجوز من الاجازة. (رد المحتار ج٦، ص٩١، مسائل شتی، مطلب فی اجارة المستاجر..... الخ) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی (ج٣، ص١٤٥، کتاب الاجارات فی الجنس الثانی)

د مستاجر یا د مؤجر په مرګ سره د اجارې ختمیدل

سوال: که چېرته د دوو کسانو په منځ کښې د څو کلونو لپاره د اجارې عقد شوی وي او د هغه وخت د پوره کیدو نه مخکښې مؤجر یا مستاجر مړ شي نو آیا دا عقد د اجارې جاري پاتې کید ای شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته متعاقدین د اجارې عقد د ځان لپاره کړی وي نو د هر یوه په مرګ باندې د اجارې عقد فسخ کیږي لهذا د هغوی د وارثانو لپاره د عقد تجدید ضروري دی۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و اذا مات احد المتعاقدین و قد عقد الاجارة لنفسه انفسخت الاجارة. (الهدایة ج٣،

ص۳۱۳، کتاب الاجارة، باب فسخ الاجارة)

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: و تنفسخ بموت احد المتعاقدین ان عقدها لنفسه و ان عقدها لغیره لا. (کنز الدقائق ص ۱۳۰، کتاب الاجارة) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج۶، ص۸۳، کتاب الاجارة)

په جعلي سندونو باندې د نوکرۍ پیدا کوونکي نوکر د تنخواه حکم

سوال: حکومت په مکتبونو کښې د دینیات د ښوولو لپاره د استاذانو د مقررۍ اشتهار خپور کړ او دا شرط ئې ولګاوه چه کاندید به د دیني مدرسې څخه فارغ وي نو یو سړي د دیني مدرسې مهتمم ته پیسې ورکړې او پخپل نامه ئې جعلي سند جوړ کړ او د امتحان په وخت کښې ئې هغه سند وړاندې کړ او په هغې وظیفې باندې ولګید۔ نو آیا په دې طریقې سره هغه تاکل شوي استاذ ته د حکومت لخوا نه چه کومه تنخواه ورکول کیږي د هغه لپاه شرعا حلاله ده او که حرامه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې په عقد سره د پیدا کیدونکي اجرت دار و مدار د کار په اهلیت پورې اړه لري لهذا که چېرته نوموړی شخص د ور سپارل شوې نوکرۍ او خدمت اهل وي نو تنخواه به ورته حلاله وي او که نه وي نو حرامه به وي لیکن د دوکې ورکولو، دروغ ویلو او رشوت د ورکولو په وجه به ګناهګار خامخا وي۔

قال العلامة ابن نجیمؒ: و اما رکنها فهو الایجاب و القبول و الارتباط بینهما و اما شرط جوازها فثلاثة اشیاء اجر معلوم و عین معلوم و بدل معلوم و محاسنها دفع الحاجة بقلیل المنفعة و اما حکمها فوقوع الملک فی البدلین ساعة فساعة. (البحر الرائق ج۸، ص۳، کتاب الاجارة)

قال العلامة ابن البزازؒ: لا یجوز عقدها حتی یعلم البدل و المنفعة و بیان المنفعة باحد ثلاث بیان الوقت و هو الاجل و بیان العمل و المکان فا لاجر ببیان النقد. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۵، ص۱۱ کتاب الاجارات)

د جومات امام د نااهلي له وجې د معزولولو حکم

سوال: یو سړي له ډیره وخته د یو جومات امام دی لیکن اوس ئې ځینې مقتدیان له جومات څخه معزول کول غواړي نو آیا شرعا دې حق لري او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د جومات امامت د اجارې په حکم کښې دی که چېرته په اجیر کښې د ذمه وارۍ د اداکولو صلاحیت نه وي نو د اجارې فسخ کول جائز دي۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و فی الفتاوی الصغری رجل استاجر رجلا لیعلمه حرفة کذا هذه السنة فمضی نصف السنة و لم یعلمه شیئا فللمستاجر ان یفسخ الاجرة. (خلاصة الفتاوی ج۳، ص۱۴۱، کتاب الاجارة، الفصل السابع فی فسخ الاجارة)

و فی الهندیة: و اذا استاجر استاذا یعلمه هذا العمل هذه السنة فمضی نصف السنة فلم یعلمه شیئا فللمستاجر ان یفسخ ما رأیت روایة فی هذا لکن افتی الشیخ الامام علی الاسبیجابی فافتیت انا ایضا کذا فی الصغری. (الفتاوی

الهندیة ج۴، ص۴۶۱، کتاب الاجارة، الباب التاسع عشر) و مثله فی الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة (ج۵، ص۳۹، کتاب الاجارة، نوع فی تعلیم القرآن و الحروف)

د جومات په امامت او د قرآن په تعلیم باندې د اجرت د اخیستلو حکم

سوال: آیا د جومات په امامت او د قرآن پ تعلیم باندې اجرت اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که امام ابو حنیفه رحمه الله په طاعاتو باندې اجرت اخیستلو ته ناجائز وایي لیکن دا د هغه وخت خبره ده چه کله د اهل علم او د دین د خادمانو اقتصادي حالت ښه وو او تنخواه ګانې له بیت المال څخه ورکول کیدلې لیکن وروسته چه کله د حکومتونو د بې پروایي په وجه سره دا سلسله بنده شوه نو فقهاء کرامو د قرآن د تعلیم او د دیني شعائرو د ضائع کیدو د اندیښنې په وجه ئې د جواز فتوی ورکړه ترڅو چه د دین دغه خادمان د دنیا د کارونو څخه یوې خوا ته وي او په بې غمۍ سره د دین په خدمت کښې مصروف و اوسي۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و بعض مشائخنا استحسنوا الاستیجار علی تعلیم القرآن الیوم لانه ظهر التوانی فی الامور الدینیة ففی الامتناع یضیع حفظ القرآن و علیه الفتوی. (الهدایة ج۳، ص۳۰۱، کتاب الاجارات)

قال العلامة ابن عابدینؒ: اعلم ان عامة کتب المذهب من متون و شروح و فتای کلها متفقة علی ان الاستیجار علی الطاعات لا یصح عندنا و استثنی المتاخرون من مسائخ بلخ تعلیم القرآن فجوزوا الاستیجار علیه و عللوا ذٰلک فی شروح الهدایة و غیرها بما مرو با لضرورة و هی خوف ضیاع القرآن لانه انقطعت العطایا من بیت المال و عدم الحرص علی الدفع بطریق الحسبة لیستغلوا له معلمون به بمعاشهم و لا یعلمون احدا و یضیع القرآن فافتی المتاخرون با لجواز لذٰلک. (تنقیح الحامدیة ج۲، ص۱۳۷، الفتوی علی جواز الاجارة علی تعلیم القرآن) و مثله فی کنز الدقائق ص۳۶۴، کتاب الاجارة)

د نکاح په تړلو باندې د اجرت د اخیستلو حکم

سوال: آیا د نکاح په تړلو باندې اجرت اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نکاح باندې اجرت اخیستل د فقهاوو په نزد مختلف فیه مسئله ده چونکه په دې کښې یو ډول تعلیم او تلقین دی او د تعلیم او تلقین باندې اجرت اخیستل د مفتی به قول مطابق جائز دی نو ځکه فقهاء کرامو په دې کښې د اجرت د اخیستلو قول غوره کړی دی۔ له دې وجهې د نکاح په تړلو باندې په اجرت اخیستلو کښې شرعا څه قباحت نشته۔

قال العلامة قاضیخانؒ: اختلف المشائخ فی الدلالة فی النکاح هل یکون لها الاجر قال الشیخ الامام ابو بکر محمد بن الفضلؒ لا اجر لها لانه لا منفعة للزوج من کلامها بغیر عقد و انما منفعة الزوج فی العقد و العقد ما قام بها و قال غیره من المشائخ لها اجر مثلها لان معظم الامر فی النکاح یقوم با لدلالة فان النکاح لا یکون الا بمقدمات تکون من الدلالة فکان لها اجر المثل بمنزلة الدلال فی البیع فانه یستحق الاجر. (الفتاوی قاضی خان ج۳، ص۲۰، باب الاجارة الفاسدة)

و فی الهندیة: الدلالة فی النکاح لا تستوجب الاجر و به یفتی الفضلی فی فتاواه و غیر من مشائخ زماننا کانوا یفتون بوجوب اجر المثل و به یفتٰی کذا فی جواهر الاخلاطی. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٥١، الفصل الرابع فی فساد الاجارة اذا کان المستاجر مشغولا لغیره) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی (ج۳، ص۱۱۷، کتاب الاجارة)

اجیر خاص ته د خدمت په وخت کښې بل کار کول جائز نه دي

سوال: زید په یو مکتب کښې معلم دی نو آیا د غه د مکتب د خدمت په وخت کښې چېرته یو نږدې جومات کښې امامت کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مکتب معلم چونکه اجیر خاص وي او د اجیر خاص لپاره د خدمت په اوقاتو کښې بل کار یا نور ملازمتونه جائز نه وي او که نه نو د هغه له تنخواه څخه د غیر حاضرۍ په اندازه روپۍ ګرځول کیږي البته د رخصتۍ یا د تفریح په اوقاتو کښې که چېرته بل کار کول غواړي نو ئې کولی شي۔ په نوموړي صورت کښې که چېرته د هغه تدریس د امامت په وجه نه متاثر کیږي نو د امامت په کولو کښې کوم حرج نشته۔

قال العلامة الحصکفیؒ: و لیس للخاص ان یعمل لغیره و لو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل فتاوٰی النوازل. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٧٠، باب ضمان الاجیر)

قال العلامة المرغینانیؒ: و انما سمی اجیر وحد لانه لا یمکنه ان یعمل لغیره لان منافعه فی المدة صارت مستحقة له و الاجر مقابل با لمنافع و لهٰذا یبقی الاجر مستحقا و ان نقص العمل. (الهدایة ج۳، ص۳۱۰، کتاب الاجارات، باب ضمان الاجیر) و مثله فی شرح مجلة الاحکام لسلیم رستم بازؒ (مادة ٤٧٧، ص۲۳۷، الکتاب الثانی فی الاجارة، الباب الاول)

اجیر خاص خپل کار په بل سړي باندې نه شي کولی

سوال: زید په یو مکتب کښې معلم دی لیکن د زید په ځای باندې د هغه ورور عمر هغه دنده ترسره کوي نو آیا د زید لپاره د اسې کول جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې زید اجیر خاص دی شرعا خپل کار په بل چا باندې نه شي کولی او که نه نو د کومې حادثې په صورت کښې به ئې توله ذمه واري خپله وي۔ له دې وجهې د زید لپاره د اسې کول شرعا جائز نه دي۔

قال العلامة خالد آتاسیؒ: الاجیر الذی استوجب علی ان یعمل بنفسه لیس له ان یستعمل غیره مثلا لو اعطٰی احد جبة لخیاط علی ان یخیطها بنفسه بکذا دراهم فلیس للخیاط علی ان یخیطها لغیره بل یلزم ان یخیطها بنفسه و ان خاطها بغیره و تلفت فهو ضامن. (مجلة الاحکام، مادة ٥٧١، ص٣٠٦، الفصل الرابع فی اجارة الآدمی)

قال العلامة المرغینانیؒ: و اذا شرط علی الصانع ان یعمل بنفسه فلیس له ان یستعمل غیره لان المعقود علیه اتصال العمل فی محل بعینه فیستحق عینه کا لمنفعة فی محل بعینه. (الهدایة ج۳، ص۲۹٦، کتاب الاجارات، باب الاجر متٰی یستحق) و مثله فی العنایة علی هامش فتح القدیر (ج٨، ص۲۱)

د اجیر خاص استحقاق

سوال: که چېرته د یوې علاقې په حکومتي مکتب کښې طلباء نه وي او په هغه ځای کښې اساتذه تاکل شوي وي او حال دا چه اساتذه د طلباوو د نه موجودګي په وجه مکتب ته نه راځي نو آیا د دغو استاذانو لپاره له حکومت څخه د تنخواه اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مکتبونو استاذان د اجیر خاص په حکم کښې داخل دي۔ له دې وجهې په مکتبونو کښې په منظم ډول د حاضرۍ په وجه د تنخواه مستحق جوړیږي او په بل صورت کښې د نه حاضرۍ په وجه د تنخواه د اخیستلو مستحق نه شي جوړیدلی۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و الاجیر الخاص الذی یستحق الاجرة بتسلیم نفسه فی المدة و ان لم یعمل کمن استوجر شهرا للخدمة او لرعی الغنم. (الهدایة ج۳، ص۳۰۸، کتاب الاجارات، باب ضمان الاجیر)

قال العلامة ابو البرکات النسفی رحمه اللّٰه: و الخاص یستحق الاجر بتسلیم نفسه فی المدة و ان لم یعمل کمن استوجر شهرا للخدمة او لرعی الغنم. (کنز الدقائق ص۳٦٧، کتاب الاجارات، باب ضمان الاجیر) و مثله فی الجوهرة النیرة (ج۱، ص۳۲۳، کتاب الاجارة)

ملازم ته د ورسپارل شوي خدمت نه پرته بل کار جائز نه دی

سوال: یو سړی په فوج کښې نوکر دی عموما د مازدیګر د لمانځه په وخت کښې د افسرانو له خوا په میدان کښې ور ته د حاضریدو حکم وي، یوې خوا ته د جمعې د لمانځه فضیلت وي او بلې خوا ته د افسرانو حکم او کله کله خو د مازدیګر تر لمانځه نه مخکښې میدان ته د حاضریدو حکم وي په دې صورت کښې د څو فوجیانو سره که چېرته په کوټه کښې پخپله د جمعې لمونځ سره وکړو نو د خدای په نزد خو به ګناهګار نه یو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د د اسې سړي لپاره دندې (خدمت) ته په ټاکلي وخت باندې رسیدل ضروري وي بیا هم که چېرته د جومات جمع پیدا نه کړي نو څو کسان چه یو ځای په کوټه کښې د جمعې لمونځ سره وکړي صحیح دی لیکن د فرض د لمانځه پرېښودل هیڅ کله هم جائز نه دي او نه د وخت نه مخکښې لمونځ کول جائز دي ځکه چه ملازم ته د خدمت په اوقاتو کښې د فرائضو نه پرته په نورو امورو کښې مشغولیدل صحیح نه دي۔

و فی الهندیة: و فی الفتاویٰ الفضلی رحمه اللّٰه: اذا استاجر رجُلا یوما لیعمل کذا فعلیه ان یعمل ذٰلك العمل الی تمام المدة و لا یشتغل بشیء آخر سوی المکتوبة. و فی فتاوٰی اهل سمرقند قد قال بعض مشائخنا رحمهم اللّٰه تعالی ان له یؤدی السنة ایضا و اتفقوا انه لا یؤدی نفلا و علیه الفتوٰی کذا فی الذخیرة. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤١٦، کتاب الاجارة، الباب الثالث فی الاوقات التی یقع علیها عقد الاجارة.

قال العلامة ابن عابدینؒ: (قوله و لیس للخاص ان یعمل لغیره) بل و لا ان یصلی النافلة قال فی التاتارخانیة و فی

فتاوی الفضلی و اذا استاجر رجلا یوما یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلك العمل الی تمام المدة و لا یشتغل بشیء آخر سوی المکتوبة و فی فتاوی سمرقند و قد قال بعض مشائخنا رحمهم الله تعالی له ان یؤدی السنة ایضا و اتفقوا انه لا یؤدی نفلاً و علیه الفتوی. (رد المحتار ج۶، ص ۷۰، باب ضمان الاجیر، مطلب لیس للاجیر الخاص ان یصلی النافلة) و مثله فی مجلة الاحکام (مادة ۲۳۶، ص ۱۲۰، کتاب الاجارة، فی بیان ما یدخل فی البیع بدون ذکر صریح و ما لا یدخل)

د مال د غلا کیدو په صورت کښې په اجیر باندې د ضمان حکم

سوال: زید یو دوکاندار دی او د دوکان د چلولو لپاره ئې یو مزدور نیولی دی۔ که له منشي څخه څوك څه مال پټ کړي نو آیا منشي به د مال د ورکیدو ضامن وي او که دا نقصان به د زید وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجیر خاص په لاس کښې مال د امانت په حکم کښې وي او د غلا په صورت کښې په امین باندې ضمان نه وي لهذا په نوموړي صورت کښې منشي د غلا شوي مال ضامن نه دی بلکه ټول تاوان به د زید وي۔ بیا هم که چېرته په غلا کښې منشي ملوث وي نو ضمان به ور نه اخیستل کیږي۔

قال العلامة خالد الآتاسیؒ: و الاجیر الخاص امین حتی انه لا یضمن المال الذی تلف فی یده بغیر صنعه و کذا لا یضمن المال الذی تلف بعمله بلا تعد ایضا. (مجلة الاحکام مادة ۶۱۰، ص ۳۲۹، الفصل الثالث فی ضمان الاجیر)

قال العلامة ابن عابدینؒ: قال فی جامع الفصولین استوجر رجل لحفظ خان او حوانیت فضاع منها شیء قیل ضمن عند ابی یوسفؒ و محمدؒ لو ضاع من خارج الحجرة لانه اجیر مشترك و قیل لا فی الصحیح و به یفتی لانه اجیر خاص. (رد المحتار ج۶، ص ۷۱، باب ضمان الاجیر، مطلب فی الحارس و الخاناتی) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص ۷۱، کتاب الاجارات، باب ضمان الاجیر)

د ټیوب ویل (برمې) اوبه په اجاره باندې د ورکولو حکم

سوال: که چېرته د ټیوب ویل او د زمکې د مالکانو تر منځ په دې شرط باندې عقد وشي چه د زمکې مالك د خپلې زمکې لپاره د اوبه په عوض کښې د زمکې مالك ته پنځوس روپۍ فی ساعت ورکوي نو آیا دا عقد به شرعا جائز وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې وخت او اجرت دواړه ټاکل شوي دي او کله چه اجرت او وخت دواړه ټاکل شوي وي نو د ناجائز والي وجه پکښې نه لیدل کیږي نو له دې وجهې د اسې معامله صحیح ده۔

قال العلامة ابن بزاز الکردریؒ: و لا یجوز عقدها حتی یعلم البدل و المنفعة و بیان المنفعة باحد ثلاث بیان الوقت و هو الاجل و بیان العمل و المکان فالاجر ببیان النقد و هو علی غالب نقد البلد. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج۵، ص ۱۱، کتاب الاجارات، الاول فی المقدمة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله: فی شرح الطحاوی عقد الاجارة لا یجوز الا ان یبین البدل

من الجانبین جمیعا اما بیان المتعة فباحدی معان ثلاثة بیان الوقت و هو الاجل و بیان العمل و بیان المکان اما الاجر ان کان دراهم او دنانیر فالشرط بیان القدر. (خلاصة الفتاوی ج۳، ص ۱۰۳، کتاب الاجارات، اما الاول فی المقدمة...... الخ) و مثله فی مجلة الاحکام (مادة ۴۵۰، ۲۵۴، الفصل الثالث فی شروط صحة الاجارة)

د دیني مدارسو لپاره په کمیشن باندې د چندې ټولول جائز نه دي

سوال: د ځینو دیني مدارسو مهتممین حضرات څوك د چندې لپاره لیږي او دا عقد ورسره کوي چه جمع شوې چندې کښې دریمه حصه به ستا وي نو آیا شرعا د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې په عقد کښې دا ضروري دي چه اجرت متعین وي چونکه په نوموړي صورت کښې اجرت متعین نه دی نو ځکه دا عقد فاسد دی او حل ئې دا دی چه سفیر دې په مدرسه کښې ملازم کړي او تنخواه دې ورته وټاکي۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: تفسد الاجارة بالشرط المخالفة لمقتضی العقد فکل ما افسد البیع مما مر (یفسدها) کجهالة ماجور او اجرة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص ۴۶، باب الاجارة الفاسدة)

قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و قد ضبطه الشیخ ابو الحسن الکرخیؒ فی مختصره فقال اذا کان ما وقع علیه عقد الاجارة مجهولا فی نفسه او فی اجرة او فی مدة الاجارة او فی العمل المستاجر علیه فالاجارة فاسدة و کل جهالة تدخل فی البیع فتفسده من جهة الجهالة فکذلك هی فی الاجارة. آه (البحر الرائق ج۷، ص ۳۱۲، باب الاجارة الفاسدة) و مثله فی فتاوی کاملیة (ص ۱۹۲، کتاب الاجارة)

د دیني او عصري مدرسو د استاذانو لپاره د رخصتۍ د ورځو تنخواه اخیستل جائز دي

سوال: په مدارسو کښې یوه مشهوره طریقه دا ده چه مدرسین حضرات د شعبان له شروع څخه واخله د شوال تر آخره پورې رخصتي وي او د دې نه پرته هم د کال په منځ کښې کله کله د مهتمم په اجازه او کله کله د مهتمم د اجازې نه پرته هم رخصتي کوي لیکن د دې سره سره مهتممین حضرات هغو ته باقاعده تنخواه ورکوي د دې شرعي حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د رخصتیو ورځې د کار د ورځو تابع وي نو ځکه د رخصتیو تنخواه اخیستل جائز دي۔ خو په دې شرط چه د مدرسې د مهتمم او د چندې ورکوونکو تر منځ شرائط فیصله شوي وي او دواړه به د هغو شرائطو پابند وي لیکن په دې کښې د چندې ورکوونکو اجازې قولا یا حالا ضروري ده ځکه چه مهتممین حضرات د چندې ورکوونکو وکیلان وي او که چېرته د چندې ورکوونکو رضا نه وي نو مهتمم به له خپل کور څخه تنخواه ورکوي البته د مرض، عیدینو او نورو ضروري رخصتیو په باره کښې که چېرته د مدرسې مدون قانون وي نو په هغه به عمل کیږي او معروفه طریقه دا ده چه د اساتذه وو څخه د

رخصتي تنخواه و نه کرځول شي- خو بیا هم په دواړو خواوو باندې لازم دي چه د تنخواه د ورکولو او اخیستلو په وخت کښې خپله معامله الله ته وسپاري-

قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و منها البطالة فی المدارس کایام الاعیاد و یوم عاشوراء و شهر رمضان فی درس الفقه لم ارها صریحة فی کلامهم و المسئلة فیه علی وجهین فان کانت مشروطة لم یسط من المعلوم شیء و الا فینبغی ان یلحق ببطالة القاضی و قد احتذو فی اخذ القاضی ما رتب من بیت المال فی یوم بطالته. (الاشباه و النظائر ص۹۵)

قال العلامة ابن عابدینؒ: حیث کانت البطالة فی یوم الثلثاء و الجمعة و فی رمضان و العیدین یحل الاخذ و کذا لو بطل فی یوم غیر معتاد لتحریر درس الا اذا نص الواقف علی تقیید الدفع با لیوم الذی یدرس فیه. قال فی الفقیه ابو اللیث من یاخذ الاجر من طلبة العلم فی یوم لا درس فیه ارجو ان یکون جائزا. (رد المحتار ج۳، ص۴۱۶، کتاب الوقف) و مثله فی شرح المجلة لرستم بازؒ (المادة ۴۹۵، ص۲۷۴، الفصل الرابع فی اجارة الآدمی)

د مسلمانانو لپاره د کفارو د مزدورۍ یا نوکرۍ حکم

سوال: نن صبا اکثر مسلمانان امریکا، برطانیه، جاپان او نورو ملکونو ته د مزدورۍ لپاره ځي او هلته د کافرانو مزدوري کوي نو آیا د یوه مسلمان لپاره د کافر مزدوري جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام د یوه مسلمان د عزت او عظمت ډیر خیال ساتلی دی ځکه مسلمانانو ته هم د خپل نفس د عزت ساتل په کار دي- په دې بناء سره چه په کومه نوکري کښې د یوه مسلمان تذلیل او کمي راځي نو هغه ته د اسې مزدوري کول نه دي په کار- لیکن که چېرته یوه مسلمان ته د کافر د اسې مزدوري پیدا کیدله او په هغه کښې ئې اهانت او ذلت نه راتله نو شرعا څه قباحت پکښې نشته بیا هم د اولٰی خلاف دی-

قال العلامة ابو بکر الکاسانیؒ: و لو استاجر ذمی مسلما لیخدمه ذکر فی الاصل انه یجوز و اکره للمسلم خدمة الذمی اما الکراهة فلان الاستخدام استذلال فکان اجارة المسلم نفسه منه اذلالا لنفسه و لیس للمسلم ان یذل نفسه خصوصا بخدمة الکافر. (بدائع الصنائع ج۴، ص۱۸۹، فصل و اما شرائط الرکن)

قال العلامة قاضیخانؒ: مسلم آجر نفسه من نصرانی ان استاجره لعمل غیر الخدمة جاز و ان آجر نفسه للخدمة قال الشیخ الامام ابو بکر محمد بن الفضل لا یجوز و ذکر القدوری انه یجوز یکره له خدمة الکافر. (الفتاوٰی قاضی خان ج۳، ص۱۸، کتاب الاجارات) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی ج۳، ص۱۴۹، کتاب الاجارات، الفصل العاشر فی الخطر و الاباحة)

د راډیو په جوړولو باندې د اجرت اخیستلو حکم

سوال: راډیو کوم چه عموما د ساز، سرود او د سندرو لپاره استعمالیږي لیکن ډېر وخت په هغې کښې تلاوت، دیني تقریرونه، او خبرونه هم نشر کیږي که چېرته خرابه شي نو آیا د هغه په جوړولو کښې د مستري لپاره د اجرت اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: راډیو د خپل ذات په لحاظ سره ناجائز شی نه دی او د اصلاحي،

سائنسي، معلوماتي او تربیتي مقاصدو لپاره هم استعمالیدلی شي او کوم شی چه پخپل ذات کښې د بدعملۍ لپاره نه وي او خلک ئې د بدعملۍ لپاره نه استعمالوي نو فقهاء کرامو د هغه اخیستل، پلورل او د هغه په جوړولو باندې اجرت اخیستل جائز کړي دي- هو که چېرته د چا متعلق مستري ته دا معلومات وي چه هغه راډیو د ساز، سرود او د نورو بدعملیو لپاره استعمالوي نو بیا ئې جوړول هم ناجائز او په جوړولو باندې ئې د اجرت اخیستل هم ناجائز دي-

قال العلامة ابن بزاز الکردریؒ: و لا تجوز الاجارة علی الغناء و النوح و لو عمل لا اجر له. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۵، ص۴۱، نوع فی المتفرقات و فیه الاجارة علی المعاصی)

قال العلامة الحصکفیؒ: (لا تصح الاجارة لعسب التیس) و هو نزوة علی الاناث (و) لا (لاجل المعاصی مثل الغناء و النوح و الملاهی) و لو اخذ بلا شرط یباح. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۳۸، مطلب فی الاستیجار علی المعاصی) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۴، ص۱۸۹، کتاب الاجارة)

د غوایي په غوا باندې د خېژولو پر سر د اجرت اخیستلو حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې ځیني خلك په غوا باندې د خېژولو لپاره غوایان ساتي او په هغو باندې متعین اجرت اخلي نو آیا دا اجرت اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجرت د جواز لپاره دا ضروري دي چه د کوم شي څخه نفع حاصلوي هغه د هغه سړي ملکیت وي چونکه په نوموړي صورت کښې د غوایانو حمل د چا په وس کښې نه دی نو ځکه په هغو باندې اجرت اخیستل جائز نه دي- برسیره پردې په احادیثو کښې هم له دې څخه منع راغلې ده-

قال العلامة ابن نجیمؒ: یعنی لا یجوز اخذ اجرة عساب التیس لقوله علیه الصلوٰة و السلام ان من السحت عسب التیس و مهر البغی و لانه عمل لا یقدر علیه و هو الاحبال فلا یجوز اخذ الاجرة علیه و لا اخذ المال بمقابلة الماء و هو نجس لا قیمة له فلا یجوز و المراد هنا استیجار التیس لینذو علی الغنم و یحبلها باجر. (البحر الرائق ج۸، ص۱۹، باب الاجارة الفاسدة)

قال العلامة ابن عابدینؒ: (قوله لا تصح الاجارة لعسب التیس) لانه عمل لا یقدر علیه و هو الاحبال. (رد المحتار ج۶، ص۵۵، مطلب فی الاستیجار علی المعاصی) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص۳۰۳، کتاب الاجارات)

په عکاسي باندې اجرت اخیستل

سوال: د عکاسي شرعي حیثیت څه دی او عکاسي د معاش او ګټې ذریعه جوړول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا-

الجواب باسم ملهم الصواب: د یو ځناور تصویر جوړول سخت ګناه دی البته د سخت ضرورت یعنې د عمرې او حج لپاره د پاسپورټ او د اسې نورو د جوړولو لپاره په هغه وخت کښې مرخص دی لیکن اجرت اخیستل پرې جائز نه دي-

قال العلامة المرغینانیؒ: و لا یجوز الاستیجار علی الغناء و النوح و کذا سائر الملاهی لانه استیجار علی المعصیة و المعصیة لا تستحق با لعقد. (الهدایة ج۳، ص۳۰۳، کتاب الاجارات)

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: و لا یجوز علی الغناء و النوح و الملاهی. (کنز الدقائق ص۳۶۴، کتاب الاجارات) و مثله فی رد المحتار (ج۶، ص۵۵، مطلب فی الاستیجار علی المعاصی)

د قلنګ د ټولولو حکم

سوال: په ځینې علاقو کښې د میږو او ووزې لرونکي خلك د چا په غرونو یا زمکو کښې قیام کوي او خپل مالونه پیایي او حال دا چه هغه کلیوال یا د زمکې مالکان له هغو څخه د قلنګ په نامه څه پیسې وصولوي آیا دا روپۍ دوی ته جائزې دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دا قلنګ د هغو وښو معاوضه وي چه پخپله شنه کیږي نو بیا جائز نه دي ځکه چه د هغو مالك هیڅ خدمت نه وي کړی او که چېرته په مملوکه زمکې باندې د اوسیدلو معاوضه وي نو باقاعده د اجارې د عقد په صورت کښې دا قلنګ اخیستل جائز دي۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و تصح اجارة ارض لبناء و غرس و سائر الانتفاعات کطبخ آجر و خزّ و مقیل و مراح و المقیل مکان القیلولة و المراح با لضم ماوی الماشیة حتی تلزم الاجرة با لتسلیم اسکن زراعتها ام لا. (رد المحتار ج۶، ص ۳۰، باب ما یجوز من الاجارة و ما یکون خلافا فیها)

قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: فاذا عرفت ذٰلك ظهر لك صحة الاجارات الواقعة فی زماننا من ان یستاجر الارض مقیلا و مراحا قاصدا بذٰلك الزام الاجر لتمکن منها مطلقا سواء شملها الماء و امکن زراعتها ام لا. (البحر الرائق ج۸، ص ۱۱، باب ما یجوز من الاجارة و ما یکون خلافا فیها) ومثله فی شرح المجلة الاحکام تحت المادة ۴۸۴، ص۲۷۱، الباب الرابع فی المسائل.... بمدة الاجارة)

د بانك د څوکیدارۍ حکم

سوال: جناب مفتي صاحب آیا د بانك څوکیدارې کول شرعا جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د بانکونو موجوده نظام اګر که سودي دی کوم چه شرعا ممنوع دی لیکن د څوکیدارۍ تعلق لکه څرنګه چه په مستقیمه توګه د بانك له سودي معاملاتو سره نه دی۔ د دې لپاره د بانك په چوکیدارۍ کښې کوم حرج نشته۔ بیا هم که کیدی شي نو له دې څخه دې پرهېز وکړی شي۔

و فی الهندیة: مسلم آجر من مجوسی لیوقد النار لا باس به کذا فی الخلاصة. (الفتاوٰی الهندیة ج۴، ص ۴۵۰، الفصل الرابع فی فساد الاجارة اذا کان المستاجر الخ)

قال العلامة سراج الدینؒ: آجر نفسه من مجوسی لیوقد له النار لا باس. (فتاوٰی سراجیة علی هامش القاضیخان ص۲۴۱، کتاب الاجارة، باب ما یکره من الاجارة و ما لا یکره) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی (ج۳، ص۱۴۹، کتاب الاجارة، الفصل العاشر فی الحضر و الاباحة)

په بانك کښې د نوکرۍ حکم

سوال: آیا په بانك کښې نوکري د شریعت له مخې جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه نن صبا په اکثرو بانکونو کښې د سود کاروبار او طریقه رائجه ده او حال دا چه په قرآن او حدیثو کښې د سود په بارې کښې سخت وعیدونه راغلي دي او د سودي معاملاتو د لیکلو او په هغو باندې د شهادت د ورکولو والا هم د سود خور سره برابر ګڼل شوي دي په دې بناء باندې د بانك ملازم یا په کاتبانو او یا په شاهدانو کښې حسابیږي کوم چه تر لعنت لاندې دی نو ځکه د بانك له ملازمت څخه اجتناب په کار دی۔

لما ورد فی الحدیث: لعن رسول اللّٰه ﷺ آکل الربٰوا و مؤکله قال قلت و کاتبه و شاهدیه قال انما نحدث بما سمعنا. (صحیح مسلم ج۲، ص۲۷، باب الربٰوا)

لعن رسول اللّٰه ﷺ آکل الربٰوا و مؤکله قال قلت و کاتبه و شاهدیه قال انما نحدث بما سمعنا و قال هم سواء. (مشکوٰة المصابیح ج۲، ص ۲۴۴، باب الربٰوا) و مثله فی الصحیح البخاری ج۲، ص۸۸۱، کتاب اللباس، باب من لعن المصور)

د شریعت خلاف په کوم کار باندې اجرت اخیستل

سوال: آیا د حجامت کسب غوره کول جائز دي او که نه او حال دا چه په دې کښې د ږیرې خریل او لنډول او د انګریزي سرونو جوړول او په هغو باندې اجرت اخیستل هم راځي۔ نو په دې مسئله کښې د قرآن او حدیث په رڼا کښې څه وضاحت وفرمایئ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حجامت د کسب په اختیارولو کښې شرعا څه قباحت نشته البته د ږیرې خریل او لنډول او انګریزي سر جوړول د شریعت خلاف دی کوم چه ګناه ده او د ګناه په کارونو باندې اجرت اخیستل حرام دي او ګټه ئې هم حرامه ده لهذا د داسې ناجائزو کارونو څخه پرهیز کول په کار دي۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لا یجوز الاستیجار علی شیء من الغناء و النوح و المزامیر. (خلاصة الفتاوٰی ج۳، ص۱۱۶، کتاب الاجارات، جنس آخر فی المتفرقات)

قال العلامة المرغینانیؒ: و لا یجوز الاستیجار علی الغناء و النوح و کذا سائر الملاحی لانه استیجار علی المعصیة و المعصیة لا تستحق با لعقد. (الهدایة ج۳، ص۳۰۱، باب الاجارة الفاسدة) و مثله فی رد المحتار (ج۶، ص۵۵، باب الاجارة الفاسدة)

په تعویذ باندې اجرت اخیستل

سوال: که چېرته د برکت یا له مرض څخه د شفاء په خاطر او یا د کوم مصیبت څخه د خلاصون لپاره د قرآن مجید آیتونه ولیکي او تعویذ ترې جوړ کړي او بیا په هغه باندې اجرت واخلي نو دا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نبوي ﷺ له احاديثو او د فقهاء كرامو له عباراتو څخه داسې معلوميږي چه په تعويذاتو باندې اجرت اخيستل جائز دي خو په دې شرط چه تعويذ د شريعت د خلاف كارونو لپاره نه وي۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: لان المتقدمين المانعين الاستيجار مطلقا جوزوا الرقية با لاجرة و لو با لقرآن كما ذكره الطحاوى لانها ليست عبادة محضة بل من التداوى. (رد المحتار ج٦، ص٥٧، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحرير فى عدم جواز الاستيجار......الخ)

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: و اما حديث الرهط الذين رقوا الديغا با لفاتحة و اخذوا جعلا فسألوا النبى ﷺ فقال احق ما اخذتم عليه اجرا كتاب اللّٰه فمعناه اذا رقيتم به كما نقله العينى فى شرح البخارى عن بعض اصحابنا و قال ان الرقية با لقرآن ليست بقربة اى لان المقصود بها الاستسفاء دون الثواب. (تنقيح الحامدية ج٢، ص١٣٩، كتاب الاجارة) و مثله فى صحيح البخارى ج٢، ص٨٥٤، باب الرقیٰ با لقرآن و المعوذات)

په دلالي باندې اجرت اخيستل جائز دى

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا په كاروباري ځايونو كښې د دلالۍ رواج ډېر زيات دى او په هغه باندې اجرت هم اخيستل كيږي نو آيا په دلالي باندې اجرت اخيستل شرعا جائز دى او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په دلالي باندې اجرت اخيستل اګر چه د فقهاوو په نزد مختلف فيه دى ليكن د مجبورى په وجه سره د جواز په قول باندې فتوىٰ وركړ شوې ده خو شرط به پكښې داوي چه اجرت معين او معلوم وي او نور مفاسد پكښې نه وي۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و فى الدلال و السمسار يجب اجر المثل و ما تواضعوا عليه ان فى كل عشرة دنانير كذا فذاك حرام عليهم. و فى الحاوى سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجوا انه لا بأس به و ان كان فى الاصل فاسدا لكثرة التعامل و كثير من هٰذا غير جائز فجوزوه لحاجة الناس اليه كدخول الحمام. (رد المحتار ج٦، ص٦٣، باب الاجارة الفاسدة، مطلب فى اجرة الدلال)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارىؒ: و فى الاصل اجرة السمسار و المغارى و الحمامى و الصكاك و ما لا تقدير فيه للوقت و لا مقدار لما يستحق با لعقد لكن للناس فيه حاجة جاز و ان كان فى الاصل فاسدا. (خلاصة الفتاوىٰ ج٣، ص١١٦، كتاب الاجارات، جنس آخر فى المتفرقات) و مثله فى الاشباه و النظائر (ج٣، ص١٣٠، كتاب الاجارات)

د هرتال د ورځې تنخواه اخيستل جائز دي

سوال: د مكتبونو استاذانو حكومت ته څه غوښتنې او مطالبې وړاندې كړې ليكن حكومت د هغوى غوښتنې و نه منلې۔ د بار بار يادولو سره سره حكومت د دوى خبرو ته غور و نه نيوه نو د استاذان مجبور شول او هرتال ئې وكړ او شاګردانو ته ئې د سبقونو ښوول پريښودل او پخپله په منظم ډول مكتب ته نه حاضريدل نو آيا دغو استاذانو ته د هرتال د ورځو د تنخواه اخيستل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونكه په جمهوري حكومتونو كښې ملازمينو ته د هرتال كولو قانوني حق حاصل وي لهذا په نوموړي صورت كښې د دغو استاذانو لپاره د هرتال د ورځو تنخواه اخيستل جائز دي۔ همدارنګه استاذان د اجير خاص په حكم كښې دي او اجير يواځې په حاضري وركولو باندې هم د تنخواه مستحق ګرځي۔

قال العلامة خالد آتاسيؒ: لو استوجر استاذ لتعليم علم او صنعة و سميت الاجرة فان ذكرت مدة انعقدت الاجارة صحيحة على المدة حتىٰ ان الاستاذ يستحق الاجرة بوجوده حاضرا مهيئا للتعليم تعلم التلميذ او لم يتعلم. (مجلة الاحكام، مادة ٥٦٧، ص٣٠٥، كتاب الاجارة، الفصل الرابع فى اجارة الآدمى)

قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: و هو الموافق لتصريح المتون بانه يستحق الاجر بتسليم نفسه فى المدة و ان لم يعمل. (رد المحتار ج٦، ص٧٠، باب ضمان الاجير، مطلب ليس للاجير الخاص ان يصلى النافلة) و مثله فى الفتاوىٰ الكاملية (ص١٩٥، كتاب الاجارة، مطلب فى الاجير الخاص)

د مريض د مرض په تشخيص باندې د ډاكټرانو د فيس حكم

سوال: نن صبا شخصي شفاخانې ډېرې شوي دي چېرته چه ډاكټران د مريضانو يواځې د تشخيص په بدله كښې دروند فيس اخلي نو آيا د مريضانو د تشخيص په عوض كښې د ډېرو فيسونو اخيستل شرعا جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مريضانو په كتلو باندې د ډاكټرانو د فيس په اخيستلو كښې هيڅ قباحت نشته۔

قال العلامة خير الدين الزيلعيؒ: سئل فى رجل داء فى انفه اتفق مع طبيب على مداواته و جعل له اجرة و لم يضرب لذٰلك مدة و داواه فما الحكم (اجاب) للطبيب اجرة مثله و ما انفق فى ثمن الادوية لفساد الاجارة على الوجه المذكور. (فتاوىٰ خيرية على هامش تنقيح الحامدية ج٢، ص١٨٢، كتاب الاجارة)

قال العلامة ابن عابدينؒ: سئل فى رجل به داء فى ظهره اتفق مع طبيب على مداواته و جعل اجرة و لم يضرب له مدة و داواه و يريد الطبيب اجرة مثله و ما انفقه فى ثمن الادوية فهل له ذٰلك (الجواب) نعم و المسئلة فى الخيرية من الاجارة. (تنقيح الحامدية ج٢، ص١٥٢/١٥١، كتاب الاجارة)

په اجاره باندې په نيول شوې زمكه كښې د افيون د كرلو حكم

سوال: يو چا خپله زمكه بل چا ته په اجاره باندې وركړه مستأجر په هغې باندې افيون وكرل نو آيا د زمكې مالك ته له هغه څخه اجرت اخيستل جائز دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق په داسې زمكې باندې اجرت اخيستل حرام نه دي لكه څرنګه چه د فقهاوو له عباراتو څخه واضح دي ځكه چه د زمكې مالك هګه زمكه د معصيت د ارتكاب لپاره نه ده وركړې او حال دا چه د افيون يو مقدار په ادوياتو كښې هم استعماليږي۔

قال العلامة قاضی خانؒ: و لا بأس لمسلم ان یواجر داره من ذمی لیسکنها و ان شرب فیه الخمر او عبد فیه الصلیب او ادخل فیه الخنازیر فذٰلك لا یلحق المسلم. (فتاوٰی قاضی خان مع سراجیة ج۳، ص۱۸، کتاب الاجارات، باب الاجارة الفاسدة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و اذا استاجر الذمی من المسلم دارا لیسکنها فلا بأس به و ان شرب الخمر او عبد فیه الصلیب لم یلحق المسلم شیء کما لو اجر داره من فاسق یعص اللّٰه فیها. (خلاصة الفتاوٰی ج۳، ص۱۵۰، کتاب الاجارات، الفصل العاشر فی الخطر و الاباحة) و مثله فی الهندیة (ج٤، ص٤٥٠، الفصل الرابع فی فساد الاجارة اذ کان المستاجر الخ)

د عذر په صورت کښې د اجارې فسخ کول

سوال: د مستأجر یا له مؤجر څخه که چېرته یو تن وغواړي چه اجاره فسخ کړي نو شرعائې فسخ کولی شي او که نه په تفصیل سره ئې بیان کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مؤجر یا مستاجر هر یو که چېرته په واقعیت سره عذر وړاندې کړي نو هغه په یو طرفه توګه د اجارې د فسخ کولو اختیار لري مثلاً که یوه سړي د بار د وړلو لپاره څناور په کرایه باندې نیولی وي بیا د هغه سترګې خرابې شي چه له وجهې ئې هغه څناور له کاره ولویږي نو په دې صورت کښې مستاجر اجاره فسخ کولی شي۔

و فی الهندیة: و اذا تحقق العذر و مست الحاجة الی النقض هل یتفرد صاحب العذر با لنقض او یحتاج الی القضاء او الرضاء اختلف الروایات فیه و الصحیح ان العذر اذا کان ظاهر یتفرد و ان کان مستبها لا یتفرد کذا فی فتاوٰی قاضی خان. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٥٨، کتاب الاجارة، الباب التاسع عشر فی فسخ الاجارة با لعذر)

قال العلامة ابن نجیمؒ: الاجارة عقد لازم لا تنفسخ بغیر عذر الا اذا وقعت علی استهلاك عین کا لاستکتاب فلصاحب الورق فسخها بلا عذر. (الاشباه و النظائر ج۳، ص۱۱۷، کتاب الاجارة) و مثله فی قاضی خان علی هامش الهندیة (ج۲، ص۳۵۲، کتاب الاجارة، فصل فیها تنقض به الاجارة و ما لا تنقض به)

نااهلي د اجارې د فسخ کولو لپاره عذر دی

سوال: د یوې مدرسې مهتمم خپل یو مدرس د تعلیمي کال په منځ کښې په دې وجه لرې کوي چه د هغه له تعلیم ورکولو څخه طلباء مطمئن نه وي او حال دا چه د مدرس وینا ده چه مدرسین او مهتمم دې پخپله راشي او زما په درس کښې دې کښیني او ودې ګوري که چېرته په واقعیت کښې زما په تدریس کښې څه کمي محسوس کړي نو بې شکه مهتمم صاحب ما له دې قضیې کښې مونږ له شرعي فیصلې څخه مستفید وګرځوی مهرباني به مو وي؟ په تدریس څخه لرې کولی شي او که نه وي نو په بل صورت کښې دې زما بې عزتي نه کوي۔ په

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته مدرس په واقعي توګه د تدریس کولو اهل نه وي نو د مدرسې مهتمم ته د اجارې د فسخ کولو حق حاصل دی۔ خو په دې کښې یوازې د مهتمم

خبرې لره اعتبار نشته چه مدرس د تدریس کولو اهلیت نه لري په دې کښې د مدرس خبره هم معقوله ده چه پخپله مهتمم صاحب دې زما د اهلیت جائزه واخلي یا چېرته په بل مدرس باندې فیصله وکړی۔ د عامو مدارسو د قواعدو او ضوابطو په رڼا کښې یو مدرس د کال په منځ کښې له مدرسې څخه خارجول د غیرت او مروت خلاف دی۔

و فی الهندیة: اذا استاجر استاذ لیعلمه هذا العمل فی هذه السنة فمضی نصف السنة فلم یعلمه شیئا فللمستاجر ان یفسخ. (الفتاوٰی الهندیة ج٤، ص٤٦١، کتاب الاجارة، الباب التاسع عسر فی فسخ الاجارة با لعذر)

قال العلامة ابن بزازؒ: استاجر معلما لتعلیم ولده القرآن و الحرفة فی سنة فمضت ستت اشهر و لم یعلم شیئا له فسخ الاجارة. (الفتاوٰی البزازیة علی هامش الهندیة ج٥، ص۳۹، کتاب الاجارة، نوع فی تعلیم القرآن و الحرف) و مثله فی الاشباه و النظائر ج۳، ص۱۳۹، کتاب الاجارة)

په اجاره باندې د ورکړ شوي شي بیع موقوفه وي

سوال: زید یو دوکان چه د دوو ورونو ملکیت دی د لسو کلونو لپاره په اجاره نیولی دی او ټوله کرایه ئې مخکښې پیشکي ورکړې ده او د دواړو خواوو ترمنځ دا شرط لګول شوی دی چه په دغو لسو کلونو کښې به د دوکان مالك دا دوکان نه په چا پلورلی شي او نه به ئې رهن چا ته ورکوي۔ پنځه کاله وروسته یوه ورور خپله نیمه حصه په زید باندې وپلورله۔ اوس زید دعوٰی کوي چه چونکه د لسو کالو فیصله کړی شوی شرط ختم شو نو ځکه به له سره معاهده کیږي او ما ته به اته زره د میاشتې کرایه راکوې۔ نو په دې ډول زید ته د اولې معاهدې د فسخ کولو او د کرایې د لوړولو حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق د دوکان د مالك بیع نافذه ده لیکن د لسو کلونو د ختم کیدو نه مخکښې نه مشتري په هغه باندې قبضه کولی شي او نه د دوکان مالك هغه کرایه دار ایستلی شي او همدارنګه له سره د کرایې د لوړولو معاهده هم بې ځایه ده البته د لسو کلونو د پوره کیدو نه وروسته بیعه به نافذ العمله وي او کرایه هم لوړیدلی شي۔

قال العلامة خالد آتاسیؒ: لو باع الآجر الماجور بدون اذن المستاجر کان البیع نافذاً بین البائع و المشتری و ان لم یکن نافذ بحق المستاجر حتٰی انه بعد انقضاء مدة الاجارة یلزم البیع فی حق المشتری و لیس له الامتناع عن اخذ المبیع الا ان یطلب تسلیمه له من البائع قب انقضاء مدة الاجارة الخ. (مجلة الاحکام مادة ٥۹۰، ص۳۱٥، الفصل الثانی فی تصرف العاقدین فی الماجور بعد العقد)

قال العلامة محمد کامل الطرابلسیؒ: سئلت عمن استاجر دارا ثم باعها لاخر حتٰی تبطل الاجارة بهذا البیع فالجواب انه رفع للخیر الرملی مثل هٰذا السوال فاجاب عنه بما نصه لا یبطل الاجارة بهٰذا البیع با لاجماع و حکم البیع انه موقوف یصح و لا ینفذ و لیس بغیر المشتری فسخه و المشتری با لخیار علم او لم یعلم فی الاصح. و فی الخانیة یتوقف علی الاجارة المستاجر فی اصح الروایات. (فتاوٰی الکاملیة ص۱۹٤، کتاب الاجارة، مطلب استاجر دارا ثم باعها کان البیع موقوفا) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی (ج۳، ص۱٤۳، کتاب الاجارات)

د ساز او سرود لپاره دوکان په کرایه باندې د ورکولو حکم

سوال: نن صبا په اکثرو مارکیټونو کښې د میوزك (ساز او سرود) د مرکزونو لپاره مخصوص دوکانونه جوړ شوي دي او په کرایه باندې ورکول کیږي آیا د دغو دوکانونو په بدل کښې د کرایې اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ګناه د کارونو لپاره دوکان او مکان په کرایه باندې په ورکول کښې ګناه ده او اجیر پخپله په دې کښې شریك نه دی ځکه د امام ابوحنیفه رحمه اللّٰه په نزد کور یا دوکان په اجاره باندې په ورکولو کښې هیڅ قباحت نشته او حال دا چه د صاحبینو په نزد دا اجارهٔ قبیحه ده۔ بیا هم په دې کښې چونکه له ګناه سره یو ډول امداد موجود دی نو ځکه د داسې قبیحو عملونو لپاره دوکان یا مکان په کرایه باندې ورکول له کراهت څخه خالي نه دی۔

و فی الهندیة: و اذا استاجر الذمی من المسلم دارا یسکنها فلا باس بذٰلك و ان شرب فیها الخمر او عبد فیها الصلیب او ادخل فیها الخنازیر و لم یلحق المسلم فی ذٰلك باس لان المسلم لا یؤاجرها لذٰلك انما آجرها للسکنیٰ کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج٤، ص ٤٥٠، الفصل الرابع فی فساد الاجارة اذا کان المستاجر مسغولا بغیره)

قال العلامة سراج الدین رحمه اللّٰه: آجر بیتا لیتخذ فیه بیت نار او بیعة او کنسیة او یباع فیه الخمر لا باس به عند ابی حنیفة رحمه اللّٰه خلافا لهما. (فتاویٰ سراجیة علی هامش قاضی خان ج٤، ص ٤٢١، کتاب الاجارة، باب ما یکره من الاجارة و ما لا یکره) و مثله فی خلاصة الفتاویٰ (ج٣، ص١٤٩، کتاب الاجارات، الفصل العاشر فی الحضر و الاباحة)

د پیشګي یا پګړۍ په ورکولو سره دوکان یا کور په کرایه باندې نیول

سوال: نن صبا په کاروباري خلکو کښې دا رواج عام شوی دی چه ډیرې پیسې چه هغو ته په عرف کښې پګړۍ ویل کیږي د دوکان مالك ته ورکوي او دوکان په کرایه باندې نیسي۔ نو آیا د پګړۍ ورکول او دوکان په کرایه باندې نیول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دوکانونه او نور کاروباري ځایونه په کرایه باندې د نیولو په صورت کښې د پګړۍ د ورکولو دوه صورتونه دي۔

﴿۱﴾ پګړۍ که چېرته دوکاندار ته د رشوت په صورت کښې وي او یا په رهن باندې ورکول کیږي نو د دوکان مالك او د کرایه ورکوونکي د دواړو لپاره داسې کول جائز نه دي۔

﴿۲﴾ او که چېرته د اجرت معجله په صورت کښې ورکول کیږي نو په دې کښې څه قباحت نشته۔

قال العلامة محمد خالد الآتاسی رحمه اللّٰه: تلزم الاجرة با لتعجیل یعنی لو سلم المستاجر الاجرة نقدا ملکها الآجر و لیس للمستاجر استردادها سواء کانت الاجارة منجزة او مضافة. (الهندیة) . (مجلة الاحکام مادة ٤٦٧، ص٢٦١، الفصل الثانی فی بیان المسائل المتعلقة بسبب لزوم الاجرة و کیفیة استحقاق الاجرة)

قال العلامة ابن نجیمؒ: فی شرح الطحاوی الاجرة لا تخلوا اما ان تکون معجلة او مؤجلة او منجمة او مسکوتا بها فان کانت معجلة فان له یتملکها و له ان یطالب بها و ان کانت مؤجلة فلیس له ان یطالب الا بعد الاجل و ان کانت منجمة فله ان یطالب عند کل نجم. (البحر الرائق ج٨، ص٥، کتاب الاجارات) و مثله فی خلاصة الفتاویٰ ج٣، ص١٠٣، کتاب الاجارة)

د آفاتو له وجې اجـــــرت ساقطیږي

سوال: یوه سړي لس جریبه زمکه په اجاره ونیوله او غنم ئې پرې وکرل۔ له هغه نه وروسته حکومت نژدې کلی له سیلاب څخه د بچ کولو په خاطر له دغې زمکې نه ډېره خاوره واخیستله چه د هغې په وجه زمکې ته ډېر نقصان ورسید او فصل بالکل تباه شو نو په دې صورت کښې د اجارې پیسې مؤجر ته ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حکومت د خاورې اخیستلو په وجه که چېرته دغه زمکه د فصل نه لویدلی وي یعنې د کښت او کر قابل نه وي پاتې شوی نو د بیکاره کیدو نه د وروسته وخت اجرت ساقطیږي او د بیکاره کیدو نه د مخکښې وخت اجرت نه ساقطیږي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: فاذا استاجرها للزراعة فاصطلم الزرع آفة وجب منه لما قبل الاصطلام و سقط ما بعده. (رد المحتار ج٦، ص٧٦، باب ضمان الاجیر، مبحث اختلاف المؤجر و المستاجر)

قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: استاجر ارضا للزراعة فزرعها و اصاب الزرع آفة او غرق الارض فعلیه الاجر علی الکمال و لو غرق قبل الزرع فلا اجر علیه قال فی المحیط و الفتویٰ علی انه اذا بقی بعد هلاك الزرع مدة لا یتمکن من اعادة الزراعة لا یجب الزراعة الاجر علی المستاجر و الا یجب اذا تمکن من زراعة مثل الاول. (البزازیة علی هامش الهندیة ج٥، ص ٥٩، الباب الثالث فی ایضاع و الاعقار) و مثله فی الهندیة ج٤، ص ٤٦١، الباب التاسع عشر فی فسخ الاجارة با لعذر)

په کومو شرطونو سره چه بیع فـــــاسدیږي په هغـــو شرطونو د اجـــارې عقد هم فاسدیږي

سوال: یوه سړي له بل سړي څخه د کال په شلو زرو باندې زمکه په اجاره ونیوله او پنځه زره روپۍ پیشګي ئې ورکړه او دا شرط ئې ولګولو چه که چېرته مستاجر د وخت له پوره کیدو نه مخکښې زمکه پریږدي نو بیا هم د زمکې مالك ته پنځه زره روپۍ پوره ورکوي نو آیا د اسې اجاره شرعا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا اجاره د فاسد شرط په وجه سره صحیح نه ده ځکه چه په دې کښې د وخت تعین نشته هو که چېرته د اقالې وعده د عقد په صلب کښې شوی وي نو جائز دی لیکن د وخت په قدر سره به پیسې ورکول کیږي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (تفسد الاجارة با لشروط المخالفة لمقتضی العقد فکل ما افسد البیع) مما مر (یفسدها) کجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل و کشرط طعام عبد و علف دابة و مرمة الدار او مغارمها و عشرا و خراج او مؤنة. (رد المحتار ج٦، ص٤٦، باب الاجارة الفاسدة)

قال العلامة محمد كامل الطرابلسیؒ: ففی التنویر و شرحه للعلائی تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضی العقد فكل ما افسد البیع یفسدها كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل الخ. (فتاویٰ كاملیة ص۱۹۲، كتاب الاجارة، مطلب تفسد الاجارة باشتراط الترمیم و نحوه) ومثله فی البحر الرائق (ج۷، ص۳۱۲، كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة)

له ګودام څخه د مال د غلا کیدو په صورت کښې په چوکیدار ضمان نشته

سوال: له ګودام څخه چېرته چه د مختلفو خلکو غله او نور سامان پکښې ایښې وي که چېرته د چا سامان ورك شي نو ضمان ئې په چا دی او حال دا چه د ګودام د حفاظت لپاره څوکیدار هم شته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې نه چوکیدار ضامن دی او نه مستاجر ضامن دی۔

قال العلامة سلیم رستم باز رحمه اللّٰه: قال فی جامع الفصولین استوجر رجل لحفظ خان او حوانیت فضاع شیء قیل یضمن عند ابی یوسفؒ و محمدؒ لو ضاع من خارج الحجرة لانه اجیر مشترك و قیل لا فی الصحیح و به یفتیٰ لانه اجیر خاص الا یری انه لو اراد ان یشغل نفسه فی صنع آخر لم یكن له ذٰلك و لو ضاع من داخلها بان نقب اللص فلا یضمن. (شرح مجلة الاحكام مادة ۶۱۰، ص۳۲۹، الفصل الثالث فی ضمان)

قال العلامة ابن البزاز الكردریؒ: نقب حانوت رجل و اخذ متاعه لا یضمن حارس الحوانیت علی ما علیه الفتویٰ لان الامتعة محروسیة بابوابها و حیطانها و الحارس یحرس الابواب. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۵، ص۹۲، نوع المتفرقات) و مثله فی تنقیح الحامدیة ج۲، ص۱۱۶، كتاب الاجارة)

له کومې سفارت خانې څخه د ویزې په ایستلو باندې پیسې اخیستل جائز نه دی

سوال: یوه سړي د بل ملك د سفارت څخه د ویزې اخیستل غواړي چه لس زره روپۍ خرچه او مصرف پرې راځي لیکن د څو وجوهاتو په بناء هغه د ویزې په اخیستلو کښې کامیاب نه شو۔ اوس یو سړی هغه ته دا وايي چه که ته ما ته دیرش زره روپۍ راکوې نو زه د ویزې د ایستلو بندوبست درته کولی شم او د دواړو ترمنځ په دیرش زره روپو باندې معاهده وشوه نو آیا په دې صورت کښې د دغو پیسو اخیستل او ورکول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته ویزه د هغه سړي حق جوړیده لیکن هغه د رشوت نه بغیر نه شو حاصلولی نو بیا د ویزې اخیستونکي لپاره د رشوت ورکول حرام نه دي البته د رشوت اخیستونکي لپاره ئې اخیستل حرام دي۔ هو که چېرته دغه سړي د یوې یا دوو ورځو لپاره اجیر جوړ کړي نو بیائې په اخیستلو او ورکولو په دواړو کښې څه حرج نشته۔

قال العلامة قاضی خان رحمه اللّٰه: اهل بلدة ثقلت علیهم المؤنات فاستاجروا رجالا باجر معلوم لیذهب الی السلطان و یرفع القصة لیخفف عنهم السلطان نوع تخفیف و اخذ الاجر من عامة اهل البلدة من الاغنیاء و الفقراء قالوا ان كان بحال لو ذهب الی بلدة السلطان یتهیأ له اصلاح الامر فی یوم او یومین جازت الاجارة و ان كان بحال لا یحصل المقصود فی یوم او یومین و انما حصل فی مدة فان وقتوا الاجارة وقتاً فازت الاجارة و له كل المسمّٰی و ان لم یوقتوا فسدت الاجارة و كان له اجر المثل علی اهل البلدة علی قدر مؤنتهم و منافعهم. (فتاویٰ قاضی خان ج۳، ص۱۸، باب الاجارة الفاسدة)

و فی الهندیة: فی الكبریٰ اهل بلدة ثقلت علیهم مؤنات العمل فاستاجروا رجُلاً باجرة معلومة لیذهب و یرفع امرهم الی السلطان الاعظم لیخفف عنهم بعض الحیف و اخذ الاجرة من عامتهم غنیهم و فقیرهم ذكر هٰهنا انه ان كان بحال لو ذهب الی بلد السلطان تهیأ له اصلاح الامر یوما او یومین جازت الاجارة و ان كان بحال لا یحصل ذٰلك الا بمدة فان وقتوا لاجارة وقتا معلوما فا لاجارة جائزة و الاجر كله له و انه لم یوقتوا فهی فاسدة و له اجر مثله. (الفتاویٰ الهندیة ج۴، ص۵۲۶، الباب الثانی و الثلاثون فی المتفرقات) و مثله فی شرح مجلة الاحكام لسلیم رستم بازؒ (مادة ۵۷۰، ص۳۰۶، الفصل الرابع فی اجارة الآدمی)

د قفیز الطحان د مسئلې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په علاقه کښې د غنمو د وړولو والا ماشینونه عام دي کوم چه خلك د وړولو لپاره غنم او نور شیان ورته راوړي او د ماشین مالك د نقدو پیسو په ځای شلمه یا دیرشمه حصه وړه د وړه کولو د اجرت په ډول اخلي آیا د اسې اجاره شرعا صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا صورت د قفیز الطحان له جملې څخه دی یعنې یو د اسې شی چه په اجرت کښې تاکل دي کوم چه د اجیر په عمل سره وجود ته راځي۔ نبي کریم ﷺ له د اسې اجارې څخه منع فرمایلې ده۔ د دې اجارې په صحت او نه جواز باندې ډېر صورتونه موقوف دي۔ هو! که چېرته بې له تعین نه له دغه جنس څخه مخکښې یا وروسته اجرت ورکړي نو بالاتفاق جائز دی۔ د بلخ د مشائخو پخپله علاقه کښې د عوامو او خواصو د ابتلاء په بناء سره د مړه په باره کښې د جواز فتویٰ ورکړې ده لکه څرنګه چه په فتاویٰ عالمګیري کښې د هغه ذکر راغلی دی لیکن نن صبا چونکه په اکثرو ښهرونو کښې دا طریقه مروجه ده۔ لیکن د قفیز الطحان مسئله به پخپل ځای پاتې وي د عرف په وجه سره په هغې کښې څه تبدیلي نه راځي۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و من دفع الی حائك غزلاً لینسجه با لنصف فله اجر مثله و كذا اذا استاجر حمارا یحمل علیه طعاما بقفیز منه فا لاجارة فاسدة لانه جعل الاجر بعض ما یخرج من عمله فیصیر معنی قفیز الطحان و قد نهی النبی ﷺ عنه. (الهدایة ج۳، ص۳۰۵، باب الاجارة الفاسدة، كتاب الاجارات)

قال العلامة الحصكفی رحمه اللّٰه: و لو دفع غزلا لآخر لینسجه له بنصفه ای بنصف الغزل او استاجر بغلا لیحمل طعامه ببعضه او ثورا لیطحن بره ببعض دقیقة فسدت فی الكل لانه استاجره بجزء من عمله و الاصل فی ذٰلك نهیه ﷺ عن قفیز الطحان و قدمناه فی بیع الوفاء و الحیلة ان یفرز الاجر اولا او یسمّٰی قفیزا بلا تعیین ثم یعطیه قفیز منه فیجوز. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۵۶، باب الاجارة الفاسدة) و مثله فی الهندیة (ج۴، ص۴۴۴، الفصل الثالث فی قفیز الطحان)

Maktaba Tul Ishaq.com

د شــــامي د یوه عبارت وضاحت

سوال: جناب مفتي صاحب! د شامي د لاندیني عبارت چه "عن المحیط ما اخذته الزانیة ان کان بعقد الاجارة فحلال عند ابی حنیفة لان اجر المثل فی الاجارة الفاسدة طیب" وضاحت مې مطلوب دی چه آیا په واقعیت کښې امام صاحب په زنا باندې اجرت حلال ګڼي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اول خو د امام صاحب خوا ته د دې نسبت صحیح نه دی ځکه چه د امام صاحب غوندې متقي او پاك شخصیت دا خبره کله کوي چه د زنا غوندې په قبیح عمل باندې اجرت اخیستل حلال دي۔

قال العلامة الرافعیؒ: لم ار فیه و بعید عن الامام المعروف با لورع. (التقریرات ج۲، ص۲۶۳، باب الاجارة الفاسدة)

البته په بل صورت کښې دا توجیه ممکن دی چه په اجاره کښې اصل معقود علیه زنا نه دی بلکه یو حلال کار دی مثلاً د کور کار۔ لیکن له دې سره زنا د شرط په ډول سره فیصله شي لکه څرنګه چه اجاره فاسده ورنه جوړیږي لیکن د اصل عقد په وجه سره اجرت حلال دی اګر چه د هغه په ضمن کښې زنا هم وشي۔

په اجــــاره باندې د څناورو د ساتلو طـــــــریقه

سوال: جناب مفتي صاحب! نن صبا دا رواج عام دی چه مالدار سړی د یوه غریب لپاره څناور اخلي او هغه ته وایي چه ته هغه وساته او چه کوم بچی ترې پیدا شي هغه به زما او تا د دواړو وي۔ شرعاً د دې څه حکم دی او د دې د جواز کوم صورت کیدی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې چونکه اجرت مجهول دی ځکه دا معامله صحیح نه ده البته د هغه د جواز صورت دا کیدلی شي چه یو مالدار سړی څناور واخلي د هغه قیمت وټاکي او بیا ئې نیم کړي او د ساتلو والا ئې قبول کړي او هغه ټاکل شوی نیم قیمت ورکړي او هغه د نیم قیمت د ادا کول نه بري یعنې خلاص کړي او بیا ورته ووایي چه ته ئې وساته او چه کوم بچی ترې پیدا شي هغه به زما او ستا په دواړو به په شریکه وي نو که چېرته ئې ساتونکی منظور کړي نو بیا دواړه د دغه څناور په بچي کښې برابر سره شریك دي او که نه وي نو بیا بل صورت ئې نه شي کیدلی۔

د مشـــــــروط وخت څخه مخکښې د دوکان په خـــــــالي کولو سره د ټول وخت د کرایې اخیستلو حکم

سوال: یوه سړي یو دوکان د دریو کلونو لپاره په کرایه ونیو او د دوکان مالك دا فیصله ورسره وکړه چه که چېرته ته په دغه دوکان کښې پوره درې کلونه تیر کړې او که کم وخت تیر کړې نو کرایه به د دریو کلونو پوره راکوې۔ د کرایې ورکوونکي دا شرط قبول کړ او په دوکان کښې ئې کاروبار شروع کړ۔ په یوه کال کښې د ننه د ننه ئې له دوکان څخه درې واره غلا وشوه۔ د کرایې

ورکوونکي د دوکان په مالك او د هغه په زامنو باندې شك دی لیکن څه ثبوت ورسره نشته چه د هغه په وجه خپله دعوٰی ثابته کړي۔ اوس د دې عذر په بناء غواړي چه دوکان خالي کړي او د دوکان مالك د دریو کلونو د کرایې په اخیستلو باندې اصرار کوي او حال دا چه د ټاکل شوي وخت پوره کیدو ته دوه کاله پاتې دي نو آیا د دوکان مالك د دې حق لري چه د پاتې وخت کرایه واخلي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د معاهدې په اساس اګر که د دوکان مالك د ټول وخت د کرایې حقدار دی لیکن د شرعي عذر په بناء د دوکان د خالي کولو نه وروسته د کرایې حقدار نه دی او نه ئې وصولولی شي۔

لما قال اشرف علي تهانوي رحمه اللّٰه: دغه خالي کول که چېرته د عذر په وجه وي نو توله کرایه به نه وصولوي او که نه نو بیا به ئې وصولوي۔

(امداد الفتاوٰی ج۳، ص۳۸۷، کتاب الاجاره)

د رشوت په ذریعه د حاصل شوي ټیکې د ګټې حکم

سوال: یوه سړي د رشوت په ذریعه د یوه کار ټیکه واخیستله او بیا د شرعي حدودو نه بې له تجاوزه ئې هغه کار پوره کړ او ګټه ئې پکښې وکړه نو آیا دغه ګټه ورته حلاله ده او که حرامه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د رشوت او یا نورو غیر شرعي طریقو سره حاصل شوې ټیکه یا هر کار چه وي پخپل ذات کښې جائز نه دي۔ او بیا د شرعي حدودو د خلاف ورزي نه بغیر هغه سرته رسول او څه ګټه لاس ته راوړل د ګټه کوونکي لپاره د اعتراض وړ نه دی اګر که د رشوت ورکول او اخیستل حرام دي۔

و فی الهندیة: سئل محمد بن مقاتل رحمه اللّٰه تعالی عن رجل سرق ماءً و اساله الی ارضه و کرمه فاجاب انه یطیب له ما خرج بمنزلة رجل غصب شعیراً او تبناً و سمن به دابة فانه یجب علیه مثل ما غصب و ما زاد فی الدابة طیب له.

(الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۳۷۵/۳۷٤، کتاب الکراهیة، الباب الثلاثون فی المتفرقات)

د کمیشن د اخیستلو شرعي حیثیت

سوال: جناب مفتي صاحب! په نننی زماني کښې د کمیشن د راکړې ورکړې ډېر رواج دی مثلاً یو کاریګر د یوه سړي له خوا د دوکان د سامان د اخیستلو لپاره ځي او د دوکاندار دا اعتماد پرې وي چه زما لپاره عمده سامان په کم قیمت باندې اخلي او دوکاندار د دې په بدله کښې د کاریګر لپاره کمیشن لګوي او دا په کم قیمت اخیستل شوی سامان د دوکاندار لپاره د کمیشن په وجه ګران پریوزي نو شرعاً د دې کمیشن څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دوکاندار (بائع) له خوا څخه دغه کاریګر (خریدار) ته څه پیسې او داسې نور ورکول ناجائز نه دي۔ د تجار له خوا څخه دا اکرام خپل تجارت ته د ترقۍ ورکولو

لپاره کیږي او دا د تجارت په اصولو کښې ګڼل کیږي البته د دغه کاریګر لپاره د دغو پیسو اخیستل هلته جائز دي چه په پوره محنت او کوشش سره هغه شی واخلي او له اول څخه د کمیشن د اخیستلو شرط و نه لګوي او د طمع څخه هم زړه خالي کړي یعنې په زړه کښې هم دا فیصله وکړي چه که چېرته دغه دوکاندار ما ته کمیشن هم را نه کړي نو بیا د طبعیت له دروندوالي څخه به د نورو اثراتو څخه نه متاثر کیږم۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و لو قضٰی حاجته بلا شرط و لا طمع فاهدی الیه بع ذٰلك فهو حلال لا بأس به. (رد المحتار ج٤، ص٣٦٢، فی اقسام الرشوة)

و لما قال العلامة الکاسانیؒ: و القیاس فی استئجار الظئر بطعامها و کسوتها انه لا یجوز و هو قول ابی یوسفؒ و محمدؒ لجهالة الاجرة و هی الطعام و الکسوة الاّ ان اباحنیفة رحمه الله استحسن الجواز با لنص و هو قوله عز وجل وَ عَلَی المَولُودِ لَهٗ رِزقُهُنَّ وَ کِسوَتُهُنَّ بِا لمَعرُوفِ من غیر فصل بین ما اذا کانت الوالدة منکوحة او مطلقة و قوله عز وجل وَ عَلَی الوَارِثِ مِثلُ ذٰلِكَ ای الرزق و الکسوة و ذٰلك یکون بعد موت المولود…… و قولهما الاجرة مجهولة مسلم لٰکن الجهالة لا تمنع صحة العقد لعینها بل لافضائها الی المنازعة و جهالة الاجرة فی هٰذا الباب لا تفضی الی المنازعة لان العادة جرت با لمسامحة مع الاظهار و التوسیع علیهن شفقة علی الاولاد فاشبهت جهالة القضیز من البصرة. (بدائع الصنائع ج٤، ص١٩٣، کتاب الاجارة، مطلب فیما یرجع الی المعقود علیه)

په کار کښې د خنډ د پیدا کیدو له ویرې د تیکدار پورتني منصبدارانو ته رشوت ورکول

سوال: جناب مفتي صاحب! د لاندې درج شویو مسئلو په اړه د قرآن او سنت په رڼا کښې وضاحت وفرمایی۔

﴿۱﴾ یو سړي سرکاري تیکه اخلي او حکومتي منصبدار له ده څخه ۱۲ یا ۱۳ فیصده کمیشن خامخا اخلي او که چېرته کمیشن ور نه کړي نو د هغه په کار کښې خنډ پیدا کوي۔ او حال دا چه حکومتي منصبدار د دغه کمیشن ځان ته حلال بولي او دا وایي چه مونږ د دې کار نګراني او ساتنه کوو او خپل وخت پرې ضائع کوو۔ نو تیکه دار د مجبورۍ په وجه سره دغه کمیشن ورکوي ځکه چه د هغه تقریبا د معاش یوه ذریعه ده۔ آیا د تیکه دار لپاره د داسې تیکې اخیستل جائز دي او که نه د دې وضاحت وفرمایی؟

﴿۲﴾ د روژې د نیولو لپاره که چېرته یوه ښځه داسې ګولۍ استعمال کړي چه د هغه حیض بند شي نو آیا د روژې لپاره د حیض بندول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ د تیکې د ورکولو په بدله کښې چه کوم منصبداران له تیکه دار څخه د کمیشن په نامه سره کومې پیسې اخلي هغه په رشوت کښې داخلې دي۔ د کار ساتنه او نګراني د هغه خپل منصبي فریضه ده ځکه چه له حکومت څخه د هغه په بدله کښې تنخواه

اخلي لهذا که چېرته تیکه دار د تیکې د اخیستلو وړ وي او بې له رشوت نه هغه ته نوموړې تیکه په لاس نه ورتلو نو د مجبورۍ په حالت کښې هغه ته رشوت ورکول مرخص دی لیکن د منصبدارانو لپاره د رشوت اخیستل هیڅ کله هم جائز نه دي۔ تیکه داري یو مباح کار دی په ښو اصولو او دیانتدارۍ سره ئې کول په کار دي۔

﴿۲﴾ د حیض د بندولو لپاره د ګولۍ استعمالول د حمل مانع نه دي او نه د هغې په وجه په روژې باندې څه اثر پریووزي۔ خو بیا هم که چېرې د طب له لحاظه داسې عمل کول تاواني وي نو له هغه څخه پرهیز کول مناسب دي۔

د جومات امام د امامت له خپل حق څخه د زیاتې رخصتۍ حکم

سوال: زمونږ د جومات امام صاحب په میاشت کښې لس ورځې غیر حاضر وي او شل ورځې حاضر وي کله چه د هغه نه پوښتنه کیږي چه ته دومره غیر حاضري ولې کوې؟ نو هغه وایي چه زه ستاسو امام یم دا زما حق دی او د تاسو له ما څخه د پوښتنې هیڅ حق نشته۔ نو آیا دومره ډېره غیر حاضري واقعي د امام شرعي حق دی او که چېرته نه وي نو تر څو ورځو پورې امام غیر حاضري کولی شي؟ تفصیلي ځواب راکړی۔ ډېره مهرباني به مو وي۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تنخواه لرونکي سړي د تعطیلاتو دارو مدار په عرف باندې بنا وي په عرف کښې چه څومره د هغه تعطیل وي د غومره ورځې رخصتي کول د هغه حق دی او له عرف څخه زیاتې رخصتۍ د اعتراض (نیوکې) وړ دی۔ د علامه ابن عابدینؒ په نزد په ټول کال کښې پنځلس ورځې رخصتي د معافۍ وړ دي۔ لهذا نوموړی امام که چېرته په کال یا میاشت کښې د عرف (فیصله شوې معاهدې) په مطابق غیر حاضري کوي نو د مؤاخذه کول ئې درست نه دي او که چېرته له عرف څخه زیات غیر حاضر شي نو د مواخذې قابل دی۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: اما یترك الامامة لزیادة…… فی الرسباتیق اسبوعا او نحوه او لمصیبة او لاستراحة فلا بأس به و مثله عفو فی العادة و الشرع. (رد المحتار بحوالهٔ عزیز الفتاوٰی ج١، ص٦٦٥، کتاب الاجارات)

قال العلامة مفتی عزیز الرحمٰنؒ: د دې حاصل دا دی چه د امام لپاره د خپلو ضرورتونو یا راحت لپاره یوه هفته او یا د دې شاوخوا یعنې له پنځلسو ورځو کم وخت پورې غیر حاضري عرفا او شرعا جائزه ده او بیائې مخکښې د دې تفصیل داسې کړی دی چه له دې څخه په ښکاره توګه دا مراد دي چه په ټول کال کښې یوه هفته یا دوه هفتې غیر حاضري معاف ده۔

(عزیز الفتاوٰی (فتاوٰی دار العلوم دیوبند) ج١، ص٦٦٥، کتاب الاجارات)

د جنازې په لمانځه باندې اجرت اخیستل

سوال: په ځینې علاقو کښې دا رواج دی چه کله د یوه جومات امام د کوم مړي جنازه وکړي نو د مړي وارثان هغه ته یوه جوړه کالي او څه نقدې روپۍ هم ورکوي۔ د امیرانو نه علاوه فقیران هم

د ارسم او رواج سر ته رسوي۔ د دې شرعا څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي د جنازې لمونځ ادا کول فرض کفایي دی او د هغه حکم په قرآن باندې د اجرت اخیستلو غوندې دی لکه څرنګه چه په عبادتونو باندې د اجرت اخیستل جائز نه دی همدارنګه د جنازې لمونځ هم په عبادتونو کښې شمار دی ځکه په دې باندې هم اجرت اخیستل جائز نه دي۔ بیا هم که چېرته د مړي وارثان په خپلې خوښۍ سره جنازه کوونکي امام ته بې له تعینه څه شی ورکړي نو په هغه کښې هیڅ حرج نشته۔ په دې شرط چه د ورکوونکي ا اخیستونکي د دواړو نیتونه صحیح وي او په وارثانو کښې څوك نابالغ نه وي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: قال تاج الشريعة فى شرح الهداية ان القرآن با لاجرة لا يستحق الثواب للميت و لا للقارى....... لو لا اجرة ما قرأ احد لاحد فى هٰذا الزمان. (رد المحتار ج۵، ص۳۵، كتاب الاجارة، مطلب فى الاستيجار على الطاعات)

لما قال العلامة المفتى عزيز الرحمٰنؒ: (الجواب) د جنازې د لمانځه د ورکولو په وجه روپۍ اخیستل جائز نه دي ځکه چه د جنازې لمونځ فرض کفایه او عبادت دی او په عبادت باندې د پیسو اخیستل جائز نه دي لکه څرنګه چه د قرآن په تلاوت باندې د پیسو اخیستل جائز نه دي۔ که اجرت اخیستونکی او ورکوونکي اګر که د اجرت نوم وانه خلي لیکن د "المعروف کا لمشروط" تر حکم لاندې دا اخیستل او ورکول د جنازې تر لمانځه او د قرآن تر تلاوت وروسته مشهور شوی دی او د جنازې د لمانځه ورکوونکی امام او د قرآن تلاوت کوونکی په دې خیال او نیت باندې لمونځ او تلاوت کوي چه مونږ ته روپۍ او پیسې ملاوېږي نو له دې وجهې دا ورکول او اخیستل جائز نه دي۔

(عزیز الفتاوٰی (فتاوٰی دار العلوم دیوبند) ج۱، ص۶۶۵، کتاب الاجارات)

له ټاکلي وخت څخه مخکښې د نوکرۍ د پرېښودلو (ګولډن هینډ شیك سکیم) په بـــــدل کښې معاوضه او نور مراعات

سوال: مفتي صاحب! نن صبا په حکومتي او نیم حکومتي ادارو کښې پخپله په ملازمینو کښې یو ډول منصوبه مشهوره شوې ده چه کوم خلك له ټاکلي وخت څخه مخکښې خپله دنده پرېږدي نو اداره هغه ته د پاتې وخت معاوضه او نور مراعات ورکوي نو آیا د نوکرۍ د پرېښودلو په عوض کښې د دې معاوضې اخیستل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وظیفې د حق شمار په مجردو حقوقو کښې راځي چه په عوض کښې مالي معاوضه یا نور مراعات اخیستل حرام او ناجائز دي لیکن د موجوده ملکي قوانینو له مطالعې څخه اندازه لګیږي چه دا ډول مراعات د ملازمینو هغه مراعات او هغه حقوق دي چه د ملازم له اجازې او رضا نه بغیر ئې بل څوك نه شي حاصلولی او د قانوني تحفظ په وجه

سره ئې د یوې قیمتي سرمایې حیثیت اختیار کړی دی ځکه نو متاخرینو فقهاء کرامو له دې ډول حقوقو څخه له لاس اخیستنې (حق النزول) په بدل کښې د مالي معاوضې اخیستل جائز کړي دي۔ د حکومت د ګولډن هینډ شیك سکیم حیثیت هم د دغو حقوقو غوندې دی نو ځکه ملازمینو ته له خپل ټاکلي وخت څخه مخکښې د استعفاء ورکولو په عوض کښې د حکومتي یا نیمه حکومتي ادارو څخه د پیسو اخیستل جائز دی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: (قوله و يفتى بجواز النزول عن الوظائف بمال) قال العلامة العينىؒ: فى فتاواه ليس للنزول شىء يعتمد عليه و لكن العلماء و الحكام مسوا ذٰلك للضرورة و اشترطوا امضاء الناظر مثلا يقع فيه نزاع....... فى باب القسم بين الزوجات انه سمع من بعض شيوخه الكبار انه يمكن ان يحكم بصحة النزول عن الوظائف الدينية قياسا على ترك المرأة قسمها لصاحبها لان كلا منها مجرادا اسقاط...... و استدل بعضهم للجواز بنزول سيدنا الحسن بن على رضى اللّٰه عنه عن الخلافة لمعاوية رضى اللّٰه عنه على عوض و هو ظاهر ايضا و هذا اولى مما قدمناه فى الوقف عن الخيرية من عدم الجواز و من ان للمفروع له الرجوع با لبدل بناءً على ان المذهب عدم اعتياض العرف الخاص و انه لا يجوز الاعتياض عن مجرد الحق لما علمت من الجواز ليس مبنيا على اعتبار العرف الخاص بل على ما ذكرنا من نظائره الدالة عليه و ان عدم جواز الاعتياض عن الحق ليس على اطلاقه و رأيت بخط بعض العلماء عن المفتى ابى السعود انه افتى بجواز احد العوض فى حق القرار و التصرف و عدم صحة الرجوع و با لجملة فا لمسئلة ظنية و النظائر متشابهة للبحث فيها مجال. (رد المحتار ج٤، ص۵۰۹، كتاب البيوع، مطلب فى النزول عن الوظائف با لمال)

لما قال العلامة خالد آتاسىؒ: اقول و على ما ذكروه من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال ينبغى ان يجوز الاعتياض عن حق التعلى و عن حق الشرب و عن حق المسيل بمال لان هذه الحقوق لم تثبت لاصحابها لاجل دفع الضرر عنهم بل تثبت لهم ابتدائه بحق شرعى....... فاذا نزل عنه لغيره بمال معلوم ينبغى ان يجوز ذٰلك على وجه الفراغ و الصلح لا على وجه البيع كما جاز النزول عن الوظائف. (شرح المجلة لخالد الآتاسى ج۲، ص۱۲۱، كتاب البيوع، قبل الفصل الثالث)

حجام (ډم) ته دوکان په کـــــرایه باندې د ورکولو حکم

سوال: آیا ډم یعنې حجام ته دوکان یا د اسې نور په کرایه ورکول جائز دي او که نه او حال دا چه دا خلك د خلکو ږیرې خریي او کټ کوي او همدارنګه خلکو ته د یهودیانو غوندې سرونه جوړوي۔ او قرآني فرمان دی چه "وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ" (یعنې د ګناه په کارونو کښې د چا تعاون او امداد مه کوی) نو په دې لحاظ سره یو ډم ته دوکان یا د اسې نور په کرایه باندې ورکوونکی د تعاون علی المعصیت مرتکب نه جوړېږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حجامت کسب یو ضروري عمل دی۔ له دې نه بغیر هم څه چاره نشته لیکن په دې کښې د شرعي حدودو او قیودو لحاظ او خیال ساتل ډیر ضروري دي۔ که چېرته په دې کښې د شرعې خلاف عمل وشي نو په دې باندې ګټل شوې روپۍ هم ناجائزې دي۔ او همدارنګه د دې کار لپاره دوکان په کرایه ورکول هم له ګناه سره امداد دی کوم چه د

قرآن د نص له مخې حرام دی۔ لهذا د شریعت خلاف حجام ته مکان او دوکان په کرایه ورکول صحیح نه دي او له هغه نه لاس ته راوړل شوې روپۍ صحیح دي۔

د فاسدې اجارې د جواز صورت

سوال: چا خپله تیکسي یوه موټروان ته په دې شرط باندې ورکړه چه ته دا وچلوه کومه ګټه چه وشي نو په هغه کښې به ۶۰٪ زما وي او ۴۰٪ ستا وي نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا شرعاً دا اجاره صحیح ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې د صحت لپاره دا ضروري دي چه د اجرت اندازه او وخت داسې نور تاکل شوي وي که چېرته په اجرت یا مودې کښې جهالت راشي نو اجاره فاسده ده ځکه چه نامعلوموالی مفضي الی النزاع وي او عموما جنګ او شخړه پیدا کوي۔ په نوموړي صورت کښې اجرت اګر که مجهول دی چه له وجهې ئې په کار داسې دی چه اجاره فاسده شي لیکن نن صبا دا ډول معاملات زیات دی او خلك داسې ډول معاملات مفضي الی النزاع ته نه بیایي نو ځکه دغه مذکوره معامله هم صحیح ده ځکه چه د فساد او د جنګ د نشت والي په وجه معامله پخپل ذات کښې درست او صحیح ده۔ البته د کوم فاسد صفت په وجه سره په دې کښې فساد پیدا کیږي خو بیا د دغه فاسد علت په ختم کولو سره هغه معامله بیا پخپل حال پاتې کیږي۔ په فقهي ذخیرو کښې دا ډول مثالونه موجود دي او د عموم بلوٰی په وجه سره هم ځینې احکام بدلیږي۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: الفاسد من العقود ما کان مشروعا باصله دون وصفه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۴۵، باب الاجارة الفاسدة)

د بد اخلاقۍ له وجې له مدرسې څخه د ایستل شوي مدرس لپاره د ټول کال د تنخواه حکم

سوال: څه فرمایي مفتیان کرام او علماء عظام د دې مسئلې په باره کښې چه:

﴿۱﴾ په یوه دینې مدرسه کښې یو مدرس د ټول کال لپاره اجیر وي نو آیا د هغه وظیفه د کلني اجرت په بناء وي او که د میاشتني اجرت په بنیاد باندې وي؟ د دې څه وضاحت وفرمایی مهرباني به مو وي۔

﴿۲﴾ د مدرسې مجلس شورٰی یو مدرس په اخلاقي جرمونو کښې د تورن کیدو او نورو غیر اخلاقي حرکتونو په وجه سره له مدرسې څخه ایستلی دی۔ نو آیا داسې مدرس د کال د پاتې ورځو د تنخواه مستحق دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د دیني مدرسو د مدرس حیثیت د اجیر خاص وي او په هغه وخت کښې د اجرت مستحق ګرځي چه هغه د مدرسې د عمل لپاره خپل ځان د مدرسې په حواله

کړي او ورسره ورسره په هغه کښې د مدرسې له خوا نه په ورسپارل شوې دندې صلاحیت هم پکښې موجود وي او که چېرته په یوه وجه په هغه کښې صلاحیت ورك شي او هغه نااهل ثابت 19
شي او د مدرسې انتظامیه هغه د نااهلي په وجه له مدرسې څخه خارج کړي نو بیا به د کال د پاتې ورځو د تنخواه حقدار نه وي۔ او که چېرته د مدرسې منتظمین بې له کوم شرعي عذره هغه له مدرسې څخه خارجوي نو د کال د پاتې ورځو یا د میاشتې د پاتې ورځو د تنخواه حقدار دی۔

﴿۲﴾ د صورت مسئوله مطابق که چېرته مدرس د اخلاقي جرمونو او نورو ناوړو حرکتونو په وجه له مدرسې څخه خارج کړی شي نو هغه د کال د باقي ورځو د تنخواه مستحق نه شي ګرځیدلی اګر که د دیني مدارسو د عرف له مخې یو مدرس د خپل پوره اهلیت او صلاحیت په بناء سره د ټول کال اجیر هم وي۔ او که چېرته مدرسه د کوم مدرس بغیر له ضرورته او بغیر له کوم عذره له مدرسې څخه ایستل غواړي نو د پاتې ورځو تنخواه به ورکوي۔

لما فی مجلة الاحکام: الاجیر یستحق الاجرة اذا کان فی مدة الاجارة حاضرا للعمل و لا یشترط عمله بالفعل و لکن لیس له ان یمتنع عن العمل و اذا امتنع لا لیستحق الاجرة. (درر الحکام فی شرح مجلة الاحکام ج۱، ص۴۵۸)

لما في احسن الفتاوٰی: که چېرته مدرس په رښتیا هم د نا اهلي په وجه خارج کړی شوی وي نو هغه تر شعبانه پورې د تنخواه مستحق نه دی۔

(احسن الفتاوٰی ج۷، ص۲۸۶)

وفي احسن الفتاوٰی: د طلباوو د کموالي عذر قابل قبول نه دی که چېرته مهتمم بې له ضرورته استاد ساتلی وي نو د ټول کال تنخواه دې له ځانه ورکړي ځکه چه د تدریس عقد مسانهه ده۔ (احسن الفتاوٰی ج۷، ص۲۹۵)

و هکذا في احسن الفتاوٰی: د مدرسینو سره عقد مسانهه ده لهذا په هر صورت کښې به د شوال له سره د رمضان تر آخره پورې تنخواه ورکول کیږي۔

(احسن الفتاوٰی ج۷، ص۲۸۲)

اویاد وساتی چه د احسن الفتاوٰی څخه وروسته د وروسته حواله جاتو د ذکر کولو مقصد دا دی چه په مدرس کښې د صلاحیت او اهلیت د موجود والي سره سره د مدرسې منتظمین بې له کومې شرعي وجهې څخه معزول کړی شي نو مدرس د ورستنیو میاشتو د تنخواه حقدار دی او که نه وي نو د نااهلي په وجه سره د برطرفي په صورت کښې د وروستنیو میاشتو د تنخواه حقدار نه دی۔

د رخصتۍ د ورځو د تنخواه حکم

سوال: په دې مسئلې کښې د دین علماء څه فرمایي چه د دیني مدرسې یو مدرس د مدرسې د کلني رخصتیو نه وروسته د مدرسې اراکینو ته خپله استعفاء وړاندې کړه نو آیا د شرعې له مخې او د دیني مدارسو د قوانینو له مخې دغه مدرس د رخصتۍ د ورځو تنخواه اخیستلی

شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرام د دې مسئلې په اړه چه څه لیکلي دي د هغو له کتنې څخه دا معلومیږي چه مدرس د تعطیل د ورځو د تنخواه مستحق دی لیکن د هغه لپاره د فقهاوو په عباراتو کښې څو شرائط هم معلومیږي۔

﴿۱﴾ یو دا چه له مدرس سره دا فیصله نه وي شوې چه تا ته به د رخصتۍ د ورځو تنخواه نه درکول کیږي او کومه تنخواه چه تاکل شوې ده هغه به یوازې د تدریس د ورځو تنخواه تا ته درکول کیږي۔

﴿۲﴾ دا چه مدرس د رخصتۍ له ورځو نه وروسته هم د تدریس اراده ولري او خپله استعفاء وړاندې نه کړي۔

کله چه دا دوه شرطونه موجود وي نو مدرس د رخصتۍ د ورځو د تنخواه حقدار دی ځکه چه دغه تعطیلات هم یو ډول د تدریس په حکم کښې راځي چه د راتلونکي درس لپاره مدرس آرام او استراحت وکړي ترڅو چه په راتلونکي کار کښې مددګار ثابت شي۔ لیکن که چېرته د مقرریدو په وخت کښې له مدرس سره دا فیصله وکړی شي چه تا ته به یوازې د تدریس د ورځو تنخواه درکول کیږي نه د رخصتۍ د ورځو نو په دې صورت کښې مدرس د رخصتۍ د ورځو د تنخواه حقدار نه دی۔ شرعي قانون دا دی ه چه "الشرط املك" همدارنګه که چېرته د هغه ځای د دیني مدارسو د منتظمینو عرف دا وي چه د عامو مدرسینو او ملازمینو د رخصتیو تنخواه نه ورکول کیده نو په دې صورت کښې هم د تعطیل د ورځو تنخواه به نه ورکول کیږي۔ ځکه چه "المعروف كالمشروط او العادة محكمه"۔

او همدارنګه که یوه مدرس نور کار کولو اراده نه درلوده او خپله استعفاء ئې وړاندې کړه نو بیا هم هغه د تنخواه مستحق د دې لپاره نه دی چه نه ئې تدریس وکړ او نه رخصتۍ ورته د راتلونکي تدریس لپاره د راحت او امداد سبب ثابت کیدی شي۔

و هل یاخذ المدرس ایام البطالة کعید و رمضان؟ لمرأ و ینبغی الحاقه لبطالة القاضی و اختلفوا فیها و الاصح انه یاخذ لانها للاستراحته. (اشباه عن قاعدة المحکمة آه) (در المختار ج۳، ص۵۲۵)

علامه شامي صاحبؒ د دې عبارت لاندې لیکي: قال فی الاشباه و قد اختلفوا فی اخذ القاضی ما فی بیت المال فی یوم البطالة فقال فی المحیط انه یاخذ لانه یستریح للیوم الثانی و قیل لا آه. و فی المنیة القاضی یستحق الکفایة من بیت المال فی یوم البطالة فی الاصح و فی الوهبانیة انه الاظهر فینبغی ان یکون کذٰلك فی المدرس لان یوم البطالة للاستراحة و فی الحقیقة تکون للمطالعة و التحریر عند ذوی الهمة. آه (الدر المختار ج۳، ص۵۲۵)

په دې عباراتو کښې د استحقاق لپاره علت استراحت بیان شوی دی چه دا ترې معلومیږي چه دغه استحقاق به هغه وخت وي چه کله په راتلونکي کښې ئې د کار کولو اراده وي او کار ئې پخپله نه وي پرېښی نو د تعطیل حکم چونکه د تدریس وي او حکماً دا ګنل

کیږي چه مدرس د رخصتۍ په ورځو کښې هم په کار بوخت وي ګوا که چه هغه په پخپله په تدریس کښې مشغول وي نو ځکه به د تنخواه مستحق هم وي۔

او په نوموړي صورت کښې چونکه مدرس پخپله استعفا ورکړې ده او په راتلونکي کښې د کار کولو اراده هم نه لري نو ځکه د رخصتۍ ورځې د هغه لپاره او د هغه په حق کښې د راتلونکي تدریس لپاره ممد او معاون نه شي ثابت کیدلی او حقیقتا هم په تدریس کښې مشغول نه دی نو ځکه دی د رخصتۍ د ورځو د تنخواه مستحق هم نه دی۔

د داخلې او میاشتني فیسونو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام چه نن صبا په ځینو دیني مدارسو کښې هم د کال یا د میاشتې فیس اخیستل کیږي۔ آیا دا شرعا جائز دي په داسې حال کښې چه په دې فیس باندې د طالبانو خرڅې او د استاذانو تنخواوې او نورو اخراجاتو انتظام کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا کومه جبري معامله نه ده بلکه د داخلې اخیستونکي ته اختیار حاصل وي چه هغه دا شرط منظور کړي او داخله واخلي او که ئې منظور نه کړي نو داخله به نه اخلي۔ او دا اجرت نه دی بلکه د دې حیثیت د چندې دی او په چندې باندې شرط لګول جائز دي۔ کما في امداد الحکام ج۳، ص۶۰۲، (الجواب) د فیس اخیستل جائز دي ځکه چه دا اجرت نه دی بلکه چنده ده او په چندې کښې شرط جائز دی ځکه چه له دې څخه زور نه لازمیږي چه څوك کښې ئې قبول نه کړي نو هغه ته به نه داخلې اختیار وي۔

د دلال په اجرت باندې د یوې شبهې جواب

سوال: جناب مفتي صاحب! د فتاوٰی حقانیه په ج۶، ص۲۶۰ کښې مې ولیدل چه په دلالي باندې اجرت د قفیز الطحان په شان دی د دې لپاره یو خو دلال د عمل بدل اخلي او بله دا چه دلال قادر د بل په قدرت باندې دی ځکه چه ترڅو پورې هغه شی بل سړی وانه خلي تر هغو پورې دلال په خرڅولو قادر نه وي۔ نو مهرباني وکړی زما دا شبهه حل کړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په اصل کښې د دلالي په اجرت باندې د جواز فتوٰی د قیاس خلاف دی او دا فتوٰی د عوامو د سهولت او حاجت لپاره ورکړ شوې ده۔

لما قال ابن عابدین (قوله او مدة) الا فیما استثنی قال فی البزازیة اجارة السمسار و المنادی و الحمامی و الصکاکی ما لا یقدر فیه الوقت و لا العمل تجوز لما کان للناس به حاجة و یطیب الاجر الماجور لو قدر اجر المثل آه. (رد المحتار ج۵، ص۳۲، کتاب الاجارة)

په سفارش باندې د اجرت اخیستلو حکم

سوال: که چېرته یو څوك د خپل روا کار لپاره د څوك واسطه کړي ترڅو د منصبدارانو په مخکښې ئې سفارش وکړي او په نتیجه کښې ئې هغه کار وشي نو آیا د سفارش کوونکي د دې عمل په بدل کښې د اجرت غوښتنه کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د چا د جائز کار لپاره سفارش د ثواب کار دی او د دې نه پرته دا عمل مال غیر متقوم دی نو ځکه د دغو دواړو وجهو په بناء د سفارش کوونکي لپاره د اجرت مطالبه جائزه نه ده۔

لما قال العلامه اشرف علي تهانويؒ: الجواب: د منع وجه ئې یواځې په اجرت علی الطاعه باندې منحصر نه ده کوم چه دا هم له وجهو څخه یوه وجه ده بلکه د منع بله وجه ئې دا ده چه دا عمل د شرعې له مخې مال غیر متقوم دی لکه څرنګه چه فقهاوو د اشجار الجفیف الشاب له اجارې نه منع فرمایلې ده پس شفاعت هم غیر متقوم دی۔ (امداد الفتاوٰی ج۳، ص۳۴۲، کتاب الاجاره)

د زمکې په اجارې باندې د ورکولو یو صورت

سوال: جناب مفتي صاحب! په ځینې علاقو کښې دا رواج دی چه خلك خپلې زمکې کروندګرو ته په دې شرط باندې ورکوي چه د مثال په توګه:

په لس جریبه زمکه کښې هر شپږ میاشتې وروسته د یو جریب په سر پنځه منه غنم او پنځه منه جوار کروندګر به د زمکې مالك ته ورکوي۔ د فصل د کرلو اخراجات به د کروندګر په ذمې وي او هغه ته به مکمل اختیار هم حاصل وي چه کوم شی ئې زړه غواړي کرلی ئې شي لیکن د زمکې مالك ته به د فصلانه په شکل کښې غنم او جوار ورکوي۔ نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی صورت د مزارعت نه دی بلکه د اجارې صورت دی او په اجاره کښې هر هغه شی اجرت جوړېدلی شي چه د هغه په تجارت باندې ثمن لاس ته راتلی شي چونکه غنم او جوار دواړه مال متقوم دي نو ځکه په اجرت کښې ورکول ئې صحیح دي۔

لما قال العلامة المرغيناني: و ما يصلح ثمنا يصلح اجرة. (الهداية ج، ص ، كتاب الاجارة)

او همدارنګه د دې زمکې اجاره هم شرعا صحیح ده ځکه چه د اجارې مطلب او مقصد له یوه شي څخه د فائدې حاصلول دي او هغه په دې صورت کښې موجود دی۔

لما قال العلامة المرغيناني ايضا: و يجوز استيجار الارض للزراعة لانها منفعة مقصودة و للمستاجر الشرب و الطريق. (الهداية ج ،ص ، كتاب الاجارة)

لیکن په دې معاملې کښې د دې خبرې خیال ساتل ضروري دي چه:

﴿۱﴾ د اجارې وخت معین وي۔

﴿۲﴾ د کوم شي چه کرل غواړي هغه بیان کړی شي او یا کروندګر ته اختیار ورکړی شي لکه څرنګه چه په نوموړي صورت کښې درج دی۔

﴿۳﴾ په اجرت کښې د غنمو یا جوارو سره د دغې زمکې د فصل قید و نه لګوي او نه د دغې زمکې د خاصې حصې د فصل شرط ولګول شي البته کوم غنم او جوار چه د اجرت په ډول سره ورکول کیږي د هغه صفت باید ټاکل شوی وي چه اعلٰی به وي، که ادنٰی او که درمیانه ترڅو چه د اجارې په عقد کښې نامناسب حالات پیدا نه شي۔

فقط و الله تعالی اعلم

كتاب الشفعة

کتاب الشفعه

(د شفعه احکام او مسائل)

د شفعې حقدار

سوال: د شریعت له مخې د شفعه حق چا ته حاصل دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه له تولو نه مخکښې هغه څوک چه په نفس مبیعه کښې شریک وي د شفعې حقدار ګرځولی دی او له دې نه ئې وروسته چه د مبیعې په حقوقو کښې شریک وي او په آخر کښې ئې جار یعني همسایه د شفعې حقدار ګرځولی دی۔

لما قال الشیخ ابو الحسن احمد بن محمد البغدادی القدوریؒ: الشفعه واجبة للخلیط فی نفس المبیع ثم للخلیط فی حق المبیع کالشرب و الطریق ثم للجار. (مختصر القدوری، ص ۱۲۰، کتاب الشفعه)

قال العلامة ابو البرکات محمود النسفیؒ: و تجب للخلیط فی نفس المبیع ثم فی حق المبیع کالشرب و الطریق ان کان خاصا ثم للجار الملاحق. (کنز الدقائق ص ۴۰۲، کتاب الشفعه) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص ۲۱۹/۲۲۰، کتاب الشفعه)

په تبادله کښې د شفعې د حق اثبات

سوال: که چېرته یوه سړي د خپلې زمکې یوه ټوټه د بل سړي د زمکې سره بدله کړي نو آیا له دغې تبادلې څخه د شفعې حق ثابتیږي او که نه او که چېرته شفیع وغواړي چه زمکه واخلي نو د هغې په بدله کښې به د زمکې ادا کول پرې لازمیږي او که د زمکې قیمت به ورکوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تر کومه ځایه پورې چه د شفعې د اثبات مسئله ده نو په هغه کښې هیڅ شك نشته چه د عقار په تبادله کښې هر یوه ته د شفعې حق حاصل وي ځکه چه د شفعې تول حقوق او وجوهات دلته هم موجود کیدی شي۔ بیا هم چونکه زمکه که ذوات القیم ده د دې په وجه سره د زمکې په ځای به د زمکې قیمت ادا کوي۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و من اشترٰی دارا بعوض اخذها الشفیع بقیمته لانه من ذوات القیم...... و ان باع عقاراً بعقار اخذ الشفیع کل واحد منهما بقیمة الآخر لانه بدله و هو من ذوات القیم فیاخذه بقیمته. (الهدایة ج۴، ص۳۹۶، کتاب الشفعه)

قال الشیخ ابو بکر بن علی الحدار الیمنیؒ: و من اشترٰی داراً بعوض اخذ الشفیع بقیمته لانه من ذوات القیم و ان اشترٰها بمکیل او موزون اخذها بمثله لانه من ذوات الامثال. (الجوهرة النیرة ج۱، ص ۳۴۱، کتاب الشفعه) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص ۲۳۱، کتاب الشفعه)

د شفعې د حق پلورل

سوال: که چېرته شفیع له مشتري څخه د حق شفعه په عوض مال وغواړي او خپل د شفعې د حق پرېښودلو ته تیار شي نو د شفیع لپاره له مشتري څخه د داسې روپو د اخیستلو شرعي حیثیت څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حق شفعه د ساقطولو په عوض کښې پیسې اخیستل حرام او واجب الرد دي ځکه چه دا له مجرده حقوقو څخه دی او له دې څخه مقصد خپل ځان له ضرره خلاصول وي نه د منفعت حاصلول۔ بیا هم که چېرته شفیع سره له حراموالي د داسې اقدام وکړي نو د ده د شفعې حق ساقطیږي او هغه اخیستل شوی جائداد د مشتري مؤکده ملکیت ګرځي۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و ان صالح من شفعته علی عوض بطلت شفعته و رد العوض. (الهدایة ج۴، ص ۴۰۴، کتاب الشفعه)

قال العلامة ابو البرکات محمود النسفیؒ: و تبطل بالصلح عن شفعته علی عوض و علیه رده. (کنز الدقائق ص ۴۰۵، کتاب السفعة) و مثله فی الهندیة (ج۵، ص ۱۸۴، الباب التاسع فیما یبطل به حق الشفعه)

له بیع څخه مخکښې د مصالحت په صورت کښې د شفعې حق نه ساقطیږي

سوال: که چېرته د بیع د باقاعده عقد څخه مخکښې شفیع د مشتري سره معاهده او صلح وکړي چه له خپل حق د شفعې څخه به تیریږي نو آیا د بیعې نه وروسته بیا شفیع ته د شفعې د دعوٰی حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د حق ثبوت په بیع پورې مرتبه ده د بیع نه مخکښې چونکه د دې هیڅ حقیقت نه وي نو ځکه د اخیستلو او پلورلو نه مخکښې د داسې مصالحت د شفعې په حق باندې اثر نه کوي بلکه د بیع نه وروسته د شفیع لپاره په باقاعده توګه د شفعې حق حاصل وي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین ابو بکر الکاسانیؒ: و لا یصح تسلیم الشفعه قبل البیع لانه اسقاط الحق و اسقاط الحق قبل وجوبه و وجود سبب وجوبه محال. (بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۵، ص۱۹، کتاب الشفعه)

و ذکر فی الهندیة: تسلیم الشفعه قبل البیع لا یصح و بعده صحیح. (الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۱۸۲، الباب التاسع فیما یبطل به الشفعه) و مثله فی شرح المجلة لشیخ سلیم رستم باز (مادة ۵۷۳)

له ګڼو شفعاوو څخه د ځینو په لرې کیدو سره د نورو په حق څه اثر نه پریووزي

سوال: که چېرته ګڼ شمیر سړي د شفعې حق ولري او په هغو کښې ځینې له خپل حق څخه تیر شي نو آیا په دې وجه په نورو شفعاوو څه اثر لویږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې په حق کښې د هر حقدار خپل استحقاق وي په هغو کښې د

لما قال العلامة سليم رستم بازؒ: و الثانی ان یکون خلیطا فی حق المبیع کاشتراك فی حق الشرب الخاص و الطریق الخاص. (شرح مجلة الاحکام مادة۱۰۰۸، ص۵۶۳) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج۶، ص۲۲۰، کتاب الشفعه)

د تاخیر یا ځنډ له وجې د شفعې د حق باطلوالی

سوال: د مواثبت او اشهادو د تولو ذمه واریو د طی کولو نه وروسته د خصومت په غوښتنې کښې تر ځومره وخته پورې له تاخیر څخه په د اسې حق باندې اثر نه لویږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مفتٰی بهٖ قول له مخې بې له څه معقول عذر نه تر یوې میاشتې پورې ئې تاخیر د تحمل قابل دی۔ په دومره وخت کښې د خپل حق د حصول څخه غفلت اختیارول د حق د پریښودلو سره برابر دی او همدارنګه بې له کومې وجهې نه تاخیر کول ډېر ځله مشتري ته د ضرر رسولو سبب ګرځي۔

لما قال العلامة فخر الدین عثمان بن علی الزیلعیؒ: قال شیخ الاسلام الفتوٰی الیوم علی انه اذا اخر شهرا سقطت الشفعه لتغیر احوال الناس فی قصد الاضرار با لغیر. (تبیین الحقائق ج۵، ص۲۴۴، کتاب الشفعه)

و ذکر فی الهندیة: عن محمد و زفر رحمهما اللّٰه و هو روایة عن ابی یوسفؒ ان اسهل و ترك المخاصمة شهرا من غیر عذر تبطل شفعته و الفتوٰی علی قولهما. (الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۱۷۳، الباب التاسع فیما یبطل به الشفعه) و مثله فی تنقیح الحامدیة (ج۲، ص۱۸۴، کتاب الشفعه)

کافـــــــر هم د شفعې حق لـــــري

سوال: زمونږ په کلي د یوه عیسایي جائداد دی هغه ته نږدې یوه مسلمان خپله زمکه په بل مسلمان باندې وپلورله۔ اوس دغه کافر په زمکې باندې د شفعې دعوٰی کړې ده نو آیا کافر ته د مسلمان په زمکې باندې د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام لکه څرنګه چه یوه مسلمان وګړي ته د شفعې حق ورکړی دی همدارنګه ئې کافر ته هم د شراکت او یا د همسایګي په وجه سره په مبیعې باندې د شفعې حقدار ګرځولی دی نو ځکه په نوموړي صورت کښې د هغه عیسایي د شفعې دعوٰی صحیح ده۔

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: اما اسلام الشفیع فلیس بشرط لوجوب الشفعه فتجب لاهل الذمة فیما بینهم و للذمی علی المسلم لان هٰذا حق التملك علی المشتری بمنزلة الشراء منه و الکافر و المسلم فی ذٰلك سواء لانه من الامور الدنیویة. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۶، فصل شرائط الشفعه)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: و تثبت الشفعه عند المالکیة و الشافعیة و الظاهریة للذمی الکافر علی المسلم کما قال الحنفیة......... و اتفق الفقهاء علی ان الشفعه تثبت للذمی علی الذمی. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۰۳، المبحث الثالث الشفیع) و مثله فی اللباب شرح الکتاب (المیدانی) (ج۲، ص۴۴، کتاب الشفعه)

حمل (د مور په نس کښې بچي) هم د شفعې حق لري

سوال: جناب مفتي صاحب! د نن څخه تقریبا څوارلس یا پنځلس کاله مخکښې ما یوه ټوټه زمکه کړې وه اوس په هغې باندې یوه ځوان چه عمر ئې تقریبا ۱۴، ۱۵ کاله دی د شفعې دعوٰی وکړه او زما غالب ګمان دا دی چه کله ما دغه زمکه اخیستله دغه هلك په هغه وخت کښې پیدا شوی هم نه وو۔ آیا دغه هلك ته اوس د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ستا د خریدارۍ په وخت کښې که چېرته دا هلك پیدا شوی وو نو د بلوغ تر وخته پورې ده ته د شفعې حق حاصل دی او که چېرته پیدا شوی نه وو او د مور په نس کښې وو بیا هم اسلامي شریعت ده ته د شفعې حق ورکوي خو په دې شرط چه ستا د زمکې د اخیستلو او د بچي د پیدا کېدو تر منځ کم تر کمه شپږ میاشتې وخت وي او که چېرته د دې نه زیات وخت ئې په منځ کښې وو نو بیا د شفعې حق ئې باطل دی۔

و فی الهندیة: و الحمل فی استحقاق الشفعه و الکبیر سواء فان وضعت لاقل من ستة اشهر منذ وقع الشراء فله الشفعه و ان جائت به لستة اشهر فصاعد منذ وقع الشراء فانه لا شفعة له لانه لم یثبت وجوده وقت البیع. (الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۱۹۱، الباب الثانی عشر فی شفعة الصبی)

قال العلامة محمد الشهیر الطوروی رحمه اللّٰه: صح تسلیمهم الشفعه من الاب و الوصی و الوکیل یعنی ان الحمل و الصغیر فی استحقاق الشفعه کا لکبیر لاستوائهما فی سببه فیقوم با لطلب و الاخذ و التسلیم من یقوم مقامهما الخ. (البحر الرائق ج۸، ص۱۴۶، فی آخر کتاب الشفعه)

د شفعې حق به تر بالغیـــــدو پورې موقوف وي

سوال: جناب مفتي صاحب! زما په وړوکوالي کښې څه زمکه پلورل شوې وه او په هغې زمانې کښې زما څوك ولي هم نه وو۔ اوس زه بالغ شوی یم نو آیا په دې زمکې باندې اوس ماته د شفعې حق حاصل دی او که نه او حال دا چه یوه صاحب راته وویل چه د ډېرې مودې د تیریدو له وجهې ستا د شفعې حق باطل شوی دی مهرباني وکړی د شریعت مطابق په دې مسئلې کښې زما لارښوونه وکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلامي شریعت کښې دا اسې دی چه کله شفیع نابالغ وي نو د هغه پلار یا نیکه ته په کار دي چه د شفعې د حق مطالبه وکړي او که د هغه څوك ولي نه وُي نو دا حق د ده د بلوغ تر کاله پورې باقي پاتې وي۔ همدارنګه که چېرته حقیقتا په هغه وخت کښې ستا څوك ولي نه وو او ته اوس بالغ شوی ئې نو تا ته د شفعې حق حاصل دی۔ په دې صورت کښې د ډېرې مودې تیریدل ستا د شفعې حق نه شي له منځه وړلی۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: الجواب نعم و فی الاصل الوصی یطلب الشفعه للصغیر و یقوم مقامه فی لوازمها کا لاب و الجد......... فان لم یکن له [illegible] شفعته اذا ادرك فاذا ادرك و قد ثبت له خیار البلو

والشفعه آه. (تنقيح الحامدية ج۲، ص۱۸٤، كتاب الشفعه)

قال العلامة على بن محمد الجماعیؒ: ذکر فی الخانية ان الخصم هو الصغار فی طلب الشفعه لهم و عليهم على الترتيب السالف فی فصل البيع و فی الاصل الوصی يطلب الشفعه لليتيم و يقوم بلوازمها كا الاباء و الاجداد.... و قال محمدؒ لا تبطل الشفعه و يقدر على الاخذ بعد لاب و الجد و ان لم يكن واحد منهم فهو على شفعته اذا ادرك......... البلوغ فاذا بلغ و قد ثبت له خيار البلوغ. (آداب الاوصياء على هامش جامع الفصولين ج۲، ص۲٤۱، فصل فی الشفعه)

په فاسده بيع باندې د شفعې حق

سوال: آيا په فاسده بيع کښې شفيع ته د شفعې حق حاصل دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې لپاره ضروري دا ده چه مبيعه د بائع د ملکيت څخه بالکل وتلې وي۔ په فاسده بيع کښې مبيعه چونکه د بائع په ملکيت کښې د فسخ د حق تر ختميدو پورې باقي پاتې وي نو ځکه د فسخې د حق تر لاسته راوړو او يا د مبيعې د واپس کيدو پورې شفيع ته د شفعې دعوه د کولو شرعا اختيار نشته۔

لما فی مجلة الاحکام تحت المادة ۱۰۲٦: يشترط ان يزول ملك البائع عن المبيع بناء على لا تجرى الشفعه فی البيع الفاسد ما لم يسقط استرداد البائع. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲، ص۷۸٤، الفصل الثانی فی بيان شرائط الشفعه)

قال الشيخ وهبة الزحيلی: الشرط الثالث ان يكون العقد صحيحا اتفق الفقهاء على هذا الشرط لان المطلوب هو زوال حق البائع فی المبيع فلا تثبت الشفعه فی المشترى شراء فاسدا. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٥، ص۸۲۱، المبحث الخامس شروط الشفعه) و مثله فی الهندية ج٥، ص۱٦۱، كتاب الشفعه، الباب الاول)

د شفعې هبه صحيح نه ده

سوال: آيا کوم سړی خپل د شفعې حق په بل چا باندې پلورلی يا ئې بې له کوم عوضه هبه کولی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شفعه يو داسې حق دی کوم چه نه پلورل کيږي او نه د هبې په توګه چا ته ورکول کيږي۔ که چا داسې وکړل نو د هغه د شفعې حق باطليږي۔

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفی رحمه اللّٰه: و يبطلها صحه منها على عوض.... و يبطلها بيع شفعته لما قال ابن عابدينؒ لانها ليست بحق متقرر فی المحلل بل مجرد حق التملك فلا يصح الاعتياض عنه. (رد المحتار ج٦، ص۲٤۱، كتاب الشفعه، باب ما يبطلها)

قال العلامة الميدانی رحمه اللّٰه: و ان صالح من حق شفعته على عوض اخذه او باعه اياه بطلت الشفعه لوجود الاعراض و يرد العوض لبطلان الصلح و البيع لانها مجرد حق التملك فلا يصح الاعتياض عنه لانه رشوة. (اللباب شرح الكتاب الشهير بميدانی ج۲، ص٤۷، كتاب الشفعه)

په بيع وفاء باندې د شفعې حکم

سوال: آيا په بيع وفاء کښې شفيع په مبيعه باندې د شفعې دعوی کولی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې لپاره ضروري ده چه مبيعه د بائع له لاسه په مکمله توګه وتلې وي چونکه په بيع وفاء کښې مبيعه تر اوسه پورې د بائع په لاس کښې ده نو ځکه فقهاء کرامو ليکلي دي چه په بيع وفاء کښې شفيع ته د شفعې حق حاصل نه دی۔

قال الشيخ وهبة الزحيلیؒ: الشرط الاول خروج العقار عن ملك صاحبه خروجا باتا يجب ان يزول ملك البائع عن العقار المبيع من طريق البات النهائی. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٥، ص۸۱۸، المبحث الخامس، شروط الشفعه)

و فی الهندية: و منها زوال ملك البائع عن المبيع فاذا زال فلا تجب الشفعه كما فی البيع بشرط الخيار. (الفتاوی الهندية ج٥، ص۱٦۰، كتاب الشفعه، الباب الاول)

په اموال منقوله باندې شفعه صحيح نه ده

سوال: جناب مفتي صاحب! آيا په هغه مالونو کښې چه يوې بلې خوا ته نقل کيدی شي د شفعې حکم ثابت دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شفعه يو داسې حق دی چه يوه سړي ته د اموال غير منقوله په خريدارۍ او تبادلې کښې حاصل وي۔ له دې وجهې په هغو مالونو کښې چه منقوله وي د شفعې حق نه دی ثابت ځکه چه د شفعې د حق فلسفه دا ده چه د هغه مشروعيت د ضرر د لرې کيدو لپاره ده او هغه دلته وجود نه لري۔

و فی المجلة الاحکام تحت المادة ۱۰۱۷: يشترط ان يكون المشفوع ملكا عقاريا بناءً عليه لا تجزى الشفعه فی السفينة و سائر المنقولات و عقار الوقف و الاراضی الاميرية. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲، ص۷٦۷، الفصل الثانی فی بيان شرائط الشفعه)

قال الشيخ وهبة الزحيلی: اتفق المسلمون على ان الشفعه حق فی العقار من دور و ارضين و بساتين و بئر و ما يتبعها من بناء و شجر و اختلفوا فيما عداها فقررت المذاهب الاربعة انه لا شفعة فی منقول كا لحيوان و الثياب و العروض التجارية آه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٥، ص۷۹٥، المبحث الثانی، محل الشفعه) و مثله فی اللباب شرح الكتاب (ج۲، ص٤٤، كتاب الشفعه)

د قتل عمد په عوض کښې په ورکړ شوې زمکې د شفعې دعوی

سوال: يوه سړي يو بل سړی قصداً قتل کړ او د علاقې مشرانو د دوی تر منځ فيصله وکړه او د قاتل له خوائې څه زمکه او يو لك روپۍ د مقتول د اولاد لپاره و منلې۔ اوس دغې زمکې سره د يوه مالدار سړي زمکه لګيدلې ده او هغه په عدالت يا محکمې کښې د شفعې دعوی وکړه او له دراوغو څخه ئې کار واخيست او د زمکې قيمت ئې ٦۰۰۰۰ روپۍ بنوولی دی او حال دا چه

په حقیقت کښې دا زمکه د دریو او څلورو لکو روپو ده نو په دې توګه په قتل عمد باندې د صلح په عوض کښې د ورکړل شوې زمکې باندې چا ته د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د ثبوت لپاره چونکه د مشفوع زمکې په عوض کښې د معاوضې وجود ضروري دی کوم چه په نوموړې صورت کښې نشته۔ نو په دې بناء باندې فقهاء کرامو د قتل عمد په صلح کښې په ورکړل شوې زمکې باندې د شفعې حق چا ته نه دی ورکړی نو له دې وجهې په نوموړې صورت کښې هم په دې زمکې باندې چا ته د شفعې حق حاصل نه دی۔

لما قال العلامة علی حیدر رحمه اللّٰه: و الصلح عن دم العمد فلا تثبت الشفعه لانه لو تثبت الشفعه فیه للزم ان یأخذه الشفیع اما بقیمته او مجانا و لا یمکن الاخذ با لقیمة لان المالك لذٰلك العقار لم یملکه بقیمته حتی یستطیع الشفیع اخذه با لقیمة. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲،ص۷۷۲، المادة ۱۰۲۱، الفصل الثانی فی بیان شرائط الشفعه)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: لکن اختلفوا فی التملك بعوض غیر مالی فا لمهر و بدل الخلع او اجر طبیب او محام مثلا او اجرة دار او عوض فی الصلح عن دم عمد فقال الحنفیة و الحنابلة یشترط ان یکون عقد المعارضه مال بمال فلا شفعة اذا کان العوض غیر مال کما فی هذه الاحوال لان الشیء فی المعاوضة غیر المالیة یشبه الموهوب و الموروث. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۲۰، المبحث الخامس شروط الشفعه) و مثله فی الهندیة (ج۵، ص۱۶۰، کتاب الشفعه، الباب الاول)

د مهر په حق کښې په ورکړ شوې زمکې باندې د شفعې حکم

سوال: که چېرته یو سړي په مهر کښې د نکاح په وخت کښې څه زمکه ورکړې نو آیا په دې زمکې باندې چا ته د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د حق د ثبوت لپاره مالي معاوضه ضروري ده کوم چه دلته وجود نه لري نو ځکه د احنافو په نزد په مهر کښې په ورکړل شوې زمکې باندې چا ته د شفعې حق حاصل نه دی۔

قال العلامة ابو الحسن القدوری رحمه اللّٰه: و لا شفعة فی الدار التی یتزوج الرجل علیها او یخالع المرأة بها. (الکتاب الشهیر بمختصر القدوری علی صدر اللباب ج۲، ص۴۵، کتاب الشفعه)

و فی الهندیة: و لا تجب الشفعه فی دار جعلت مهر امرأة او اجرة او عوض عتق آه. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۱۶۱، کتاب الشفعه، الباب الاول) و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج۶، ص۲۳۶، کتاب الشفعه، باب ما تثبت هی فیه)

په صلح کښې په ورکړل شوي جائداد باندې د شفعې حکم

سوال: یوه سړي په چا باندې د یو لك روپو دعوه وکړه او حال دا چه مدعا علیه ترې منکر دی لیکن مدعي څه زورور غوندې دی او د علاقې په مشرانو ئې دا فیصله وکړه چه مدعا علیه به مدعي ته پنځه جریبه زمکه ورکوي نو اوس چه کومه زمکه مدعي علیه ته مدعي ورکړې ده په هغې باندې یوه دریم سړي د شفعې دعوی وکړه نو آیا هغه ته د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د حق د ثبوت لپاره د اموال غیر منقوله پخپل منځ کښې د معاملې په عوض کښې د مال موجود والی ضروري دی۔ په نوموړې صورت کښې معامله مالي ده اګر که د اسې د مصالحت له مخې شوې دي لیکن سره له دې دریم سړي ته په دې باندې د شفعې حق حاصل دی۔

قال العلامة الکاسانیؒ: و منها عقد المعاوضه و هو البیع او ما هو فی معناه فلا تجب الشفعه فیما لیس بیع و لا بمعنی البیع حتی لا تجب با لهبة و الصدقة و المیراث و الوصیة.......... و تجب الشفعه فی الدار التی هی بدل الصلح سواء کان الصلح علی الدار عن اقرار او انکار او سکو لوجود معنی المعاوضة. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۱/۱۰، کتاب الشفعه، وجوب الشفعه)

و فی الهندیة: منها عقد المعاوضة و هو البیع او ما هو بمعناه فلا تجب الشفعه بما لیس بیع و لا بمعنی البیع...... و کذا تجب فی الدار المصالح عنها عن اقرار. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۱۶۰، کتاب الشفعه، الباب الاول)

د اشهادو د طلب په وخت کښې د حدود اربعه د بیانولو حکم

سوال: که چېرته یو سړي د اشهادو طلب د شاهدانو په مخکښې وکړي نو آیا ده ته په مبیعې باندې د شفعې د حق د اثبات په وجه او د مبیعې د حدود اربعه وو بیانول ضروري دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حنفي فقهاوو لیکلي دي چه کله شفیع د مواثبت د طلب نه وروسته د شاهدانو په مخکښې د اشهادو طلب کوي نو د هغه لپاره ضروري دي چه د مبیعې حدود اربعه او له هغې سره د خپل ځان تعلق بیان کړي ترڅو چه په خبرې کښې کوم شی پټ پاتې نه شي۔

قال العلامة عبد الرحمٰن شیخ زادهؒ: او یشهد علی المشتری و لو غیر ذی ید بان یقول له اطلب منك الشفعه فی دار اشتریتها من فلان حدودها کذا او انا شفیعها با لشرکة فی الدار او الطریق لم با لجوار بدار حدودها کذا فسلمها لی فلا بد ان یبین حدود الدارین مع کل واحدة من مراتب الثبوت. (مجمع الانهر ج۲، ص۴۷۴، کتاب الشفعه)

قال العلامة علی حیدرؒ: او یقول خطابا للمشتری سواء کان المشتری قابضا المشفوع ام کان غیر قابض فی حضور نصاب الشهادة من الشهود انك اشتریت العقار المحدود با لحدود الفلانیة و بما اننی خلیط فی حق المبیع مثلا فانا شفیعها و قد طلبت المواثبة و اننی اطلبها الآن ایضا و انتم ایها الشاهدان اشهدا. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲، ص۷۹۴، تحت المادة ۱۰۳۰، الفصل الثالث)

د اشهادو په طلب کښې د شاهدانو د تعداد حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د اشهادو د طلب لپاره د شاهدانو ضرورت شته او که نه او آيا په دې کښې د نورو معاملاتو غوندې د شاهدانو تعداد او نورو شرائطو وجود هم ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مواثبت د طلب نه وروسته د شفيع لپاره ضروري دي چه هغه د شاهدانو په مخکښې د مبيعې تر څنګ او يا د بائع او مشتري څخه د يوه په مخکښې د خپلې شفعې طلب وکړي ليکن د ګواهانو په باره کښې د امام أبو حنيفه په نزد په دوو شرطونو کښې د يوه شرط موجوديدل ضروري دی۔

﴿۱﴾ يا دوه سړي او يا يو سړی او دوه ښځې۔

﴿۲﴾ او يا بيا هم د عدالت شرط ضروري دی۔

او د صاحبينو په نزد يو شرط هم ضروري نه دی۔ متاخرينو د امام ابو حنيفةؒ رائې لره مفتٰى به ګرځولی دی۔

قال الشيخ وهبة الزحيلى: و يشترط فى هذا الطلب ان يكون على فور الطلب الاول و الاشهاد عليه بان يشهد الشفيع على رغبته با لشفعه رجلين او رجل و امرأتين. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٥، ص٨٢٩، مراحل طلب الشفعه)

قال العلامة الكاسانىؒ: هل تشترط فى العدد و العدالة اختلف اصحابناؒ فقال ابو حنيفة رحمه اللّٰه يشترط احد هٰذين اما العدد فى المخبر رجلان او رجل و امرأتان و اما العدالة و قال ابو يوسف و محمد رحمهما اللّٰه لا يشترط فيه العدد و لا العدالة. (بدائع الصنائع ج٥، ص١٧، فصل بيان ما يتأكد به حق الشفعه) و مثله فى مجموعة قوانين اسلام (ج٦، ص٢٢٢٤، كتاب الشفعه)

د شفعې په حق کښې شريك فى الشرب مقدم دی

سوال: په يوه ځای کښې د زمکې يوه ټکړه وپلورل شوه چه دوو کسانو پرې د شفعې دعوه کړې ده ليکن د دواړو اسباب مختلف دي۔ په دغو کښې يو سړي له بائع سره په لاره کښې شريك دی او بل په اوبه کښې د شرکت دعوٰی کوي نو په دغو دواړو کښې کوم يو صحيح د شفعې حقدار دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د ثبوت لپاره اګر که دواړه اسباب سره مساوي دي ليکن د ضرر په اعتبار سره د اوبه شريك زيات مقدم دی ځکه چه علماء کرامو د اوبو په حق کښې شريك لره د لارې په حق کښې له شريك څخه مقدم ګرځولی دی نو له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د لارې شريك د شفعې په حق کښې په نورو باندې مقدم دی۔

فى مجلة الاحكام تحت المادة ١٠١٦: حق الشرب مقدم على حق الطريق. قال العلامه على حيدرؒ: تحتها

يعنى حق الشرب و حق الطريق و ان كانا متساويين من حيث كونهما من اسباب الشفعه لكن فى حال اجتماعهما يقدم حق الشرب على حق الطريق. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام ج٢، ص٧٦٦، قبل الفصل الثانى فى بيان شرائط الشفعه)

قال العلامة ابراهيم الحلبى رحمه اللّٰه: لو شاركه احد فى الشرب و آخر فى الطريق فصاحب الشرب اولٰى من صاحب الطريق. (الدر المنتقى على هامش مجمع الانهر ج٢، ص٤٧٢، كتاب الشفعه) و مثله فى شرح المجلة لخالد الآتاسى (ص٨٥٢، المادة١٠١٦، قبل الفصل الثانى)

د مهر مسمٰى په عوض کښې په ورکړل شوې زمکې باندې د شفعې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! ما د نکاح په وخت کښې له خپلې بي بي سره په مهر کښې پنځوس زره روپۍ وليکلې۔ او اوس مې بي بي د مهر مطالبه کړې ده نو چونکه له ما سره نقدې روپی نشته او خپلې ښځې ته مې څه زمکه ورکړه۔ او په هغې باندې د هغې د خاوند ورور د شفعې دعوٰی وکړه نو آيا هغه ته شرعاً د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مهر کښې چه ښځې ته کومه زمکه ورکړی شي اګر که شرعاً په هغې باندې شفعه نه ثابتيږي ليکن نوموړی صورت ترې بيل دی۔ په دې صورت کښې د زمکه ښځې ته د نقدو پنځوسو زرو روپو په بدل کښې ورکړ شوې ده کومه چه يوه مالي معامل ده نو ځکه ئې د ميړه ورور ته د شفعې حق حاصل دی۔

و فى الهندية: و لو تزوجها على مهر مسمّٰى ثم باعها بذٰلك المهر دارا تجب للشفيع فيها الشفعه و كذٰلك اذا تزوجها على غير مهر و فرض لها القاضى مهرا ثم باعها بذٰلك المفروض تجب للشفيع فيها الشفعه. (الفتاوٰ الهندية ج٥، ص١٦٢، كتاب الشفعه، الباب الاول)

قال العلامة ابن عابدينؒ: اذ لو جعلت بدل مهر المثل او المسمّٰى عند العقد او بعده تثبت فيه الشفعه لا مبادلة مال بمال لانه بدل عما فى ذمته من المهر. (رد المحتار ج٦، ص٢٣٧، كتاب الشفعه، باب ما تثبت هى فيه او تثبت) و مثله فى بدائع الصنائع (ج٥، ص١٢، كتاب الشفعه، فصل فى شرائط وجوب الشفعه)

د تحفې په ډول سره په لاس ته راتلونکي زمکې باندې د شفعې حکم

سوال: يوه سړي د خپل ملګري لپاره په تحفه کښې د امريکې ويزه راوړه نو هغه ملګري ئې شکريې په توګه له خپل جائداد څخه څه حصه د ده په نوم هبه کړه۔ د واهب ورور ته چه ک معلومه شوه نو په ده باندې ئې د شفعه دعوه وکړه۔ نو آيا د واهب ورور ته په ده باندې د شفع حق حاصل دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په هبه شوې زمکې باندې اګر که شفع صحيح نه ده ليکن په نومو صورت کښې چونکه معامله مالي ده نو ځکه فقهاء کرامو شفعاوو ته د شفعې حق ورکړی د خو په دې شرط چه دواړو په خپلو خپلو هبو باندې په مکمله توګه قبضه کړې وي۔

د اشهادو په طلب کښې د شاهدانو د تعداد حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د اشهادو د طلب لپاره د شاهدانو ضرورت شته او که نه او آيا په دې کښې د نورو معاملاتو غوندې د شاهدانو تعداد او نورو شرائطو وجود هم ضروري دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مواثبت د طلب نه وروسته د شفيع لپاره ضروري دي چه هغه د شاهدانو په مخکښې د مبيعې تر څنګ او يا د بائع او مشتري څخه د يوه په مخکښې د خپلې شفعې طلب وکړي ليکن د ګواهانو په باره کښې د امام اُبوحنيفه په نزد په دوو شرطونو کښې د يوه شرط موجوديدل ضروري دی۔

﴿۱﴾ يا دوه سړي او يا يو سړی او دوه ښځې۔

﴿۲﴾ او يا بيا هم د عدالت شرط ضروري دی۔

او د صاحبينو په نزد يو شرط هم ضروري نه دی۔ متاخرينو د امام ابو حنيفةؒ رائې لره مفتٰی بهٖ ګرځولی دی۔

قال الشيخ وهبة الزحيلي: و يشترط فی هذا الطلب ان يكون علی فور الطلب الاول و الاشهاد عليه بان يشهد الشفيع علی رغبته با لشفعه رجلين او رجل و امرأتين. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۲۹، مراحل طلب الشفعه)

قال العلامة الكاسانیؒ: هل تشترط فی العدد و العدالة اختلف اصحابناؒ فقال ابو حنيفة رحمه اللّٰه يشترط احد هٰذين اما العدد فی المخبر رجلان او رجل و امرأتان و اما العدالة و قال ابو يوسف و محمد رحمهما اللّٰه لا يشترط فيه العدد و لا العدالة. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۷، فصل بيان ما يتأكد به حق الشفعه) و مثله فی مجموعة قوانين اسلام (ج۶، ص۲۲۲٤، كتاب الشفعه)

د شفعې په حق کښې شريك فی الشرب مقدم دی

سوال: په يوه ځای کښې د زمکې يوه ټکړه وپلورل شوه چه دوو کسانو پرې د شفعې دعوه کړې ده ليکن د دواړو اسباب مختلف دي۔ په دغو کښې يو سړي له بائع سره په لاره کښې شريك دی او بل په اوبه کښې د شرکت دعوٰی کوي نو په دغو دواړو کښې کوم يو صحيح د شفعې حقدار دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د ثبوت لپاره اګر که دواړه اسباب سره مساوي دي ليکن د ضرر په اعتبار سره د اوبه شريك زيات مقدم دی ځکه چه علماء کرامو د اوبو په حق کښې شريك لره د لارې په حق کښې له شريك څخه مقدم ګرځولی دی نو له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د لارې شريك د شفعې په حق کښې په نورو باندې مقدم دی۔

فی مجلة الاحكام تحت المادة ۱۰۱۶: حق الشرب مقدم علی حق الطريق. قال العلامه علی حيدرؒ: تحتها

يعنی حق الشرب و حق الطريق و ان كانا متساويين من حيث كونهما من اسباب الشفعه لكن فی حال اجتماعهما يقدم حق الشرب علی حق الطريق. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام ج۲، ص۷۶۶، قبل الفصل الثانی فی بيان شرائط الشفعه)

قال العلامة ابراهيم الحلبی رحمه اللّٰه: لو شاركه احد فی الشرب و آخر فی الطريق فصاحب الشرب اولٰی من صاحب الطريق. (الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر ج۲، ص۴۷۲، كتاب الشفعه) و مثله فی شرح المجلة لخالد الآتاسی (ص۸۵۲، المادة۱۰۱۶، قبل الفصل الثانی)

د مهر مسمٰی په عوض کښې په ورکړل شوې زمکې باندې د شفعې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! ما د نکاح په وخت کښې له خپلې بي بي سره په مهر کښې پنځوس زره روپۍ وليکلې۔ او اوس مې بي بي د مهر مطالبه کړې ده نو چونکه له ما سره نقدې روپۍ نشته او خپلې ښځې ته مې څه زمکه ورکړه۔ او په هغې باندې د هغې د خاوند ورور د شفعې دعوٰی وکړه نو آيا هغه ته شرعا د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مهر کښې چه ښځې ته کومه زمکه ورکړی شي اګر که شرعا په هغې باندې شفعه نه ثابتيږي ليکن نوموړی صورت ترې بيل دی۔ په دې صورت کښې دا زمکه ښځې ته د نقدو پنځوسو زرو روپو په بدل کښې ورکړ شوې ده کومه چه يوه مالي معامله ده نو ځکه ئې د ميړه ورور ته د شفعې حق حاصل دی۔

و فی الهندية: و لو تزوجها علی مهر مسمّٰی ثم باعها بذٰلك المهر دارا تجب للشفيع فيها الشفعه و كذٰلك اذا تزوجها علی غير مهر و فرض لها القاضی مهرا ثم باعها بذٰلك المفروض تجب للشفيع فيها الشفعه. (الفتاوٰی الهندية ج۵، ص۱۶۲، كتاب الشفعه، الباب الاول)

قال العلامة ابن عابدينؒ: اذ لو جعلت بدل مهر المثل او المسمّٰی عند العقد او بعده تثبت فيه الشفعه لانه مبادلة مال بمال لانه بدل عما فی ذمته من المهر. (رد المحتار ج۶، ص۲۳۷، كتاب الشفعه، باب ما تثبت هی فيه او لا تثبت) و مثله فی بدائع الصنائع (ج۵، ص۱۲، كتاب الشفعه، فصل فی شرائط وجوب الشفعه)

د تحفې په ډول سره په لاس ته راتلونکې زمکې باندې د شفعې حکم

سوال: يوه سړي د خپل ملګري لپاره په تحفه کښې د امريکې ويزه راوړه نو هغه ملګري ئې د شکريې په توګه له خپل جائداد څخه څه حصه د ده په نوم هبه کړه۔ د واهب ورور ته چه کله معلومه شوه نو په ده باندې ئې د شفعه دعوه وکړه۔ نو آيا د واهب ورور ته په ده باندې د شفعې حق حاصل دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په هبه شوې زمکې باندې اګر که شفع صحيح نه ده ليکن په نوموړي صورت کښې چونکه معامله مالي ده نو ځکه فقهاء کرامو شفعاوو ته د شفعې حق ورکړی دی خو په دې شرط چه دواړو په خپلو خپلو هبو باندې په مکمله توګه قبضه کړې وي۔

قال العلامة الکاسانیؒ: لا تجب با لهبة و الصدقة و المیراث و الوصیة.... و ان کانت الهبة بشرط العوض فان تقابضا وجبت الشفعه لوجود معنی المعاوضة عند التقابض. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۱، فصل شرائط وجوب الشفعه)

و فی مجلة الاحکام تحت المادة ۱۰۲۲: الهبة بشرط العوض فی حکم البیع بناء علیه لو ذهب و سلم احد داره المملوکة لآخر بشرط العوض یکون جاره الملاصق شفیعا. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲، ص۷۷٤، الفصل الثانی فی شرائط الشفعه)

د زمکې په بدلولو باندې د شفعې حق ثابت دی

سوال: جناب مفتي صاحب! دوو کسانو پخپل منځ کښې زمکې سره بدلې کړې او د دواړو شفعاء هم موجود دي نو اوس په دغو دواړو کښې د کوم یوه په زمکې باندې د شفعې حق لري؟

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه دواړه بدل شوي زمکې غیر منقوله دي او معامله هم مالي ده نو ځکه د دواړو کسانو زمکې د شفعې قابلې دي لهذا د دواړو شافعانو ته د شفعې حق حاصل دی۔

قال العلامة الکاسانیؒ: منها معاوضة المال با لمال فلا تجب فی معاوضة المال بغیر المال......... و منها معاوضة عین المال با لمال فلا تجب فی معاوضة عین المال بما لیس بعین المال. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱۲، فصل شرائط وجوب الشفعه)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: و ان بیع عقار بعقار (مقایضة) و کان شفیعهما واحدا اخذ الشفیع کل واحد من العقارین بقیمة الآخر لانه بدل و هو من ذوات القیم فیاخذه بقیمته و ان اختلف شفیعهما یاخذ کل منهما ما له فیه الشفعه بقیمة الآخر. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۱۱، المبحث الرابع فی احکام الشفعه)

د کرایه دار په حیثیت چا ته د شفعې حق حاصل نه وي

سوال: که چېرته یوه سړي خپل کور په د اسې سړي باندې وپلورې چه بد اخلاق او بد کردار وي نو آیا د هغه ګاونډي کوم چه له هغه سره د کرایې په کور کښې اوسیږي په هغه باندې شفعه کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقه حنفي کښې د شفعې د حق لپاره ضروري دي چه هغه به د خپلې ذرعې د شفعې اصلي مالك وي۔ په نوموړي صورت کښې شفیع چونکه د کور اصلي مالك نه دی بلکه په دغه کور کښې په کرایه باندې اوسیږي نو ځکه هغه ته د شفعې حق حاصل نه دی۔

قال العلامة الکاسانیؒ: ملك الشفیع وقت الشراء فی الدار التی یاخذها با لسفعة لان سبب الاستحقاق جوار الملك و السبب انما ینعقد سببا عند وجود الشرط. (بدائع الصنائع ج۵، ص۱٤، فصل شرائط وجوب الشفعه)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: اتفق الفقهاء علی شرط کون الشفیع مالکا ما یشفع به قبل البیع و اختلفوا فی استمرار الملك حتی القضاء با لشفعه علی رائین فقال الحنفیة یشترط استمرار ملك الشفیع حتی یقضی له با لشفعه آه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۲۲، المبحث الخامس شروط الشفعه، الشرط الرابع)

د نه انتقال په صورت کښې د شفعې حکم

سوال: یوه سړي په بل چا باندې خپله لس جریبه زمکه وپلورله لیکن تر اوسه پورې په قانوني توګه له ضابطې سره سم انتقال نه دی شوی نو آیا د شفعې حقدار په دې زمکې باندې د شفعې دعوٰی کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسلامي نقطه نظر له مخې بیع په ایجاب او قبول تام کیږي۔ د مروجه قانون مطابق د انتقال ضرورت نشته۔ له دې وجهې په دې کښې د شفعې لپاره نفس ایجاب او قبول کافي دی۔

و فی مجلة الاحکام تحت المادة ۱۰۲۱: الشفعه لا تثبت الا بعقد البیع البات الصحیح. (درر الحکام شرح مجلة الاحکام ج۲، ص۷۷۲، الفصل الثانی فی شرائط الشفعه)

قال الشیخ وهبة الزحیلی: الشرط الاول خروج العقار عن ملك صاحبه خروجا باتا یجب ان یزول ملك البائع عن العقار المبیع من طریق البیع البات النهائی اللازم الذی لا خیار فیه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۵، ص۸۱۸، المبحث الخامس شروط الشفعه)

د مشتري په مرګ سره د شفیع د شفعې حق نه باطلیږي

سوال: یوه سړي مثلاً زید له عمر سره لګیدلې زمکه واخیسته او عمر خبر نه وو او په همدې ورځو کښې زید مړ شو یوه هفته وروسته عمر ته معلومه شوه او شفعه غواړي نو آیا هغه دې په مړي باندې دعوٰی وکړي او که د هغه له وارثانو نه د خپلې شفعې حق وغواړي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: واضح دي چه د مشتري په مرګ باندې د شفیع د شفعې حق نه باطلیږي بلکه د شفعې دعوٰی ئې په باقاعده توګه باقي ده۔ البته د انتقال نه وروسته د هغه له وارثانو څخه د شفعې مطالبه کولی شي۔

قال الامام القدوریؒ: و اذا مات المشتری لم تسقط الشفعه. (مختصر القدوری ص۹۲، کتاب الشفعه)

و فی الهندیة: و لا تبطل بموت المشتری و للشفیع ان یاخذ من ورثه الخ. (الفتاوٰی الهندیة ج۵، ص۱۸۲، الباب التاسع فیما یبطل به حق الشفعه بعد ثبوته و ما لا یبطل) و مثله فی الهدایة (ج٤، ص٤۰٤، کتاب الشفعه، باب ما تبطل به الشفعه)

چه شفعاء سره برابر وي نو دواړه د شفعې حق لري

سوال: یو کور د دوو کورونو ترمنځ واقع دی او د درې واړو کورونو ختونه او دروازې هم یوې خوا ته دي او د دریواړو لاره هم یوه ده اوس هغه د منځ کور یو ګاونډی اخلي نو آیا دا بل ګاونډی د شفعې حق لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صورت مسئوله کښې دوهم ګاونډی ته هم د شفعې حق حاصل دی

او د شفعې کولو نه وروسته به د غه کور د دواړو ګاونډيانو تر منځ برابر سره تقسيميږي۔

و فى الهندية: و لو ان رجلا اشترىٰ دارا و هو شفيعها ثم جاء شفيع مثله قضى القاضى بنصفها و ان جاء له شفيع آخر اولىٰ منه فان القاضى يقضى له بجميع الدار و ان جاء شفيع دونه فلا شفعة له. (الفتاوىٰ الهندية ج۵، ص۱۷۸، الباب السادس فى الدار اذا بيعت و لها شفعاء)

قال العلامة الحصكفىؒ: و كذا لو كان الشريك غائبا فطلب الحاضر يقضى له با لشفعه كلها (ثم اذا حضر و طلب قضىٰ له بها) فلو مثل الاول قضىٰ له بنصفه و لو فوقه فبكله و لو دونه منعه الخ. قال العلامة ابن عابدينؒ تحت قول (فلو مثل الاول) اى لو كان الذى حضر مثل الاول كشريكين او جارين الخ. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٢٢٢، كتاب الشفعه) و مثله فى خلاصة الفتاوىٰ (ج٤، ص٤٥٥، كتاب الشفعه، الفصل الثانى فى المقدمة)

د چا د شفعې د حق ختمولو لپاره د اصل روپو څخه زياتې روپۍ ليکل

سوال: نن صبا د کور يا د ځمکې د اخيستلو او پلورلو کښې دا خبره عامه ده چه مشتري په مبيعې باندې د چا د شفعې کولو له ويرې څخه له بائع څخه د اصل روپو څخه څو چنده زياتې پيسې مثلاً د دوو لکو په ځای څلور لکه روپۍ ليکي او بائع هم په دې باندې راضي وي نو آيا د اسې کول شرعاً درست او که نه او دا کار جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د مشتري د اسې کول د شفيع د شفعې حق په دوکې او فريب سره د ساقطولو مترادف دی نو ځکه د اسې کول د ګناه موجب دی۔

لما قال العلامة ظفر احمد عثمانىؒ: د اسې کول جائز نه دي۔ (امداد الاحكام ج٣، ص١٦٤)

د شفعې د قانون په مسودې باندې د شوریٰ په مجلس کښې شوی تقرير

د شفعې د قانون مسوده ايوان ته په وړاندې کولو باندې په ۱۰ اپريل ۱۹۸۲ء تو له ورځ په دې مسئلې باندې ګرم بحثونه وشول چه د غه مسوده د عوامو د رايې په حاصلولو سره خپور کړی شي او په راتلونکي موقعه کښې تر غور لاندې ونيول شي۔ مولانا سميع الحق صاحب په دې ضمن کښې په ايوان کښې مختصر ليکن يو جامع او مدلل تقرير وکړ چه هغه ته د شفعې د قانون په مناسبت سره په فتاوىٰ حقانيه کښې شامل کړی شو۔

(مرتب)

جناب چيرمين: مولانا سميع الحق

مولانا سميع الحق صاحب: دا د يوه اسلامي قانون مسوده ده او دا لومړني اسلامي قانون دی چه ايوان ته راغلی دی۔ په اصولي ډول سره د مجلس شوریٰ اهم مقصد په دې ملك کښې د اسلامي قانون نافذول دي او په دې باره کښې دا يوه اهمه موقع ده چه د مجلس شوریٰ لپاره رهنما اصول مقرر شوي دي او په هغه کښې دا دي چه مونږ د اسلامي قانون په نفاذ کښې به تيز کوشش کوو۔ ما ته افسوس دا دی چه د دې نه علاوه دوه نور اسلامي قوانين د قاضيانو په قضا کښې د قصاص او ديت په اړه وو هغوی هم د سټنډنګ کميټي د کرم په نظر سره مؤخر شو او که چېرته اوس هم د دې مسوده د التواء او تاخير لپاره تحريکونه وړاندې کيږي نو که چېرته دا سلسله جاري وي نو دا به افسوسناکه معامله وي او د اثر به ئې ډېر خراب وي۔ زمونږ حالت د اسلامي نظام د نفاذ په باره کښې دا دی۔

عمر دراز مانگ کے لائے تھے چار دن
دو آرزو میں کٹ گئے دو انتظار میں

دلته ځينو حضراتو دا ويلي دي چه د غه مسوده دې د عوامو د استصواب رائې لپاره مشتهر کړی شي اګر که دا مقصد مخکښې هم حاصل شوی دی ليکن په دې سلسله کښې عرض کوم چه آيا اسلام مونږ ته دا حق راکوي چه د الله او د هغه د رسول ﷺ د احکاماتو د نافذولو لپاره له عوامو څخه اجازه واخلو او د دې په باره کښې له عوامو څخه استصواب وغواړو۔ د خدای او د رسول ﷺ د فيصله شوي قوانينو او احکامو په باره کښې اسلام مونږ ته هيڅکله دا اجازه نه راکوي چه مونږ د هغه په باره کښې له عوامو څخه پوښتنه وکړو۔ زمونږ عوام ډېر ښه خلك دي ليکن خدای مکړه که چېرته عوامو د استصواب يعنې پوښتنې په نتيجه کښې اسلامي قانون مسترد کړ نو آيا دلته حاکميت د عوامو شو او که حاکميت د الله تعالیٰ شو۔ او مونږ د عوامو د خبرو له دور څخه اوس تير شوي يو۔ دا يوه اهم ترينه مسئله ده نو په دې لحاظ سره زما ګذارش دا ده چه دا بايد اهمه وګڼو۔ دلته يوه مشر سړي دا سې ويلي وو چه دا د اسلام بنيادي مسئله نه ده۔ زه دا عرض کوم چه په دې کښې د ځان، مال، جائداد او د

حقوقو تحفظ او نور ظلم او تعدٰی څخه د بچ کولو سوال دی او د اسلام په نظر کښې د مال، جائداد، تحفظ او د چا له ظلم او زیاتی څخه د بچ کیدو او بچ کولو یوه اهم ترینه خبره ده۔ نو په دې لحاظ سره له ټولو معززو ممبرانو څخه دا سوال کوم چه هغوی پخپلو دیني جذبو باندې دې مسودې ته هرکلی ووایي او په دې باندې بحث وکړي۔ دا اوله مسوده ده چه له ډیر وخت نه وروسته د اسلامي قوانینو په بناء باندې دلته راغلې ده او تاسو ټول خوش قسمته یاستی چه ستاسو په وړاندې داسې مسوده راغلې ده۔ په دې کښې که لږ غوندې خرابۍ او خامۍ او اختلافات دي نو هغه هم د ترامیمو په شکل کښې وړاندې شوې ده او یا وړاندې کیږي او د هغو ازاله هم کیدلی شي۔ له دې معروضاتو سره زه ستاسو ډېره شکریه ادا کوم۔

(رپورټنګ وفاقي کونسل سیکرټریټ)

۱۳ اپریل ۱۹۸۲ء د مابنام په نشست کښې مولانا سمیع الحق صاحب د شفعې په مسودې باندې تقریر وکړ، د وفاقي کونسل سیکرټریټ لیکل شوی تقریر په لاندې ډول دی۔

(مرتب)

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم

جناب چیئر مین صاحب: زه ډېرې تفصیلي خبرې نه کوم۔ ډېرو خلکو په دې باندې رڼا اچولې ده۔ د شفعې د دې قانون په باره کښې څه بنیادي نکتې پورته کړی شوي دي زه د هغو په اړه څه عرض کول غواړم۔ له ما څخه مخکښې د فاضل مقرر بنیادي ټکی دا وو چه په قرآن مجید کښې د شفعې په باره کښې کوم حکم نشته۔ نو دا یوه بنیادي غلطي ده چه د اسلامي شریعت مأخذ یوائې او یوائې قرآن کریم دی او بس۔ حالانکه لکه څرنګه چه د شریعت بنیادي مأخذ قرآن کریم دی همدارنګه سنت نبوي ئې هم دی۔ که چېرته مونږ هر شی په قرآن کریم کښې وغواړو نو مونږ به د پنځو وختو لمونځونو څخه هم لاس پرې مینځو ځکه چه د قرآن په یوه روایت کښې هم دا تفصیل نشته چه د مابنام درې رکعته فرض دي او په یوه روایت کښې هم دا نشته چه د سهار دوه رکعته او د مازدیګر څلور رکعته فرض دي او نه ئې وختونه په تفصیل سره ذکر دي۔ او همدارنګه د زکوٰة تفصیل هم په قرآن کریم کښې نشته لیکن حضور نبي کریم ﷺ د هغه تشریح او مقادیر بیان کړی دی۔

نو جنابه زه عرض کول غواړم چه د وړې نه وړه خبره کوم چه حضور ﷺ فرمایلې ده او مونږ ته په مستنده توګه سره رسیدلې ده نو هغه مونږ د قرآن کریم او د دین حکم ګڼو۔ یوه وړوکې غوندې مسئله وه له یوه صحابي څخه یوې بي بي پوښتنه وکړه چه جسم وګروې او په هغه کښې رنګ واچوې (خالونه ولګوې) نو دا څنګه ده؟ صحابي ورته وویل چه دا سخت منع

ده او په قرآن کښې ئې حکم موجود دی۔ دغې بي بي ورته وویل چه زه د الم نه واخله تر و الناسه پورې د قرآن کریم تلاوت کوم په هغه کښې خو د دغې وړوکې غوندې مسئلې ذکر نشته۔ صحابي ور ته وویل چه "لو قرأتیه لوجدتیه" (که چېرته قرآنکریم په غور سره ووائې نو دا حکم به پکښې پیدا کړې) او ور ته وئې ویل چه په قرآنکریم کښې راغلي دي چه "وَ مَا اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَ مَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا" (چه کوم حکم تاسو ته رسول اللّٰه ﷺ درکړی دی په هغه باندې په سختۍ سره عمل وکړی او له کومو کارونو څخه ئې چه منع کړي یی له هغه څخه منع شی) او دا یو اصل مونږ ته قرآن راکړی دی۔ اوس په دې مسئله کښې حضور ﷺ چه کومه لارښوونه کړې ده هغه هم ګواکه د قرآن حکم دی۔ همدا وجه ده چه الحمد للّٰه له قرآن سره سره سنت هم زمونږ په قانون او آیین کښې بنیادي مأخذ ګرځول شوی دی۔ له دې نه وروسته چونکه ارکان د شفعې په سلسله کښې د واضحو احادیثو مطالبه کړې ده نو د ایوان په وړاندې زه هم د حضور اقدس ﷺ د هغو الفاظو بیانول غواړم چه په هغو کښې د هغو کسانو تفصیل موجود دی چه هغوی ته د شفعې حق ورکړ شوی دی۔

مولانا سمیع الحق: جناب والا! په جائداد کښې د شریك خلیط له ټولو نه په اوله درجه کښې ده۔ له دې نه وروسته کوم چه په حقوقو کښې شریك دی د هغه دوهمه درجه ده۔ په دریم نمبر باندې جار یعنې ګاونډي دی۔ نو دلته له ټولو نه مخکښې د شریك په باره کښې د حضور اکرم ﷺ ارشاد ګرامي د حدیثو له مشهور کتاب مسلم شریف کوم چه د امام مسلم کتاب دی او د صحیح بخاري غوندې درجه او حیثیت لري څخه را نقل کوم۔

عن جابر قال قضی رسول اللّٰه ﷺ با لشفعه فی کل شرکة لم تقسم اربعة او حائطا لا یصلح ان یبیع حتی یؤذن شریکه فان شاء اخذ و ان شاء ترك فاذا باع و لم یؤذنه فهو احق به. (الدرایة فی تخریج احادیث الهدایة. حدیث نمبر ۸۸۸، کتاب الشفعه)

"حضرت جابر وفرمایل چه حضور ﷺ فیصله ورکړه چه په شفعه کښې په مشترکه حصه کښې تر څو پورې چه هغه تقسیم شوی نه وي که هغه کور وي او که باغ نو په هغه کښې د شفعې حق د شریك وي۔ یعنې کوم چه په ملکیت کښې ورسره شریك وي"۔ نو اوس په دې کښې د قضٰی رسول اللّٰه لفظ راغلی دی چه معنٰی ئې دا ده چه یوائې فرمایلي ئې نه دي بلکه فیصله ئې کړې ده۔ د قضٰی مطلب فیصله کول دي۔ چه د هغه یو فاضل رکن مطالبه او غوښتنه کړې وه۔ همدارنګه امام بخاري رحمه اللّٰه هم یو روایت را نقل کړی دی"۔

لقوله علیه الصلوٰة و السلام: با لشفعه فی کل ما لم یقسم فاذا وقعت الحدود و صرفت الطرق فلا شفعة. (الهدایة ج ٤، ص ۳۸۷، کتاب الشفعه)

"له حضرت جابر څخه روایت دی چه رسول اللّٰه ﷺ د شفعې په هر هغه شي کښې فیصله کړې ده چه تر اوسه پورې تقسیم شوی نه وي او شرکت باقي پاتې وي او هر کله چه د

هغه حدود متعین او لارې ئې بیلې شي نو اوس د شرکت په بناء سره شرکت نه شو پاتې“۔

له دې جملې څخه وروسته ئې چه ”شفعه په هغو ټولو جائداد ونو کښې شته چه تر څو پورې هغه تقسیم شوي نه وي“۔ دا جمله ذکر وفرمایله چه ”فاذا وقعت الحدود و صرفت الطرق فلا شفعة“ مثلاً که چېرته د څلورو ورونو مشترکه زمکه وي او هغوی ئې سره تقسیم کړي او حدود ئې تعین کړي او یا په حقوقو کښې اشتراك وي او لارې ئې بیلې کړې وي نو بیا په هغې باندې د شفعې حق نشته۔ د دې نه یوه بله خبره هم معلومیږي چه د دوو ورونو تر منځ زمکه مشترکه وه اوس په دغه ملکیت کښې د شراکت په وجه دا خبره معلومه شوه چه هغه ته د شفعې حق وو لیکن کله چه زمکه وویشل شوه نو د هغه د شفعې حق پاتې نه شو۔ نو له دې څخه دا خبره واضحه شوه چه په دوو سکه ورونو کښې او یا په پلار او زوی کښې هم که چېرته زمکه تقسیم شوې وي نو د شراکت په بناء سره به ئې اوس د شفعې حق نه وي۔ ځکه چه په ملکیت کښې اوس شراکت نشته۔ او پاتې شو د ګاونډي توب په وجه سره که چېرته هغه وغواړي نو د حق جوار په وجه هغه ته به د شفعې حق حاصل وي کوم چه په دې کښې خپل او پردي دواړه سره برابر دي۔ دا خو د شریك په باره کښې حدیث وو او همدارنګه د جار یعنې ګاونډي حق شفعه وګورئ۔ د امام ابو داؤد په کتاب ”سنن ابي داؤد“ کښې کوم چه صحیح او مستنده نسخه ده د ټولو مسلمانانو په نزد۔ په دې کښې له حضورﷺ څخه روایت راغلی دی چه ”جار الدار احق بدار الجار و الارض“ (کوم چه د کور ګاونډي وي او کوم چه د زمکې ګاونډي وي هغوی د دغه ګاونډیتوب په وجه حقدار دي) اګر که شریك فی الملك هم نه وي او شریك فی الحقوق هم نه وي۔ لیکن د هغه به حق وي۔ اوس د دریواړو ترتیب څرنګه دی؟ هغه هم پخپله حضور اکرمﷺ متعین کړی دی۔ په حدیث کښې راځي چه حضورﷺ وفرمایل چه ”الشریك احق من الخلیط و الخلیط احق من الشفیع او کما قال“. (الهدایة ج٦، ص٣٨٨، کتاب الشفعه)

دلته د اجتهاد خبرې کیږي لیکن د اجتهاد خبره نه ده۔ اجتهاد به هلته وي چه چېرته له حضورﷺ څخه پوره لارښوونه نه وي حاصل شوې۔ او حضورﷺ هر څه وښوول، حقدار او د هغه ترتیب ئې هم متعین کړ چه کوم په ملکیت کښې شریك وي هغه په اولې درجې کښې دی له خلیط څخه او خلیط هغه دی چه د هغه یواځې حقوق وي۔ او بیا ئې وفرمایل چه الخلیط احق من الشفیع یعنې هر کله چه د خلیط او ګاونډي مقابله راځي نو کوم چه په حقوقو کښې شریك وي او کوم چه ملکیت کښې شریك دی نو دوی حق به اول وي۔ له دې نه وروسته د ګاونډیتوب حق دی۔ همدارنګه په سنن اربعه ابو داؤد، ترمذي او د حدیثو په نورو کتابونو کښې د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی۔

عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول اللهﷺ الجار احق بشفعة جاره ینتظر بها و ان کان غائبا اذا کان طریقها واحدا. (ابو داؤد، مسند احمد، ابن ماجه، ترمذی، دارمی). (الدرایة فی تخریج احادیث الهدایة، رقم حدیث ٨٨٩، کتاب الشفعه)

”له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چه رسول اللهﷺ وفرمایل چه ګاونډي د خپلې شفعې زیات حق لري۔ که چېرته هغه موجود نه وي نو د شفعې لپاره د هغه انتظار وکړی لیکن دا شفعه به په هغه وخت کښې وي چه د دواړو ګاونډیانو لاره سره یوه وي“۔

کوم چه ګاونډي دی د هغه حق په دریم نمبر باندې دی نو اوس به هغه حقدار وي که خپل وي او که پردي او یا د هرې طبقې وي۔ د هغه انتظار وکړی که چېرته هغوی موجود نه وي ”ینتظر بها و ان کان غائبا“ مخکښې ئې دا هم وفرمایل چه کله لاره یوه وي۔ نو هغه ته به ترجیح ورکول کیږي۔

دوهم روایت د حضرت رافع رضی الله عنه دی کوم چه یو جلیل القدر صحابي دی هغه وایي:

عن ابی رافع مولی النبیﷺ یقول الجار احق بسقبه قیل یا رسول الله ما سقبه قال شفعته. (الهدایة ج٤، ص٣٨٧، کتاب الشفعه)

”یعنې ګاونډي هغه زمکې ته د قرب او نژدې والي په وجه سره زیات حقدار دی۔ صحابه د سقب په باره کښې پوښتنه وکړه نو وئې فرمایل چه له دې څخه مراد په شفعه کښې د هغه استحقاق دی۔ هغه د نژدې والي په وجه سره زیات حقدار دی“۔

همدارنګه په ترمذي کښې روایت دی ”الجار احق شفعته“ دا ما په لنډه توګه د حضورﷺ یو څو روایتونه وړاندې کړل چه حضورﷺ په دغو دریو شفعاوو کښې د شفعې حق مخصوص، محدود او محصور کړی دی۔ اوس دلته یو سوال را پورته شوی وو چه کوم وخت دا مسوده په عوامو کښې مشتهر کړی شو چه په دغو دریو کښې ئې مونږ ولې محدود کړو په داسې حال کښې چه د نورو صریح مخالفت نشته۔

جناب والا! دلته مختلف حضرات تقریرونه کوي د هغوی تمهید د جوش او خروش وي او مونږ پوهیږو چه هغوی زمونږ د تایید په طرف راځي، دلائل زمونږ په حق کښې وایي او په آخر کښې یو دم په بله خوا اوړي۔ د هغوی په تقریرونو کښې تضاد وي آخر دا خلك څه غواړي؟ د شفعې په دې مسئله کښې څه ابهام او پریشاني خو نشته۔ کله هغوی وایي چه د دغو دریو نه د زیاتو ته هم ورکړی شي او کله وایي چه د دغو دریو نه دې هم کم او محدود کړی شي۔ نو زه نه پوهیږم چه دغه ابهام او پریشاني د څه شي نه پیدا شوې ده؟ او ځینو خلکو داسې وویل چه حضورﷺ له نورو څخه نفی نه ده کړې او د انما کلمه نه ده راغلې۔ او حالانکه دا یوه علمي اصطلاح ده او د لغت د قواعدو له مخې هغوی وایي چه کلمه د حصر نشته۔ یعنې حضور اقدسﷺ دا نه دي فرمایلي چه ”انما الشفعه للشریك الخ“ (چه شفعه دې تر دغو دریو پورې محدوده وي) ځکه چه د انما کلمه د حصر لپاره ده۔ او دا کلمه خو چونکه اوس نشته نو نورو ته دې هم حق ورکړی شي۔ او دلیل دا وړاندې کوي چه د زکوٰة په آیت کښې ”اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ

لِلفُقَرآءِ" د زکوٰة مصارف الله د انما په کلمې سره محصور کړی دی۔ اوس چونکه اته مصارفه دي نو مونږ ئې نه یا لس نه شو ګرځولی۔ لیکن دا د هغو خلکو غلط فهمي او د سترګو پټول دي۔ د یوه شي د محصورولو لپاره د انما حرف او د حصر کلمات خو ضروري نه دي۔ د اختصاص والا الف لام هم د تخصیص لپاره راځي۔ لکه الحمد لله کښې اوس د دې معنٰی دا ده چه حمد او تعریف، ثنا او صفت ټول د الله تعالی لپاره دی بل څوك مونږ په حمد کښې نه شریکوو او که ئې شریك کړو نه د کفر حد ته به رسیږو۔ حالانکه دلته انما نشته او الحمد کښې لام د اختصاص لپاره او همدارنګه ځینې وختونه د یوې جملې مؤخروالی د جملې د مقدم والي لپاره هم د حصر فائده ورکوي او تخصیص ثابتوي۔ مثلا په کار خو داسې وو چه نعبد ایاك وی په لمانځه کښې چه معنٰی ئې دا ده چه مونږ د تا عبادت کوو لیکن دلته ئې داسې فرمایلي دي چه ایاك نعبد (مونږ خاص ستا عبادت کوو) او د بل چا عبادت نه کوو نو دا حصر له څه شي نه ثابت شو؟ د یوې جملې د راوړلو حق په یوه ځای کښې وو لیکن له خپل ځای څخه مخته راوړل شوه چه دې تقدیم ته ماحقه التاخیر ویل کیږي او همدارنګه که چېرته زه دا ووایم چه نه راغی دغه ایوان ته مګر زید نو دا استثناء هم د حصر لپاره فایده منده شوه۔ "ما جاء ني من القوم الازید" او بیا دې دا هم ملحوظ وي چه د حضور اقدس ﷺ په زمانه کښې کله ټول حالات د ده په مخکښې وو د حضور ﷺ او صحابه ووؓ خپلوان هم وو او د مختلفو طبقو خلك هم وو۔ ده ته معلوم چه تکلیف لاحق کیږي لیکن د شفعې حق ئې هغو خلکو ته ورنه کړ۔ نن ویل کیږي چه د شفعې وجه دا ده چه نور خلك له نقصان څخه وساتل شي یعنې د ضرر د دفعې مقصد دی۔ لیکن دا هم یوه علمي اصطلاح ده۔ دې ته حکمت ویل کیږي علت نه ویل کیږي۔ د ضرر دفع حکمت دی او علت ئې د الله او د هغه د رسول ﷺ حکم دی۔ او دا بیله خبره ده چه الله تعالی د حکمت په توګه سره یو شی وړاندې کړي لیکن هغه علت نه وي۔ بلکه حکمت او مصلحت وي۔ که علت وای نو مونږ دفع د ضرر عاملی۔ د دې مثال داسې دی لکه څرنګه چه په قرآن عظیم الشان کښې وویل شو چه د یوه سړي ګواهي د دوو ښځو د ګواهي سره برابره ده او په قرآنکریم کښې الله تعالی د هغه وجه هم بیان کړې ده چه ښایي چه د یوې ښځې نه هیره شي نو د هغې بلې به په یاد وي۔ "فتذکر احدٰهما الاخرٰی" چه مقصد ئې له هیرولو څخ بچ کیدل دی هغه مقصد حاصل شو۔ نو اوس که چېرته یوه ښځه ډېره لویه عالمه وي او د هغې حافظه هم مسلمه وي او مونږ ته معلومه هم وي چه د هغې څه شی هیریږي هم نه۔ بیا هم دا قانون نه شي بدلیدلی چه د هغې عالمې ښځې ګواهي دې له نر سره برابره شي۔ وجه دا ده چه دې ته حکمت وایي۔ الله تعالی فرمایي چه تاسو لمونځونه وکړی ترڅو چه تاسو متقي جوړ شی۔ اوس هیڅوك هم دا نه شي ویلی چه چونکه زه لمونځ نه کوم ځکه چه زه متقي نه شم جوړیدلی۔ لهذا چه متقي نه شم جوړیدلی نو لمونځ پریږدم۔ د لمانځه علت د الله تعالی حکم

دی۔ د حضور ﷺ په زمانه کښې به هم نورو خلکو به دا خطرات ښکاره کړي وو لیکن حضور اکرم ﷺ هیچا ته هم دا حق نه وو ورکړی۔ سره له دې چه د حضور ﷺ نظر ډېر وسیع او شفقت ئې هم تر ټولو زیات وو۔ نو اوس که چېرته مونږ دا موضوع را واخلو کوم چه له ضرر څخه بچ کیدل مقصود دي۔ نو بیا زما په خیال کښې د شفعې چه کوم قوانین د انګریزانو له دور څخه جاري دی د هغه قانون لاندې یو کرایه دار او دوکاندار ته هم دا حق ورکول په کار دي ځکه چه هغوی ته هم ضرر متوجه کیږي۔ که چېرته هغه دوکان خالي کوي نو هغه ته ضرر رسیږي۔ نو ولې هغه ته د شفعې حق نه ورکوي؟ او یا که څوك کرایه دار دی او هغه کور خالي کوي نو هغه ته هم ضرر رسیدلی شي۔ ته یو ملازم لرې او هغه له څه وجهې نه خپل کار پریږدي نو د دفع ضرر تر نظریې لاندې دغه ملازم ته به هم د شفعې حق وي؟ همدارنګه ما زمکه خرڅه کړې وه نن د هغه بل سړي مالك دی هغه په دریم سړي باندې وپلورله نو اول مالك دا ویلی شي چه په کار دی چه زما حق دې هم وشي ځکه چه زه هم په یوه وخت کښې د دغې زمکې مالك وم نو دا سلسله ډېره اوږدیږي۔ ځکه داسې نه شي کیدلی او بیا مزارعینو ته د حق ورکولو مسئله هم پورته کیږي۔ نو سوال دا دی چه دا څنګه فرض کړی شوی دی چه که چېرته ما زمکه وپلورله او له هغې څخه مزارع ته نقصان رسیږي او مشتري ضرور مزارع له زمکې څخه باسي یعنې لرې کوي ئې۔ که چېرته مزارع محنت کوي، دیانتدار او با اصول وي نو لکه څرنګه چه ما زمکه هغه ته په مزارعت ورکړې وه همدارنګه ئې هغه بل خریدار هم د هغه د ایمانداری په وجه هغه ته خپله زمکه په مزارعت باندې ورکوي۔ د محنتي او ایماندار ملازم پسې هر څوك او هر وخت ګرځي۔ او که هغه محنت نه کاوه نو بیا مالك ته هم دا حق حاصل دی چه هغه وباسي۔ د اسلام په نظر کښې زما د ملك هم له ضرر څخه بچ کول په کار دي او ضروري دی او د ملازم هم له ضرر څخه بچ کول په کار دی او د ټولو مقصود له ضرر څخه بچ کیدل دي یوائې د یوې طبقې نه دی مقصود۔ په قانون کښې دا نه کتل کیږي چه په یوه خاص فرد باندې څه وشو او په یوې طبقې باندې څه کیږي بلکه عام مفاد ته کتل کیږي۔ د مثال په توګه چه تاسو یوه مجرم ته د څوارلسو کالو سزا ورکوی او هغه بندي خانې ته اچوی نو دې ته هم باید وکتل شي چه د هغه په اهل او عیال باندې څه تیریږي آیا هغه وږي تږي پاتې کیږي او که څوك کفیل یا ذمه وار ئې شته۔ سره له دې تاسو ته دا حق له څه شي درکړ شوی دی چه تاسو هغه جیل ته واچوی۔

یوه سړي قتل وکړ او د عدالت لخوا څخه هغه ته په قصاص کښې د قتل کولو حکم ورکول کیږي نو تاسې دا نه ګوری چه د هغه په خاندان او اهل و عیال باندې څه کیږي؟ او په هغوی باندې څه تیریږي؟ مفاد عامه ته کتل کیږي۔ بیا نو تاسو د غل لاس هم نه شی پرې کولی ځکه چه د هغه اهل او عیال به وږي پاتې کیږي او د هغه ټول ژوند په تکلیف کښې وي۔ نو قانون د عامې فائدې لپاره جوړیږي۔

دلته په دې ایوان کښې مزارع او غیر مزارع خپل، پردی او فلانی او فلانی څخه یوه معمٰی جوړه شوې ده چه ګوا که شریعت په دې معامله کښې هیڅ لاربښوونه نه ده کړې حالانکه د ټولو معاملاتو لپاره فقه موجوده ده۔ په خلافت راشده او خلافت عباسیه کښې څو څو چته کورونه موجود وو دا خو څه د اسې مسئله نه ده چه نن پورته کیږي۔

دوهم عرض دا دی چه درې طبقې د تل لپاره د شفعې حقدار دي۔ د حضور اکرم ﷺ نه ئې واخله د انګریزانو تر آخري دورې پورې په یوه قانون او یوه حکومت کښې هم خلافت عباسیه، خلافت عثمانیه او په هندوستان کښې په خلافت مغلیه کښې کوم بل چا ته دا حق نه دی ورکړ شوی کوم چه حضور ﷺ ورکړی دی۔ په دې باندې د ټولو صحابهٔ کرامو او ائمهٔ کرامو اتفاق دی او دې ته وایي د امت تعامل۔ نو اوس که چېرته یوه امام د جار د حق مخالفت هم وکړي لیکن نور به متفق وي چه د دغو دریو نه په زیاتو باندې د چا اختلاف نشته۔ او بیا د صحابهٔ کرامو دور راغی، د ائمه کرامو دور راغی، د اهل بیتو دور راغی لیکن د دغو دریو نه پرته ئې بل هیچا ته هم حق ورنه کړ۔

په هر حال زه خپلې خبرې راټولوم او دا عرض کول غواړم چه دلته حاجي سیف الله صاحب یوه خبره وکړه او ما ته افسوس دی چه ده ته د دې خبرې کړل نه وو په کار او که چېرته په هرې مسئلې کښې په شریعت او قانون کښې فرقه وارانه اختلافات را پورته کړی شي نو یوه مسئله به هم حل نه شي۔ په توجیهاتو او تشریحاتو کښې اختلافات کیدلی شي۔ او ستاسو قانون دانان او وکیلان هم په یوه مسئله کښې، په یوې مقدمې کښې سره متفق کیدلی نه شي او جج صاحبان چه کله د یوې مقدمې فیصله کوي نو هره یوه فیصله ئې له بل څخه مختلف وي۔ بیا خو تا دغه ټول د عدل نظام دریاب ته وغورځاوه او بیا خو ته عادلانه نظام چلولی هم نه شي۔ نو په اصولو کښې هیڅ کله اختلاف نه دی راغلی۔

مونږ ته د اسلامي نظریاتي کونسل رپورټ راغلی دی۔ په دې کونسل کښې شیعه علماء، بریلوي علماء دیوبندي علماء، جج، وکلاء او جید علمان موجود دي۔ هغوی ټول په مشترکه توګه دا رپورټ وړاندې کړی دی۔ د شیعه او سني حضراتو تر منځ هیڅ اختلاف نشته۔ ما ته پخپله شیعه عالم امام علامه رضي وویل چه ما یوه داسې اختلافي جمله نه ده ویلې، او زمونږ سنیان خو په دې خبرې کښې ډېر وسیع النظر دي۔

په دې وخت کښې زمونږ په وړاندې د اسلامي فقهې عظیم کتاب هدایه ده کومه چه د هغه انګریزي ترجمه په یورپ کښې لوستل کیږي۔ په هغه کښې دا ټول تفصیلات موجود دي چه د شفعې حق چا ته دی او چا ته نه دی۔ په منقول جائداد کښې دی او که په غیر منقول جائداد کښې دی۔ د او به صورت به ئې څه وي۔ د زینو (پوړو) نظام به ئې څنګه وي۔ دا ټول وضاحتونه په هغې کښې موجود دي۔ مثلا په درې چته کور کښې یو سړی په لاندې منزل

کښې اوسیږي او د پاس منزل والا لار په دریم منزل باندې ده، زینې (پوړۍ) ئې په دریم منزل باندې دي۔ او د دوهم منزل والا لار بیله ده نو هغه وایي چه د شفعې حق د اول منزل والا دی که چېرته لاندې منزل والائې پلوري نو د شفعې حق به اول چت والا ته وي او که چېرته پاس منزل والائې پلوري نو د شفعې حق به د لاندیني منزل والا وي۔ هغه منځنی منزل متصل دی لیکن چونکه هغه ګاونډی دی په حقوقو کښې شریك نه دی او د هغه نمبر دریم دی۔ نو دلته یوه جمله د اختلافاتو والا وویل شوه۔ د اسلام د قوانینو په نظر کښې فروعي اختلافات او فرقې نه وي تر دې پورې چه د مسلم او غیر مسلم تمیز هم نه کیږي۔ زما په وړاندې د هدایې کتاب دی او زه د دې کتاب یوه جمله در اوروم۔ ”و المسلم و الذمي فی الشفعه سواء“ یعني مسلمان او کافر د شفعې په ټولو حقوقو کښې سره مساوي دي۔ که چېرته یو عیسایي زمونږ ګاونډي وي نو د ګاونډیتوب ټولې آسانتیاوې هغه ته حاصل دي۔ او بل کوم چه مسلمان وي او یوه درجه له هغه څخه وروسته وي نو هغه ته به د شفعې حق نه وي د عیسایي درجه به د شفعې په حق کښې مخکښې وي۔ ځکه چه احکام عام دي کوم سبب چه د شفعې ده په هغه کښې مسلمان او کافر سره برابر دي۔

د صاحب هدایې قول دی چه ”للعمومات و لانها یستویان في السلب و الجکمة فیستویان فی الاستحقاق“ ځکه چه په استحقاق کښې دواړه سره برابر دي۔ له دې نه مخکښې یوه ملګري په اسلام کښې د غلامۍ خبره څیړلې وه۔ دا عجیبه خبره ده آیا دا غلامي د اسلام لپاره یو تور داغ دی؟ خبره د شفعې کیږي او مسئله د غلامۍ څیړل کیږي۔ صبا ته به څوك د حرمت خمر په باره کښې خبرې کوي، څوك به د مخلوط ډانس او رقص خبره کوي۔ ورونو اسلام خو غلامان آسمان ته رسولي دي، اسلام غلامي ختمه کړې ده۔ دا د شفعې مسئله در واخلی، د دغې هدایې یوه بله جمله د شفعې په باره کښې راځي چه: ”و لهذا یستوی فیه الذکر و الانثی و الصغیر و الکبیر و الباغی و العادل و الحر و العبد اذا کان ماذونا او مکاتبا“ او کوچنی او لوی په دې حق کښې برابر دي۔ او د اوریدلو خبره مخکښې ده چه آزاد انسان او غلام انسان هم په دې کښې سره برابر دي۔ یعني اسلام خو غلام ته هم په دغو ټول قوانینو کښې د آزاد سره برابر ګرځولی دی او مساوي حق ئې ورکړی دی۔

نو جنابه زه د دغو ګذارشاتو سره چونکه کافي تفصیلات بیان شو نو خپل تقریر ختم کوم۔

د شفعې د مسودې آرډيننس مجريه

او

د دار العلوم حقانيه سفارشات او ترامیم

د پاکستان د حکومت نمبر۳(۲۱) (۲۲) / ۸۰ آئى آئى مجريه ۱۳ دسمبر سنه ۱۹۸۰ء لاندې د شفعې آرډيننس د مسودې قانون د عامه افکارو د معلومولو لپاره مشتهر کړ۔ اسلامي نظرياتي کونسل دغه مسوده د دار العلوم حقانيه د تجاويزو او اصلاحي ترميماتو لپاره وليږله۔ چنانچه د دار العلوم حقانيه مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد فريد صاحب او د هغه معاون مفتي مولانا غلام الرحمٰن صاحب د شيخ الحديث حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله په لارښووني او مشوره او وجود کښې په مسودې باندې د فقهې او شريعت له مخې نظر ثاني وکړه او په ځينې ځايون کښې چېرته چه د اصلاح قابلې نکتې په نظر راتلې د هغو اصلاح ئې وکړ او د اسلامي نظرياتي کونسل د رئيس په خدمت کښې ئې ارسال کړ او د شفعې د قانون په آرډيننس کښې ئې ټول ۱۳ سفارشات وړاندې کړ۔

په حضور د جناب چئيرمين صاحب اسلامي نظرياتي کونسل پاکستان

السلام عليکم و رحمه الله و برکاته!

ستاسو د ليږل شوې د شفعې د مسودې آرډيننس مجريه سنه ۱۹۸۰ء د ځينو مادو په اړه مو څو اهم تجويزونه د اسلامي نقطه نظر له مخې ستاسو په خدمت کښې در وليږه ليکن دا دې واضحه وي چه دا تجويزونه يوائې په هغو مادو باندې دي کوم چه مفصل او غير مخدوش دي او کومې مادې چه زمونږ لپاره د فهم او پوهې وړ نه دي د هغو په اړه مونږ د ځواب ورکولو او رائې ښکارولو څخه قاصر يو۔

د مثال په توګه د دوهمې صفحې، دوهمې مادې په دريم شق کښې او همدارنګه د نهمې صفحې، شلمې مادې په دوهم شق مخدوش او مبهم دی ځکه نو د هغو په اړه مونږ رايه نه شو درکولې او د هغې مادې په اړه هم مونږ رايه نه شو درکولی کومه چه د هغې ذکر په مسوده کښې د اجمال په توګه راغلې ده او تفصيلي حواله ئې په تعزيرات پاکستان باندې ورکړې ده۔ لکه د دولسمې صفحې يو ديرشمې مادې ضابطه ديواني سنه ۱۹۰۸ء پنځم ايکټ، د ديارلسمې صفحې درې ديرشمې مادې د سماعت د ميعاد قانون سنه ۱۹۰۸ء نهم ايکټ کښې شامل شوي امور، د څوارلسمې شپږ ديرشمې مادې الف شق او دريم شق د هغو مادو سره اړه لري چه د هغو د مجمل والي په وجه مونږ د هغو په اړه د اسلامي نقطۀ نظر له مخې د رائې ورکولو څخه قاصر يو۔ ځکه چه تعزيرات پاکستان اوس زمونږ په وړاندې نه دي موجود۔ او له دغو

پرته د نورو واضحو او تفصيلي دفعاتو په اړه زمونږ تجاويز ستاسو په خدمت کښې دي۔

﴿۱﴾ د دې مسودې په دوهمې صفحې دوهمې مادې په څلورم شق کښې دي چه د غير منقوله جائداد د ښه انتظام په غرض سره او يا په جائزې طريقې سره په ذاتي استعمال کښې د راوستلو لپاره د تبادلې يعنې بدلولو په صورت د شفعې د حق څخه مستثنى کولو د شريعت له مخې درست نه دی بلکه دا هم په کار دي چه له هغو صورتونو څخه وګرزول شي کوم چه په هغو کښې د شفعې حق دې د شفيع لپاره ثابت وي۔

﴿۲﴾ د دوهمې صفحې دوهمې مادې د دال د شق په آخر کښې دا زياتوالى هم ضروري دي چه شفعه به په هغه جائداد کښې هم واجب وي چه د کومې صلحې په صورت کښې په اقرار يا انکار او يا سکوت کښې ورکړ شوي وي او يا د غير منقوله جائداد څخه د اقرار په صورت کښې صلح وشي د دې لپاره حواله مطالعه کړی۔

و تجب الشفعه فى الدار التى هى بدل الصلح سواء كان الصلح عن الداء عن اقرار او انكار او سكوت و كذا تجب فى الدار المصالح. (الفتاوىٰ الهندية ج۵، ص ۱۶۰، كتاب الشفعة، الباب الاول)

”او شفعه به په هغه غير منقوله جائداد کښې هم واجب وي کوم چه د صلحې په بدل کښې ورکړ شوی وي۔ که دا صلح د اقرار يا انکار او د سکوت په صورت کښې وي او همدارنګه شفعه به په هغه جائداد کښې هم واجب وي چه د هغه سره د اقرار په صورت کښې صلح وشي“۔

(۱) د آرډيننس د مسودې په عبارت کښې د صلح هغه صورتونه چه په هغو کښې شرعا شفعه ثابته ده مذکور نه دي۔

﴿۳﴾ د اوومې صفحې په ديارلسمه دفعه باندې د مواثبت د طلب په تعريف کښې د ”مجلس“ سره دا اضافه يا زياتوالى هم ضروري دی۔ ”اګر که په دغه مجلس کښې دغه شفيع دې يوائې ولې نه وي“ ځکه چه د مواثبت طلب د شفيع لپاره د هغه د خبريدو نه فورا وروسته ضروري دی په دې طلب کښې د هغه لپاره چېرته هم د نورو خلکو په مخکښې موجودوالى ضروري نه دی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: و فى القهستانى يجب الطلب و ان لم يكن عنده احد لئلا تسقط الشفعه ديانةً و ليتمكن من الحلف عند الحاجة كما فى النهاية. (رد المحتار ج۵، ص۱۴۳، كتاب الشفعة)

”(او طلب د مواثبت د هغه لپاره) ضروري دی اګر که د هغه په وړاندې هيڅ شی هم موجود نه وای چه د هغه د شفعې حق ديانتا ساقط نه شي او د ضرورت په وخت کښې د قسم کولو په وخت کښې هم د قسم په کولړ کښې رښتوني وي او قسم کولی شي“۔

﴿۴﴾ همدارنګه په ذکر شوې اوومې صفحې، ديارلسمې مادې په دريم شق کښې دا تصريح کول هم ضروري دی چه ”طلب اشهاد“ د شفيع له ذات سره خاص نه دی بلکه دغه طلب اشهاد

شفیع پخپله او یا د ضرورت په وخت کښې رسالتا یا وکالتا هم کولی شي“۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: اذا باع رجل و علم با لسراء و هو فی طریق مكة فطلب المواثبة و عجز عن طلب الاشهاد بنفسه یؤکل آخر حتی یطلب الشفعه فلو لم یفعل و مضی المدة بطلت شفعته. (خلاصة الفتاوٰی علی هامش رد المحتار ج۵، ص۱۴۳، كتاب الشفعه)

”دغه طلب د اشهاد د شفیع لپاره ضروري دی تر دې پورې چه دا طلب اشهاد په کوم خط او یا کوم سړی ولیږي نو هم ممکن دی او که شفیع ئې طلب و نه کړي نو د هغه د شفعې حق باطل دی“۔

او همدارنګه په دې دفعه کښې دا هم ضروري دي چه طلب اشهاد بائع یا مشتري یا مبیعه په هرو دریو کښې یا له هرو دریو څخه چېرته له یوه سره کوم یو چه هغه ته میسر کولی شي۔ البته د بائع په وړاندې به په هغه وخت کښې طلب د اشهاد کوي چه ترڅو پورې مبیعه له هغه سره موجوده وي او حال دا چه په نوموړې دیارلسمې مادې کښې یوائې مبیعه (غیر منقوله جائداد) په نزد د طلب اشهاد په کفایت باندې تصریح نه ده شوې۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: ثم یشهد علی البائع لو عند العقار فی یده او علی المشتری و ان لم یکن ذا یدٍ لانه مالك او عند العقار. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص ، كتاب الشفعه)

”او بیا شفیع دغه طلب د اشهاد د بائع په وړاندې کوي که چېرته مبیعه د هغه په ملکیت کښې وي او یا به ئې د مشتري په وړاندې کوي اګر که مبیعه د هغه سره موجوده نه وي ځکه هغه مالك دی او یا به ئې د جائداد غیر منقوله په وړاندې کوي“۔

﴿۵﴾ او همدارنګه په اوومه صفحه دیارلسمه ماده کښې د عنوان تشریح په څلورم شق کښې هم دا زیاتوالی ضروري دی چه ”شفیع“ د هر دواړو د طلب کولو نه وروسته د جائداد غیر منقوله د اخیستلو لپاره قضاء ته بغیر د کوم شرعي عذر څخه په یوه میاشت کښې د ننه د ننه به خامخا رجوع کوي۔ او که چېرته بې له کوم واقعي عذر څخه په یوه میاشت کښې د ننه دعوٰی دائره نه کړي نو د هغه د شفعې حق به له یوې میاشتې څخه د زیات تاخیر په وجه باطل وي۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی الجامع الخانی الفتوٰی الیوم علی قول محمدؒ لیتفر احوال الناس فی قصد الاصرار، (رد المحتار ج۵، ص۱۴۴، كتاب الشفعة)

”د خلکو د خپلو حقوقو په مطالبې او غوښتنې کښې اصرار ته په نظر کښې نیولو سره نن صباء فتوٰی د امام محمد په قول دی چه بغیر د څه واقعي او حقیقي عذر نه له یوې میاشتې څخه د زیات تاخیر په وجه سره حق شفعه باطلیږي“۔

بیا هم د واقعي او حقیقي عذر په صورت کښې د یوې میاشتې نه د زیات تاخیر په صورت کښې هم حق شفعه نه باطلیږي لکه څرنګه چه په رد المحتار ج۵، ص۱۴۴ کښې د

پورته ذکر شوي عبارت څخه څو لیکې مخکښې علامه ابن عابدین صاحب لیکي۔

فلو عذر او سفر او عدم قاض یری الشفعة با لجوار فی بلده لا تسقط اتفاقاً. (رد المحتار ج۵، ص۱۴۴، كتاب الشفعة)

”او د واقعي عذر په صورت کښې مثلا مرض، سفر او یا په دې وجهې سره چه په هغې علاقې کښې قاضي نه وي کوم چه شفعه با لجار جاري کولی شي۔ نو په دغو صورتونو کښې له میاشتې څخه د زیات تاخیر د عذر په وجه سره د تاخیر په صورت کښې با لاتفاق د شفعې حق نه باطلیږي“۔

نو د دې صورت په بناء د دیارلسمې صفحې درې دیرشمې مادې د ساعت وخت او میعاد کوم چه ۶۰ ورځې تاکل شوي دي که چېرته د ساعت د دې میعاد څخه مراد طلب خصومت یعنې په قضاء او عدالت کښې د مقدمې د دائرولو وخت مراد وي نو بیا تر شپیتو ورځو پورې د تاخیر با وجود د شفعې حق نه باطلیدل د مفتیٰ بهٖ قول څخه مخالف دی۔ ځکه چه مفتیٰ بهٖ قول یوائې تر یوې میاشتې پورې دی او که چېرته د میعاد ساعت څخه مراد د حاکم لپاره د فیصله کولو موده او وخت مراد وي نو بیا په شریعت کښې تحدید نشته بلکه چه څومره زر ممکن وي قاضي یا حاکم فیصله کولی شي (۱-)

﴿۶﴾ د اتمې صفحې، شپاړسمې مادې په آخر کښې دا زیاتوالی هم ضروري دی چه ”ګوا که چه هغه ته دغه جائداد د بائع او مشتري ترمنځ د بیعې د معاهدې په صورت کښې ملاو شوی دی له دې وجهې په هغه باندې د بیع احکام، خیار رؤیت، خیار عیب او په وخت د استحقاق کښې د شفیع لپاره د رجوع با لثمن حق به هم حاصل وي۔ البته د ضمان غرور مطالبه د استحقاق په صورت کښې شفیع نه شي کولی“۔ د دې لپاره فتاوٰی هندیه وګورئ چه څه وایي:

و اذا قضی القاضی اق اسلم المشتری تثبت بینها احکام البیع من خیار رؤیته و خیار عیب و الرجوع با لثمن عند الاستحقاق الا ان الشفیع لا یرجع بضمان الغرور. (الفتاوی الهندیه ج۵، ص۱۷۶، كتاب الشفعة، الباب الخامس فی الحکم با لشفعة)

”او کله چه قاضي یا حاکم د شفیع په حق کښې فیصله وکړي او یا مشتري پخپله رضا او خوښه مبیعه شفیع ته پریږدي نو اوس د شفیع او د بائع تر منځ به دا د بیع یوه معاهده تسلیم شي او په هغې باندې به د بیّعې احکام جاري کیږي چه د هغه له مخې د شفیع لپاره خیار رؤیت، خیار عیب او د رجوع د استحقاق په صورت کښې د رجوع با لثمن حق حاصل دی۔ البته شفیع

(۱-) په سرکاري مسوده کښې د شپیتو ورځو د ساعت میعاد او وخت تاکل شوی دی حالانکه دا میعاد نه د قرآن په کوم آیت کښې راغلی دی او نه په حدیثو کښې شته او نه د کوم فقیه قول دی۔ د شریعت له مخې د دې دا تفصیل دی کوم چه په تبصره کښې ذکر شو۔

په بائع باندې د ضمان غرور(۱-) د استحقاق په صورت کښې د رجوع حق نه لري۔ یعني شفیع له بائع څخه د ضمان غرور مطالبه نه شي کولی۔

﴿۷﴾ د اتمې صفحې په اولسمې مادې کښې د شفیع د مرګ په صورت کښې د شفعې حق د شفیع قانوني وارثانو ته منتقل کول د حنفي فقهې خلاف دی (۲-) بلکه د قاضي یا حاکم د دې شفیع په حق کښې د فیصله کولو نه مخکښې که چېرته مړ شي نو د هغه د شفعې حق باطلیږي۔ او د شفیع وارثانو ته به نه نقل کیږي۔ البته د مشتري په مرګ باندې د شفعې په حق باندې هیڅ اثر نه پریووزي۔ وګوری فتاوی هندیه:

و اما الضروری فنحو ان یموت الشفیع بعد الطلبین قبل الاخذ با لشفعه فتبطل شفعته و هذا عندنا و لا تبطل بموت المشتری و للشفیع ان یاخذ من وارثه. (الفتاوي الهندیة ج۵، ص۱۸۲، کتاب الشفعة، الباب التاسع فیما یبطل به. الخ)

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: اما الضروری فنحو ان یموت الشفیع بعد الطلبین قبل الاخذ با لشفعة فتبطل شفعته. (بدائع الصنائع ج۵، ص۲۲، کتاب الشفعة فصل بیان ما یبطل به حق الشفعة)

ترجمه: که چېرته شفیع له دواړه طلبه (طلب مواثبت او طلب اشهاد) وکړي او د فیصله کولو څخه مخکښې مړ شي نو د هغه په مرګ سره به د هغه د شفعې حق باطل شي او د هغه قانوني وارثانو ته به نه منتقل کیږي۔ او دا زمونږ مذهب دی او البته د مشتري په مرګ سره به د شفعې په حق باندې هیڅ اثر و نه شي۔ بلکه شفیع د مشتري د وارثانو څخه د غه جائداد په شفعې باندې اخیستلای شي"۔

او همدارنګه د ذکر شوې مسودې په نهمې صفحې باندې د دوهمې مادې سره هم د غه دفعه یا ماده متصادم دی ځکه چه په دغې مادې کښې هلته تصریح دی چه د شفعې حق ناقابل انتقال او ناقابل تقسیم دی۔

﴿۸﴾ د نهمې صفحې، درویشتمې مادې په دوهم شق کښې د کوم قانون سره د شریعت د قانون زیاتول ضروري دي۔لهذا بیا به اصل عبارت داسې وي "او یا مقام مقتدره ئې د یوه شرعي قانون لاندې حاصل کړی وي نو په هغه باندې به د شفعې دعوی نه کیږي"۔

﴿۹﴾ د لسمې صفحې په څلور ویشتمې مادې کښې د مدعي څخه زر شفعه جمع کول لازمي ګرځول شوي دي او د شفعې د پیسو د نه جمع کولو په صورت کښې د شفعې دعوی خارجول د شریعت سره موافق نه دی ځکه چه زر شفعه د شفیع څخه جمع کول په شریعت کښې مطلوب نه دی او د اعتماد او باور لپاره عدالت یا قضاء د رائې په استصواب کښې ممنوع نه دی۔ لیکن د اعتماد صورت یوائې د زر شفعه د جمع کولو سره مخصوص نه دی بلکه که چېرته شفیع په بلې طریقې سره قضاء مطمئن کاوه او هغه ته ئې یوائې کفیل یا ضامن ورکاوه نو بیا به هم د شفعې دعوی صحیح وي۔ او قاضي یا حاکم به د هغه سماعت کوي یعني اوري به ئې۔ او فیصله کولی شي او د شفعې د پیسو د نه جمع کولو په صورت کښې به دعوی نه خارجیږي۔ بیا هم شفیع ته په عقار باندې قبضه د شفعې د پیسو د وصولولو څخه بغیر نه ورکول کیږي۔ وګوری فتاوی هندیه۔

و لا یلزم الشفیع احضار الثمن وقت الدعوی بل یجوز المنازعة و ان لم یحضر الثمن الی مجلس القاضی فاذا قضی له با لشفعة له احضار الثمن و لو دفع الثمن بعد ما قال ادفع الثمن الیه لا تبطل با لاجماع. (الفتاوي الهندیة ج۵، ص۱۷۶، کتاب الشفعة، الباب الخامس الخ)

"په شفیع باندې د شفعې د دعوی په وخت کښې د شفعې پیسې له قاضي یا حاکم سره جمع کول ضروري نه دي۔ ځکه چه پرته د شفعې د پیسو له حاضرولو څخه هم دعوی اوریدل کیږي۔ البته د فیصلې څخه وروسته په شفیع باندې د شفعې د پیسو جمع کول ضروري دي۔ او له څو لیکو نه وروسته وایي چه که چېرته شفیع وعده وکړه او په وخت باندې ئې د شفعې پیسې جمع نه کړې نو بیا په اتفاق سره د هغه د شفعې حق باطل شو"۔

﴿۱۰﴾ د دولسمې صفحې په ۲۹ مادې باندې ذکر شوې اداري ته چه د حق شفعې د اسقاط کوم حق ورکړ شوی دی نو په هغه کښې چونکه د حق د تلفې ډېر امکان دی لهذا دا اختیار نوموړي اداري ته ورکول نه دي په کار۔ بلکه په نهمې صفحې، دوه ویشتمې مادې لاندې چه کومه استثناء شوې ده په هغې باندې اکتفاء په کار دی۔

﴿۱۱﴾ د دیارلسمې صفحې، څلور دیرشمې مادې مطابق د اطلاع نامې په صورت کښې یوائې اطلاع عامه کافي مه ګڼی بلکه د اطلاع عامه نه پرته د انتقال د تصدیق کوونکي افسر د واپسي سند او یا د انتقال اطلاع شریك خلیط او جار ته په خصوصي توګه سره رجسټري او یا د هر کاري په واسطه ورکول ضروري وګرځوی ځکه چه یوائې د اطلاع عامه په صورت کښې د حق د تلف قوي امکان موجود دی او دا مذکوره اطلاع لره تر یوې هفتې محدود ساتل یوائې د عدالت رایه ده ورنه په شریعت کښې دا تحدید نشته۔

﴿۱۲﴾ د پنځلسمې صفحې، شپږ دیرشمې مادې په شپږم شق کښې د دې مسودې د اجراء څخه مخکښې هغه شوې معاهده د بیعې د قابل سماعت کیدو لپاره یوائې ۶۰ ورځې هم د عدالت ذاتي رایه معلومیږي نو همدارنګه غیر شرعي قانون ته د شرعي قانون نوم ورکول خطرناکه مسئله ده۔

﴿۱۳﴾ د نوموړې پنځلسمې صفحې، شپږ دیرشمې مادې په څلورم شق کښې د دغه قانون څخه چه کوم مقدمات مستثنی شوي دي دا هم د عدالت خپله رایه کیدی شي ورنه بهتره خو داده چه د ټولو مقدماتو فیصله په شرعي لحاظ سره وشي۔

(۱-) په مسودې کښې ئې د بیعې معاهده مطلقه راوړې ده په داسې حال کښې ضمان غرور له دې څخه شرعا مستثنی دی۔

(۲-) د کوم ملك چه له ۹۰٪ فیصدو څخه زیات خلك ئې حنفي مسلکه وي هلته د هغو په خلاف قانونو جوړول په یقیني توګه له مذهبي مداخلې سره برابره خبره ده۔

كتاب الشركة

کـــــتاب الشرکة

(د شراکت احکام او مسائل)

د موروثي جائداد د منافعو د تقسیم حکم

سوال: څو ورونه په موروثي جائداد کښې په ګډه سره د اسې محنت او خواري کوي چه د هغوی په ګټې کښې تمیز کول مشکل دی اوس په دوی کښې یو ورور د نورو ورونو له ګټې څخه انکار کوي او دا غواړي چه هغوی د رأس المال څخه محروم کړي نو آیا د ده دا اقدام شرعا صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه که چېرته ټول ورونه پخپل منځ کښې داسې کاروبار کاوه چه د هغوی په خدمت کښې فرق نه کیده بلکه په مکمله توګه سره شریك وو نو د دې محنت په ذریعه سره په ګټل شوي مال کښې ټول ورونه سره مساوي او برابر شریکان دي۔ یو ورور هم د ټول مال دعویدار نه شي جوړیدلی۔ نو له دې وجهې په نوموړې مسئله کښې یوه ورورته هم دا حق حاصل نه دی چه خپل نور ورونه له منافعو څخه محروم کړي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: لو اجتمع اخوة یعملون فی ترکة ابیهم و انما المال فهو بینهم سویّة و لو اختلفوا فی العمل و الرأی. (رد المحتار ج٤، ص٣٢٥، کتاب الشرکة، فصل فی الشرکة الفاسدة)

و قال العلامة سلیم رستم بازؒ: فاذا کان سعیهم واحداً و لم یتمیز ما حصله کل واحد منهم بعمله یکون ما جمعوه مشترکاً بینهم با لسویة ان اختلفوا فی العمل و الرأی. (شرح مجلة الاحکام تحت المادة ١٣٦١، ص٧٢٥، الکتاب العاشر) و مثله فی تنقیح الحامدیة ج١، ص٩٥، کتاب الشرکة.

مشترك مال د بولۍ په ذریعه د اخیستلو حکم

سوال: څو کسان په ګډه سره یو شی اخلي او بیا په هغه باندې پخپل منځ کښې بولۍ کوي چه کوم یو شریك زیاته بولۍ ورکړي نو هغه شی به د هم هغه وي۔ له دې نه وروسته د زیاتې بولۍ ورکوونکې شریك نورو شریکانو ته د خپلې خپلې حصې سره د هغه ګټه هم ورکوي نو آیا دا معامله شرعا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړې صورت کښې چونکه ټول شریکان په مشترکه توګه یو شی واخیسته او بیا ئې پخپل منځ کښې نیلام کوي او کوم یو چه زیاته بولۍ ورکړي نو هغه شی هم هغه ته حواله کوي۔ له دې وجهې که چېرته د دې نیلام په وجه سره حاصلیدونکې روپۍ د زیاتې بولۍ ورکوونکې له خپلې حصې نه پرته د نورو شریکانو د حصو عوض یا بدل وي نو معامله به شرعا جائزه وي او که چېرته خپله حصه هم په بولۍ کښې قیمتا واخلي نو بیا به جائزه نه وي۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: الشریك مخیر ان شاء باع حصّته من شریکه و ان شاء باعها عن اجنبی بدون اذن شریکه راجع الی المادة ٢١٥ لکن فی صور خلط الاموال و اختلاطها التی بیناها فی الفصل الاول لا یسوغ لاحد الشریکین الخ. (شرح مجلة الاحکام تحت المادة ١٠٨٨، الکتاب العاشر)

قال العلامة الحصکفیؒ: و کل من شرکاء المِلك اجنبی فی مالِ صاحبه فصح لهٗ بیع حصّته و لو من غیر شریکه بلا اذن الا فی صورة الخلط لمالیهما کحنطة بشعیر و بناء و ثمر و زرع. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٤، ص٣٠٠، کتاب الشرکة) و مثله فی شرح مجلة الاحکام تحت المادة ١٠٨٨، ص٦٠٨، الکتاب العاشر.

د شریك په مرګ باندې د شرکت ختمیدل

سوال: دوو کسانو پخپل منځ کښې په ګډه سره کاروبار کاوه او په هغو کښې یو مړ شو اوس سوال دا دی چه آیا د شریك په مرګ سره شرکت ختمیږي او که به باقي پاتې کیږي د شریعت له مخې ئې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شراکت په وخت کښې چه یو شریك مړ شي نو شرکت پخپله ختم کیږي او بل شریك ته د هغه په مال کښې د تصرف حق نه وي۔

لما قال العلامة فخر الدین عثمان بن علی الزیلعیؒ: و تبطل الشرکة بموت احدهما علم به الشریك او لا. (الفتاوی الهندیة ج٢، ص٣٣٥، الباب الخامس فی الشرکة الفاسدة) و مثله فی الشلبی علی تبیین الحقائق ج٣، ص٣٢٣، کتاب الشرکة.

د مشترك کاروبار د منافعو د تقسیم حکم

سوال: دوو کسانو پخپل منځ کښې په شریکه کاروبار شروع کړ۔ دواړو خپل خپل رأس المال سره جمع کړل او د کاروبار د شروع کولو په وخت کښې ئې دا شرط و نه لګاوه چه پخپل منځ کښې به منافع په کوم نسبت سره تقسیمو او حال دا چه د کاروبار په دوران کښې یوه شریك له بل څخه خواري کمه وکړه۔ نو په دې صورت کښې د ګډ کاروبار د منافعو تقسیم به شرعا څرنګه کیږي۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی صورت د عنان د شرکت یو صورت دی او چونکه د عقد په وخت کښې کوم شرط نه دی لګول شوی۔ له دې وجهې د فقهاوو د تصریحاتو مطابق چه کله یوه شریك خواري هم نه وي کړې او د ربحې یعنې نفعې په اړه هم د کموالي او زیاتوالي یادونه نه وي شوې نو نفعه یا ګټه به د رأس المال په مطابق تقسیمیږي او که رأس المال د دواړو برابر وي نو ګټه به ئې هم سره برابره وي او که رأس المال ئې سره برابر نه وي نو د دې کموالي او زیاتوالي په صورت کښې به ئې ګټه هم کمه او زیاته وي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و الربح بینهما علی قدر رأس مالهما. (تنقیح الحامدیة ج١، ص٩٤، کتاب الشرکة)

و قال فی الهندیة: و اما شرط جوازها تکون رأس المال عیناً حاضراً او غائباً عن مجلس العقد لکن مشار الیه و المساواة فی رأس المال لیست بشرط و یجوز التفاضل فی الربح مع تساویهما فی رأس المال کذا فی محیط السرخسی. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۳۱۹، الباب الثالث فی شرکة العنان) و مثله فی رد المحتار ج۴، ص۳۱۲، کتاب الشرکة.

له شریکې زمکې څخه د خپلې حصې د پلورلو حکم

سوال: که چېرته د دوو کسانو تر منځ زمکه مشترکه وي او تقسیم شوې نه وي نو که چېرته په هغو کښې یو کس وغواړي چه خپله زمکه وپلوري نو آیا شرعا هغه ته د خپلې حصې د پلورلو حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسې زمکه چه د دوو کسانو سره شریکه وي نو په هغو کښې هر یوه ته پخپلې حصې باندې د تصرف حق حاصل دی۔ له دې وجهې په نوموړي صورت کښې هر یو خپله حصه له تقسیم څخه مخکښې هم پلورلی شي۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: یصح بیع حصّة شائعة معلومة کا لنصف و العشر من عقار مملوك قبل الاقرار. (شرح مجلة الاحکام تحت المادة ۲۱۴، ص۱۰۳، الکتاب العاشر)

قال العلامة محمود بن اسماعیل الشهیر بابن قاضی سماوةؒ: اما بیعه فقسمان قبل القسمة او لا و کل قسمٍ علی وجهین اما ان باع عن اجنبی او من شریکه فا لوجه الاوّل و هو البیع من اجنبی علی نصف و اما ان کان الکل لهٗ فباع نصفهٗ او کان بین اثنین فباع احدهما نصیبه فا لبیع جائز فی المواضع کلها. (جامع الفصولین ج۲، ص۸۲، الفصل الحادی و الثلاثون فی مسائل البیع و احکامه) و مثله فی تنقیح الحامدیة ج۱، ص۲۷۶، کتاب البیوع، باب الخیار.

د شریکانو د غیر حاضرې په صورت کښې په شریکه زمکه کښې د څه کرنې حکم

سوال: یو ځای څه زمکه د څو کسانو تر منځ شریکه ده او هر کال په دې زمکې باندې ځینې خلك مختلف شیان کري او حال دا چه له شریکانو څخه ئې څو کسان غائب دي۔ اوس پوښتنه دا ده چه د ځینو شریکانو د غائبیدو په صورت کښې په دې مشترکې زمکې باندې د فصل کرل شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دا زمکه په شرعي ملك سره مشترکه وي نو د غائبینو په حصو کښې د دوی د اجازې نه پرته د فصل کرل جائز نه دي۔ هر یو پخپله ملکیتي حصو کښې فصل کرلی شي۔ بیا هم که چېرته د غائبینو صراحتا یا دلالتا اجازه وي نو بیا څه حرج پکښې نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی القنیة عن واقعات الناطفی ارض بینهما فغاب احدهما فلشریکه ان یزرع نصفها و لو اراد ذٰلك فی العام الثانی یزرع ما کان زرع. (تنقیح الحامدیة ج۱، ص۹۱، کتاب الشرکة)

و قال فی الهندیة: و فی الارض لهٗ ان یزرعها کلها علی المفتی به ان کان الزرع ینفعها فاذا جاء شریکه زرعها مثل تلك المدة و ان کان الزرع ینقصها او الترك ینفعها فلیس لهٗ ان یزرعها. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۳۴۱، کتاب الشرکة، الباب السادس فی المتفرقات) و مثله فی البحر الرائق ج۵، ص۱۶۷، کتاب الشرکة.

مشترك مال چا ته عاریتاً د ورکولو حکم

سوال: دلته زمونږ په علاقه کښې یو دیني عالم وفات شوی دی او په ترکه کښې ئې څه مال پاتې شوی دی او په وارثانو کښې ئې څو زامن پاتې دي۔ نو آیا په هغو کښې کوم یو له متروکه مال څخه چا ته عاریتاً څه ورکولی شي او که نه او حال دا چه نور ورونه ئې په هغه باندې خفه دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې چونکه د پلار توله ترکه د تولو ورونو په منځ کښې مشترکه ده نو د دې لپاره یو شریك هم د مشترکه مالونو څخه د نورو شریکانو له اجازې څخه پرته هیڅ شی هم چا ته عاریتاً نه شي ورکولی ځکه چه د شریکانو حصې له یوه او بل سره د امانت او ودیعت په توګه پرتې وي۔

قال العلامة سلیم رستم بازؒ: حصة احد الشریکین فی حکم الودیعة فی ید الآخر فاذا اودع احدهما المال المشترك عند آخر بدون اذن فتلف کان ضامناً حصّة شریکه. (شرح مجلة الاحکام، تحت المادة ۱۰۸۷، ص۶۰۸، الکتاب العاشر)

قال العلامة ابن عابدینؒ: نعم و السر فی ذٰلك ان الشریك حکمه فی حصّة شریکه حکم المودع. (تنقیح الحامدیة ج۱، ص۸۷، کتاب الشرکة) و مثله فی فتاوی الکاملیة ص۵۰، کتاب الشرکة.

په شریك جائداد کښې د شریك له اجازې پرته د تصرف کولو حکم

سوال: د دوو سکه ورونو څه مشترکه زمکه وه په هغو کښې یوه ئې د بل ورور په غیاب کښې توله زمکه وپلورله او کله ئې چه بل ورور ته معلومه شوه نو د زمکې له پلورلو څخه ئې انکار وکړ نو آیا د دې بل ورور انکار شرعا صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی جائداد به یا د دوی زرخرید وي او یا موروثي یعنې په میراث کښې به ورته پاتې وي نو په د اسې زمکه باندې د یوه ورور تصرف هم د بل ورور د اجازې نه بغیر صحیح نه دی نو ځکه دا بیعه د ناراض ورور د جائداد په حصه کښې نافذ العمل نه دی۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: فشرکة الاملاك العین یرثها رجلان او یشتریانها فلا یجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الآخر الا باذنه و کل واحد منهما فی نصیب صاحبه کا لاجنبی. (الهدایة ج۳، ص۶۲۴، کتاب الشرکة)

و قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه اللّٰه: ای و کل واحد من الشریکین ممنوع من التصرف فی نصیب صاحبه لغیر الشریك الا باذنه لعدم تضمنها الوکالة. (البحر الرائق ج۵، ص۱۶۷، کتاب الشرکة) و مثله فی فتح القدیر ج۵، ص۳۸۷، کتاب الشرکة.

د شريك ديوال د جوړولو د مصرف حكم

سوال: د دوو كسانو ترمنځ يو مشترك ديوال دی او د اسې ديوال دی چه حالت ئې خراب دی او د ړنګيدو په حال كښې دی نو يو شريك را ولاړ شو او ديوال ئې ړنګ كړ۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه د دوباره جوړولو مصرف به په دواړو باندې وي او كه يوائې په ړنګوونكي باندې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقهې د قواعدو له مخې د مشترك ديوال تول مصرف په دواړو باندې دی او يوائې يوه خوا د هغه د مصرف ذمه وار نه دی۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: و فی جامع الفصولين حائط بينهما و خيف سقوطه فاراد احدهما نقضهٗ و ابی الآخر يجبر علی نقضه......... و نصف قيمة البناء لو انفق بلا امر القاضی و نقل هٰذا الحكم فی شرح الوهبانية عن الذخيرة فی مسئلة انهدام السفل و قال انهٗ الصحيح المختار للفتوٰی. (رد المحتار ج٤، ص٣٣٣، كتاب الشركة، مطلب فيما اذا...... من العمارة)

و قال العلامة سليم رستم باز اللبنانی رحمه اللّٰه: فلطالب البناء ان يبنی باذن الحاكم و يرجع علی شريكه بحصّة من نفقة البناء. (شرح مجلة الاحكام، المادة ١٣١٨، ص٧٠٣، الكتاب العاشر) و مثله فی جامع الفصولين ج٢، ص٢١٤، الفصل الرابع و الثلاثون فی الاحكام.

په اقرار سره د شركت ثبوت

سوال: د يوه سړي له چاسره د زمكې معامله په محكمه كښې روانه وه هغه خپل يوه خاص سړي ته وويل چه ته هم له ما سره په دې دعوې كښې شريك شه او كله چه زه دعوه وګتم نو په هغې كښې به تا ته هم حصه دركړم نو اوس چونكه هغه مقر دعوٰی ګټلې ده آيا مقر لهٗ به په دې زمكې كښې ورسره شريك وي او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا واضح خبره ده چه په مذكوره صورت كښې دا سړی پخپله د خپل جانب مقابل لپاره په دې الفاظو اقرار كړی دی چه "ته به هم زما سره په دې زمكې كښې شريك وې" لهذا د دې اقرار په وجه سره هغه سړی په نوموړې زمكې كښې شريك متصور كيږي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و اذا اقر الحر العاقل البالغ بحق لزمه اقراره مجهولاً كان ما اقر به او معلوماً. (الهداية ج٣، ص٢٣١، كتاب الاقرار)

و قال العلامة سليم رستم باز اللبنانی رحمه اللّٰه: المرأ مؤاخذ باقراره. (شرح مجلة الاحكام، المادة ٧٩، المقالة الاولٰی) و مثله فی جامع الفصولين ج٢، ص٤٤، الفصل الثالث و العشرون.

په مشتركه زمكه كښې د ميوه لرونكو ونو لګول

سوال: د يوه سړي څو زامن وو په هغو كښې يوه د پلار له وفات څخه وروسته په دې زمكې باندې باغ ولګاوه او اوس د غه باغ لګوونكی د نورو ورونو حصه په دې باغ كښې نه مني نو آيا شرعاً په دې باغ كښې د نورو ورونو حصې شته او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت كښې د پلار له وفات نه وروسته په مشتركه زمكې كښې كوم زوی چه باغ جوړ كړی دی او ونې ئې پكښې لګولي دي نو دا باغ او ونې او نور شيان د ده ملكيت ګرځي كه د نورو ورونو په اجازه ئې لګولي وي او كه د هغو له اجازې نه پرته ئې لګولي وي۔ د اجازې په صورت كښې د تقسيم په وخت كښې كه د غه ميوه لرونكې ونې چېرته د بل ورور په حصه كښې راشي نو ونې لګوونكي ورور ته به د هغو قيمت وركوي او كه قيمت نه وركوي نو خپلې ونې به وباسي۔

لما قال العلامة الحصكفیؒ: (بُنی احدهما) ای احد الشريكين (بغير اذن الاخر) فی عقارٍ مشترك بينهما (فطلب شريكه رفع بنائه قسم) العقار (فان وقع البناء) فی نصيب الباقی فبها و نعمت (و الا هدم) البناء و حكم الغرس كذٰلك. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٢٦٨، كتاب القسمة)

و قال العلامة ابن عابدينؒ: و اذا بنی فی الارض المشتركة بغير اذن الشريك له ان ينقض بناؤه. (تنقيح الحامدية ج١، ص١٠٠، كتاب الشركة) و مثله فی فتاوی الكاملية ج ص١٣، كتاب الشركة.

مشترك كتابونه د شريكانو له اجازې پرته چا ته عاريتاً وركول جائز نه دي

سوال: د دين يو عالم وفات شو او له هغه څخه په تركه كښې ډېر كتابونه پاتې شو او په وارثانو كښې ئې بالغ او نابالغ زامن دواړه دي۔ په هغو كښې مشر ورور د كور د مصارفو ذمه وار دی۔ اوس كه چېرته يو سړی له ده څخه كوم كتاب د مطالعې لپاره وغواړي نو د هغه لپاره له دې مشتركې تركې څخه چا ته د كوم كتاب وركول د شريعت له مخې جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت كښې چونكه په وارثانو كښې نابالغ اولاد هم شته او تول وارثان د كتابونو په دې تركه كښې شريك دي او حال دا چه د نابالغ اولاد مال مور او پلار هم چا ته عاريتاً نه شي وركولی نو مشر ورور خوئې په طريقهٔ اولٰې سره نه شي وركولی۔

لما قال العلامة سليم رستم باز اللبنانیؒ: ليس للاب اعارة مال طفله لعدم البدَل و كذا القاضی و الوصی. (شرح مجلة الاحكام، المادة ٨٣٢، ص٤٦١، الكتاب السادس)

و قال العلامة محمد بن محمودؒ: ذكر فی النوازل ليس لوالد الصغير ان يعير متاع ولده الصغير. (احكام الصغار علی هامش جامع الفصولين ج١، ص١٧٠، فی مسائل العارية) و مثله فی الهندية ج٤، ص٣٧٢، الكتاب التاسع المتفرقات، كتاب العارية.

د مشترکې برمې (تیوب ویل) له اوبو څخه د یوه شریك منع کول جائز نه دی

سوال: څو کسانو د مشترکې برمې د وهلو لپاره څه پیسې جمع کړې وې لیکن په بدقسمتي سره کوم ځای چه دوی غوره کړي وو هغه ځای اوبه نه وکړې نو په هغوی کښې یو شریك کوم بل ځای د برمې د وهلو لپاره خوښ کړ او هغه ځای اوبه وکړې۔ اوس دا سړی نور شریکان له اوبو څخه منع کوي او دا وایي چه دا هغه ځای نه دی چه مونږ تاسو په ګډه خوښ کړی وو حالانکه مصارف ئې له مشترکو روپو څخه شوي وو نو آیا د ده دا ډول کړنه د شریعت له مخې صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته سوال په همدې ډول وي نو چه کله برمه د مشترك مال په عوض کښې وهل شوې وي نو ټول شریکان به له دې څخه د استفادې حقدار وي د ځای بدلول پرې کوم اثر نه کوي۔

لما قال العلامة سليم رستم باز اللبناني رحمه الله: لاحد اصحاب الحصص التصرّف مستقلا فی الملك المشترك باذن الآخر لكن لا يجوز لهٗ ان يتصرف تصرّفا مضراً با لشريك. (شرح مجلة الاحكام تحت المادة ۱۰۷۱، الكتاب العاشر)

و قال فی الهندية: و لا يجوز لاحدهما ان يتصرف فی نصيب الآخر الا بامره و كل واحد منهما كا لاجنبی فی نصيب صاحبه. (الفتاوی الهندية ج۲، ص۳۰۱، كتاب الشركة، الباب الاول) و مثله فی تنقيح الحامدية ج۱، ص۸۷، كتاب الشركة.

د کبانو په ښکار کښې د شرکت حکم

سوال: څو کسانو په خپل منځ کښې د کبانو د ښکار د کولو لپاره معاهده کوي۔ د معاهدې مطابق دا ضروري نه ده چه ټول شریکان دې خواري وکړي بلکه د ښکار د کولو آلات او سامانونه په مشترکو روپو اخیستل کیږي او د ملازم میاشتنی خرچه هم له مشترکو روپو څخه پرې کوي نو آیا د شرکت دا ډول معامله جائزه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د کبانو د نیولو شراکت او استیجار د شریعت له مخې ناجائزه معامله ده لهذا د نوموړي صورت معامله هم ناجائزه ده او په دې کښې کب د هغه حق دی چا چه نیولی وي۔ بیا هم که چېرته څو کسان په ګډه د کبانو ښکار وکړي او په آخر کښې ئې سره تقسیم کړي نو په دې کښې څه حرج نشته۔

لما قال العلامة الشيخ البزاز رحمه الله: اشتركا فی الاصطياد و نصبا شبكة او ارسلا كلباً لهما فا لصيد بينهما انصافاً. (فتاوی البزازية علی هامش الهندية ج۶، ص۲۲۷، كتاب الشركة)

لما قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: لا تصح شركة فی احتطاب و احتشاش و اصطياد و استقاء و سائر مباحات. (تنوير الابصار علی صدر رد المحتار ج٤، ص۳۲۵، كتاب الشركة، فصل فی الشركة الفاسدة)

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و لا يجوز الشركة فی الاحتطاب و الاصطياد و اما اصطاده كل واحد منهما او احتطبه فهو له دون صاحبه. (الهداية ج۲، ص۵۹۷، كتاب الشركة)

و مثله فی فتح القدير ج۵، ص٤۰۹، كتاب الشركة.

د مشترکه ایئر کنډیشن د پلورلو حکم

سوال: څو ملګري په ګډه یو ایئر کنډیشن اخیستی دی او ټول ملګري په ګډه په یو کور کښې اوسیږي۔ اوس په دوی کښې څو ملګري دا کور پرېږدي او غواړي چه ایئر کنډېشن خرڅ کړي نو آیا د دې ایئر کنډېشن اولنی قیمت معتبر دی او که د استعمال په وجه ئې قیمت کمیږي او حال دا چه ایئر کنډیشن د تقسیم وړ شی نه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه ایئر کنډېشن د تقسیم قابل نه دی او په مشترکه توګه اخیستل شوی دی نو ځکه به دا د ټولو شریکانو په منځ کښې مشترك وي۔ د څه وخت د تیریدو نه وروسته که چېرته څو ملګري د دې کور پرېښودل غواړي نو د مستعمل ایئر کنډیشن د قیمت په لحاظ سره به حصه ورکول کیږي۔

لما قال العلامة فخر الدين حسن بن منصور الشهير بقاضی خانؒ: و العبد الواحد و الدابة الواحدة يباع و يقسم ثمنها لانها لا تحتمل القسمة. (فتاوٰی خانية علی هامش الهندية ج۳، ص۱۵۰، كتاب القسمة)

لما قال العلامة الحصكفیؒ: و فی الجواهر لا تقسم الكتب بين الورثة و لكن ينتفع كُلٌ با لمهاياة و لا تقسم با لاوراق و لو برضاهم و كذا لو كان كتاباً ذا مجلدات كثيرة و لو تراضيان ان تقوم الكتب و يأخذ كل بعضها با لقيمة لو كان با لتراضی جاز و الا لا. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۲۶۱، كتاب القسمة)

و مثله فی شرح مجلة الاحكام تحت المادة ۱۱٤۲، ص۶۶۳، الكتاب الاشربة.

له مشترك مال څخه د حج کولو حکم

سوال: زید او عمر دوه ورونه دي او په مشترك کور کښې اوسیږي او زید چونکه مشر ورور دی نو ځکه ئې له مشترك مال څخه د حج فریضه ادا کړه۔ وروسته دواړه سره بیل شول نو اوس عمرو له زید څخه په حج باندې د مصرف شویو روپو مطالبه کوي نو آیا د عمرو دا غوښتنه صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نوموړی صورت چونکه د ملك د شرکت یو صورت دی لهذا حکم ئې دا دی چه هر یو د بل په حصه کښې په تصرف کولو کښې بیګانه دی نو ځکه زید به د عمر ضامن وي او په ذمه ئې د عمرو نیمه حصه دین شرعا لازم دی او له زید څخه د نیمې حصې مصرف د شریعت له مخې غوښتنه کولی شي۔ بیا هم که د هغه په اجازه ئې حج کړی وي نو د تبرع په صورت کښې دوباره د غوښتنې حق نه لري۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: ان كل واحد من الشريكين شركة ملكٍ ممنوع من التصرف فى نصيب صاحبه كغير الشريك من الاجانب الا باذنه لعمد تضمنها الوكالة. (تنقيح الحامدية ج۱، ص۸۸، كتاب الشركة)

لما قال العلامة سليم رستم بازؒ: لاحد اصحاب الحصص التصرّف مستقلاً فى الملك المشترك باذن الآخر لٰكن لا يجوز لهٗ ان يتصرف تصرّفا مضراً با لشريك. (شرح مجلة الاحكام تحت المادة ۱۰۷۱، ص ۶۰۰، الكتاب العاشر) و مثله فى الهداية ج۲، ص۵۹۹، كتاب الشركة.

په مشترکه زمکه کښې د چینې له اوبو څخه د شریك منع کول جائز نه دي

سوال: د زید او عمرو په منځ کښې یوه تکړه زمکه شریکه وه چه څه آباده او څه غیر آباده وه۔ تر څه وخته پورې دواړو له دغې زمکې څخه فائده اخیستله او په دې زمکې باندې د اوبو یوه چینه هم موجوده وه۔ اوس زید عمرو لره د دغې چینې له اوبو څخه منع کوي۔ نو ایا زید عمرو لره د چینې له اوبو څخه شرعا د بندولو حق لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دغه زِمکه په حقیقت کښې هم شریکه وي نو د زید لپاره عمرو د چینې له اوبو او نورو شیانو څخه بندول او منع کول جائز نه دي ځکه چه په دې چینه کښې لکه څرنګه چه د زید حق شته همدا رنګه عمرو هم حق لري۔ له دې وجهې د زید عمرو سره دا رویه د شریعت له مخې صحیح نه ده۔

لما ورد فى الحديث: المسلمون شركاء فى ثلث فى المآء و الكلاء و النار. (سنن ابى داؤد ج۲، ص۱۳۶، كتاب البيوع، باب فى منع الماء)

قال العلامة سليم رستم بازؒ: الماء و الكلاء و النار مباحة و الناس فى هٰذه الاشياء الثلاثة شركاء. (شرح مجلة الاحكام المادة ۱۲۳۴، ص۲۷۹، الكتاب العاشر) و مثله فى الهداية ج۴، ص۴۸۵، كتاب الشركة.

له مشترکو مالونو څخه د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: دوه کسان په شریکه کاروبار کوي۔ د دغو مشترکو مالونو د زکات ورکولو څه طریقه ده؟ همدا رنګه که چېرته یو شریك له هغو مالونو څخه چه په هغو کښې زکات واجب وي زکات ادا نه کړي نو هغه بل ملګری د خپل شریك د زکات د نه ورکولو په صورت کښې به ګنهګار وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه دوه کسان په شریکه کاروبار کوي نو هر یو د خپلې حصې د زکات ورکولو ذمه وار دی او یو په بل باندې نه عائد کیږي او نه یو شریك د بل شریك له اجازې پرته د زکات د ورکولو حق لري او د ورکولو صورت کښې به ضامن وي۔ له دې وجهې که یو شریك زکات ادا کوي هم نه نو په کاروبار کښې ئې په شریکولو سره شرعا څه حرج نشته۔ بیا هم که چېرته د زکات نه ورکوونکي په وجه محفل، مجلس او پخپل منځ کښې په اشتراك سره د هغه اعمال او اخلاق متاثر کیږي نو په داسې حال کښې له داسې سړي سره په ګډه له کاروبار

کولو څخه اجتناب بهتر دی۔

لما قال العلامة ابن نجيمؒ: (و لم يزك مال الآخر الا باذنه) اى احدهما لانه ليس من جنس التجارة فلا يكون وكيلاً عنه فى ادائها الا ان يأذن له. (البحر الرائق ج۵، ص۱۸۷، كتاب الشركة)

قال العلامة فخر الدين الزيلعىؒ: (و لم يزك مال الآخر) لا يزكى كل واحد منهما نصيب صاحبه لانه لم يأذن لهٗ فيها لان الاذن بينهما وقع فى التجارة و الزكٰوة ليست منها. (تبيين الحقائق ج۳، ص۳۲۳، كتاب الشركة، فصل فى الشركة الفاسدة) و مثله فى الهندية ج۲، ص۳۳۶، كتاب الشركة، الباب السادس فى المتفرقات.

له مشترکو مالونو څخه د میلمه پالنې (مهمان نوازی) حکم

سوال: یو سړی مړ شو د هغه دوه زامن پاتې شول چه یو ئې بالغ او بل ئې نا بالغ دی۔ نو آیا بالغ زوی ئې له مشترکې ترکې څخه میلمه پالنه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: له مشترکو مالونو څخه میلمه پالنه صحیح نه ده البته که چېرته بل ورور ئې بالغ وي نو د هغه په اجازه مهمان نوازي او نور تبرعات کولی شي او د شریعت له مخې څه حرج پکښې نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: ان كل واحد من الشريكين شركة ملكٍ ممنوع من التصرف فى نصيب صاحبه كغير الشريك من الاجانب الا باذنه لعدم تضمنها الوكالة. (تنقيح الحامدية ج۱، ص۸۸، كتاب الشركة)

قال العلامة سليم رستم بازؒ: لاحد اصحاب الحصص التصرّف مستقلاً فى المِلك المشترك باذن الآخر لٰكن لا يجوز لهٗ ان يتصرّف تصرّفا مضراً با لشريك. (شرح مجلة الاحكام تحت المادة ۱۰۷۱، ص ۶۰۰، الكتاب العاشر) و مثله فى الهداية ج۲، ص۵۹۹، كتاب الشركة.

شریك د شرکت د ختمولو اختیار لـــري

سوال: څو کسانو په ګډه سره یو کاروبار شروع کړ نو ناڅاپه یوه شریك له شرکت څخه انکار وکړ چه زه له تاسو سره په شریکه کاروبار نه شم کولی نو آیا د نورو شریکانو له مشورې پرته د یوه شریك لپاره د شرکت د فسخ کولو شرعا حق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریکانو کښې هر یوه شریك ته هر وخت دا اختیار حاصل دی چه د نورو شریکانو د اجازې او مشورې نه بغیر چه کله وغواړي خپل شرکت ختمولی شي او په دې صورت کښې دې د مشترکه شیانو قیمت معلوم کړي۔ اصل زر د حصې په اندازې سره او منافع په قدر د شرحې سره تقسیم کړي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: اشتركا و اشتريا امتعة ثم قال احدهما لا اعمل معك با لشركة و غاب فباع الحاضر الامتعة فا لحاصل للبائع و عليه قيمة المتاع لان قوله لا اعمل معك فسخ للشركة معه واحدهما يملك فسخها و ان كان المال عروضاً بخلاف المضاربة و هو المختار. (رد المحتار ج۴، ص۳۲۷، كتاب الشركة)

لما قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه اللّٰه: و صورته اشتركا و اشتريا امتعة ثم قال احدهما لا اعمل معك با

لشرکة......... لان قوله لا اعمل معك فسخ للشرکة معهٗ احدهما یملك فسخها. (البحر الرائق ج۵، ص۱۸۵، کتاب الشرکة) و مثله فی الهندیة ج۲، ص۳۳۵، کتاب الشرکة.

د پلار او زوی د مشترکې ګټې حکم

سوال: یوه سړي له خپل زوی سره په ګډه کاروبار شروع کړ او ډېرې روپۍ ئې پکښې وګټلې۔ اوس پوښتنه دا ده چه دا روپۍ به د زوی او پلار تر منځ مساوي تقسیمېږي او که یوائې د پلار ملکیت ګڼل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې پلار او زوی په مشترك کاروبار کښې چه څومره روپۍ ګټلي وي هغه به د پلار ملکیت ګڼل کیږي ځکه چه زوی د پلار معین او مددګار بلل کیږي۔ له دې وجهې پلار پخپل ژوند کښې په دې کښې چه وغواړي هر قسم تصرف کولی شي۔ بیا هم که چېرته رأس المال د دواړو سره مشترك وي او معاهده هم همداسې شوې وي نو منافع به هم د دواړو تر منځ مساوي تقسیمېږي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: الابَ و الابن یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهما شیء فا لکسب کله للاب ان کان الابن فی عیاله لکونه معینا له الا تری انه لو غرس شجرة تکون للابَ. (رد المحتار ج۴، ص۲۲۵، کتاب الشرکة، فصل فی شرکة الفاسدة)

و قال فی الهندیة: ابّ و ابن یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهما مال فا لکسب کله للابّ اذا کان الابن فی عیال الابّ لکونه معیناً له. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۳۲۹، الباب التاسع فی شرکة الوجوه) و مثله فی فتاوی الکاملیة ج۱، ص۵۱، کتاب الشرکة.

په مشترکه زمکه کښې د شریك د اجازې نه بغیر باغ لګول

سوال: یوه ټکړه زمکه د دوو کسانو تر منځ مشترکه ده چه یوه شریك د بل شریك له اجازې پرته د مالټې بوټي پکښې لګولي دي۔ څو کاله وروسته چه کله دا ونې ورسیدلې نو دوهم شریك ورته وویل چه دا ونې چونکه په مشترکه زمکه کښې لګول شوي دي نو ځکه په دغو ونو کښې زما هم مکمله حصه شته لیکن اول شریك انکار کوي۔ آیا د ده انکار د شریعت له مخې صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا زمکه به د دواړو شریکانو تر منځ تقسیمېږي۔ که چېرته د دغه حصه د ونې کرونکي په حصه کښې راغله نو ونې به همداسې برقرارې پاتې کیږي او که چېرته د دوهم شریك په حصه کښې دا ونې راغلې نو کرونکی به خپلې ونې وباسي او که چېرته زمکې ته د نقصان د رسیدو خطره وي نو ونې به نه باسي او دوهم شریك به اول شریك ته د ونې قیمت ورکوي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: بنی احدهما ای احد الشریکین بغیر اذن الآخر فی عقار مشترك بینهما فطلب

شریکه رفع بنائه قسم العقار فان وقع البناء فی نصیب البنانی فبها و نعمت و الا هدم البناء و حکم الغرس. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۲۶۸، کتاب القسمة

و قال الشیخ محمد الکامل الطرابلسیؒ: ان الارض تقسم بینهما فما وقع من البناء فی نصیب غیر البانی یرفع......... و افتٰی شیخ آفندی فی غرس الاشجار من احد الشریکین فی الارض المشترکة بمثل ذٰلك. (فتاوی کاملیة ج۱، ص۵۳، کتاب الشرکة)

و مثله فی سنن ابی داوٗد ج۲، ص۱۲۷، باب فی زرع ارض قوم بغیر اذن صاحبها.

په شریکه د غوا د ساتلو حکم

سوال: یوه سړي یوه غوا واخیستله او بل سړي ته ئې په دې شرط باندې د ساتلو لپاره ورکړله چه شیدې به ئې تولې ستا وي او چه کوم بچی ترې پیدا کیږي هغه به زما وي۔ آیا دا ډول شرط لګول او د اسې معامله شرعا صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په ذکر شوي صورت کښې د غوا شیدې او بچی ئې تول د مالك دي او ساتونکي ته به اجر مثل ورکول کیږي ځکه چه دا اجاره فاسده ده او په فاسدې اجارې کښې به کار کوونکي ته اجر مثل ورکول کیږي۔

لما قال الشیخ محمد کامل الطرابلسی رحمه اللّٰه: لا یصح ذٰلك و ما حدث فهو لصاحب البقرة و للآخر مثل علفه و اجر مثله کما فی الردّ. (فتاوی کاملیة ص۵۵، کتاب الشرکة)

و قال فی الهندیة: و علی هٰذا اذا دفع البقرة الی انسان بالعلف لیکون الحادث بینهما نصفین فما حدث فهو لصاحب البقرة و لذٰلك الرجل مثل العلف الذی علفها و اجر مثله فیما قام علیها. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۳۳۵، الباب الخامس فی الشرکة الفاسدة)

و مثله فی حاشیة منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ج۵، ص۱۸۴، کتاب الشرکة.

په مشترکه زمکه باندې د نورو شریکانو له اجازې پرته کور جوړول

سوال: یوه ټکړه خرابه زمکه د څو کسانو شریکه ده په هغو کښې یوه شریك د نورو شریکانو له اجازې پرته او د تقسیم نه مخکښې په هغې باندې کور جوړ کړ۔ آیا د دغه سړي لپاره د شریکانو له اجازې پرته د کور جوړول شرعا صحیح دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په مشترکه زمکه کښې د یوه شریك تصرف کول د نورو شریکانو تر اجازې پورې موقوفه ده او په نوموړي صوزت کښې د اسړی چونکه د شریکانو له اجازې پرته او له تقسیم نه مخکښې کور جوړ کړی دی نو ځکه ئې دا اقدام د شریعت له مخې صحیح نه دی۔

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: اذا بنٰی احد الشرکاء لنفسه فی المِلك المشترك القابل للقسمة بدون اذن الاخرین ثم طلب الآخرون القسمة تقسم فان خرج ذٰلك البناء فی نصیب بانیه فیها و ان خرج فی نصیب الآخر فله ان یکلف بانیه هدمهٗ و رفعهٗ. (شرح مجلة الاحکام، المادة ۱۱۷۳، ص۶۴۷)

و قال الشيخ محمد كامل الطرابلسیؒ: و اذا بُنی فی الارض المشتركة بغير اذن الشريك لهٗ ان ينقض بناؤه. (فتاوی كاملية ج١، ص٥١، كتاب الشركة)

و مثله فی تنقيح الحامدية ج١، ص٨٨، كتاب الشركة.

د مزدور مزدوري د هغه خاص ملك وي

سوال: يوه مشتركه زمكه چه د چا خاص ملكيت نه وي د كليوالو څخه يو سړی غواړي چه په دې مشتركه زمكه كښې پخپله راشنه شوي وابنه په رهن باندې چا ته وركړي او يائې وپلوري نو آيا دې سړي دا اقدام د شريعت له مخې جائز دی او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: پخپله شنه شوي وابنه كه په مملوكه زمكه كښې وي او كه غير مملوكه زمكه كښې وي په هر حال كښې د چا ملك نه شي ګرځيدلی له دې وجهې د پورته ذكر شوي سړي دا اقدام شرعاً صحيح نه دی۔

لما ورد فی الحديث: المسلمون شركاء فی ثلثٍ فی الماء و الكلاء و النار. (سنن ابی داؤد ج٢، ص١٣٦، كتاب البيوع، باب فی منع الماء)

و قال العلامة سليم رستم باز اللبنانی رحمه اللّٰه: الماء و الكلاء و النار مباحة و الناس فی هٰذه الاشياء الثلاثة شركاء. (شرح مجلة الاحكام، المادة ١٢٣٤، ص٦٧٩، الكتاب العاشر)

و مثله فی الهداية ج٤، ص٤٨٥، كتاب احياء الموات.

په ګټلو او مصرف كولو كښې د شريكو ورونو د ګټې حكم

سوال: دوه ورونه په ګټه او د كور په ټولو مصارفو كښې سره شريك وو۔ په دوی كښې يو ورور انګلينډ ته لاړ او هلته ئې په كافي اندازې سره مال جمع كړو او چه واپس راغی نو ئې يو كور واخيست او دا بل ورور د ده په عدم موجود والي كښې محنت او مزدوري كوله چه پخپله ئې هم په ځان مصرف كاوه او د ده په اهل او عيال باندې ئې هم مصرف كاوه۔ ليكن كوم ورور ئې چه كور اخيستی دی هغه اوس په دې كور كښې د خپل بل ورور حصه نه مني نو ايا شرعاً دوی دواړه په دې كور كښې مساوي سره شريك دي او كه كور يواځې د هغه ورور دی كوم يوه چه اخيستی دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت كښې چه كوم شراكت دی هغه فاسد دی لهذا كه چېرته د دواړو ورونو اموال پخپل منځ كښې سره غير متميز وي يعنې پخپل منځ كښې ئې سره فرق نه وي نو هر شی به په مساوي اندازې سره تقسيميږي او كه چېرته د دواړو مالونه سره متميز وي نو هر يو ورور به د خپلې حصې حقدار وي او د دې ورور په كور كښې خپل بل ورور ته حصه وركول څه شرعي امر نه دی بلكه يواځې يو رواجي امر دی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: يؤخذ من هٰذا ما افتٰی به فی الخيرية فی زوج امرأة و ابنها اجتمعا فی دار واحدة و

اخذ كل منها يكتسب علی حدة و يجمعان معاً كسبهما و لا يعلم التفاوت و لا التساوی و لا التميز فاجاب بانهٗ بينهما سوية. (رد المحتار ج٤، ص٣٢٥، كتاب الشركة، فصل فی شركة الفاسدة)

و قال الشيخ محمد كامل الطرابلسیؒ: فاذا كان سعيهم واحد او لم يتميز ما حصله كل واحدٍ منهم بعمله يكون ما جمعوه مشتركاً بينهم با لسوية و ان اختلفوا فی العمل و الرأی كثرة و صواباً كما افتٰی به فی الخيرية و ما اشتراه احدهم لنفسه يكون لهٗ و يضمن حصة شركائه من ثمنه اذ دفعه من المال المشترك. (فتاوی كاملية ج١، ص٥٠، كتاب الشركة) و مثله فی تنقيح الحامدية ج١، ص٩٦، كتاب الشركة.

له مشتركې ويالې څخه د انتفاع حكم

سوال: يوه وياله د دوو كسانو ترمنځ مشتركه ده او يو شريك خپل بل شريك ترې نه منع كوي او ورته وايي چه ته له دې ويالې څخه نفع نه شې اخيستلی او زه ستا حق په دې كښې نه منم۔ اوس سوال دا دی چه آيا دغه شريك د خپل بل شريك له اجازې پرته د دغې ويالې څخه نفع اخيستلی شي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چېرته د ذكر شوې ويالې مشترك والی ښكاره او مسلم وي نو په دواړو شريكانو كښې هر يو په خپلو خپلو حصو كښې د مستقل تصرف كولو مالكان دي او په مِلك مشترك كښې د بل ملګري په اجازه د تصرف حق لري۔

قال العلامة سليم رستم بازؒ: لاحد اصحاب الحصص التصرّف مستقلا فی الملك المشترك باذن الآخر لكن لا يجوز لهٗ ان يتصرف تصرفاً مضراً با لشريك. (شرح مجلة الاحكام، المادة ١٠٧١، ص٦٠٠، الكتاب العاشر)

و قال العلامة ابن عابدينؒ: ان كل واحد من الشريكين شركة ملكٍ ممنوع من التصرّف فی نصيب صاحبه كغير الشريك من الاجانب الا باذنه لعدم تضمنها الوكالة. (تنقيح الحامدية ج١، ص٨٨، كتاب الشركة)

و مثله فی الهداية ج٢، ص٥٩٩، كتاب الشركة.

مزدور چــــــه څه ګټي هغه ئې خپل خاص ملكيت وي

سوال: د يوه سړي پنځه زامن دي چه په هغو كښې يو خارج ملك ته لاړ او هلته د څو كلونو د مزدورۍ نه وروسته بيا خپل وطن ته واپس راغی او د څه وخت له تيريدو نه وروسته د خپلو ورونو او والدينو څخه بيل شو او په دې موقع كښې ده دا وويل چه كومې روپۍ ما ګټلي دي هغه ټولې يواځې زما دي او حال دا چه ورونه ئې وايي چه ستا په ګټلو شويو روپو كښې زمونږ هم حصه شته نو آيا د نورو ورونو دا خبره شرعاً صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شريعت كښې د يوه مزدور په مزدورۍ باندې ګټلې شوې روپۍ د هغه مِلك خاص وي او د هغه په دغو ګټلو شويو روپو كښې هيڅ هم شريك نه وي ځكه چه په مزدورۍ باندې ګټلې شوې روپۍ د هغه ګټونكي خاص مِلك وي البته كه په هغه باندې له مشترك مال څخه څه شی لګيدلی وي هغه به واپس ترې اخيستل كيږي۔

لما قال الشیخ محمد کامل الطرابلسیؒ: و ان اختلفوا فی العمل و الرأی کثرة و صواباً کما افتی به فی الخیریة و ما اشتراه احدهم لنفسه یکون لهٗ و یضمن حصة شرکائه من ثمنه اذ دفعه من المال المشترك. (فتاوی کاملیة ج۱، ص ۵۰، کتاب الشرکة)

لما قال العلامة سلیم رستم بازؒ: و ما اشتراه احدهم لنفسه یکون لهٗ و یضمن شرکائه من ثمنهٖ اذا دفعه من المال المشترك و کل ما استدانه احدهم یطالب بهٖ وحده. (شرح مجلة الاحکام المادة ۱۳۶۱، ص ۷۲۵، الکتاب العاشر) و مثله فی تنقیح الحامدیة ج۱، ص ۹۶، کتاب الشرکة.

د پلار او زامنو په مشترك تجارت کښې د زامنو برخه

سوال: جناب مفتي صاحب! زما د رختو دوکان دی چه د هغه ټوله سرمایه زما خپله ده۔ دوکان مو چه شروع کړ په هغه وخت کښې زمونږ سرمایه پنځوس زره روپۍ وې او اوس د دوکان سرمایه لسو لکو ته رسیږي۔ د دې کار په ترقۍ کښې زما دوه زامن هم له ما سره یو ځای وو او دواړه زامن مې تر اوسه پورې راسره ګډ دي۔ اوس په دوی کښې یو ئې غواړي چه جلا شي او زما څخه د حصې غوښتنه کوي ستاسو له جناب څخه د شریعت مطهره په رڼا کښې د دې مسئلې حل کول مطلوب دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق د ده زامن د ده سره په کاروبار کښې معاونین وو نه چه شریك ځکه په دغو کښې یوه زوی ته هم د حصه داری د دعوٰی شرعا هیڅ حق نشته او که چېرته ته پخپله خپل زوی ته هیڅ شی هم ور نه کړې نو شرعا په تا باندې هیڅ ګناه نشته۔ او بهتره دا ده چه دغه زوی ته د احسان له وجهې څه نا څه ورکړې۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: ابٌ و ابن یکتسبان فی صنعة واحدة و لم یکن لهما شیء ثم اجتمع لهما مال یکون کله للاب اذا کان الابن فی عیاله و اجاب خیر الرملیؒ عن سوال آخر بقوله حیث کان من جملة عیاله و المعینین لهٗ فی اموره و احواله فجمیع ما حصله یکره و تعبه فهو مِلك خاص لابیه لا شیء لهٗ فیه حیث لم یکن لهٗ مالٌ لو اجتمع لهٗ با لکسب جملة اموال لانه فی ذٰلك لابیه معین. (فتاوی حامدیة ج۲، ص۱۸، کتاب الشرکة)

قال العلامه ظفر احمد العثمانيؒ: الجواب: زید چه کوم خپل اولاد له ځان سره په کاروبار کښې شریك کړی دی نو د هغه صورت څه وو؟ آیا زید هر یو زوی ته څه پیسې یا سرمایه د هبې په توګه ورکړې وه او بیا ئې هغه پیسې په کاروبار کښې لګولې وې او په تجارت کښې ئې شریك کړي وو او که چېرته پلار څه پیسې دوی ته د هبې په توګه نه وې ورکړې او نه ئې خپله سرمایه وه او نه د زامنو سره خپلې ذاتي پیسې او نور مال وو چه هغه ئې سره یو ځای کړي وای او په کاروبار کښې شریك شوي وای بلکه زامن له پیسو ورکولو پرته له پلار سره کار کاوه او د دې شرکت په وجه ئې کاروبار ترقي کړې وه۔ په اولني صورت کښې خو البته شرکت دی او هر یو به د خپلې سرمایې مطابق په دې وخت کښې په اصل او نفع کښې مستحق وي او په دوهم صورت کښې شرکت نه دی بلکه ټوله سرمایه د زید مِلك دی او ټول زامن ئې معینان ګڼل کیږي۔

په دې صورت کښې ټوله سرمایه د پلار ده له ده څخه د زیاتی د رجوع کولو حق هیچا ته هم حاصل نه دی۔ همدارنګه اولاد د خپل ځان د بیلولو لپاره زید ته په دې صورت کښې دا ضروري نه ده چه دغه سرمایه په هغو باندې تقسیم کړي بلکه خپل بالغ اولاد بې له کومې سرمایې ورکولو څخه هم بیلولی شي او که چېرته هغوی ته څه ورکړي او بیل ئې کړي نو دا به ښه وي۔ او په دې صورت کښې ټولو ته برابره سرمایه ورکړی او نابالغ اولاد له خپل ځان سره وساتی۔ له بلوغ څخه مخکښې هغوی نه شې بیلولی۔ (امداد الاحکام ج۳، ص۳۱۶، کتاب الشرکه)

كتاب المضاربة

کتاب المضاربة

(د مضاربت احکام او مسائل)

د مضاربت حقیقت

سوال: جناب مفتي صاحب! د مضاربت حقیقت څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: مضاربت د رب المال او مضارب ترمنځ د اشتراك هغه فائده منده معامله ده چه په هغه کښې رب المال ته د هغه د مال په وجه سره او مضارب ته د محنت په وجه سره حصه ورکول کیږي۔ په داسې حالت کښې د دواړو لپاره د دغې معاهدې پابندي ضروري ده کومه چه د شرعي قواعدو او ضوابطو په رڼا کښې د هغوی ترمنځ فیصله شوې وي۔

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: هی شرکة بمال من جانب و المضارب امین و با لتصرف وکیل و با لربح شریك و با لفساد اجیر و با لخلاف غاصب و باشتراط کل الربح له مستقرض و باشتراطه لرب المال مستبضع و انما تصح بما تصح به الشرکة. (کنز الدقائق ص۳۳۹، کتاب المضاربة)

قال العلامة القدوری رحمه اللّٰه: المضاربة عقد یقع علی الشرکة فی الربح بمال من احد الشریکین و عمل من الآخر و لا تصح المضاربة الا با لمال الذی بیّنا ان الشرکة تصح به. (مختصر القدوری، کتاب المضاربة) و مثله فی الهدایة (ج۳، ص۲۵۶، کتاب المضاربة)

په مضاربت کښې د منافعو د تعین حکم

سوال: عمرو بکر ته د تجارت لپاره لس زره روپۍ ورکړې او بکر باندې ئې دا شرط ولګولو چه ته به ما ته د کال زر روپۍ راکوې نوره ګټه چه څومره وي هغه به تولــه ستا وي۔ آیا داسې عقد شرعا جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مضارب یا رب المال په یو خاص مقدار مال کښې د ځان لپاره منافع مقررول که د میاشتې وي او که د کال د عقد فاسدوونکی دی نو ځکه په دې صورت کښې مضاربت فاسدیږي۔

قال العلامة ابو بکر الکاسانیؒ: و منها ان یکون المشروط لکلّ واحدٍ منهما من المضارب و رب المال من الربح جزأ شائعا نصفاً او ثلثاً او ربعاً فان شرطا عدداً مقدراً بان شرطا ان یکون لاحدهما مائة درهم من الربح او اقل او اکثر و الباقی للآخر لا یجوز و المضاربة فاسدة. (بدائع الصنائع ج۶، ص۸۵، فصل و اما شرائط الرکن فبعضها یرجع الخ)

و فی الهندیة: و منها ان یکون نصیب المضارب من الربح معلوماً علی وجه لا تنقطع به الشرکة فی الربح کذا فی المحیط. فان قال علی ان لك من الربح مائة درهم او شرط مع النصف او الثلث عشرة دراهم لا تصح المضاربة کذا فی محیط السرخسی. (الفتاوی الهندیة ج۴، ص۲۸۷، کتاب المضاربة، الباب الاول فی تفسیرها و رکنها و شرائطها) و مثله فی البحر الرائق ج۷، ص۲۶۴، کتاب المضاربة.

د مضاربت په عقد کښې ضروري دا ده چه رأس المال به نقد وي

سوال: زید په عمر باندې د شلو زرو روپو مال وپلوره او د هغه قیمت ئې وصول نه کړ بلکه د قرض په توګه ئې ورته پریښود۔ وروسته بیا د دواړو ترمنځ داسې عقد وشو چه زید عمر ته وویل چه په هغو شلو زرو روپو باندې کومې چه په تا باندې پور دي تجارت وکړه او د منافع په صورت کښې اول به عمرو زید ته دوه زره روپۍ ورکوي او د باقي رأس المال څخه چه څومره ګټه راووځي هغه به د دواړو ترمنځ تقسیمیږي آیا د مضاربت دا صورت شرعا صحیح دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دا مضاربت شرعا صحیح نه دی ځکه چه د مضاربت په عقد کښې د مال نقدوالی ضروري دی۔ البته داسې عقد کول چه د رب المال په چا باندې پور وي او مضارب ته اجازه ورکړي چه ته هغه پور وصول کړه او په هغه باندې تجارت وکړه نو دا صورت صحیح دی۔

قال العلامة الحصکفیؒ: و اما المضاربة بدَین فان علی المضارب لم یجز و ان علی ثالث جاز و کره. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۶۴۷، کتاب المضاربة)

و فی الهندیة: (و منها) ان یکون رأس المال عیناً لا دیناً فا لمضاربة با لدیون لا تجوز حتٰی ان من کان لهٗ علی آخر الف درهم فامره صاحب الدّین ان یعمل بها مضاربة لا تجوز المضاربة کذا فی النهایة. (الفتاوی الهندیة ج۴، ص۲۸۶، کتاب المضاربة، الباب الاوّل فی تفسیرها و رکنها و شرائطها)

و مثله فی الهدایة ج۳، ص۲۵۸، کتاب الصلٰوة.

د مضارب د نفقې حکم

سوال: د تجارت په ترخ کښې د مضارب د خوراك، څښاك او اغوستن مصرف به د چا په ذمه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مضارب که چیرته تجارت پخپل ښار کښې کاوه نو د هغه د خوراك او نورو شیانو مصرف د مضاربت له مال څخه جائز نه دی هو که چیرته ئې د خپل ښار نه د باندې تجارت کاوه نو د خوراك او څښاك مصرف او دژوند د نورو ضروریاتو د مضاربت له مال څخه د پوره کولو اجازه شته۔

قال العلامة ابو بکر الکاسانیؒ: و اما تفسیر النفقة التی فی مال المضاربة فا لکسوة و الطعام و الادام و الشراب و اجر الاجیر و فراش ینام علیه و علف دابته التی یرکبها فی سفره و یتصرف فی حوائجه و غسل ثیابه و دهن السراج و الحطب و نحو ذٰلك و لا خلاف بین اصحابنا فی هٰذه الجملة لان المضارب لا بد له منها فکان الاذن ثابتاً من رب المال دلالة. (بدائع الصنائع ج۶، ص۱۰۶، فصل و اما بیان حکم المضاربة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و فی الاصل المضارب ما دام یعمل فی المصر فنفقته فی ماله و ان کان المصر کبیر او هو قائم فی جانب آخر للتجارة. (خلاصة الفتاوی ج۴، ص۱۸۹، الفصل الثالث فی نفقة المضارب و مؤنة) و مثله فی شرح مجلة الاحکام لرستم باز مادة ۷۵۳، الفصل الثالث فی احکام المضاربة.

په مضاربت کښې د نقصان د ذمه وارۍ مسئله

سوال: د مضارب د خوارۍ او محنت سره سره که چېرته معامله او کاروبار ګټه و نه کړه او مضارب ورغ په ورغ د ناکامۍ سره مخامخ کیده او نقصان ئې کاوه چه په نتیجه کښې ئې له رأس المال څخه هم لاس پرې مینځه۔ په د اسې صورت کښې به د نقصان ذمه واري د چا په غاړه وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: مضاربت د رب المال او مضارب ترمنځ د اشتراك عمل نتیجه وي چه په هغه کښې د رب المال سره د مضارب محنت او خواري شامله وي او د نقصان په صورت کښې د دواړو متاثر کیدل ظاهر او واضح دي۔ که چېرته په رب المال باندې مالي نقصان راځي نو د مضارب هم د شپې او ورځې خواري او محنت ضائع کیږي۔ د مالي نقصان بار په مضارب باندې اچول بې انصافي ده۔ له دې وجهې په مضارب باندې د مالي نقصان د ذمه وارۍ شرط لګول مفسد دی۔ کوم نقصان چه شوی وي هغه به اول له منافعو څخه باسي او که د منافعو څخه نقصان ډېر وي نو بیا به ئې د رأس المال څخه باسي

قال العلامة الحصكفيؒ: و فی الجلالة كل شرط يوجب جهالة فی الربح او يقطع الشركة فيه يفسدها و الا بطل الشرط كشرط الخسران على المضارب. (الدر المختار مع رد المحتار ج٥، ص٦٤٨، كتاب المضاربة)

قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله: الضرر و الخسار يعود فی كل حال على رب المال و اذا شرط كونه مشتركا بينه و بين المضارب فلا يعتبر ذٰلك الشرط. (شرح مجلة الاحكام مادة ١٤٢٨، ص٧٥٧، الفصل الثالث فی بيان احكام المضاربة) و مثله فی الهداية ج٣، ص٢٥٨، كتاب المضاربة.

په مضاربت کښې دواړه خواوې کله د منافعو حقدار جوړیږي؟

سوال: د رب المال او مضارب ترمنځ معاهده وشوه چه مضارب به د نورو ښارونو څخه مال راوړي او هغه به پلوري او منافع به ئې په نیمایي وي۔ اوس رب المال مضارب ته د مال د پلورلو نه مخکښې وویل چه د دې ځای د قیمت په حساب سره په راوړل شوي مال کښې شل زره روپۍ ګټه کیږي لهذا ته به ما ته لس زره روپۍ راکړې۔ نو آیا د رب المال د اسې معامله او غوښتنه شرعاً صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: تر څو پورې چه د ګټې ظهور نه وي شوی رب المال ته د اسې غوښتنه شرعاً جائزه نه ده۔ ځکه چه منافع د مال له پلورلو څخه وروسته وي او که چېرته د دواړو خواوو ترمنځ د اسې معاهده شوې وي نو دا مضاربت فاسده ده په کار دی چه زر تر زره ئې ختم کړي۔

قال العلامة ابن نجيمؒ: و اشار المصنف الى ان للمضارب ان ينفق على نفسه من مال المضاربة فی السفر قبل الربح و الى انهٗ لو لم يظهر الربح لا شىء على المضارب. (البحر الرائق ج٧، ص٢٧٠، كتاب المضاربة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: فاذا ظهر الربح فهو شريكه بحصته من الربح. (خلاصة الفتاوٰى ج٤، ص١٨٨، كتاب المضاربة، الفصل الاول فی المقدمة)

و مثله فی رد المحتار ج٥، ص٦٥٨، كتاب المضاربة.

حکومتي جرمانه په رب المال ده او که په مضارب؟

سوال: زید عمرو ته لس زره روپۍ د افیونو د تجارت لپاره ورکړې۔ عمرو افیون واخیست او په ډېر احتیاط سره راتللو چه په لاره کښې پولیس ونیوه مال ئې هم ورنه ضبط کړ او درې زره روپۍ جرمانه ئې ورنه یوړې۔ اوس پوښتنه دا ده چه آیا د غه درې زره روپۍ د رب المال په ذمه دي او که د مضارب په ذمه دي په د اسې حال کښې چه افیونو تجارت د حکومت له خوا څخه سخت جرم دی۔؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د جرم نقصان که چېرته مالك پخپله غاړه اخیستې وي نو په مالك باندې ضمان لازم دی او که نه وي نو په مضارب باندې راځي۔ د بحر الرائق ج٢، ص٢٧٠ کښې دي چه "و لا رجوع له فيما انفقه فی الخصومة لتقاضى الدين" نو کله چه د پور د مقدمې او دعوٰی خرچه په مالك باندې نه راځي نو د جرم ضمان به څرنګه په مالك باندې راځي۔

و فی الهندية: الاصل ان ما يفعله المضارب ثلاثة انواع نوع يملكه بمطلق المضاربة و هو ما يكون من باب المضاربة و توابعها و من جملته التوكيل با لبيع و الشراء للحاجة و الرهن و الارتهان و الاجارة و الاستجاب و الايداع و الايضاع و المساخرة و نوع لا يملكه بمطلق العقد و يملكه اذا قيل له اعمل برأيك و هو ما يحتمل ان يلحق به فيلحق به عند وجود الدلالة و ذٰلك مثل دفع المال مضاربة او شركة الى غيره و خلط مال المضاربة بماله او بمال غيره و نوع لا يملكه لا بمطلق العقد و لا بقوله اعمل برأيك الا ان ينص عليه رب المال و هو الاستدانة. (الفتاوى الهندية ج٤، ص٢٩١، الباب الرابع فيما يملك المضارب من التصرفات و لا يملك)

قال العلامة برهان الدين المرغينانی رحمه الله: و الاصل ان ما يفعله المضارب ثلٰثة انواع نوع يملكه بمطلق المضاربة و هو ما يكون من باب المضاربة و توابعها الخ (الى ان قال) و نوع لا يملكه لا بمطلق العقد و لا بقوله اعمل برأيك الا ان ينصّ عليه رب المال. (الهداية ج٣، ص٢٦٥، فصل فيما يفعله المضارب)

و مثله فی خلاصة الفتاوٰى ج٤، ص١٨٩، الفصل الثانی فيما يملك المضارب.

د دوکان مصارف په مضارب باندې ور اړول

سوال: د رب المال او مضارب ترمنځ د اسې معاهده چه په نفع او نقصان کښې به یو تر بله شریك یو یعنې یوه برخه به په رب المال وي او دوه برخې به ئې په مضارب باندې وي او له دې نه پرته د دوکان مصارف به هم په مضارب په ذمه وي۔ آیا د اسې معاهده شرعاً جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د دوکان مصارف له رأس المال څخه ادا کول جائز دي۔ البته مضارب په تاوان کښې شریکول ناجائز دي او په مضارب باندې د تاوان شرط لګول هم باطل دي۔ د نقصان په صورت کښې که چېرته په مضارب کښې څه قصور نه وي نو له منافعو څخه به اخیستل کیږي او که چېرته منافع دومره نه وي چه نقصان پرې پوره شي نو بیا به له رأس المال څخه ادا کیږي۔

قال العلامة سليم رستم بازؒ: و اذا تلف بعض مال المضاربة يحسب فی اول الامر من الربح و لا يسرى الى رأس

المال و اذا تجاوز مقدار الربح و سرى الى رأس المال فلا يضمنه المضارب سواء كانت المضاربة صحيحة او فاسدة. (شرح مجلة الاحكام، المادة١٤٢٧، ص٧٥٦/٧٥٧)

قال العلامة المرغينانیؒ: من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال لان الربح تابع (الى ان قال) فان زاد الهالك على الربح فلا ضمان على المضارب لانهٗ امين. (الهداية ج٣، ص٢٦٤، فصل فى العزل و القسمة، كتاب المضاربة) و مثله فى رد المحتار ج٥، ص٦٥٨، فصل فى المتفرقات، كتاب المضاربة.

د مضارب په قواعدو او ضوابطو باندې د عرف اثر

سوال: د نن صبا مروجه لوټونه د مضاربت لپاره كافي دي او كه د سرو زرو يا سپينو زرو اخيستل او په مضاربت وركول ضروري دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مروجه لوټونه چونكه د ثمن عرفي په حكم كښې دي او په معاشرې كښې هم په هغو باندې اخيستل او پلورل كيږي نو د مضاربت لپاره د هغو وركول هم كافي دي۔

قال العلامة قاضى خان رحمه الله: المضاربة لا تجوز بغير الدراهم و الدنانير مكيلا كان او موزوناً او عروضاً فى قول ابى حنيفة و ابى يوسف رحمهما الله تعالىٰ و قال محمد رحمه الله تجوز با لفلوس الرائجة عدداً و لا تجوز با لذهب و الفضة اذا لم تكن مضروبة فى روايه الاصل. (فتاوىٰ خانية على هامش الهندية ج٣، ص١٦١، كتاب المضاربة)

قال العلامة ابو بكر الحداد اليمنیؒ: (قوله و لا يصح المضاربة الا با لمال الذى بيّنا ان لشركة تصح به) يعنى انها لا تصح الا با لدراهم و الدنانير فاما الفلوس فعلى الخلاف الذى بيّناه فى الشركة و هو عند محمدؒ تجوز المضاربة بها و عندهما لا تجوز. (الجوهرة النيرة ج١، ص٣٥٠، كتاب المضاربة)

و مثله فى عينى شرح كنز ص٥٠٢، كتاب المضاربة.

په مضاربت كښې د حيوان (څناور) د وركولو حكم

سوال: د مضارب له رب المال څخه كوم حيوان په دې شرط باندې اخيستل چه زه هغه ساتم او د هغه نسل به د پيدا كيدو په صورت كښې د شرط مطابق سره تقسيموو۔ آيا د مضاربت دا صورت جائز دی او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مضاربت باندې د حيوان وركول فاسد عقد دی۔ هو كه چېرته د حيوان د وركولو په وخت كښې دا ورته ووايي چه دا حيوان خرڅ كړه او په پيسو باندې ئې تجارت وكړه نو بيا جائز دی۔

قال العلامة سليم رستم بازؒ: بشرط ان يكون رأس المال ما لا تصح به الشركة فلا يجوز ان يكون العقار و العروض و الدين فى ذمة رأس المال فى المضاربة لكن رب المال اذا أُعطى شيئاً من العروض الى المضارب و قال بع هٰذا و اعمل بثمنه مضاربة و قبل المضارب و قبض ذٰلك المال و باعه و اتخذ نقود ثمنه رأس المال للتجارة كانت المضاربة صحيحة. (مجلة الاحكام مادة ١٤٠٩، ص٧٣٥، الفصل الثانى فى شروط المضاربة)

و فى الهندية: لو دفع اليه عرض او عبد فقال بعه و اقبض ثمنه و اعمل بهٖ مضاربة فباعه بدراهم او دنانير و تصرف فيها اجازت المضاربة كذا فى محيط السرخسى. (الفتاوى الهندية ج٤، ص٢٦٨، كتاب المضاربة، الباب الاول فى تفسيرها و ركنها و شرائطها و حكمها) و مثله فى خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص١٨٨، كتاب المضاربة.

د مضاربت په روپو باندې د اخيستل شويو وزو د شيدو حكم

سوال: مضارب د رب المال په اجازه څو ووزې واخيستې نو آيا شيدې به ئې د مضارب مِلكيت وي او كه د رب المال؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شيدې، وړې او نور تول شيان د مضاربت د مال په ربح كښې داخل دي او د هغه استعمال له اجازې پرته ممنوع دی۔ د دغو شيانو قيمت د فقهاوو د ضابطې مطابق كله په رأس المال كښې داخليږي او كله په منافعو كښې۔

قال العلامة سليم رستم بازؒ: المضارب امين فرأس المال فى يده فى حكم الوديعة اما من حيث تصرّفه فى راس المال فهو وكيل رب المال و اذا ربح كان شريكاً فيه. (مجلة الاحكام مادة ١٤١٣، ص٧٤٨، الفصل الثالث فى احكام المضاربة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: فاذا ظهر الربح فهو شريكه بحصته من الربح. (خلاصة الفتاوى ج٤، ص١٨٨، كتاب المضاربة) و مثله فى الجوهرة النيرة ج١، ص٣٥٠، كتاب المضاربة.

د مضارب له معاهدې څخه خلاف كار كول

سوال: زيد بكر ته شل زره روپۍ په مضاربت باندې د رخت دتجارت لپاره وركړې۔ بكر د معاهدې خلاف د تيلو تجارت شروع كړ او په هغه كښې نقصان وكړ د شريعت مطهره له مخې د نقصان ذمه واري به په چا باندې وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د معاهدې په خلاف ورزي باندې به د نقصان ټوله ذمه واري په بكر (مضارب) باندې وي له دې وجهې زيد ته به ټول رأس المال يعنې شل زره روپۍ پوره وركوي۔

و فى الهندية: ان خص له رب المال التصرف فى بلد بعينه او فى سلعته بعينها تنقيد به و لم يجز له ان يتجاوز ذٰلك (الى ان قال) فان اخرج الى غير ذٰلك البلد فاشترىٰ ضمن و كان ذٰلك له و له ربحه. (الفتاوى الهندية ج٤، ص٢٩٧، الباب السادس فيما يشترط على المضارب من الشروط)

قال العلامة سليم رستم بازؒ: اذا خالف المضارب رب المال بعد ما نهاه بقوله لا تذهب بمال المضاربة الى المحل الفلانى او لا تبع با لنسيئة فذهب بمال المضاربة الى ذٰلك المحل فتلف المال او باع با لنسيئة فهلك الثمن كان المضارب ضامناً. (مجلة الاحكام مادة ١٤٢٢، ص٧٥٥، الفصل الثالث فى احكام المضاربة)

و مثله فى الدر المختار على هامش رد المحتار ج٥، ص٦٥٠/٦٥١، كتاب المضاربة.

د مدرسې جمع شوې روپۍ د چنده وركوونكو په اجازه چا ته په مضاربت وركول

سوال: آيا د مدرسې فنډ د متوليانو په اجازه او د مدرسې د اراكينو په مشوره په مضاربت باندې چا ته وركول جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چېرته د مدرسې فنډ د مدرسې له ضرورياتو څخه زياتی وي نو د چنده وركوونكو په اجازه او د مدرسې د اراكينو په مشوره په هغه باندې تجارت كول مرخص دی۔

و فی الهندیة: القیم اذا اشتری من غلة المسجد حانوتاً او داراً ان یستغل و یباع عند الحاجة جاز ان کان ولایة الشراء. (الفتاوی الهندیة ج۲، ص۴٦۲، الباب الثانی فی الوقف علی المسجد و تصرف القیم و غیره فی سال الوقف علیه)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: الفاضل عن وقف المسجد یشتری مستغلا للمسجد حانوتاً او داراً. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٤۲۳، الفصل الرابع فی المسجد و اوقافه و مسائله)

و مثله فی الخانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص۳۱۳، فصل فی وقف المنقول.

د مال د موجود والي په صورت کښې د مضاربت د ختمولو حکم

سوال: زید خالد ته د مضاربت لپاره یو لك روپۍ ورکړې او د څه وخت له تیرید و نه وروسته زید خپلې یو لك روپۍ بیرته غواړي او حال دا چه د خالد سره تر اوسه پورې څه مال باقي پاتې دی۔ نو آیا د مال په موجود والي کښې زید خپلې روپۍ بیرته غوښتلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دواړه خواوې د مضاربت ختمول غواړي نو تر ځو پورې چه د مضاربت مال ختم شوی نه وي تر هغه وخته پورې رب المال د خپلو یو لك روپو مطالبه نه شي کولی او نه د مضارب په ختمولو او معزول کولو سره د هغه تصرفات ختمیږي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و اعلم المضارب بعزله و المال عروض فله ان یبیعها و لا یمنعه العزل من ذٰلك لان حقه قد ثبت فی الربح انما یظهر با لقسمة و هی تبتنی علی رأس المال و انما ینفی با لبیع. (الهدایة ج۳، ص۲٦، کتاب المضاربة)

د مضـــــــــــاربت له ختم کولو څخه انکار او د مضاربت د عقـــــد لپـــــاره د مودې د ټاکلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د دوو مسئلو د وضاحت ضرورت دی مهرباني وکړی او د قرآن و سنت له مخې جواب راکړی۔

﴿۱﴾ دوو کسانو په ګډه سره د مضاربت تر عنوان لاندې کاروبار شروع کړ او د دواړو دا معامله تر څلورو کلونو پرې دوام درلوده۔ اوس ئې یو ملګری له بل ملګري نه بیلیدل غواړي او حال دا چه هغه بل ملګری ورته وایي چه تر څو پورې زما له خوا اجازه نه وي ته نه شې جلا کیدلی نو آیا په حقیقت کښې هم ملګري ته ئې د منع کولو اختیار شته؟

﴿۲﴾ دوی دواړو د عقد په وخت کښې د څلورو کلونو وخت هم مقرر کړی وو نو آیا په مضاربت کښې وخت ټاکل کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ﴿۱﴾ د مضاربت په عقد کښې دواړه خواوې چه کوم یو وغواړي او کوم وخت وغواړي عقد ختمولی شي لیکن د عقد د فسخ کولو لپاره دا ضروري ده چه خپل بل ملګری به خبروي۔ لیکن د دې فسخې اطلاق په هغه وخت کښې صحیح ده چه مال د نقدو په شکل کښې موجود وي او که چېرته مال د اثاثې او عروضو په شکل کښې موجود وي نو بیا به مضارب ته د عروضو د پلورلو موقع ورکول کیږي تر څو چه هغه اصل نفع متعینه شي کومه

چه د هغې لپاره عقد شوی وو۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: و اما صفة هذا العقد فهو انه عقد غیر لازم و لکل واحد منهما اعنی رب المال و المضارب الفسخ لکن عند وجود شرطه و هو علم صاحبه و یشترط ایضاً ان یکون رأس المال عیناً وقت العقد دراهم او دنانیر حتی لو نهی رب المال المضارب عن التصرّف و رأس المال عروض وقت النهی لم یصح نهیه و له ان یبیعها لانّهٗ یحتاج الی بیعها با لدراهم و الدنانیر لیظهر الربح فکان النهی و الفسخ ابطالاً لحقه فی التصرف فلا یملك ذٰلك و ان کان رأس المال دراهم او دنانیر وقت الفسخ و النهی صح الفسخ و النهی. (بدائع الصنائع ج٦، ص۱۰۹، کتاب المضاربة)

﴿۲﴾ او همدارنګه د مضاربت د عقد لپاره د احنافو په نزد د وخت ټاکل هم صحیح دي۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: و لنا ان المضاربة توکیل و التوکیل یحتمل التخصیص بوقت دون وقت. (بدائع الصنائع ج٦، ص۹٦، کتاب المضاربة)

لهذا که چېرته په صورت مسئوله کښې د مضاربت د عقد وخت هم ټاکل شوی وي او سرمایه یعنې رأس المال هم د نقدو په شکل کښې وي بیا بل ملګري ته دا حق حاصل نه دی چه خپل ملګری د مضاربت د عقد د فسخ کولو څخه منع کړي۔

23
23

كتاب
الوكالة و الكفالة

کتاب الوکـــالة و الکفالـــة

(د وکالت احکام او مسائل)

نابالغ لره وکیل جوړول

سوال: د مسجدونو، مدرسو او یا د نورو خیریه کارونو لپاره د چندې کولو په وخت کښې ډېر واړې د اسې کیږي چه له کورونو ځخه ښځې واړه هلکانو ته چندې ورکوي او لیږي نو آیا یو نابالغ ماشوم د والد یا والدې له خوا ځخه د څه پیسو اخیستلو سره د هغو وکیل جوړیدی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته هلك پوه وي نو بیا وکیل جوړیدلی شي۔ بیا هم په نوموړي صورت کښې هلك وکیل نه دی بلکه نمائنده دی چه فقهاء کرام ئې د رسول په نامه سره یادوي ځکه د نابالغ هلك په لاس د خیرات او د نورو شیانو په لیږلو کښې هیڅ حرج نشته۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: قال و یجوز ان یقبل فی الهدیة و الاذن قول العبد و الجاریة و الصبیّ لان الهدایا تبعث عادة علی ایدی هٰؤلاء و کذا لا یمکنهم استصحاب الشهود علی الاذن عند الضرب فی الارض و المبایعة فی السوق فلو لم یقبل قولهم یؤدی الی الحرج. (الهدایة ج٤، ص٤٥٢، کتاب الکراهیة)

قال العلامة الحصکفیؒ: و یقبل قول المملوك و لو انثٰی و الصبی فی الهدیة سواء اخبر باهداء المولٰی غیره او نفسه و الاذن سواء کان با لتجارة او بدخول الدار. قال ابن عابدین تحته قال فی المنح بان قال عبد او جاریة او صبی هٰذه هدیة اهداها الیك سیّدی او ابی........ انما یقبل قول هٰؤلاء فیها لان الهدایة تبعث عادة الٰی ایدی هٰؤلاء. (رد المحتار ج٦، ص٣٤٥، کتاب الکراهیة)

په وکالت کښې د وکالت علم ضروري دی

سوال: په ځینو علاقو کښې د نکاح په وخت کښې له نجلۍ ځخه د مخامخ اجازې اخیستلو په ځای یو د اسې سړی وکیل مقرروي او ایجاب و قبول کوي چه د هغه په باره کښې نجلۍ ته هیڅ علم هم نه وي نو آیا د د اسې سړي ایجاب و قبول ته اعتبار ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ځوك چه وکیل جوړیږي د هغه لپاره ضروري دي چه له مؤکل ځخه باقاعده اجازه واخلي۔ په نوموړي صورت کښې د اسې نکاح د نکاح فضولي په حکم کښې راځي۔ که چېرته د نجلۍ له علم وروسته اجازه ورکړي نو نکاح به منعقد کیږي او که اجازه ورنه کړي نو نه منعقد کیږي۔

لما قال العلامة الکاسانیؒ: و اصل هٰذا ان تصرفات الفضولی التی لها مجیز حالة العقد منعقدة موقوفة علی اجازة المجیز من البیع و الاجارة و النکاح و الطلاق و نحوها فان اجاز ینفذ و الا فیبطل. (بدائع الصنائع ج٥، ص١٤٨، کتاب الوکالة، الفصل الثالث)

و قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی کل موضع لا ینفذ فعل الوکیل فا لعقد موقوف علی اجازة المؤکل. (رد المحتار ج٢، ص٣٤٤، کتاب الکفالة)

په نکاح کښې د نابالغ د وکالت حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې دا رواج دی چه د واده په وخت کښې چه کله نکاح تړل کیږي نو له ناوې ځخه د اجازې د اخیستلو لپاره یو نابالغ هلك لیږل کیږي او بیا د هغه نابالغ هلك پلار یا بل کوم خپل وکیل جوړیږي او ایجاب و قبول کوي نو آیا د اسې وکالت د شریعت له مخې درست دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شرعې له مخې د وکالت لپاره دا ضروري دي چه وکیل بالغ او عاقل وي نو په دې وجه سره د نابالغ وکالت صحیح نه دی۔ په نوموړي صورت کښې نابالغ هلك چونکه له وکالت ځخه اخبار کوي نو له دې وجهې د هلك اخبار عن الوکالت صحیح دی او همد ارنګه دا هلك د رسول په حکم کښې هم دی او په رسالت کښې احکام مرسل ته راجع وي نه رسول ته۔

قال العلامة محمد بن محمود الاستروشیؒ: و الحاصل ان الوکالة تثبت باخبار رجل واحدٍ حراً کان عبداً عدلاً کان او فاسقاً صبیاً او بالغاً. (جامع احکام الصغار علی هامش جامع الفصولین ج١، ص٢٨٠، مسئلة الوکالة)

و قال العلامة سلیم رستم بازؒ: تعود حقوق العقد فی الرسالة الی المرسل و لا تتعلق با لرسول اصلاً. (شرح المجلة الاحکام مادة١٤٦٢، ص٧٨٣، کتاب الوکالة)

په توکیل کښې د مخالف لوري د رضاء حکم

سوال: که چېرته یو ځوك وغواړي چه له خپلې خوا ځخه یو ځوك وکیل وټاکي نو آیا په دې کښې د جانب مقابل رضاء ضروري ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وکیل د مؤکل نمائنده وي او دا د هغه ذاتي حق وي نو ځکه د توکیل جواز د جانب مقابل تر رائې موقوفه نه وي۔ خو بیا هم د امام ابوحنیفه رحمه اللّٰه په نزد د وکیل په ذریعه د یوه حق د لزوم لپاره ضروري دي چه د هغه په تقرري کښې د جانب مقابل رایه شامله وي او حال دا چه د صاحبینو په نزد باندې د دې ضرورت نشته۔

لما قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: قال ابو حنیفة رحمه اللّٰه لا یجوز التوکیل با لخصومة من غیر رضاء الخصم الا ان یکون المؤکل مریضاً او غائباً مسیرة ثلاثة ایام فصاعداً انما الخلاف فی اللزوم. (الهدایة ج٣، ص١٧٧، کتاب الوکالة)

و قال العلامة سلیم رستم باز اللبنانیؒ: لکل من المدعی و المدعٰی علیه ان یوکل من شاء با لخصومة و لا یشترط رضاء الآخر. (شرح المجلة الاحکام مادة ١٥١٦، ص ٨٢٠، الفصل الخامس فی الوکالة با لخصوم) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص ١٥٤، الفصل الرابع فی الوکالة با لبیع.

له وکیل څخه د پیسو د ضائع کیدلو په صورت کښې به ذمه وار څوک وي

سوال: د یوه شي په خرید اري باندې له ټاکل شوي سړي څخه که چېرته پیسې ورکې شي نو د هغه ذمه واري به په چا باندې وي۔ آیا وکیل به د هغه مال ضامن وي او که ټول نقصان به د مؤکل په غاړه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه شي په خرید اري باندې له ټاکل شوي سړي څخه د ا روپۍ که چېرته د مطلوبه شي د اخیستلو نه وروسته ورکې شي او بائع ته ئې نه وي ورکړې نو د هغې ذمه واري په مؤکل باندې عائد کیږي او په وکیل باندې رجوع نه شي کولی او که چېرته مؤکل د هغه شي د اخیستلو نه وروسته پیسې وکیل ته ورکړې وي او بائع ته د ورکولو نه مخکښې ورکې شي نو د هغه ذمه واري به په وکیل باندې وي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: اذا رفع الثمن الی انسان الف درهم فامره ان یشتری بها جاریةً فاشتریٰ ثم هلك ثمن قبل ان ینقض البائع یهلك من مال الآمر فان رفع الآمر الالف الی الوکیل بعد ما اشتریٰ فهلك قبل ان ینقض البائع یهلك من مال المامور. (خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص١٥٩، الفصل الرابع فی الوکالة با لشراء)

و قال العلامة ابن نجیم رحمه اللّٰه: و لم یذکر المؤلف هنا حکم ما اذا وکله بشراء شیء و دفع الثمن الیه فهلك فی یده قال فی البزازیة و فی جامع الفصولین دفع الیه الفاً یشتری به فاشتریٰ و قبل ان ینقدهٗ للبائع هلك فمن مال الآمر و ان اشتریٰ ثم نقده المؤکل فهلك الثمن قبل دفعه الی البائع عند المؤکل یهلك من مال الوکیل. (البحر الرائق ج٧، ص١٥٦، باب الوکالة با لبیع و الشراء)

په وکیل باندې د ضمان حکم

سوال: د وکیل د مبیعې د اخیستلو نه وروسته که چېرته مبیعه په لارې کښې چېرته ضائع شي نو دا به د چا نقصان ګڼل کیږي، د وکیل که د مؤکل؟

الجواب باسم ملهم الصواب: وکیل چونکه د مؤکل نمائنده وي او ټوله ذمه واري د مؤکل د فائدې لپاره اوچتوي نو ځکه د مبیعې د هلاکت نقصان به د مؤکل په غاړه وي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: فان هلك المبیع فی یده قبل حبسه هلك من مال المؤکل و لم یسقط الثمن لان یدهٗ کید المؤکل فاذا لم یحبسهٗ یصیر المؤکل قابضاً بیده. (الهدایة ج٣، ص١٨١/١٨٢، کتاب الوکالة با لبیع و الشراء)

و قال العلامة ابن نجیمؒ: فلو هلك فی یده قبل حبسه هلك من مال المؤکل و لم یسقط الثمن لان یده کید المؤکل فاذا لم یحبس یصیر المؤکل قابضاً بیده. (البحر الرائق ج٧، ص١٥٦، باب الوکالة با لبیع و الشراء)

و مثله فی خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص١٥٨، الفصل الخامس فی الوکالة با لشراء.

د وکیل په مدعي باندې اقرار کول

سوال: که چېرته د مدعیٰ علیه له خوا څخه وکیل د نمائندګي د کولو په وخت کښې د مدعي حق تسلیم کړي لیکن مدعي علیه اوس هم له دې څخه انکار کوي نو آیا د وکیل د چا په حق باندې اقرار کول د مؤکل (مدعي علیه) په حق کښې لازم متصور کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وکیل د چا د نمائندګي کولو مطلب دا نه دی چه هغه به یوائې د مؤکل د دنیاوي مفاد اتو تحفظ وکړي بلکه د شرعي ذمه وارۍ په احساس کولو سره د هغه د جائز حق په باره کښې به اقرار هم کولی شي ځکه په نوموړي صورت کښې د وکیل اقرار د مدعي علیه په حق کښې لازم ګڼل کیږي خو په دې شرط چه دغه اقرار د قاضي په حضور کښې وي لیکن د امام ابویوسف رحمه اللّٰه په نزد دا حکم عام دی که د قاضي په حضور کښې وي او که په بل محفل کښې وي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و اذا اقر الوکیل با لخصومة علی مؤکله عند القاضی جاز اقراره علیه و لا یجوز عند غیر القاضی عند ابی حنیفة و محمد رحمهما اللّٰه استحساناً الا انه یخرج من الوکالة و قال ابو یوسفؒ یجوز اقراره علیه و ان اقر فی غیر مجلس القضاء. (الهدایة ج٣، ص١٩٥، باب الوکالة با لخصومة و القبض)

و قال العلامة ابن نجیمؒ: و لو اقر الوکیل با لخصومة عند القاضی صحّ و الا لا ان اقر علی مؤکله عند غیر القاضی لا یصح عندهما استحساناً و خرج به عن الوکالة و صحح ابو یوسفؒ اقراره مطلقاً و ابطله زفر مطلقاً و هو القیاس لکونه ماموراً با لخصومة و هوی منازعة و الاقرار ضدها لانهٗ مسالمة فا لامر با لشیء لا یتناول ضده وجه الاستحسان ان التوکیل صحیح و صحته تتناول ما یملك و ذٰلك مطلق الجواب دون احدهما عیناً فیصرف الیه تحریاً للصحة. (البحر الرائق ج٧، ص١٨١، باب الوکالة با لخصومة و القبض)

و مثله فی خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص١٠١، کتاب الدعویٰ، الفصل الخامس.

د نکاح په توکیل کښې شهادت ضروري نه دی

سوال: د نجلۍ له خوا څخه د نکاح په معامله کښې د وکیل د ټاکلو لپاره دوه کسان لیږل کیږي کوم چه د دې خبرې ګواهي ورکوي چه فلانۍ ښځه ده لره وکیل جوړ کړی دی۔ په داسې حالت کښې که چېرته یو سړي په اجمالي ګواهي باندې اکتفاء وکړي نو آیا شرعاً دا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: توکیل په شهادت باندې موقوف نه دی بلکه وکیل ته چه کله په اعتمادي ذرائعو سره د وکالت خبره ورسیږي نو وکیل د مؤکل لپاره تصرف کولی شي۔ په نوموړي صورت کښې د یوه ګواه بیان هم کافي دي او که چېرته دواړه ګواهان ګواهي ورکړي نو تولو ته په هیڅ وخت کښې هم د انکار ګنجائش نه پاتې کیږي۔

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و اعلم انهٗ لا یشترط الشهادة علی الوکالة با لنکاح. (رد المحتار ج٢، ص٣٥٢، کتاب النکاح، باب الاولیاء الخ)

و فی الهندیة: یصح التوکیل با لنکاح و ان لم یحضره الشهود کذا فی التاتارخانیة ناقلاً عن خواهرزادة. (الفتاوی الهندیة ج١، ص٢٩٤، الباب السادس فی الوکالة با لنکاح و غیرها)

و مثله فی البحر الرائق ج٣، ص١٣٧، کتاب النکاح، فصل حاصله بعض مسائل الوکیل و الفضولی الخ.

له وکيل څخه د پيسو د ضائع کيدلو په صورت کښې به ذمه وار څوک وي

سوال: د يوه شي په خريد اري باندې له تاکل شوي سړي څخه که چېرته پيسې ورکې شي نو د هغه ذمه واري به په چا باندې وي۔ آيا وکيل به د هغه مال ضامن وي او که ټول نقصان به د مؤکل په غاړه وي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د يوه شي په خريد اري باندې له تاکل شوي سړي څخه د ا روپۍ که چېرته د مطلوبه شي د اخيستلو نه وروسته ورکې شي او بائع ته ئې نه وي ورکړې نو د هغې ذمه واري په مؤکل باندې عائد کيږي او په وکيل باندې رجوع نه شي کولی او که چېرته مؤکل د هغه شي د اخيستلو نه وروسته پيسې وکيل ته ورکړې وې او بائع ته د ورکولو نه مخکښې ورکې شي نو د هغه ذمه واري به په وکيل باندې وي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاری رحمه اللّٰه: اذا رفع الثمن الی انسان الف درهم فامره ان يشتری بها جارية فاشتریٰ ثم هلك ثمن قبل ان ينقض البائع يهلك من مال الآمر فان رفع الآمر الالف الی الوكيل بعد ما اشتریٰ فهلك قبل ان ينقض البائع يهلك من مال المامور. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص١٥٩، الفصل الرابع فی الوكالة با لشراء)

و قال العلامة ابن نجيم رحمه اللّٰه: و لم يذكر المؤلف هنا حكم ما اذا وكله بشراء شیء و دفع الثمن اليه فهلك فی يده قال فی البزازية و فی جامع الفصولين دفع اليه الفاً يشتری به فاشتریٰ و قبل ان ينقدهٗ للبائع هلك فمن مال الآمر و ان اشتریٰ ثم نقده المؤكل فهلك الثمن قبل دفعه الی البائع عند المؤكل يهلك من مال الوكيل. (البحر الرائق ج٧، ص١٥٦، باب الوكالة با لبيع و الشراء)

په وکيل باندې د ضمان حکم

سوال: د وکيل د مبيعې د اخيستلو نه وروسته که چېرته مبيعه په لارې کښې چېرته ضائع شي نو د ا به د چا نقصان ګڼل کيږي، د وکيل که د مؤکل؟

الجواب باسم ملهم الصواب: وکيل چونکه د مؤکل نمائنده وي او توله ذمه واري د مؤکل د فائدې لپاره اوچتوي نو ځکه د مبيعې د هلاکت نقصان به د مؤکل په غاړه وي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: فان هلك المبيع فی يده قبل حبسه هلك من مال المؤكل و لم يسقط الثمن لان يدهٗ كيد المؤكل فاذا لم يحبسهٗ يصير المؤكل قابضاً بيده. (الهداية ج٣، ص١٨١/١٨٢، كتاب الوكالة با لبيع و الشراء)

و قال العلامة ابن نجيمؒ: فلو هلك فی يده قبل حبسه هلك من مال المؤكل و لم يسقط الثمن لان يده كيد المؤكل فاذا لم يحبس يصير المؤكل قابضاً بيده. (البحر الرائق ج٧، ص١٥٦، باب الوكالة با لبيع و الشراء)

و مثله فی خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص١٥٨، الفصل الخامس فی الوكالة با لشراء.

د وکيل په مدعي باندې اقرار کول

سوال: که چېرته د مدعٰی عليه له خوا څخه وکيل د نمائندګي د کولو په وخت کښې د مدعي حق تسليم کړي ليکن مدعي عليه اوس هم له دې څخه انکار کوي نو آيا د وکيل د چا په حق باندې اقرار کول د مؤکل (مدعي عليه) په حق کښې لازم متصور کيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وکيل د چا د نمائندګي کولو مطلب د ا نه دی چه هغه به يوائځې د مؤکل د دنياوي مفاد اتو تحفظ وکړي بلکه د شرعي ذمه وارۍ په احساس کولو سره د هغه جائز حق په باره کښې به اقرار هم کولی شي ځکه په نوموړي صورت کښې د وکيل اقرار د مدعي عليه په حق کښې لازم ګڼل کيږي خو په دې شرط چه د غه اقرار د قاضي په حضور کښې وي ليکن د امام ابويوسف رحمه اللّٰه په نزد د ا حکم عام دی که د قاضي په حضور کښې وي او که په بل محفل کښې وي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و اذا اقر الوكيل با لخصومة علی مؤكله عند القاضی جاز اقراره عليه و لا يجوز عند غير القاضی عند ابی حنيفة و محمد رحمهما اللّٰه استحساناً الا انه يخرج من الوكالة و قال ابو يوسفؒ يجوز اقراره عليه و ان اقر فی غير مجلس القضاء. (الهداية ج٣، ص١٩٥، باب الوكالة با لخصومة و القبض)

و قال العلامة ابن نجيمؒ: و لو اقر الوكيل با لخصومة عند القاضی صحّ و الا لا ان اقر علی مؤكله عند غير القاضی لا يصح عندهما استحساناً و خرج به عن الوكالة و صحح ابو يوسفؒ اقراره مطلقاً و ابطله زفر مطلقاً و هو القياس لكونه ماموراً با لخصومة و هوی منازعة و الاقرار ضدها لانهٗ مسالمة فا لامر با لشیء لا يتناول ضده وجه الاستحسان ان التوكيل صحيح و صحته تتناول ما يملك و ذٰلك مطلق الجواب دون احدهما عيناً فيصرف اليه تحرياً للصحة. (البحر الرائق ج٧، ص١٨١، باب الوكالة با لخصومة و القبض)

و مثله فی خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص١٠١، كتاب الدعویٰ، الفصل الخامس.

د نکاح په توکيل کښې شهادت ضروري نه دی

سوال: د نجلۍ له خوا څخه د نکاح په معامله کښې د وکيل د ټاکلو لپاره دوه کسان ليږل کيږي کوم چه د دې خبرې ګواهي ورکوي چه فلانۍ ښځه ده لره وکيل جوړ کړی دی۔ په د اسې حالت کښې که چېرته يو سړي په اجمالي ګواهي باندې اکتفاء وکړي نو آيا شرعاً د ا جائزه ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: توکيل په شهادت باندې موقوف نه دی بلکه وکيل ته چه کله په اعتمادي ذرائعو سره د وکالت خبره ورسيږي نو وکيل د مؤکل لپاره تصرف کولی شي۔ په نوموړي صورت کښې د يوه ګواه بيان هم کافي دي او که چېرته دواړه ګواهان ګواهي ورکړي نو تولو ته په هيڅ وخت کښې هم د انکار ګنجائش نه پاتې کيږي۔

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه: و اعلم انهٗ لا يشترط الشهادة علی الوكالة با لنكاح. (رد المحتار ج٢، ص٣٥٢، كتاب النكاح، باب الاولياء الخ)

و فی الهندية: يص[illegible] حضره الشهود كذا فی التاتارخانية [illegible] اهرزادة.

(الفتاوی الهند[illegible]

[illegible] غيرها)

مروجه وکالت د پیشې (کسب) په توګه اختیارول

سوال: په اوسنۍ زمانې کښې وکلاء د ملکي قوانینو له مخې د مدعي او مدعي علیه په نمائندګي سره د دواړو خواوو څخه ډېرې روپۍ اخلي۔ آیا وکالت د پیشې او کسب په ډول استعمالول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: واضح دې وي چه د اوسني ملکي قوانینو څخه چه کوم قانون د اسلامي شریعت سره ټکر دي نو د هغې مطابق د مقدماتو پیروي کول او فیصله کول او په هغه باندې اجرت اخیستل ټول غیر اسلامي دي په مقدس شریعت کښې د هغه هیڅ ګنجائش نشته۔ لیکن بیا هم د هغه په ذریعه خپل جائز حقوق اخیستل او د ظالم له ظلم څخه د نجات حاصلولو لپاره مرخص دی او کوم قوانین چه د شرعي قوانینو سره مخالف نه وي نو د هغه مطابق فیصله کول او په هغه باندې د وکیل لپاره اجرت اخیستل مرخص دی او د توکیل د اجرت د جواز لپاره دا تاویل کافي دی چه واقعي وکیل چه کوم اجرت اخلي نو هغه د یو خاص وخت او په خاصه ورځ کښې د محبوس والي اجرت اخلي کوم چه فقهاء کرامو جائز بللی دی۔ حاصل دا چه د وکالت کسب پخپله جائز دی لیکن شرط دا دی چه وکیل د جائزو مقدماتو پیروي وکړي۔

لما قال الدكتور العلامة وهبة الزحيلي: تصح الوكالة باجر و بغير اجر لان النبى ﷺ كان يبعث عماله لقبض الصدقات و يجعل لهم عمولة فاذا تمت الوكالة باجر لزم العقد يكون للوكيل حكم الاجير اى انهٗ يلزم الوكيل بتنفيذ العم و ليس له التخلى عنه بدون عذر يبيح لهٗ ذٰلك و اذا لم يذكر الاجر صراحةً حكم العرف فان كانت ماجورةً عادةً كتوكيل المحامين و سماسرة البيع و الشراء لزم اجر المثل و يدفعه احد العاقدين بحسب العرف و ان كانت غير ماجورة عرفاً كانت مجاناً او تبرعاً عملاً با لاصل فى الوكالات و هو ان تكون بغير اجر على سبيل التعاون فى الخير و هٰذا النوع لا يلزم فيه المضى فى العمل بل للوكيل التخلى عنه فى اىّ وقت و هذا مذهب الحنفية و المالكية و الحنابلة.

و قال الشافعية الوكالة و لو بجعل جائزة اى غير لازمة من الجانبين. (الفقه الاسلامى و ادلتهٗ ج٤، ص۱۵۱، تعريف الوكالة و مشروعيتها)

یو وکیل د ځان لپاره د بل وکیل نیولو حکم

سوال: یوه سړي د خپل مال د پلورلو لپاره د لاهور په منډۍ کښې یو وکیل وټاکه او هغه بیا له خپلې خوا څخه کوم بل سړی وکیل جوړ کړ او د مال د پلورلو لپاره ئې لاهور ته ولیږه۔ آیا د وکیل لپاره جائز دی چه ځانته بل وکیل وټاکي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته مؤکل هغه عمومي وکیل ټاکلی وي چه زما مال وپلوره که پخپله وي او که په بل چا باندې وي نو په دې صورت د وکالت د عمومي والي په وجه د اولني وکیل لپاره صحیح دی چه بل وکیل جوړ کړي او که چېرته د مؤکل له خوا نه عمومي وکالت نه

وي نو بیا د اولني وکیل دا اقدام صحیح نه دی۔

قال العلامة الكاسانىؒ: فان كانت عامة يملك ان يؤكل غيره با لقبض لان الاصل فيما يخرج مخرج العموم اجراؤه على عمومه و ان كانت خاصة فليس له ان يؤكل غيره با لقبض لان الوكيل يتصرّف بتفويض المؤكل فيملك قدر ما فوض اليه. (بدائع الصنائع ج٦، ص۲۵، فصل فى حكم التوكيل)

قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلى: ان كانت الوكالة خاصة او مقيدة بان يعمل الوكيل بنفسه لم يجز له توكيل غيره فيما وكل فيه. و ان كانت الوكالة مطلقة او عامة بان قال لهٗ اصنع ما شئت جاز له توكيل الغير و يكون هٰذا الغير وكيلا مع الاوّل عن المؤكل. (الفقه الاسلامى و ادلتهٗ ج٤، ص۱٦۰، هل للوكيل توكيل غيره)

په ګارنټي (ذمه وارۍ) سره د یو شي د اخیستلو حکم

سوال: یو سړي مثلاً زید د عمارتي یا ساختماني سامانونو تجارت کوي او ځینې کمپنۍ په ده باندې خپل مال په ذمه وارۍ باندې پلوري لکه د اوبو پائپونه، نلونه، بیلچې او داسې نور شیان۔ په دغو کښې د ځینو شیانو ذمه واري پنځه کاله، د ځینو لس کاله او د ځینو له دې نه هم زیات وي۔ نو کله چه زید په چا باندې دا شیان پلوري نو هغه ئې هم په ذمه وارۍ باندې پلوري۔ او د ذمه وارۍ په موده کښې که چېرته دا پلورل شوی شیان خراب شي نو مشتري ئې زید ته واپس کوي او زید هغه شیان کمپنۍ ته لیږي او د کمپنۍ خاوند د هغو په عوض کښې نوي شیاب ور لیږي او یا ئې ور جوړوي چه په دې وجه عام خلک ګارنټي شوي شیان ډېر اخلي۔ اوس پوښتنه دا ده چه دا ډول بیع د شریعت له مخې صحیح ده او که نه؟ او مونږ له یوه مولوي صاحب څخه اوریدلي دي چه دا بیعه د مشروط والي په وجه فاسده ده۔ فلهذا د شریعت مطهره په رڼا کښې د دې مسئلې تفصیل بیان کړی مهرباني به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نن زمانې کښې ځینې شرکتونه او کمپنۍ د خپلو مصنوعاتو په خرید اري باندې اخیستونکو ته یو کال یا دوه کاله یا لائف ټائم (ټول ژوند) ذمه واري ورکوي۔ دغه ذمه واره د صورت په لحاظ سره کفاله بدرک دی او د درک میندولو او پیدا کولو ته وایي۔ یعنې که چېرته مشتري په مبیعه کښې څه عیب پیدا کړي نو بائع به د هغه کفیل وي او حال دا چه کفاله بدرکه په اجماع سره صحیح دی او همدارنګه په کفالې کښې هم د فقهاوو په نزد توسیع شته۔ او له دې څخه پرته کفاله بلکه اکثرې معاملې د عرف سره تړاو لري۔

نن صبا د یوه شي د پلورلو په وخت کښې ګارنټي ورکول د کاروبار او تجارت یو اهم او ضروري جز ګرځول شوی دی۔ چونکه نن صبا نقلي او دیسي شیان په عامه توګه جوړېږي چه د هغو په وجه ګارنټي ورکول ضروري ګرځول شوي دي او هسې هم په عامه توګه په دنیایي یعنې عالمي او ملکي بازارونو کښې عام رواج غوندې جوړ شوی دی چه خلک ګارنټي شوي شیان بې له کوم چون او چرا څخه اخلي۔ لهذا نن صبا په ذمه وارۍ باندې خرید و فروخت د عرف او عموم بلوٰی په وجه سره جائز دی او په دې کښې هیڅ قباحت نشته۔

كما فى البدائع الصنائع: و لان الكفالة جوازها با لعرف. (ج٦، ص٣)

و كما فى الهداية: و اما الكفالة با لمال فجائزة معلوماً كا لمكفول بهٖ الى ان قال او بما يدرك فى هٰذا البيع لان منبى الكفالة على التوسع فيتحمل فيها الجهالة و على الكفالة بدرك اجماع. (ج٣، ص١١٦)

و كما فى العناية: تكفلت عنه بمالك عليه او بما يدركك فى هٰذا البيع يعنى من الضمان بعد ان كان ديناً صحيحاً لان مبنى الكفالة على التوسع فانها تبرع. و بعد اسطر: و على الكفالة بدرك فتح الراء و سكونها و هو التبعة دليل على جوازها با لمجهول لا يصح. و فيه اشارة الى نفى قول من يقول ان الضمان با لمجهول لا يصح لانه التزام مال فلا يصح مجهولاً كا لثمن فى البيع و قلنا الضمان بدرك صحيح با لاجماع و هو ضمان با لمجهول الخ. (العناية على هامش فتح القدير ج٦، ص٢٩٨/٢٩٩)

و كمـــــا فى فتاوٰى قاضى خانؒ: رجل باع داراً و كفل رجل المشترى بما ادركه فيها من درك فاخذ المشترى بذٰلك عنه رهناً ذكر فى الاصل ان الرهن باطل و لا ضمان على المرتهن و الكفالة جائزة. (فتاوٰى قاضى خان على هامش الهندية ج٣، ص٦٤)

د وكيل د وكالت له منصب څخه خلاف كار كول

سوال: جناب مفتي صاحب! مونږ يو سړی د موټر د اخيستلو لپاره وكيل جوړ كړی وو نو هغه له بل چا څخه د موټر د اخيستلو په ځای په مونږ باندې خپل موټر خرڅ كړ۔ آيا دا وكيل په مونږ باندې خپل شی پلورلی شي او كه نه او حال دا چه د ده موټر زمونږ په علم كښې هم نه وو او هغه دا وايي چه ما خپل موټر تاسو ته دركړی دی او مونږ له دې څخه انكار كوو؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وكالت يوه داسې معامله ده كومه چه مؤكل به پخپل وكيل باندې اعتماد كوي او خپله ذمه واري به هغه ته سپاري نو ځكه د وكيل په دې معامله كښې داسې قدم اخيستل چه د وكالت د منصب خلاف وي او په هغه كښې د دوكې وركولو شك هم وي جائز نه دی۔ لهذا چه په دې كښې كومه معامله مخې ته راشي نو هغه به نه منعقده كيږي۔ نو لكه څرنګه چه په نوموړي صورت كښې د دوكې او غرور عنصر موجود دی له دې وجهې دا معامله كالعدم ګڼل كيږي۔

لمــــا فى الدر المختار: حيث لم يكن مخالفاً دفعاً للغرر. قال ابن عابدينؒ: تحت قوله دفعاً للغرر..... و فيه الوكيل با لبيع لا يملك شرائه لنفسه لان الواحد لا يكون مشتريا و بائعاً فيبيعه من غيره ثـــم اشتريه منه. (رد المحتار ج٤، ص٤٥٠، كتاب الوكالة)

البته كه چېرته د مؤكل له خوا څخه پوره اجازه وي نو بيا د اسې كول جائز دي۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و ان امر المؤكل انهٗ يبيعه من نفسه او اولاده الصغار او ممن لا تقبل شهادته فباع منه جاز. (رد المحتار ج٤، ص٤٥٠، كتاب الوكالة)

كتاب الحوالة

قال اللّٰه تعالٰی

فتقبلها ربها بقبول حسن و انبتها نباتا حسنا و كفلها زكريا

قال اجعلنی علی خزائن الارض انی حفیظ علیم

کتاب الحوالة

(د حوالې احکام او مسائل)

محیل ته د قرض د ادا کولو لپاره په محتال علیه کښې د ورکړ شوي مهلت اعتبار

سوال: په یوه سړي باندې د قرض د ادا کولو لپاره د قرض ورکوونکي له طرفه یو کال مهلت ورکړ شوی وو او هغه سړي هغه روپۍ بل چا ته حواله کړې وو۔ لیکن اوس دائن محتال علیه (بل سړی) د هغه قرض د زر غوښتلو غوښتنه کوي۔ نو آیا ده ته دا اختیار حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم وخت او میعاد چه مدیون ته د پور د ادا کولو لپاره ورکړ شوی دی هم هغه وخت او میعاد ته به اعتبار ورکول کیږي۔ له دې وجهې دائن (قرض ورکوونکی) مخکښې له وخت څخه د پور د ادا کولو له محتال علیه څخه مطالبه کول بلا جواز او بې ځایه ده۔

لما قال العلامة کمال الدین محمد بن عبد الواحدؒ: و المطلقة المؤجلة له علی رجلٍ الف الی سنة فاحال الطالب علیه الی سنة کانت علیه الی سنة و لو حصلت الحوالة مبهمة لم یذکره محمد رحمه اللّٰه و قالوا ینبغی ان تثبت مؤجلة کما فی الکفالة لانهٗ تحمل ما علی الاصیل بای صفة کان. (فتح القدیر ج۶، ص۳۵۵، کتاب الحوالة)

و قال العلامة ابن عابدینؒ: قال فی الفتح تنقم الحوالة المطلقة الی حالة و مؤجلة فالحالة ان یحیل الطالب بالف هی علی المحیل حالة فتکون علی المحتال علیه حالة لان الحوالة تحویل الدَّین فیتحول بصفة التی علی الاصیل و المؤجلة ان تکون الف الی سنة و لو ابهمها ما یذکر محمد و قالوا ینبغی ان تثبت مؤجلة کما فی الکفالة. (رد المحتار ج۵، ص۳۴۹، کتاب الحوالة) و مثله فی منحة الخالق علی هامش البحر الرائق (ج۷، ص۲۴۸، کتاب الحوالة)

په حواله کښې د دائن رضاء ضروري ده

سوال: آیا بل سړي ته د پور د ادا کولو لپاره په حواله کولو کښې د دائن رضاء ضروري ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرض په وصولولو کښې تول خلك یو شی نه دي ځکه د مدیون دائن ته بل سړي ته په حواله کولو کښې دا ضروري دي چه د هغه رایه شامله وي۔ چه داسې نه وي چه داسې سړي ته ئې حواله کړي چه له هغه څخه په وصولولو باندې دائن قدرت و نه لري کوم چه د هغه د پیسو د ضائع کیدو مترادف وي۔

لما قال العلامة المرغینانیؒ: و تصح الحوالة برضاء المحیل و المحتال و المحتال علیه. (الهدایة ج۳، ص۱۲۹، کتاب الحوالة)

و قال العلامة التمرتاشیؒ: و شرط لصحتها رضاء الکل بلا خلافٍ الا فی الاول. (تنویر الابصار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۳۴۱، کتاب الحوالة) ومثله فی تبیین الحقائق (ج۴، ص۱۷۱، کتاب الحوالة)

د حواله کولو نه وروسته له مدیون شخه د قرض د مطالبې حکم

سوال: که چېرته یو سړي د خپل پور ذمه واري په بل سړي باندې واچوي۔ او تر څه وخته پورې هغه د دائن له مطالبې ځخه بې فکره شي لیکن کله چه هغه ته احساس وشي چه نوموړی سړی له تال متول شخه کار اخلي نو آیا دائن له مدیون شخه د خپل قرض مطالبه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه د دین د ادا کولو ذمه واري د دائن په رضا سره په بل چا باندې واچول شي او هغه بل سړی دا ذمه واري قبوله کړې هم وي نو اوس دائن له مدیون شخه د قرض د مطالبې حق نه لري بلکه له محتال علیه شخه (کوم یوه چه ذمه واري قبوله کړې ده) به د قرض مطالبه کوي او مدیون به بري الذمه ګڼل کیږي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و اذا تمت الحوالة برى المحيل من الدّين با لقبول و قال زفرؒ لا يبرء اعتباراً با لكفالة اذ كل واحد منهما عقد توثق و قال و لا يرجع المحتال على المحيل الا ان يتوى حقه. (الهداية ج۳، ص۱۲۹، كتاب الحوالة)

قال العلامة الزيلعیؒ: و برئ المحيل با لقبول من الدّين و قال زفرؒ لا يبرء لان المقصود بها التوثيق و قال ثم اختلفوا فى البراء ة فقال ابو يوسفؒ يبرأ عن المطالبة و الدّين و قال محمدؒ يبرأ عن المطالبة لا عن الدّين. (تبيين الحقائق ج٤، ص۱۷۱، كتاب الحوالة) و مثله فى بدائع الصنائع (ج٦، ص۱۷، كتاب الحوالة)

د مجهول شي ذمه واري اخیستل

سوال: یو سړي له یوه دوکاندار شخه په پور باندې سودا اخلي او د دوکاندار په ده باندې اعتماد او باور نشته۔ یو بل دوکاندار ده ته په هغه باندې اعتماد ورکوي او وایي چه دغه سړي ته په پور باندې سودا ورکوه چه څومره روپۍ ئې کیږي د هغو د ادا کولو ذمه وار زه یم نو آیا د مجهول شي ذمه واري اخیستل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه سړي له خوا شخه د مال ذمه واري اخیستل "کفاله" ده چه په هغه کښې بنیادي شی د همدردي د جذبې دخل وي۔ په داسې امورو کښې معمولي جهل د برداشت وړ وي لهذا په نوموړي صورت کښې د دوهم دوکاندار د اول سړي ذمه وار کیدل صحیح دي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: اما الكفالة با لمال فجائزة معلوما كان المكفول به مجهولا اذا كان دَينا صحيحا مثل ان يقول تكفلت عنه بالف او بما لك عليه او بما يدركك فى هٰذا البيع لان مبنى الكفالة على التوسع فيتحمل فيه الجهالة و على الكفالة با لدرك اجماع و كفٰى به حجّةً. (الهداية ج۳، ص۱۱۷، كتاب الكفالة)

و قال العلامة الكاسانیؒ: و كون المكفول به معلوم الذات فى انواع الكفالات او معلوم القدر فى الدَّين ليس بشرط حتٰى لو كفل باحد شيئين غير عين بان كفل بنفس رجل او بما عليه و هو الف جاز و عليه احدهما ايهما شاء لان هٰذه جهالة مقدور الدفع با لبيان فلا تمنع جواز الكفالة. (بدائع الصنائع ج٦، ص۹، كتاب الكفالة) و مثله فى البحر الرائق (ج٦، ص۲۰٦، كتاب الكفالة)

د کفیل او مکفول عنه تر منځ په ثمن کښې اختلاف

سوال: یوه سړي خپل مدیون ته د قرض د ادا کولو لپاره کوم سړی چه کفیل مقرر کړی وو د هغه له مالك سره په دې خبرې شخړه پیدا شوه چه مالك له ده شخه لس زره روپۍ غواړي او حال دا چه کفیل د پنځه زره روپو په ادا کولو باندې اقرار کوي۔ آیا په داسې حالت کښې د مدیون په لسو زرو روپو باندې په اقرار کولو سره له کفیل شخه زیاتې پیسې اخیستلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په مدیون باندې که چېرته لس زره روپۍ په شواهدو سره ثابتې شي او کفیل د تولې روپۍ ذمه واري قبوله کړې نو د تولې روپۍ ادا کول به په کفیل باندې لازمې وي۔ او که چېرته ګواه نه وي نو د کفیل قول ته به اعتبار ورکول کیږي۔ بیا هم د مکفول عنه دعویٰ په کفیل باندې لازمه نه ده بلکه پخپله به له هغه شخه د اقرار په اعتبار سره پیسې وصولوي۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: فان قال تكفلت بمالك عليه فقامت البينة بالف عليه ضمنه الكفيل لان الثابت با لبينة كا لثابت معاينة فيتحقق ما عليه فيصح الضمان به و ان لم تقم البينة فا لقول قول الكفيل مع يمينه فى مقدار ما يعترف به لانه منكر للزيادة فان اعترف المكفول عنه باكثر من ذٰلك لم يصدق على كفيله لانه اقرار على الغير و لا ولاية لهٗ عليه و يصدق فى حق نفسه لولايته عليها. (الهداية ج۳، ص۱۱۸، كتاب الكفالة)

و قال العلامة ابن نجيم المصریؒ: فان كفل بمالهٖ عليه فبرهن على الف لزمه لان الثابت با لبينة كا لثابت عياناً و لا يكون قول الطالب حجة عليه كما لا يكون حجة على الاصيل لانه مدع. و لا صدق الكفيل فيما اقر بحلفه و لا ينفذ قول المطلوب على الكفيل اى و ان لم يبرهن فا لقول الكفيل فيما يقربه مع يمينه على نفى العلم لا على البينات كما فى الايضاح و لا يكون قول المطلوب حجة عليه لانه اقرار على الغير. (البحر الرائق ج٦، ص۲۲۳، كتاب الكفالة) و مثله فى فتح القدير (ج٦، ص۳۰۳، كتاب الكفالة)

د محتال علیه د رضاء مندي حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما ورور یو څه قرضدار دی او د قرض د ادا کولو او زما له رضاء پرته ما ته حواله کړې ده-------- آیا دائن له ما شخه خپل پور غوښتلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په حواله کښې چونکه د محتال علیه رضاء ضروري ده نو ځکه له رضاء مندۍ پرته په هغه باندې د قرض لپاره رجوع کول صحیح نه دی۔ له دې وجهې دا حواله صحیح نه ده او د دائن د پور غوښتنه له تا شخه شرعاً صحیح نه دی۔

لما قال العلامة الحصكفیؒ: شرط لصحتها رضا الكل بلا خلاف. قال ابن عابدینؒ: قوله رضا الكل و اما رضا الثالث و هو المحتال عليه فلانها الزام الدين و لا لزوم بلا التزام. (رد المحتار ج٤، ص۳۲۲، كتاب الحوالة)

كتاب الهبة

24
24

کتـــاب الهبة

(د هبې احکام او مسائل)

په هبه کښې عرف لـــره اعتبار دی

سوال: د عمر درې زامن دي او درې واړه په لوړو لوړو عهدو باندې کار کوي او په مختلفو ښهرونو کښې د ملازمت په سلسله کښې استوګن دي او له خپلو معاشونو یا تنخواوو څخه هره میاشت یوه مخصوصه اندازه خپل پلار ته لیږي او پلار ئې دا روپۍ په مشترك مصرف باندې مصرف کوي۔ اوس د زامنو ګټلی مال د پلار ملکیت دی او که د هغه د زامنو ملکیت ګڼل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته زامنو ئې د خپلې پیسې متعلق د هبې وغیره تعین نه وي کړی نو د قواعدو له مخې او د "المعروف کا لمشروط" د قانون لاندې چونکه عموما زامن والدینو ته د هبې په توګه پیسې ورکوي نو ځکه دا روپۍ به د پلار ملکیت ګڼل کیږي۔

قال العلامة خیر الدین الرملیؒ: سئل فیما یرسله الشخص الی غیره فی الاعراس و نحوها هل یکون حکمه حکم القرض فیلزم الوفاء به ام لا (اجاب) ان کان العرف قاضیاً بانهم یدفعونه علی وجه البدل یلزم الوفاء به ان مثلیاً فبمثله و ان قیمیا فبقیمته و ان کان العرف بخلاف ذٰلك بان کانوا یدفعونه علی وجه الهبة و لا ینظرون فی ذٰلك الی اعطاء البدل فحکمه حکم الهبة فی سائر احکامه فلا رُجوع فیه بعد الهلاك و الاستهلاك و الاصل فیه ان المعروف عرفاً کا لمشروط شرطا. و اللّٰه اعلم. (فتاوٰی خیریة علی هامش الهندیة ج۲، ص۱۷۳، مطلب وهب ابنه و ابن ابنه محدوداً)

قال العلامة محمد خالد الآتاسیؒ: ففی الفتاوی الخیریة ما نصه سئل فیما یرسله الشخص الی غیره فی الاعراس و نحوها هل یکون حکمه حکم القرض فیلزم الوفاء به ام الا اجاب ان کان العرف بانهم یدفعونه علی وجه البدل یلزم الوفاء به ان مثلیاً فبمثله ان قیمتاً فبقیمته و ان کان العرف بخلاف ذٰلك بان کانوا یدفعونه علی وجه الهبة و لا ینظرون فی ذٰلك الی اعطاء البدل فحکمه حکم الهبة فی سائر احکامه فلا رجوع فیه بعد الهلاك او الاستهلاك و الاصل فیه ان المعروف عرفاً کا لمشروط شرطا. (شرح مجلة الاحکام ج۳، ص٤٠١، الباب الثالث فی بیان احکام الهبة)

و مثله فی فتاوٰی کاملیة ص۱۸۱، کتاب الهبة.

تملیك هم د هبې په شان دی

سوال: که چېرته یو سړي د هبې په وخت کښې د تملیك لفظ استعمال کړي نو آیا په دې صورت کښې هبه او تملیك بیل بیل شیان دي او که دواړه یو دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د لغت په اعتبار سره تملیك عام دی لیکن په موجوده عرف کښې تملیك او هبه دواړه له د یو بل مترادف دي نو ځکه یواځې د تملیك په لفظ سره هبه متصور کیږي۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: هی تملیك العین مجاناً ای بلا عوض. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٥، ص٦٨٧، کتاب الهبة)

قال العلامة محمد آتاسیؒ: الهبة تملیك مال لآخر بلا عوض. (مجلة الاحکام مادة ٨٣٣، ص٤٦٢، الکتاب السابع فی الهبة) و مثله فی کنز الدقائق ص٣٥٢، کتاب الهبة.

د ناقابل تقسیم شیانو د هبې حکم

سوال: کوم شیان چه ناقابل تقسیم دي د هغو هبه څنګه ده؟ د مثال په توګه یوه سړي خپل څناور داسې هبه کړ چه یوه حصه ئې خپل ځان ته پریښوده، درې حصې ئې خپلې ښځې ته هبه کړې او درې حصې ئې ورور ته هبه کړې نو آیا د دې سړي دا هبه صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شیان په دوه قسمه دي یو قابل تقسیم او بل ناقابل تقسیم۔ نو کوم شیان چه د تقسیم قابل دي د هغو شیانو هبه تر تقسیم مخکښې صحیح نه ده او کوم شیان چه د تقسیم قابل نه وي د هغو شیانو هبه شرعا جائزه ده۔ لهذا په نوموړي صورت کښې د دې سړي هبه صحیح ده۔

قال العلامة خوارزمیؒ: هبة المشاع فیما لا یقسم جائزة یعنی به ما لا یحتمل القسمة ای لا یبقی منتفعاً بعد القسمة اصلاً کعبد واحد او دابة واحدة. (الکفایة فی زیل فتح القدیر ج٧، ص٤٨٨، کتاب الهبة)

قال العلامة قاضی خانؒ: و فیما لا یقسم کا لعبد و الدابة و الثوب و الحمام یجوز هبة المشاع من الشریك و غیره فی قولهم. (الفتاوی القاضی خان علی هامش الهندیة ج٣، ص٢٦٧، کتاب الهبة، فصل فی هبة المشاع)

و مثله فی الهدایة ج٣، ص٢٨٥، کتاب الهبة.

د تقسیم وړ شیانو کښې له تقسیم څخه مخکښې هبه صحیح نه ده

سوال: د زید درې زامن، درې لوڼې او دوې ښځې دي۔ هغه پخپل ژوند کښې خپلې ښځې او لوڼو ته د خپل ټول جائداد دوه پر ٣/٢ حصه ورکړه او ٣/١ حصه ئې خپلو زامنو ته هبه کړه کوم چه د دوو میندو زامن دي۔ آیا زامن ء دوباره په شرعي طریقې سره د میراث د تقسیم حق لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د یوه سړي پخپل ژوند کښې پخپلو اولادونو باندې مال تقسیمول هبه ګرځي او ټولو فقهاء کرامو دا تصریح کړې ده چه په قابل تقسیم شیانو کښې له تقسیم نه مخکښې هبه صحیح نه ده۔ پس په صورت مسئوله کښې که چېرته زید د ټول زامن که نه نو په مشترك جائداد کښې ٣/٢ حصه پنځو لوڼو او ښځو ته او یو په درې حصه درې زامنو ته هبه کول صحیح نه دي لهذا د زید د موت نه وروسته ټول جائداد به دوباره ټولو وارثانو باندې تقسیمیږي چه په هغه کښې لوڼې، زامن او دواړه ښځې به هم شریکې وي۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و فی الاصل و من شرائطها الهبة الافراز حتیٰ لا یجوز هبة المشاع فیما یحتمل القسمة کا لبیت و الدار و الارض و نحوها و ان کان لا یحتمل القسمة یجوز کا لبئر و الحمام و الرحی. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص ۳۹۰، کتاب الهبة، الفصل الثالث فیما یکون خطباء و فیما لا یکون)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و ذکر قبله هبة المشاع فیما یقسم لا تفید الملك عند ابی حنیفة و فی القهستانی لا تفید الملك و هو المختار کما فی المضمرات. (رد المحتار ج٥، ص ٦۹۲، کتاب الهبة) و مثله فی بدائع الصنائع ج٦، ص ۱۲۳، کتاب الهبة.

په اجاره باندې ورکړ شوې زمکه چا ته هبه کول

سوال: یوه سړي خپله د اسې زمکه خپل زوی یا لور ته هبه کړه چه له ډیر وخت څخه د دهقان په لاس کښې ده او د دهقان سره په شوې معاهدې کښې تر اوسه ډېر وخت پاتې دی نو آیا په د اسې صورت کښې موهوب له د ا دهقان له زمکې څخه بې دخله کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بالغ یا نابالغ اولاد ته جائداد، منقوله یا غیر منقوله شیان هبه کول صحیح دي او په هبه سره د هغوی په ملکیت کښې هم د اخلیږي۔ لیکن په اجاره باندې د ورکړ شوې زمکې سره د مزارع یا دهقان د حق د متعلق کیدو په وجه سره زمکه ناقابل تملیك ګرځي کوم چه د هبې د صحت لپاره بنیادي شرط دی نو ځکه په صورت مسئوله کښې د دې زمکې هبه د شرط د نه موجود والي په خاطر صحیح نه ده۔ له دې وجه د عدم صحت په بناء سره موهوب له مزارع نه شي بې دخله کولی۔

قال العلامة محمد کامل الطرابلسی رحمه اللّٰه: سئلت عن رجل وهب لابنه الصغیر دارا و فیها ساکن باجر هل تجوز هٰذه الهبة فا لجواب انها لا تجوز قال فی الهندیة رجل وهب داراً لابنه الصغیر و فیها ساکن باجر قال یعنی محمد لا تجوز. (فتاوىٰ کاملیة ص ۱۸۱، کتاب الهبة)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و فی المنتقی عند محمدؒ رجل وهب داراً لابنه الصغیر و فیها ساکن باجر قال لا یجوز و لو کان بغیر اجر او کان فیها یعنی الواهب فا لهبة جائزة کذا فی التتارخانیة. (منحة الخالق علی البحر الرائق ج٧، ص۲۸۸، کتاب الهبة) و مثله فی فتاوىٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ج٦، ص۲۳۸.

د موهوبه زمکې په حکومتي کاغذ اتو کښې د انتقال حکم

سوال: زید خپله ملکیتي لس جریبه زمکه بکر ته هبه کړه لیکن په حکومتي کاغذ اتو کښې ئې تر اوسه پورې انتقال نه دی شوی نو آیا بکر د موهوبه زمکې مالك ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د هبې د صحت لپاره د دریو امورو وجود ضروري دی اول ایجاب، دوهم قبول، دریم قبض۔ لهذا که چیرته په باقاعده توګه سره د دغو دریو امورو په لحاظ ساتلو سره هبه شوې وي نو بې له شك او شبهې څخه بکر د زمکې مالك دی او په سرکاري کاغذ اتو

کښې په انتقال او نه انتقال شرعا په هبه باندې کوم فرق اچوي۔

قال العلامة خالد الآتاسیؒ: تنعقد الهبة با لایجاب و القبول و تتم با لقبول. (مجلة الاحکام مادة ۸۳۷، ص ٤٦۲، الفصل الاول فی بیان المسائل المتعلقة برکن الهبة و قبضها)

قال الامام قدوریؒ: الهبة تصح با لایجاب و القبول و تتم با لقبض. (مختصر القدوری ص ۱٤۳، کتاب الهبة) و مثله فی کنز الدقائق ص ۳٥۲، کتاب الهبة.

د عمرىٰ هبه د رجوع وړ نه ده

سوال: دریو ورونو د جائداد د تقسیم په وخت کښې له خپلو حصو څخه خپلې مور ته د ضروریاتو د پوره کولو لپاره دوه جریبه زمکه ورکړې وه او مور ئې هغه زمکه خپل لمسي (خالد) ته هبه کړه۔ اوس د مور د وفات نه وروسته د هغې زامن نوموړې زمکه له خالد څخه بیرته اخیستل غواړي نو آیا د دوی دا عمل د شریعت له مخې جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا معامله د عمرىٰ د هبې ده۔ معمر لهٗ (والده) د ذکر شوې دوه جریبه زمکې خود مختاره مالکه ګرځیدلې ده۔ له دې وجهې لمسي ته د هغې هبه جائزه ده او د زامنو رجوع ئې مردوده ده۔

قال العلامة ابن نجیمؒ: (و اعمرتك هٰذا الشیء) لان العمرىٰ تملیك للحال فتثبت الهبة و یبطل ما اقتضاه من شرط الرجوع و کذٰلك لو شرط الرجوع صریحاً یبطل شرطه ایضاً. (البحر الرائق ج٧، ص ۲۸٥، کتاب الهبة)

قال العلامة ابو بکر ابن حداد الیمنی رحمه اللّٰه: و العمرىٰ جائزة للمعمر فی حال حیاته و لورثته من بعد موته) و معناه ان یجعل داره له عمره و اذا مات یردّ بها علیه فیصح التملیك و یبطل الشرط و الهبة لا تبطل با لشرط الفاسدة. (الجوهرة النیرة ج۲، ص۱۸، کتاب الهبة) و مثله فی الهدایة ج۳، ص ۲۸٤، کتاب الهبة.

د موت او عوض له وجې د رجوع حق ساقطیږي

سوال: زید بکر ته خپله ځمکه عوضاً هبه کړه او وروسته هغه مړ شو۔ اوس د دیرشو کالو نه وروسته د زید وارثان له بکر څخه د هغې زمکې د واپسي مطالبه کوي نو آیا هغه ته شرعا د رجوع حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د عوض په اخیستلو او یا په متعاقدینو کښې د یوه په موت سره د رجوع حق ساقطیږي له دې وجهې په نوموړي صورت کښې د زید وارثانو ته د ځمکې د واپس کولو حق نشته بلکه زمکه به د بکر په ملکیت کښې پاتې کیږي۔

قال العلامة ابو البرکات النسفی رحمه اللّٰه: صح الرجوع فیها و منع الرجوع دمع خزقه فا لدال الزیادة المتصلة کا لغرس و البناء و السمن و المیم موت احد المتعاقدین و العین العوض. (کنز الدقائق ص ۳٥٤، کتاب الهبة)

قال الامام القدوری رحمه اللّٰه: او اذا وهب لاجنبی هبة فله الرجوع فیها الا ان یعوضه عنها او یزید زیادة متصلة او یموت احد المتعاقدین. (مختصر القدوری ص ۱٤٤، کتاب الهبة) و مثله فی رد المحتار ج٥، ص ٦۹۹، کتاب الهبة.

د څو کسانو یوه سړي ته د کوم شي هبه کول

سوال: د جاوید او خالد یو کور په شریکه دی او دواړه ئې په رضاء او رغبت سره د عامر په نامه سره هبه کوي نو آیا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مشترکه جائداد کښې د اشتراك په وجه سره چېرته د یوه شریك خپله حصه بې له تقسیم نه چا ته هبه کول صحیح نه دی لیکن کله چه د شیوع دا صورت له منځه ووځي نو د مشترکه جائداد د رائې په اتفاق سره په هبه کولو کښې هیڅ قباحت نشته۔ نو له دې وجهې په نوموړي صورت کښې هبه صحیح او درسته ده۔

قال العلامة الحصکفیؒ: (وهب اثنان دارا لواحد صح) لعدم الشیوع. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۶۹۷، کتاب الهبة)

قال العلامة المرغینانیؒ: و اذا وهب اثنان من واحد داراً جاز لانهما سلّماها جملة و هو قد قبضها جملة فلا شیوع و ان وهبها واحد من اثنین لا یجوز عند ابی حنیفة. (الهدایة ج۳، ص۲۸۸، کتاب الهبة)

و مثله فی کنز الدقائق ص ۳۵۴، کتاب الهبة.

د هبې لپاره په ایجاب او قبول باندې تلفظ ضروري نه ده بلکه یو اځې قرائن هم کافي دي

سوال: د زید پنځه زامن دي چه په هغو کښې ئې خپلو دریو زامنو یعنې عمرو بکر او خالد په ژواند انه کښې ودونه وکړل او هر یوه ته ئې د اوسیدلو لپاره بیل بیل کورونه ورکړل او د زید دا عادت دی چه کوم شی چا ته ورکړي نو بیا ئې واپس نه ورنه غواړي۔ د زید د نوموړي دریو زامنو سره د هغه څه ګینه هم شته۔ کله چه عمر وغوښت چه خپل پلار (زید) ته د هغه ګینه واپس کړي نو هغه نوموړي ګینې عمر ته واپس ورکړل او ورته وئې ویل چه دا زیورات ستا دي او کوم زیورات چه ستا له نورو ورونو سره دي هغه دې د هغو وي۔ نو په دې صورت کښې د شریعت له مخې نوموړي کورونه او زیورات د پنځو واړو ورونو په منځ کښې به مشترك ګڼل کیږي او که یو اځې به د عمر، بکر او خالد ملکیت وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې په داسې حال کښې چه زید خپلو دریو زامنو (عمر، بکر او خالد) ته بیل بیل کورونه ورکړي دي اګر که زید په صراحت سره د هبې لفظ نه دی ذکر کړی لیکن ظاهري قراین په دې باندې دلالت کوي چه دا هبه ده او په هبې کښې تملیك د قرینې لپاره کافي دی۔ له دې وجهې دا شرعا هبه ده نو ځکه د زید له وفات څخه وروسته په دې کښې د نورو ترکه وو په شان میراث نه جاري کیږي بلکه دا به د هغو دریو ورونو ملکیت وي او د خپل پلار په نوره ترکه کښې به پنځه ورونه برابر سره شریك وي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قلتُ فقد افاد ان التلفظ با لایجاب و القبول لا یشترط بل تکفی القرائن

الدالة علی التملیك کمن دفع لفقیر شیئاً و قبضه و لم یتلفظ واحد منهما بشیء. (رد المحتار ج۵، ص۶۸۸، کتاب الهبة)

قال العلامة الکاسانی رحمه الله: و الاذن نوعان صریح و دلالة (الی ان قال) و اما الدلالة فهی ان یقبض الموهوب لهٗ العین فی المجلس و لا ینهاه الواجب فیجوز قبضه استحساناً. (بدائع الصنائع ج۶، ص۱۲۴، کتاب الهبة، فصل و اما الشرائط فانواع بعضها یرجع الی نفس الرکن) و مثله فی مجلة الاحکام مادة ۸۴۲، ص۴۶۴، کتاب الهبة.

والدینو ته د خپل اولاد د مال هبه کول جائز نه دي

سوال: سلمٰی د خپل میړه د وفات نه وروسته خپله ټوله زمکه خپلو دوو ورونو ته هبه کړه او خپلې یو اځنی لور سکینې ته چه نابالغه وه څه نه پرېښودل۔ اوس چونکه سکینه بالغه شوې ده نو د خپل والد په ترکه کښې د خپلې شرعي حصې مطالبه کوي۔ آیا د سکینې دا مطالبه جائزه ده او که نه او حال دا چه د هغې مور د خپل میړه ټوله زمکه هبه کړې ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د هبې د صحت لپاره دا ضروري ده چه هغه موهوبه شی د واهب ذاتي ملکیت وي او په هغه کښې د بل چا حصه نه وي۔ د شریعت له مخې د بل چا حصه د هغه له اجازې څخه پرته د هبې کولو هیچا ته هم اختیار نشته۔ اګر د خپل اولاد هم وي۔ بناء پر دې په نوموړي صورت کښې سلمٰی خپله حصه چه په میراث کښې ورته پاتې ده هغه هبه کولی شي او د سکینې حصه نه شي هبه کولی له دې وجهې د سکینې مطالبه او غوښتنه صحیح او جائزه ده۔

قال العلامة قاضی خانؒ: و لا یجوز للاب ان یهب شیئاً من مال ولده الصغیر بعوض و غیر عوض لانها تبرع ابتداءً. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۲۸۰، فصل فی هبة الوالد لولده و العصبة للصغیر، کتاب الهبة)

قال العلامة ابن البزازؒ: لا یجوز الهبة لابنه الصغیر ایضاً کما لا یجوز للبائع. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۲۳۸، کتاب الهبة، الجنس الثالث فی هبة الصغیر)

و مثله فی ردّ المحتار علی الدر المختار ج۵، ص۶۸۷، کتاب الهبة.

په فاسدو شرطونو سره هبه نه فاسد یږي

سوال: یوه خور خپلو ورونو ته خپله زمکه په دې شرط سره په هبه ورکړه چه د دې د موهوبه زمکې په عوض کښې به ورور هغې ته څه نوره زمکه ورکوي نو آیا دا هبه شرعا صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه دغه عوض مجهول القدره دی او فاسد شرط دی لهذا هبه صحیح ده او په ورونو باندې په عوض کښې خور ته د زمکې ورکول نه لازمیږي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: (او) حکمها انها لا تبطل با لشروط الفاسدة) فهبة عبد لی ان یعتقد تصح و یبطل الشرط. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۶۸۸، کتاب الهبة)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و الهبة لا تبطل با لشروط الفاسدة فدخل فیه کل عقد لا یبطل با لشروط الفاسدة کا

لنکاح و الخلع و الصدقة و الصلح عن دم العمد و العتق فیصح و یبطل الاستثناء. (البحر الرائق ج۷، ص۲۹۶، کتاب الهبة، فصل و من وهب امة الا حملها) و مثله فی بدائع الصنائع ج۶، ص۱۱۷، کتاب الهبة.

د مشروطې هبې حکم

سوال: زید عمرو ته په دې شرط باندې په هبې باندې زمکه ورکړه چه هغه به تر خپل ژوند پورې د زید خدمت کوي لیکن عمر له څه وخت څخه وروسته د زید خدمت پرېښود۔ نو آیا د خدمت د نه کولو په وجه سره زید ته د موهوبه زمکې د واپس اخیستلو حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د احنافو په نزد په هبه کښې رجوع کول صحیح او جائز دي لیکن له کراهت څخه خالي نه ده لیکن کله ئې چه هبه له شرط سره معلقه کړې وي نو د شرط د نه موجودوالي په صورت کښې رجوع کول بې له کراهت څخه جائز دي اګر که په نورو الفاظو باندې هبه منعقده شوې هم نه ده۔

قال العلّامة قاضی خان رحمه اللّٰه: و الدلیل علی هٰذا ما ذکر فی کتاب الحج اذا ترکت المرأة مهرها علی الزوج علی ان یحج بها و قبل الزوج ذٰلك و لم یحج بها کان المهر علیه علی حاله و الفتوٰی علی هٰذا القول. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۲۸۲، کتاب الهبة، فصل فی هبة المرأة مهرها من الزوج)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشدی البخاری رحمه اللّٰه: و الهبة لا تصح بدون الرضاء و علی هٰذا لو قال وهبت مهری منك علی ان لا تظلمنی و علی انْ یحج بی او علی ان یهب لی کذا و ان لم یکن هذا شرطاً فی الهبة لا یعود المهر. (خلاصة الفتاوٰی ج۴، ص۳۹۶، کتاب الهبة، فی الجنس الثانی)

و مثله فی شرح المجلة للعلامة محمد خالد الآتاسیؒ ج۳، ص۳۶۸، کتاب الهبة، الفصل الاول فی بیان المسائل المتعلقة برکن الهبة و قبضها.

له هبې څخه د رجوع کولو مسئله

سوال: آیا واهب له موهوب له، څخه د هبه کړل شوي شي د واپسۍ مطالبه کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د واهب او موهوب له، په رضا سره او یا که حاکم ئې د واپسي حکم وکړي او نور موانع هم موجود نه وي نو رجوع جائزه ده لیکن له کراهت څخه خالي نه ده ورنه په بل صورت رجوع کول حرام دي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (صح الرجوع فیها بعد القبض) اما قبله فلم تتم الهبة (مع انتفاع مانعه) الآتی (و ان کره) الرجوع (تحریما) و قیل تنزیها. (رد المحتار ج۵، ص۶۹۸، کتاب الهبة، باب الرجوع فی الهبة)

قال العلامة محمد خالد الآتاسیؒ: للواهب ان یرجع عن الهبة و الهدیة بعد القبض برضی الموهوب لهٗ و ان لم یرض الموهوب له راجع الواهب الحاکم و للحاکم فسخ الهبة ان لم یکن ثمة مانع من موانع الرجوع. (شرح مجلة

الاحکام، مادة ۸۶۴، ص۴۷۵، الباب الثالث فی احکام الهبة)

مثله فی الخانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص۲۷۵، فصل فی الرجوع فی الهبة.

د موهوبه زمکې د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! آیا موهوب له، موهوبه زمکه پلورلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په باقاعده توګه شرعي هبه شوې وي نو موهوب له، د هغه خود مختاره مالك دی۔ په هغه کښې هغه ته هر ډول د مالکانه تصرفاتو حق حاصل دی۔

قال العلامة ابو بکر الکاسانی رحمه اللّٰه: و اما اصل الحکم فهو ثبوت الملك للموهوب له فی الموهوب من غیر عوض. (بدائع الصنائع ج۶، ص۱۲۷، فصل و اما حکم الهبة فالکلام فیه فی ثلاث مواضع)

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (هی تملیك العین مجاناً) ای بلا عوض. (رد المحتار ج۵، ص۶۸۷، کتاب الهبة) و مثله فی کنز الدقائق ص۳۵۲، کتاب الهبة.

خپلوانو ته د څه شي په هبه کولو سره د رجوع حق له منځه ځي

سوال: والد خپل تول جائداد خپل زوی ته هبه کړ نو آیا والد ته اوس د رجوع حق حاصل دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته یو څوك خپل زوی ته څه شی هبه کړي اګر که دا هبه ---- تملیك بلا عوض شوی وي نو په دې صورت کښې هم رجوع جائزه نه ده لهذا والد له خپل زوی څخه د هبې د بیرته اخیستلو حق نه لري۔

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: و ان وهب هبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها لقوله علیه السلام اذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها. رواه البیهقی. (الهدایة ج۳، ص۲۸۷، کتاب الهبة، باب ما یصلح رجوعه و ما لا یصلح)

قال العلامة ابو البرکات النسفیؒ: فلو وهب لذی رحم محرم منه لا یرجع فیها. (کنز الدقائق ص۳۵۵، کتاب الهبة) و مثله فی مجلة الاحکام مادة ۸۶۶، ص۴۷۶، کتاب الهبة، الباب الثالث فی احکام الهبة.

ځینې اولادونو ته د څه شي په هبې کښې د تفاضل حکم

سوال: آیا یوه سړي ته دا جائزه ده چه خپلو ځینو زامنو ته په هبه کښې زیات څه ورکړي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته یو سړي پخپل ژوند کښې د هوش، حواسو د صحت په حالت کښې خپل تول جائداد خپل ځینې اولاد ته هبه کړي او ځینې محروم پرېږدي او په دې سره محروم اولاد ته د اضرار (تکلیف ورکولو) او بې له کومې وجهې محرومول مقصد وي۔ نو اګر که قضاءً دا هبه نافذه کیږي لیکن دیانتاً ګناهګاریږي۔ او که چېرته د یوه شرعي عذر مثلاً ایذا رساني، ظلم، زیاتي او د نافرمانۍ په وجه سره ئې محروم کړي وي نو نه ګنهګاریږي بلکه د

قوت له اندازې نه زیات ورکول نه دي په کارتر څو چه اعانت علی المعصیت لازم را نه شي لیکن قضاءً په هر صورت کښې هبه نافذیږي۔ او که چېرته د تفاضل وجه موجوده نه وي نو د نر او ښځې تر منځ تفاضل افضل دی۔

قال العلامة ابن البزاز الکندیؒ: الافضل فی هبة الابن و البنت التثلیث کا لمیراث و عند الثانی التضیف و هو المختار و لو وهب جمیع ماله من ابنه جاز و هو آثم نص علیه محمدؒ و لو خص بعض اولاده لزیادة رشده لا بأس به و ان کانا سواء لا یفعله و ان اراد ان یصرف ماله الی الخیر و ابنه فاسق فا لصرف الی الخیر افضل من ترکه لانه اعانه علی المعصیة و کذا لو کان ابنه فاسقاً لا یعطیه اکثر من قوته. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۲۳۷، الجنس الثالث فی هبة الصغیر)

قال العلامة القاضی خانؒ: و روی المعلیؒ عن ابی یوسفؒ: انه لا بأس به اذا لم یقصد به الاضرار و ان قصد به الاضرار سوی بینهم یعطی للابنة مثل ما یعطی للابن. (الفتاوی القاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۲۷۹، فصل فی هبة الوالد لولده) و مثله فی البحر الرائق ج۷، ص۲۸۸، کتاب الهبة.

د هبې لپاره د واهب رضاء ضروري ده

سوال: پلار خپلې لور ته په هبې باندې څه سامان او څه نقدې روپۍ ورکړې لور ئې د خپل ضرورت په اندازې ترې څه واخیستل او پاتې ئې خپل پلار ته هبه کړل نو آیا شرعاً د اسې کول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دا هبه بې له کوم جبر او اکراه څخه پخپلې خوښۍ او رضا سره وي نو شرعاً صحیح ده ځکه چه مهر مسمٰی معجل له قبض څخه وروسته د ښځې ملك ګرځي او په هغه کښې د هغې تصرف نافذ دی۔

قال العلامة محمد خالد الآتاسی رحمه اللّٰه: یلزم فی الهبة رضا الواهب فلا تصح الهبة التی وقعت با لجبر و الاکراه. (مجلة الاحکام مادة ۸۶۰، ص۴۷۲، الباب الثانی فی شرائط الهبة)

قال العلامة ابن البزاز الکندی رحمه اللّٰه: قال لها و هی لا تعلم العربیة قولی وهبت مهری منك فقالت وهبت لا تصح بخلاف الطلاق و العتاق لان الرضا شرط جواز الهبة. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۲۳۵، نوع فی هبة المهر و غیره) و مثله فی الخانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص۲۸۱، فصل فی هبة المرأة مهرها من الزوج.

د مرګ په مرض کښې شوې هبه صحیح نه ده

سوال: یوه سړي خپل تول جائداد خپلو لونو او ښځې ته ورکړ یعني پرته ---- له زامنو څخه ئې تول په خپلو لونړو او ښځې تقسیم کړ او په زامنو کښې ئې یوه زوی د جائداد د تقسیم په وخت کښې نابالغ هم وو او موجود هم نه وو۔ اوس هغه نابالغ هلك چه بالغ شوی دی په دې تقسیم باندې بالکل راضي نه دی نو آیا شریعت ده ته اجازه ورکوي چه له سره تقسیم وکړي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا د میراث تقسیم نه دی بلکه هبه ده او په مرض الموت کښې شوې هبه کالعدم ده ترڅو پورې چه تول وارثان په دې باندې راضي نه وي نو نه جاري کیږي۔ او دلته یو بل مانع هم موجود دی چه یو هلك په هغو کښې نابالغ دی او نابالغ د رضا اهل نه دی ځکه دا تقسیم او هبه صحیح نه ده له دې وجهې په تولو وارثانو باندې به د میراث له قاعدې سره سم دا ترکه له سره تقسیمیږي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: وهب فی مرضه و لم یسلم حتٰی مات بطلت الهبة لانهٗ و ان کان وصیة حتٰی اعتبر فیه الثلث فهو هبة حقیقة فیحتاج الی القبض. (رد المحتار علی الدر المختار ج۵، ص۷۰۰، باب الرجوع فی الهبة) (فروع)

قال العلامة محمد خالد الآتاسی رحمه اللّٰه: و اذا وهب واحد فی مرض موته شیئاً لاحد ورثته و بعد وفاته لم یجز سائر الورثة لا تصح تلك الهبة. (شرح مجلة الاحکام مادة ۸۷۹، ص۴۸۳، الفصل الثانی فی هبة المریض) و مثله فی الهدایة ج۴، ص۶۵۷، کتاب الوصایا.

لمسي ته د زمکې د هبه کولو نه وروسته پخپله په هغې باندې د قابض کیدو حکم

سوال: زما پلار زما د نیکه په ژوند کښې وفات شوی وو نو زما نیکه لس جریبه زمکه زما په نامه باندې کړه لیکن دا زمکه زما د نیکه تر مرګه پورې د هغه په قبضه کښې وه نو آیا زه اوس د خپلو ترونو څخه د زمکې مطالبه او غوښتنه کولی شم او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د هبې د صحت لپاره دا ضروري ده چه واهب هغه موهوبه شی د موهوب لهٗ په قبضه کښې ورکړي۔ ترڅو پورې چه په هبه شوي شي باندې قبضه نه وي شوې تر هغو پورې هبه تامه نه ګرځي۔ په نوموړي صورت کښې چونکه هبه تامه شوې نه ده نو ځکه د نیکه له وفات نه وروسته د هغه تول جائداد د هغه د زامنو یعنې ستا د ترونو دی او تا ته شرعاً دا دې حق حاصل نه دی۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و ان وهب له اجنبی تتم بقبض ولیه و هو احد اربعة الاب ثم وصیه ثم الجد ثم وصیه. و قال ایضاً و تتم الهبة با لقبض الکامل فیشترط القبض قبل الموت. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۵، ص۶۹۵/۶۹۶، کتاب الهبة)

قال المفتی عزیز الرحمٰنؒ: په دې صورت کښې هبه صحیح نه ده او مال به په وارثانو تقسیمیږي۔ (عزیز الفتاوٰی الشهیر بفتاوٰی دار العلوم دیوبند ج۱، ص۶۷۸، کتاب الهبة)

د غلا مال که چا ته هبه شي نو اصل مالك ته ئې واپس کول واجب دي

سوال: یوه سړي چا ته غلا شوی مال هبه کړ له څه وخت نه وروسته د هغه مال اصلي مالك هم راغی او له موهوب لهٗ څخه ئې د خپل مال د واپسي غوښتنه وکړه لیکن هغه ورته وویل چه

د ا مال ماته فلاني سړي هبه كړی دی او ته ئې له هغه څخه وغواړه او له واپس كولو څخه ئې انكار وكړ۔ اوس سوال دا دی چه آيا د اصلي مالك د موهوب له، څخه د خپل هبه شوي شي غوښتل صحيح دي او آيا د هغه په ذمه د مال واپس كول ضروري دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چېرته يو څوك د غلا مال خپلوانو او يارانو ته هبه كړي وي او وروسته د هغه اصلي مالك راشي نو موهوبه شوي شيان به اصلي مالك ته واپس كيږي او له دواړو څخه مطالبه صحيح ده۔ البته له چاسره چه هغه مال موجود دی په هغه باندې ئې واپس كول واجب دي۔

لما قال العلامه اشرف علي تهانوي: سوال: زيد له عمرو څخه يو شی پټ كړ او بكر ته ئې هبه كړ او بكر خالد ته هبه كړ اوس معلومه شوه چه زيد غلا كړی وو۔ په دې حالت كښې د مسروقه شي ادا كول په چا باندې واجبيږي؟ بينوا توجرو۔

الجواب: له چاسره چه اوس دا شی موجود وي په هغه باندې ئې واپس كول واجب دي او كه چيرته هغه خبر نه وو نو څوك چه خبر وي په هغه باندې ئې خبرول واجب دي او كه چيرته همدا صاحب خبر ته په هبې كښې هم دخل وي نو په هغه باندې ئې استخلاص او استرداد كښې سعی هم واجبه ده۔ (امداد الفتاوٰی ج۳، ص۴۷۵، كتاب الهبه)

قرائن هم د هبې د تكميل لپاره كافي دي

سوال: جناب مفتي صاحب! زما مشر ورور د لور د ودولو لپاره ما ته څه پيسې راكړې، ما هغه پيسې د لور په واده باندې ولګولې او د دې خبرې تقريبا شل كاله كيږي۔ او په همدومره مودې كښې زما مشر ورور د پيسو د واپسي تقاضا و نه كړه او دلته دا هم ياد ساتل په كار دي چه كله مشر ورور ما ته پيسې راكولې نو د قرض يا واپسي او د اسې نورو ئې هيڅ تصريح او وضاحت نه و نه كړ او نه هغه ته د واپسي اميد وو۔ اوس د هغه اولاد له ما څخه پيسې غواړي او حال دا چه مشر ورور مې اوس مړ دی نو آيا شرعا زما د وريرونو دا غوښتنه صحيح ده او كه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د هبې د تكميل لپاره ايجاب او قبول يعنې د هبې تصريح ضروري نه ده۔ قرائن هم د تلفظ قائم مقام ګرځيدلی شي۔ د ذكر شوي صورت مطابق تر شلو كلونو پوې د ورور نه غوښتنه او مطالبه او تاسو ته پيسې دركول او د واپسي اميد نه لرل او نه په پور باندې تصريح كول دا تولې خبرې په دې باندې دلالت كوي چه تا ته مشر ورور د لور د واده لپاره چه كومې پيسې دركړي دي هغه ئې د هبې په توګه دركړي دي نو ځكه ئې اوس اولاد ته د پيسو د واپسی د غوښتنې هيح حق حاصل نه دی۔

لما قال العلامة الحصكفيؒ: قلت فقد افاد ان التلفظ با لايجاب و القبول لا يشترط بل تفكى القرائن الدالة على التمليك لكن دفع الى الفقير شيئاً و قبضه و لم يتلفظ واحد منهما شیء. (الدر المختارعلى هامش رد المحتار ج٤، ص٥٠٨، كتاب الهبة)

قال العلامة داماد آفندیؒ: قالوا لو وضع ماله فی طريق ليكون ملكاً لرافع جاز فلا يشترط التصريح با لهبة. (الدر المنتقى فی شرح الملتقى فی ذيل مجمع الانهر ج٣، ص٤٩٠، كتاب الهبة)

و مثله فی امداد الفتاوٰی ج٣، ص٤٦٦، كتاب الهبة.

د ښځې لپاره د هبه شوي حق مهر له هبې څخه رجوع كول

سوال: يوه ښځه خپل د مهر حق ميړه ته هبه كړ له څو كلونو څخه وروسته د يوې كورنۍ شخړې په وجه سره اوس ښځه له خپل ميړه څخه د مهر مطالبه او غوښتنه كوي نو آيا شرعا د هغې دا غوښتنه صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زوجينو رشته د خپلولي رشته ده په هغو كښې چه كوم يو هم و بل ته كوم شی هبه كړي نو وروسته هغه ته د رجوع كولو اختيار نشته۔ په دې صورت كښې هم چه كله ښځه يو وارې خپل مهر ميړه ته هبه كړی دی نو اوس هغې ته د رجوع هيڅ حق حاصل نه دی۔

لما قال العلامة المرغينانیؒ: و كذٰلك ما وهب احد الزوجين للآخر لان المقصود فيها الصلة كما فی القرابة. (الهداية ج٣، ص٢٧٤، كتاب الهبة)

لما فی الهندية: اذا وهب احد الزوجين لصاحبه لا يرجع فی الهبة و ان انقطع النكاح بينهما. (الفتاوی الهندية ج٤، ص٣٨٦، كتاب الهبة، فصل رجوع فی الهبة)

د كوچنيانو په مـــــال كښې تصرف كول

سوال: په ځينې اروپايي ملكونو كښې مثلا په برطانيه كښې د نابالغو بچيانو لپاره د حكومت له خوا څخه څه وظيفه مقرريږي كوم چه يوائې د بچيانو په تعليم او تربيې باندې مصرف كيږي اوس كه چېرته والدين په هغو باندې قبضه وكړي او څه شی پرې واخلي او خپل كوم ملګري يا خپل ته ئې په تحفه كښې وركړي نو آيا شرعا والدينو ته دا حق حاصل دی او كه نه او هغوی به د دې شي ضامن وي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كومه وظيفه چه د بچيانو د تعليم او تربيې لپاره حكومت مقرر كړې وي نو هغه يوائې د بچيانو حق وي هغه به يوائې د بچيانو په ساتنې او تعليم او تربيې باندې مصرف كيږي۔ د وظيفې دا روپۍ د والدينو په لاسونو كښې امانت دي او د والدينو لپاره جائز نه دی چه بې له كوم شرعي عذر څخه ئې، پخپلو ځانونو باندې مصرف كړي او يا ئې څوك خپلو او دوستانو ته د تحفې په توګه وركړي او كه چېرته ئې د اسې وكړل نو هغوی به ضامن وي۔

لما قال العلامة الحصكفیؒ: و لا يجوز ان يهب شيئاً من مال طفله و لو بعوض. (الدر المختار على هامشؒ رد المحتار ج٤، ص٧٠٧، كتاب الهبة، قبل باب الرجوع فی الهبة)

لما قال العلامة اشرف على التهانویؒ: مور، پلار او د اسې نورو ته د بچيانو مال چا ته په قرض وركول هم صحيح نه دي او پخپله په قرض اخيستل هم صحيح نه دي۔ (بهشتي زيور ص٣٩٩، بچيانو د وركولو بيان، كتاب الهبه و الاجاره)

د بې اولاده سړي لپاره پخپل ژوند کښې د خپل مال د تقسیمولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زه یو مریض او زوړ سړی یم او هیڅ یو اولاد مې نشته یوائې یوه زړه ښځه لرم او حال دا چه زما دوه وریرونه دي چه یو مې د مشر ورور زوی دی او بل مې د کشر ورور زوی دې او دا مې اراده ده چه پخپل ژوند کښې خپله سرمایه او جائداد په هغو باندې تقسیم کړم نو له تاسو څخه هیله کوم چه د اسلامي شریعت په رڼا کښې زما لارښوونه وکړۍ؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته تاسو خپله سرمایه پخپل ژوند کښې پخپلو وارثانو باندې تقسیمول غواړۍ نو شرعا تاته د دې اختیار شته چه څومره غواړې پخپلو وارثانو باندې ئې تقسیمولی شې لیکن د دې بهتره طریقه دا ده چه ته د خپل ټول مال یوه په څلورمه حصه د خپلې ښځې په نامه کړې او پاتې مال په دوو برابرو برخو ووېشې او هر یوه وراره ته یوه یوه برخه ورکړې او که چېرته د دې مال څخه د خپل ځان لپاره وغواړې چه څه پرېږدې نو په دې کښې هیڅ بدي نشته۔ لیکن د دې خبرې خیال وساته چه د دواړو وریرونو خپلې خپلې حصې د هغو په قبضه کښې ورکول ضروري دي او که نه وي نو بیا هبه تامه نه ګرځي۔

لما قال العلامة ابراهیم الحلبیؒ: هی تملیك عین بلا عوض و تصح بایجاب و قبول و تتم با لقبض الکامل فان قبض فی المجلس بلا اذن صح و بعده لا بد من الاذن. (ملتقی الابحر علی صدر مجمع الانهر ج۳، ص۴۸۹، کتاب الهبة)

یوائې په اندراج سره هبه تامه نه ګرځي

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ والد صاحب د حکومتي ملازمت په دوران کښې څه زمکه اخیستې وه لیکن د ځینې قانوني مشکلاتو په وجه سره هغه د دې زمکې انتقال د خپلو دوو زامنو په نامه کړی وو لیکن تر آخره پورې ئې زمکه د دوی په قبضه کښې نه وه ورکړې او تر مرګه ئې پخپله متصرف وو۔ د والد صاحب د وفات نه وروسته دواړه ورونه هغه په نوم شوې زمکه خپله موهوبه زمکه ګڼي او نورو خویندو ورونو ته ترې د حصې ورکولو ته تیار نه دي نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا شرعا واقعي دا په نامه انتقال شوې زمکه د هغوی موهوبه زمکه ده او په دې کښې د نورو وارثانو هیڅ حق نشته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په هبه کښې لکه څرنګه چه ایجاب او قبول ضروري دي نو همدارنګه د هبې د تام والي لپاره په موهوبه شي باندې قابض کېدل هم لازمي عمل دی۔ پرته له قبضې څخه یوائې په ایجاب او قبول یا په کاغذي او دفتري کاروایي باندې هبه تامه نه شي ګرځیدلی۔ همدارنګه ستا والد صاهب چه د هغه اخیستل شوې زمکې د قانوني مشکلاتو په وجه سره د مصلحت په توګه د خپلو دوو زامنو په نامه انتقال کړی وو او تر آخره وخته پورې ئې د هغو په قبضه کښې نه وه ورکړې نو له دې وجهې هبه تامه شوې نه ده۔ د نوموړي د وفات نه وروسته ټول وارثان د شرعي مطابق په نوموړې زمکه کښې برابر شریک دي د کومو دوو ورونو

په نامه باندې چه کوم انتقال شوی دی د هغه په وجه نور وارثان د خپلو حقوقو څخه د محرومولو هغوی ته شرعا هیڅ حق حاصل نه دی۔

لما قال العلامه اشرف علي تهانويؒ: الجواب: په دې صورت کښې عمرو د جائداد د حفاظت لپاره یوه حیله جوړه کړې ده نو زید په هیڅ طریقې سره د دې جائداد مالك نه شي جوړیدلی ځکه چه نه د حاکم استیلاء په دې جائداد باندې پیدا شوې ده چه دا ووایو چه د حاکم له خوا څخه به دا د زید ملکیت وي او نه قبضه د زید په دې جائداد باندې مالکانه مېندل شوې ده۔ (امداد الفتاوی ج۳، ص۴۱٤، کتاب الدعوی)

یوائې د منافعو د حصول لپاره د ورکړ شوي شي هبه تامه نه ګرځي

سوال: د زید پلار یو ټیکسي موټر واخیست او زید ته ئې د چلولو لپاره ورکړ چه د خپل اهل او عیال لپاره د خوراك او څښاك اسباب برابر کړه لیکن موټر به زما وي۔ په دې معاهده باندې ګواه هم شته۔ اوس چونکه د زید پلار مړ شوی دی او زید په هغه باندې قبضه کړې ده او ځان ئې د هغه مالك ګرځولی دی او نورو وارثانو ته د حصې له ورکولو څخه انکار کوي۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه د پورته ذکر شوي بیان مطابق آیا زید په رښتیا هم د دې موټر مالك ګرځي او که د نورو وارثانو هم په دې کښې شرعي حصې شته؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د سوال د صحت په شرط سره یوائې زید بـ دې موټر مالك نه دی۔ د والد د وفات نه وروسته ټول وارثان په دې کښې برابر شریك دي ځکه چه والد ئې موټر ده ته یوائې د منافعو د حصول لپاره ورته اخیستی او ورکړی وو۔ رأس المال ئې د هغه په قبضه کښې نه وو ورکړی چه په وجه ئې زید د موټر مالك متصور شي لهذا د زید د والد د وفات نه وروسته خپل ځان د موټر مالك ګڼل صحیح نه دي۔

لما قال المفتي عبد الرحیم: الجواب: والد که چېرته د یو مصلحت په بناء سره د خپل یو زوی په نامه یو کور واخلي نو هغه زوی یوائې د هغه د نامه په اخیستلو سره د شریعت له مخې د هغه کور مالك نه ګڼل کیږي۔ (فتاوی رحیمیه ج۹، ص۲۸٦، کتاب الهبه)

كتاب الغصب

کـــــتاب الغصب

(د غصب مسائل او احکام)

د غاصب قبضـــــه

سوال: آیا د غاصب قبضه د شریعت له مخې قبضه ګڼل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غاصب د قبضې په شریعت کښې هیڅ وزن او حیثیت نشته او همدارنګه په مغصوبه جائد اد کښې د غاصب تصرف کول هم صحیح نه دی۔ هو کله چه د مغصوبه مال نوم بدل شي او یا د هغه منافع اعظم ختم کړی شي نو په دې وخت کښې د هغه مال بلل کیږي۔ لکه څوك غنم غلا کړي او مړی، تړې پخه کړي۔ لیکن غاصب به ضمان پرې کوي او د ضمان د ادا کولو نه مخکښې له مغصوبه مال څخه نفعه اخیستل جائز نه دي۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و اذا تغیرت العین بفعل الغاصب حتٰی زال اسمها او اعظم منافعها زال مِلك المغصوب منه عنها و ملکها الغاصب و ضمنها و لا یحل له الانتفاع بها حتٰی یؤدی بدلها. (الهدایة ج۳، ص ۳۷٤، کتاب الغصب، فصل فیما یتغیر بفعل الغاصب)

قال العلامة خالد الآتاسی رحمه اللّٰه: اذا غیر الغاصب المال المغصوب علي بصورة یتبدل بها اسمه یکون ضامناً و یبقی المال المغصوب لهٗ مثلا لو کان المال المغصوب حنطة و جعلها الغاصب با لطحن دقیقاً فانهٗ یضمن مثل الحنطة و یکون الدقیق له کما ان من غصب حنطة غیره و زرعها فی ارضه یکون ضامناً للحنطة و المحصول له. (شرح مجلة الاحکام مادة۸۹۹، ج۳، ص۴۹۵، الباب الاول فی احکام الغصب) و مثله فی الهندیة (ج۵، ص ۱۲۱، کتاب الغصب، الباب الثانی فی احکام المغصوب، اذا تغیر بفعل الغاصب او غیره.)

مالك ته د اطلاع له ورکولو څخه پرته د حق د اداکولو څخه د برائت حکم

سوال: زید له بکر سره محنت او مزدوري کوي۔ په دې دوران کښې هغه د بکر یوه قیمتي ګړۍ پټه کړه۔ زید اوس پخپل دې فعل باندې نادم او پښیمان دی او بکر هم ژوندی دی لیکن په واپس کولو کښې ئې زید ته دا خطره ده چه زما بې عزتي کیږي۔ نو اوس زید ته کومه طریقه اختیارول پکار دي چه بې عزتي ئې هم و نه شي او د آخرت له مؤاخذې څخه هم محفوظ پاتې شي۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه مسلمان مال د هغه د اجازې نه پرته اخیستل او غلا کول حرام او ناجائز دي او اصل مالك ته واپس کول ئې واجب دي نو ځکه زید ته په هر حال کښې د ګړۍ واپس کول ضروري دي او که چېرته ظاهراً ئې په واپس کولو باندې د بې عزتۍ خطره وي نو په خفیه تدبیر باندې دې واپس کړي او مالك ته اطلاع ورکول ضروري نه دي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (قوله و یبرأ بردها) ای رد العین المغصوبة الی المغصوب منه. (رد المحتار

ج٦، ص ۱۸۲، کتاب الغصب، مطلب فی رد المغصوب الخ)

قال العلامة قاضیخانؒ: غصب دراهم انسان من کیسه ثم ردها فی کیسه و هو لا یعلم یبرأ. (فتاوٰی خانیة علی هامش الهندیة ج٦، ص ۱۷۹، جنس آخر فی المتفرقات) و مثله فی مجلة الاحکام لرستم بازؒ (المادة ۸۹۲، ص۴۹۲)

بې له اجازې د نورو خلکو د څناورو د ذبح کولو حکم

سوال: که چېرته په کوم وخت کښې د چا یو څناور د هغه له اجازې پرته ذبح کړی شي او وروسته ئې د قیمت فیصله وکړي او ورئې کړي نو د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مالك له اجازې نه پرته د اسې کول شرعا ناجائز او غصب دی۔ مالك ته اختیار دی چه له هغه نه ژوندی څناور واخلي او هغه مذبوح څناور ذابح ته ورکړي او یا مذبوح څناور پخپله واخلي او د ذبحې په وجه سره چه د هغه په قیمت کښې کومه کمي راغلي وي هغه له غاصب څخه واخلي۔ البته که چېرته د نوموړي صورت مطابق کوم چه په سوال کښې دی اذن عرفي موجود وي نو بیا د اسې کول جائز دي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: قال فی العمادیة فی فصل ۳۲ و من ذبح شاة غیره فمالکها با لخیار ان شاء ضمنه قیمتها و سلماها الیه و ان شاء اخذها و غرمها النقصان. (تنقیح الحامدیة ج۲، ص ۱۷۵، کتاب الغصب)

قال العلامة قاضی خانؒ: رجل ذبح شاة انسان ظلماً فصاحبها با لخیار ان شاء ترك المذبوح علیه و ضمنه قیمتها و ان شاء اخذا المذبوه و ضمنه النقصان. (فتاوٰی خانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص ۲٤۵، کتاب الغصب) و مثله فی الهدایة (ج٤، ص۳۷۸، کتاب الغصب)

د مغصوبه زمکې د بیرته ورکولو نه وروسته د هغې منافعو حکم

سوال: زید له بکر څخه زمکه غصب کړې وه او له هغې څخه لس کاله منافع حاصلول چه یو مخصوص مقدار ئې په جوماتونو او نورو خیریه کارونو کښې مصرف کول او څه حصه ئې پخپله استعمالوله۔ له ډېر کوشش څخه وروسته بکر خپله زمکه د زید څخه واپس واخیسته۔ آیا بکر له زید څخه هغه پیسې کومې چه هغه په خیریه کارونو کښې لګولې وې د واپسۍ مطالبه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: شرعا د چا مال غصب کول او له هغه څخه انتفاع اخیستل حرام دي۔ د غصب په زمانه کښې چه کوم شی د مغصوبه زمکې څخه حاصل شوي وي نو هغه د مغصوب عنه حق وي۔ له دې وجهې بکر د خپلې مغصوبه زمکې د تول پید اوار مطالبه او غوښتنه کولی شي۔ همدارنګه د مغصوبه زمکې د بیرته پیدا کولو نه وروسته په جوماتونو او نورو خیریه ادارو کښې د لګول شویو روپو د واپسۍ غوښتنه هم کولی شي۔ لیکن د علاقې د عرف مطابق غاصب ته د مزارعت اجر ورکول لازم وي۔

و فی الهندیة: و سئل شیخ الاسلام عطاء بن حمزة عمن زرع ارض انسان ببذر نفسه بغیر اذن صاحب الارض

هل لصاحب الارض ان يطالبه بحصة الارض قال نعم ان جرى العرف فى تلك القرية انهم يزرعون الارض بثلث الخارج او ربعه او نصفه او بسىء مقدر شائر يجب ذٰلك القدر الذى جرى به العرف. (الفتاوى الهندية ج٥، ص ١٤٤، الباب العاشر فى زراعة الارض المغصوبة)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فا لحاصل ان من زرع ارض غيره بلا اذنه و لو على وجه الغصب فان كانت الارض ملكاً و اعدّها ربها للزراعة اعتبر العرف فى الحصة ان كان ثمة عرف و الا فان اعدّها للايجار فا لخارج كله للزارع وعليه اجر مثلها لربها و الا فان انقصت فعليه النقصان و الا فلا شىء عليه. (تنقيح الحامدية ج٢، ص ١٧٢، كتاب الغصب) و مثله فى الفتاوٰى الكاملية (ص ٢٠٩، كتاب الغصب)

چاله زمکې څخه د هغه له اجازې پرته د خاورې راوړل

سوال: د زيد په مملوکه زمکه کښې د خاورې يوه غونډۍ ده خلك له هغې څخه خاوره وړي او زيد هيڅوك هم نه منع کوي نو آيا د زيد له اجازې پرته له هغې غونډۍ څخه د خاورې وړل جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اصل خو دا دی چه د چا له مملوکه زمکې څخه د خاورې او د نورو شيانو وړل بې د هغه له اجازې څخه جائز نه دي ليکن د اجازې لپاره صراحتاً وينا ضروري نه ده بلکه د اجازې قرينه هم کافي ده۔ په نوموړي صورت کښې چونکه زيد له خپلې زمکې څخه د خاورې د وړلو څخه څوك نه منع کوي نو دا په اجازې باندې دلالت کوي۔ له دې وجهې د هغه د اجازې څخه پرته خلك خاوره وړلی شي۔

قال العلامة الحصكفىؒ: و لا سقى ارضه و شجره و زرعه و نصب دولاب و نحوها من نهر غيره و قناته و بئره الا باذنه لان الحق لهٗ فيتوقف على اذنه. (الدر المختار على هامش رد المحتار ج١، ص ٤٣٩، فصل السرب)

لما قال العلامة اشرف على التهانوىؒ: له دې نه معلومه شوه چه د مالك له اجازې پرته خپل پټي ته اوبه ورکول يا خاوره ترې راوړل جائز نه دي۔ (امداد الفتاوٰى ج٣، ص ٤٥٢، کتاب الغصب)

بې له کرايې نه له شوي سفر څخه د ذمې د فارغيدو (د غاړې د خلاصيدو) طريقه

سوال: زه دوه درې ځله له کراچۍ څخه تر پيښوره پورې بې له کرايې څخه راغلی يم۔ په هغه وخت کښې مې دا خيال نه وو چه زه دا کار ناجائز کوم او اوس غواړم چه په يوه طريقه د بل له حق څخه خپله ذمه فارغه کړم نو په دې سلسله کښې زما لارښوونه وکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په ريل او داسې نورو کښې پرته له کرايې څخه سفر کول جائز نه دي بلکه د کرايې ادا کول واجب دي او که چېرته څوك بې له کرايې څخه سفر وکړي نو د هغې ادا کول او د خپلې ذمې د فارغولو آسانه لار دا ده چه له همدې ادارې څخه د همدومره مسافې او فاصلې ټکټ واخلی او بيا ئې په استعمال کښې له راوړلو څخه پرته ضائع کړی تر څو په دې طريقې سره د هغه حق ادا شي۔

او تر کومه ځايه چه ستاسو د مسئلې تعلق دی د هغې حل دا دی چه څو ځله تاسو له پيښور څخه تر کراچۍ پورې بې له کرايې څخه سفر کړی وي هغې ته حساب وکړی او د هم هغومره روپو ټکټ واخلی او پرته له استعمال څخه ئې ضائع کړی نو بيا به مو په دې طريقې سره غاړې خلاصې شي۔

لما قال العلامة اشرف على التهانوىؒ: (الجواب) زيد ته دا کتل په کار دي چه زما په ذمه څومره کرايه واجبه ده نو دې په همدومره قيمت د همدغه ريل ګاډي ټکټ واخلي او بيا دې ضائع کړي يعنې هغه سفر دې نه کوي او کار دې نه ترې اخلي نو د کمپنۍ هغه واجب حق ادا کيږي۔ (امداد الفتاوٰى ج٣، ص٤٤٦، کتاب الغصب)

د ترۍ د بندولو مسئله

سوال: د يوه سړي د کور شا ته زما مملوکه زمکه ده او زه اوس په هغې باندې د کور د جوړولو اراده لرم ليکن مسئله دا ده چه د دې سړي د کور ترۍ زما د زمکې په طرف دي ما هغه ته د خپلې ترۍ د بندولو وويل او هغه انکار وکړ او په اصلاحي جرګې کښې ئې زما په خلاف شکايت هم وکړ۔ اوس پوښتنه دا ده چه آيا شرعا ما ته دا حق حاصل دی چه د هغه ناوې يا ترۍ بندې کړم او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته واقعي دا ځای ستا ملکيت وي او د ترۍ اوبه ستا په مملوکه زمکې باندې راځي نو تا ته شرعا دا حق حاصل دی چه ترۍ ئې ور بنده کړې او که چېرته د اوبو د پريوتلو ځای د کور د څښتن ملکيت وي نو بيا ته د ترۍ د بندولو هيڅ حق نه لرې۔

لما قال العلامة المرغينانىؒ: و من اشترٰى بيتاً فى دارٍ و منزلاً او مسكناً لم يكن له طريق الا ان يشتريه بكل هو له المرافقة او بكل قليل و كثير و كذا الشرط و المسيل. (الهداية ج٣، ص٨٨، كتاب البيوع، باب الحقوق)

لما قال الشيخ مولانا محمد اشرف علي تهانوي: ميل يعنې ناوه يا بد رو او د نورو ايستل د مِلك له حقوقو څخه ده۔ کوم سړی چه د دې ځای مالك وي نو هغه ته د هر قسم تصرفاتو حق حاصل دی۔ پس دا سړی کوم چه د ګاونډي د ناوې حق زائلوي او د ناوې بندول غواړي نو دا ورته جائز دي او د خپل مِلك اختيار ئې دی او که دا ځای د ګاونډي مِلك وي نو بيا د ناوې بندول ورته جائز نه دي ځکه چه دا غصب بلل کيږي۔ (امداد الفتاوٰى ج٣، ص٤٤٥، کتاب الغصب)

كتاب
الوديعة و العارية

کتاب الودیعة و العاریة

(د امانت او عاریت احکام او مسائل)

امین په امانت کښې د تصرف حق لري

سوال: يو امين په امانت کښې تر کومه ځايه پورې د تصرفاتو حق لري؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په امين باندې د امانت حفاظت لازمي دی د هغه د حفاظت لپاره چه کوم ډول کار ترسره کيږي اختيارولی ئې شي ليکن د حفاظتي تدابيرو څخه پرته نور تصرفات کول ورته جائز نه دي او د هلاکت په صورت کښې به ضامن وي۔

و فی الهندية: و الوديعة لا تودع و لا تعار و لا توجر و لا ترهن و ان فعل شيئا منها ضمن كذا فی البحر الرائق. (الفتاوی الهندية ج٤، ص٣٣٨، كتاب الوديعة)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاری رحمه اللّٰه: و الوديعة لا تودع و لا تعار و لا تؤجر و لا ترهن و ان فعل شيئا منها ضمن. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٢٩١، كتاب العارية) و مثله فی شرح مجلة الاحكام (مادة ٧٧١، ص٤٢٧، الباب الاول فی عمومية الامانات)

د امانت د ضائع کيدو په صورت کښې د ضمان حکم

سوال: زيد عمرو ته د کاروبار لپاره څه روپۍ ورکړې او عمرو د کاروبار په سلسله کښې په يو سفر باندې ولاړ او د سفر په دوران کښې ئې هغه پيسې خپل د سفر ملګري محمود ته ورکړې کوم چه له هغه څخه چا روپۍ غلا کړې نو آيا اوس زيد د عمرو څخه د ضمان مطالبه کولی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه له محمود څخه دا روپۍ د عمرو په رفاقت سره ضائع شوي دي له دې وجهې په دواړو باندې ضمان نشته۔ بيا هم که چېرته عمرو له محمود څخه بيل شوی وي نو د هلاکت په صورت کښې به عمرو د زيد ضامن وي۔

قال العلامة سليم رستم بازؒ: ثم اعلم ان المستودع الاول انما يضمن اذا اودع الوديعة و هلكت بعد ان فارقها و اما قبله فلا ضمان على احد لان الثانی قبض المال من يد امين كما مر و الاول لا يكون با لدفع ضميناً ما لم يفارق بحضور راية فاذا فارق فقد ترك الحفظ اللازم بالتزامه فيضمن بتركه. "مجمع الانهر" (شرح مجلة الاحكام مادة ٧٩٠، ص٤٣٨)

قال العلامة ابن نجيم المصری رحمه اللّٰه: فافاد ان المودع لا يودع فان اودع فهلكت عند الثانی ان لم يفارق الاول لا ضمان على واحد منهما و ان فارقه ضمن الاول عند ابی حنيفةؒ و لا يضمن الثانی. (البحر الرائق ج٧، ص٢٧٤، كتاب الوديعة) و مثله فی البزازية على هامش الهندية (ج٦، ص٢٠٣، كتاب الوديعة، الثانی فيما يكون اضاعة الخ)

د امانت په ساتلو باندې د اجرت اخيستلو حکم

سوال: د امانت په حفاظت باندې اجرت اخيستل شرعا جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د وديعت حفظ په مودع باندې شرط کړي او اجرت مقرر کړي نو جائز دی او په دې صورت کښې که چېرته له مودع څخه امانت شوی شی په يوه داسې عمل ضائع شي چه له هغه څخه د ځان ساتل ممکن وو نو مودع ضامن دی او که نه وي نو نه دی۔

و فی مجلة الاحكام: الوديعة امانة فی يد الوديع فاذا هلكت بلا تعدٍ منه و بدون صنعه و تقصيره فی الحفظ لا يضمن و لكن اذا كان الايداع بأجرة فهلكت او ضاعت بسبب يمكن التحرز عنه لزم المستودع ضمانها. (شرح مجلة الاحكام مادة ٧٧٧، ص٤٣١، فی احكام الوديعة و ضمانها)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاری رحمه اللّٰه: و فی آخر كتاب الغصب من شرح الطحاوی المودع اذا شرط لاجر للمودع على حفظ الوديعة صح. (خلاصة الفتاوی ج٤، ص٢٨٩، الفصل السادس فی المتفرقات) و مثله فی الهندية (ج٤، ص٣٧٣، الباب التاسع فی المتفرقات)

د مودع په وفات باندې وارثان د مطالبې حق لري

سوال: د زيد امانت له بکر سره ايښي وو چه ناڅاپه زيد وفات شو او په وارثانو کښې ئې ښځه او زامن ترې پاتې شول ليکن قابل اعتماد نه دي نو بکر به ئې امانت چا ته حواله کوي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د زيد د وارثانو په غوښتنه د امانت واپس کول ضروري دي ليکن که چېرته دا يقين او ظن غالب موجود وي چه وارثان ئې دا مال ضائع کوي نو د پنځه ويشتو کلونو تر مودې پورې دې نه ورکوي۔

و فی الهندية: و اذا مات رب الوديعة فا لوارث خصم فی طلب الوديعة كذا فی المبسوط. (الفتاوی الهندية ج٤، ص٣٥٤، الباب السابع فی رد الوديعة)

قال العلامة خالد الآتاسی رحمه اللّٰه: و اذا مات المودع تسلم الوديعة لوارثه. (مجلة الاحكام مادة ٨٠٢، ص٤٤٧، الفصل الثانی فی احكام الوديعة و ضمانها) و مثله فی رد المحتار (ج٥، ص٦٦٦، كتاب الوديعة)

د امانت د ضائع کيدو د وېرې په صورت کښې د هغه د پلورلو حکم

سوال: که چېرته د يو امانت په باره کښې د امانت د ضائع کيدو خطره وي او تر مالك پورې ئې رسول هم مشکل وي نو په داسې صورت کښې به د امانت سره څه کوي؟ وئې پلوري او پيسې دې مالك ته ورکړي او که څنګه وکړي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په امانت کښې په بنيادي توګه د مالك د حقوقو رعايتول ضروري دي همدا وجه ده چه په امانت کښې خيانت حرام او ناجائز دی او امانت خپل مالك ته په اصل

صورت کښې واپس ورکول ضروري دي او دا د مودع ذمه واري ده لیکن که چېرته د امانت د ضائع کېدلو خطره وي نو په داسې حالت کښې دې له مالک سره اړیکې پیدا کړي او بیا دې د مالک په هدایاتو باندې عمل وکړي او که چېرته په څه وجه سره د مالک سره اړیکه ممکن نه وي نو بیا دې د وخت حاکم ته اطلاع ورکړي او د امانت د ساتنې صورت دې ولټوي او که چېرته د وخت حاکم سره هم د رابطې یا اړیکو څه صورت میسر نه شي نو بیا دې د اهل رائې سره مشوره وکړي او هغه دې وپلوري او قیمت دې محفوظ کښېږدي۔ بیا هم په دې ټولو صورتونو کښې دې له مالک سره د همدردۍ جذبه محرکه پرېږدي او که چېرته تر خپله وسه پورې له کوشش سره سره امانت ضائع شي نو په ساتونکي باندې ئې هیڅ تاوان نه لازمېږي۔

قال العلامة خالد الآتاسی رحمه اللّٰہ: اذا کان صاحب الودیعة غائباً غیبة منقطعة بحیث لا یعلم موته و لا حیاته یحفظها المستودع الی ان یعلم موت صاحبها اما اذا کانت الودیعة مما یفسد با لمکث یبیعها المستودع باذن الحاکم و یحفظ ثمنها امانة عنده لکن اذا لم یبیعها ففسدت با لمکث لا یضمن. (مجلة الاحکام مادة ۷۸۵، ص۴۳۵، الفصل الثانی فی احکام الودیعة)

و فی الهندیة: اذا کانت الودیعة شیئا یخاف علی الفساد و صاحب الودیعة غائب فان رفع الامر الی القاضی حتی یبیعه جاز و هو الاولٰی و ان لم یرفع حتی فسدت لا ضمان علیه لانهٗ حفظ الودیعة علی ما امر به کذا فی المحیط. (الفتاوی الهندیة ج۴، ص۳۴۴، الباب الرابع، کتاب الودیعة) و مثله فی فتاوٰی سراجیة علی هامش قاضی خان (ج۴، ص۴۳۵، کتاب الودیعة)

په عاریت سره د ورکړ شوي شي د واپس اخیستلو حکم

سوال: زید عمرو ته خپله زمکه د میوې د کرلو لپاره عاریتاً ورکړې وه او عمرو تر نهو کلونو پورې د هغې حاصلات خوړل۔ او اوس زید په حاصلاتو کښې حصه غواړي او خپله زمکه هم بیرته غواړي نو آیا د شریعت له مخې زید ته دا حق شته چه خپله زمکه واپس واخلي او یا په پیداوار کښې د حصې د اخیستلو غوښتنه وکړي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه زید عمرو ته خپله زمکه عاریتاً ورکړې وه نو له دې وجهې زید ته د خپلې زمکې د واپس لاس ته راوړلو حق شته لیکن د هغې په حاصلاتو کښې د حصې د اخیستلو حقدار نه دی۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: (و لو اعار ارضاً للبناء و الغرس صح) للعلم با لمنفعة و لهٗ ان یرجع متی شاء. (رد المحتار ج۵، ص۶۸۳، کتاب العاریة)

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰہ: و اذا استعار ارضاً لیبنی فیها او لیغرس جاز و للمعیر ان یرجع فیها و یکلفه قلع البناء و الغرس. (الهدایة ج۳، ص۲۸۱، کتاب العاریة) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی ج۴، ص۲۹۳، کتاب العاریة)

د معیر یا مستعیر په مرګ سره اعاره فسخ کېږي

سوال: رشید خان د فرید خان خدمت کوي، فرید خان رشید خان ته د خدمت په بدل کښې لس جریبه زمکه ورکړه او رشید خان د زمکې له پیداوارې فائده حاصلوله۔ اوس چه کله رشید خان زوړ شو او د خدمت کولو وړ نه شو پاتې نو فرید خان نوموړې زمکه له رشید خان څخه واخیسته او د ده زوی جاوید خان ته ئې ورکړه۔ له څه وخت تیرېدو څخه وروسته د فرید خان جائداد له کومې وجهې نه حکومت ضبط کړه۔ لیکن د جاوید خان لس جریبه زمکه د هغه پخپل تصرف کښې ده۔ اوس د جاوید خان بل ورور سلیم خان دعوه کوي چه چونکه دا زمکه زمونږ د پلار ملکیت دی له دې وجهې زه هم په دې زمکې کښې حقدار یم۔ آیا د شریعت له مخې د سلیم خان په دې زمکې کښې څه حق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د معاملې په حقیقت باندې د غور له کولو نه معلومېږي چه فرید خان رشید خان ته کومه زمکه ورکړې وه هغه ئې عاریتاً ورکړې وه نه د ملکیت په توګه۔ د دې لپاره چه کله رشید خان زوړ شو نو زمکه ئې ترې بیرته واخیسته او د ده زوی جاوید خان ته ئې ورکړه۔ له دې وجهې معلومه شوه چه دا ورکول د عاریت په توګه وو نه د ملکیت په توګه۔ د دې لپاره نوموړې زمکه که چېرې فرید خان ژوندی وي د هغه خپل ملکیت دی نه د رشید خان او د هغه د زامنو۔ او که چېرې فرید خان وفات شوی وي نو دا زمکه د هغه د وارثانو ده او اعاره د وفات په سبب باندې فسخ شوې ده۔

قال العلامه خالد الآتاسی رحمه اللّٰہ: تنفسخ الاعارة بموت المعیر او المستعیر. (مجلة الاحکام مادة ۸۰۷، ص۴۴۸، الباب الثالث، الفصل الاول)

قال العلامة قاضی خان رحمه اللّٰہ: و اذا مات المستعیر او المعیر تبطل الاعارة کما تبطل الاجارة بموت احد المتعاقدین. (فتاوٰی خانیة علی هامش الهندیة ج۳، ص۳۸۴، فصل فیما یضمن المستعیر) و مثله فی سراجیة علی هامش فتاوٰی قاضیخان (ج۳، ص۸۲، کتاب العاریة)

د معیر او مستعیر په اجاره او عاریت کښې اختلاف

سوال: بکر زید ته د کور لپاره څه لرګي ورکړل او د لرګو د واپس کولو په وخت کښې بکر دعوٰی وکړه چه لرګي مې په اجاره درکړي وو نه په عاریت کښې او حال دا چه زید وایي چه لرګي دې ماته عاریتاً راکړي وو نو د دې اختلاف په حل کښې زمونږ لارښوونه وکړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته بکر د ګواهانو په وجه سره ثابت کړي چه زید ته مې لرګي په اجارې باندې ورکړي وو نو زید به اجرت ورکوي او که نه وي نو عاریتاً به ګڼل کېږي او د کرایې له ورکولو څخه به عمرو بري کېږي۔

و فی الهندیة: و اذا قال اعرتنی دابتك و هلکت و قال المالك غصبتها منی فلا ضمان علیه ان لم یکن رکبها فان کان

قد رکبها فهو ضامن و ان قال اعرتنی و قال المالك اجرتكها و قد رکبها و هلكت من رکوبه فا لقول قول الراكب و لا ضمان عليه كذا فی المحيط. (الفتاوی الهندية ج٤، ص ٣٧٢، كتاب العارية، الباب الثامن فی الاختلاف الواقع فی هٰذا الباب و الشهادة فيه)

قال العلامة خير الدين الرملیؒ: و ان قال اعرتنی و قال المالك اجرتكها و هلكت من رُكوبه فا لقول قول الراكب و لا ضمان عليه كذا ذكره كثير من علمائنا. (فتاوٰی خيرية علی هامش تنقيح الحامدية ج٢، ص ١٧١، كتاب العارية) ومثله فی الهداية (ج٣، ص ٣١٤، كتاب الاجارات)

امانت ایښودونکی چه بیرته را نه شي نو حکم به ئې څه وي؟

سوال: که څېرته یوه سړي څه پیسې له چا سره د امانت په توګه کېښودې او هغه بیا د خپل امانت د اخیستلو لپاره واپس را نه غی نو امین دې په هغو روپو باندې څه کوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: امین ته که څېرته د امانت ایښودونکي هیڅ معلومات نه وي نو بیا هم هغه ته په کار دي چه په څه نا څه توګه سره د رسولو کوشش وکړي ورنه د مرګ په صورت کښې دې د هغه وارثانو ته حواله کړي او که څېرته د کوشش له کولو سره سره د هغه او یا د هغه د وارثانو معلومات ورته و نه شو نو پخپله دې هغه پیسې د امانت ایښودونکي له خوا صدقه کړي او یا دې د صدقې وصیت وکړي۔ البته که څېرته امین فقیر وي نو خپله ئې خوړلی شي او که څېرته د صدقې له کولو نه وروسته د مال مالك راشي نو هغه ته اختیار دی که غواړي له امین څخه دې وغواړي او که غواړي همد اسې صدقه شوی دې پرېږدي۔

قال العلامة الحصكفی رحمه الله: فينتفع الرافع بها لو فقيراً و الا تصدق بها علی فقير و لو علی اصله و فرعه و عرسه...... فان جاء مالكها بعد التصدق خير بين اجازة فعله و لو بعد هلاكها و له ثوابها او تضمينه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٤، ص ٧٩/٨٠، كتاب اللقيط)

د مجبورۍ له مخې د امانت د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! له نن څخه دوه کاله مخکښې یو افغان مهاجر دوه بورۍ غنم له مونږ سره امانت کېښوده او پخپله څېرته لاړ۔ له هغه نه وروسته تر ننه پورې له مونږ سره هیڅ معلومات نشته چه هغه څېرته دی او نه ئې مونږ ته د کور معلومات شته او حال دا چه غنم ئې خرابیږي۔ مهرباني وکړی د محمدي ﷺ شریعت له مخې د دې څه حل راته وښایئ چه آیا مونږ د ده غنم پلورلی شو او پیسې ئې د امانت په توګه راسره کېښودلی شو او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: بې له سخت ضرورت څخه د چا په امانت کښې اسلام د تصرف حق چا ته نه ورکوي۔ خو بیا هم د مجبورۍ په وجه سره په تولو محظوراتو کښې هم ګنجائش شته۔ چونکه په نوموړي صورت کښې هم سخت ضرورت دی نو ځکه تاسو له عدالت نه په اجازه اخیستلو سره دا غنم وپلورۍ او د هغه قیمت له ځان سره امانت کښېږدی۔ او که څېرته تر عدالت پورې رسیدل ممکن نه وي او غنم خرابیږي اوضائع کیږي نو بیا د څو مسلمانانو په وړاندې ئې وپلورۍ او د هغه روپۍ محفوظې کښېږدی۔

لما فی الهندية: و ان كانت الوديعة شيئا لا يمكن ان يؤاجر فا لقاضی يأمره بان ينفق من ماله يوما او يومين او ثلاثة رجاء ان يحضر المالك و لا يأمره با لانفاق زيادة علی ذٰلك هل بلٰی يأمره با لبيع و امساك الثمن. (الفتاوی الهندية ج٥، ص ٢٢٠، كتاب الوديعة)

و قال مولانا عبد الكريم: و فی العالمگيرية: و ان كانت الوديعة شيئا لا يمكن ان يؤاجر فا لقاضی يأمره بان ينفق من ماله يوما او يومين او ثلاثة رجاء ان يحضر المالك و لا يأمره با لانفاق زيادة علی ذٰلك بلٰی يأمره با لبيع و امساك الثمن آه. و فی ديارنا لا يمكن الرفع الی القاضی فجماعة المسلمين قائمة مقامه.

له دې نه معلومه شوه چه په نوموړي صورت کښې د ووزې د خرڅولو په صورت کښې د هغه قیمت د امانت په توګه کېښودل په کار دي لیکن خپله به ئې یواځې نه خرڅوي بلکه د څو مسلمانانو د رأیې مطابق به ئې خرڅوي۔ (امداد الاحکام ج٣، ص٦١٣، کتاب الودیعه)

كتاب
احياء الموات

کتاب احیاء الموات

(د خرابې زمکې د آبادولو احکام او مسائل)

د داسې زمکو آبادول چه مالکان ئې معلوم نه وي

سوال: یوه ټکړه زمکه د پاکستان له جوړیدو څخه مخکښې بیکاره پرته ده د هغې مالکان په هغه وخت کښې افغانستان ته تللي دي او له هغه نه ئې وروسته له دې زمکې سره هیڅ تعلق نه دی پاتې شوی نو اوس که چېرته څوك دا زمکه آباده کړي آیا مالك ئې جوړیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته واقعي هم دا زمکه د چا ملکیت نه وي او له ډېر وخت راهیسې غیر آباده وي او د نژدې کلي له مصالحو او منافعو سره ئې تعلق نه وي نو د حکومت په اجازې سره کوم ئې چه کوم یو آبادوي هم هغه به ئې مالك جوړیږي۔

لما ورد فی الحدیث: قال النبی ﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له. (سنن ترمذی ج ۱، ص ۲۵۶، باب احیاء الموات)

اخرجه الامام ابو داوٗد رحمه اللّٰه: قال النبی ﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له و لیس لعرق ظالم حق. (ابو داوٗد ج ۲، ص ۸۱، باب احیاء الموات) و مثله فی البحر الرائق (ج ۸، ص ۲۱۰، کتاب احیاء الموات)

که چېرته عامه اجازه نه وي نو په احیاء الموات کښې د ملکیت د ثبوت حکم به څه وي؟

سوال: د امام ابوحنیفه په نزد احیاء موات کښې اذن عام شرط دی او سوال دا دی چه چېرته امام نه وي نو هلته د احیاء موات ملکیت څرنګه ثابتیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د احیاء موات لپاره د امام ابوحنیفه رحمه اللّٰه په نزد د حکومت اجازه ضروري ده لیکن د صاحبینو رحمهما اللّٰه په نزد اذن عام شرط نه دی۔ اګر که په دې مسئله کښې راجح قول د امام صاحب رحمه اللّٰه دی لیکن چېرته چه امام نه وي نو د صاحبینو رحمهما اللّٰه په نزد فتویٰ ورکول کیږي۔ ځکه دا د معاشرتي حالاتو سره زیاته موافقه ده۔ د ائمهٔ ثلاثه وو په نزد اذن عام شرط نه دی او له ظاهر حدیث څخه هم دا معلومیږي۔

اخرجه الامام ترمذی رحمه اللّٰه: قال النبی ﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له. (سنن ترمذی ج ۱، ص ۲۵۶، باب احیاء الموات)

قال العلامة الزیلعی رحمه اللّٰه: و قالا یملکه من احیاه و لا یشترط فیه اذن الامام علیه الصلٰوة والسلام من عمر ارضاً لیست لاحد فهو احق بها. (تبیین الحقائق ج ۶، ص ۳۵، کتاب احیاء الموات) ومثله فی الهندیة (ج ۳، ص ۳۸۶، کتاب احیاء الموات)

په احیاء موات کښې راجح قول د امام صاحب رحمه اللّٰه دی

سوال: یوه ټکړه خرابه زمکه څو کسانو آباده کړې ده۔ ځینې علماء وایي چه نوموړي کسان د دې زمکې مالکان نه شي جوړیدلی ځکه چه هغوی د حکومت څخه باقاعده اجازه نه ده اخیستې۔ اوس سوال دا دی چه د حکومت د اجازې نه پرته په احیاء موات سره ملکیت ثابتیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د خرابې زمکې د آبادولو لپاره د وخت د بادشاه اجازه ضروري ده او که نه؟ په دې کښې د امام صاحب، امام محمد او امام ابویوسف رحمهم اللّٰه اختلاف دی۔ د صاحبینو په نزد ضروري نه ده لیکن د امام صاحب قول راجح دی او د فقهې په متونو کښې دا قول مذکور دی۔

قال العلامة ابن عابدینؒ: و قول الامام هو المختار و لذا قدمه فی الخانیة و الملتقی کعادتهما و به اخذ الطحاوی و علیه المتون. (رد المحتار ج ۵، ص ۲۷۸، کتاب احیاء الموات)

لما فی الهندیة: و من احیاه باذن الامام ملکه و هٰذا عند ابی حنیفة رحمه اللّٰه و قالا یملکه من احیاه و لا یشترط فیه اذن الامام…… و الملك فی الموات یثبت با لاحیاء باذن الامام عند ابی حنیفة رحمه اللّٰه و عند ابی یوسفؒ و محمدؒ یثبت بنفس الاحیاء. (الفتاوی الهندیة ج ۵، ض ۳۸۶، کتاب احیاء الموات، الباب الاول)

لیکن چیرته چه امام نه وي نو د صاحبینو په مذهب باندې په فتویٰ ورکولو کښې هیڅ حرج نشته۔

د ځنګل پخپل منځ کښې په تقسیمولو سره خلك د هغه مالکان نه شي ګرځیدلی

سوال: د کلیو څخه لرې یو ځنګل دی که چېرته خلك هغه پخپل منځ کښې سره وویشي نو آیا هغوی د دغه ځنګل مالکان جوړیدلی شي او که نه؟ بینوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې ونې لرونکی ځنګل چه د چا ملکیت نه وي د ټولو خلکو لپاره مباح وي او د ټولو خلکو منافع ورسره متعلق وي او هر یوه ته له هغه څخه د فائدې د اخیستلو حق حاصل وي او که څوك دا ځنګل د کروندې قابل جوړ کړي نو هغه د دې زمکې مالك نه شي جوړیدلی۔

لما فی الهندیة: و کذا ما کان خارج البلدة من مرافقها محتطباً لاهلها و مرعیً لهم لا یکون مواتاً. (الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۴۲۰، کتاب احیاء الموات)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و لا یجوز احیاء ما قرب من العامر بل یترك لهم و مطرحاً لحصائدهم لتعلق حقهم به فلم یکن مواتا و کذا لو کان محتطباً. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج ۵، ص ۲۷۸، کتاب احیاء الموات) و مثله فی البدائع الصنائع ج ۶، ص ۱۹۴، کتاب الاراضی)

او داسې زمکه چه په هغه کښې ځنګل وي په مواتو کښې داخله نه ده۔

په خرابه زمکو باندې يو اځې د نښو په لګولو سره ملکيت نه ثابتيږي

سوال: ځيني خلك خرابه زمکه پخپل ملکيت کښې د راوستلو لپاره د هغې شاوخوا ته د ډبرو ديوالونه جوړوي نو آيا په داسې زمکې باندې يو اځې په نښو لګولو سره يا په ديوال جوړولو سره د هغې مالك جوړيدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د خرابه زمکې ملکيت په هغه وخت کښې ثابتيږي چه کله د کرونډې قابله جوړه شي۔ يوې پرې وکړي او يا تعمير يا کور پکښې جوړ کړي يو اځې د نښو په لګولو يا د ډبرو په ديوالونو جوړولو سره هيڅ څوك د هغې مالك نه شي جوړيدلی۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و من حجر ارضاً ای منع غیره منها بوضع علامته من حجر او غیره ثم امهلها ثلث سنین دفعت الی غیره قبلها هو احق بها و ان لم یملکها لانه انما یملکها با لاحیاء و التعمیر لا بمجرد التحجیر. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۸، کتاب احیاء الموات)

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: لان التحجیر لیس باحیاء لیملکه به لان الاحیاء انما هو العمارة التحجیر للاعلام. (الهدایة ج۴، ص۴۷۹، کتاب احیاء الموات) و مثله فی الهندیة (ج۵، ص۳۸۶، کتاب احیاء الموات)

د غير مملوکه مشترك مال چر د زمکې په آبادولو سره ملکيت نه ثابتيږي

سوال: يوه ټکړه زمکه د دوو کليو ترمنځ له کلونو څخه د مشترك مال چر په توګه استعماليږي او د هيچا په ملکيت کښې هم نه ده او په څه حصې باندې ځيني خلکو له ډېر وخت څخه څه آبادۍ جوړې کړې دي او د کرونډې قابله ئې جوړه کړې ده۔ اوس دا مشترکه زمکه تقسيميږي آيا دغه آباده شوې زمکه د آبادوونکي په ملکيت کښې حسابيږي او که د خلکو ترمنځ په تقسيم کښې د هغې هم تقسيم کيږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په دې زمکې پورې د دواړو کليو د خلکو ضروريات مثلا مال چر او يا محطبه او داسې نور تړلي وي نو دا زمکه د مواتو په حکم کښې نه ده او د آبادولو ئې هيچا ته حق حاصل نه دی او نه يو اځې په آبادولو سره د چا ملکيت ګرځي۔ له دې وجهې په نوموړي صورت کښې آباده شوې زمکه هم په ټول تقسيم کښې داخله ده او هغه به هم تقسيميږي۔

لما فی الهندیة: و کذا ما کان خارج البلدة من مرافقها محتطباً لاهلها و مرعیٰ لهم لا یکون مواتاً حتیٰ لا یملك الامام اقطعها. انتهیٰ (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۸۶، کتاب احیاء الموات)

قال العلامة التمرتاشیؒ: و لا یجوز احیاء ما قرب من العامر بل یترك مرعی لهم و مطرحاً لحصائدهم لتعلق حقهم به فلم یکن مواتا و کذا لو کان محتطباً. (تنویر الابصار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۸، کتاب احیاء الموات) و مثله فی البدائع الصنائع ج۶، ص۱۹۴، کتاب الاراضی)

خرابه زمکه پخپل منځ کښې تقسيمول او د هغې آبادول

سوال: که چېرته د يوې علاقې زمکه خرابه پرته وي او د هغې علاقې مشران هغه زمکه د هم هغه ځای په ټولو خلکو تقسيم کړي۔ او له دې نه وروسته ئې څه دولت مند کسان آباده کړي او څه ئې پريږدي يعنې آباده ئې نه کړي نو آيا د آبادوونکي لپاره د همدغو زمکو حاصلات جائز دي او که نه؟ بينوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له داسې تقسيم څخه وروسته چه کوم سړی خپله حصه آباده کړي هم هغه سړی د هغې مالك جوړيږي او حاصلات ئې ورته جائز ګرځي ځکه چه دا زمکه په حقيقت کښې خرابه ده يو اځې د نامه لپاره ټول خلك پکښې شريك دي چه د دې علاقې زمکه ده۔

و اخرج الامام ابو داوٗدؒ: قال النبی ﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له. (سنن ابی داوٗد ج۲، ص۸۱، باب احیاء الموات)

اخرجه الامام ترمذی رحمه اللّٰه: قال النبی ﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له. (سنن ترمذی ج۱، ص۲۵۶، باب احیاء الموات) و مثله فی الهدایة (ج۴، ص۴۷۹، کتاب احیاء الموات)

هر څوك د احياء موات حق لري

سوال: په اوسني معاشرې کښې ځيني خلك ډم، پښ، ترکاڼ او د داسې نورو کسبونو خلك ټيټ او ذليل ګڼل کيږي که چېرته دا خلك کومه خرابه زمکه آباده کړي نو هغوی ته داسې ويل چه دا د تاسو حق نه دی د شريعت له مخې څرنګه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقهې او احاديثو په کتابونو کښې د دې خبرې تصريح موجوده ده چه کوم يو هم بې له کوم تعصبه خرابه زمکه آباده کړي نو هم هغه کس د هغه ځای مالك جوړيږي او يو فقيه هم په دې مسئلې کښې دا ډول تخصيص نه دی بيان کړی او د احياء مواتو په حکم کښې تعميم موجود دی۔

من احیٰی ارضا میتة فهی له. (سنن ترمذی ج۱، ص۲۵۶، باب احیاء الموات) په دې حديث کښې د من لفظ عام دی او په دې عمومو کښې بې له کوم دليل څخه تخصيص صحيح نه دی۔ فقهاء کرامو هم د من لفظ استعمال کړی دی۔

و من احیا باذن الامام ملکه تبیین الحقائق ج۶، ص۳۵) بلکه ذمي او کافر هم په احياء موات سره مالك جوړيدلی شي حال دا چه ډم، پښ او داسې نور خو مسلمانان هم دي۔

قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه اللّٰه: و یملکه الذمی با لاحیاء کما یملکه المسلم. (الهدایة ج۴، ص۴۷۹، کتاب احیاء الموات)

لما فی الهندیة: عند ابی یوسفؒ و محمدؒ یثبت بنفس الاحیاء. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۳۸۶، کتاب احیاء الموات) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۲۱۰، کتاب احیاء الموات)

د خرابه زمکې آبادوونکی د بل د شرکت څخه پرته د هغې مالك دی

سوال: مونږ څه خرابه زمکه ۱۷ کاله مخکښې آباده کړې ده نو آیا په دې کښې نور څوك هم شریکیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته دا زمکه د چا ملکیت نه وه او نه د کلي د خلکو منافع له هغې سره تړلې وي نو ته پرته د چا له شراکت څخه د دې زمکې مالك ئې خو په دې شرط سره چه د حکومت په اجازه وي ځکه چه د مړې زمکې هم هغه آبادوونکی مالك ګرځي او د هیچا هم له داسې زمکې سره حق نه متعلق کیږي۔

لما ورد فی الحدیث: قال النبیﷺ من احیٰی ارضا میتة فهی له. (سنن ترمذی ج۱، ص۲۵۶، باب ما ذکر فی احیاء ارض الموات)

قال النبیﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له و لیس لعرق ظالم حق. (ابوداوٗد ج۲، ص۸۱، باب احیاء الموات) و مثله فی فتح الودود حاشیة ابی داوٗد (ج۲، ص۸۱، باب احیاء الموات)

د عامه مفاد څخه وتلې زمکه چه څوك آباده کړي نو هغه ئې مالك ګڼل کیږي

سوال: که چېرته په یوې علاقې کښې غرنۍ او خرابه زمکه د هم هغه ځای اوسیدونکي آباده کړي نو آیا د آبادۍ په سبب د همدې زمکې مالك جوړیدلی شي او که نه او حال دا چه د علاقې ځینې مخور خلك د هغې د ثبوت مخالفت کوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم غر چه د چا ملکیت نه وي او د کلي د عامه مفاد سره تړلې هم نه وي نو څوك ئې چه د حکومت په اجازه آباده کړي هم هغه سړی به ئې مالك ګڼل کیږي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: اذا احیا مسلم او ذمی ارضاً غیر منتفع بها و لیست لمملوکة و لا ذمی و هی بعیدة من القریة ملکها و اعتبر محمدؒ عدم ارتفاق اهل القریة و به یفتیٰ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۸، کتاب احیاء الموات)

قال النبیﷺ من احیٰی ارضاً میتة فهی له. (سنن الترمذی ج۱، ص۲۵۶، باب ما ذکر فی احیاء ارض الموات) و مثله فی البدائع الصنائع (ج۶، ص۱۹۴، کتاب الاراضی)

د غیر مسلم یعنې کافر لپاره د احیاء مواتو حکم

سوال: زمونږ په علاقه کښې هندوان او سکان هم اوسیږي او هغو د حکومت په اجازه د کلي خرابه زمکه آباده کړې ده او مختلف ډول فصلونه پرې کري نو آیا دا زمکه به د هغو ملکیت ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړې زمکې د ژوندي کولو لپاره مسلماني شرط نه ده۔ که چېرته یو کافر هم د وخت د حکومت په اجازه د علاقې خرابه زمکه آباده کړي نو هغه به د هغه ملکیت ګڼل کیږي نو ځکه په نوموړي صورت کښې خرابه زمکه د حکومت په اجازه آبادوونکي هندوان او سکان به د هغې مالکان ګڼل کیږي۔

قال العلامة الحصکفیؒ: اذا احیٰی مسلم او ذمی ارضا غیر منتفع بها و لیست بمملوکة لمسلم و لا ذمی...... ملکها ان اذن له الامام فی ذٰلك و قالا یملکها بلا اذنه و هٰذا لو مسلماً فلو ذمیا شرط الاذن اتفاقا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۷، کتاب احیاء الموات)

قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: و یملکه الذمی با لاحیاء کما یملکه المسلم لان الاحیاء سبب الملك الا ان عند ابی حنیفةؒ اذن الامام من شرطه فیستویان فیه کما فی سائر اسباب الملك حتی الاستیلاء علی اصلنا. (الهدایة ج۴، ص۴۷۷، کتاب احیاء الموات)

د مواتو تعریف

سوال: جناب مفتي صاحب! موات څه ته وایي او کومې زمکې په مواتو کښې داخلې دي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: هر هغه زمکه چه د کلي او ښهر څخه د باندې وي او په هغې باندې د چا ملکیت نه وي او نه له هغې سره د چا حق تړلی وي او نه له هغې سره د کلي او ښهر متعلقه امور تړلي وي هغې زمکې نه موات ویل کیږي۔ له دې وجهې په کومو زمکو کښې چه دا شرائط موجود وي هغه په مواتو کښې داخل دي۔

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: فا لارض الموات هی الارض خارج البلد لم تکن ملکا واحد و لا حقا له خاصا فلا یکون داخل البلد مواتٌ اصلا. (بدائع الصنائع ج۶، ص۱۹۴، کتاب احیاء الموات)

و فی الهندیة: فا لارض الموات هی ارض خارج البلد لم تکن ملکا واحد و لا حقا له خاصا فلا یکون داخل البلد موات اصلا و کذا ما کان خارج البلدة من مرافقها محتطبا لاهلها و مرعیٰ لهم لا یکون مواتاً حتیٰ لا یملك الامام اقطاعها و کذٰلك ارض الملح و القار و نحوها مما لا یستغنی عنها المسلمون ارض موات حتیٰ لا یجوز للامام ان یقطعها لاحد. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۸۵، کتاب احیاء الموات)

یوازې قبضه د ملکیت سبب نه ګرځي

سوال: که چیرته کوم سړي د کلي په خرابه زمکې باندې قبضه وکړي او په حکومتي کاغذونو کښې ئې پخپل نامه واړوي لیکن آباده کړې ئې نه وي بلکه څو کاله ئې همداسې خرابه پریږدي۔ آیا د وخت حاکم یا د هغه نائب هغه زمکه بل چا ته ورکولی شي او که نه تر څو چه هغوی ئې آباده کړي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مواتو د ملکیت لپاره ضروري دي چه د وخت حاکم او یا د هغه د نائب په اجازه په خرابه زمکې باندې قبضه وکړي او آباده ئې کړي یعنې د کروندې قابله ئې وګرځوي۔ یوازې قبضه د ملك سبب نه دی۔ نو ځکه که چېرته د وخت حاکم او یا د هغه نائب چه وغواړي هغه زمکه بل چا ته ورکړي نو بالکل داسې کولی شي بیا هم حاکم ته تر دریو

کلونو پورې انتظار ضروري ده۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: و من حجر الارض ای منع غیره منها بوضع علامة من حجر او غیره ثم امهلها ثلاث سنین دفعت الی غیره و قبلها هو احق بها و ان لم یملکها لانه انما یملکها با لاحیاء و التعمیر لا بمجرد التحجیر. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۲۷۸، کتاب احیاء الموات)

قال العلامة المرغینانیؒ: و من حجر ارضا و لم یعمرها ثلاث سنین اخذها الامام و دفعها الی غیره لانا الدفع الی الاول کا لیعمرها فتحصل المنفعة للمسلمین من حیث العسر و الخراج فاذا لم یحصل یدفعه الی غیره تحصیلا للمقصود لان التحجیر لیس باحیاء لیملکه به. (الهدایة ج۴، ص۴۷۷، کتاب احیاء الموات)

په نیمایي ورکول یعنې اجاره د ملکیت سبب نه دی

سوال: جناب مفتي صاحب! کله کله حکومت په کوم ځای کښې خرابه زمکه د سلو کلونو او یا له دې نه کم او زیاتې مودې لپاره یوه سړي ته په نیمایي ورکوي او له هغه سړي څخه په کال کښې او یا د ټولو کلونو پیسې د اجارې په صورت کښې وصولوي او د مودې په تیریدو سره به همدا زمکه بیا د حکومت وي۔ نو آیا په نیمایي باندې د زمکې اخیستونکي د دې زمکې مالك جوړیدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: اجاره او نیمایي د ملکیت موجب نه دی۔ دا سړی تر هغه وخته پورې له دې زمکې څخه نفع حاصلولی شي چه تر څومره وخته پورې ئې دا زمکه په نیمایي سره له حکومت نه نیولې وي۔ د اجارې د وخت له ختمیدو نه وروسته به دا زمکه د حکومت وي۔ همدا وجه ده چه په نیمایي یا په اجاره باندې د زمکې اخیستونکی سړی هغه زمکه نه شي پلورلی۔

قال العلامة الحصکفیؒ: او ارضا بشرط ان یثنیها ان یحرثها او یکری انهارها العظام او یسرقنها لبقاء اثر هٰذه الافعال لرب الارض فلو لم تبق لم تفسد.

قال العلامه ابن عابدینؒ: تحت قوله (یشرط ان یثنیها) فان کان اثره یبقی بعد انتهاء العقد یفسد لان فیه منفعة لرب الارض و الا فلا. (رد المحتار ج۵، ص۴۱، کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة)

په حکومتي زمکو باندې د قبضې په کولو سره د هغو د احیاء حکم

سوال: زمونږ کلي ته نژدې پخوانۍ زمکه ده کومه چه مړه ده او د کلي د مال چر په جملې کښې راځي۔ اوس یوه سړي چه له دې کلي څخه بغیر له بل ځای نه راغلی دی د دې زمکې څه حصه ئې خپل نامه ته انتقال کړې ده نو آیا دغه سړی دا حق لري چه شاملاتي زمکه خپل نامه ته انتقال کړي او واضحه دې وي چه دا زمکه له کلي نه تقریبا دوه کیلو متره لرې پرته ده۔ په دې باره کښې حکم صادر کړی مهرباني به مو وي؟۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې حکومتي شاملات چه له هغو سره د کلي د خلکو مرافق

متعلق وي د هغو احیاء صحیح نه ده او د هیڅ ملکیت نه ګرځي بلکه هغه د ټولو کلیوالو د منافعو او ګټې اخیستنې لپاره به آزاده پریښودل کیږي او که چېرته د کلیوالو څه منافع ورسره تړلي نه وي نو د هغه احیاء صحیح ده لیکن د هغه لپاره د امام اذن یعنې د وخت د حاکم اجازه ضروري ده۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: اذا احیا مسلم او ذمی ارضاً غیر منتفع بها و لیست بمملوکة لمسلم و لا ذمی فلو مملوکه لم تکن مواتا فلو لم یعرف مالکها فهی لقصة یتصرف فیها الامام. و هی بعیدة من القریة اذا صاح من باقصی العامر لا یسمع بها صوته ملکها عند ابی یوسفؒ ان اذن له الامام فی ذٰلك و هو المختار ان اذن له الامام فی ذٰلك یملکها بلا اذنه الخ. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۵، ص۳۰۶/۳۰۷، کتاب احیاء الموات)

و فی الهندیة: قال القدوری فما کان عادیاً الی قدم خرابه لا مالك لهٗ او کان مملوکاً فی الاسلام لا یعرف لهٗ مالك بعینه و هو بعیدٌ عن القریة. و بعد اسطر قال و ملك فی الموات یثبت باحیاء باذن الامام الخ. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۳۸۶، کتاب احیاء الموات)

د هندوانو په متروکه جائدادونو باندې د قبضې حکم

سوال: څه فرمایي علماء دین په دې صورت کښې چه په ۱۹۴۷ء کښې د کشمیر په علاقې باندې مسلمانانو حمله وکړه چه په نتیجه کښې ئې څو هندوان مړه شول او څینې پټ شول او وتښتیدل۔ وروسته مسلمانانو د هغو په مال او متاع باندې قبضه وکړه او پخپل استعمال کښې ئې راوستل او د هغو د کورونو، مندرونو او ګرجو چادرونه ئې و ایستل او د جوماتونو په تعمیرونو کښې ئې استعمال کړل۔ اوس یوه مولوي صاحب دا ویلي دي چه د هندوانو د متروکه کورونو، مندرونو او داسې نورو آهن چادرونه په جوماتونو کښې استعمالول د مسلمانانو لپاره حرام دي او په داسې جوماتونو کښې د جمعې لمونځ اداکول جائز نه دي او دا آهن چادرونه یو مسلمان له بل مسلمان څخه پیرلی یعنې اخیستلی هم نه شي۔ اوس پوښتنه دا ده چه آیا دا چادرونه او داسې نور سامانونه د جوماتونو په تعمیر او داسې نورو کښې استعمالیدلی شي او که نه او داسې جوماتونه د شریعت له مخې د جومات په حکم کښې راځي او که نه؟ همدارنګه د مسلمانانو لپاره داسې چادرونه او د داسې نورو شیانو اخیستل او پلورل جائز دي او که نه د حنفي فقهې په رڼا کښې د دې مسئلې وضاحت وفرمایی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له ټولو نه مخکښې دا خبره د تحقیق او غور قابله ده چه په ۱۹۴۷ء کښې مسلمانانو چه په کشمیر کښې په هندوانو حملې کړې دي هغه ته شرعا جهاد ویل کیدی شي او که نه؟ او زمونږ په نزد د فقهې له کتابونو څخه د جهاد په اړه چه کوم شی ثابت دی هغه دا ده چه په مسلمانانو باندې د جهاد د مقررولو مقصد دا دی چه اعلاء کلمه اللّٰه وشي او د اسلام دین معزز شي او د کفر ټول قواعد او رسم و رواج نیست او نابود شي۔ بناء پر دې فقهاء کرامو د جهاد د وجوب لپاره څو شرائط مقرر کړي دي او لیکلي ئې دي چه:

اول دا چه مسلمانان په دومره تعداد کښې وي چه شان او شوکت ئې برقرار وي۔ دوهم دا چه د هغوی خرڅ او خوراك هم مهیا وي۔ دریم دا چه د هغو لپاره د امن او حفاظت ځای هم وي چه د کفارو له شر څخه نجات ورته حاصل وي او د حاجت په وخت کښې په کار ورشي۔ او که چېرته د مسلمانانو دا یقین وي چه غلبه به د کفارو وي نو په دې صورت کښې جهاد فرض نه دی۔ په جامع الرموز کښې راغلي دي چه:

الجهاد فرض عین بشرط القدرة علی القتال و السلاح و الزاد و الراحلة..... انتهٰی. او په عالمګیري کښې راغلي دي چه: و الثانی ان یرجوا الشوکة و القوة لاهل الاسلام و ان کان لا یرجوا الشوکة للمسلمین فی القتال فانه لا یحل له القتال لما فیه من القاء نفسه فی التهلکة..... انتهٰی۔ او همدارنګه په در مختار، شامي او فتح القدیر کښې هم مذکور دي۔

نو اوس د دې تفصیل په رڼا کښې د ۱۹۴۷ء کال کښې که چېرته په هندوانو باندې د مسلمانانو حملې ته که چېرته جهاد ووایو او په دې دوران کښې کوم شیان چه د کفارو له املاکو څخه یعني د هندوانو له مالونو څخه د مسلمانانو لاس ته ورغلي وو هغه د غنیمت مال دی او هغه په ذاتي کارونو کښې استعمالول، اخیستل، پلورل او په جوماتونو کښې استعمالول صحیح دي او هغه جوماتونه به شرعي جوماتونه وي او د لمونځونو ادا کول په کښې درست دي۔

فقط والله اعلم

کلي یا ښار ته نږدې د خــــرابه زمکې آبادول

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ کلي ته نږدې یوه ټکړه زمکه خرابه پرته ده چه په هغې کښې د کلي خلك خپل څناور او داسې نور پیایي او د خپلو څناورو لپاره ترې واښه او داسې نور راوړي۔ اوس یو سړي د ولسوال په اجازه د هغې آبادول غواړي او حال دا چه په آبادولو سره ئې د کلي ډېرو خلکو ته تاوان دی نو آیا شرعا همدې سړي ته د دې ټکړې زمکې آبادول جائز دي او که نه؟ د قرآن او سنت په رڼا کښې ځواب راکړې مهرباني به مو وي۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د خرابې زمکې آبادول او حاصلاتو ته برابرول ئې یو ښه عمل دی لیکن د دې خبرې خیال ساتل ضروري دي چه د کلي یا ښهریانو ته نقصان نه وي او همدارنګه هغه زمکه کلي یا ښهر ته نږدې نه وي چه خلك له هغې څخه اجتماعي ګټه پورته کوي۔ د نوموړې صورت مطابق دا زمکه چونکه کلي ته نږدې ده او کلیوال ئې د چراګاه یعنې د مال چر په توګه استعمالوي نوله دې وجهې د دې زمکې د ولسوال د اجازې سره سره آبادول جائز نه دي۔ ځکه چه په دې کښې د ټولو کلي والو اجتماعي تاوان دی۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانی رحمه الله: لا یجوز احیاء ما تقرب من العامر و یترك مرعیً لاهل القریة و مطرحاً لحصائدهم لتحقق حاجتهم الیها حقیقتها او دلیلها علی ما بیناه فلا یکون مواتاً لتعلق حقهم بها بمنزلة الطریق و النهر الخ. (الهدایة ج۴، ص۴۷۸، کتاب احیاء الموات)

د زمــــکې د ملکیت د تحدید د دلائلو څېړنه

انفرادي او شخصي ملکیت

په اوسني دور کښې د معاشي او اقتصادي بدحالی اصل وجه د دین د اصولو او اسلامي احکامو څخه لرې والی دی۔ که چېرې مونږ د اسلام په چنولي، بهترین او ابدي اصولو باندې عمل وکړو نو من حیثیت القوم به زمونږ ملك او حالت د ترقي په لور روان وي۔ د اسلام د دې زرینو اصولو څخه د لرې والي نتیجه ده چه د پاکستان په ملك بلکه په ټوله دنیا کښې د متمولې او سفید پوشي طبقې تر منځ د معاشي تفاوت په وجه اقتصادي بدحالي پیدا شوې ده او ټول ملك بلکه ټوله دنیا په دې وخت کښې د دې بحراني کیفیت سره مخامخه ده۔ د ملك ډېر سیاسي ګوندونو او حکمرانانو پخپل سر د دې حل وایست چه په عارضي او یا مستقل ډول سره د زمکې د ملکیت تحدید ئې وکړ او هغه ته ئې د قانوني شکل د ورکولو لپاره کوشش هم وکړ چه علماء کرامو د حکومت په دې موقف باندې له شرعي نقطهٔ نظره رڼا ګانې واچولې۔ د جامعه دار العلوم حقانیه مفتي حضرت مولانا مفتي محمد فرید مد ظله هم د "تحدید ملکیت زمین باندې د دلائلو د یوې جائزې" تر عنوان لاندې یو مضمون ولیکه چه په هغې کښې د دې خبرې وضاحت شوی دی چه په اسلام کښې د دې هیڅ ګنجائش نشته۔ د دې سره سره د جامعه دار العلوم حقانیه موجوده مهتمم حضرت مولانا سمیع الحق صاحب مد ظله د "انفرادي او شخصي ملکیت" تر عنوان لاندې د اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې د دې مسئلې وضاحت فرمایلی دی۔ ماهنامه "الحق" دغه دواړه ګرانقدره مضامین شائع کړي دي چه اوس ئې د عامې افادې لپاره د فتاوٰی سره د مناسبت په وجه په فتاوٰی حقانیې کښې هم شامل کړې ده۔

(حضرت مرتب صاحب)

د زمکې د ملکيت د تحديد د دلائلو يوه څېړنه

په اسلام کښې د دې هيڅ گنجائش نشته

د ملك د متمولو او فقراوو تر منځ معاشي تفاوت او د اقتصادي بد حالۍ بنيادي وجه داوه چه د الله تعالىٰ د مقرره اصولو او احکامو څخه خلك لرې کيدل۔ د اموالو حقوق نه ادا کيده او د زر په لاس ته راوړلو کښې د حلالو او حرامو فرق نه کيده او په نتيجه کښې هغه سخت بحران پيدا شو کوم چه ټول ملك ورسره مخامخ دی۔ اکثره سياسي گوندونه د دې علاج دا بولي چه د زمکې د ملکيت تحديد دې وشي يعنې د زمکې د ملکيت يو خاص حد دې مقرر کړی شي۔ تر دې پورې چه له ځينو مذهبي گوندونو څخه هم په دې سلسله کښې بې احتياطي وشوه چه په عارضي او يا مستقل ډول سره د زمکې د ملکيت تحديد ته ئې پخپلو منشورونو کښې ځاى ورکړ۔ حالانکه د معاشي بې اعتدالي، بد حالي او د فساد علاج د ملك په تحديد سره نه شي کيدلی۔ په عملي او واقعتي تجزيې سره د غه حقيقت د رڼا ورځ غوندې ښکاريږي چه په دې علاج سره مرض نه شي لرې کيدلی ليکن په دين کښې د يو ډول تحريف او ترميم ارتکاب کيږي او مسئله هم پخپل ځاى کښې لاينحل پاتې کيږي۔

که چېرته له زميندارانو سره سل سل ايکړه زمکه پريښودل شي او تر دې زياتی ترې واخيستل شي او حکومت همدا زياتی زمکه د ملك ټولو بې زمکو خلکو ته د ضرورت مطابق تقسيم کړي نو د ملك د خلکو په تناسب سره دا محدوده زمکه هيڅکله ټولو خلکو ته نه شي رسيدلی که چېرې ځينو ته ئې ورکړي او ځينو ته ئې ور نه کړي نو فساد به پخپل ځاى پاتې وي۔ او بيا دا تحديد د شريعت څو حکمونه لکه ميراث او د اسې نور منسوخ او معطلوي۔ او بيا ډېر وخت د اقتدار خاوندان د اسې عارضي او مصلحتي قوانينو ته دائمي حيثيت ورکوي۔ نو د وراثت قانون په مستقله توگه معطل گرځي۔ او دا تحديد د سوشلزم او کميونزم لپاره د بنياد تيږه ده ځکه چه د تحديد په دلائلو سره يو مخ په شخصي ملکيت نفي منځ ته راځي۔ کوم مثالونه او شواهد چه دوی سره ښکته او پورته کوي او د ملکيت د تحديد لپاره د جواز لارې جوړوي ترڅو چه د مړی مسئله حل شي او همدارنگه د عزل او د حمل د اسقاط او د اسې نورو نظائرو او شواهدو په بناء د نسل تحديد (خانداني منصوبه بندي) لپاره هم د جواز وجه پيدا کوي ترڅو چه د مړی مسئله حل شي نو که چېرته هغه تحديد جائز نه دی نه دا تحديد دې ولې جائز وي؟

د نظائرو او شواهدو جـــــائزه

ځينې حضرات د وخت حاکم ته د اقتصادي بد حالۍ د لرې کولو لپاره د ملکيت د تحديد د اصولو د جوړولو اختيار ورکوي۔

او په دې ضمن کښې ئې څه دلائل وړاندې کړي دي مونږ د هغو هم لنډه غونډې جائزه اخيستل غواړو۔

﴿الف﴾ په دې کښې شك نشته چه فقراء او مساکينو ته که چېرته د ژوند ضروريات ميسر نه وي او د هلاکت خطره ئې وي نو حکومت له هغو کسانو څخه چه مالونه ذخيره کوي په جبري توگه سره غله او د اسې نور اخيستلی شي تر څو د فقيرانو او مسکينانو حاجت پوره کړي او فقيران هم په مستقيمه توگه په اضطراري حالت کښې د مالك له رضاء نه پرته غله او د اسې نور شيان اخيستلی شي او پخپلو ضرورياتو کښې ئې استعمالولی شي ليکن په دواړو صورتونو کښې لازمه دا ده چه د غريبي او د ضرورت د پوره کيدو نه وروسته به د هغو مالکانو ته معاوضه ورکوي۔

قال فى الدر المختار لو خاف الامام على اهل بلد الهلاك اخذ الطعام من المحتكرين و فرق عليهم فاذا وجد واسعة ردوا مثله و من اضطر لمال غيره و خاف الهلاك تناوله بلا رضاه و نقله الزيلعى عن الاختيار و اقرّه. (الدر المختار ج ، ص)

او علامه ابن حزم ظاهري هم په المحلی ج۵، ص۴۵۲ کښې ليکلي دي چه په غنيانو باندې فرض دي چه د فقيرانو ضروريات پوره کړي او د وخت د حاکم لپاره جائز دي چه غنيان دې خبرې ته مجبور کړي چه د فقيرانو ضروريات پوره کړي۔ د علامه صاحب عبارت په لاندې ډول دی:

و فرض على الاغنياء من اهل كل بلد ان يقوموا لفقرائهم و يجبرهم السلطان على ذٰلك ان لم تقم الزكٰوة بهم و لا فى سائر اموال المسلمين بهم فيقام لهم بما ياكلون من القوت الذى لا بد منه و من اللباس للشتاء و الصيف بمثل ذٰلك و بمسكن يكنهم من المطر و الصيف و الشمس و عيون المارة. انتهٰى.

ليکن ابن حزم مالکانو ته د معاوضې د ورکولو قائل هم نه دی او دا د هغه له تفرداتو څخه دی۔ الغرض د ضرورت په وخت کښې د غنيانو له مالونو څخه د فقيرانو حاجت او ضرورت پوره کول فرض دي۔ ليکن له دې څخه هيڅکله دا نه ثابتيږي چه د وخت بادشاه د زمکې د قانوني مالکانو څخه زمکه په زور واخلي او بې زمکې خلکو ته ئې ورکړي۔

﴿ب﴾ پاتې شوه دا خبره چه ابو عبيده بن جراح رضى الله عنه د جهاد په موقع باندې درې سوه ملگرو ته د خپلو خپلو توښو د جمع کولو حکم ورکړ او له دې څخه خپله مدعا ثابتول خو ليکن په دې سره هم د ملکيت تحديد نه شي ثابتيدلی ځکه چه په دې واقعه کښې نه د غه توښې د ابوعبيدهؓ ملکيت جوړ شوی وو او نه دا وقافو غوندې غير مملوکه وو بلکه په هم هغه شخصي ملکيت کښې باقي پاتې وو او د اباحت په شکل کښې د يوه بل له راشن څخه د فائدې اخيستلو ورته وېل شوي وو او په غزوهٔ خندق کښې د سويق جمع کول او تقسيمول هم همدغه حقيقت وو۔

﴿ج﴾ د حضرت عمر رضى الله عنه بلال رضى الله عنه ته ورکړ شوی د وادی عتيق زمکه د واپس اخيستلو هم د ملکيت د تحديد لپاره وړاندې کيږي۔ حالانکه هغه زمکه خرابه (موات) وه او حضرت عمر رضى الله عنه له هغه څخه يوائې د زمکې هغه حصه ترې واپس

واخیستله کومه چه هغه آبادولی نه شوه او کومه ئې چه آباده کړې وه او د کروندې قابله ئې ګرځولې وه هغه ئې ترې واپس نه وه اخیستې- (رواه یحی بن آدم عن عبد الله بن ابي بکر کذا في التعلیق علی الاموال ص۴۹) او دا اوس هم جائزه ده چه کله یو سړی تر درې کلونو پورې مړه زمکه نه شي آبادولی نو د وخت حکومت ئې بیرته ترې اخیستلی شي ځکه چه په مړې زمکې کښې له آبادولو مخکښې یو اځې په قبضې سره ملکیت نه ثابتیږي- په هدایې کښې راغلي دي چه: فبقي غیر مملوك کما کان هو الصحیح (هدایه ص۴۶۳) یعنې د اسې زمکه د نه آبادي په وجه سره مملوکه هم نه ګرځي بلکه غیر مملوکه به وي-

﴿د﴾ په دې کښې شك نشته چه حضور ﷺ د مجاهدینو د خوښۍ لپاره د هوازن د قبیلې وفد ته د هغوی قیدیان واپس ورکړي وو (بخاري ص۶۱۸) لیکن له دې څخه هم د ملکیت د تحدید جواز نه معلومیږي ځکه چه اول خو دا احتمال موجود دی چه دا واپسي له تقسیم څخه مخکښې شوې وه لکه څرنګه چه د ابن کثیر رایه ده-

و ظاهر سیاق حدیث عمرو بن شعیب الذی اوردهٔ محمد بن اسحق عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ ردّ الی هوازن سبیهم قبل القسمة. (تاریخ ابن کثیر ج۴، ص۳۵۵)

یعنې د حدیث څخه په ظاهره دا معلومیږي چه حضور ﷺ بنو هوازن ته د هغوی قیدیان له تقسیم څخه مخکښې واپس کړي وو- د دې احتمال له مخې ثابتیږي چه شخصي ملکیت ثابت شوی هم نه وو او حال دا چه د ملکیت په تحدید کښې خو د شخصي ملکیت ازاله کیږي او که چېرته بالفرض دا هم تسلیم شي چه دا واپسي له تقسیم څخه وروسته شوې وي لکه د بخاري په روایت کښې چه "و قد کنت استانیت بکم" څخه معلومیږي نو بیا هم له دې څخه په حاکمانه او جبري توګه د ملکیت په زور سره اخیستل او یا د هغه محدودولو جواز نه را ووځي ځکه چه هلته په ښه زړه یعنې په پوره رضا او رغبت سره واپسي شوې وه او د دغې رضامندۍ او زړه خوشحالۍ د پوره رعایت او تحقیق په کولو سره ئې د اسې وکړل او د اسې واپسي اوس هم په اجماع سره جائزه ده-

او بیا دا خبره دې هم واضحه وي چه اکثره مجاهدین هغه قیدیان مفت واپس کړل او کوم کسان مثلا اقرع بن حابس او عیینه او د هغوی قوم د مفت واپس کیدو څخه انکار وکړ- (البدایه و النهایه ج۶، ص۳۵۳) او د معاوضې د ورکولو وعده ئې وکړه او دا عوض قیمت او ثمن هم نه وو ځکه چه په هغې وعدې کښې نه د ثمن اندازه معلومه وه او نه اجل تاکل شوی وو او په شریعت کښې د اسې اخیستل او پلورل جائز هم نه دي چه په هغه کښې نه قیمت معلوم وي او نه د ادا کولو وخت تر دې پورې چه په دې معاملې کښې خو د ثمن ادا کول او د هغه تحقیق هم غیر یقیني وو چه په هغه باندې د بخاري دا الفاظ دلالت کوي چه "و من احب منکم ان یکون علی حظه حتی لغطیه ایاه من اول ما یفیء الله علینا فلیفعل" (که څوك په تاسو کښې غواړي چه که چېرته مونږ ته الله د غنیمت له مال څخه څه راکړل نو د هغو بدله به ادا کړو) د دې الفاظو څخه دا معلومیږي- پس له دې حدیث څخه د مِلك د تحدید او یا په تبدیل باندې استدلال صحیح نه دی-

﴿ز﴾ پنځم دلیل د ملکیت د تحدید لپاره د فقهاء کرامو دا قاعده "تحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام" وړاندې کړې ده یعنې د یو عام ضرر د ازالې په خاطر خاص ضرر برداشت کړی لیکن په دې قاعدې سره هم د ملکیت د تحدید د جواز استنباط درست نه دی- ځکه چه په دې ملك کښې هر یې زمکې سړي ته تکلیف او مصیبت نه دی لاحق- په لکونو خلك کوم چه د زمکې مالکان نه دي لیکن نه بربنډه دي او نه وږي بلکه د نورو معاشي ذرائعو په وجه سره ئې حال ښه دی- دو همه دا چه عام ضرر که چېرته موجود دی نو په دواړو خواوو او په دواړو صورتونو کښې موجود دی- البته د تحدید غوښتونکي په عمومي توګه هغه خلك دي چه د سوشلستانو له نظریاتو څخه متاثر دي او عموما د هغو په زړونو کښې د حلال او حرام تمیز او د آخرت احساس نشته- مذهب د دوی په نزد د حیثیت حامل دی- د نس د مسائلو سره د مذهب تعلق نه بولي- دریمه دا چه د شر او فساد په دې زمانې کښې چه حکام او آمران په عمومي توګه بې دینه، خائنان او بد دیانته دي- مفاد پرستي، رشوت ستاني، سفارش او اقرباء پرستي د هغو شیوه وي نو د اراضي تحدید او تصرف د اسې چا ته سپارل په حقیقت کښې د قوم او ملك تباهي ده فقهاوو لیکلي دي چه که چېرته بیت المال او د اوقافو په حکامو باندې د خیانت اثرات ظاهر شي نو د مسلمانانو مالونه مصادرتاً د اخیستلو فتوٰی نه ورکول کیږي ځکه چه حکامو ته نور هم د حرام خورۍ او خیانت د دروازې خلاصول دي- (در مختار مع رد محتار ج۴، ص۲۸۵)

لنډه دا چه د ملکیت د تحدید په جواز کښې په دیني او علمي لحاظ سره ډېرې فتنې او په اقتصادي او مالي لحاظ سره ډېر حقونه تر پښو لاندې کیږي او د بې دیانتۍ زیاته خطره پکښې موجوده ده نو ولې دې له بې احتیاطۍ څخه کار واخیستل شي او د فتنو دروازې دې کښې نه راځي او زما له هغه سره قطعا اتفاق نشته-

محمد فرید خادم دار الافتاء دار العلوم حقانیه

انفرادي او شخصي ملکیت

د نصیحت او خیرخواهي د جذبې په بناء سره له "جماعت اسلامي" څخه یو ګذارش او عرض دا دی چه د کوم قومي او ملي حیثیت باندې د حکمت عملي اسره اخلي حالانکه د دوی قائد یعني مودودي صاحب په الفاظو کښې دا دي چه "د یوه مقصد د برتري لپاره یوائې د مقصد سوچه والی ضروري او کافي نه دی بلکه تر هغه مقصده پورې د رسیدلو چه کومې ذریعې او حدود دي هغه هم باید پاك او صفا وي" لیکن عملاً مونږ ګورو چه د مقصد د پوره کولو په خاطر جماعت اسلامي نه یوائې دا چه د طریقه کار د صحت خیال نه لري بلکه د دین یو یو اصل سیاست ته پورته کوي۔ په دې وخت کښې د جماعت اسلامي انتخابي منشور مخته راغلی دی۔ په دې کښې د زراعت په عنوان کښې د زمکې ملکیت په مغربي پاکستان کښې د سل او دوه سوه ایکړې زمکې تر منځ او په مشرقي پاکستان کښې تر سلو بیګه پورې محدود کړی دی۔ او په تمهید کښې ویل شوي دي چه "په غیر معمولي حالاتو کښې داسې غیر معمولي تدابیر غوره کیدی شي کوم چه د اسلام د اصولو سره متصادم نه وي"۔ له دې خبرې پرته چه د شریعت مذکوره قاعده په کومو حالاتو باندې او په کوم غیر معمولي تدابیرو باندې منطبق کیږي۔ زمونږ عرض دا دی چه اسلامي شریعت نه د زمکې په باره کښې څه تحدید کړی دی او نه په نورو مالونو او املاکو باندې د انفرادي او شخصي ملکیت د کوم ډول حد مناسب ګرځولی دی۔ په جائزو او حلالو ذرائعو سره چه څومره ملکیت لاس ته راوړي شریعت نه یوائې هغه جائز ګرځولی دی بلکه د اللّٰه تعالی یو نعمت ئې بولي۔ قرآن او حدیث له داسې نصوصو او شواهدو څخه ډك دي۔ مونږ نه د حالاتو په نزاکت او نه د وخت په څپو کښې د هغه تاویل کولوی شو او نه سوشلزم ته هوا ورکوو او نه د هغو له ویرې څخه په اسلامي مسائلو کښې تحریف او تجدید کولی شو۔ اسلام د غیر محدود ملکیت څخه څوك نه منع کوي۔ البته هغه مالك لره د اللّٰه او د هغه د بندګانو د حقوقو د پابند جوړولو سره سره د یوې خاصې منصوبه بندي لاندې د ملکیت تحدید کوي۔ دا زکوٰتونه، عشر، او دا صدقات او د تولو نه لوی شی د اسلام د میراث د قانون د ملکیت تحدید نه دی نو څه شی دی۔ لیکن د لامحدودو محدودول کوم چه د قدرت خپله منصوبه ده مونږ په دې کښې څه زیاتوالی او کمی نه شو کولی۔ مونږ د مجرمانو او د معاشرې د حق تلفي کوونکي لاسونه پرې کولی شو لیکن هغوی د یوې پیسې حلالې ګټلې څخه نه شو منع کولی۔

د حکمت عملي پالیسي

مونږ ته په کار دي چه د حالاتو مقابله وکړو او د خرابیو اصلاح وکړو لیکن دا اصلاح داسې نه دی چه د دین په کوم اصل باندې چاړه تیره کړو او د فساد یوه بله دروازه خلاصه کړو۔

د دین مسئله به پخپل ځای برقراره پاتې وي۔ جماعت اسلامي که دغه زمونږ ناعاقبت اندیشي یا ئې بل شی ګڼي لیکن مونږ دغه حکمت عملي د دین لپاره زهر قاتل بولو۔ او که چېرته جماعت اسلامي د غیر معمولي حالاتو په وجه سره تر دوو سوو ایکړو زمکو تحدید غیر معمولي تدبیر او د دین د اصولو سره غیر متصادم و نه ګرځوي بلکه و دې ګرځوي۔ که چېرته د جماعت اسلامي له خوا څخه د دین د اصولو څه واضح تشریح و هم شي نو معامله به واضحه شي لیکن مونږ ګورو چه کله هم وغواړي هغه یو شی د دین اصول بولي او بیا که بل څه وغواړي نو د اسلام د اصولو سره د نه تکر خوړلو فتوٰی ولګوي او دا اصولو ته د حکمت عملي بنه ورکړي یعني هر شی ئې پخپل زړه او د خپلې غوښتنې په مطابق وي۔ آه (افسوس)! د اسلام اصول په داسې بې رحمۍ سره تر پښو لاندې کول؟ د آزادۍ په جنګ کښې ئې پارلیماني نظام ته لات او منات ویل لیکن وروسته بیا دغه شی اصل الاصول وګرځیده او د ښځې امارت او حکومت ته ئې په هر حال کښې د اسلام سره تکر بلل او بیا همدغه شی د وخت اهم ترین جهاد وګرځیده۔ انتخابي کوشش او جد و جهد ته ئې خلاف شریعت ویل او بیا وروسته همدغه انتخابي مهم مشغلۀ روزګار جوړ شو او نتیجه دا شوه چه د مقصد د حصول لپاره د زرائع تقدیس ئې په هر حالت کښې د قائمولو لپاره زور ورکول کیده۔ لیکن بیا په دې لارې کښې هر لویدلي شي ته غیر وکړل۔ او هغوی د جادۀ منزل ملګري بنودل۔ او اوس ئې د زمکې ملکیت کښې (هغه ته عارضي وویل) او داسې موقف ئې اختیار کړو چه د هغه مخالفت د دوی شیوه ګرځیدلې وه۔ كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا معلومه نه ده چه د هغه مخالفت د دوی سره تعلق لرونکي مشرانو ئې د دې نوي اجتهاد او د حکمت عملي څه توجیه کوي۔ تاویل چه څه وي هم لیکن دا نه دی پکار چه فلاني فلاني ګوندونه هم داسې وکړل او فلاني مشر هم دا ویلي دي۔ که چېرته د یوه شي بدوالی ثابت شي نو د هغه په وزن کښې په دې شي سره کموالی نه شي راتلی چه نور خلك هم داسې کوي۔ داسې خبرې د جرائمو په تاریخ کښې هم چا نه دي کړي چه زه اګر که مجرم یم لیکن دا یو داسې جرم دی چه در شهرها روزکنند او نه یو عدالت د مجرم دغه موقف تسلیموي۔ تعدیل صحابه او نور علمي او فقهي مسائل او اوس د لاهوري مرزایانو په باره کښې د جماعت اسلامي د ګناه دغه عذر مخې ته راغلی دی۔ لیکن غلطه خبره غلطه ده خواه که ددغې غلطې خبرې ویونکی هر څومره لوی شخص هم وي۔ دا یوه ضمني خبره وه اوس پاتې د شخص ملکیت سلب کول او یا د هغه محدودول۔

د شخصي ملکیت شواهد

تر کومه ځایه پورې چه اصل مسئله د انفرادي او شخصي ملکیت سره تعلق لري خواه که هغه املاك منقوله وي او که املاك غیر منقوله اسلام د انسان فطري حق جوړ کړی دی نه هغه تحدید کیدلی شي او نه د عصر حاضر لادیني اقتصادي نظامونو علمبردار په هغه کښې

ﮋ اَوَلَم يَرَوْ اَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَا اَنْعَاماً فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ☆ څه لاس وهلی شي۔ د قرآن کریم دا آیت چه اَوَلَم يَرَوْ اَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَا اَنْعَاماً فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ☆ کښې د انسان په شخصي ملکیت باندې مهر لګولی دی او د قرآن بې شمیره آیتونه د دغې جملې فَهُمْ لَهَا مَالِكُوْنَ تائید کوي۔ کوم خلك چه ان الارض پس زمکه د الله ده۔ دا ډول آیت مخته وروسته کوي او د خپل مدعی ثابتول غواړي هلته الله تعالی پخپله متصل فرمایلي دي چه يُوْرِثُهَا مَنْ يَشَآءُ یعنې د الله چه چا ته خوښه شي د دې وارث ئې ګرځوي۔ او یا ددې هم معنی الفاظو کښې ئې انفرادي ملکیت بیان کړی دی د داسې خلکو بنیاد ئې ایستلی دی۔ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ سره ئې تُؤتِي الْمُلك من تشآءُ هم شته او د وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَ الفِضَّةَ سره د وَ لاَ يُنْفِقُوْنَهَا فِى سَبِيْلِ اللّٰه قید د انسان د انفرادي مالکیت اعلان کوي او بیا هغه پخپل ملکیت کښې هر جائز تصرف او هغه ته د خپل ملکیت څخه د منتقل والي حق هم ورکوي۔ لکه څرنګه چه اخیستل او خرڅول، هبه، تملیك، اعتاق، تدبیر، کتابت، اجاره، اعاره، مزارعت، وقف، رهن، قرض صدقه، وصیت، میراث او داسې نور د دې تصرف شواهد عدل دی۔ او همدارنګه مسلمان چیرته د بل مسلمان په مال او دولت کښې په ناجائزې طریقې سره د لاس وهلو نه بچ کیدل د ایمان اولنۍ نښه بولي۔ ظلم، تعدی، غلا او راهزني، خیانت و غصب، لوټماري او شکونه او جبر حرام ګرځوي۔ او اسلام د انسان د شخصي ملکیت تحفظ کول غواړي هغه په یو ډول سره متمول او غریب دواړو ته وَلاَ تَاْكُلُوا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (د یو او بل مال په ناحقه سره مه خورئ) سره مخاطب کوي او اَلاَ لاَ يَحِلُّ مَالُ امرِئٍ اِلاَّ بِطِيْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ الحدیث یعنې خبردار د یوه سړي مال د هغه له خوښې پرته بل ته حلال نه دی۔

د سوشلزم د ظلم بنیاد، استحصال او مادیت

پس کوم خلك چه سوشلزم د ټولو معاشي خرابیو نه ښه والی ګڼي۔ هغه نه یواځې دا چه د الله تعالی د لیږل شوي اسلام عادلانه نظام ګډوډول غواړي بلکه هغه چور چپاول او د انسان د ټولو حقوقو تر پښو لاندې کوي۔ چه د غه په وجه سره نه یواځې غریب د عیش او آرام نه محروم پاتې کیږي بلکه ټول قوم د څو خونخوارو درنده ګانو د جماعت په رحم و کرم باندې پاتې کیږي۔ د اسلام د نوموړي ټول اصول یوې خوا ته کړی د یوې لمحې لپاره دا فرض کړی چه سوشلزم راځي او هغه ټول قوم د ملکیت له حق څخه محرومه کوي۔ د الله تعالی ورکړ شوی ټول دولت او د معاش وسائل د یوې پارټۍ په حواله کوي۔ نو آیا هغه ګوند او پارټۍ به د موجوده معاشرې څخه وړاندې کیږي او که د آسمان څخه به د فرښتې په شکل کښې کوزیږي لیکن که د هغه اصل د دې معاشرې څخه وي چه د هغه مشت نمونه خروار ۳۰۳ بدعنوانه افسرانو په شکل کښې وړاندې شوی دی کوم چه په کروړونو روپۍ ترستوني تیروي۔ او فائل دفتر ته داخلوي۔

نو د خدای لپاره لږ غوندې سوچ وکړی چه د داسې خلکو راوړل شوی سوشلزم او یا بل معاشي نظام د انسان د مال او د ځان او د هغوی په حقوقو کښې مساوات قائمولی شي؟ هیڅکله نه۔ د سوشلزم د خوف ګنجائش شته او نه د آخرت د محاسبې او نه چا ته د تنقید او د نصیحت۔

مساوات یعنې مواسات استحصال نه دی احتساب

د دې په مقابله کښې اسلام دی چه داسې معاشره جوړوي کوم چه په هرې لمحې کښې او هر عمل کښې خدای جل جلاله ته جواب ورکوونکي وي۔ د آخرت محاسبه هر وخت د هغه په زړه کښې وي هر فرد ته په بل باندې د ظلم، غصب او د هرې بدکارۍ څخه د منع کولو پوره حق حاصل دی او هغه که امیر ته وغواړي هم هغه په توره سمولی شي او هغه که د اسلام د بل قلمرو څخه د یوه سپي د لوږې او تندې څخه د مرګ خبر اوري هم نو د الله په وړاندې د ځواب ورکولو په سوچ کښې ورك وي او هغه د هر انسان لوږه او تنده خپل حاجت بولي او د ایثار د جذبې لاندې پخپله فقیر پاتې کیږي او نور د خپل متاع مالك جوړوي۔ د دې لپاره ویل کیږي چه اسلام د معاشي مسائلو بنیاد په مساوات باندې نه بلکه په موساوات باندې ایښی دی۔ هغه معاشي نه برابري په جبر سره نه بلکه د ایمان او د یقین په بیداري سره حاصلول غواړي۔ اسلام یوه داسې معاشره قائمه کړه چه خلافت راشده د هغه یو واضح مثال دی۔

سوشلزم او کور په کور جاسوس

او بلې خوا ته د سوشلستانو طور طریقې وې چه د جبر او ظلم په اساس باندې ئې یو داسې عمارت پورته کړ چه په نیمې صدۍ کښې ئې ساه وخته۔ د تاریخ دغه مادي تعبیر په اوس محال د روس صدر بریژنیف دا وویل چه په روس کښې سوشلسټ نظام عملا ناکام شوی دی او دارنګه فشهد شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا نمونه مخکښې راغله۔ الغرض له مونږ سره د معاشي او معاشرتي یو والي لپاره د اسلام غوندې د کیمیا نسخه موجوده ده۔ لیکن افسوس او صد افسوس چه نه مونږ هغه وپیژاند او نه مو و آزماوه۔ و من لم یذق لم یدره۔

چون نه دیدند حقیقت راه افسانه زدند

د سوشلزم د عیارو لیډرانو د فریب لومې

زمونږ ددې بې علمۍ او له حقیقت څخه د بې خبرۍ څخه د اوسني دور ابن الوقت سیاستدانانو ښه فائده واخیسته۔ یا خو عوام هغوی د خپلو ټولو بربادیو تریاق وګڼل او د هغوی پسې روان شول۔ او د دې حقیقت څخه غافله شول چه غل خپل کمین ګاه ته ورسیده او مونږ له دې څخه هم محرومو وي۔ خبره نابښائسته غوندې ده۔ لیکن مثال ښه ورسره لګیږي چه زمونږ په علاقې کښې د هلك د ختنه کولو په وخت کښې عموما بچیان دیخوا او ایخوا ته غلطوي او د ختنې په عین وخت کښې وایي چه هغه ګوره د سرو زرو مرغۍ الوزي او اوس ستا په قد مونو کښې دی۔ د هغه هلك په شوق سره نظر پورته کوي۔ او دلته د خپل جسم له یوې حصې څخه محروم شي۔ نو زمونږ په نزد د سوشلزم مثال همدارنګه "د سرو زرو د مرغۍ غوندې" دی له هغه څخه عیار لیډر ښه فائده اوچتوي۔ (فروري ۱۹۷۰ء)

كتاب
المزارعة

کتاب المزارعت

د مزارعت احکام او مسئلې

د مزارعت څو صورتونه

سوال: زمونږ په معاشره کښې په علاقایي سطح د مزارعت مختلف صورتونه موجود دي۔ په ځینو علاقو کښې د زمکې مالك د تخم دهقاني او یا د نورو مصارفو ذمه وار ګرځوي۔ آیا د شریعت له مخې د زمکې په مالك دا ذمه واري ور اچول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مزارعت معامله د ظاهر روایت له مخې په دریو صورتونو کښې جائز دی۔

﴿۱﴾ زمکه او تخم له یوې خوا نه او قلبه (غوایي) او عمل له بلې خوا نه۔

﴿۲﴾ زمکه له یوې خوا څخه او عمل او غوایي او تخم له بلې خوا څخه۔

﴿۳﴾ زمکه، غوایي او تخم له یوې خوا څخه او عمل له بلې خوا څخه او په دغو دریواړو صورتونو کښې د مزارعت معامله شرعا جائزه ده۔

لما قال العلامة ابو الحسین احمد بن محمد البغدادی القدوریؒ: اذا کانت الارض و البذر لواحد و العمل و البقر لواحدٍ جازت المزارعة و ان کانت الارض لواحدٍ و العمل و البقر و البذر لآخر جازت المزارعة و ان کانت الارض و البذر و البقر لواحدٍ و العمل لآخر جازت. (مختصر القدوری ص۲۰۸، کتاب المزارعت)

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه اللّٰه: (و کذا) صحت (و لو کان الارض و البذر لزید و البقر و العمل للآخر) و الارض له و الباقی للآخر. (او العمل لهٗ و الباقی للآخر) فهذه الثلاثة جائزة. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۷۸، کتاب المزارعة) و مثله فی الهدایة (ج۴، ص۴۲۴، کتاب المزارعة)

د فصل د ریبلو د ذمه وارۍ حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې د زمکې مالك په دهقان باندې د نورو ذمه واریو نه پرته دا شرط هم لګوي چه کله فصل تیار شي نو ریبي به ئې او صفا کوي به ئې او د زمکې د مالك کور ته به ئې هم رسوي آیا د دهقان لپاره د دغو شرائطو پابندي ضروري دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه په ظاهرو روایتونو کښې د دې ګنجائش نشته لیکن د دې با وجود متاخرینو علماوو عرف ته په کتو سره د قاضي ابو یوسف رایه اختیار کړې ده او په دې باندې ئې فتویٰ ورکړې ده چه په دهقان باندې د فصل د ریبدلو او تیارۍ د ذمه وارۍ اچولو کښې هیڅ حرج نشته۔ لیکن بیا هم د دې نشاندهي په کتابونو کښې نه ده شوې چه فصل دې صفا کړي او د زمکې د مالك کور ته دې هم رسوي۔ البته که چېرته د دهقان د احسان په ډول سره دا فریضه سر ته ورسوي نو د اسې عمل د خپل منځي په تعلقاتو د ښو اثراتو د پریوتو سبب ګرځي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: (و صح اشتراط العمل) کحصاد و دباس و نصف علی العامل و عند الثانی علی العامل و هو الاصح) و علیه الفتویٰ. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۲۸۲، کتاب المزارعة)

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: (اقول) تلحض من هٰذا ان الصحیح صحة اشتراط العمل علی العامل و به صرح فی متن التنویر و المتلقی. (تنقیح الحامدیة ج۲، ص۲۰۵، کتاب المزارعة) و مثله فی تبیین الحقائق (ج۵، ص۲۸۳، کتاب المزارعة)

د دهقان یا بزګر د زمکې د مالك له اجازې نه پرته له فصل څخه څه اخیستل

سوال: د زمکې د مالك له اجازې نه پرته دهقان د فصل څخه څه اخیستلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مزارعت څخه مراد که چېرته د ویش نظام (مزارعت بالنصف او د اسې نور) وي نو د زمکې مالك د کروندګر سره شریك دی او په شراکت کښې د شریك له اجازې نه پرته د یوه شي هم پخپل استعمال کښې راوستل جائز نه دي۔ بیا هم د اسې معمولي شیان چه د هغو په عرف کښې اجازه وي په استعمالولو کښې شرعا څه حرج نشته او که چېرته د مزارعت څخه مراد اجاره وي نو ټول حاصلات د کروندګر وي نو ځکه د زمکې له مالك څخه د اجازې ضرورت نشته۔

لما رواه الامام علی بن عمر الدار قطنیؒ: عن عمرو بن یثربی قال شهدتُ رسول اللّٰه ﷺ فی حجة الوداع بمنٰی فسمعتُه یقول لا یحل لامرء من مال اخیه شیء الا طابت به نفسه. انتهی (سنن الدار قطنی ج۳، ص۲۵، رقم ۸۹، کتاب البیوع)

لما ذکر الشیخ ولی الدین ابو عبد اللّٰه محمد بن عبد الخطیبؒ: و عن ابی حرة الرقاشی عن عمه قال قال رسول اللّٰه ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه. (مشکٰوة المصابیح ج۱، ص۲۵۵، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی) و مثله فی نصبر الرایة (ج۴، ص۱۶۹، کتاب الغصب)

له کروندګر څخه د ضمانت په توګه د څه روپۍ اخیستل

سوال: که چېرته د زمکې مالك د کروندګر څخه څه پیسې د ضمانت په توګه د خپل ځان سره کښېږدي تر څو چه کروندګر د معاهدې خلاف ورزي و نه شي کړی او د زمکې مالك د بې ځایه نقصان څخه بچ شي شرعا د زمکې د مالك د دې اقدام څه حیثیت دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زمکې د مالك لپاره د اعتماد په توګه د یو شي له ځان سره د ایښودلو د جواز نظائر موجود دي او بیا د شریعت له مخې مرتهن له مرهونې څخه د استفادې

حق نه لري۔ عموما خلك څه پیسې د ضمانت په توګه مالك ته ردي لیکن د زمکې مالك له هغه څخه څه فائده نه اخلي ځکه چه هغه د استفادې حق نه لري۔

لما قال العلامة قاضی خانؒ: لو استاجر خیاطا لیخیط له ثوبا و اخذ من الخیاط رهنا با لخیاط جاز. انتهی (الفتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۵۹۸، کتاب المزارعة)

و فی الهندیة: لو استأجر خیاطاً لیخیط له ثوبا و آخذ من الخیاط رهنا با لخیار جاز. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۴۳۵، الفصل الثالث فیما یجوز الارتهنا الخ) و مثله فی شرح مجلة الاحکام لسیخ سلیم رستم باز (ص۳۸۷، تحت مادة ۷۱۰)

په مزارعت باندې د مرګ اثرات

سوال: د مزارع په وفات باندې که چېرته د هغه اولاد د مزارعت باقي ساتل غواړي لیکن د زمکې مالك په هغه باندې راضي نه دی نو آیا په دې صورت کښې د مزارع وارثانو ته په هغه باندې د دې خبرې د منلو حق حاصل دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په عاقدینو کښې د یوه په وفات سره د مزارعت معاهده ختمیږي بیا هم چه کوم فصل په زمکې باندې موجود وي نو د هغه تر رسیدو پورې به ورته انتظار کوي البته که چېرته ئې د کروندګر وارثان د هغه پرېښودل غواړي نو هغوی به نه مجبوریږي چه دا مه پرېږدی۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ بخلاف ما لو مات رب الارض و الزرع بقلٌ فان العمل فیه جمیعا علی العامل او ورثته لبقاء مدة العقد و العقد یوجب علی العامل عملاً یحتاج الیه الی انتهاء الزرع کما مر و لو مات قبل البذر بطلت و لا شیء لکربه کما مر. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۲۸۲/۲۸۱، کتاب المزارعة)

لما قال العلامة فخر الدین عثمان بن علی الزیلعی الحنفی رحمه اللّٰه: (و تبطل بموت احدهما) لانها اجارةٌ و هی تبطل بموت احد المتعاقدین اذا عقداها لانفسهما ، قد بیناه فی الاجارة و هٰذا علی اطلاقه هو جواب القیاس و فی الاستحسان اذا مات احدهما و قد نبت الزرع یبقی عقد الاجارة حتٰی یستحصد ذٰلك الزرع ثم تبطل فی الباقی لان فی ابقاء العقد حتٰی یستحصدها مراعاة الحقین فیعمل العامل او ورثته علی حاله فاذا حصد یقسم علی ما شرطا و لا ضرورة فی الباقی فتبطل و لو مات رب الارض قبل المزارعة بعد ما کرب الارض و حفر الانهار انتقضت المزارعة لانه لیس فی ذٰلك اتلاف مال علی المزارع و لا شیء للعمل بمقابلة العمل. انتهی (تبیین الحقائق ج۵، ص۲۸۲، کتاب المزارعة) و مثله فی البحر الرائق (ج۸، ص۱۶۲، کتاب المزارعة)

په زاړه قبرستان کښې د زراعت حکم

سوال: یو زوړ قبرستان چه په هغه باندې د سلو کلونو څخه زیات وخت تیر شوی دی او په هغه کښې قبرونه هم نه معلومیږي نو آیا د داسې قبرستان څخه نورې فائدې لکه زراعت او داسې نور اخیستلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه قبرستان د زړوالي لپاره د مودې هیڅ تعین نشته بیا هم د فقهاء کرامو د تصریحاتو څخه دا اندازه لګیږي چه کله قبرونه دومره زاړه وي چه د مړو بدنونه په ظاهره له هغه څخه نه متاثره کیږي نو په دې صورت کښې د داسې قبرستان د نورو مقاصدو لپاره استعمالول جائز دي او که چېرته دوهم وار هم په دغه قبرستان کښې مړي ښخ کړی شي نو بیا هم پکښې هیڅ حرج نشته او که چېرته قبرستان ذاتي وي نو پخپلې حصې کښې آبادي کول او یا د زراعت لپاره ئې استعمالول هم مرخص دی۔

لما قال العلامة فخر الدین عثمان بن علی الزیلعیؒ: و لو بلی المیت و صار ترابا جاز دفن غیره فی قبره و زرعه و البناء علیه. (تبیین الحقائق ج۱، ص۲۴۶، کتاب المزارعة)

قال العلامة ابن نجیم المصریؒ: و لو بلی المیت و صار ترابا جاز دفن غیره و زرعه و البناء علیه. (البحر الرائق ج۲، ص۱۹۵، کتاب المزارعة) و مثله فی الهندیة (ج۱، ص۱۶۷، کتاب المزارعة)

د افیونو د کرلو حکم

سوال: د افیونو کرل د شریعت له مخې څه حکم لري؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: افیون یو داسې شی دی چه له هغه څخه په ننني زمانې کښې خطرناك او مهلك ترین منشیات لکه هیروئین او داسې نور جوړیږي چه د هغو په وجه سره ټوله دنیا د تباهی په لور روانه ده او د دغو په مضروالي باندې ټوله دنیا متفقه ده نو ځکه د هغه د کرلو او اخیستلو او پلورلو د جواز څه خاص دلائل نه په سترګو کیږي بلکه اقوال د دغو د حراموالي تائید کوونکي دي لیکن بیا هم که چېرته د افیونو استعمال یوائځې تر دوایي پورې محدود وي او یا د هغو څخه د خشخاش حاصلول مقصود وي نو بیا ددغو ضروریاتو په بناء سره په محدودې اندازې سره د هغه د کرلو ګنجائش شته لیکن په معاشرې کښې د دې نیت والا ډېر کم پیدا کیږي۔

لما قال العلامة شمس الدین محمد بن عبد اللّٰه التمرتاشیؒ: و یحرم اکل الحشیشه و الافیون لکن دون حرمة الخمر. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۴۵۷، کتاب الاشربة)

لما قال العلامة شیخ الاسلام ابو بکر بن علی الحدار الیمنیؒ: و لا یجوز اکل الحشیشه و الافیون و ذٰلك کله حرام. (الجوهرة النیرة ج۲، ص۲۷۰، کتاب الاشربة) و مثله فی الفتاوی الکاملیة (ص۲۷۰، کتاب الاشربة)

د تمباکو کـــــــرل جائز دي

سوال: د سګریټو یا نسوارو لپاره چه کوم تمباکو استعمالیږي په شرعي چوکاټ کښې د هغه د کرلو څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ځینو فوائدو سره سره د نوي تحقیق له مخې اګر که د تمباکو د څښلو مضر اثرات موجود دي لیکن تر اوسه پورې تر کومې نتیجې پورې نه دي رسیدلي چه

هغه یوائې مضر شمار شي او د محرماتو په فهرست کښې شمار کړی شي ځکه دفقهاوو د احوالو څخه ئې اباحت معلومیږي او په دې حالت کښې د تمباکو کرلو، اخیستلو او پلورلو کښې څه حرج نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدینؒ: (شرب الدخان) فانه لم یثبت اسکاره و لا تغیره و لا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشیاء الاباحة. (رد المحتار ج۶، ص۴۵۹، کتاب الاشربة)

قال العلامة المفتی محمد کامل بن مصطفی الطرابلسیؒ: و قد حقق المتاخرون من اهل مذهبنا الحنفیة انه (شرب الدخان) لیس بحرامٍ و انما فی تعاطیه الکراهة و قدمنا ان احسن ما قیل فیه قول الامیر رحمه اللّٰه و اختلف فی الدخان و الورع ترکه. (الفتاوی الکاملیة ص۲۸۶، کتاب الکراهیة، مطلب فی حکم شرب الدخان)

د بنګو د کرلو حکم

سوال: بنګ یو نشه کوونکی شی دی چه په ظاهره سره د هغه هیڅ فائده نشته نو آیا کرل ئې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بنګ چونکه د نشه یي شیانو په قطار کښې شامل دی نو ځکه ئې اخیستل، پلورل او مزارعت شرعا جائز نه دی۔

لما قال العلامة شمس الدین محمد بن عبد اللّٰه التمرتاشیؒ: و یحرم اکل البنج و الحشیشه و الافیون لکن دون حرمة الخمر. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۴۵۷، کتاب الاشربة)

قال العلامة شیخ الاسلام ابو بکر بن علی بن محمد الحداد الیمنیؒ: و لا یجوز اکل البنج و الحشیشه و الافیون و ذٰلك کله حرام. (الجوهرة النیرة ج۲، ص۲۷۰، کتاب الاشربة) و مثله فی الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة (ج۳، ص۲۳۱، کتاب الاشربة)

د زمکې د مالك لخوا په مزارع باندې له تخم برسیره د سرې او نورو شیانو په شرط لګولو سره د مزارعت حکم

سوال: که چېرته د زمکې مالك په مزارع یا دهقان باندې د نورو شیانو شرط ولګوي او حال دا چه تخم هم د کروندګر له خوا څخه وي نو آیا د دې امورو د اشتراط په وجه سره مزارعت فاسدیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مزارعت کښې چه کله تخم د مزارع له خوا څخه وي نو د سرې غوندې د نورو شیانو او امورو په مزارع باندې د شرط لګولو په وجه سره مزارعت نه فاسدیږي بلکه د متاخرینو فقهاء کرامو په نزد صحیح کیږي او فتوٰی هم د متاخرینو فقهاوو په قول دی۔

و فی الهندیة: اذا شرط رب الارض و البذر من المزارع ان یسرقنها قبل تفسد المزارعة عند المتقدمین و لا تفسد عند المتاخرین و الفتوٰی علی قول المتاخرین. کذا فی جواهر الاخلاطی. (الفتاوی الهندیة ج۵، ص۲۴۴، کتاب المزارعة، الباب الثالث فی الشروط فی المزارعة)

د هدایې د یوه عبارت وضاحت

سوال: جناب مفتي صاحب! د هدایې د دې عبارت چه "و لا تجوز المزارعة و المساقات عند ابی حنیفةؒ" څه مطلب دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مزارعت د مسئلې په اړه د امام صاحبؒ خوا ته چه څومره اقوال منسوب دي نو که چېرته په هغوی ژور نظر غور وکړی نو معلومه به شي چه د امام ابو حنیفةؒ د هغه اقوالو څخه مقصد مطلق عدم جواز نه دی۔ بلکه اصل مقصد دا دی چه کوم یو د زمکې مالك د کروندګر له مجبورۍ څخه ناجائزه فائده وانخلي او داسې دې نه کوي چه د کروندګر محنت د مور شیدې وګڼي او وئې خوري او همدارنګه پخپل منځ کښې تنازعات او د شخړو او جنګونو څخه معاشره پاکه او صفا وي۔ ځکه چه په معاشره کښې عموما جنګونه له دغو شیانو څخه پیدا کیږي او همدارنګه د زمکې مالك په عزیمت باندې عمل وکړي او خپله زمکه غریب سړي ته د کرلو لپاره مفت ورکړي۔ ځکه علامه انور شاه کشمیري صاحب د حاوي القدسي په حواله سره نقل کړې ده "کرهها ابو حنیفةؒ و لم ینهه اشد النهی" (فیض الباری ج۳، ص۲۲۵، کتاب المزارعة)

د چینې له اوبو څخه د منع کولو حکم

سوال: زمونږ په کلي موضع بکسن ملکوټ تحصیل او ضلع ایبټ آباد کښې د چینلو د صفا اوبو سخت کمی دی او زمونږ ښځې د څلورو کلو مترو څخه د لرې نه اوبه راوړي او حال دا چه په همدومره فاصلې کښې سرکاري ځنګل کښې اوبه ښې ډېرې دي۔ مونږ کوشش وکړ او له حکومت څخه مو یوه پروژه منظوره کړه او کلي ته مو د اوبو د رسولو لپاره باقاعده ټینکۍ جوړه کړه او د پایپ لاین د غزولو کار مو هم شروع کړ۔ له دې سره د نږدې کلي خلك راغلل او ټینکۍ ئې ماته کړه او نلونه ئې هم وایستل او د دوی موقف دا دی چه په دې ځنګل کښې زمونږ حق زیات دی ځکه له دغې چینې څخه مونږ اوبو تاسو ته نه شو درکولی۔ او حال دا چه اوبو ښې ډېرې موجودې دي او بله خبره دا چه دا اوبه نه هغه کلي ته د چینلو لپاره پکاریږي او نه هغوی په دغو اوبو باندې خپلې زمکې اوبه کوي۔ دا خلك یوائې پخپل ضد باندې ولاړ دي۔ عالیجنابه! د قرآن او سنت په رڼا کښې یوه داسې فتوٰی صادره کړی چه مونږ له دې مشکل څخه خلاص شو اللّٰه تعالی دې تاسو ته جزای خیر عطا کړي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: اوبو او وابنه تول مشترك شیان دي یو سړی هم څوك له هغو څخه نه شي منع کولی لیکن بیا هم کوم خلك چه دغو اوبو ته نږدې دي اول حق د هغو دی او کومې اوبو چه له هغو څخه زیاتې وي نور خلك ئې د هغو له اجازې پرته استعمالولی شي۔ چا ته دا حق حاصل نه دی چه نور خلك د هغې له استعمال څخه منع کړي۔ له دې وجهې د نومړي

صورت مطابق د حکومتي ځنګل اوبو د ټولو خلکو مشترکې اوبو دي او د نژدې کلي خلک له هغې څخه منع کول بې انصافي ده او ناجائز دی۔ هغوی شرعا دا حق نه لري چه تاسو د دغو اوبو له استعمال څخه منع کړي۔

لما فی الهندیة: ماء البحار و لکل واحد من الناس فیها حق الشفعه و سقی الاراضی حتٰی ان من اراد ان یکری نهراً منها الی الارض لم یمنع من ذٰلك ...... و الثانی ماء الاودیة العظام لجیحون و سیحون و دجلة و الفرات للناس فیه حق الشفعه علی الاطلاق و حق سقی الاراضی بان احیٰی واحد ارضاً میتة و کری منه نهراً یسقیها ان کان لا یضر با لعامة و لا یکون نهراً فی ملك احد لانها مباحة فی الاصل........ و الاصل فیه قوله علیه الصلوٰة و السلام الناس شرکاء فی ثلاث فی الماء و الکلاء و النار. (الهدایة ج٤، ص٤٨٢، مسائل الشرب)

کتاب الصید و الذبائح

قال الله تعالیٰ

ولا تاكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه وانه لفسق

وأذا حللتم فاصطادوا

کتاب الصید و الذبائح

د ذبحې احکام او مسئلې

د ذبحې لپاره يو ائحې د الله د نوم اخيستل کافي دی

سوال: که چېرته يو سړي د يوه ځناور د ذبح کولو په وخت کښې د بسم الله الله اکبر د ويلو په ځای نور داسې کلمات ووايي کوم چه د الله په ذکر کښې استعماليږي نو آيا په دې سره به ذبيحه حلاله وي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ذبيحې د حلال والي لپاره د الله نوم اخيستل کافي دی او تخصيص ئې د پورتني کلماتو سره نه دی بلکه په هرو هغو کلماتو سره ذبحه جائزه ده کوم چه د الله تعالی په عظمت باندې دلالت کوي۔

لما قال العلامة التمرتاشیؒ: (و الشرط التسمية هو الذكر الخالص عن سوب الدعاء) و غيره (فلا يحل بقوله اللّٰهم اغفر لی) لانه دعاء و سوال (بخلاف الحمد لله و سبحان الله مريداً به التسمية) فانهٗ يحل. (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٦، ص۳۰۱، کتاب الذبائح)

لما قال الشيخ الاسلام ابو بكر بن على الحداد اليمنیؒ: و ان قال بسم الله الرحمٰن الرحيم فهو حسنٌ و الشرط هو الذكر الخالص المجرد على ما قال ابن مسعود جرد و التسمية........ و لو قال سبحان الله و الحمد لله و لا اله الا الله يريد التسمية اجزء لان الدامور بهٖ ذكر الله على وجه التعظيم. (الجوهرة النيرة ج۲، ص۲۷٦، کتاب الذبائح)

د ذابح د معاون لپاره د تسميې حکم

سوال: د مذبوحې د حلالوالي لپاره اګر که د الله تعالی د نامه اخيستل ضروري دي ليکن که چېرته کوم سړي په حلالولو کښې د ذابح امداد کاوه نو آيا د هغه لپاره هم د ذابح غوندې تسميه ويل ضروري دي او که نه او د بسم الله د نه ويل په صورت کښې په مذبوحې باندې څه اثر پريووزي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په دغې ذبحې کښې د ذابح د معاون حيثيت داسې وي چه د هغه نه پرته د ذابح کار نه پوره کيږي لکه که چېرې ئې له ذابح سره چاړه په لاس کښې نيولې وي او ذبح وکړي او په دې کښې دواړه شريك وي نو د هر يوه لپاره د بسم الله ويل ضروري دي او هر يو به مستقل ذابح ګڼل کيږي۔

لما قال العلامة علاؤ الدين الحصكفیؒ: و فيها اراد التضحية فوضع يده مع يد القصاب فی الذبح و اعانه على الذبح سمى كل وجوباً فلو تركها احدهما او ظن ان تسمية احدهما تكفی حرمة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص۳۳٤، کتاب الاضحية)

لما قال العلامة الفرغانی رحمه الله: رجلٌ اراد ان يضحى فوضع صاحب الشاة مع يد القصاب فی الذبح و

اعانه علی الذبح حتی صار ذابحاً مع القصاب. قال الامام رحمه الله تعالی یجب علی کل واحدٍ منهما التسمیة حتی لو ترک احدهما التسمیة لا تحل الذبیحة. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۳۵۵، کتاب الاضحیة، فصل فی مسائل المتفرقة)

د ذبح فوق العقـــــد حکم

سوال: په شریعت کښې د ذبح فوق العقد څه حکم دی او په دې باندې د څناورو په حلالوالي او حراموالي باندې څه اثر لوېږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په ذبح کښې اصل شی حلقوم یعنې مرۍ ده او د دوو رګونو پرېکول ضروري دي کوم چه د عقد لاندې جمع کېږي نو ځکه تحت العقد ذبح ډېره بهتره ده او بیا هم که چېرته د ذبح ماهرین دا وو ایي چه دغه اعضاء له عقد څخه پورته پرې کېږي نو بې له شکه څناور حلال دی لیکن احتیاط په دې کښې دی چه ذبح تحت العقد وي۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانی: و الذبح بین الحلق و اللبة و فی الجامع الصغیر لا بأس با لذبح فی الحلق کله وسطه و اعلاه و اسفله. (الهدایة ج٤، ص٤٣٥، کتاب الذبائح)

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی رحمه الله: و ذکاة (الاختیار ذبح بین الحلق و اللبة با لفتح المنحر من الصدر (و عروقه الحلقوم) کله وسطه او اعلاه او اسفله و هو مجر النفس. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٢٩٤، کتاب الذبائح) و مثله فی العنایة علی هامش فتح القدیر ج٨، ص٤١٢، کتاب الذبائح.

د څناور حرکت یا له هغه څخه د وینې وتل د حلالوالي باعث دی

سوال: که چېرته په یوه څناور کښې په ظاهره د ژوند آثار نه معلومېږي لیکن د ذبحې نه وروسته ترې وینه را ووځي او یا حرکت وکړي نو آیا په دې سره څناور حلال ګڼل کېږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه په یوه څناور کښې د حیات ظاهري علامې نه وي لیکن د ذبحې په وخت کښې حرکت وکړي او یا دومره وینه ترې لاړه شي څومره چه له ژوندي څناور څخه ځي نو د هغه د ژوند لپاره دا علامه کافي ده او په دې سره دا څناور حلال ګڼل کېږي۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی: ذبح شاة مریضة فتحرکت او خرج الدم حلت و الا لا بان لم تدر حیاته.

قال ابن عابدین (قوله او اخرج الدم) کما یخرج من الحی. (رد المحتار ج٦، ص٣٠٨، کتاب الذبائح)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری: رجل ذبح شاة او بقرة و تحرکت بعد الذبح خرج منها دم مسفوح تحل و کذا ان تحرکت و لم یخرج الدم او خرج الدم و لم یتحرک......... و فی شرح الطحاوی و خروج الدم لا یدل علی الحیوٰة الا اذا کان یخرج کما یخرج من الحیّ. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص٣٠٦، کتاب الذبائح)

و مثله فی الفتاوٰی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٣٠٥، کتاب الذبائح.

د ذبح په وخت کښې د څناور سر له تنې څخه جلا کول مکروه دي

سوال: د ذبحې په وخت کښې که چېرته له ذابح څخه د څناور سر پرې شي نو آیا په دې باندې په مذبوحې باندې څه اثر پرېووزي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ذبحې په وخت کښې د ذبیحې د سر په پرې کولو سره په ذبحې باندې هیڅ اثر نه کوي او غوښه ئې حلاله او د خوړلو قابله ده بیا هم د څناور د سوړوالي نه مخکښې د هغه سر پرېکول د غیر ضروري تعذیب په وجه سره له کراهت څخه خالي نه دی۔

لما قال العلامة ابو الحسین احمد بن محمد البغدادی: و من بلغ با لسکین النحر و قطع الرأس کره لهٗ ذٰلک و توکل ذبیحته. (مختصر القدوری ص٢٧٦، کتاب الذبائح)

لما قال الامام عبد الله بن محمود بن مودود الموصلی و یکره ان یبلغ با لسکین النحر او یقطع الرأس و تؤکل. (الاختیار علی تعلیل المختار ج٥، ص١٢، کتاب الذبائح)

و مثله فی الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٢٩٦، کتاب الذبائح.

په کومه حادثه کښې د څناور د سر تر پرې کېدو وروسته د هغه حکم

سوال: که چېرته د یوه څناور په کومه حادثه کښې سر له تن څخه جلا شي نو په پاتې بدن باندې ئې د چاړه په تیرولو سره هغه څناور حلالېږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق د سر د پرې کېدو نه وروسته که چېرته هغه رګونه پاتې نه وي چه د هغو په پرېکولو سره څناور حلالېږي نو دا څناور به حلال نه وي یوائې د چاړه تیرول پرې کافي نه دي۔

لما قال العلامة ابن البزاز الکردری: و لو انتزع الذئب رأس الشاة و بقیت حیة تحل با لذبح بین اللبة و اللحیین، و فیه........ شاة قطع الذئب اوداجها و هی حیة لا تذکی لفوات محل الذبح. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٣٠٨، کتاب الذبائح)

ذکر فی الهندیة: و لو انتزع الذئب رأس الشاة و هی حیة تحل با لذبح بین اللبة و اللحیین....... شاة قطع الذئب اوداجها و هی لا تذکی لفوات محلِ الذبح. (الفتاوی الهندیة ج٥، ص٢٩١، کتاب الذبائح، الباب الثالث فی المتفرقات)

په غاښ، نوکانو او د اسې نورو باندې د حلالیدونکې ذبیحې حکم

سوال: که چېرته یو د اسې صورت پیدا شي چه حلال څناور مرګ ته نژدې شي او چاړه یا بل شی نه وي او د څناور د مرداریدو خطره وه نو آیا په غاښونو نوک او یا په تیرې ډبرې باندې د څناور ذبح کول جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په کوم اضطراري حالت کښې د چاړه د نه موجودیت په صورت کښې

په نوکونو، غاښونو او يا په تيرې ډبرې او نورو شيانو باندې د ځناور ذبح کول درست او صحيح دی ليکن په دې شرط چه نوك او يا غاښ وتلی وي او د ګوتو په نوکانو يا د خولې په غاښونو سره د ځناور ذبح کول جائز نه دی۔ ليکن چونکه د انسان اجزاء قابل احترام دی۔ نو ددې په وجه سره په وتلي غاښونو او نوکانو باندې د ځناور ذبح کول له کراهيت څخه خالي نه دی۔

لما قال العلامة ابو عبد الله محمد بن الحسن الشيبانىؒ: ظفر منزوع او قرن او عظم او سنٌّ منزوعة ذبح به فانهر الدم و اخرى الاوداج لم يكن باكله باس و اكره هٰذا الذبح و ان ذبح بظفر او بسن غير منزوعة فهى ميتةٌ. (الجامع الصغير ص۳۸۶، كتاب الذبائح)

قال العلامة برهان الدين المرغينانىؒ: و يجوز با لظفر و السن و القرن اذا كان منزوعا حتّٰى لا يكون باكله بأس الا ان يكره هٰذا الذبح...... بخلاف غير المنزوع لانهٗ يقتل با لثقل فيكون فى معنى المنخنقة. (الهداية ج۴، ص۴۳۶، كتاب الذبائح)

و مثله فى الدر المختار على صدر رد المحتار ج۶، ص ۲۹۱، كتاب الذبائح.

د مشين د ذبيحې حکم

سوال: نن صبا په نوي سائنسي آلاتو سره ځناور ذبح کيږي په مقدس شريعت کښې د مشيني ذبحې څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د يوه ځناور د ذبح کولو لپاره مقدس شريعت څو شرائط وضع کړي دي۔

﴿۱﴾ ذبح کوونکی به مسلمان وي۔

﴿۲﴾ د ذبحې په وخت کښې د بسم الله ويل۔

﴿۳﴾ تحت العقد ذبح کول۔

له دې وجهې که چېرته په نوي سائنسي آلاتو سره په ذبح کولو کښې نوموړي شرائط موجود وي نو ذبيحه به حلاله وي او د هغه په خوړلو کښې هيڅ حرج نشته۔ په بل صورت کښې د اسې ذبيحه حلاله نه ده او نه د هغې د غوښې خوړل جائز دي۔

لما قال الامام ابو الحسن احمد بن محمد البغدادى القدورىؒ: و ذبيحة المسلم و الكتابى حلال و لا تؤكل ذبيحة المرتد و المجوسى و الوثنى و المحرم و ان ترك التسمية عمداً فا لذبيحة ميتة لا تؤكل و ان تركها ناسياً اُكل و الذبح بين الحلق و اللبة و العروق التى تقطع فى الذكاة اربعة الحلقوم و المرى و الودجان. (مختصر القدورى ص۲۷۶، كتاب الذبائح)

قال الامام عبد الله بن محمود بن مودود الموصلىؒ: و الذكاة الاختيارية و هى الذبح فى الحلق و اللبة و الاضطرارية و هى الجرح فى اى موضع اتفق و شرطهما التسمية و كون الذابح مسلماً او كتابياً. (الاختيار لتعليل المختار ج۵، ص۹، كتاب الذبائح) و مثله فى كنز الدقائق ص۴۱۶، كتاب الذبائح.

28

د خاصو مواقعو د ذبح حکم

سوال: کله کله د خاصو اسبابو په موجود والي کښې يو ځناور ذبح کيږي مثلا کله چه يو مريض له مريضي څخه روغ شي نو د هغه لپاره ځناور حلاليږي نو آيا د دې خاصو اسبابو په وجه سره د هغه په حلت باندې څه اثر پريوزي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په مقدس شريعت کښې هغه ځناور حرام دی کوم چه د غير الله د تقرب لپاره ذبح کيږي۔ په نوموړي صورتونو کښې د غير الله تقدس او تقرب نشته بلکه د خدای پاك د شکريې ادا کول پکښې ملحوظ وي نو ځکه د دې ذبحې په خوړلو کښې هيڅ حرج نشته۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: (و لو ذبح للضيف يحرم) و علٰى هٰذا فا لذبح عند وضع الجدار او عروض مرض او شفاء منه لا شك فى حله لان القصد منه التصدق. (رد المحتار ج۶، ص۳۰۹، كتاب الذبائح)

قال العلامة المفتى محمد كامل بن مصطفى الطرابلسىؒ: و علٰى هٰذا فا لذبح عند وضع الجدار و عروض مرض و شفاء منه لا شك فى حله لان القصد منه التصدق. (الفتاوى الكاملية ص۲۳۹، كتاب الذبائح)

و مثله فى غمز عيون البصائر شرح الاشباه و النظائر للحموىؒ ج۳، ص ۲۳۰، كتاب الذبائح.

د اهل کتابو د ذبيحې حکم

سوال: د اوسني دور د عيسايانو او يهوديانو په لاس د حلال شوي ذبيحې څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په مقدس شريعت کښې د ذابح لپاره ضروري دي چه يا مسلمان او يا اهل کتاب وي نو ځکه که چېرته عيسايي يا يهودي د خپل مذهب د تعليماتو د پيروي دعوه لرونکی وي نو د هغوی په لاس د ذبيحې په خوړلو کښې شرعا څه ممانعت نشته۔ خو بيا هم د اوسنی زمانې جدت پسندي ته که چېرته نظر وکړو نو د ا اندازه ترې لګيږي چه عيسايان او يهوديان په د اسې عقائدو او نظرياتو باندې عمل کوي چه د هغو د مذهب له بنيادي عقايدو سره ټکر خوري نو ځکه احتياط په دې کښې دی چه د هغوی د ذبيحې له خوړلو نه ځان وساتل شي۔

لما قال العلامة ابو البركات عبد الله بن احمد النسفىؒ: حل ذبيحة مسلم و كتابى الخ. (كنزا الدقائق ص۴۱۶، كتاب الذبائح)

قال الشيخ ابو الحسين احمد بن محمد البغدادىؒ: و ذبيحة المسلم و الكتابى حلالٌ. (مختصر القدورى ص۲۷۵، كتاب الذبائح)

و مثله فى الاختيار لتعليل المختار ج۵، ص۹، كتاب الذبائح.

د شيعه ګانو د ذبيحې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! آيا د شيعه ګانو د ذبيحې خوړل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د محققينو علماوو په نزد د اوسنی زمانې د شيعه ګانو د تعصب او

بغض په وجه سره د د اسې عقائدو معتقدین ګرځيدلي دي چه د کفر موجب دي د د اسې کفري عقائدو د لرلو په وجه سره د هغوی د ذبیحې حکم د مرتدینو ګرځيدلی دی او د خوړلو قابل نه دي۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارىؒ: الرافضى ان كان يسب الشيخين و يلعنهما فهو كافرٌ و ان كان يفضل عليًا على ابى بكر و عمر رضى الله عنهم لا يكون كافراً لكنه مبتدعٌ. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣٨١، كتاب الكراهية)

لما قال العلامة مُلا على القارىؒ: قلت و هٰذا فى غير حق الرافضة الخارجة فى زماننا فانهم يعتصدون كفر اكثر الصحابة فضلاً عن سائر اهل السنة و الجماعة فهم كفرة با لاجماع بلا نزاع. (مرقاة شرح مشكُوة ج٩، ص١٣٧، كتاب الفتن) و مثله فى شرح الفقه الاكبر ص ٧٢، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الايمان.

د غوا د غوښې د حلت حکم

سوال: د ځينو واعظينو څخه د اسې خبرې اوريدل کيږي چه د غوا له غوښو څخه خلکو ته نفرت ورکوي نو آيا د غوا د غوښې خوړل د شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بينوا تؤجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شریعت له مخې غويی د هغو حيواناتو په فهرست کښې شامل دی چه ځيرل نه کوي يعني درنده ځناور نه دی ځکه د هغه په حلت کښې هيڅ شك نشته د فقهاوو د تصريحاتو څخه اند ازه کيږي چه غوا خو پريږده بلکه د هغې په نس کښې چه کوم بچی دی د هغه هم ذبح کول او خوړل جائز دی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: بقرة تعسرت ولادتها فادخل ربها يده و ذبح الولد حل و ان جرحه فى غير محل الذبح و ان لم يقدر على ذبحه حل و ان قدر لا. (رد المحتار ج٦، ص٣٠٣، كتاب الذبائح)

قال العلامة الاستاذ محمد الشهير با لطورىؒ: لو ان بقرة تعسر عليها الولادة فادخل صاحبها يده و ذبح الولد حل اكله و ان جرحها فى غير موضع الذبح اذا كان لا يقدر على ذبحه يحل و ان كان يقدر لا يحل. (البحر الرائق ج٨، ص١٧١، كتاب الذبائح) و مثله فى الفتاوى الهندية ج٥، ص٢٨٧، كتاب الذبائح، الباب الاول.

د غلا شوي ځناور د غوښې حکم

سوال: غلا شوی يا مغصوبه ځناور د ذبح کولو نه وروسته د هغه د غوښې خوړل جائز دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حلال ځناور د حلت او د حرمت په احکامو باندې د غلا او غصب اثر نه کوي۔ خو په دې شرط چه ذابح مسلمان وي او د ذبحې په وخت کښې په ذبيحې باندې د الله نوم ذکر کړي خو بيا هم په غل او غاصب باندې مالك ته د هغه د قيمت ادا کول واجب دی۔

لما قال العلامة ابن البزاز الكردرىؒ: غصب شاه و ضحى بها ان اخذها مالكها و ضمنه النقصان لا يقع عن الاضحية و ان ضمنه قيمتها حية وقعت عنها لانها صارت ملكاً من وقت الغصب. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج٦، ص٢٩١، كتاب الاضحية)

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارىؒ: اذا غصب شاه و ضحى بها لا يجوز و صاحبها با لخيار ان شاء اخذها ناقصة و يضمنه النقصان و لا يجوز عن الاضحية و ان شاء ضمنه قيمتها حية فتصير الشاة ملكاً للغاصب من وقت الغصب فيجوز عند الثلاثة رحمهم الله استحساناً. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣١٦، كتاب الاضحية)

و مثله فى الفتاوى الهندية ج٥، ص٣٠٣، الباب السابع فى التضحية عن الغير.

سوی حـــلال ځناور دی

سوال: جناب مفتي صاحب! د سوی د غوښې خوړل جائز دی او که نه او حال دا چه شيعه ګان د هغه د حراموالي قائل دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مقدس شریعت د سوی غوښه حلاله ګرځولې ده۔

لما قال العلامة التمرتاشى رحمه الله: (و) حل (غراب الزرع) الذى ياكل الحب (و الارنب و العقعق). (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٦، ص٣٠٨، كتاب الذبائح)

و اخرجه الامام ابو عيسى الترمذى فى سننه: عن هشام بن زيد قال سمعتُ انسا يقول انفجنا ارنباً بمر الظهران فسعى اصحاب رسول الله ﷺ خلفها فادركتُها فاخذتُها فاتيتُ بها ابا طلحه فذبحها بمروة فبعث معى بفخذها او بوركها الى النبى ﷺ فاكله فقلت اكله قال قبله. (الجامع الترمذى ج٢، ص١. كتاب الاطعمة، باب ما جاء فى اكل الارنب)

و مثله فى البحر الرائق ج٨، ص١٧٢، كتاب الذبائح

د کارغه د حلت او حـــرمت حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د کارغه د حلت او د حرمت په باره کښې د مقدس شریعت څه حکم دی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کارغه ته په عربي ژبې کښې غراب ويل کيږي۔ د فقهاء کرامو له اقوالو څخه معلوميږي چه د هغوی درې ډولونه دي۔

﴿١﴾ ځينې کارغان د اسې دي چه يوائې مردار او نجس شيان خوري۔ د کارغه دا ډول حرام دی۔

﴿٢﴾ دوهم ډول کارغه هغه دی چه يوائې دانې يعنې پاك شيان خوري نو د اسې کارغان مردار نه دي او خوړل ئې حلال دي۔

﴿٣﴾ د کارغانو يو دريم ډول هم شته چه د خوراك ئې د حلالو او د حرامو څخه مرکب وي يعنې مردار شيان هم خوري او پاك شيان هم خوري۔ قاضي ابو يوسف اګر چه د هغه د کراهيت قائل دی ليکن د امام صاحب رحمه الله په نزد باندې حلال دی او فتوىٰ هم د دهٔ په قول باندې ورکړ شوې ده۔

لما قال العلامة فخر الدين عثمان بن على الزيلعىؒ: و الغراب ثلاثة انواع ياكل الجيف فحسب فانهٗ لا يؤكل و نوع ياكل الحب فقط فانهٗ يؤكل و نوع يخلط بينهم و هو ايضاً يؤكل عند ابى حنيفةؒ و هو العقعق لانهٗ كا لدجاج و عن ابى يوسف رحمه الله انه يكره لان غالب ماكوله الجيف و الاول اصح. انتهٰى. (تبيين الحقائق ج٥، ص٢٩٥، كتاب الذبائح)

لما قال العلامة الاستاذ محمد الشهیر با لطوری رحمه اللّٰه: و الغراب ثلاثة انواع نوعٌ یأکل الجیف فحسب فانهٗ لا یؤکل و نوعٌ یاکل الحب فحسب فانهٗ یؤکل و نوع یخلط بینهما و هو ایضاً یؤکل عند الامام و هو العقعق لانه یأکل الدجاج و عن ابی یوسفؒ انهٗ یکره اکله لانهٗ غالب اکله الجیف و الاوّل اصح. (البحر الرائق ج٨، ص١٧٢، کتاب الذبائح) و مثله فی مجمع الانهر شرح الملتقی الابحر ج٢، ص٥١٤، کتاب الذبائح.

د هُـــــد هُـــــد مرغه د خوړلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د هد هد د غوښې خوړل د شریعت له مخې جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې د هر هغه مرغه خوړل حرام دي چه خپل ځان ته خوراك د ښکار په وجه سره پیدا کوي او نور ځناور خیري۔ چونکه هد هد هم له دغو درندګانو مرغانو له جملې څخه نه دی له دې وجهې د هغه د غوښې په خوړلو کښې شرعا څه قباحت نشته۔ بیا هم ځینې فقهاء کرام د هغه خوړل مکروه بولي نو ځکه د هغه له خوړلو څخه ځان ساتنه بهتره ده۔

لما قال العلامة شیخ الاسلام ابو بکر بن علی بن محمد الحداد الیمنیؒ: و کذا لا بأس باکل العقعق و الهُدهُد و الحمام و العصافیر لان عامة اکلها الحب و الثمار. (الجوهرة النیرة ج٢، ص٢٧٩، کتاب الذبائح)

و قال العلامة ابن عابدین رحمه اللّٰه: و یکره الصرد و الهُدهُد. (رد المحتار ج٦، ص٣٠٦، کتاب الذبائح)

قال الامام ابو اللیث الثمرقندی الفقیه الکاملؒ: و لا بأس با کل العقعق عند ابی حنیفةؒ و کذا لا بأس با لهُدهُد. (الفتاوی النوازل ص٢٣٦، کتاب الذبائح)

و مثله فی الفتاوی الهندیة ج٥، ص٢٩٠، کتاب الذبائح، الباب الثانی.

د موطوئه ځناور شـــــرعي حکم

سوال: له یوه ځناور سره د بد فعلي په کولو سره د دې کار د قباحت او حراموالي څخه قطع نظر د هغه د غوښې په باره کښې د شرعې څه حکم دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یوه حلال ځناور سره د داسې بد فعل په کولو د هغه غوښه او شیدې نه حرامیږي بیا هم د دې غیر فطري عمل یادونه ډیره ضروري ده نو ځکه فقهاء کرامو لیکلي دي چه داسې ځناور ذبح کړی او د هغه غوښه اوسوځوی تر ځو چه د خلکو په ذهنونو کښې دغه شاعت د همیشه لپاره پاتې نه شي بیا هم داسې کولی شي چه چیرته دغه ځناور لرې علاقې ته یوسي او هلته ئې وپلوري او له ځانه ئې لرې کړي۔

لما قال العلامة ابن الهمامؒ: (و الذی یروی انه تذبح البهیمة و تحرق ذٰلك لقطع) امتداد (التحدث بهٖ) کلما رؤیت فیتاذی الفاعل بهٖ و لیس بواجب و اذا ذبحت و هی مما لا تؤکل ضمن قیمتها...... و ان کانت مما تؤکل اکلت و ضمن عند ابی حنیفةؒ و عند ابی یوسفؒ لا تؤکل. (فتح القدیر شرح الهدایة ج٥، ص٤٥، کتاب الذبائح)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و الذی انها تذبح البهیمة و تحریم فذٰلك لقطع التحدث بهٖ و لیس بواجب قالوا ان کانت الدابة مما لا تأکل لحمها تذبح و تحرق لما ذکرنا و ان کانت مما تؤکل تذبح و تؤکل عند ابی حنیفةؒ و قالا تحرق هذا ایضاً. (البحر الرائق ج٥، ص١٧، کتاب الذبائح)

و مثله فی ردّ المحتار ج٤، ص٢٦، کتاب الحدود، مطلب فی وطء الدابة.

په اروپا کښــــــې د ذبح شوي ځناورو د غوښې حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د عربو په ښارونو کښې له نیوزي لینډ، استرالیا او د داسې نورو اروپایي ملکونو څخه په بندو ډبو کښې د چرګانو او د نورو ځناور غوښې راځي او برسیره پرې لیکلي دي چه په حلاله توګه ذبح شوي دي نو آیا د داسې غوښو استعمالول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د داسې غوښو په باره کښې که چېرته غالب ګمان دا وي چه د دغو ذبح کوونکي مسلمانان دي او هغوی په اسلامي طریقې سره ذبح کړي وي نو د فتوىٰ له رویه د هغوی استعمالول مرخص دی لیکن د تقوىٰ له مخې په دې سلسلې کښې د اوسنی زمانې نورو بې احتیاطیو ته په نظر کولو سره ئې له استعمال څخه ځان ساتل په کار دي۔

لما قال العلامة التمرتاشی رحمه اللّٰه: و زکٰوة الاختیار ذبح اطلق و اللبة...... و المری و الودجان...... و شرط کون الذابح مسلماً حلالاً خارج الحرم...... و الشرط فی التسمیة هو الذکر الخالص عن شوب الدعاء. (تنویر الابصار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٢٩٦، کتاب الذبائح)

و فی الهندیة: الاختیاریة فرکنها الذبح فیما یذبح من الشاة...... و الذبح هو فری الاوداج و محله ما بین اللبة.و اللحیین...... منها ان یکون مسلماً او کتابیاً...... منها قیام اصل الحیاة فی المستأنس وقت الذبح. (الفتاوی الهندیة ج٥، ص٢٨٥/٢٨٦، کتاب الذبائح، الباب الاول)

و مثله فی الهدایة ج٤، ص٤٣٧، کتاب الذبائح.

د غیر فطري طریقې پیداوار او د غیر ملکي غوایانو حکم

سوال: د ځینو غوایانو په باره کښې دا خبره مشهوره ده چه د هغوی د نسل د ډیرولو لپاره د خنزیر مادهٔ منویه د ټیسټ ټیوب یعنې ستنې په ذریعه او یا د جفتي په ذریعه استعمالیږي او بیا بچی ترې پیدا کیږي۔ داسې غواوو ته جرمني یا خارجي غواوې ویل کیږي۔ د داسې غوایانو د غوښې حکم د شریعت له مخې څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د حیواناتو نسل له ښځې څخه ثابتیږي او د نر د مادهٔ منویه لره هیڅ اعتبار نشته له دې وجهې فقهاوو لیکلي دي که چېرته له ووزې سره کوم څیرونکی ځناور جوړه شي یعنې تیره ئې کړي نو بچی به ئې د مور تابع وي۔ لهذا د نوموړي صورت مطابق د جرمني د مذکوره غوایانو ذبح کول او له هغو څخه انتفاع حاصلول یعنې د غوښې خوړل ئې جائز دي۔

لما قال العلامة الكاسانى رحمه اللّٰه: فان كان متولداً من الوحشي و الانسى فا لعبرة للام فان كانت اهلية يجوز و الا فلا حتىٰ ان البقرة الاهلية اذا نزعها ثور وحشى فولدت ولداً فانهٗ يجوز ان يضحىٰ به و ان كانت البقر وحشيه و الثور اهليا لم يجز لان الاصل فى الولد الام لانه ينفصل عن الام. (بدائع الصنائع ج۵، ص۶۹، كتاب الذبائح)

قال العلامة ابو بكر الجصاص الرازیؒ: الاقوى ان حمارة اهلية لو ولدت من حمار وحشي لم يؤكل و لدها و لو ولدت حمارة وحشيه من حمار اهلى اكل ولدها فكان الولد تابعا لامه دون ابيه. (احكام القرآن ج۵، ص۳، سورة النحل)

د ذبحې په وخت کښې په قصد سره د تسمیه (بسم اللّٰه) د پرېښودلو حکم

سوال: که چېرته یو سړي د څناور د ذبح کولو په وخت کښې قصدا او عمدا بسم اللّٰه پرېښودي نو آیا ذبیحه به حلاله وي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د احنافو په نزد د ذبحې په وخت کښې قصدا د بسم اللّٰه پرېښودل د ذبیحې د مرد اریدو سبب دی لهذا د ذبحې په وخت کښې قصدا د بسم اللّٰه د پرېښودلو په وجه سره ذبیحه حرامه ګرځي او له هغې څخه د هیڅ ډول انتفاع اخیستل جائز نه دی نه ئې خپله خوړلی شي او نه ئې په نورو خوړلی شي۔

لما قال العلامة المرغينانى رحمه اللّٰه: ان ترك التسمية عمداً لا يسمع الاجتهاد و لو قضى القاضى بجواز بيعه لا ينفذ. (الهداية على صدر فتح القدير ج۵، ص۵۷، كتاب الذبائح)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و لا تحل ذبيحة من تعمد ترك التسمية مسلماً او كتابياً لنص القرآن و لانعقاد الاجماع. (رد المحتار ج۶، ص۲۹۹، كتاب الذبائح)

و مثله فى الهداية ج۴، ص۴۳۵، كتاب الذبائح.

د حلال څناور حرامې اجزاوې

سوال: د حلالې مذبوحې د بدن د کومو اجزاوو خوړل حرام دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حلال څناور په شرعي توګه د حلالولو سره سره د هغه اوه لاندیني شیانو خوړل حرام دي۔

۱۔ پتا (تریخی) ۲۔ مثانه ۳۔ غدود ۴۔ فرج ۵۔ ذکر ۶۔ خصیتین ۷۔ دم مسفوح۔

لما قال العلامة محمد بن حسن الشيبانیؒ: عن مجاهد قال كره رسول اللّٰهﷺ من الشاة سبعاً المرار و المثانة و الغدة و الحياء و الذكر و الانثيين و الدم. انتهىٰ. (كتاب الآثار ص۱۷۹، باب ما يكره من الشاة الدم و غيره)

قال العلامة علاؤ الدين الكاسانیؒ: و اما بيان ما يحرم اكله من اجزاء الحيوان المأكول فا لذى يحرم اكله منه سبعة الدم المسفوح و الذَكَر و الانثيان و القُبل و الغدة و المثانة و المرارة. (بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع ج۵، ص۶۱، كتاب الذبائح)

و مثله فى تنقيح الحامدية ج۲، ص۲۳۲، كتاب الذبائح.

د څناورو په ګولۍ یا مرمۍ سره ویشتل او بیا ذبح کول

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په کلي کښې یو ځنګل دی چه هغه ته زمونږ خلك بیله وایي د کلي خلك په دې ځنګل کښې خپل مالونه پیایي او کله کله یو نیم څناور پکښې وحشي شي او په هیڅ طریقې سره نه نیول کیږي یعنې لاس ته نه راځي نو خلك هغه په ګولۍ ولي او ځملوي ئې او بیا ئې ذبح کوي نو آیا د اسې کول شرعا صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ټوپك په ګولۍ سره د ویشتلو نه وروسته که چېرته په څناور کښې روح پاتې وي او فوراً ئې په شرعي توګه ذبح کړي نو حلال به وي او که نه وي نو بیا به حلال نه وي البته یو څناور د ذبح کولو نه مخکښې بې له ضرورته په ګولۍ ویشتل او بیا ئې ذبح کول ظلم او زیاتی دی او د ګناه سبب ګرځي۔

قال العلامة الحصكفى رحمه اللّٰه: و حل المذبوح بقطع اى ثلاث منها اذ للاكثر حكم الكل. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۶، ص۲۹۵، كتاب الذبائح)

د خنزیر د حرمت فلسفه

سوال: جناب مفتي صاحب! دلته په جاپان کښې عموما د خنزیر غوښه خوړل کیږي تر دې پورې چه ځینې مسلمانان چه له ډېره وخته راهیسې دلته مقیم دي هغوی ئې هم خوري او دا وایي چه د غوایي او خنزیر په غوښې کښې فرق نشته۔ د دواړو غوښې یو ډول دي بلکه د خنزیر غوښه د غوایي له غوښې نه خوږه هم ده۔ د قرآن او سنت په رڼا کښې د دې وضاحت وکړی چه په اسلام کښې د خنزیر د غوښې د حراموالي فلسفه څه ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اسلامي نقطهٔ نظر له مخې د یوه شي د حلت او حرمت حق یواځې اللّٰه تعالی ته حاصل دی۔ اللّٰه تعالی چه کوم شي ته حلال ویلي دي هغه حلال دی او کوم شي ته ئې چه حرام ویلي دي هغه حرام دی۔ په دې مسئله کښې چا ته د قیاس د جنګولو هیڅ حاجت نشته چه هغه ایخوا او دیخوا صغریٰ او کبریٰ سره یو ځای کړي او په یو شي باندې د حلالو یا حرامو حکم ولګوي۔ اللّٰه تعالی د مختلفو حیواناتو غونډې غوا هم حلاله ګرځولې ده۔ لکه څرنګه چه اللّٰه تعالی فرمایلي دي:

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَ مِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ...... وَ مِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ. (سورة الانعام پاره۸، آیت)

"اته نر او ښځې یعنې په میږو کښې دوه ډوله او په ووزو کښې دوه ډوله تاسو ووایی چه آیا اللّٰه تعالی د هغو دوه نران حرام کړي دي او که دواړه ښځې"

مشهور د قرآن مفسر علامه ابن کثیر د دې آیت لاندې لیکلي دي۔

ثم بين اضاف الانعام الى غم...... الابل ذكورها و اناثها و بقر كــــذلك و انهٗ تعالىٰ لم يحرم شيئاً من

ذلك و لا شيئاً من اولادها بل كلهـــا مخلوقة لبنى آدم اكلا و ركوباً و حمولة و حلباً و غير ذلك من وجوه المنافع.

(تفسير ابن كثير ج۲، ص۸۳)

"بیا اللّه تعالی د هغه ځناورو اقسام بیان کړ تر دې پورې چه د اس او د هغه د نر او ښځې او همدارنګه د غواوو هم۔ بې شکه اللّه تعالی په هغو کښې او د هغو په اولادونو کښې هیڅ شی هم نه دي حرام کړي۔ دا ټول ئې د بني آدم د خوړلو، سورلی، د بار د وړلو، شیدو او د نورو منافعو لپاره پیدا کړي دي"۔

نو ځکه د غوایي په حلال والي کښې شك کول صحیح نه دي او خنزیر ئې د ځینو نورو حیواناتو غوندې حرام ګرځولی دی۔ لکه څرنګه چه اللّه تعالی فرمايي:

قُلْ لاَّ اَجِدُ فِیْ مَا اُوْحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّماً عَلٰی طَاعِمٍ یَّطْعَمُهٗ اِلاَّ اَنْ یَّکُوْنَ مَیْتَةً اَوْ دَماً مَّسْفُوْحاً اَوْ لَحْمَ خِنْزِیْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقاً. (سورة الانعام پاره۸، آیت)

"ته ووایه ای محمدهﷺ چه ما نه دي موندلي په دې وحی کښې کوم چه ما ته کیږي یو شی حرام د خوړلو نه چه هغه وخوری مګر هغه شی چه هغه مردار وي او یا بهیدونکي وینه وي او یا د خنزیر غوښه کومه چه هغه ناپاکه او ناجائزه ده"۔

او په دې باندې د امت اجماع دی۔ علامه دمیري صاحب فرمايي: "چه خنزیر نجس العین دی او د هغه د غوښې خوړل حرام دي او د اخیستل او خرڅول ئې هم جائز نه دی"۔ (حیات الحیوان اردو ج۲، ص۶۱، الخنزیر)

د خنزیر په حراموالي باندې قرآني آیتونه، مبارك حدیثونه، د صحابه وو او تابعینو آثار دومره په کثرت سره دال دي چه یوه مسلمان ته هم هغو ته په نظر کولو سره د هغه خوړل حلال نه دی۔

شریعت چه کوم شی حراموي په هغه کښې د هغه حکم نه پرته نور ضررونه هم موجود وي چه د انساني بدن او یا د هغه د اخلاقو لپاره صحیح نه وي۔ چنانچه حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي د خنزیر د غوښې د حراموالي وجوهات بیان کړي او فرمایلي ئې دي:

﴿۱﴾ د دې خبرې علم هیچا ته نشته چه دغه ځناور د اولې درجې نجس، حرام خور، بې غیرت او دیوث دی نو اوس د ده د حرام والي وجه ظاهره ده چه د داسې پلید او بدبویه ځناور د غوښې اثرات په انساني بدن او روح باندې به هم پلید وي ځکه چه دا خبره ثابته شوې ده چه د غذا او اثر د انسان په روح باندې هم وي۔ نو په دې کښې به څه شك وي چه د داسې بد ځناور د غوښې اثر به هم بد وي لکه څرنګه چه یوناني طبیبان د اسلام څخه مخکښې هم دغه رایه ظاهره کړې وه۔ چه د دې ځناور د غوښې خوړل د حیاء قوت کموي او د دیوثي ماده زیاتوي نو کله چه دا امر مسلم دی چه د بدن او اخلاقو د تبدیلۍ ډیر قوي سبب غذا دی نو له دې وجهې د داسې ځناورو غوښې اسلامي شریعت منع ګرځولي دي۔

﴿۲﴾ خنزیر یعني خوګ د نجاست خوا ته ډیر مایل دی خصوصا د انسان ګندګي د هغه خوراك دی او غوښه ئې د همدې نجاست څخه جوړیږي پس د هغه شي خوړل ګواکه د خپل نجاست خوړل دي۔

﴿۳﴾ صاحب مخزن ادویه د خنزیر د غوښې او د هغه د حراموالي دیارلس وجوهات لیکلي دي او فرمایلي ئې دي چه د دې ځناور غوښه د انسان د فطرت په خلاف دی او مخکښې لیکي چه:

"گوشت خوك موار خلط غليظ است و مورث حرص شديد و صداع مزمن، دواد الفيل، و اوجاع المفاصل و فسادِ عقل و زوال مروت و غيرت و حميت و باعث فحش است و اكثرے از فرق غير اسلامى آن را مى خورند و قبل از ظهور نور اسلام گوشت آن را در بازارها مى فروختند و بعد ازان در مذهب اسلام حرام و بيع آن ممنوع و موقوف گرديد بسيار كثيف و بد هيئت است".

(د اسلام احکام د عقل په نظر کښې ص۲۰٤)

﴿٤﴾ د خنزیر غوښه د سترګو د یو مرض سبب جوړیږي کوم چه نوم ئې ترکن اوسس دی کوم چه په صحرايي اب ولیوا کښې ډیر اثر کوي۔

پاتې شوه د غوا او د داسې نورو د غوښې مسئله نو مولانا اشرف علي تهانويؒ د هغې په باره کښې وايي:

﴿۱﴾ دا ټول ځناور په اصل کښې د انساني مزاج موافق پاك او معتدل مزاجه دي ځکه حلال ګرځول شوي دي او دغو ځناورو ته اللّه تعالی بهیمه الانعام ویلي دي او د توافق او اعتدال په وجه سره په دنیا کښې اکثر خلك د دې ځناور غوښه استعمالوي۔ د انسان فطرت د دې امر متقاضي دی چه لکه څرنګه چه د انسان د خوراك څه حصه د نباتاتو څخه دی همدارنګه څه حصه د دوی د حیواناتو څخه هم وي او د دوی د خوراك لپاره حیوانات هم هغه تاکل مناسب وو کوم چه د هغه د مزاج موافق وي نو له دې وجهې اللّه تعالی همداسې وکړل۔

﴿۲﴾ لکه څرنګه چه انسان جامع الجلال او جمال دی نو د ده په خوراك کښې هم د جلال او جمال د دواړو موجودیت ضروري دی لهذا د انسان د خوراك لپاره هغه حیوانات مقرر شول چه په هغوی کښې د جلال او جمال دواړه صفتونه موجود دي۔ (احکام اسلام د عقل په نظر کښې ص۲۱۷)

د نور تفصیل لپاره د علامه دمیري صاحب د کتاب "حیات الحیوان" خوا ته مراجعه وکړی۔ د مسلمانانو لپاره یوائې د اللّه او د هغه د رسولﷺ حکم کافي دی۔ هو الموفق و المعین

د کوني کبر د خوړلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! د ځینو خلکو وینا ده چه چونکه دریابي ځناور ټول حلال دي نو ځکه کوني کبر هم حلال دی او حال دا چه د ځینو خلکو په نزد ئې خوړل جائز نه دي نو د شریعت مطهره د احکاماتو په رڼا کښې وښیی چه د کوني کبر خوړل جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د احنافو په نزد په دریابي ځناورو کښې یوازې کب حلال دی او نور تول حرام دي لهذا د کوني کبر یعني شمشتې خوړل حرام دي۔

قال العلامة المرغینانیؒ: و لا یوکل من حیوان الماء الا السمك. (الهدایة ج٤، ص٤٤٠، کتاب الذبائح)

د درندګانو د حرمت فلسفه

سوال: په ځینو علاقو کښې زما په ذهن کښې یو سوال پیدا کیږي چه شریعت مقدسه کوم زمری، ییږه، ګیدړ او نور درندګان ئې حرام ګرځولي دي د دې څه وجه ده او د کومې فلسفې لاندې ئې نوموړي درندګان حرام ګرځولي دي مهرباني تسلي بخښونکی ځواب راکړی ډېره شکریه به مووي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: یو مسلمان ته نه دي په کار چه د یو شي د حلت او حرمت اعتقاد د فلسفې لاندې ولري بلکه ضروري دا دی چه یوازې دې د الله حکم ومني۔ او الله تعالی د یو شي په باره کښې د حلت او حرمت حکم بې له کوم حکمت څخه نه دی فرمایلی۔

لکه څرنګه چه حضرت مولانا اشرف علي تهانویؒ فرمایي: "د تولو درندګانو ځناورو چه د هغوی په فطرت کښې په پنجو سره د ښیرلو او په صولت سره زخمي کول او کوم چه پکښې سخت دلي وي تول حرام ګرځولي دي۔ همدا وجه ده چه حضورﷺ د لیوانو په باره کښې فرمایلي دي چه: "او یأکل احد" آیا لیوه هم کوم انسان خوري یعني لیوه هیڅوک هم نه خوري۔ د حراموالي وجه ئې ظاهره ده چه د هغو ځناورو په خوړلو سره په انسانانو کښې درندګي او د ښیرلو ماده پیدا کیږي نو ځکه په دې وجه سره حضورﷺ د هر ښکاري مرغۍ د خوړلو څخه هم منع فرمایلې ده۔ (د اسلام احکام د عقل له مخې ص۲۰۵، کتاب الاکل و الشرب)

کتاب الصید

د ښکار احکام او مسئلې

په جال سره د ښکار کول جائز دي

سوال: په ځینو علاقو کښې خلك ماهیان (کبان) او مرغۍ د جال په ذریعه ښکار کوي چه په هغوی کښې عموما مرغیو ته ښه شیان ښکاروي او نیسي ې نو آیا دا طریقه د دوکې ورکول نه دي او په ښکار باندې ئې څه اثر کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ښکار د قرآن او حدیث له مخې مباح دی۔ د داسې مباح امر د حصول لپاره د یوې حیلې اختیارول شرعا ممنوع نه دي او په جال سره ښکار کول څه نوې مسئله نه ده۔ د فقهاوو عام عبارتونه د دې په جواز باندې دلالت کوي۔

لما قال العلامة القاضی خانؒ: رجلٌ حفر فی ارضہٖ حفیرة فوقع فیها صیداً فجاء رجلٌ و اخذه قال الصید یکون للآخذ و ان کان صاحب الارض اتخذ تلك الحفیرة لاجل الصید فهو احق با لصید. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص۳۵۹، کتاب الصید و الذبائح)

قال العلامة ابن البزاز الکردریؒ: کمن نصب فسطاطاً بارض صید فی ارض رجل او انکسر رجله فیها او وقع فیه بحیث لا یقدر علی البراه فاخذه انسان و نازعه صاحب ان کان صاحب الارض بحیث لو مدّ یده یصل الیه فهو لهٗ و ان کان بعیداً لا یصل الیه یده لو مدّه فهو للآخذ. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص۳۰۳، الباب الخامس فی تملیك الصید) و مثله فی الهندیة ج۵، ص۴۱۸، الباب الثانی فی تملیك ما به الصید الخ.

په اسلحې سره د ښکار کولو حکم

سوال: په توپك یا په لیندې باندې ښکار شوې مرغۍ که چېرته ذبح نه کړی شي نو د هغه د خوړلو څه حکم دی او که چېرته په توپك یا په لیندې باندې ښکار زخمي شي او مړ شي نو آیا دغه زخم د ذبحې لپاره کافي دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د فقهاوو له عبارتونو څخه معلومیږي چه کوم شی پخپله زخمي کوونکی نه وي بلکه په زور سره ښکار زخمي کړي او په وجه ئې ښکار مړ شي نو دا د موقوضه په حکم کښې راځي او حلال نه دی۔ د توپك او لیندې ګولۍ پخپله جارح نه دي بلکه عموما یو ځناور د هغه په زور سره زخمي کیږي نو ځکه د هغه د حلت لپاره دغه جرحه کافي نه ده۔ بیا هم که چېرته په حیوان کښې څه ژوند پاتې وي او ذبح شي نو بیا ئې په خوړلو کښې څه حرج نشته۔

لما قال العلامة قاضی خانؒ: و لا یحل صید البندقة و الحجر و المعراض و العصا و ما اشبه ذٰلك و ان حرق

ذٰلك. (الفتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳، ص ۳۰، کتاب الصید و الذبائح)

عن ابراهیم بن عدی بن حاتمؒ: قال قال رسول اللّٰهﷺ اذا رمیت فسمیت فخرقت فکل و ان لم تخرق فلا تأکل و لا تأکل من المعراض الا ما ذکیت و لا تأکل من البندقة الا ما ذکیت. رواه احمد. (نیل الاوطار ج۸، ص۱۴۳، کتاب الصید، باب النهی عن الرمی با لبندق و ما فی معناه)

و مثله فی رد المحتار علی الدر المختار ج۶، ص۴۷۱، کتاب الصید.

د مجروح (زخمي) ښکار ذبح کول ضروري دي

سوال: مجروح ښکار که چېرته د څه وخت لپاره ژوندی پاتې کیدلی شو او یا د اضطراري مرګ څخه بچ کیدی شو نو د هغه د حلت لپاره همدا زخم کافي دی او که د هغه ذبح کول ضروري دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مجروح شکار که چېرته د لږ وخت لپاره ژوندی پاتې شي او یا کم تر کمه د اضطراري مرګ څخه بچ کیدلی شو نو شرعاً ئې ذبح کول ضروري دي ځکه چه جرح د اختیاري ذبحې په حکم کښې دی او دا په هغه وخت کښې د عمل قابل دی چه ذبح اختیاري قابل عمل نه وي۔

لما قال العلامة ابو بکر الکاسانیؒ: و قال اصحابنا رحمهم اللّٰه لو جرحه السهم او الکلب فادرکه لکن لم یاخذه حتٰی مات فان کان فی وقت لو اخذه یمکنه ذبحه فلم یاخذ حتٰی مات لم یؤکل لان الذبح صار مقدوراً علیه فخرج الجرح من ان یکون ذکاةً. (بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۵، ص ۵۱، کتاب الصید)

قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: (و لا بد من ذبح صید مستأنس لان ذکاة الاضطرار انما یصار الیها عند العجز عن ذکاة الاختیار و کفٰی جرح نعم) کبقر و غنم (توحش) فیجرح کصید (او تعذر ذبحه) کان تردی فی بئر او ند او صال حتٰی لو قتله المصول علیه مریداً ذکاته حل. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۰۳، کتاب الذبائح)

و مثله فی البحر الرائق ج۸، ص۱۷۱، کتاب الذبائح.

د ښکار د پرې شوي اندام خوړل جائز نه دي

سوال: که چېرته د ښکار د کولو په وخت کښې په ګولۍ او یا بلې تیرې آلې سره د ځناور کوم اندام بیل شي او وروسته هغه ځناور ذبح شي نو د دې پرې شوي اندام خوړل جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه له یوه ژوندي ځناور څخه د هغه کومه عضو د ښکار د آلې په سبب سره پرې شي نو د هغه ځناور د ذبحې په صورت کښې هغه پرې شوی اندام نه حلالیږي نو ځکه ئې خوړل شرعاً صحیح نه دي۔

لما قال العلامة ابو بکر بن علی الحداد الیمنیؒ: (قوله و اذا رمی صیداً فقطع عضواً منه اُکل الصید لما بیناه و لا یؤکل العضو) لقوله علیه السلام ما ابین من الحی فهو میت و العضو بهٰذه الصفة لان المبان منه حی حقیقة لقیام الحیات

فیه. (الجوهرة النیرة ج۲، ص ۲۷۴، کتاب الصید)

قال العلامة اکمل الدین محمد بن محمود البابرتیؒ: قال (و ان رمی صیداً اذا قطع با لرمی عضوا من الصید لما بیناه ان الرمی مع الجرح مبیح و قد وجد و لا یؤکل العضو ان امکن حیاته بعد الا بانة و ان لم یمکن اُکلا. (العنایة شرح الهدیة علی هامش فتح القدیر ج۹، ص ۶۱، کتاب الصید)

و مثله فی الدر المختار مع رد المحتار ج۶، ص۴۷۳، کتاب الصید.

په دریابونو کښې د موجودو کبانو پلورل جائز نه دي

سوال: په ځینو دریابونو کښې د کبانو کثرت ته په کتو سره حکومت هغه دریابونه د آمدني د ذریعې په توګه استعمالوي او په داسې ځایونو کښې بیا خلکو ته د کبانو د ښکار د کولو اجازه ورکوي کوم چه حکومت ته یوه خاصه اندازه پیسې ورکوي او په عرف کښې دغه اجازه ته تیکه ویل کیږي نو آیا شرعاً دا معامله صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ملکیت لپاره کوم ځای کښې چه بیع د سبب په توګه سره استعمالیږي نو په هغه کښې دا ضروري ده چه د کوم شي پلورل مقصود وي د هغه تسلیم به دَ بائع په دائرهٔ اختیار کښې وي او کوم ځای کښې چه د پلورل شوي شي څخه بائع مشتري ته له حواله کولو یعنې ور سپارلو څخه قاصر وي نو هلته به د بائع دا معامله ناجائزه وي او د هغه لپاره د دغو روپو اخیستل جائز نه دي۔ او بیا هم که چېرته تیکه دار محنت وکړي او کبان ښکار کړي او بیائې وپلوري نو په ښکار کولو سره د هغه ملکیت ثابت شو او د ګټل شوې روپۍ ورته جائزې ګرځي۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و لا یجوز بیع السمك قبل ان یصطاد لانه باع ما لا یملکه و لا فی خطیرة اذا کان لا یؤخذ الا بصید لانه غیر مقدور التسلیم. (الهدایة ج۳، ص۵۵، کتاب الصید)

قال العلامة ابن نجیمؒ: (قوله و السمك قبل الصید ای لم یجز بیعه لکونه باع ما لا یملکه فیکون باطلاً اطلقه فشمل ما اذا کان فی خطیرة اذا کان لا یؤخذ الا بصید لکونه غیر مقدور التسلیم. (البحر الرائق ج۶، ص۷۳، کتاب الصید) و مثله فی فتح القدیر ج۶، ص۴۹، کتاب الصید.

د ښکاري سپي (تازي) د ښکار حکم

سوال: زمونږ په کلي کښې خلك د ښکار لپاره سپي ساتي او هغوی ته د ښکار تعلیم ورکوي او بیا په هغو باندې ښکار کوي نو که چېرته هغه سپی ښکار ونیسي او پخپله ئې ونه خوري او خپل مالك ته ئې راوړي او په لار کښې ئې هغه ښکار په خوله کښې مړ شي نو آیا د دې ښکار خوړل جائز دي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام د ښکار په غرض سره د سپي ساتل او د هغه په ذریعه ښکار کول جائز ګرځولی دی خو په دې شرط سره چه هغه ته ئې د ښکار کولو تعلیم ورکړی وي او هغه

ښکار ونيسي او مالك ته ئې راوړي او پخپله له هغه څخه څه و نه خوري نو د داسې سپي ښکار شوی شی حلال دی۔ اګر که هغه ځناور د سپي په خوله کښې ختم شي ليکن د هغه لپاره دا ضروري دي چه مالك ئې د ښکار د نيولو په وخت کښې او د سپي د پريښودو په وخت کښې د الله نوم ياد کړی وي۔ پرته له دې څخه ښکار حلال نه دی۔

لقوله تعالى: يَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا اُحِلَّ لَهُمْ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ وَ مَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَ اذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ. (سورة المائدة، آيت ٤)

د پړانګ او زمري په ذريعه د ښکار کولو حکم

سوال: جناب مفيي صاحب! د پړانګ او د زمري په ذريعه ښکار کول جائز دی او که نه د حنفي مذهب په رڼا کښې د هغه ځواب راکړی؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه دغه دواړه ځناور د خپل درندګۍ او [illegible]خوارۍ په وجه سره د تعليم قابل نه دي نو ځکه فقهاوو د هغو په ذريعه ښکار کول ناجائز ګرځولي دي او بیا هم که چېرته دا ځناور تعليم يافته شي او ښکار وکړی شي نو په دې کښې څه حرج نشته ځکه چه د علت په وجه سره ئې د هغوی ښکار ناجائز ګرځولی دی او هغه علت اوس مفقود دی۔

لما قال العلامة الحصكفىؒ: فلا يجوز الصيد بذب و اسد لعدم قابليتهما للتعليم فهما لا يعملان للغير الاسد لعلو همته و الذب لخساسته. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٤٦٣، كتاب الصيد)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و حاصله البحث فى استثناء الخنزير و الاسد و الذب و فى التعليل لان الشرط فى ظاهر الرواية قبول التعليم فيحل بكل معلم و لو خنزير. (رد المحتار ج٦، ص٤٦٤، كتاب الصيد)

قال العلامة وهبة الزحيلى: و استثنٰى ابو يوسفؒ من ذٰلك الاسد و الذئب لانهما لا يعملان لغيرهما الاسد لعلو همته و الذب لخساسته و الحق بعضهم الحداة لخساستها و الخنزير مستثنٰى. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٣، ص٧٠٤، الفصل الثانى فى الصيد)

يوائې د شوق له مخې د ښکار کولو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ په کلي کښې ځينې د موذي ځناورو لکه ګيدړ او د اسې نورو ښکار خاص د شوق له مخې کوي چه مطلب ئې ترې يوائې لوبې او تماشا وي نو آيا شرعاً د اسې ښکار کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د هر يوه ځناور ښکار يوائې په دې غرض سره بايد وشي چه له هغه څخه څه نفع حاصله شي يوائې د لوبې او تماشا لپاره ښکار کول جائز نه دي خصوصاً د حرامو ځناورو ښکار چه له هغه څخه هيڅ ګټه په ښکاره توګه نه حاصليږي ليکن هغه ځناور چه پټي او د اسې نورو ته نقصان رسوي نو بيا د هغوی وژل او ښکار کول جائز دي۔

لما قال العلامة وهبة الزحيلى: و يكره الصيد لهوا لانه عبث لقوله عليه السلام لا تتخذوا شيئاً فيه الروح غرضا

اى هدفاً من قتل عصفوراً عبثا عج الى الله يوم القيامة يقول يا رب ان فلاناً قتلنى عبثاً و لم يقتلنى منفعة. (الفقه الاسلامى و ادلته ج٣، ص٦٩٣، الفصل الثانى فى الصيد)

لما قال العلامة الحصكفىؒ: هو مباح بخمسة عشر شرطا........ الا المحرم فى غير الحرم او للتلهى كما هو ظاهر. قال العلامة ابن عابدينؒ فى مجمع الفتاوٰى و يكره للتلهى. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٤٦١/٤٦٢، كتاب الصيد)

د تجارت په غرض د ښکار حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! مونږ څو ملګري په اجتماعي توګه د سند په درياب کښې د ماهيانو ښکار کوو او بيا هغه پلورو يو صاحب وايي چه ښکار يوائې د خوړلو تر حده پورې جائز دی د تجارت لپاره ښکار کول ناجائز دي۔ له تاسو څخه هيله ده چه د قرآن او سنت په رڼا کښې ځواب راکړی چه د تجارت په غرض ښکار کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اګر که د ځينو علماوو په نزد د کسب په توګه ښکار کول مکروه دي ليکن راجح قول دا دی چه د داسې عمل په کولو کښې څه حرج نشته لهذا د نوموړي صورت مطابق د تجارت لپاره ښکار کول مباح دي او د حرمت هيڅ شائبه پکښې نشته۔

لما قال العلامة الحصكفىؒ: هو مباح بخمسة عشر شرطا........ الا المحرم فى غير الحرم او للتلهى كما هو ظاهر او حرفة على ما فى الاشباه قال المصنفؒ و انما زدته تبعاً له و الا فا لتحقيق عندى اباحة اتخاذه حرفة لانه نوع من الاكتساب و كل انواع الكسب فى الاباحة سواء على المذهب الصحيح. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٤٦٢، كتاب الصيد)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و فى التاتارخانية قال ابو يوسفؒ اذا طلب الصيد لهواً و لعباً فلا خير فيه و اكرهه و ان طلب منه ما يحتاج اليه من بيع او ادام او حاجة اخرى فلا بأس. (رد المحتار ج٦، ص٤٦٢، كتاب الصيد)

كتاب الاضحية

کتاب الاضحیه

د قربانۍ احکام او مسئلې

د قربانۍ د نصاب معیار

سوال: د قربانۍ د وجوب لپاره شریعت مطهره د نصاب د معیار حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته یو سړي د اصلي حوائجو او له قرض نه پرته اوه نیمې تولې سره زر او یا دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر او یا په همدومره اندازه د مال مالك وي نو په داسې سړي باندې شرعا قرباني لازمه ده۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: قال ابو حنيفة رحمه الله الموسر الذى له مائتا درهم او يساوى مائتى درهم سوى المسكن و الخادم و الثياب التى يلبس و متاع البيت الذى يحتاج اليه و هٰذا اذا بقى لهٗ الى ان يذبح الاضحية. (خلاصة الفتاوٰى ج٤، ص٣٠٩، كتاب الاضحية)

لما ذكر فى الهندية: (اما شرائط الوجوب) منها اليسار و هو ما يتعلق به وجوب صدقة الفطر دون ما يتعلق به وجوب الزكوٰة..... و الموسر و ظاهر الرواية من لهٗ مائتا درهم او عشرون ديناراً او شیء يبلغ ذٰلك سوٰى سكنه و متاع سكنه و مركوبه و خادمه فى حاجته التى لا يستغنى عنها. (الفتاوٰى الهندية ج٥، ص٢٩٢، كتاب الاضحية، الباب الاول فى تفسيرها) و مثله فى رد المحتار (ج٦، ص٣١٢، كتاب الاضحية)

د قربانۍ د ورځو حکم

سوال: تر څو ورځو پورې قرباني جائزه ده او همدارنګه په دې کښې بېړه ضروري ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قرآن او سنت په رڼا کښې ایام النحر (د قربانۍ ورځې) درې دي یعنې ۱۰، ۱۱، او ۱۲ د ذی الحجې او بیا هم اوله ورځ یعنې د ذې الحجې لسمه ورځ کښې قرباني کول افضل دي۔

لما ذكر العلامة محمود آلوسیؒ فى تفسيره: و عدتها ثلاثة ايام يوم العيد و يومان بعده..... لما روى عن عمر و على و ابن عمر و ابن عباسٍ و انس و ابى هريرة رضى الله عنهم انهم قالوا ايام النحر ثلاثة افضلها اولها و قد قالوا سماعا لان الرأى لا يهتدى الى المقادير. (روح المعانى ج١٧، ص١٤٥)

قال العلامة برهان الدين المرغينانى رحمه اللّٰه: و هى جائزة فى ثلاثة ايام يوم النحر و يومان بعده لما روى عن عمر و على و ابن عباس رضى الله عنهم انهم قالوا ايام النحر ثلثة افضلها اولها. (الهداية ج٤، ص٤٤٤، كتاب الاضحية.

قال الحافظ قاسم بن قطلوبغا: قوله روى عن عمر و على و ابن عباس قلتُ روى الطحاوى فى الاحكام اثر على و ابن عباس. (منية الالمعى فيما فات من تخريج احاديث الهداية للزيلعى ص٥٦، كتاب الاضحية) و مثله فى الاختيار لتعليل مختار (ج٥، ص١٩، كتاب الاضحية)

د اضحیې یعنې د قربانۍ د څناور عمر

سوال: په مقدس شریعت کښې د قربانۍ د څناور د عمر څه اندازه مقرره ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مقدس شریعت د قربانۍ لپاره د مختلفو اجناسو په حیواناتو کښې مختلف عمرونه معتبر ګرځولي دي۔ په اوښ کښې پنځه کاله، په غوا او میښو کښې دوه کاله او په پسونو او ووزو کښې ئې د یو کال تعین کړی دی او که چېرته وری یعنې مړ څرب او تازه وي او د یو کلني غوندې ښکاریده نو د شپږو میاشتو د وري قرباني هم جواز لري۔

لما قال العلامة برهان الدين المرغينانیؒ: و يجزى من ذٰلك كله الثنى فصاعدا الا الضان فان الجذع منه يجزى..... اذ كانت عظيمة لو خلط با لثنيان يشتبه على الناظر من بعيد و الجذع من الضان ما تحت له ستة اشهر فى مذهب الفقهاء...... و الثنى منها و من المعز ابن سنة و من البقر ابن سنتين و من الابل ابن خمس سنين و يدخل فى البقر الجاموس لانه من جنسه. (الهداية ج٤، ص٤٤٧، كتاب الاضحية)

قال الشيخ ابو بكر بن على الحدار اليمنیؒ: (قوله يجزى فى ذٰلك الثنى فصاعدا الا الضان فان الجذع منى يجزى) يعنى اذا كان عظيما بحيث اذا خلط با لشاة يشتبه على الناظر من بعيد فا لجذع من الضان ما تم له ستة اشهر و قيل سبعه و الثنى منها و من المعز ما له سنة و طعن فى الثانية و من البقر ما له سنتان و طعن فى الثالثة و من الابل ما له خمس سنين و طعن فى السادسة و يدخل فى البقر الجواميس لانها من جنسها. (الجوهرة النيرة ج٢، ص٢٨٥، كتاب الاضحية) و مثله فى بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع (ج٥، ص٧٠، كتاب الاضحية)

د قربانۍ د شریکانو تعداد

سوال: د غوا او میږې او د نورو په قربانۍ کښې څو کسان شریکیدای شي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د اوښ، غوا او د میښو په قربانۍ کښې د اوه حصو حد مقرر دی د دې نه د زیاتو حصو ګنجائش نشته او بیا هم د اوه څخه په کمو حصو کښې څه حرج نشته۔

لما قال العلامة علاؤ الدين ابو بكر بن مسعود الكاسانیؒ: و لا يجوز بعير واحد و لا بقرة واحدة عن اكثر من سبعة و يجوز ذٰلك عن سبعة او اقل من ذٰلك. (بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع ج٥، ص٧٠، كتاب الاضحية)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاریؒ: و التقدير با لسبع يمنع الزيادة كما لا يمنع النقصان حتٰى لو كانت الشركاء فى البدنة او البقره ثمانية لم يجزهم و لو كانوا اقل من ثمانية الا ان نصيب واحد منهم اقل من السبع لا يجوز ايضا. (خلاصة الفتاوٰى ج٤، ص٣١٥، كتاب الاضحية) و مثله فى الفتاوى الهندية (ج٥، ص٣٠٤، الباب الثامن فيما يتعلق با لشركة فى الضحايا)

د قربانۍ د شریکانو د نیتونو حکم

سوال: که چېرته د قربانۍ د شریکانو نیت د ثواب په حیثیت سره مختلف وي مثلاً څینې د وجوب او څینې د نفل نیت وکړي نو آیا د دې په وجه سره قربانۍ متأثره کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مقدس شریعت د قربانۍ په ځناور یعنې په غوا او میښو او اوښانو کښې ئې شراکت جائز ګرځولی دی خو په دې شرط چه د ټولو نیتونه د الله تعالی د قرب حاصلول وي اګر که دا قربت مختلف الانواع هم وي۔ لهذا د متنفلینو او واجبینو قربانۍ سره صحیح دي۔

لما قال العلامة ابو بکر بن مسعود الکاسانیؒ: و لو ارادوا القربة الاضحیة او غیرها من اجزاء هم سواء کانت القربة واجبة او تطوعا او وجبت علی البعض دون البعض و سواء انتفقت جهات القربة او اختلفت. (بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۵، ص ۷۱، کتاب الاضحیة)

قال العلامة محمد الشهیر با لطوریؒ: تجوز عن سبعة بشرط قصدا لکُل القربة و اختلاف الجهات فیما لا یضر کا لقرآن و المتعة و الاضحیة لاتحاد المقصود و هو القربة. (البحر الرائق ج۸، ص۱۷۷، کتاب الاضحیة) و مثله فی الفتاوی الهندیة ج۵، ص ۳۰۴، الباب الثامن فیما یتعلق با لشرکة فی الضحایا)

په شرکت اضطراري کښې د قربـــــانۍ وجوب

سوال: که چېرته د والد له وفات نه وروسته څو زامن د هغه وارثان پاتې شي او جائداد متروکه ئې پخپل حال پرېښي وي او ټول ورونه له هغه څخه استفاده کوي تر اوسه پورې ئې تقسیم کړې نه وي او د هر ورور حصه د قربانۍ له نصاب څخه زیاته وي نو آیا په دې صورت کښې به ټول ورونه یوه قرباني کوي او که په هر یوه باندې به مستقله قرباني واجبه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په داسې حالت کښې کله چه د هر یوه ورور حصه نصاب ته رسیږي نو د سبب د متحقق کیدو په وجه سره د هر یوه ملکیت به مستقل وي او د ملکیت په متحقق کیدو باندې شرکت مانع نه دی نو ځکه په هر یوه باندې به ځان ځانته قرباني واجبه وي او په مشترکه توګه د قربانۍ په صورت کښې د یوه غاړه هم نه خلاصیږي۔

لما قال الامام ابو الحسین احمد بن محمد البغدادی القدوریؒ: الاضحیة واجبة علی کل حر مسلم موسر فی یوم الاضحٰی یذبح عن نفسه. انتهٰی (مختصر القدوری ص۲۷۸، کتاب الاضحیة)

قال العلامة ابو البرکات عبد اللّٰه بن احمد النسفیؒ: تجب علی حر مسلم مقیم موسر عن نفسه. انتهی (کنز الدقائق ص ۴۲۰. کتاب الاضحیة) و مثله فی الهدایة (ج۴، ص ۴۴۱، کتاب الاضحیة)

د قربانۍ په ځناور کښې تر اخیستلو وروسته څوک شریکول

سوال: د قربانۍ لپاره د ځناور د اخیستلو نه وروسته چه څوک پکښې شریک کړی شي نو آیا په داسې عمل سره په قربانۍ باندې څه اثر پریووزي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ د ځناور د اخیستلو نه مخکښې د اوه کسانو په شریکیدو ځناور واخلي او په هغوی کښې د یوه کس قرباني نفلي وي نو په داسې حالت کښې له اخیستلو نه وروسته بل څوک نه شي شریکولی او جائز هم نه دی۔ البته که چېرته د ټولو شریکانو قربانۍ وجوبي وي نو بیا له اخیستلو څخه وروسته هم د بل چا په شریکولو کښې څه حرج نشته لیکن بیا هم بهتره دا ده چه په قربانۍ کښې د شراکت دائره د قربانۍ د ځناور تر اخیستلو نه مخکښې پورې محدوده وي یعنې ټول شریکان د قربانۍ د ځناور د اخیستلو څخه مخکښې باید سره ګډ شي او بیا ځناور واخلي۔

لما قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ: و لو اشترٰی بقرة یرد ان یضحی بها عن نفسه ثم اشرك فیها ستة معه جاز استحساناً...... و الاحسن ان یفعل ذٰلك قبل الشراء لیکون ابعد عن الخلاف. (الهدایة ج۴، ص۴۴۳، کتاب الاضحیة)

قال العلامة الحصکفیؒ: (و صح اشتراك ستة فی بدنة شریت لاضحیة) ای ان نوی وقت الشراء الاشتراك صح استحساناً و الا لا (استحسانا و ذا) ای الاشتراك (قبل الشراء احب. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۱۷، کتاب الاضحیة) و مثله فی الهندیة (ج۵، ص ۳۰۴، الباب الثامن فیما یتعلق به الشرکة فی الضحایا)

د نابالغ د قـــــــربانۍ حکم

سوال: آیا په صاحب نصاب نابالغ باندې قرباني واجبه ده او که نه او د ده قرباني به ئې پلار یا ولي کوي او که د نابالغ له خپل مال څخه به ئې کوي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په صاحب نصاب نابالغ باندې شرعا قرباني واجبه ده او قرباني به د هغه له خپل مال څخه کیږي۔

لما قال العلامة ابو بکر الکاسانیؒ: و اما البلوغ و العقل فلیسا من شرائط الوجوب فی قول ابی حنیفةؒ و ابی یوسفؒ....... حتٰی تجب الاضحیة فی مال الصبی و المجنون اذا کان موسرین. (بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۵، ص۶۴، کتاب الاضحیة)

قال العلامة ابن عابدینؒ: (و قوله یضحی عن ولده الصغیر من ماله) ای مال الصغیر و مثله المجنون. قال فی البدائع الصنائع اما البلوغ و العقل فلیسا من شرائط الوجوب فی قولهما. (رد المحتار ج۶، ص۳۱۶، کتاب الاضحیة)

البته اکثرو علماوو د نابالغ او لیوني په مال باندې د قرباني د نه کیدو قول راجح ګڼلی دی۔ (مرتب)

د مــــــــړي لپاره د قربانۍ حکم

سوال: آیا مړي ته د حصې په نیولو سره د نورو شریکانو په قربانۍ باندې څه اثر لویږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په قربانۍ کښې د مړي لپاره د حصې په نیولو او یا د حصې له نیولو څخه وروسته د مړي لپاره په شراکت کښې شرعا څه نقصان نشته د ټولو شریکانو قرباني صحیح ده۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: (و ان مات احد السبعة) المشترکین فی البدنة (و قال الورثة اذبحوا عنه و عنکم

صح) عن الكل استحساناً لقصد القربة من الكل. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٣٢٦، كتاب الاضحية)

قال العلامة علاؤ الدين الكاسانيؒ: اذا اشرك سبعة فى بدنة فمات احدهم قبل الذبح فرضى ورثته ان يذبح على الميت جاز استحساناً. (بدائع الصنائع ج٥، ص٧٢، كتاب الاضحية) و مثله فى خلاصة الفتاوىٰ (ج٤، ص٣١٥، كتاب الاضحية)

له شرعي عذر پرته د قربانۍ نه کول

سوال: د قربانۍ د وجوب سره سره چه څوك پرته له كوم شرعي عذر څخه قرباني پرېږدي او د قربانۍ ورځې پرې تيرې شي نو د پښيمانۍ د احساس په توګه څه بايد وکړي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قرباني شرعا واجبه ده او پرته له كوم عذر څخه پرېښودل ئې ګناه ده۔ بيا هم د قربانۍ د ورځو له تيريدو څخه وروسته د قربانۍ د قيمت په اندازه صدقه کول ضروري دي۔ ممكن دی چه الله تعالی ئې د قربانۍ په ځای كښې ودروي۔ او كه چېرته څوك قرباني پخپل ځان باندې پخپله واجبه كړي او يا فقير د قربانۍ لپاره څناور واخلي نو په دې صورت كښې د ژوندي څناور صدقه كول ضروري دي۔

لما قال العلامة برهان الدين المرغينانيؒ: و لو لم يضح حتى مضت ايام النهر ان كان واجب على نفسه او كان فقيراً و قد اشترى الاضحية تصدق به حية و ان كان غنياً تصدق بقيمته شاة اشترى او لم يشترى لانها واجبة على الغنى و تجب على الفقير بالشراء بقيمة. (الهداية ج٤، ص٤٤٤) كتاب الاضحية)

قال العلامة عبد الله بن مودود الموصليؒ: فان مضت و لم يذبح فان كان فقيراً و قد اشترىٰ تصدق بها حية و ان كان غنياً تصدق بثمنها اشتراها او لا. (الاختيار لتعليل المختار ج٥، ص١٩، كتاب الاضحية) و مثله فى الدر المختار على صدر رد المحتار (ج٦، ص٣٢٠، كتاب الاضحية)

د قربانۍ د څناور د بدلولو حكم

سوال: يوه سړي د قربانۍ لپاره څناور واخيست او وروسته ئې يو اځې د دې لالچ په خاطر وپلوره چه بل د كم قيمت والا څناور واخلي او څه پيسې به بچت شي نو آيا په دې صورت كښې د اخيستل شوي څناور پلورل او د هغه په ځای د بل څناور اخيستل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چېرته قرباني كوونكی سړی غني وي او په هغه باندې قرباني واجبه وي نو بيا د څناور په اخيستلو سره هغه څناور متعين نه ګرځي نو ځكه ورته بدلول مرخص دی ليكن كه چېرته قرباني نفلي وي كومه چه په اخيستلو سره واجبيږي نو بيا په دې صورت كښې تبديلي ورته جائز نه دی۔ همدا وجه ده چه كه چېرته په داسې صورت كښې څه روپو د صدقه كولو حكم كړی دی او صدقه كول ئې بهتر بللي دي۔ پيسې ورته بچت شي نو هغه به صدقه كوي بلكه فقهاوو په اولني صورت كښې د هغه زياتی

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: و فى الاصل اشترىٰ اضحية ثم باعها جاز فى ظاهر الرواية و لو اشترىٰ مثلها و ضحى بها ان كانت الثانى مثل الاولىٰ او خيراً منها جاز لا يلزمه شيء آخر و ان كان دون الاولىٰ تصدق بفضل القيمتين. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣١٩، كتاب الاضحية)

و ذكر فى الهندية: (رجل اشترىٰ شاة للاضحية و اوجبها بلسانه ثم اشترىٰ اخرىٰ جاز له بيع الاولىٰ فى قول ابى حنيفة و محمد رحمهما الله تعالى و ان كانت الثانية شرا من الاولىٰ و ذبح الثانية فانه يتصدق بفضل ما بين القيمتين. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٢٩٤، الباب الثانى فى وجوب الاضحية بالنذر)

د قـــــــربانۍ له څناور څخه د انتفاع (ګټې اخيستنې) حكم

سوال: آيا د قربانۍ له څناور څخه د شيدو لوشل او يا د سورلۍ لپاره استعمالول او د اسې نورې فائدې اخيستل جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ له څناور څخه شرعا انتفاع اخيستل صحيح نه دي بلكه د هغه شيدې به په سړو اوبو باندې وچ كړی شي۔ بيا هم كه چېرته له شيدو، وړيو او يا نورو شيانو څخه كومه فائده واخلي نو پخپله هغه شی او يا د هغه قيمت به په فقيرانو باندې صدقه كول ضروري دي۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: (قوله يكره الانتفاع بلبنها) فان كانت التضحية قريبة ينضح ضرعها با لماء البارد الا حلبه و تصدق به. (رد المحتار ج٦، ص٣٢٩، كتاب الاضحية)

قال العلامة ابن البزاز الكردريؒ: و يكره حلبها و جز صوفها قبل الذبح و ينتفع به فان فعله تصدق به...... و ان فى ضرعها لبنٌ يخاف عليه تضح ضرعها با لماء البارد او فرجها با لماء البارد اذ قربت ايام النحر و ان بعدت يحلبها و يتصدق با للبن و ما اصاب من اللبن تصدق بمثله او قيمته و كذا الصوف. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج٦، ص٢٩٤، كتاب الاضحية، الباب السادس فى الانتفاع) و مثله فى خلاصة الفتاوىٰ (ج٤، ص٣٢١، كتاب الاضحية)

د قربانۍ د غوښو د ويشلو طريقه

سوال: په مقدس شريعت كښې د قربانۍ غوښې په شريكانو او په فقيرانو باندې د ويشلو طريقه څرنګه ده؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مقدس شريعت د قربانۍ په څناور كښې شراكت جائز ګرځولی دی۔ له دې وجهې نه شريكان به پخپل منځ كښې غوښې په داسې توګه سره ويشي چه د چا د حق تلفي امكان نه وي۔ بيا هم په فقيرانو باندې ئې د صدقه كولو لپاره تلل ضروري نه دي۔

لما قال العلامة فخر الدين حسن بن الفرغانيؒ: سبعة ضحوا بقرة و اقتسموا لحمها وزناً جاز لان بيع اللحم با للحم وزنا مثلا بمثل جائز فكذٰلك القسمة فان اقتسموا جزافاً لا يجوز اعتبارا با لبيع. (الفتاوىٰ قاضى خان على هامش الهندية ج٣، ص٣٥١، فصل فيما يجوز فى الضحايا..... الخ)

قال العلامة شمس الدين محمد بن عبد الله التمرتاشيؒ: و يقسم اللحم وزناً لا جزاءً. (تنوير الابصار على صدر

رد المحتار ج٦، ص٣١٧، کتاب الاضحیة) ومثله فی الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة (ج٦، ص ٣٩٠، الباب الرابع فیما یجوز من الاضحیة)

د قربانۍ غوښه په دريو حصو باندې د ويشلو حکم

سوال: آيا د قربانۍ غوښه ټوله يو سړی پخپله خوړلی شي او که په دريو حصو باندې ويشل ئې ضروري دي د تقسيم د صحيح طريقې وضاحت وکړی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ د غوښې په دريو حصو باندې ويشل مستحب دي۔ يوه حصه به ئې فقيرانو ته ورکوي او بله حصه به ئې خپلو عزيزانو او قريبانو ته ورکوي او دريمه حصه به ئې ځان ته پرېږدي۔ ليکن بيا هم که چېرته ټوله صدقه کوي او يا ټوله ځان ته پرېږدي نو څه پروا نه لري۔

لما قال العلامة ابوبکر الکاسانیؒ: و الافضل ان یتصدق با لثلث و یتخذ الثلث ضیافة لاقاربه و اصدقائه و یدخر الثلث....... و لو تصدق با لکل جاز و لو حبس الاکل لنفسه جاز. (بدائع الصنائع ج٥، ص٨١)

قال العلامة ابن عابدینؒ: و الافضل ان یتصدق با لثلث و یتخذ الثلث ضیافة لاقاربه و اصدقائه و یدخر الثلث و یستحب ان یأکل منها و لو حبس الکل لنفسه جاز لان القربة فی الاراقة و التصدق با للحم تطوع. (رد المحتار ج٦، ص٣٢٨، کتاب الاضحیة) و مثله فی الهندیة (ج٥، ص ٣٠٠، الباب السادس فیما یستحب من الاضحیة)

د مړي له خوا څخه د شوې قربانۍ د غوښې حکم

سوال: آيا د مړي له خوا څخه د شوې قربانۍ غوښه پخپله خوړلی شي او که صدقه کول ئې لازمي دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړو له خوا څخه د شوې قربانۍ غوښه پخپله خوړل او نورو ته ورکول ئې جائز دي خو چه قرباني ئې د مړي په وصيت باندې نه وي کړې او که نه نو د وصيت په صورت کښې ئې صدقه کول لازمي دي۔

لما قال العلامة قاضی خانؒ: و لو ضحی عن میت من مال نفسه بغیر امر المیت جاز و له ان یتناول منه و لا تلزمه ان یتصدق به لانها لم تصر ملکاً للمیت..... و ان ضحی عن میت من مال المیت بامر المیت یلزمه التصدق بلحمه و لا یتناول منه لان الاضحیة عن المیت. (الفتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج٣، ص ٣٥٢، فصل فیما یجوز فی الاضحیة و ما لا یجوز)

قال العلامة ابن عابدینؒ: من ضحٰی عن المیت یصنع کما یصنع فی اضحیة نفسه من التصدق و الاکل و الاجر للمیت و الملك للذابح. قال الصدر و کان المختار انه ان کتاب الاضحیة بامر المیت لا یأکل منها و الا یأکل. (رد المحتار ج٦، ص٣٢٦، کتاب الاضحیة) و مثله فی خلاصة الفتاوٰی (ج٤، ص٣٢٢، کتاب الاضحیة)

د نذر شوې قربانۍ د غوښې حکم

سوال: د نذر کړل شوې قربانۍ د غوښې څه حکم دی آيا قرباني کوونکی پخپله له هغه څخه غوښه خوړلی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: نذر کړل شوې قربانۍ هم د قربت الی الله ذريعه ده ليکن ناذر د خپلې قربانۍ غوښه د نذر په وجه سره پخپله نه شي خوړلی بلکه ټوله غوښه به په فقيرانو باندې تقسيموي۔

لما قال العلامة الحصکفیؒ: و لو فقیراً و لو ذبحها تصدق بلحمها و لو نقصها تصدق بقیمة النقصان ایضاً و لا یاکل الناذر منها فان اکل تصدق بقیمة ما اکل. و فی حاشیة رد المحتار او فقیراً شراها و ان ذبح لا یاکل منها. (رد المحتار ج٦، ص ٣٢١، کتاب الاضحیة)

قال العلامة فخر الدین الزیلعیؒ: ان وجبت با لنذر فلیس لصاحبها ان یاکل منها شیناً و لا ان یطعم غیره من الاغنیاء سواء کان الناذر غنیا او فقیرا لان سبیلها التصدق و لیس للمتصدق ان یاکل صدقته و لا ان یطعم الاغنیاء. (تبیین الحقائق ج٦، ص٨، کتاب الاضحیة) و مثله فی الهندیة (ج٥، ص ٣٠٠، الباب الخامس فی محل اقامة الواجب)

د قربانۍ پوستکی (څرمن) په خيريه کارونو کښې لګول

سوال: د قربانۍ پوستکي او يا د هغه قيمت په جومات، مدرسه او يا نورو خيريه کارونو کښې مصرف کيدی شي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ پوستکی د تطوعاتو څخه ده نو ځکه پخپله پوستکي په جومات، مدرسه او يا په نورو خيريه کارونو کښې او يا اغنياوو ته ئې تمليکاً ورکول او استعمالول ئې شرعا جائز دي۔ البته د پوستکي د قيمت مصرف يواځې فقراء او مساکين دي۔ له دې څخه پرته په نورو کارونو کښې ئې مصرف ناجائز دی۔ بيا هم که چېرته پخپله پوستکی غني ته تمليکا بې له توکيل او حيلې څخه ورکړي نو غني بيا د خپل ځان له خوا څخه د پوستکي قيمت په جومات او مدرسه او يا په نورو خيريه کارونو کښې په مصرف کولو کښې څه قباحت نشته۔

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفیؒ: و یتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال و جراد و قربة و سفرة و دلو (او یبد له بما ینتفع به باقیا) کما مر لا بمستهلك کخل لحم غیره کدراهم (فان بیع اللحم و الجلد به) بمستهلك (او بدراهم یتصدق بثمنه. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج٦، ص٣٢٧، کتاب الاضحیة)

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و یجوز الانتفاع بجلد الاضحیة و الهدی و المتعة و التطوع بان یتخذه فروا او بساطا او جرابا او غربالا و له ان یشتری به متاع البیت کا لغربال و الجراب و الخف و لا یشتری به الخل و المری و اللحم و لا بأس ببیعه با لدراهم یتصدقها و لیس له ان یبیعه با لدراهم لینفقها علی نفسه و لو فعل ذٰلك یتصدق بثمنه. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص٣٢١/٣٢٢، کتاب الاضحیة) و مثله فی الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة (ج٤، ص٢٩٤، السادس فی الانتفاع، کتاب الاضحیة)

د نصاب خاوند ته د قربانۍ د پوستکي ورکول جائز دی

سوال: آیا د نصاب څښتن د جومات امام او یا نورو خلکو ته د قربانۍ د پوستکي ورکول او یا ئې پخپله استعمالول جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د راجح او مفتیٰ بهٖ قول له مخې د قربانۍ پوستکي د نفلي صدقاتو له جملې څخه دي نو ځکه پخپله د قربانۍ پوستکي پخپله استعمالول او یا خپل اولاد او یا نورو غنیانو ته ورکول ئې جائز دي۔

لما قال العلامة علاؤ الدين الحصكفيؒ: (و يتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال او جراب) و قربة سفره و دلو او يبدل بما ينتفع به باقيا. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص٣٢٨، كتاب الاضحية)

لما قال الامام شيخ الاسلام ابو بكر الحدار اليمنيؒ: (قوله و يتصدق بجلدها) لانها جزء منها (قوله او يعمل منه آلة تستعمل فى البيت) كا لنطع و الرجاب و الغربال و لا بأس ان يتخذ فرواً لنفسه. (الجوهرة النيرة ج٢، ص٢٨٥، كتاب الاضحية) و مثله فى البحر الرائق (ج٨، ص١٧٨، كتاب الاضحية)

د قربانۍ غوښه په اجرت کښې ورکول جائز نه دي

سوال: که چېرته د قربانۍ د څناورد ذبح کولو په وخت کښې او د صفا کولو په وخت کښې له چا څخه مدد وغواړي او بیا هغه ته غوښه او یا د اضحیې کومه حصه د حق الخدمت په توګه ورکړي نو په قربانۍ باندې څه اثر لوېږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ حقیقت یوائې د الله رضا ده او د وینې تر تویولو پورې محدود دی۔ بیا هم په داسې مقدس کار کښې د کوم قول او یا د خود غرضي شائبه کول له همدې فلسفې سره متصادم دی نو ځکه د قربانۍ یوه حصه هم د ذاتي مقاصدو لپاره پلورل او یا چا ته په مزدوري ورکول شرعا جائز نه دي۔

لما قال العلامة شمس الدين محمد بن عبد الله التمرتاشيؒ: (و لا يعطى اجر الجزار منها) لانه كبيع. (تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٦، ص٣٢٨، كتاب الاضحية)

قال العلامة علاؤ الدين ابو بكر الكاسانيؒ: و لا ان يعطى اجر الجزار و الذابح منها. (بدائع الصنائع ج٥، ص٨١، كتاب الاضحية) و مثله فى الاختيار لتعليل المختار (ج٥، ص١٩، كتاب الاضحية)

د داغ لرونکي څناور د قربانۍ حکم

سوال: د داغدار څناور د قربانۍ په باره کښې د شریعت مطهره څه حکم دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: داغونه د اسې عیب نه دی چه د قربانۍ څخه منع کوونکی وي لهذا د داغ لرونکي څناور قرباني صحیح ده۔

لما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: و التى بها كيٌّ و التى لا ينزلها لبن من غير غلة و التى لها ولد جوز. (خلاصة الفتاوى ج٤، ص٣٢١، كتاب الاضحية)

قال العلامة ابن عابدينؒ: تجوز الضحية با لمجبوب....... وا لتى لها كيٌّ و التى لا لسان لها فى الغنم. (رد المحتار ج٦، ص٣٢٥، كتاب الاضحية) و مثله فى الهندية (ج٥، ص٢٩٧، الباب الخامس فى محل اقامة الواجب)

د نکیل لرونکي (چه په پوزه کښې خرطوم یا مهار وي) څناور د قربانۍ حکم

سوال: د یوه څناور په پوزه کښې د نکیل په وجه سره په قربانۍ باندې څه اثر پریوزي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ په څناور کښې چه د یوې عضو د دریمې حصې څخه زیات عیب دار شي نو په قربانۍ باندې ئې اثر شته او د دریمې حصې څخه کم عیب د قربانۍ مانع نه دی چونکه د نکیل په اچولو سره د څناور په پوزې کښې معمولي غوندې سوری وي کوم چه په قربانۍ باندې هیڅ اثر نه کیږي۔

لما قال الامام المجتهد ابو عبد الله محمد بن الحسن الشيبانيؒ: و ان قطع من الذنب او الأُذن او الالية الثلث او اقل اجزاه و ان كان اكثر لم يجز. (الجامع الصغير ص٣٨٧، كتاب الاضحية)

قال العلامة برهان الدين المرغينانيؒ: و ان قطع من الذنب او الأُذن او العين او الالية الثلث او اقل اجزاه و ان كان اكثر لم يجز لان الثلث تنفذ فيه الوصية من غير رضاء الورثة فاعتبر قليلاً. (الهداية ج٤، ص٤٤٥، كتاب الاضحية) و مثله فى رد المحتا (ج٦، ص٣٢٤، كتاب الاضحية)

د بښکر ماتوالی د قربانۍ مانع نه ده

سوال: که چېرته د کوم څناور ښکر نه وي یا ئې مات وي نو د هغه د قربانۍ حکم څه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شریعت مقدسه د قربانۍ په څناور کښې هغه عیب معتبر ګرځولی دی چه د یو څناور په منافع او شکل کښې خنډ جوړیږي۔ چنانچه ښکر د څناور یو داسې جز نه دی چه د هغه په نشت والي سره د څناور په منافع او شکل کښې فرق راشي لهذا د داسې څناور په قربانۍ کښې شرعا څه حرج نشته خو په دې شرط سره چه ښکر د دماغو تر هډوکي پورې نه وي مات شوی۔

لما قال العلامة ابن عابدينؒ: (قوله و يضحى با لجماء) هى التى لا قرن لها خلفاء و كذا العظماء التى ذهب قرنها با لكسراء الى المخ لم يجز. (رد المحتار ج٦، ص٣٢٣، كتاب الاضحية)

قال العلامة ابوبكر الكاسانى رحمه الله: و تجزى الجماء و هى التى لا قرن لها خلقة و كذا مكسورة القرن. (بدائع الصنائع ج٥، ص٧٦، كتاب الاضحية) و مثله فى الهداية (ج٤، ص٤٤٦، كتاب الاضحية)

د حامله څناور د قربانۍ حکم

سوال: که چېرته د قربانۍ لپاره اخیستل شوی څناور حامله وخیژي نو آیا د هغه قرباني جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مقدسه کښې د عیب لرونکي ځناور قرباني صحیح نه دی لیکن حمل چونکه د اسې عیب نه دی چه د قربانۍ څخه مانع جوړ شي لیکن بیا هم په دې صورت کښې بې له ضرورت څخه د یو بل ځناور ضائع کیدل راځي نو ځکه د حامله ځناور قرباني له کراهت څخه خالي نه ده۔

لما قال العلامة جلال الدين الخوازمیؒ: رجل له شاة حامل فاراد ذبحها تقارب الولادة يكره ذبحها لان فيه تضييعا لما فى بطنها من غير فائدة. (الكفاية شرح الهداية فى ذيل فتح القدير ج۸، ص۴۱۷، كتاب الاضحية)

قال العلامة المحقق محمد الشهير با لطوریؒ: و يكره ذبح الشّاة اذا تقارب ولادتها لانه يضيع ما فى بطنها. (البحر الرائق ج۸، ص۱۷۱، كتاب الاضحية) ومثله فى رد المحتار (ج۶، ص۳۰۴، كتاب الذبائح)

د خنثیٰ مشکل ځناور د قربانۍ مسئله

سوال: جناب مفتي صاحب! د خنثیٰ مشکل ځناور قرباني شرعا جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم ځناور چه د نرتوب او ښځتوب تمیز مشکل وي او د دواړو علامې موجودې وي نو چونکه د داسې ځناور د غوښې ښه اثرات نه مرتب کیږي نو ځکه د داسې ځناور قرباني صحیح نه ده۔

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفیؒ: و لا با لخنثیٰ لان لحمها لا ينضج. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۶، ص۳۲۵، كتاب الاضحية)

لما ذكر فى الهندية: لا تجوز التضحية با لشاة الخنثیٰ لان لحمها لا ينضج. (الفتاوى الهندية ج۵، ص۲۹۹، الباب الخامس فى محل اقامة الواجب)

د خصي ځناور د قربانۍ حکم

سوال: په شریعت مقدسه کښې د خصي ځناور قراني جائز دی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د ځناور خصیتوب په وجه سره د هغه په غوښې باندې ښه اثرات مرتب کیږي نو ځکه د خصي ځناور قرباني نه یوازې جائز بلکه فقهاوو مستحب بللی دی۔

لما قال العلامة ابو بكر بن على الحداد اليمنیؒ: قوله يجوز ان يضحّى....... و الخصى لانه اطيب لحماً من غير الخصى. قال ابو حنيفةؒ ما زاد فى لحمه انفع مما ذهب من خصيتيه. (الجوهرة النيرة ج۲، ص۲۸۵، كتاب الأُضحية)

لما ورد فى الحديث: عن جابر بن عبد الله قال ذبح النبیﷺ يوم الذبح كبشين اقرنين املحين موجوئين. (سنن ابى داوٗد ج۲، ص۳۸۲، كتاب الاضحية) و مثله فى بدائع الصنائع (ج۵، ص۸۰، كتاب الاضحية)

د قربانۍ لپاره د ځناور اخیستل او د هغه څربول

سوال: که چیرته یو سړي د لسم ذی الحجې څخه دوه درې میاشتې مخکښې کوم ځناور واخلي او بیا په هغه باندې ښه خوراك او څښاك وکړي او څرب ئې کړي نو آیا دغه سړي ته الله تعالیٰ دې عمل باندې ثواب ورکوي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ لپاره له مخکښې څخه ځناور اخیستل او د هغه ساتل او څربول مستحب دی او د اجر او ثواب باعث دی۔

لما قال العلامة ظفر احمد عثمانیؒ: (الجواب) د قربانۍ لپاره ځناور له مخکښې نه اخیستل او د هغه څربول مستحب دی الخ (امداد الاحکام ج۴، ص۱۹۰، کتاب الصید و الذبائح و الاضحیه)

د نبي کریمﷺ لپاره قرباني کول

سوال: که چیرته یو سړي زمونږ د خوږ پیغمبر حضرت محمدﷺ لپاره قرباني وکړي نو قرباني ئې صحیح کیږي او که نه او ثواب لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بالکل صحیح ده او په دې کښې ثواب هم شته او د دې غوښې حکم د خپلې قربانۍ غوندې دی۔ (فتاوٰی رشیدیه ص۵۸۹، د قربانۍ او عقیقې مسائل)

د قربانۍ د ځناور د غابنونو کتل

سوال: زمونږ په علاقه کښې زیاتره خلك د قربانۍ د ځناور د اخیستلو په وخت کښې د هغه غابنونه خامخا ګوري او که چیرته د یوه ځناور د مخکښې طرف دوه غابنونه نه وي شوي نو هغه د قربانۍ لپاره نه اخلي که د هغه ځناو عمر پوره هم وي نو آیا د قربانۍ لپاره د ځناور د مخکښې طرف د دوو غابنونو وتل ضروري دي او که نه دا مسئله په وضاحت سره بیان کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د احنافو علماوو په نزد د قربانۍ لپاره چه کوم ځناور وټاکل شي نو د هغه د عمر خیال ساتل ضروري دي۔ غابنونو لپاره هیڅ اعتبار نشته۔ نو ځکه که چیرته د یوه ځناور عمر پوره وي نو په هغه باندې بې له شکه قرباني جائزه ده که غابنونه ئې وتلي وي او که نه۔ چونکه په دې عمر کښې د ځناور عموما غابنونه وتلي وي نو ځکه ئې غابنونه د علامې په توګه سره کتل کیږي۔ نن صبا د دوکه بازۍ عام رواج دی خلك د څو روپو په خاطر له دروغو څخه په کار اخیستلو باندې کم عمره ځناور د پوره عمر والابنایي نو ځکه د غابنونو کتل ئې مناسب دی۔

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله: و صح الجذع ذو ستة أشهر من الضان ان كان بحيث لو خلط با لثنايا لا يمكن التميز من بُعدٍ و صح الثنى فصاعداً من الثلاثة و الثنى هو ابن خمس من الابلِ و حولين من البقر و الجاموس و حول من الشّاة. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج۶، ص۳۲۱/۳۲۲، كتاب الاضحية)

لما قال مفتى عبد الرحيم صاحب: د عمر پوره والی ضروري دی که د غابښ علامه ئې وي او که نه۔ (فتاوٰی رحیمیه ج۳، ص۱۸۷، کتاب الاضحیه)

د ښځې په مهر باندې د قربانۍ حکم

سوال: یوه سړي خپلې ښځې ته په مهر کښې ۱۰ توله سره زر د ګینړې په توګه ورکړي دي. له دې نه پرته د ښځې سره نورې نقدې روپۍ او نور څه شیان هم نشته نو آیا دا ښځه به قربانۍ کوي او که نه او حال دا چه د هغې میړه اوس دومره مالدار نه دی چه هغه پخپله قرباني وکړی شي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه له څلور اوه نیمې تولې سره زر موجود وي هغه که د ګینړې په صورت کښې وي او که د خښتې په شکل کښې وي او په هغه باندې قرضې او د اسې نور څه نه وي نو دا شخص د نصاب څښتن دی او قرباني پرې واجبه ده او په هر صورت کښې به قرباني کوي او د نوموړې ښځې ذمه واره په میړه باندې نه وي.

لما قال العلامة الحصکفیؒ: و شرائطها الاسلام و الاقامة و الیسار الذی یتعلق به وجوب صدقة الفطر کما مر.

(الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۱۲، کتاب الاضحیة)

لما قال العلامة مفتی عبد الرحیمؒ: چه کله ښځې د نصاب مالکې وي نو په هغو باندې قرباني واجبه وي چه له خپلو روپو څخه قرباني وکړي او که چېرې خپلې روپۍ فی الحال ورسره موجودې نه وي نو نه میړه څخه دې واخلي او قرباني دې وکړي یا دې میړه له خپلې ښځې څخه د اجازې په په صورت کښې د هغې له خوا قرباني وکړي چه په دې سره ئې هم له واجبې قربانۍ څخه غاړې پرې خلاصیږي. (فتاوی رحیمیة ج۳، ص۱۸۰، کتاب الاضحیة)

د تیر شوي کلونو د قربانۍ حکم

سوال: که چېرته په یوه سړي باندې د څو کلونو قرباني پاتې وي او اوس ئې د قضائي ګرځول غواړي نو شرعائې څه طریقه ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د تیر شوي کلونو د پاتې شویو قربانیو د قضاء طریقه دا ده چه د څومره کلونو قربانۍ پاتې شوې وي نو د هر کال د قربانۍ په بدل کښې د هغه قیمت په فقیرانو او مسکینانو صدقه کړي او د اللّٰه تعالی څخه د خپل غفلت مغفرت وغواړي.

لما قال العلامة الحصکفیؒ: و تصدق بقیمتها غنی شراها او لا لتعلقها بذمته بشرائها اولا فا لمراد با لقیمة قیمة شاه تجزی فیها. (الدر المختار علی صدر رد المحتار ج۶، ص۳۲۱، کتاب الأُضحیة)

لما قال العلامة وهبة الزحیلیؒ: و لو ترکت التضحیة حتٰی مضی وقتها....... و اما الغنی اذا لم یشتری الاضحیة فیتصدق بقیمة شاة علی الصحیح. (الفقه الاسلامی و ادلته ج ص۶۰۷، کتاب الاضحیة، المبحث الثالث، وقت التضحیة)

د قربانۍ په ځای د هغه د قیمت ادا کول

سوال: زمونږ په ملک کښې او ځینو اسلامي ملکونو کښې د دین له اصولو څخه بې خبره خلک د داسې روښن فکرانو افرادو کمی نشته چه په هر راتلونکې ورځ د خپل تحقیق او اجتهاد چاړه په اسلامي شعائرو او قطعي متواتر احکامو او عباداتو باندې تیروي. د اسې سپین سترګي خلک شته چه وایي چه د څناور قرباني کول مباح دي او په وجه ئې قومي سرمایه ضائع کیږي او د قربانۍ په ځای دې د هغه قیمت په خیریه کارونو کښې ولګول شي. د اسلام علماء په تفصیل سره د داسې شبهاتو او وسوسو اچولو معقول ځوابونه ورکړي دي. دا ځل رابطۀ عالم اسلامي د مکې مکرمې د اجلاس سنه ۱۳۹۶ هجري په نوتس کښې الجزائري اخبار الشعب مجریه جمادي الثاني سنه ۱۳۹۵ هجري کښې خپور کړی شو یوه الجزائري فتوی راوړل شوې ده چه په هغه کښې د حج په موقع د قربانۍ په ځای د هغه نقدې روپۍ د تقسیمولو وینا پکښې شوې ده. مجلسِ رابطه په تفصیلي دلائلو سره په یوې فتوی کښې دا نظریه رد کړې ده او هغه ئې غیر اسلامي نظریه بللې ده او د قرآن او سنت په واضحو نصوصو سره او د نبي کریم ﷺ په عملي، قولي او فعلي هدایاتو او د نبوت له زمانې څخه ئې را واخله تر ننه پورې د صحابۀ کرامو او د امت مسلمه په تعامل سره په ثابت شوي مسائلو او عباداتو کښې د ګوتې وهلو هیڅ ګنجائش نشته او د رائې د استعمالولو هیڅ ګنجائش نشته. تقرب الی اللّٰه په خود ساخته طریقو سره په کروړونو او لکونو روپۍ په مصرفولو کښې نه دی بلکه د اللّٰه جل جلالُه او د هغه د رسول ﷺ په نقش قدم باندې په تللو کښې ده. د یو کار د اقتصادي او معاشي اړخ په هغه وخت کښې پلټنه کیدی شي چه په کوم ځای کښې د اجماع امت او د قطعي نصوصو سره ټکر نه وي نو ځکه د ذبیحو استبدال په روپو غوندې د بې معنی بحثونو د دروازې خلاصول د بدعت او مداخله فی الدین نه بغیر بل څه نه دي.

په نوموړیو دریواړو قراردادونو کښې اسلامي نقطۀ نظر او د جمهور اهل سنت د عقائدو صحیح ترجماني شوې ده نو ځکه داسې قراردادونه د عالم اسلام د راسخ العقیده مسلمانانو لپاره د زړه د اطمینان او د ایمان د زیاتوالي سبب دي او بلې خوا ته له مغرب څخه متاثر شوي د خامو ذهنونو لپاره هم تنبیه ګرځي چه په داسې مسائلو کښې د عالم اسلام اکثریت د هیڅ یوه ملحدانه خیالاتو روادار نه دي.

د عقیقې د مشروعیت فلسفه

سوال: جناب مفتي صاحب! د عقیقې د مشروعیت فلسفه څه ده اسلام د دې ولې حکم کړی دی په تفصیل سره ئې وضاحت وکړی ډیره شکریه به مو وي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په ځینو شرعي حکمونو کښې ځینې حکمتونه پټ وي د عقیقې

مشروعیت او د اوومې ورځې د رعایت ځینې حکمتونه علماوو بیان کړي دي. د نفس روا والي د حکمت او فلسفې خوا ته د اسلام یوه فیلسوف حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله اشاره کړې ده او فرمایي چه:

و كان فيها مصالح كثيرة راجعة الى المصلحة الملية و المدنية و النفسية فابقاها النبیﷺ و عمل بها و رغب الناس فيها. (حجة الله البالغة ج۲، ص۴۱۲)

ژباړه: په عقیقه کښې ډیر مصلحتونه دي چه د هغوی تعلق د نفسیه، مدنیه او ملیه مصالح سره دي نو د دې مصالحو په وجه سره رسول اللهﷺ هغه پخپل حال باقي پرېښوده. پخپله ئې هم عمل پرې کړی وو او خلکو ته ئې هم د هغې رغبت ورکړ.

د عقیقې د فوائدو په اړه شاه ولي الله رحمه الله فرمایي:

﴿۱﴾ یوه فائده خو ئې دا ده چه په معاشرې کښې د بچي د نسب تصرف کول یو ضروري امر دی. تر څو چه معاشره والو ته معلومه شي چه دا بچی د فلاني سړي زوی دی او هیڅوك هم د هغه په اړه بې ځایه خبرې و نه کړی شي. د دې تعارف لپاره یو صورت دا هم وو چه دا سړی پخپله په ګلیو او کوڅو کښې ګرځیدلی وی چه زما بچی پیدا شوی دی. ظاهره خبره ده چه دا کار نامناسب وو نو ځکه چه کله خلك عقیقه ته راوبلل شي او یا هغوی ته غوښې ولیږل شي نو په دې سبب سره به خلکو ته معلومه شي چه د دې سړي بچی پیدا شوی دی.

﴿۲﴾ د عقیقې له فوائدو څخه یوه فائده دا هم ده چه په انسان کښې د سخاوت ماده پیدا کوي او د بخل او کنجوسۍ غوندې د مذموم صفت څخه د بچ کیدو یو تدبیر دی کوم چه د انسان ښه والی ګڼل کیږي.

د عقیقې مذهبي او ملي ګټه: د عقیقې د مذهبي او ملي ګټو څخه یوه ګټه دا ده چه دا د ابراهیمي ملت سره د تعلق ښکارندوی دی ځکه چه کله د عیسایانو بچیان پیدا کیږي نو هغوی ئې په زیړ رنګ سره رنګوي چه دې عمل ته دوی "معمودیه" وایي او د دې په اړه دا آیت نازل شو چه:

صِبْغَةَ اللّٰهِ وَ مَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً وَّ نَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ☆ (سورة البقرة آیت)

"مونږ د الله رنګ قبول کړی دی او د الله له رنګ څخه بل کوم رنګ بهتر کیدلی شي او مونږ د دې الله عبادت کوونکي یو".

د دې په مقابله کښې د مسلمانانو لپاره ضروري ده ه هغوی د خپل ابراهیمي ملت خوا ته نظر وکړي او په ملت ابراهیمي کښې دا مشهوره ده چه د خپل زوی په سر یو پسه ذبح کړی وو.

پرته له دې څخه د حج د مشهورو افعالو څخه یو فعل دا هم دی چه په هغه کښې ذبح کولو او د ویښتانو خریل یا لنډول هم دی. نو د عقیقې په کولو سره د ابراهیمي ملت د متعارفو افعالو او امورو سره ئې نسبت پیدا کیږي نو ځکه د مذهبي تعلق د ظاهرولو لپاره یو عظیم صورت دی. یوه بله نکته دا هم ده چه په دې کښې د تابعدارۍ او انقیاد یوه نمونه پکښې پیدا

کیږي ځکه چه د بچي په پیدا کیدو باندې په دې عقیقې سره داسې هم کیږي لکه چه ده خپل زوی د الله په دربار کښې وړاندې کړی وي کوم چه د اتباع او فرمانبرادۍ معراج دی. (حجه الله البالغه ج۲، ص۴۱۲/ ۴۱۳)

د عقیقې په کولو کښې یوه نکته دا هم ده چه انسان ته خپل زوی ډیر خوښ او خوږ وي او د بچي په پیدایش باندې والدین ډیر خوشحاله کیږي او مستقبل ته په سوچ او فکر کولو سره د کورنۍ هر یو فرد د خوښۍ په وجه سره پخپلو جذباتو باندې قابو نه شي راوستلی او د هر یوه زړه د فرحت او مسرت څخه ډك وي نو د دوی لپاره ضروري دی چه د شکریې په توګه سره څه صدقه وکړي او د صدقې دا بهترین صورت (عقیقه) دی. (الذبائح في الشریعت الاسلامیه ص۲۸۳، المبحث الثالث، مشکله اللحوم...... الخ)

د عقیقې له فوائدو څخه یوه اهمه فائده دا هم ده چه د عقیقې غوښه فقیران، مسکینان، خپلوان او دوستان په مړه ګیډه وخوري نو په طبعي توګه د هغوی له زړونو څخه دعاګانې ووځي چه د دغو دعاګانو په وجه سره به د هغه بچي راتلونکې خدای روښانه کوي. او عقیقه د خپلوانو، دوستانو، فقیرانو او مسکینانو د دعاګانو د حاصلولو اهمه ذریعه ده.

د تسبیع د رعایت فلسفه

دا خبره ثابته ده چه په عقیقه کښې بهتره خبره دا ده چه د بچي د پیدایش په اوومه ورځ وي. حضرت شاه ولي الله محدث دهلويؒ د دې متعلق فرمایي چه "که چېرته د بچي د پیدایش په وخت کښې عقیقه ضروري وګرځول شي نو ممکنه ده چه د دې بچي والدینو ته تکلیف وي ځکه چه په دې وخت کښې د کورنۍ خلك د هغې ښځې په ځبابت او خبرګیري کښې مصروف وي نو په داسې وخت کښې داسې نه وي چه هغو ته تکلیف وي. پرته له دې نه کله کله د ځناور په پیدا کولو کښې هم تکلیف وي او فوراً د لزوم په صورت کښې تول کورنۍ له دې مشکلاتو سره مخامخ کیږي نو ځکه مسنونه طریقه دا ده چه عقیقه دې په اوومه ورځ وي. چه د هغې لپاره یوه هفته د اعتماد قابله موده ده. (حجت الله البالغه ج۲، ص۴۱۴)

د عقیقې لپاره د ځناور غوره کول

سوال: که چېرته یوه سړي د عقیقې لپاره یو ځناور غوره کړي لیکن په هغه باندې د زیاتو روپو د پیدا کیدو په لالچ او یا د بلې ګټې د حصول په خاطر هغه خرڅ کړي او بل ځناور واخلي او ذبح ئې کړي نو آیا په دې سره د عقیقې سنت ادا کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: عقیقه چونکه شرعا واجبه نه ده نو ځکه که چېرته څوك د عقیقې لپاره یو ځناور ټاکلی وي لیکن وروسته بیا په څه وجه کوم بل ځناور ذبحه کړي د عقیقې سنت ئې ادا شو او د ټاکل شوي ځناور ذبح کول ضروري نه دي.

د مړ بچي د عقیقې حکم

سوال: که چېرته یو هلك پیدا شي او بیا له پیدا کیدو وروسته زر مړ شي نو آیا د هغه بچي عقیقه مستحبه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بچي په پیدا کیدو باندې عقیقه سنت دی لیکن دا سنت د ژوندي بچیانو پورې محدوده ده د مړ بچي عقیقه ثابته نه ده۔

لما قال الشیخ مفتی عبد الرحیم صاحبؒ: د مرحوم بچي د عقیقې سنت والی ثابت نه دی۔ (فتاوی رحیمیه ج۲، ص۹٤، کتاب الاضحیه)

د بچي عقیقه په چا باندې لازمه ده

سوال: عقیقه په والدینو کښې د چا په ذمه باندې ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د بچي نفقه چــــــه په والدینو کښې په چا باندې وي نو د استطاعت په صورت کښې د بچي عقیقه هم د هغه په ذمه باندې وي او د نه طاقت په صورت کښې په هیڅ‌چا باندې هم نشته۔

لما قال مفتی عبد الرحیم صاحبؒ: د چا په ذمه چه د بچي نفقه وي د هغه په ذمه باندې عقیقه هم دی که چېرته د پلار څه حیثیت نه وي نو مور دې عقیقه وکړي۔ (فتاوی رحیمیه ج۲، ص۹٤، کتاب الاضحیه)

قرباني او د لوی اختر مسائل

د دار العلوم حقانیې د دار الافتاء څخه په ماهنامۀ "الحق" کښې د عامې فائدې لپاره د قربانۍ او د لوی اختر د مسائلو تر عنوان لاندې دا مضمون خپور شوی وو۔ دا مضمون د فتاوی او د مسائلو سره د مناسبت په وجه دلته درج کیږي۔

مرتب

قرباني او قــــــــرآن

قرباني د اسلام مهتم بالشان عبادت دی۔ معلومات ئې له دې څخه کیږي چه په قرآن مجید کښې څو ځله په اتو سورتونو کښې خدای پاك جل جلالُه د قربانۍ او د هغې د متعلقاتو، قرباني او د هغې اهمیت او ضرورت او حکمت و فلسفه، په مختلفو امتونو کښې په دې شکل و صورت باندې رڼا اچولې ده او د امت مسلمۀ ابراهیمي ئې دیني شعار او امتیازي شان گرځولی دی۔ الله تعالی فرمایي:

وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكاً لِيَذْكُرُوا اسمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيْمَةِ الاَنْعَامِ. (سورة الحج، آیت ۳٤)

"او مونږ د هر امت لپاره قرباني مقرره کړې ده تر څو چه هغوی د الله تعالی په ورکړ شوي څناور باندې د هغه نوم لوړ کړي"۔

لکه څرنگه چه پخپله له آیت کریمه څخه واضحه شوه چه له منسك څخه مراد ذبح کول او قرباني ده کوم چه ټولو محققینو او لویو لویو مفسرینو د دې تصریح او وضاحت کړی دی۔ د قرطبي، --------- فتح القدیر للشوکاني دقربانۍ د حکمت او فوائدو په باره کښې د خدای جل جلالُه دا قول را نقل کړی دی چه:

لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَ لاَ دِمَآئُهَا وَ لٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ. (سورة الحج، آیت ۳۷)

"الله تعالی جل جلالُه ته د قربانۍ غوښې، پوستکي او وینه نه رسیږي بلکه الله تعالی ته ستاسو تقوی رسیږي"۔

په سورت الکوثر کښې واضح او قطعي حکم دی چه:

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَ انْحَرْ "د خپل رب لپاره لمونځونه وکړی او قربانۍ وکړی"۔

قــــــــرباني او حدیث

﴿۱﴾ عن ابن عمرؓ قال اقام رسول اللّٰہ ﷺ بالمدینة عشر سنین یضحّی. (جامع الترمذی ج۱، ص۲۷۷، ابواب الاضاحی)

"حضرت ابن عمر فرمایي چه حضور ﷺ تر لسو کلونو پورې اوسیده او بې له ناغې څخه ئې قرباني کوله"

﴿۲﴾ له حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چه د لوی اختر په ورځ حضور اقدس ﷺ په

مدینه منوره کښې د اوښ او یا د نورو ځناورو قرباني کوله۔ (مسند احمد و نسائي)

عن عبد الله بن عمرؓ ان رسول اللهﷺ كان يذبح او ينحر با لمصلّى. (سنن النسائی ج۲، ص۲۰۲، باب ذبح الامام اضحيته با لمصلّى)

﴿۳﴾ حضرت انس بن مالکؓ فرمايي چه يو ځل حضورﷺ په مدينه منوره کښې غنم رنګه دوه مړان ذبح کړل۔ (بخاري او همدارنګه کتاب اختلاف الحديث للشافعي على الام ج۷، ص۲۸)

عن انسؓ قال ضحّى النبیﷺ بكبشين املحين اقرنين ذبحهما بيده و يسمّى و كبر و وضع رجله على صفاحهما. (صحيح البخارى ج۲، ص۸۳۵، باب التكبيرات عند الذبح / سُنن النسائی ج۲، ص۲۰۳، باب الكبش، كتاب الاضحية)

﴿۴﴾ په بخاري شريف کښې دي چه حضورﷺ د ازواج مطهراتو له خوا نه قرباني وکړه۔

عن عائشةؓ ان النبیﷺ دخل عليها و حاضت بسرق قبل ان تدخل مكة و هى تبكى فقال مَا لَكِ اَنُفستِ قالت نعم قال ان هٰذا امر كتبه الله على بنات آدم فاقضى ما يقضى الحاج غير ان لا تطوفى با لبيت فلما كنا بمنى اتيت بلحم بقر فقلت ما هٰذا قالوا ضحى رسول اللهﷺ عن ازواجه با لبقر. (صحيح البخارى ج۲، ص۸۳۲، باب الاضحية للمسافر و النساء)

﴿۵﴾ حضورﷺ وفرمايل چه صاحب وسعت (چه وس ئې وي) باندې په ټول کال کښې يو ځل قرباني واجبه ده۔ (ابن ماجه، ص۲۳۳)

عن مخنف بن سليم قال كنا و قوفا عند النبیﷺ بعرفة فقال يا ايها الناس ان على اهل بيت فى كل عام اضحية و عتيرة اتدرون ما العتيرة هى التى يسميها الناس الرجبية. (ابن ماجة ص۲۲۶، باب الاضاحى واجبة ام لا)

﴿۶﴾ حضورﷺ وفرمايل چه کوم سړی د وس سره سره قرباني و نه کړه نو هغوی دې زمونږ عيدګاه ته نه رانژدې کيږي۔

عن ابی هريرةؓ ان رسول اللهﷺ قال من كان له سعة و لم يضح فلا يقربن مصلانا. (ابن ماجة ص۲۲۶، باب الاضاحى واجبة ام لا)

﴿۷﴾ د حضورﷺ څخه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چه دا قربانۍ څه شی دي؟ نو ده مبارکﷺ وفرمايل چه دا ستاسو د نيکه حضرت ابراهيم عليه السلام سنت دی۔ (مشکوٰة)

عن زيد بن ارقمؓ قال قال اصحاب رسول اللهﷺ يا رسول اللهﷺ ما هٰذه الاضاحى قال سُنة ابيم ابراهيم عليه السلام. (مشكوٰة ج۱، ص۱۲۹، باب فى الاضحية، الفصل الثالث)

﴿۸﴾ ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمايي چه د لوی اختر په ورځ د بني آدم هيڅ يو عمل له قرباني څخه الله تعالى ته محبوب نه دی۔ د قيامت په ورځ د قربانۍ د ځناور ښکرونه، ويښتان او داسې نور د انسان نيک اعمال درنوي۔ او د هغې د وينې د څاڅکو له پريوتلو څخه مخکښې د الله تعالى په نزد مقبول ګرځي نو په ښه زړه او په خوښۍ سره قرباني وکړی۔ (ترمذي، ابن ماجه)

عن عائشةؓ ان النبیﷺ قال ما عمل ابن آدم يوم النحر عملاً احبَ الى الله عزَ و جل من هراقة دم و انهُ ليأتى يوم القيٰمة بقرونها و اظلافها و اشعارها و ان الدم ليقع من الله عز وجل بمكان قبل ان يقع الارض فطيبوا بها نفساً. (ابن ماجة ص۲۲۶، باب ثواب الاضحية)

﴿۹﴾ حضورﷺ وفرمايل چه د هر ويښته په بدل کښې ستاسو لپاره نيکۍ ليکل کيږي۔ (سنن ابن ماجه)

عن زيد بن ارقمؓ قال قال اصحاب رسول اللهﷺ يا رسول اللهﷺ ما هٰذه الاضاحى قال سُنة ابيكم ابراهيم عليه السلام. قالوا فما لنا فيها يا رسول اللهﷺ قال بكل شعرة حسنة قالوا فا لصوف يا رسول اللهﷺ قال بكل شعرة من الصوف حسنة. (ابن ماجة)

سبحان الله د الله تعالى څومره عظيم رحمت دی چه دومره لوی دولت ميسر کيږي او سره له دې هم مسلمانان له دې څخه غفلت کوي۔ د مسلمان شان خو دا دی چه که چېرته قرباني ورباندې واجبه هم نه وي نو بيا دې هم د نيکيو دا خزانه له لاسه و نه باسي۔

د قربانۍ د وجوب او شرائط

﴿۱﴾ اسلام: په کافر باندې واجبه نه ده۔

﴿۲﴾ اقامت: په مسافر باندې واجبه نه ده۔

﴿۳﴾ حريت: په غلام باندې واجبه نه ده۔

د قرباني لپاره نر توب شرط نه دی بلکه په ښځو باندې هم واجبه ده او په نابالغ باندې نه پخپله واجبه ده او نه د هغه د ولي له طرفه واجبه ده۔ کما في ظاهر الروايه و به الفتوٰی۔

قال العلامة الكاسانیؒ: بشروط وجوب قربانى الاسلام، الاقامة، حرية و لا تجب على الصبى فى ظاهر الرواية و لكن الافضل ان يفعل ذٰلك. (بدائع الصنائع ج۵، ص۶۴، كتاب الاضحية)

﴿۴﴾ دولت مندي: يعنې کوم مسلمان چه دومره دولت مند وي چه په هغه باندې زکات واجب وي نو په هغه باندې د اختر په ورځ قرباني او صدقهٔ فطر هم واجب دی اګر که د تجارت مال ورسره وي او يا نور که کال پرې تير وي او که نه۔ (بهشتي زيور ص۲۵۰، دريمه برخه)

د قربانۍ ځناور

په اوښانو، غوايانو او ووزو که نر وي او که ښځه، که خصي وي او که نه وي په ټولو باندې قرباني کيږي۔ ميښې په غواوو کښې شمار دي او پسونه او ميږې په ووزو کښې۔ په غوايي، ميښې او اوښ کښې اوه کسان شريکيدلی شي۔ که چېرته په غوايي او اوښ کښې اوه کسان او يا له دې څخه کم کسان شريک شي نو د ټولو قرباني صحيح کيږي او که چېرته د اوه کسانو څخه زيات شريک شي نو د يوه قرباني هم نه صحيح کيږي۔

قال العلامة الزيلعیؒ: (و الاضحية من الابل و البقر و الغنم) لان جواز التضحية بهٰذه الاشياء عرف شرعاً با لنص على خلاف القياس فيقتصر عليها. (تبيين الحقائق ج۶، ص۷، كتاب الاضحية)

قال العلامة الکاسانیؒ: و يدخل فی کل جنس نوعه و الذکر و الانثٰی منه الٰی قوله و المعز نوع من الغنم و الجاموس نوع من البقر بدليل انه يضم ذٰلک الی الغنم و البقر فی باب الزکوٰة. (بدائع الصنائع ج٥، ص٦٩، کتاب الاضحية)

قال العلامة الکاسانیؒ: و لا يجوز بعير واحد و لا بقرة واحدة عن أکثر من سبعة و يجوز ذٰلک عن سبعة. (بدائع الصنائع ج٥، ص٧٠، کتاب الاضحية)

د قربانۍ د څناور عمر

اوښ د پنځو کلونو، میښه او غوا د دوه کلونو، ووزه یا پسه د یوه کال څخه چه کم وي نو قرباني پرې نه کیږي۔ البته که چېرته د شپږو میاشتو پسه یا مږ دومره مزی او تازه وي چه د کال د پسه غوندې معلومیده نو بیا هم قرباني پرې جائزه ده۔

لما فی الهندية: فلا يجوز شیءٌ مما ذکرنا من الابل و البقر و الغنم عن الاضحية الا الثنٰی من کل جنس و الا الجذع من الضان خاصة اذا کان عظيما الٰی قوله قالوا الجذع من الغنم ابن ستة اشهر و الثنی ابن سنة و الجذع من البقر ابن سنة و الثنی منه ابن سنتين و الجذع من الابل ابن اربع سنين و الثنٰی ابن خمس. (الفتاوی الهندية ج٥، ص٢٩٧، الباب الخامس)

په کانه او ړانده څناور باندې قرباني جائزه نه ده که چېرته ئې د یو غوږ دریمه حصه او یا زیات پرې وي او یائې د لکۍ دریمه حصه او یا زیاته پرې وي او دا پرې والی مورزاده هم نه وي بلکه وروسته پرې شوي وي نو په داسې څناور باندې قرباني نه کیږي۔ او دومره ډنګر چه په هډوکو کښې ئې ماغزه نه وي او یا داسې مږ چه په دریو پښو باندې تلی شي او څلورمه پښه په زمکه نه شي لګولی نو په داسې مال باندې هم قرباني نه کیږي۔ او د کوم حیوان چه نیمایي او یا له نیمایي څخه زیات غاښونه نه وي په هغه باندې هم نه کیږي لیکن د کوم څناور چه مورزاده ښکرونه نه وي او یائې ښکرونه مات شوي وي لیکن بیخونه ئې روغ پاتې وي او یا خصي وي نو د داسې مال قرباني صحیح ده۔

لما فی الهندية: و لا تجوز العمياء و العوراء البين عورها الٰی قوله و لو ذهب بعض هٰذه الاعضاء دون بعض من الاذن و الالية و الذنب و العين. (الفتاوی الهندية ج٥، ص٢٩٨، الباب الخامس)

و فی جامع انهٗ اذا کان ذهب الثلث او اقل جاز و ان کان اکثر من الثلث لا يجوز. و روی ابو يوسف رحمه اللّٰه انه ان کان ذهب الثلث لا يجوز و ان کان اقل من ذٰلک جاز. و قال ابو يوسف رحمه اللّٰه ذکرت لابی حنيفة رحمه اللّٰه فقال قولی مثل ذٰلک. (الفتاوی الهندية ج٥، ص٢٩٨، الباب الخامس، کتاب الاضحية)

قال العلامة التمرتاشیؒ: فلو مهزولة لم يجز الٰی قوله المهزولة التی لا مخ فی عظامها. (شرح تنوير الابصار علی هامش رد المحتار ج٥، ص٢٢٧، کتاب الاضحية)

خنثٰی څناور کوم چه په هغه کښې د نر او د ښځې دواړه علامې موجودې وي او جلاّله یعنې هغه حیوان چه یوازې غلیظ شیان خوري او هغه څناور چه پښه ئې پرې وي په یوه باندې

هم قرباني نه کیږي۔ او که چېرته د څناور د اخیستلو نه وروسته داسې عیب پکښې پیدا شي چه د قربانۍ مانع وي نو د هغه په بدله کښې دې بل څناور واخلي۔ هو! که چېرې داسې غریب وي چه قرباني پرې واجبه نه وي نو د هغه لپاره بیا صحیح ده چه همدا څناور قرباني کړي۔

قال العلامة التمرتاشیؒ: و لا بالخنثٰی لان لحمها لا ينضج. (شرح تنوير الابصار علی هامش رد المحتار ج٥، ص٢٢٨، کتاب الاضحية)

قال العلامة ابن عابدينؒ: و العرجاء التی تمشی بثلاثة قوائم و تجافی الرابع عن الارض لا تجوز الاضحية بها. (البحر الرائق ج٨، ص١٧٦، کتاب الاضحية)

قال العلامة المرغينانیؒ: و اما الهتماء و هی التی لا اسنان لها فعن ابی يوسفؒ انه يعتبر فی الاسنان الکثرة و القلة و عنه ان بقی ما يمکن الاعتلاف به اجزأ.

و يجوز ان يضحی بالجماء و هی التی لا قرن لها لان القرن لا يتعلق به مقصود و کذا مکسورة القرن لما قلنا و الخصی لان لحمها اطيب. (الهداية ج٤، ص٤٤٨، کتاب الاضحية)

قال العلامة الحصکفیؒ: و اشتراها سليمة يعتب بعيب مانع من التضحية کان عليه ان يقيم غيرها مقامها ان کان غنياً و ان کان فقيراً يجزئه ذٰلک لان الوجوب علی الغنی بالشرع ابتداءً لا بالشراء. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٥، ص٢٢٩، کتاب الاضحية)

د قــــــربانۍ وخت

﴿١﴾ د قربانۍ وخت د لوی اختر یعنې لسم د ذی الحجې د صبح صادق څخه د دولسم د ذی الحجې د لمر تر ډوبیدو پورې دی۔ د اختر اوله ورځ یعنې لسم د ذی الحجې د ټولو نه افضله ده، بیا یوولسم او بیا دولسم۔

قال العلامة الکاسانیؒ: فلا يجوز لاحد ان يضحی قبل طلوع الفجر الثانی من اليوم الاوّل من ايام النحر. (بدائع الصنائع ج٥، ص٧٣، کتاب الاضحية)

﴿٢﴾ د لوی اختر د لمانځه څخه مخکښې قرباني صحیح نه ده لیکن په کلیو کښې کوم چه هلته د اختر لمونځ نه کیږي نو د صبح صادق څخه وروسته قرباني کولی شي۔

و ايام النحر ثلاثة يوم الاضحی و هو يوم العاشر من ذی الحجة الخ. (بدائع الصنائع ج٥، ص٦٥، کتاب الاضحية)

﴿٣﴾ د شپې ذبح کول ئې بهتره نه دي ځکه چه ښایي چه د تیاره له وجهې ئې کوم رګ او د لسې نور سم پرې نه شي او قرباني ئې صحیح نه شي۔

و المستحب ذبحها بالنهار دون الليل لانه امکن لاستفاد العروق کذا فی الجوهرة النيرة. (الفتاوی الهندية ج٥، ص٢٩٦، کتاب الاضحية)

﴿٤﴾ که چېرته یو مسافر د دولسمې ورځې د لمر له ډوبیدو څخه مخکښې مقیم شو او یا فقیر څښتن د نصاب شو نو قرباني پرې واجبه ده۔

لما فی الهندية: لو کان مسافراً فی اول الوقت ثم اقام فی آخره تجب عليه. (الفتاوی الهندية ج٥، ص٢٩٢، کتاب الاضحية، باب شرائط وجوب)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: و لو جاء يوم الاضحٰى و لا مال لهٗ ثم استفاد مائتى درهم و لا دَين عليه وجبت الاضحية. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣٠٩، كتاب الاضحية)

لما فى الهندية: و هٰكذا لو كان فقيراً فى اوّل الوقت ثم ايسر فى آخره تجب عليه. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٢٩٢، كتاب الاضحية، باب حكم الوجوب)

﴿٥﴾ قرباني پخپل لاس سره ذبح كول بهتر دي او كه نه ئې شو ذبح كولى نو په بل چا حلالول ئې هم جائز دي۔

لما فى الهندية: و الافضل ان يذبح اضحيته بيده ان كان يحسن الذبح لان الاولى فى القربات يتولّى بنفسه و ان كان لا يحسن الذبح فا لافضل ان يستعين بغيره و لكن ينبغى ان يشهد ها بنفسه. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٣٠٠، كتاب الاضحية، الباب الخامس)

﴿٦﴾ د قربانۍ ځناور د قبلې خوا ته څملوى او لومړى د ا دعا اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ حَنِیْفاً وَّ مَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ. اِنَّ صَلٰوتِیْ وَ نُسُكِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ. لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَ بِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَ اَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ. اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَ لَكَ. بيا دى بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ووايي او ذبح دې كړي۔ او له ذبح كولو وروسته دې دا دُعا ووايي چه: اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِیْبِكَ مُحَمَّدٍ وَّ خَلِیْلِكَ اِبْرٰهِیْمَ عليهما السلام.

عن جابر قال ذبح النبیﷺ يوم الذبح كبشين اقرنين املحين موجوئين فلما وجهما قال انى وجهت وجهى الخ. (مشكٰوة ص١٢٨، كتاب الاضحية، الفصل الثانى)

﴿٧﴾ په ژبې سره د نيت تكرارول ئې ضروري نه دى بلكه د زړه اراده هم كافي ده۔

قال العلامة ابن عابدينؒ: و لا يشترط ان يقول بلسانه ما نوى بقلبه كما فى الصلٰوة. (رد المحتار ج٥، ص٢١٩، كتاب الاضحية)

﴿٨﴾ كه چېرته قرباني په چا باندې واجبه وي او د قربانۍ ورځې پرې تيرې شي او قرباني ونه كړي نو وروسته به بيا د ځناور قيمت وركوي او كه چېرته ئې ځناور اخيستى وي نو پخپله دې هغه ځناور خيراتوي۔

اذا اوجب شاة بعينها او اشتراها ليضحّى بها فمضت ايام النحر قبل ان يذبحها تصدق بها حية و لا ياكل من لحمها لانه انتقل الواجب من اراقة الدم الى التصدق و ان لم يوجب و لم يشتر و هو موسر و قد مضت ايامها تصدق بقيمة شاة تجزى للاضحية. (رد المحتار ج٥، ص٢٢٦، كتاب الاضحية)

د قربانۍ د غوښې او څرمنې حكـــــــم

﴿١﴾ قرباني كوونكى د قربانۍ غوښې پخپله هم خوړلى شي او خپلو خپلوانو، غنيانو او فقيرانو تولو ته ئې وركولى شي۔ بهتره طريقه دا ده چه كم تر كمه حصه ئې تقسيم كړي او له دې څخه دې كمى نه كوي۔

قال العلامة الحصكفيؒ: و ياكل من لحم الاضحية و يوكل غنياً و يدخر و ندب ان لا ينقص التصدق عن الثلث. (الدر المختار على رد المحتار ج٥، ص٢٣٠، كتاب الاضحية)

﴿٢﴾ كه چيرته اوه كسان په قربانۍ كښې شريك وي نو غوښه به د اندازې له مخې نه سره ويشي بلكه اول دې په صحيح توګه وتلي او بيا دې وويشي او كه نه وي نو ګناه ده۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: سبعة ضحوا و ارادوا ان يقسموا اللحم بينهم ان اقتسموها وزنا جاز و ان اقتسموها جزافاً ان جعلوا مع اللحم شيئاً من السقط كا لرأس و الاكراع يجوز فان لم يجعلوا لا يجوز. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣١٥، كتاب الاضحية)

﴿٣﴾ د قربانۍ څرمن او يا د هغه قيمت دې خيرات كړي او هغو خلكو ته دې وركړي چه هغو ته زكات او صدقۀ فطر وركول كيږي يعنې هغه خلك چه د زكات او د صدقۀ فطر مستحق وي۔ او په خرڅولو كښې ئې چه څومره روپۍ ورته ملاو شي نو هم هغه روپۍ به صدقه كوي۔ كه چېرته ئې بدلې كړې او بيائې وركړي نو بده خبره ده ليكن صدقه ئې ادا كيږي۔

و لا بأس با لدراهم ليتصدقها و ليس لهٗ ان يبيعه با لدراهم لينفقها على نفسه و لو فعل ذٰلك يتصدق بثمنه. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣٢٢، كتاب الاضحية)

﴿٤﴾ څرمن پخپله هم استعمالولى شي مثلاً ځان ته له هغه څخه پړى، ژۍ يعنې مشك يا بالتۍ يا جاى نماز يعنې مصلٰى ترې جوړه كړي۔ (بهشتي زيور)

و يجوز الانتفاع بجلد الاضحية و الهدى و المتعة و التطوع بان يتخذه فرواً او بساطاً او جراباً او غربالاً الخ. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣٢١، كتاب الاضحية)

﴿٥﴾ غوښه او وازګه ئې قصاب يا بل چا ته د مزدورۍ په عوض كښې وركول جائز نه دي۔

لما فى الهندية: و لا يحل بيع شحمها و اطرافها و رأسها و صوفها و وبرها و شعرها و لبنها الذى يحلبه منها بعد ذبحها بشىء لا يمكن الانتفاع بهٖ الا باستهلاك عينه من الدراهم و الدنانير و الماكولات و المشروبات و لا ان يعطى آجر الجزار و الذابح منها. (الفتاوىٰ الهندية ج٥، ص٣٠١، كتاب الاضحية)

﴿٦﴾ د قربانۍ د ځناور پړى يعنې رسۍ، ځل او د اسې نور به هم صدقه كوي۔

لما فى الهندية: و اذا ذبحها تصدق بجلالها و قلائدها كذا فى السراجية. (الفتاوى الهندية ج٥، ص٣٠٠، كتاب الاضحية، الباب السادس)

﴿٧﴾ كه چېرته پخپله خوښه د مړي لپاره قرباني وكړي نو د دې قربانۍ غوښې پخپله خوړل، بل چا ته وركول او ويشل ئې ټول صحيح دي لكه څرنګه چه د خپلې قربانۍ حكم دى۔ (بهشتي زيور)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاريؒ: سئل نصيرؒ عن رجل ضحى عن الميت قال الاجر لهٗ و الملك لهٰذا و فى الفتاوىٰ ان كان بامر الميت المختار انهٗ لا يتناول. و قال فى باب الباء ان ضحى بغير امره المختار انهٗ يتناول. (خلاصة الفتاوىٰ ج٤، ص٣٢٢، كتاب الاضحية)

تکبیرات تشریق

له نهم د ذی الحجې د سهار څخه تر دیارلسمې ورځې تر مازدیگره پورې په هر مقیم باندې د هر لمانځه نه وروسته چه په جماعت سره ادا شي یو ځل په جگ آواز سره تکبیر لوستل واجب دي که چېرته ئې له یو ځل څخه زیات ووایي نو بهتر دی۔ دې ته تکبیر تشریق ویل کیږي او هغه په لاندې ډول دي۔

اللّٰهُ اکبَرُ اللّٰه اکبرُ لاَ اِلٰهَ الا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اکبَر اللّٰهُ اکبر وَ لِلّٰهِ الحَمْدُ.

لما فی الهندية: اما صفة فانهٗ واجبٌ و اما عدده و ماهيته فهو ان يقول مرة واحدة اللّٰهُ اکبَرُ اللّٰه اکبرُ لاَ اِلٰهَ الا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اکبَر اللّٰهُ اکبر وَ لِلّٰهِ الحَمْدُ.

و اما شروطه فاقامةٌ و مصرٌ و مکتوبةٌ و جماعة مستحبةٌ و اما وقته فاوّله عقيب صلٰوة الفجر من يوم عرفة و آخره فی قول ابی يوسف و محمد رحمهما اللّه تعالٰی عقيب صلٰوة العصر من آخر ايام التشريق و الفتوٰی عل [illegible] (الفتاوی الهندية ج۱، ص۱۵۲، الباب السابع)

د اختر سنتونه

د وینښتانو جوړول، غسل کول، د ښې نه ښې جامې اغوستل کومې چه میسرې وي، رانجه په سترگو کول، عطر لگول، په لوی اختر کښې د اختر د لمانځه نه مخکښې څه نه خوړل بلکه بهتره دا ده چه واپس راشي قرباني وکړي او د خپلې قرباني غوښې وخوري او په همدې اختر کښې عیدگاه ته د تللو په وخت کښې په جگ آواز سره دې دا تکبیر ووایي "اللّه اکبر اللّه اکبر لا اله الا اللّه و اللّه اکبر اللّه اکبر و للّه الحمد"، عیدگاه ته له وخت نه مخکښې تلل او په اولنې صفونو کښې د کښیناستلو کوشش کول او عیدگاه ته چه په کومه لاره ورشي واپس په بلې لارې باندې کور ته راتلل۔

و يستحب يوم الفطر للرجل الاغتسال و السواك و لبس احسن ثيابه و يستحب التختم و التطيب و استحب فی عيد الفطر ان ياكل قبل الخروج الی المصلی الاكل قبل صلٰوة يوم الاضحٰی لا يكره لٰكن يستحب لهٗ ان لا يفعل و يستحب ان يكون اول تناولهم من لحوم الاضاحی و يكبر فی الطريق فی الاضحی جهراً.

د اختر د لمانځه نیت

دوه رکعته واجب لمونځ کوم د لوی اختر سره له ټولو تکبیرونو خاص د خدای لپاره په دې حاضر امام پسې مخ مې د کعبې په لور۔

په اول رکعت د ثناء نه وروسته او د بسم اللّه او الحمد للّه نه مخکښې درې ځلې به اللّه اکبر وایي او لاسونه به غوږونو ته پورته کوي مقتدیان به ئې هم ورسره پورته کوي۔ د اول او دوهم تکبیر نه وروسته چه لاسونه را ښکته کوي نو خپل لاسونه به زوړند پریږدي او د دریم تکبیر نه وروسته به خپل لاسونه په نامه باندې ږدي او رکعت به پوره کوي۔ په دوهم رکعت

کښې د الحمد او کوم بل سورت د قرائت نه وروسته او رکوع ته د تللو نه مخکښې درې ځلې تکبیرونه وایي۔ مقتدي به هم د مخکښیني رکعت غوندې لاسونه غوږو ته پورته کوي او پریږدي به ئې او له څلورم تکبیر سره به رکوع ته ځي۔

و كيفية صلٰوتها ان ينوی صلٰوة العيد بقلبه و يقول بلسانه اُصلی صلٰوة العيد للّه تعالٰی الخ. (الفتاوی الهندية ج۱، ص۱۴۹، باب صلٰوة العيدين)

ثم يكبر للتحريمة......... ثم يكبر الامام و القوم تكبيرات الزوائد ثلاثاً يرفع يديه للامام و القوم فی كل منها ثم يكبر الامام و القوم تكبيرات الزوائد ثلاثاً و يرفع يديه فيها كما فی الركعة الاولٰی. (طحطاوی ص ۲۹۱، باب العيدين)

خطبه

د اختر د لمانځه نه وروسته خطبه ویل کیږي چه اوریدل ئې واجب دي ځینې خلك د خطبې د ختم کیدو نه مخکښې د عیدگاه څخه ځي که د خطیب اواز واوري او که نه۔ د خطبې د ختمیدو پورې به خپل ځای نه پریږدي۔

كتاب الوصية

کتاب الوصیة

(د وصیت احکام او مسئلې)

وارث ته وصیت باطل دی

سوال: یوه سړي د خپل ټول مال وصیت خپل لمسي ته وکړ او حال دا چه د هغه نور لمسي او نژندې هم شته نو آیا دا وصیت به شرعا درست او نافذ وي او که نه؟ تفصیلا ځواب مطلوب دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وارثانو حقوق د وراثت دقانون مطابق تاکل شوی دی او مورث که وارثانو ته وصیت وکړي په هغه کښې د هیڅ ډول کموالي او زیاتوالي حق نه لري۔ د کوم وارث لپاره چه وصیت وکړي نو د هغه تنفیذ به د نورو وارثانو تر اجازې پورې موقوفه وي او که نور وارثان اجازه ور نه کړي نو وصیت به کالعدم پاتې شي۔ بیا هم د اجازې په صورت کښې که په وصیت باندې عمل وکړي نو څه پروا نه لري۔

قال العلامة المرغینانیؒ: و لا تجوز لوارثه لقوله علیه الصلوٰة و السلام ان اللّٰه تعالی اعطی کل ذی حق حقه الا لا وصیة لوارث و لانه یتاذی البعض بایثار البعض ففی تجویزه قطعیة الرحم و لانه حیف با لحدیث الذی رویناه. (الهدایة ج٤، ص٦٢٥، کتاب الوصایا)

عن ابن عمرو بن خارجة خطب رسول اللّٰهﷺ فقال ان اللّٰه تعالی قد اعطی کل ذی حق حقه الا لا وصیة لوارث. (سنن النسائی ج۲، ص۱۳۱، کتاب الوصایا، باب ابطال الوصیة للوارث)

نابالغو اولادونو ته د ودونو د کولو وصیت

سوال: زید خپلو بالغو زامنو ته ودونه کړي دي نو آیا هغه خپلو نابالغو اولادونو ته د خپل جائداد شرعاً د یوې حصې وصیت کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: زامنو ته ودونه کول د پلار ذمه واري نه ده بلکه د احسان معامله ده۔ په ژوند کښې پلار ته پخپل جائداد او مال و دولت کښې مکمل اختیار حاصل وي لیکن له مرګ نه وروسته د اولاد لپاره د داسې اضافي اخراجاتو وصیت به کالعدم وي۔

کما قال علیه الصلوٰة و السلام: ان اللّٰه اعطی کل ذی حق حقه الا لا وصیة لوارث. (سنن النسائی ج۲، ص۱۳۱، کتاب الوصایا، باب ابطال الوصیة للوارث)

لما قال العلامة المرغینانی رحمه اللّٰه: و لا تجوز لوارثه لقوله علیه السلام ان اللّٰه اعطی کل ذی حق حقه الا لا وصیة لوارث. (الهدایة ج٤، ص٦٢٥، کتاب الوصایا)

وصیت په مملوکه جائداد کښې نافذ وي

سوال: زید د بکر لپاره پخپل جائداد کښې د پنځمې حصې وصیت وکړ او بیا ئې خپل زوی خالد ته ځینې جائداد په مختلفو ځایونو کښې ورکړ خو بیا هم د مرګ په وخت کښې ئې په ملکیت کښې څه زمکه پاتې وه۔ نو آیا په داسې حالت کښې ئې وصیت په ټول جائداد کښې نافذ وي چه په هغه کښې زوی ته هغه ورکړ شوی جائداد به هم شامل وي او که یوائې د مرګ په وخت کښې ئې په هغه مملوکه جائداد کښې وصیت نافذ وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وصیت په حقیقت کښې د مرګ په وخت کښې نافذیږي ځکه چه د مرګ په وخت کښې څومره جائداد پاتې وي په هغه کښې به وصیت معتبر وي چونکه له مرګ څخه مخکښې وصیت کوونکی پخپل ټول جائداد کښې د مالکانه تصرفاتو حق ورته حاصل وي نو ځکه هغه ته د وصیت څخه قولا یا عملا د رجوع حق هم حاصل دی لهذا زامنو ته چه کوم جائداد په ژوند کښې ورکړي وي هغه به د هغوی ملکیت وي البته د پاتې جائداد څخه به پنځمه حصه موصٰی له ته ورکول کیږي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدّین. (مقدمة السراجی ص۳)

و فی الهندیة: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما یبقی بعد الکفن و الدّین. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض)

و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٤٥٣، کتاب الفرائض.

د ټول مال له ثلث (دریمې برخې) څخه په زیاتو کښې وصیت معتبر نه دی

سوال: یوه ښځه پخپل ژوند کښې خپل ټول جائداد غیر منقوله د رائج الوقت ملکي قانون مطابق د انتقال په ذریعه د کلي د جوماټ لپاره په دې شرط وقف کړ چه زما تر مرګه پورې به دا جائداد زما وي او زما له مرګ نه وروسته به زما شیان آن تر ستنو پورې به د جوماټ لپاره وقف وي او د دې خبرې ګواهان هم موجود دي او حال دا چه په وارثانو کښې د ماما د زوی او لور نه پرته نور هیڅوک هم نشته او هغې مرحومې فرمایلې وه چه ما دغې نجلۍ ته کوم شیان په زړه کښې وو هغه مې ورکړي دي نور هغې ته څه نه ورکوم۔ نو اوس پوښتنه دا ده چه آیا د مرحومې له مرګ نه وروسته د دې خپلوانو ته څه ورکول کیږي او که نه او که د هغې ټول مالونه منقوله او غیر منقوله به د جوماټ لپاره وقف وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د مرحومې دا وقف د وصیت سره تعلق لري او وصیت د ټول مال له دریمې حصې څخه په زیاتو کښې معتبر نه دی یعنې د ټول جائداد منقوله او غیر منقوله یوائې په یو په دریمې حصې کښې وصیت نافذ دی او هغه به د جوماټ لپاره وقف وي او په دوه په دریمې حصې کښې ئې ارث جاري کیږي ځکه چه د وصیت په ذریعه هیڅوک هم خپل وارثان د میراث څخه نه شي محرومولی۔

قال العلامة محمد علاؤ الدین افندیؒ: الارث جبری لا یسقط با لاسقاط. (تکملة رد المحتار ج۱، ص۳۵۹، مطلب واقعة الفتوٰی، کتاب الدعوٰی)

قال العلامة السجاوندیؒ: و تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین. (مقدمة السراجی ص۳)

و فی الهندیة: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الکفن و الدّین......... ثم یقسم الباقی بین الورثة علی سهام المیراث. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض)

د مړي په وصیت سره په جومات باندې مصرف کول

سوال: زید له مرګ څخه دوه میاشتې مخکښې جومات ته د لسو زرو روپو د ورکولو وعده کړې وه چه له هغو څخه ئې دونیم سوه روپۍ په جومات کښې مصرف کړې هم وې لیکن پاتې روپۍ ئې تر مرګه پورې د څه وجوهاتو په بناء نه شو مصرف کولی نو آیا د مرحوم له ترکې څخه به دا روپۍ په جومات مصرف کیږي او که نه په داسې حال کښې چه د مرحوم په وصیت باندې ګواه هم موجود دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د مرحوم د وصیت په باره کښې د هغه اقربا اقرار کاوه او یا ګواه پرې موجود وو او هغه وصیت شوی شی د متروکه له دریمې حصې څخه اداکیدل ممکن وو نو اداکول ئې ضروري دي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: و تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین. (مقدمة السراجی ص۳)

قال العلامة ابن البزازؒ: و تبرعات المریض کا لهبة و الصدقة....... من الثلث. (البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٤٣٤، کتاب الوصایا)

د وصیت له وجې وارث د میراث له حق څخه نه محرومیږي

سوال: یوه ښځه چه وارثان نه لري وصیت ئې وکړ چه زما له مرګ نه وروسته زما زراعتي جائداد او کور په دواړو لیورونو باندې برابر تقسیمیږي ځکه چه هغوی دواړه زما په مریضي باندې کافي روپۍ لګولي دي او په راتلونکي کښې هم زما په تکفین او تجهیز باندې پیسې مصرفوي۔ ځکه زما نورو خپلوانو ته زما په جائداد کښې هیڅ حق حاصل نه دی۔ حال دا چه د هغې له وفات څخه وروسته د هغې د تره دوه زامن هم ژوندي دي نو آیا شرعا هغو دواړو ته د مرحومې له مال څخه څه حصه ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شریعت د اصولو مطابق چه په کفن او دفن کښې څومره روپۍ مصرفیږي هغه به له ترکې څخه اخیستل کیږي او د پاتې جائداد له دریمې حصې څخه به وصیت پوره کاوه شي ځکه چه له ثلث څخه په زیاتو کښې وصیت معتبر نه دی او پاتې مال به په وارثانو باندې تقسیمیږي لهذا په نوموړي صورت کښې د مرحومې دواړه لیورونو ته د ثلث مال د ورکولو نه وروسته پاتې مال به د هغې د تره د دواړو زامنو وي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: تتعلق بترکة المیت حقوق اربعة مرتبة الاوّل یبدأ بتکفینه و تجهیزه من غیر تبذیر و لا تقطیر........ ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدین ثم یقسم الباقی بین ورثته با لکتاب و السنة و الاجماع الامّة. (مقدمة السراجی ص۳)

قال العلامة المرغینانیؒ: قال و لا تجوز بما زاد علی الثلث لقول النبی ﷺ فی حدیث سعد ابن وقاص رضی الله عنه الثلث و الثلث کثیر. (الهدایة ص٦٥٣، کتاب الوصایا، باب صفة الوصیة)

وصیت یوائځې په ثلث د مال کښې نافذ دی

سوال: که چېرته یو سړی پخپل ژوند کښې د خپل مال وصیت وکړي نو د هغه وصیت به په څومره مال کښې نافذ وي او که د هغه ټول مال به د وصیت مطابق مصرفیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وصیت د مړي د ټول مال یوائځې په ثلث کښې جاري کیږي یعنې د مړي وصیت به د هغه د دریمې حصې مال څخه پوره کیږي او پاتې ترکه به په وارثانو ویشل کیږي۔

قال الشیخ سراج الدین محمد بن عبد الرشیدؒ: ثم تقضٰی دیونه من جمیع ما بقی من ماله ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما بقی بعد الدَّین الخ. (السراجی ص۳)

و فی الهندیة: ثم تنفذ وصایاه من ثلث ما یبقی بعد الکفن و الدَّین الا ان تجیز الورثة اکثر من الثلث الخ.

(الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاول فی تعریفها و فیما یتعلق با لترکة)

و مثله فی الهدایة ج٤، ص٦٥١، کتاب الوصایا، باب فی صفة الوصیة ما یجوز من ذٰلک الخ.

له وصیت څخه رجوع صحیح ده

سوال: که چېرته یو سړی د څلورمې پاره د خپل مال د مخصوصې حصې وصیت وکړي او وئې هم لیکي لیکن څو ورځې وروسته وصیت کوونکی د څه خفګان له وجې د خپل وصیت څخه رجوع وکړي نو آیا د دې سړي د وصیت څخه رجوع کول صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وصیت څخه رجوع کول صحیح دی لهذا په صورت مسئوله کښې وصیت کوونکی چه کله له خپلې وصیت نامې څخه رجوع وکړي نو له مرګ نه وروسته وصي ته هیڅ شی نه ورکول کیږي۔

قال العلامة المرغینانیؒ: و یجوز للموصی الرجوع عن الوصیة و اذا صرح با لرجوع او فعل ما یدل علی الرجوع کان رجُوعاً. (الهدایة ج٤، ص٦٤٤، کتاب الوصایا، باب صفة الوصیة ما یجوز من ذٰلک الخ)

و فی الهندیة: و یصح للموصی الرجوع عن الوصیّة ثم الرجوع قد یثبت صریحاً و قد یثبت دلالة الخ. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٩٢، کتاب الوصایا، الباب الاول فی تفسیرها و شرط جوازها و حکمها الخ)

و مثله فی فتاوٰی قاضی خان ج٤، ص٤٣٢، کتاب الوصایا، فصل فیما یکون رجوعا عن الوصیة الخ.

کافر ته د وصیت کولو حکم

سوال: یوه مسلمان ته پخپل مال کښې کافر ته وصیت کول جائز دی او که نه او که چېرته جائز وي نو په څومره مال کښې به نافذیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په اسلام کښې د وصیت دائره پراخه ده۔ له مسلمان څخه پرته کافر ته هم وصیت کول صحیح دی او یوائې به په دریمې حصې د مال کښې به جاري کیږي۔

قال العلامة الکاسانیؒ: اما کونه مسلماً فلیس بشرط حتی لو کان ذمیاً فاوصی لهٗ مسلم او ذمی جاز. (بدائع الصنائع ج۷، ص ۳۴۱، کتاب الوصایا)

قال العلامة المرغینانیؒ: و یجوز ان یوصی المسلم للکافر و الکافر للمسلم فا لاوّل لقوله تعالٰی لَا یَنْهٰکُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِیْنَ لَمْ یُقَاتِلُوْکُمْ فِی الدِّیْنِ. (الهدایة ج٤، ص ٦٤١، کتاب الوصایا)

د وصیت د اثبات لپاره د شهادت ضرورت

سوال: یوه سړي دا دعوه وکړه چه فلاني سړي زما لپاره د دومره مال وصیت کړی وو او حال دا چه د مرحوم وارثان له دې وصیت څخه منکر دي لیکن د مدعي سره ګواه موجود دی نو آیا شرعاً د وارثانو انکار د مرحوم وصیت ختمولی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: لکه څرنګه چه د نورو معاملاتو او عقدونو د ثبوت لپاره د شاهدانو ګواهي د ثبوت موجب دی۔ بالکل په همدې ډول وصیت هم د شاهدانو په شهادت سره ثابتیږي او په دې سره د وارثانو د انکار شرعاً څه حیثیت نه پاتې کیږي۔

لما قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلی: و تثبت الوصیّة بطرق الاثبات الشرعیة کا لشهادة و الکتابة. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۸، ص۱۲٦، المبحث السابع اثبات الوصیّة)

موصٰی له د موصي څخه مخکښې په وفات کیدو سره د وصیت حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما والد صاحب پخپل ژوند کښې د خپل یوه ملګري لپاره د یوې ټکړې زمکې وصیت نامه لیکلې وه چه زما د مرګ نه وروسته دا زمکه ستا ده۔ لیکن زما د والد صاحب دا ملګری زما د والد صاحب نه مخکښې مړ شو او اوس زما د والد صاحب د انتقال نه وروسته د هغه د ملګري زامن د دې ټکړې زمکې مطالبه کوي نو آیا شرعاً د دوی دغه دعوٰی صحیح ده او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د وصیت د تکمیل لپاره ضروري ده چه موصٰی له د وصیت کوونکي تر مرګه پورې ژوندی وي نو بیا به د وصیت اهل وي او که نه نو په بل صورت کښې که چېرته موصٰی له د وصیت کوونکي په ژوند کښې وفات شي نو وصیت باطلیږي نو ځکه په صورت مسئوله کښې د وصیت مال د وصیت کوونکي حق دی د موصٰی له د اولاد د استحقاق دعوٰی صحیح نه ده۔

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: و تبطل بموت الموصی له قبل موت الموصی لان العقد وقع له لا لغیره فلا یمکن ابقاء علی غیره. (بدائع الصنائع ج۷، ص ۳۹٤، کتاب الوصایا، فصل تبطل الوصیة)

قال العلامة وهبة الزحیلی: موت الموصی له المعین قبل موت الموصی تبطل به الوصیة باتفاق المذاهب الاربعة لان الوصیة عطیة و قد صادقت المعطی میتاً فلا تصح کا لهبة للمیّت. (الفقه الاسلامی و ادلّته ج۸، ص۱۱٦، المبحث الرابع مبطلات الوصیّة)

و مثله فی البحر الرائق ج۸، ص٤٥۳، کتاب الوصایا.

د وصي معزولول جائز دی

سوال: که چېرته یو سړی خپل وصي وټاکي او بیا ئې څو ورځې وروسته معزول کړي او کوم بل څوک وصي مقرر کړي نو آیا شرعاً هغه ته دا اختیار حاصل دی چه یو ځل څوک وصي مقرر کړي او بیا ئې معزول کړي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: موصي ته شرعاً دا اختیار حاصل دی چه د کوم وصي له ټاکلو نه وروسته هغه معزول کړي لیکن په دې کښې د دې خبرې خیال ساتل پکار دي چه وصي ته د هغه د معزولوالي اطلاع ورکړي۔

قال العلامة الکاسانیؒ: فا لوصیة تبطل با لنص علی الابطال..... اما النص فنحو ان یقول ابطلتُ الوصیة التی اوصیتها لفلان او فسختها او نقضتها الخ. (بدائع الصنائع ج۷، ص۳۹٤، کتاب الوصایا، فصل بیان ما تبطل به الوصیة)

قال العلامة وهبة الزحیلی: و الرجوع اما ان یکون صریحاً او دلالة فا لرجوع الصریح ما کان بلفظ هو نص فی الرجوع مثل قول الموصی رجعت عن وصیتی لفلانٍ او ترکتها او ابطلتها او نقضتها او ما اوصیت به لفلان هو لورثتی و نحوه. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۸، ص١١٤، المبحث الرابع، مبطلات الوصیة)

په وصیت باندې د ملکیت لپاره قبول والی ضروري دی

سوال: که چېرته یو سړي د خپل مرګ نه وروسته د چا لپاره د یو مخصوص مال وصیت وکړي نو آیا د هغه سړي یوائې په وصیت سره موصٰی له د هغه مخصوص مال مالك جوړیږي او که د هغه قبلول د هغه لپاره ضروري دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: وصیت یو عقد دی او د حنفیه وو اصول دی چه د هر عقد د تکمیل لپاره د هغه عقد قبلول ضروري دی نو ځکه په نوموړي صورت کښې د موصٰی له وصیت قبلول لازمي امر دی۔ پرته له قبلولو څخه د هغه شي مالك نه شي جوړیدلی لیکن په قبلولو کښې ئې د واضحو الفاظو ویل ضروري نه دي نفس په قبضه کښې ئې اخیستل هم کافي ده۔

قال العلامة وهبة الزحیلی: حکم الوصیة بمعنی الاثر المترتب علی الشیء هو انتقال ملکیة الموصی به الی الموصی له مِلکاً جدیداً بقبول الموصی لهٗ بعد وفاة الموصی و به تلزم الوصیة با لاتفاق. (الفقه الاسلامی و ادلتهٗ ج۸ ص۲۲، کتاب الوصایا، وقت ثبوت مِلکیة الموصی به)

قال العلامة الکاسانیؒ: و مِلك بدون القبول او بدون عدم الرد وقوع الیأس عنه و لم یوجد القبول منه و لا وقع الیأس عن الرد ما دام حیا فلا یعتق. (بدائع الصنائع ج۷، ص ۳۳۲، کتاب الوصایا، فصل رکن الوصیّة)

و مثله فی الهندیة ج۶، ص ۹۰، کتاب الوصایا، الباب الاول.

د مبهم وصیت حکم

سوال: که چېرته یو سړي په دې الفاظو سره وصیت وکړي چه زما له مال څخه څه حصه فلاني سړي ته ورکړه لیکن هغه د دې مال تعین نه وو کړی نو آیا د وصیت کوونکي له مرګ نه وروسته موصٰی له ته به هغه مال ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: شرعا خو دا وصیت صحیح ده البته د ابهام په وجه سره د وصیت کوونکی د انتقال نه وروسته د هغه تعین د وارثانو په صوابدید باندې موقوفه وي۔ چه هغوی موصٰی له ته څومره وغواړي ورکولی ئې شي او بیا هم که چېرته وصیت کوونکی پخپل ژوند کښې دا مال متعین کړي وي نو پس له مرګه به هم هغه مال ورکول کیږي خو په دې شرط سره چه هغه مال د مړي د تولې ترکې د ثلث څخه زیات نه وي۔

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: منها ما اذا اُوصی لرجل بجزء ماله او بنصیب من ماله او بطائفة من ماله او ببعض او بشقص من ماله فان بین فی حیاته شیئاً و الا اعطاه الورثة بعد موته ما شاء و ا لان هٰذه الفاظ تحتمل القلیل و الکثیر فیصح البیان فیه ما دام حیا و من ورثته اذا مات لانهم قائمون مقامه. (بدائع الصنائع ج۷، ص۳۵۶، کتاب الوصایا، فصل شرائط الوصیة)

د لیوني یا مجنون او نابالغ د وصیت حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! که چېرته مجنون یا نابالغ هلك چا ته وصیت وکړي نو آیا د دوی له مرګ څخه وروسته موصٰی به د دې مال مالك ګڼل کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: نابالغ او مجنون چونکه د تصرفاتو حق نه لري نو ځکه د دوی وصیت لره هیڅ اعتبار نشته لهذا د لیوني او نابالغ په وصیت سره به موصٰی له د هغه مال مالك نه ګڼل کیږي۔

قال العلامة الکاسانی رحمه اللّٰه: و منها ان یکون من اهل التبرع فی الوصیّة با لمال و ما یتعلق به لان الوصیّة بذٰلك تبرع بایجابه بعد موته فلا بد من اهلیة التبرع فلا تصح من الصّبیّ و المجنون لانهما لیسا من اهل التبرع لکونه من التصرفات. (البدائع الصنائع ج۷، ص ۳۳٤، کتاب الوصایا، فصل فی الشرائط)

و فی الهندیة: و لا تصح الوصیة الا ممن یصح تبرعه فلا تصح من المجنون و المکاتب و الماذون الخ. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۹۲، کتاب الوصایا، الباب الاول)

لمسي ته د وصیت کولو حکم

سوال: که چېرته نیکه د خپل لمسي لپاره د خپلو زامنو سره د برابرې حصې وصیت وکړي نو آیا د هغه د وصیت په وجه سره د هغه لمسي ته هم د هغه د زامنو [illegible] برابرې حصې ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زامنو په موجود والي کښې اګر که د لمسي لپاره وصیت کول صحیح دی لیکن دا وصیت د مړي په دریمې حصې مال کښې جاري کیږي۔ د دریمې حصې څخه به زیاته لمسي ته نه ورکول کیږي او بیا هم که چېرته ثلث د مال نې دومره وه چه د زامنو د حصو سره برابریده نو د وصیت مطابق به برابرې حصې ورکول کیږي۔ مثلا د مرحوم دوه زامن او یو لمسی وو نو مال به درې حصې کړي او هر یوه ته به یوه یوه حصه ورسیږي۔

کما فی الهندیة: یعتبر کونه وارثا او غیر وارث وقت الموت لا وقت الوصیّة حتٰی لو اوصی لاخیه و هو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصیة للاخ و لو اوصی لاخیه و له ابن ثم مات الابن قبل موت الموصی بطلت الوصیّة للاخ. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص ۹۰، کتاب الوصایا، الباب الاول)

له وصیت څخه رجوع صحیح ده

سوال: که چیرته یو سړي د خپل یوه ملګري لپاره د څه مال وصیت وکړي لیکن له مرګ نه مخکښې ئې منسوخ کړي نو آیا د ده له خپل وصیت څخه رجوع کول صحیح دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: وصیت چونکه یو استحبابي امر دی نو ځکه که چېرته موصي له خپل وصیت څخه وروسته ترې رجوع وکړي او خپل مخکښینی وصیت باطل کړي نو دا د هغه شرعي حق دی او په دې رجوع سره ئې وصیت باطلیږي که قولاً وي یا فعلاً او یا تحریراً وي۔

قال العلامة الکاسانیؒ: الموصی حتٰی یملك الرجوع عندنا ما دام حیا لان الموجود قبل موته مجرد ایجاب و انه یحتمل الرجوع فی مقدار المعاوضة فهی با لتبرع اولٰی. (بدائع الصنائع ج۷، ص۳۷۸، کتاب الوصایا، فصل صفة هٰذا العقد)

قال العلامة وهبة الزحیلی: تبطل الوصیة باسباب اما من الموصی کرجوعه عن الوصیّة او زوال اهلیته او ردته. (الفقه الاسلامی و ادلته ج۸، ص۱۱۲، المبحث الرابع، مبطلات الوصیة)

و مثله فی الهندیة ج۶، ص۹۳، کتاب الوصایا، الباب الاول.

په موصٰی بهٖ باندې یوازې قبضه هم کافي ده

سوال: جناب مفتي صاحب! د وصیت د قبلولو لپاره د "قبلوم" الفاظ ویل ضروري دي او که یوازې د موصٰی بهٖ (د وصیت شوي شي) په قبضه کولو سره د موصٰی له قبولیت پوره کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د "قبلوم" د الفاظو په ویلو سره لکه څرنګه چه قبلول پوره کیږي او

همد ارنګه دلالتاً او فعلاً چه کوم ډول قبلول وي له هغه څخه هم معلومیږي چه قبلول پرې پوره کیږي نو هغه کافي ده د الفاظو ویل ضروري نه دي۔

قال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله: و فى البدائع ركنها الايجاب و القبول و قال زفر الايجاب فقط قلتُ و المراد با لايجاب ما يعم الصريح و الدلالة بان يموت الموصى له بعد موت الموصى بلا قبول. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج٦، ص ٦٥٠، كتاب الوصايا)

و فى الهندية و يشترط فى الوصيّة القبول صريحا او دلالة و ذلك بان يموت الموصى له قبل الرد و القبول فيكون موته قبولاً فترثها ورثته. (الفتاوى الهندية ج٦، ص ٩٠، كتاب الوصايا، الباب الاول فى تفسيرها)

د وصي د موصیٰ تر انتقال وروسته د وصیت ردولو حکم

سوال: یو چا یوه سړي له خپل وصي جوړ کړ او هغه قبول هم کړ او په دې خبرې باندې د وصیت کوونکي تر وفاته پورې قائم هم وو۔ اوس هغه د موصي له وفات نه وروسته له دې ذمه واري څخه ځان فارغوي نو آیا هغه له دې ذمه واري څخه فارغیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه یو سړی څوك وصي مقرر کړي او هغه وصیت قبول کړي او د وصیت کوونکي تر مرګه پورې په دې منصب باندې قائم هم وي نو د وصیت کوونکي له مرګ نه وروسته د وصي توب ذمه واري پوره کول به په هغه باندې لازم وي او هغه د دې ذمه واري څخه خلاصیدلی نه شي۔

قال العلامة محمد الطورى رحمه الله: و اذا اوصى اليه فقبل قبل موته او بعده ثم رد لم يخرج لان الموصى ما اوصى الا الى من يعتمد عليه من الاصدقاء و الامناء الخ. (البحر الرائق ج٨، ص٤٥٧، كتاب الوصايا)

د زوی په موجود والي کښې ورور ته وصیت کول

سوال: یو ورور غریب دی او بل ورور امیر او مالدار دی او د دواړو ورونو زامن هم شته اوس که چېرته مالدار ورور خپل غریب ورور لپاره له خپل مال څخه د څه مخصوصې روپۍ وصیت وکړي نو آیا د خپل اولاد په موجودوالي کښې د ورور په حق کښې ئې وصیت صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ورور اګر که وارث ده لیکن د اولاد په موجودوالي کښې د اجنبي په منزله کښې دی او حال دا چه په شریعت کښې د اجنبي لپاره په دریمې حصې د مال کښې وصیت صحیح ده البته که چېرته دغه مخصوص مال د تول مال د ثلث څخه متجاوز وي نو هغه به د وارثانو اختیار کښې وي نو د زامنو په موجود والي کښې د غریب ورور لپاره وصیت صحیح ده۔

و فى الهندية: يعتبر كونه وارثا او غير وارث وقت الموت لا وقت الوصيّة حتى لو اوصى لاخيه و هو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصيّة للاخ و لو اوصى لاخيه و له ابن ثم مات الابن قبل موت الموصى بطلت الوصيّة. (الفتاوى الهندية ج٦، ص ٩٠، كتاب الوصايا، الباب الاول)

د شیخ احمد خواته د منسوبې وصیت نامې شرعي حیثیت

سوال: څه فرمایي علماء دین او مفتیان شرع متین د دې مسئلې په باره کښې چه له ډیره وخته راهیسې په پاکستان، هندوستان او افغانستان کښې بار بار یوه وصیت نامه شائع کیږي چه نسبت ئې شیخ احمد خادم روضۀ رسول مقبول ﷺ ته شوی دی۔ دغه وصیت نامه د اشتهار په صورت کښې په مختلفو عنوانونو سره بار بار په مختلفو مضامینو کښې شائع کیده او ساده مسلمانانو ته ئې ترهیب او ترغیب ورکاوه او د هغې د اشاعت تلقین پکښې شوی دی۔ آیا د حضور نبي کریم ﷺ خوا ته د هغې نسبت صحیح دی او آیا دا په غیر یقیني توګه سره حضور ﷺ خوا ته ئې منسوب کول جائز دی او که نه او د دې اشتهار شرعي حیثیت څه دی او په اشاعت باندې ئې شرعا رنا واچوی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: مذکوره وصیت نامه د اعلان او اشتهار په صورت کښې د نیمې پیړۍ څخه په مختلفو ښارونو کښې بار بار چاپ کیږي او د دې د مندرجاتو د غیر شرعي والي په وجه سره علماء کرامو بار بار د هغه تردید کړی دی او دا ئې واضح کړې ده چه د دې ډول وصیت نامې هیڅ شرعي حیثیت نشته ځکه چه د دې مندرجات با لکل بیهوده، غلط او د اسلام د بنیادي تعلیماتو خلاف دی۔ چنانچه له نن څخه ډیر وخت مخکښې حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانويؒ د دې غلط تو هم په سختۍ سره رد کړی دی۔ لکه څرنګه چه د دې په باره کښې د هغه مفصله فتویٰ په امداد الفتاویٰ کښې په ج٦، ص ٥٠٧/٥٠٦ کښې موجود دی۔ لیکن دا د مسلمانانو د ناپوهي او جهالت نتیجه ده چه د نبي کریم ﷺ د یقیني او ثابت شوي ارشاداتو او تعلیماتو کوم چه د قرآن او سنت په شکل کښې مدون او منضبط موجود دی د هغه د اشاعت او ترویج خوا ته توجه نه کوي لیکن بلې خوا ته د علماء کرامو د وعظونو او اعلانونو باوجود د یو بې بنیاده شي په ترویج او اشاعت کښې له یوه او بل نه وړاندې والی کوي او د حضور ﷺ د وعیدونو مصداق جوړیږي۔ د نبي ﷺ ارشاد دی۔

من كذب علىّ متعمّداً فليتبوّء مقعده من النار. (الحديث)

”چا چه په ما باندې ناحقه دروغ وتړلو نو هغه دې په جهنم کښې د خپل ځان لپاره ځای جوړ کړي۔

دا حدیث او له دې پرته بې شمیره نور نصوص او احادیث دي چه له هغو څخه دا واضح کیږي چه رسول کریم ﷺ او د مذهب په نامه په وچه او لمده کښې بې له کوم سوچ او فکر نه په پټو سترګو عمل کول نه دي په کار۔

د نبي کریم ﷺ د تعلیماتو او ارشاداتو له دروغو او د جعلسازۍ له دسیسو او د دوکه بازانو اله دوکې څخه د ساتلو لپاره د مسلمانانو اسلاف د حدیثو د فن، اصول او د اسماء

او د محدثينو يو روايت الرجال د فنونو په نامه سره عظيم الشان علوم او فنون مدون کړي دي او صحيح او ضعيف ني د شريعت، عقل و فهم، درايت او د ادراك په تلې باندې تللى دى او د معمولي قرائنو په وجه سره چه کوم روايات په دې حديث ئې له يوه او بل څخه جلا کړي دي او هغه حديثونه به ئې موضوعي ګرځول. يوې خوا ته باندې دال دي چه دا د شريعت خلاف دى او بلې خوا ته زمونږ ساده دومره په احتياط سره او د دومره تقوىٰ او بصيرت دا حالت دى. مسلمانان د خپلې کم علمۍ او کم فهمۍ په وجه سره يو موضوع او بې اصله وصيت نامې په اشاعت او خپرونې باندې شپه او ورځ مصروف او مشغول دي. حالانکه چه د معمولي توجه او عقل او پوهې څخه کار واخيستل شي نو دا به ثابته شي چه د اصل خلاف، بې سنده او بې دليله ده. او دا ظاهره خبره ده چه د کومې خبرې نه سند وي نه دليل وي محضې په يو فرضي نوم سره ئې منسوبول. نو د داسې مضامينو به څه حيثيت وي کوم چه د قرآن و حديث او د شرعې له مخې د قرآن او سنت د تعليماتو خلاف دي مثلاً د دې مختلف النوع وصيت نامو څخه ځينې مندرجې او منتخبې جبرې دلته بيانيږي.

﴿۱﴾ د دې وصيت نامې نسبت ------ شيخ احمد خادم روضهٔ نبوي ﷺ خوا ته کيږي او هميشه په دې نوم او لقب سره خپريږي. حالانکه تر ننه پورې د شيخ احمد په نامه سره د رسول الله ﷺ د روضې خادم نه دى تير شوى.

﴿الف﴾ او بيا تعجبه دا ده چه د يوه سړي دې دومره ډير عمر وي.

﴿ب﴾ بيا دا هم سوچ وکړى چه له يو سړي نه بغير د روضهٔ نبوي ﷺ بل خادم او يا د عالم اسلام نور اکابر اولياء او د دين بزرګان او مشران او مقربينو بندګانو ته په خوب کښې د اسې وعيدونه او تهديدونه او وصيت ولې نه دى شوى.

﴿ج﴾ او که چېرته دا قصه صحيح هم وي نو خپرول ئې په مدينه منوره او مکه معظمه کښې ډير په کار وو او حالانکه د ډيرو مسلمانانو د تګ او راتګ د خطونو او رسائلو سره سره هلته د دې وصيت نامې نوم او نښان هم نشته او که چېرته دا قصه تسليم هم کړو نو بيا د فکر خبره دا ده چه آخر هغه کوم خلك وو چه هغوى ته خوب ويونکي دا قصه کړې وي. او بيا کومو راويانو په کومو وسائطو سره دا قصه هندوستان ته ورسوله. او دلته کومو ثقه او معتمدو اشخاصو دا واقعه واوريدله. او بيا چا دغه شى په اردو او پښتو ژبې سره ترجمه کړ او خپور ئې کړ. ظاهره خبره ده چه دا يو داسې روايت دى چه نه ئې راوي معلوم دى، نه سند او نه ئې په منځ کښې سند او نه وسائط او نه د هغه څه تاريخي حيثيت شته محض يو وهم دى او د نبي کريم ﷺ په نامه سره د جعلي يا د موضوع هدايت د خپرولو روايت نصا او اجماعا حرام دى بلکه د ځينو محدثينو په نزد کفر دى.

﴿۲﴾ په دې کښې ليکلي دي چه د يوې جمعې نه تر بلې جمعې پورې شپيته زره کسان مري چه

يو هم له ايمان سره نه مري بلکه ټول له دنيا څخه بې ايمانه تيريږي. او په ځينو وصيت نامو کښې ليکلي دي چه لس لکه کلمه ويونکي مړه شوي دي او په هغوى کښې يواځې اولس کسان له دنيا نه مسلمانان تير شوي دي. دا مضمون هم د اسلام او د نبي کريم ﷺ د ارشاد اتو خلاف دى. ارشاد باري تعالى دى:

وَسِعَتْ رَحمَتِي عَلَى غَضَبِي (چه زما رحمت زما په غضب باندې غالب دى) او زمونږ مشاهده ده چه په دغې تيرې شوې زمانې کښې چه هم زيات مسلمانان توبه کوي، کلمه وايي او مړ کيږي نو دا د ښې خاتمې علامه ده.

﴿۳﴾ همدارنګه په دې کښې دا هم ليکلي دي چه "د تارك الصلوٰة د جنازې لمونځ مه کوى" دا حکم په صفا توګه سره د حديثو خلاف دى. د نبي ﷺ ارشاد دى چه "صلوا على كل بر و فاجر" يعنې هر نيك او ګنهګار سړي باندې د جنازې لمونځ وکړى.

﴿۴﴾ په دې کښې د قيامت د علامو او د قيامت د نژدې والي په باره کښې داسې شيان ليکلي دي چه هغه د حديثو په رواياتو کښې بالکل نشته مثلاً:

﴿الف﴾ يو ستورى به په آسمان کښې را خيږي.

﴿ب﴾ د قرآن کريم الفاظ الوزي.

﴿۵﴾ په دې کښې د ځينو داسې شيانو ترغيب او تعليم شته چه د هغه حرام والى او بدعت د شريعت په دلائلو سره ثابت شوى دى. مثلاً:

﴿الف﴾ د شربت تخصيص د کربلا د شهيدانو لپاره.

﴿ب﴾ او کير د خاتون جنت په خاطر.

﴿ج﴾ او پلو (وريژې) د حضرت غوث الاعظم په خاطر.

﴿۶﴾ او همداسې د مروجه مولود شريف او قوالى. کوم چه د شرعې او عقل خلاف دى. لکه څرنګه چه حضرت تهانوي رحمه الله د دې وصيت نامې په باره کښې په امداد الفتاوىٰ ج۴، ص۵۰۷ کښې د دغو شيانو ذکر کړى دى.

﴿۷﴾ په دې کښې ځينې داسې شيان ذکر دي چه له هغه څخه العياذ بالله د حضور ﷺ توهين معلوميږي او د حضور ﷺ د شفاعت کبرىٰ او د دې سره سره چه حضور ﷺ رحمة للعٰلمين دى او د محبوبيت او مقبوليت خداوندي سره په تکر کښې لويږي مثلاً:

چا چه دا وصيت نامه خپره کړه د هغه د ټول خاندان شفاعت به کيږي او هغه ته به جنت کښې ځاى ورکول کيږي او څوك ئې چه خپره نه کړي نو هغه به د خداى له رحمت څخه محرومه وي ګواکه د فرضي خوب په وجه سره د مسلمانانو د نجات او شفاعت لپاره يو داسې شرط لازمي کړى دى چه هغه نه په قرآن کښې شته او نه په حديث کښې. که چېرته واقعي د ايمان د مقبوليت او د انسان د مغفرت او شفاعت لپاره د دې وصيت نامې خپرول ضروري وبلل

فلانه عقد و العقد ينعقد با لايجاب و القبول و القبض لا بد منه لثبوت الملك آه. (الهداية ج۳، ص ۲۸۱، کتاب الهبة)

لما قال العلامة المرغيناني: و ان وهب هبة لذی رحم محرم لم يرجع فيها لقوله عليه السلام اذا كانت الهبة لذی رحم محرم لم يرجع فيها لان المقصود صلة الرحم و قد حصل. (الهداية ج۳، ص۲۸۷، کتاب الهبة، باب ما يصح رجوعه)

﴿۲﴾ **وصيت:** د پاتې تحريرونو تعلق له وصيت سره دی او د وصيت د جاري کيدو لپاره شرعا څو شرطونه موجود دي۔

﴿۱﴾ وصيت يوائې د مال په دريمه حصه کښې جاري کيږي۔

﴿۲﴾ دا چه موصٰی له يعني د کوم سړي لپاره چه وصيت شوی وي هغه د دهٔ د مال وارث نه وي ځکه چه د وارث لپاره وصيت جائز نه دی۔

لهذا په دې بناء باندې پاتې درې تحريرونه د خپلو وارثانو يعنې د خپل اولاد لپاره د وصيت په قطار کښې راځي نو ځکه نافذ العمل نه دي بلکه په دې کښې د ټولو وارثانو د وراثت حق شته۔ د دغې زمکې په اقرارنامو باندې عمل کول جائز نه دي۔ بيا هم د وصيت مطابق مسمٰی مظفر داد د خپلوناسکه ورونو او خويندو په حصو کښې شرعي کفيل دی د اقرارنامې کفالت د تاکلي مال دی کوم چه بې کاره او صحيح نه دی۔

لما في الهداية: و لا تجوز بما زاد على الثلث لقوله عليه السلام و حديث سعد بن ابی وقاص الثلث و الثلث كثير آه. ايضاً و لا تجوز لوارثه لقوله عليه السلام ان الله تعالٰى اعطى كل ذی حق حقه لا وصية للوارث الخ. (الهداية ج٤، ص ٦٥١/٦٥٢ كتاب الوصايا)

و الله اعلم و علمه اتم

كتاب الفرائض

قال النبي صلى الله عليه وسلم

تعلموا الفرائض وعلموها الناس

کتاب الفرائض

(د میراث احکام او مسئلې)

قاتل به د مقتول د میراث نه محروم وي

سوال: یوه سړي خپل ورور په غلط فهمۍ باندې مړ کړ او د مرحوم په عصبه وو کښې د دې قاتل ورور نه پرته بل څوک نشته نو آیا قاتل ته د مقتول ورور په میراث کښې څه ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قصداً، عمداً او خطاءً په هر حالت کښې قتل د میراث د حرمان سبب دی نو ځکه په نوموړي صورت کښې د مقتول جائداد به د ده نورو وارثانو ته ورکول کیږي۔ د قاتل ورور د وجود اعتبار نشته یعنې د هغه شته والي ته اعتبار نشته بلکه د مانع په وجه سره به کالعدم وي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: المانع من الارث اربعة....... و القتل الذی یتعلق به وجوب القصاص او الکفارة. (السراجی ص ۵، فصل فی الموانع)

و فی الهندیة: القاتل بغیر حق لا یرث من المقتول شیئاً عندنا سواءً قتله عمداً او خطاءً و کذٰلك کل قاتل هو فی معنی الخاطیء....... و قتل الصّبیّ و المجنون و المعتوه و المبرسم و الموسوس یوجب حرمان المیراث لان الحرمان یتثبت جزاء قتل فحظور الخ. (الفتاوی الهندیة ج ۶، ص ۴۵۴، الباب الخامس فی الموانع)

د نیکه په موجود والي کښې د تره له میراث څخه د محرومیدو حکم

سوال: که چېرته د یوه سړي له مړینې نه وروسته د هغه په وارثانو کښې د نیکه او تره نه پرته بل څوک وارث پاتې نه وي نو د هغه میراث به شرعا څرنګه تقسیمیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د صدق او ثبوت په شرط سره که چېرته د وارثانو تعداد درست او صحیح وي نو له میراث څخه د مخکښیني حقوقو د اداکولو نه وروسته ټول جائداد به نیکه د عصوبت په توګه ورکول کیږي او تره چونکه لرې عصبه ده له دې وجهې څخه د نیکه په موجودوالي کښې تره له میراث څخه محروم پاتې کیږي۔

میت

نیکه	تره
د ټولې ترکې حقدار	محجوب

قال العلامة السجاوندیؒ: اما الاب فلهٗ احوالٌ ثلث و التعصیب المحض و ذٰلك عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل....... و الجد الصحیح کالاب عند عدم الاب. (السراجی ص ۷، باب معرفة الفروض)

و فی الهندیة: فا لاقرب العصبات.........ثم الاب ثم الجد اب الاب و هم ای العصبة کل من لیس له سهم مقدر.........و اذا انفرد اخذ جمیع المال. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص ٤٥١، الباب الثالث فی العصبات)

د دین اختلاف د ارث مانع دی

سوال: که چېرته یو مسلمان له عیسایي ښځې سره نکاح وکړي نو د مړینې په صورت کښې ښځه او میړه د یوه اوبل وارث جوړیدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: له عیسایي ښځې سره اګر که نکاح جائز دی لیکن دا میړه او ښځه په عقائدو کښې د اختلاف په وجه د یوه او بل له میراث څخه محروم پاتې کیږي ځکه چه د دین اختلاف د ارث مانع دی۔

قال العلامة السجاوندیؒ: المانع من الارث اربعة.........و اختلاف الدینین ای اسلاماً و کفراً. (السراجی ص ٥، فصل فی الموانع)

و فی الهندیة: و اختلاف الدین ایضاً یمنع الارث و المراد به الاختلاف بین الاسلام و الکفر. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص ٤٥٤، باب الموانع)

د خاوند او خور تر منځ د جائداد د ویش حکم

سوال: د یوې ښځې له مړینې وروسته د هغې میړه او یوه خور پاتې ده په د اسې حال کښې چه نور عصبات نشته۔ مهرباني وکړی د شریعت له مخې د دواړو حصې متعینې کړی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته د مرحومې په وارثانو کښې له میړه او یوې اعیاني خور څخه پرته نور څوك نه وي نو د ټول جائداد نیمایي به خاوند او نیمایي به ئې خور ته ورکول کیږي۔

میـــــــــــت

زوج (خاوند)	خور
(١)	(١)

قال العلامة السجاوندی رحمه الله: و اما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجی ص٧، باب معرفة الفروض و مستحقیها)

و قال ایضاً: و اما للاخوات لاب و ام فاحوال خمس النصف للواحدة. (السراجی ص ١٠، فصل فی النساء)

قال الله تبارك و تعالی: ﴿١﴾ وَ لَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ. (سورة النسآء، آیت ١٢)

﴿٢﴾ اِنِ امْرُءٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَ لَهٗ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ. (سورة النساء ص١٧٦)

د زوی په موجود والي کښې د لمسي له میراث څخه محرومو الی

سوال: د یوه سړي له وفات څخه وروسته د هغه یو زوی ژوندی دی لیکن بل زوی ئې د هغه په ژوند کښې مړ شوی دی او یو زوی ترې پاتې شوی دی کوم چه د مړي لمسی کیږي نو آیا د نیکه

په میراث کښې د مرحوم د یوه زوی په موجودوالي کښې د مړ زوی د اولاد حق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه زوی نژدې عصبه ده او لمسی له هغه څخه لرې عصبه ده نو د نژدې وارث په موجودګي کښې لرې وارثان د وراثت له حق څخه محروم پاتې کیږي له دې وجهې ټول جائداد د زوی حق دی او لمسي ته هیڅ شی نه ترې ورکول کیږي بیا هم که چیرته زوی په خوښې سره هغه ته څه ورکړي نو پروا نه لري۔

قال العلامة السجاوندیؒ: اولٰهم با لمیراث جزء المیت ای البنون ثم بنوهم. (السراجی ص ١٤، باب العصبات)

قال العلامة السرخسیؒ: و اولاد الابن یقومون مقام اولاد الصلب عند عدم اولاد الصلب فی جمیع ما ذکرنا لقوله تعالی: يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْ اَوْلَادِكُمْ. و اسم الاولاد یتناول اولاد الابن مجازاً.........فان اجتمع اولاد الصلب و اولاد الابن فان کان فی اولاد الصلب ذکر فلا شیء لاولاد الابن ذکوراً او اناثاً او مختلطین لان المذکر اولاد الصلب مستحق لجمیع المال باعتبار حقیقة الاسم. (المبسوط السرخسی ج٢٩، ص١٤١، کتاب الفرائض)

د حقیقي ورور په موجود والـــــي کښې علاتي ورور د میراث څخـــــه محـــــروم وي

سوال: د یوه سړي د مړینې نه وروسته د هغه په وارثانو کښې دوه حقیقي ورونه، یوه خور او یو علاتي ورور پاتې شوی دی نو د شریعت مطهره په رڼا کښې د مرحوم جائداد د هغه په وارثانو څنګه تقسیمیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سوال د صحت په شرط که چېرته د مرحوم په وارثانو کښې دوه حقیقي ورونه، یوه خور او علاتي ورور او له دوی څخه پرته نور عصبه او ذوی الفروض نه وي نو له میراث څخه د مخکښیني حقوقو د اداکولو څخه وروسته به ټول جائداد په پنځه حصې ویشل کیږي هر یوه سکه ورور ته دوه دوه حصې او سکه خور ته به یوه حصه ورکول کیږي۔ د اعیاني ورونو په موجودوالي کښې علاتي ورور د میراث له حق څخه محرومیږي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: و اما للاخوات لابٍ و ام........ و مع الاخ لابٍ و اُمٍ للذکر مثل حظ الأُنثَيَيْنِ یصرن به عصبة لاستوائهم فی القرابة الی المیّت. (السراجی ص ١٠، فصل فی النساء)

و ایضاً: لقوله علیه السلام ان اعیان بنی الاُم یتوارثون دون بنی العلاّت کا لاخ لاب و ام فانّه مقدم علی الاخ لاب اجماعاً. (السراجی ص ١٤، باب العصبات)

و فی الهندیة: اختان لابوین و اخت لاب فا لمال للاختین فرضا وردا و لا شیء للاخت لاب فان کان منهما اخوها عصبها فلهما الباقی و هو الثلث لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٥٢، الباب الرابع فی الحجب)

$\frac{32}{32}$

د زوی او لور تر منځ د میراث ویش او د لمسي محرومیدل

سوال: يوې ښځې له مړينې وروسته يو زوی، يوه لور او يو لمسی پرېښي دي د شريعت مقدسه په رڼا کښې په دغو وارثانو باندې به ئې ميراث څنګه ويشل کيږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سائل د بيان مطابق په نوموړي صورت کښې له ميراث څخه د مخکښيني حقوقو تر ادا کولو وروسته به ټول مال درې حصې کړې دوه حصې زوی ته، يوه حصه دې لور ته ورکړې او لمسی چونکه د ذوی الارحامو څخه دی لهذا د عصباتو په موجودوالي کښې له ميراث څخه محروم پاتې کيږي۔

ميت

زوی	لور	لمسی
۲	۱	محروم

قال العلامة السجاوندیؒ: اما البنات الصلب فاحوال ثلث......... و مع الابن للذكر مثل حظ الانثيين و هو بعصبهن. (السراجی ص۸، فصل فی النساء)

قال الله تبارك و تعالى: يُوصِيكُمُ اللّٰهُ فِيٓ اَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ. (سورة النساء، آیت ۱۱)

د زوی په ټول جائداد کښې يو اځې د پلار وارث کيدل

سوال: که چېرته د يوه سړي له مړينې وروسته د هغه په وارثانو کښې يو اځې د هغه پلار پاتې وي نو د مقدس شريعت له مخې د مرحوم ترکه به څنګه ويشل کيږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د سوال د صحت په شرط سره د مرحوم ټوله ترکه له ميراث څخه د مخکښيني حقوقو له ادا کولو وروسته د هغه پلار ته به د عصوبت په ډول سره ورکول کيږي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: اما الاب فله احوال ثلث........ و التعصيب المحض و ذٰلك عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجی ص٦، باب معرفة الفروض)

و ايضاً: و العصبة كل من يأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض و عند الانفراد ياخذ جميع المال. (مقدمة السراجی ص ٤)

و فی الهندية: فاقرب العصبات....... ثم الاب، و هم ای العصبة كل من ليس لهٗ سهام مقدر و يأخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض و اذا انفرد اخذ جميع المال. (الفتاوی الهندية ج٦، ص ٤٥١، الباب الثالث العصبات)

د اعياني ورور په شتون کښې د علاتي خور له ميراث څخه د محروموالي حکم

سوال: د يوې ښځې له مړينې وروسته د هغې يو اعياني ورور او يوه علاتي خور پاتې دي او حال دا چه له دوی څخه پرته له ذوی الفروضو او عصبه وو څخه هيڅوك هم نه دي پاتې نو د مرحومې ترکه به څرنګه تقسيميږي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نوموړي صورت مطابق که چېرته په رښتيا هم د مرحومې په وارثانو کښې د يو اعياني ورور او يوې علاتي خور نه پرته نور نږدې عصبه او ذوی الفروض پاتې نه وي نو د حقوق مقدمه على الارث له ادا کولو څخه وروسته د مرحومې ټول جائداد به د هغې اعياني ورور ته ورکول کيږي او د اعياني ورور په شته والي کښې علاتي خور هيڅ حق هم نه لري۔

قال العلامة السجاوندیؒ: ثم جزء ابيه ای الاخوة. (السراجی ص ١٤، باب العصبات)

و ايضاً: و يسقط بنوا العلّات ايضا با لاخ لابٍ و اُم. (السراجی ص ١١، باب معرفة الفروض)

قال الله تعالى: وَ اِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّ نِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ. (سورة النساء، آیت ١٧٦)

لما فی الحديث: ان اعيان بنی الام يتوارثون دون بنی العلّات. (السراجی ص ١٤، باب العصبات)

د پلار په ميراث کښې د نافرمان زوی استحقاق

سوال: يو سړی يوې خوا ته د خپل پلار نافرمانه دی او بلې خوا ته ښکنځل او بد رد هم ورته وايي نو آيا د دې سړي د پلار له مړينې وروسته د هغه په ميراث کښې حق جوړيږي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د والدينو نافرمانۍ لويه ګناه ده ليکن له ميراث څخه د محرومۍ سبب نه شي جوړيدلی ځکه چه ارث د وارثانو خوا ته اضطراراً منتقل کيږي نو ځکه د نافرمان زوی هم د فرمانبردار زوی غوندې په په ميراث کښې حق شته۔

قال العلامة محمد علاؤ الدين افندیؒ: الارث جبریٌ لا يسقط با لاسقاط. (تكملة رد المحتار ج١، ص٣٥٩، مطلب واقعة الفتوى، كتاب الدعوىٰ)

د وراثت لپاره يو اځې خپلوي کافي نه ده

سوال: زمونږ په علاقه کښې يوه ښځه مړه شوې ده چه د هغې په وارثانو کښې هيڅ عصبه، ذوی الفروض يا ذوی الارحام موجود نه دي يو اځې ئې ليورزي يعنې د ميړه وريرونه شته نو آيا د مرحومې ميراث ليورزيو ته ورکول کيدی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د يوې ښځې د ميړه وريرونه ئې د ميړه عصبه دي ليکن له دې ښځې سره د هغوی څه خاصه خپلوي نشته چه د ميراث د حقداري سبب جوړ شي۔ يو اځې د ميړه د قرابت له مخې د دې ښځې په ميراث کښې هغوی ته حق نه ورکول کيږي او نه ئې دوی غوښتنه کولی شي۔ بلکه په داسې حالت کښې د هغوی تر منځ بيګانګي موجوده ده چه د دې له مخې نه د دوی تر منځ نکاح هم جائز دی۔ له دې وجهې په نوموړي صورت کښې د دې ښځې د شرعي وارثانو د نشتوالي په وجه د هغې ترکه به د بيت المال وي۔

قال العلامة السيد شريف الجرجانیؒ: ثم بيت المال ای اذا لم يوجد احد من المذكورين توضع التركة فی بيت المال. (الشريفية ص ١١)

لما فی الهندیة: فیبدأ الفروض النسبیة بقدر حقوقهم ثم ذوی الارحام ثم مولی الموالاة........ ثم الموصی لهٗ بجمیع المال ثم بیت المال. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاول)

د فاسدې نکاح په نتیجه کښې د پیدا شویو اولادونو له میراث څخه محرومولی

سوال: یوه سړي د بل چا له ښځې سره نکاح وکړه او له هغې نکاح څخه ئې اولاد هم پیدا شو نو آیا دغه اولاد د مور له دې بل میړه څخه میراث وړی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د بل چا له ښځې سره نکاح کول فاسده نکاح ده او فاسدې نکاح په نتیجه کښې چه کوم اولاد پیدا شي نو هغه به اګر که ثابت النسب وي لیکن د پلار په میراث کښې به ئې حق نه وي۔

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: و یثبت النسب و اما الارث فلا یثبت. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۲، ص۳۸۲، باب ثبوت النسب)

قال العلامة الرافعی رحمه اللّٰه: و عبارة ابی سعود و لا تورث بین الزوجین فی الفاسد. (تقریرات رافعی ج۱، ص۱۹۷، باب ثبوت النسب)

رواجي قبضه هیڅ اعتبار نه لري

سوال: د یوه سړي له مړینې نه وروسته په جائزو وارثانو کښې ئې له دوو بیبیانو نه بغیر د هغه خوندې او ورونه هم وو لیکن د انګریزي قانون او رواج مطابق د مرحوم دواړه بیبیانې د هغه په جائداد باندې قابضې وې۔ اوس د هغه یوه ښځه مړه شوې ده نو د اترکه به څرنګه تقسیمیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مقدسه کښې یوائحې رواجي قبضې لره هیڅ اعتبار نشته او د مرحوم د اولاد د نشت والي په صورت کښې به ئې د ټول جائداد یو په څلورمه حصه دواړو بیبیانو ته ورکول کیږي او پاتې جائداد به د مرحوم په هغو وارثانو باندې ویشل کیږي کوم چه د هغه د مړینې په وخت کښې ژوندي وو۔

قال العلامة السجاوندیؒ: اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجی ص۷، فصل فی اصحاب الفروض)

لقوله تعالٰی: وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ. (سورة النسآء، آیت ۱۲)

د اسې مجرم چه د قتل سزا ور اوروول شوی وي د مرض الموت په حکم کښې نه دی

سوال: که چېرته یو سړی د قتل په الزام باندې په یوه محبس یا بندي خانه کښې محبوس وي نو آیا د هغه اقرار یا په جائداد او نورو شیانو کښې ئې تصرفات به د مرض الموت په حکم کښې شماریږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کوم سړی چه د قتل په الزام کښې د محکمې له خوا څخه ورته د مرګ سزا اوروول شوی وي او یا د قتل په جرم کښې په بندي خانه کښې بندي وي نو د هغه به دا حالت د مرض الموت غوندې نه ګڼل کیږي۔ د هغه به ټول معاملات لکه د صحت په حالت کښې جاري او نافذ وي۔ البته په کوم وخت کښې ئې چه له بندي خانې څخه اوباسي او مقتل ته ئې روانوي نو د بندي خانې نه د ایستلو له وخت څخه واخله تر غرغرې پورې چه څومره وخت لګیږي نو دا وخت به د مرض الموت غوندې وي۔ په دې حالت کښې که چېرته هغه څه تصرف مثلاً اقرار او د اسې نور وکړي هغه به د مرض الموت د حالت غوندې د قبول وړ نه وي۔ او که چېرته په همدې ورځ د هغه د غرغره کولو کار له څه وجهې نه تر صبا پورې ملتوي شي او یا د غرغرې حکم بالکل ملتوي او منسوخ شي نو په دې صورت کښې به بیا د ده له بندي خانې څخه د غرغرې تر ځایه پورې وخت به هم د مرض الموت غوندې نه وي یعنې دا حالت به ئې هم د صحت غوندې شمارل کیږي او په دې حالت کښې ئې چه کوم تصرفات کړي وي هغه به صحیح او درست ګڼل کیږي۔

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاریؒ: و لو کان محصوراً او محبوساً فی حد او قصاص او واقفاً فی صف القتال فهو فی حکم الصحیح. و قد ذکر محمد فی الاصل مسائل تدل علی ان الشرط خوف الهلاك علی طریق الغلبة لا کونه صاحب فراش فانه قال: اذا اخرج الرجل للقصاص او الرجم فهو فی حکم المریض. (الفتاوی التاتارخانیة ج۳، ص۵۸۰، کتاب الطلاق، باب طلاق المریض)

و فی الهندیة: و لو اعید المخرج للقتل الی الحبس او رجع المبارز بعد المبارزة الی الصف صار فی حکم الصحیح کا لمریض اذا برأ من مرضه. (الفتاوی الهندیة ج۱، ص۴۶۳، الباب الخامس فی طلاق المریض)

طویل (اوږد) مرض به مرض الموت ګڼل کیږي

سوال: د شریعت له مخې د مرض الموت تصرفات محدود وي چه په دې کښې ډیر وارې د مړي تصرفات موقوف ګڼل کیږي لیکن ځینې مرضونه تر کلونو پورې اوږدیږي نو آیا د اسې اوږدې بیمارۍ ته مرض الموت ویل کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په مرض الموت کښې دا ضروري نه دي چه تر څو ورځو پورې دې هغه بیماري محدوده وي بلکه کله کله مرض الموت اوږدیږي هم۔ بیا هم چه کوم مرضونه عمومي حیثیت اختیار کړي لکه د نن صبا توران الدم یعنې د وینې فشار، ذیابیطس یعنې شوګر او یا د زړه په مرضونو کښې مبتلا کیدل په مرض الموت کښې ئې شمارل مشکل دی ځکه چه دا مرضونه اګر چه په ناڅاپي توګه د مرګ سبب جوړیږي لیکن تر ډیره وخته پورې د محیط کیدو څخه خالي هم نه وي۔

قال العلامة ابن البزاز رحمه الله: و لو طال المرض و صد بحال لا یخاف علیه الموت کا لفالج او صار مدنفاً او یابس الشق لا یکون حکم المرض الا اذا تغیر حاله عن ذٰلك و مات من ذٰلك التغیر فما فعل فی حال التغییر فمن الثلث. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص ٤٣٤، کتاب الوصایا)

قال العلامة ابن نجیمؒ: و المقعد و المفلوج و الاشل و المسلول ان تطاول ذٰلك و لم یخف منه الموت فهبته من کل المال لانه اذا تفادم العهد صار من طبعه کا لعمی و العرج و هٰذا لان المانع من التصرف مرض الموت و مرض الموت لا یکون سبباً للموت غالباً و انما یکون سبباً للموت اذا کان بحیث یزداد حالاً فحالاً الٰی ان یکون آخره الموت. (البحر الرائق ج٨، ص٤٢٨، قبل باب العتق فی المرض و الوصیة با لعتق)

د شرعي بیت المال د نه شتون په صورت کښې د میراث حکم

سوال: که چېرته د یوه مړي په دریواړو ډولونو کښې یعنې ذوي الفروضو، عصبات او ذوی الارحامو کښې هیڅوك هم ژوندي نه وي او شرعي بیت المال هم موجود نه وي نو د هغه په ترکه باندې به څه کیږي د شریعت مطهره په رڼا کښې ځواب غواړم؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه شرعي بیت المال موجود نه وي نو د مسئوله صورت مطابق به ئې ترکه یوه امین او دیانت داره سړي ته ورکول کیږي ترڅو چه هغه ئې په داسې فقیرانو باندې چه هیڅ سرپرست او د اسې نور و نه لري په د اسې ډول مصرف کړي چه د فقیرانو نفقه، تداوي، کفن دفن او د اسې نور له همدې ترکې څخه پوره کړي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: و اما الرابع (ای الضوائع مثل ما لا یکون لهٗ اناثا و ار ثونا) فمصرفه المشهور هو اللقیط الفقیر و الفقراء الذین لا اولیاء لهم فیعطی منه نفقتهم و ادویتهم و کفنهم و عقل جنایتهم. (رد المحتار ج٢، ص٥٨، مطلب فی بیان بیوت المال و مصارفها، قبل باب المصرف)

په ژوند کښې د جائداد د تقسیمولو شرعي طریقه

سوال: د یوه سړي یوه ښځه، دوه زامن، درې لورانې، یوه لسمی، دوه لمسي دي چه پلار ء وفات شوی دی اوس دا سړی پخپل ژوند کښې په دوی باندې د خپل جائداد ویشل غواړي نو د شریعت مقدسه په رڼا کښې به خپل جائداد څرنګه ویشي آیا لمسیانو ته به د زامنو غوندې برابره حصه ورکوي او که به ئې محروموي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په ژوند کښې د اولادونو تر منځ د زمکې ویشل په حقیقت کښې هبه ده چه په دې کښې مالك ته کلي اختیار حاصل دی او د خپل صوابدید مطابق چه څنګه وغواړي همغسې دې وویشي او په اولادونو کښې به ئې د باقاعده قبضې نه وروسته هغه ویش نافذ وي۔ بیا هم د یوه وارث بې له کومې وجهې څخه له میراث نه محرومول واضح زیاتی او ظلم دی۔ البته فقهاء کرامو تصریح کړې ده چه په ژوند کښې د مال او جائداد تقسیم کوونکي ته د داسې طریقې خپلول په کار دي چه د هغه د مړینې نه وروسته د هغه د جائداد په وارثانو باندې د ویشلو حالت را منځ ته نه شي۔ لهذا په صورت مسئوله کښې د غه سړي ته په کار دي چه خپل جائداد په لاندې طریقې سره وویشي چه ټول جائداد دې ٥٦ حصې کړي او د ټول جائداد اوه حصې دې ښځې ته او هر یوه زوی ته دې څوارلس حصې او لوڼو ته هم اوه حصې ور کړي۔ او پاتې شوه د لمسیانو خبره که چېرته هغوی ته نیکه پخپل ژوند کښې څه ورکړي تر څو چه د ده له مړینې وروسته قانوني تنازعات پیدا نه شي نو ډېره به ښه وي لیکن که چېرته نیکه لمسیانو ته څه ور هم نه کړي نو بیا هم هیڅ حرج نشته۔

قال العلامة ابن البزاز رحمه الله: الافضل فی هبة الابن و البنت التثلیث کا لمیراث. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٢٣٧، کتاب الهبة، الجنس الثالث)

میـــــــــــــــــت

کونډه	زوی زوی	لور	لور	لور
٧	١٤	٧	٧	٧

د عاق نامې د اعلان په ذریعه زوی له میراث څخه محرومول

سوال: که چېرته یو سړي له خپل زوی څخه ناراض وي او د دې نارضایي په وجه په اخبارونو او نورو رسالو کښې د اشتهار په ذریعه د خپل منقوله او غیر منقوله جائداد څخه د هغه د عاق کولو اعلان وکړي نو آیا د پلار له وفات څخه وروسته د غه عاق شوی زوی ئې د میراث حقدار جوړیدلی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: وراثت یو اضطراري حق دی هیڅوك له خپله ځانه نه شي کولی چه دا حق زائل او ختم کړي نو ځکه د پلار له مړینې نه وروسته ئې هغه عاق شوي زوی ته هم د میراث حق حاصل دی۔ بیا هم که چېرته دا سړی پخپل ژوند کښې خپل ټول جائداد او منقوله سرمایه پخپلو وارثانو تقسیم کړي او هغوی باقاعده مالکان جوړ کړي نو په دې صورت کښې د پلار له مړینې نه وروسته عاق شوی زوی د میراث د حق مطالبه او غوښتنه نه شي کولی۔

قال العلامة محمد علاؤ الدین افندیؒ: الارث جبریٌّ لا یسقط با لاسقاط. (تکملة رد المحتار ج١، ص٣٥٩، مطلب واقعة الفتوٰی، کتاب الدعوٰی)

و ذکر الامام محمد بن اسماعیل البخاریؒ: عن ابراهیم عن الاسود عن عائشةؓ قالت اشتریت بریرةؓ فقال رسول اللهﷺ اشتریها فان الولاء لمن اعتق. (الجامع الصحیح البخاری ج٢، ص٩٩٩، کتاب الفرائض، باب الولاء لمن اعتق الخ) و مثله فی امداد الفتاوٰی ج٤، ص٣٦٤، کتاب الفرائض.

له کفارو سره د بندي مسلمان د میراث حکـــــم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما یو ورور په کشمیر کښې د جهاد په وخت کښې د هندوستان د فوج له خوا نیول شوی دی۔ اوس مې بل ورور د پلار د میراث ویشل غواړي نو آیا زمونږ بندي

ورور ته حصه ورکول کیږي او که نه او حال دا چه په ظاهره سره د هغه د خلاصون امکان نشته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه یو مسلمان له کفارو سره بندي شي نو هغه د مرګ تر وخته پورې او یا د ارتداد تر وخته پورې د عامو مسلمانانو غوندې د میراث حقدار دی لهذا هغه ورور چه له دښمن سره بندي دی په میراث کښې ستاسو سره مکمل حق لري۔ د هغه د خلاصون او یا د مرګ تر ربښتیني اطلاع او خبر پورې د هغه حصه محفوظه وساتی۔

قال السید شریف الجرجانیؒ: حکم الاسیر کحکم سائر المسلمین فی المیراث ما لم یفارق دینه فیرث و یورث منه لان المسلم من اهل دار الاسلام اینما کان. (الشریفیة ص۱۴۲، فصل فی الاسیر)

و فی الهندیة: و حکم الاسیر کحکم سائر المسلمین فی المیراث ما لم یفارق دینه فان فارق دینه فحکمه حکم المُرتد فان لم یعلم ردّته و لا حیاته و لا موته فحکمه حکم المفقود. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۴۵۷، الباب الثامن فی المفقود و الاسیر الخ)

و مثله فی السراجی ص۷۵، فصل فی الاسیر.

د شیعه او سُني تر منځ د میراث حکم

سوال: آیا یو شیعه د سني په مال کښې شرعا د میراث حقدار جوړیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شیعه ګانو (روافضو) مختلفې ډلې دي۔ کوم شیعه ګان چه کفري عقیدې لري لکه د حضرت علي رضی الله عنه الوهیت او د حضرت عائشې رضی الله عنها د قذف قائل وي نو د دین د اختلاف په وجه سره شیعه د سني وارث نه شي جوړیدلی البته کوم شیعه ګان چه غالي نه وي نو یوائځې بدعي د میراث مانع نه دی۔

قال العلامة السجاوندی رحمه اللّٰه: و المانع من الارث الاربعة........ و القتل الذی یتعلق به وجوب القصاص او الکفارة....... و اختلاف الدینین ای اسلاماً و کفراً. (السراجی ص۵، فصل فی الموانع)

قال العلامة الحصکفیؒ: اختلاف الملتین اسلاماً و کفراً. قال السید احمد الطحطاویؒ ای من جهة الاسلام و الکفر اما اختلافهما من جهة الیهودیة و النصرانیة فلا یکون مانعاً و هٰذا التقیید لا بد منه....... و اما عدم توریث الکافر من المسلم فبالاجماع. (طحطاوی حاشیة الدر المختار ج۴، ص۳۷۸، کتاب الفرائض)

و مثله فی امداد الفتاوٰی ج۴، ص۳۵۵، کتاب الفرائض.

مرتد د مسلمان د میراث حقدار نه دی

سوال: زما ورور امریکې ته د تعلیم د حاصلولو لپاره لاړ او هلته عیسایي شو نو آیا د والد صاحب له مړینې نه وروسته هغه ته په میراث کښې حصه ورکول کیږي او که نه او هغه په میراث کښې د خپلې حصې غوښتنه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ارتداد د ارث مانع دی نو په دې وجه ستا ورور د پلار د مال په میراث کښې حق نه لري۔

قال العلامة سید شریف جرجانیؒ: و اما المرتد فلا یرث من احد لا من مسلم و لا من مرتد مثله لانهٗ خانٍ بارتداده فلا یستحق الصلة الشرعیة التی هی الارث بل یحرم عقوبة ما لقاتل بغیر حق. (الشریفیة ص۱۴۱، فصل فی المرتد) و مثله فی الهندیة: المرتد لا یرث من مسلم و لا من مرتد مثله. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۶۵۵، الباب السادس فی میراث اهل الکفر) و مثله فی السراجی ص۷۴، فصل فی المرتد.

د مرتدې ښځې د ترکې حکم

سوال: یوه مسلمانه ښځه روس ته د اعلٰی تعلیم د حاصلولو لپاره تللې وه او هلته ئې اسلام هم پریښود او مرتده شوه۔ او اوس هغه مړه شوې ده نو شرعا د هغې د ترکې حقدار څوك دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب: ارتداد اګر که د ارث مانع دی لیکن ښځه ترې مستثنٰی ده له دې وجهې په نوموړې صورت کښې د دغې مرتدې شوې ښځې له مړینې نه وروسته د هغې ترکه به د هغې په وارثانو باندې په شرعي طریقې باندې ویشل کیږي۔

قال العلامة السید شریف الجرجانیؒ: و کسب المرتدة جمیعاً ای سواء اکتسبته فی اسلامها او فی ردّتها قبل اللحوق بدار الحرب لورثتها المسلمین بلا خلاف بین اصحابنا. (الشریفیة ص۱۴۰، فصل فی المرتد)

و فی الهندیة: و المرتدة اذ ماتت قسم ما لها بین ورثتها علی فرائض اللّٰه تعالٰی سواء کان کسب الاسلام او کسب الردة کلا الکسبین یصیر میراثاً عنها. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۴۵۵، الباب السادس فی میراث اهل الکفر)

و مثله فی السراجی ص۷۵، فصل فی المرتد.

د نرښځي (خنثٰی مشکل) د میراث حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! یوه نرښځی ده چه ږیره هم لري که چېرته ئې پلار یا مور یا کوم بل خپل مړ شي نو په میراث کښې به هغې ته څومره حصه ورکول کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چېرته په نرښځی کښې د سړي علامې زیاتې وي نو هغه ته به د سړي غوندې حصه ورکول کیږي او که چېرته د ښځې علامې پکښې زیاتې وې نو د ښځې غوندې حصه به ورکول کیږي۔ چونکه په نوموړي صورت کښې د دې نرښځی ږیره هم شته کومه چه د سړي علامه ده نو ځکه په میراث کښې به د سړیو غوندې حصه ورکول کیږي۔

قال العُلامة السید شریف الجرجانیؒ: فلا بد ان یزول الاشکال بظهور العلامة لانه ان جامع بذکره او نبتت لهٗ لحیته او احتلَمَ کاحتلام الرّجل فهو رجلٌ. (الشریفیة ص۱۲۵، فصل فی الخُنثٰی)

و فی الهندیة: فاذا بلغ الخنثٰی و خرجت لحیته او وصل الی النساء فهو رجلٌ. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۴۵۷، الباب التاسع فی میراث الخُنثٰی)

و مثله فی السراجی ص۶۵، فصل فی الخُنثٰی.

د مړي د قرض په وتلو سره د ترکې ویش کالعـــدم ګرځي

سوال: د دې مسئلې په باره کښې د دین علماء څه فرمایي چه زما زوی طاهر جمال تقریبا دیارلس کاله په ملائشیا کښې وو۔ کله چه خپل کلي ته واپس راغی نو دلته مونږ پوروونه اخیستي وو او د هغه ته مو واده کړی وو څه وخت وروسته هغه سخت مریض شو او علاج ئې هم مونږ په پور باندې وکړ په پای کښې د همدې مرض په نتیجه کښې مړ شو۔ د ده د مړینې نه وروسته د ده څوارلس لکه روپۍ په بانك کښې وې چه د محکمې په ذریعه مو هغه په وارثانو باندې تقسیم کړې۔ له دې نه وروسته په هغه باندې د خلکو ډیر پوروونه را معلوم شول۔ نو اوس د دې پوروونو د اداکولو لپاره بیرته وارثانو ته رجوع کولی شم او که به دا پوروونه ټول زه اداکوم او زه به ئې ذمه واریم؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د یو چا د مړینې نه وروسته د هغه له ټول مال څخه به لومړی څلور حقونه اداکیږي او بیا به پاتې مال په وارثانو ویشل کیږي۔

و فی الهندیة: الترکة تتعلق بها حقوق اربعة جهاز المیت و دفنه و الدّین و الوصیة و المیراث فیبدأ اولاً بجهازه و کفنه و ما یحتاج الیه فی دفنه با لمعروف. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض)

قال الشیخ السید شریف الجرجانیؒ: ثم تقضی دیونه من جمیع ما بقی من ماله ای یبدأ بقضاء دینه من جمیع ماله الباقی بعد التجهیز و التکفین و هٰذا هو الثانی فی الاربعة. (الشریفیة ص٥، کتاب الفرائض)

او که چیرته په ناپوهي یا په دوکې سره د مړي ټوله ترکه د هغه په وارثانو باندې وویشل شي نو دا ویش به صحیح نه وي بلکه له سره به اوله قرضه اداکوي او پاتې میراث به بیا په وارثانو ویشل کیږي۔

کما فی مجلة الاحکام: اذا ظهر دَین المیت بعد قسمة الترکة تنسخ القسمة. قال العلامة سلیم رستم بازؒ: تحت مادة سواء کان الدَّین محیطاً با لترکة او لا. اما الاول فظاهر لانهٗ یمنع الملك فیمنع التصرف. و اما الثانی فتعلق حق الغرباء با لترکة شائعاً و لانّ القسمة مؤخرة عن قضاء الدین لحق المیت. (شرح المجة ص٦٤١، الفصل السابع فی فسخ القسمة و اقالتها)

لهذا د سوال د صحت په شرط سره په نوموړي صورت کښې د مرحوم زوی په ذمه د پور اداکول د هغه په پلار په ذمه نه دی بلکه د وراثت ویش به کالعدم ګڼل کیږي او له ټولې ترکې څخه به پور اداکیږي او پاتې مال به په وارثانو باندې ویشل کیږي۔ ځکه د مرحوم پلار ته دا حق حاصل دی چه له نورو وارثانو څخه د پور د اداکولو غوښتنه وکړي که وارثان ئې پلار، مور او بي بي هم وي۔

رضاعت داسې رشته نه ده چه د میراث د ورلو سبب جوړ شي

سوال: آیا رضاعي زوی د پلار په میراث کښې حق لري او که نه په داسې حال کښې چه د مرحوم له دې رضاعي زوی څخه پرته نور د تره زامن هم شته؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د وراثت حقدار یوائې نسبي وروڼه دي۔ له دې وجهې د مرحوم ټول جائداد منقوله او غیر منقوله به ئې نسبي تره زامنو ته ورکول کیږي۔ د رضاعي زوی ئې په میراث کښې هیڅ حق نه لري۔

قال العلامة سراج الدین السجاوندیؒ: ثم یقسم الباقی بین ورثته با لکتاب و السنة و اجماع الامة فیبدا باصحاب الفرائض هم الذین لهم سهام مقدرة فی کتاب الله تعالٰی ثم با لعصبات من جهة النسب الخ. (السراجی ص٤، کتاب الفرائض)

قال العلامة عبد الله بن المودود الموصلیؒ: و یستحق الارث برحم و نکاح و لاء. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص٨٦، کتاب الفرائض)

و مثله فی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاول.

متبني ته د میراث ورکولو حکم

سوال: د یوه سړي خپل اولاد نه وو د کلي په خلکو کښې یوه سړي خپل زوی ورکړ۔ نوموړي د پلار په حیثیت د دې هلك تربیت وکړ۔ نو اوس د دغه سړي له وفات څخه وروسته دغه هلك د ده د میراث حقدار ګڼل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه دا هلك د دغه سړي حقیقي زوی نه دی بلکه متبني زوی ئې دی او متبنی زوی جوړیدل یا جوړول داسې رشته او خپلوي نه ده چه د میراث حقدار وګرځي نو ځکه د مرحوم مال به په نورو خپلوانو باندې ویشل کیږي او دې هلك ته به د وراثت په توګه هیڅ نه ورکول کیږي او البته که چیرته مرحوم پخپل ژوند کې تملیکا هغه ته څه شی ورکړي وي نو هغه به دُ هم هغه شي مالك وي او د مرحوم هیڅ یو خپل په دې کښې د وراثت دعوٰی نه شي کولی۔

قال العلامة سراج الدین السجاوندیؒ: العصبات النسبیة....... و هم اربعة اصناف جزء المیت و اصله و جزء ابیه و جزء جدّه. (السراجی ص١٨/١٩، باب العصبات)

قال العلامة الموصلیؒ: و یستحق الارث برحمٍ ونکاح و لاء. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص٨٦، کتاب الفرائض) و مثله فی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاول.

ناسکه پلار یعنې پلندر له میراث څخه محروم دی

سوال: یو سړی مړ شوی دی او د هغه په وارثانو کښې یوه بي بي، دوه زامن او یو ناسکه پلار پاتې دي نو د مرحوم میراث به په دوی څنګه ویشل کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د حقوق متقدمه علی الارث له اداکولو نه وروسته د مرحوم پاتې مال به د هغه په کونډې او دوو زامنو باندې ویشل کیږي او پلندر ئې له میراث څخه محروم پاتې کیږي ځکه چه د دواړو ترمنځ د اسې خپلوي نشته چه د ارث موجب وي۔

٨×٢=١٦

کونډه	زوی	زوی
٢/١٦	٧/١٦	٧/١٦

قال العلامة السجاوندیؒ: العصبات النسبیة....... و هم اربعة اصناف جزء المیت و اصله و جزء ابیه و جزء جده. (السراجی ص١٩، باب العصبات)

قال العلامة الموصلیؒ: و یستحق الارث برحمٍ و نکاح و ولاء......... ثم اصله و هو الاب و الجدّ ثم جزء ابیه ثم بنوهم الخ. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص ٨٦٠، کتاب الفرائض)

و مثله فی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاول.

د ناسکه زوی د میراث حکم

سوال: یوه سړي له یوې کونډې ښځې سره نکاح وکړه او حال دا چه د واده په وخت د دې ښځې له مرحوم میړه څخه یو زوی هم وو چه د دې سړي په کور کښې ئې ساتنه وشوه او لوی شو او هغه خپل زوی ګڼلو۔ اوس دا سړی مړ شوی دی نو آیا دغه هلك د خپلو نورو ورونو سره به په میراث کښې شریك وي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه د مرحوم او د هغه د بچندر په منځ کښې د اسې خپلوي نشته چه د ارث سبب وګرځي نو د مرحوم ترکه د ده د حقیقي زامنو ده او دا هلك کوم چه د ده د ښځې له بل میړه څخه پاتې دی (بچندر) به له میراث څخه محروم وي۔

قال العلامة الموصلیؒ: و یستحق الارث برحمٍ و نکاح و ولاء. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص ٨٦٠، کتاب الفرائض)

و فی الهندیة: و یستحق الارث باحدی خصال ثلاث با لنسب و هو القرابة و السبب و هو الزوجیة و الولاء. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاوّل)

د دوو ښځو د اولادونو ترمنځ د میراث د ویشلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما والد صاحب دوه ودونه کړي دي او له اول واده څخه ئې زما نه پرته مې دوه خوندې هم دي او له بل واده څخه ئې درې زامن دي۔ په د اسې حال کښې چه زما

والده شریفه زما د والد صاحب څخه مخکښې مړه شوې وه۔ نو آیا د والد صاحب ترکه د هغه په ټولو اولادونو باندې به برابر ویشل کیږي او که مونږ حقیقي ورور او خویندو ته کم او نورو ته زیات ورکول کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د میراث ویش له مړي سره د رشتې په بناء سره وي۔ په نوموړي صورت کښې چونکه د مرحوم سره د هغه د دواړو ښځو د اولادونو حق مساوي دی نو ځکه ترکه به ئې په تاسو ټولو باندې د شرعي حصې مطابق ویشل کیږي یعنې د مور له حصې نه پرته د مال دوه حصې یو ورور او یوه حصه دوو خوندو ته ورکول کیږي۔

٨×١٠=٨٠

کونډه	زوی	زوی	زوی	زوی	لور	لور
١٠/٨٠	١٤/٨٠	١٤/٨٠	١٤/٨٠	١٤/٨٠	٧/٨٠	٧/٨٠

قال العلامة السجاوندیؒ: العصبات النسبیة و هم اربعة اصناف جزء المیت و اصله و جزء ابیه و جدّه الاقرب فا لاقرب یرجحون بقرب الدرجة اولهم با لمیراث جزء المیت ای البنون. (السراجی ص١٩، باب العصبات)

قال العلامة المُوصلی رحمه اللّٰه: غصبة بنفسه و هو کل ذکر لا یدخل فی نسبته الی المیت انثٰی و اقربهم جزء المیت و هو بنوه. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص٩٢، فصل فی العصبات)

و مثله فی الهندیة ج٦، ص ٤٥٠، الباب الثالث فی العصبات.

په مهر کښې د میړه د ارث حصه

سوال: یوې ښځې ته له واده څخه وروسته د مړینې تر وخته پورې د کوم مشکل په وجه سره د مهر له حق څخه بې برخې پاتې وه او حال دا چه د هغې ښځې اولاد هم نشته یوازې ئې پلار او دوه ورونه او میړه ژوندي دي نو اوس ئې مهر د چا حق دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حق مهر هم د مرحومې په ترکه کښې شامل دی نو ځکه د مرحومې د نورو مالونو غوندې د هغه د مهر روپۍ د میړه او پلار په منځ کښې تقسیمیږي یعنې نیم مهر به ئې د پلار وي او نیم مهر به ئې د میړه وي او ورونه ئې پکښې حق نه لري۔

قال العلامة السجاوندیؒ: اما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل و الربع مع الولد الخ. (السراجی ص٩، باب معرفة الفروض الخ)

قال العلامة الموصلیؒ: ثم تقضی دُیونه........ و الربع فی فرضها و فرض الزوج و النصف فی فرض الزوج. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص٨٥/٩٢، کتاب الفرائض)

و مثله فی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض، الباب الاوّل.

د یوه وارث له وراثت څخه د محرومولو حکم

سوال: آیا یو وارث د وراثت له حق څخه محرومول جائز دي او که نه او که چیرته نه وي نو د محروموونکي فیصله به نافذه کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: یو وارث د وراثت له حق څخه محرومول جائز نه دي او د داسې عمل کوونکي به ګنهګار وي بیا هم چه کومه فیصله هغه کړې ده یعنې پخپل ژوند کښې تول مالونه منقوله او غیر منقوله په نورو وارثانو باندې تقسیم کړي وي نو نافذه به وي او د هغه له مرګ نه وروسته هغه څوک چه محروم ګرځول شوی دی د میراث د حق دعوٰی نه شي کولی۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو وهب جمیع ماله لابنه جاز فی القضاء و هو آثم نص عن محمدؒ هکذا فی العیون. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص ٤٠٠، کتاب الهبة، قبل الفصل الثانی)

قال العلامة قاضی خان رحمه اللّٰه: رجل وهب فی صحته کل المال للولد جاز فی القضاء و یکون آثما فیما صنع. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج٣، ص ٢٧٩، فصل فی الهبة الولد لولده)

و مثله فی الهندیة ج٥، ص ٣٩١، الباب السادس فی الهبة للصغیر.

د لونړو له میراث څخه د محرومولو حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې دا رواج دی چه د پلار په ترکه کښې لونړو ته حصه نه ورکول کیږي نو آیا د اسې کول شرعا جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د پلار له مرګ نه وروسته لکه څرنګه چه زامن د هغه په میراث کښې د ارث حقدار دي همداسې لونړې هم په ترکه کښې شرعا حق لري او دا حق هغوی ته اسلام ورکړی دی نو ځکه د دې شرعي حق څخه د دوی محروم والی ناجائز او حرام دی۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاریؒ: و لو وهب جمیع ماله لابنه جاز فی القضاء و هو اثم نص عن محمد هکذا فی العیون. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص ٤٠٠، کتاب الهبة، قبل الفصل الاول)

قال العلامة قاضی خان رحمه اللّٰه: رجل وهب فی صحته کل المال للولد جاز فی القضاء و یکون آثما فیما صنع. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج٣، ص ٢٧٩، فصل فی الهبة الولد لولده)

و مثله فی الهندیة ج٥، ص ٣٩١، الباب السادس فی الهبة للصغیر.

د ولد زنا او د ولد الملاعنه د میراث حکم

سوال: د کوم بچي نسب چه پلار د لعان په ذریعه نفي کړي او بیا د میړه او د ښځې ترمنځ د ازدواج رشته هم ختمه شي۔ اوس سوال دا دی چه کله بچی مړ شي نو د ده میراث به پلار ته ورکول کیږي او که مور ته ئې ورکول کیږي او که د هغه په خپلوانو باندې ویشل کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د کوم بچي نسب چه د لعان په ذریعه قطع شي نو هغه د ولد زنا غوندې دی نو اوس چونکه د ده رشته یواځې له مور سره ثابته ده ځکه ئې میراث هم د هغه د مور په خپلوانو باندې ویشل کیږي۔

قال العلامة الموصلیؒ: و عصبةُ و لد الزنا و ولد الملاعنة موالی امهما لانه لا اب له و النبی ﷺ الحق ولد الملاعنة بامه فصار کشخص لا قرابة لهٗ من جهة الاب فیرثه قرابة امه و یرثهم. (الاختیار لتعلیل المختار ج٥، ص ٩٤، فصل فی العصبات)

قال العلامة الحصکفیؒ: و عصبة ولد الزنا و ولد الملاعنة مولی الام....... و هی ان ولد الزنا یرثُ من امه میراث اخ لام........ و ولد الملاعنة یرث من توأمه میراث اخ لابوین. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ج٥، ص ٤٩٥، کتاب الفرائض) و مثله فی امداد الفتاوٰی ج٤، ص ٣٤٠، کتاب الفرائض.

د دوو رشتو د درلودونکي د میراث حکم

سوال: یو سړی مړ شوی دی او د هغه په وارثانو کښې یوه بي بي مسماة ګلبینه او بل وارث جمعه ګل چه د پلار له خوائې د تره زوی او د مور له خوا څخه ئې ناسکه ورور یعنې د میرې ورور پاتې دي۔ اوس پوښتنه دا ده چه مسمٰی جمعه ګل ته د مرحوم په میراث کښې څومره حصه ورکول کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د مرحوم په ترکې کښې مسمٰی جمعه ګل ته به دوه حصې ورکون کیږي۔ یوه حصه په دې نسب او رشتې سره چه د هغه اخیافي ورور دی او دوهمه حصه د عصوبت په وجه سره او په نوموړي صورت کښې د میراث په تقسیم کښې د مرحوم کونډې ته یو په څلورمه حصه ورکول کیږي او پاتې مال به د جمعه ګل وي خو په دې شرط سره چه بل وارث ئې نه وي۔

٤

میـــــــــــــــــــــــت

کونډه	جمعه ګل
١/٤	٣/٤

د تقاعد په پیسو کښې د میراث حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! دلته یو سړی مړ شوی دی کوم چه په فوج کښې مامور وو هغه خپل تقاعد (پنشن) روپۍ په دې عنوان سره د خپلې ښځې په نامه باندې کړې وې چه زما له وفات نه وروسته زما دا روپۍ زما بي بي ته ورکړی۔ اوس د هغه نور وارثان د هغه په دغو روپو کښې د وراثت دعوٰی کوي نو آیا د مرحوم له کونډې نه پرته د نورو وارثانو حق هم کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د تقاعدي روپۍ مملوکه مال نه دی بلکه د حکومت له خوا څخه عطیه وي۔ نو په دې بناء باندې دغه روپۍ به د میراث له ویش څخه مستثنٰی وي۔ حکومت ئې چا ته چه وغواړي او څومره چه وغواړي ورکولی شي۔ په صورت مسئوله کښې چونکه د

Madrasa Tul Ishaat.com

مرحوم کاغذات د هغه د کونډې په نامه باندې دي او حکومت هم په دې راضي ده نو ځکه دا تقاعد یوائې د بي بي حق دی۔

لما قال الشیخ اشرف علي تهانوي: چونکه میراث په مملوکه مالونو کښې جاري کیږي او دا روپۍ یوائې د حکومت له خوا څخه تبرع او احسان دی نو پرته له قبضې څخه مملوکې نه ګرځي۔ لهذا په راتلونکي کښې چه کومه وظیفه ورکول کیږي په هغه کښې میراث نه جاري کیږي حکومت ته دا اختیار شته چه څرنګه ئې وغواړي تقسیمولی ئې شي۔ (امداد الفتاویٰ ج٤، ص٢٤٢، کتاب الفرائض)

د مړي په ټولو مملوکه شیانو کښې د ارث د جاري کیدلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! آیا میراث یوائې د مړي په اموال غیر منقوله کښې جاري کیږي او که د کور په سامان او نقدو روپو کښې هم جاري کیږي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د چا په ملکیت کښې چه څومره شیان هم وي د هغه له مرګ څخه وروسته ټول د هغه ترکه شمارل کیږي۔ که د مرحوم جائداد وي، یا نقدې روپۍ وي یا کور وي او یا د کور سامان په دغو ټولو شیانو کښې به میراث جاري کیږي او په وارثانو به ویشل کیږي۔

قال العلامة سراج الدین محمد بن عبد الرشیدؒ: قال علماؤنا رحمهم اللّٰه تتعلق بترکة المیت حقوق اربعة.

قال المحشی تحت لفظ الترکة و المراد من الترکة ما ترکه المیت خالیاً عن تعلق حق الغیر بعینه و ان کان حق الغیر متعلقا بعینه کا لرهن و العبد الجانی و المشتری قبل القبض قال صاحبه یقدم علی التجهیز کما فی حال حیاته الخ. (الشریفیة شرح السراجی ص٣، کتاب الفرائض)

قال العلامة الزیلعیؒ: و المراد من الترکة ما ترکه المیت خالیا عن تعلق حق الغیر بعینهٖ الخ. (تبیین الحقائق ج٦، ص٢٢٩، کتاب الفرائض) و مثله فی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، کتاب الفرائض.

د مفقود الخبر د ترکې د ویشلو حکم

سوال: که چېرته یو سړی له ډیرو کلونو څخه ورك وي او په هرې ممکنې طریقې باندې ئې له پلټنې سره سره معلومات و نه شي نو د ده د جائداد شرعا څه حکم دی آیا د ده په وارثانو به ویشل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په شریعت مقدسه کښې مفقود الخبر تر ٩٠ کاله پورې به ژوندی او د خپل جائداد مالك ګڼل کیږي نو ځکه تر څو پورې چه د مفقود الخبر عمر ٩٠ کالو ته نه وي رسیدلی او مسلمان حاکم ئې فیصله نه وي کړې تر هغه وخته پورې به د هغه جائداد نه ویشل کیږي او کله چه د مسلمان حاکم یا قاضي له خوا څخه د هغه د مرګ تصدیق او فیصله وشي نو په هم هغه وخت کښې به د هغه په موجودو وارثانو باندې د هغه ټول جائداد د میراث په توګه ویشل کیږي او مړه شوي وارثان به محروم وي۔

قال الشیخ سراج الدین محمد بن عبد الرشیدؒ: المفقود حیٌّ فی ماله حتیٰ لا یرث منه احدٌ و میتٌ فی مال غیره

جلد پنځم

33

حتیٰ لا ترث من احد و یوقف ماله حتیٰ یصح موته او تمضی علیه مدة. و اختلف الروایات فی تلك المدة و بعد اسطر قال بعضهم تسعون سنة و علیه الفتویٰ الخ. (السراجی ص٥٦/٥٧، فصل فی المفقود)

و فی الهندیة: قال مشائخنا مدار مسئلة المفقود علی حرف واحد ان المفقود یعتبر حیاً فی ماله و میتاً فی مال غیره حتیٰ ینقضی من یعلم انه لا یعیش الیٰ مثل تلك المدة او تموت اقرانه و بعد ذٰلك یعتبر میتا فی ماله. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٥٦، الباب الثامن فی المفقود و الاسیر)

د عصبه په موجود والي کښې په ترکه کښې د لمسیانو د حصو حکم

سوال: یوه ښځه مړه شوې ده او د هغه په وارثانو کښې دوه لمسي او دوه ورونه پاتې دي اوس لمسي ته د انا په میراث کښې حصه ورکول کیږي او که نه او حال دا چه د هغوی مور د هغوی له انا څخه مخکښې مړه شوې ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د لمسیو شمار په ذوی الارحامو کښې دی۔ د عصبه وو په نشت والي کښې هغوی ته د نیکه او انا په میراث کښې حصه ورکول کیږي۔ په نوموړي صورت کښې چونکه د مرحومې دوه ورونه دي چه د هغه له عصبه وو څخه دي نو ځکه د هغه ټوله ترکه به د هغه په میړه او په ورونو باندې د شرعي حصې په اندازه تقسیمیږي او لمسی به محروم ګرځي۔

و فی الهندیة: و انما یرث ذوی الارحام اذا لم یکن احد من اصحاب الفرائض ممن یرد علیه و لم یکن عُصبة الخ. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٥٩، الباب العاشر فی ذوی الارحام)

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و لا شیء لذوی الارحام مع العصبة او مع صاحب الفرائض الخ. (خلاصة الفتاویٰ ج٤، ص٢١٩، جنس آخر فی ذوی الارحام و اما الصنف الرابع الخ)

و مثله فی السراجی باب ذوی الارحام ص٣٥.

د اعیاني ورور په شتون کښې د علاتي ورور له میراث څخه محروموالی

سوال: دلته زمونږ په علاقه کښې یو سړی مړ شوی دی چه د هغه په وارثانو کښې درې لورانې، یوه اعیاني خور او یو اعیاني ورور او یو علاتي ورور ژوندي دي نو آیا د اعیاني خویندو او ورونو په شته والي کښې ناسکه ورور ته په میراث کښې حصه ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د اعیاني خویندو ورونو په موجود والي کښې علاتي او اخیافي ورونه او خویندې له میراث څخه محروم ګرځي نو لهذا په صورت مسئوله کښې د مرحوم ترکه د هغه په اعیاني ورونو او خویندو باندې ویشل کیږي۔

٩ = ٣ × ٣

میت

بنت	بنت	بنت	اخ للاب و ام	اخ للاب	اخت لاب و ام
٢/٩	٢/٩	٢/٩	٢/٩	محروم	١/٩

قال الشيخ سراج الدين محمد بن عبد الرشيدؒ: ان ذى القرابتين اولٰى من ذى قرابة واحدة ذكرا كان او انثى لقوله عليه السلام ان اعيان بنى الأمّ يتوارثون بنى العلات كا لاخ لاب ام اذا صارت عصبة مع البنت اولٰى من الاخ لاب الخ. (السراجى ص١٤، باب العصبات)

په میراث کښې د مطلقه ښځې د حصې حکم

سوال: یوه سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکړ۔ د مودې له تیریدلو نه وروسته د دغه سړي انتقال وشو۔ اوس د هغه طلاقه شوې ښځه ئې د میراث دعوٰی کوي نو آیا هغه ته د مخکښیني خاوند د ترکې څخه حصه ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د طلاقې شوې ښځې د عدت له تیریدو څخه وروسته د همدغه خاوند لپاره اجنبیه ګرځي نو ځکه چه کله د مطلقې ښځې عدت تیر شي نو د عدت نه وروسته ورته په میراث کښې حصه نه ورکول کیږي ځکه چه دا د مړي د وارثانو حق دی۔ له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د مطلقې د ارث دعوٰی صحیح نه ده۔

و فى الهندية: و لو طلقها طلاقا بائناً او ثلاثا ثم مات و هى فى العدّة فكذٰلك عندنا ترث و لو انقضت عدتها ثم مات لم ترث الخ. (الفتاوى الهندية ج١، ص٤٦٢، الباب الخامس فى طلاق المريض)

قال العلامة قاضى خان رحمه اللّٰه: و ان ابانها بغير سوالها ثم مات و هى فى العدّة ورثته عندنا و ان مات بعد انقضاء العدّة لم ترث الخ. (فتاوٰى قاضى خان ج٢، ص٢٧٢، كتاب الطلاق، فصل فى المعتدة التى ترث)

و مثله فى شرح الوقاية ج٢، ص١٠٩، كتاب الطلاق، باب طلاق المريض.

د ښځې کفن په میړه باندې وي

سوال: که چیرته یوه ښځه مړه شي او د هغې په وارثانو کښې میړه، ورور او پلار ژوندي وي نو آیا د دې کفن به د هغه له مهر څخه کیږي او که د هغې ټول مصارف به د هغې د خاوند په غاړه وي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چونکه کفن د ښځې لباس دی او لباس شرعا په میړه باندې واجب وي نو له دې وجهې کله چه ښځه مړه شي نو د هغې د کفن دفن مصارف به د هغې په خاوند باندې وي او د هغې له مهر څخه به نه اخیستل کیږي۔

قال العلامة الحصكفىؒ: و اختلف فى الزوج و الفتوٰى على وجوب كفنها عليه عند الثانى و ان تركت مالاً خانية و رجحه فى البحر بانه الظاهر لانه ككسوتها. (الدر المختار على صدر رد المحتار ج١، ص٨١٠، باب صلٰوة الجنائز)

و فى الهندية: و من لم يكن له مال فا لكفن على من تجب عليه النفقة الا الزوج فى قول محمدؒ و على قول ابو يوسفؒ يجب الكفن على الزوج و ان تركت مالا و عليه الفتوٰى هٰكذا فى فتاوٰى قاضى خان. (الفتاوى الهندية ج١، ص١٦١، الفصل الثالث فى التكفين)

و مثله فى فتاوٰى قاضى خان على هامش الهندية ج١، ص١٨٤، فصل فى غسل الميت الخ.

د میراث خپله حصه په بل حصه لرونکي باندې د پلورلو حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ والد صاحب څو میاشتې مخکښې وفات شوی دی او له هغه څخه په ترکه کښې ډېر مال پاتې شوی دی او زه یو غریب سړی یم خپل د میراث حصه پخپلو ورونو باندې خرڅولی شم او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ته چونکه د خپل پلار د مړینې نه وروسته د هغه په مال کښې د شرعي حصې حقدار ئې او هغه حصه ستا ملکیت دی نو ځکه ستا لپاره جائز دی چه د خپل جائداد چه په میراث کښې درته رسیږي له ویش څخه مخکښې هم او وروسته هم پخپلو ورونو باندې خرڅولی شې۔

لما قال العلامة المرغينانى رحمه اللّٰه: و يجوز بيع احدها نصيبه من شريكه و جميع الصور و من غير شريكه بغير اذنه. (الهداية ج٢، ص٥٨٨، كتاب الشركة)

قال العلامة ابن الهمام رحمه اللّٰه: ان الشركة اذا كانت بينهما من الابتداء بان اشتريا حنطة او ورثاها كانت كل حبة مشتركة بينهما فليبع كل منهما نصيبه شائعاً جائز من الشريك و الاجنبى. (فتح القدير ج٦، ص١٥٤، كتاب الشركة)

د څلورو ښځو د میړه په ترکه کښې شرعي حصه

سوال: د یوه سړي څلور ښځې دي او د هغه له وفات څخه وروسته څلور واړه ژوندۍ دي نو آیا هرې یوې ته به له ترکې څخه اتمه حصه ورکول کیږي او که د ټولو په ګډه سره اتمه حصه وي چه په هغوی به برابره ویشل کیږي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اسلام د اولاد په موجود والي کښې د ښځې لپاره اتمه حصه مقرره کړې ده خواه که یوه وي او که ډېرې۔ او که چیرته ئې اولاد نه وي نو د هغې لپاره څلورمه مقرره ده نو ځکه په صورت مسئوله کښې د مرحوم د ټول جائداد یو په اتمه حصه د هغې په څلور واړو ښځو برابر ویشل کیږي او باقي ترکه به د مرحوم په اولاد او نورو وارثانو ویشل کیږي۔

قال العلامة السجاوندىؒ: اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدةً عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل و الثمن مع الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجى ص٧/٨، باب معرفة الفروض)

و فى الهندية: و للزوجة الربع عند عدمهما و الثمن مع احدهما و الزوجات و الواحدة يشتركن فى الربع و الثمن و عليه الاجماع. (الفتاوى الهندية ج٦، ص٤٥٠، الباب الثانى فى ذوى الفروض)

و مثله فى الاختيار لتعليل المختار ج٥، ص٨٦٠، كتاب الفرائض.

د اول خاوند په میراث کښې د ښځې حصه نه وي

سوال: یوه مطلقه ښځه د یوه بل سړي سره نکاح وکړه او له هغه سره ئې تر څو کاله ژوند څخه وروسته مړه شوه۔ اوس د هغې په ترکه کښې د دواړو میړونو مال دی۔ اول میړه ئې دا دعوٰی کوي چه زما په مهر کښې ما ته یو په څلورمه حصه مال راکړی او حال دا چه د دې ښځې له

د دوهم میړه څخه درې زامن او دوه لورانې دي آیا شرعا اول میړه ته په ترکې کښې حصه ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: له طلاق او عدت څخه وروسته د میړه او ښځې ترمنځ هیڅ یوه رشته باقي نه پاتې کیږي او دواړه د یوه او بل لپاره اجنبي ګرځي او حال دا چه د میراث لپاره د ارث رشته ضروري ده۔ په نوموړي صورت کښې تر کومه ځایه پورې چه د ښځې د اول میړه د مهر سره تعلق لري هغه ټول د ښځې مِلك دی چه له اولنی میړه سره هیڅ تعلق نه لري نو ځکه د ښځې ټوله ترکه د هغه د دوهم میړه په دریو زامنو او دوو لورانو باندې تقسیمیږي۔

مرحومه ٤ × ٨ = ٣٢

میـــــــــــــــــــــــــــــــت

لومړی میړه	دویم میړه	زوی	زوی	زوی	لور	لور
محروم	٨/٣٢	٦/٣٢	٦/٣٢	٦/٣٢	٣/٣٢	٣/٣٢

وفي الهندية: او طلقها طلاقاً بائناً او ثلاثاً ثم مات وهي في العدة لم ترث وهذا اذا طلقها من غير سؤالها فاما اذا طلقها [illegible] لها اصلا [illegible] طلاق المريض)

د ورېرونو په موجودوالي کښې به ورېرې له میراث څخه محرومې وي

سوال: د یوه سړي له مړینې وروسته د هغه په وارثانو کښې یواځې شپږ ورېرونه او څلور ورېرې پاتې دي۔ اوس د خپل تره په ترکې کښې د میراث مطالبه کوي نو آیا هغوی ته د خپل تره په ترکې کښې شرعا حصه ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په نوموړي صورت کښې د مرحوم ټوله ترکه کښې یواځې ورونه حقدار دي او ورېرونو ته د تره له ترکې څخه هیڅ نه ورکول کیږي او شرعا به محروم وي۔ د مرحوم ټوله ترکه به د هغه په شپږو ورونو مساوي ویشل کیږي۔

قال العلامة السجاوندیؒ: العصبات النسبية.......... ثم جزء ابيه اى الاخوة ثم بنوهم و ان سفلوا ثم جزء جده. (السراجى ص ١٤، باب العصبات)

وفى الهندية: و باقى العصبات ينفرد با لميراث ذكورهم دون اخواتهم و هم اربعة ايضاً العم و ابن العم و ابن الاخ و ابن المعتق الخ. (الفتاوى الهندية ج٦، ص ٤٥١، الباب الثالث فى العصبات)

د دوهم نکاح په کولو سره د ښځې د میراث برخه نه ورکیږي

سوال: جناب مفتي صاحب! زما والد صاحب په ۱۹۸۸ء کښې په حق رسیدلی دی او له هغه څخه د نقدو روپو نه پرته څه جائداد هم په میراث کښې پاتې دی۔ د والد صاحب له وفات څخه شپږ

میاشتې وروسته مې والدې شریفې بل میړه وکړ۔ اوس مې د والد صاحب په ترکې کښې د خپلې حصې غوښتنه کوي نو آیا شرعا په دې ترکې کښې مې د والدې شریفې حصه جوړیږي او که نه؟ بینوا توجرو۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د میړه او ښځې رشته د ارث د سبب رشته ده۔ د خاوند له وفات نه وروسته د خپلې حصې شرعي حقداره ده۔ د عدت له تیریدو نه وروسته د دوهم نکاح په کولو سره د دې د میراث په حصه هیڅ اثر نه کوي۔ نو ځکه ستا والده شریفه د مرحوم میړه په ترکې کښې د شرعي حصې دعوی صحیح ده کوم چه ورکول ئې ورته په کار دي۔

لقوله تعالٰى: وَ لَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَا اَوْ دَيْنٍ. (سورة النساء، آیت ١٢)

قال العلامة السجاوندى رحمه اللّٰه: اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل و الثمن مع الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجى ص ٨/٧، باب معرفة الفروض و مستحقيها)

و مثله فى الهندية ج٦، ص ٤٥٠، الباب الثانى فى ذوى الفروض.

د اولاد په موجودوالي کښې د والدینو شرعي حصه نه متاثره کیږي

سوال: آیا د اولاد په موجودوالي کښې والدینو ته په میراث کښې حصه ورکول کیږي او که نه په داسې حال کښې چه والدین د معاش معقوله ذریعه هم نه لري؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د ولدیت رشته د ارث رشته ده۔ د اولاد وجود د میراث مانع نه ده او نه د والدینو د ګټې د ذریعې په وجه د هغو د میراث حصه متاثره کیږي نو ځکه د اولاد په موجودوالي کښې والدین ته یو په شپږو باندې حصه ورکول کیږي۔

قوله تعالٰى: وَ لِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ. (سورة النساء، آیت ١١)

قال العلامة السجاوندیؒ: اما الاب.......... و هو السدس و ذٰلك مع الابن او ابن الابن و ان سفل.......... اما للام فاحوال ثلٰث السدس مع الولد او ولد الابن و ان سفل. (السراجى ص ١١/٦، باب معرفة الفروج و مستحقيها)

و مثله فى الهندية ج٦، ص ٤٤٨، كتاب الفرائض، الباب الثانى فى ذوى الفروض.

د حکومت له خوا څخه په ورکول شوي امدادي روپو کښې د میراث حکم

سوال: جناب مفتي صاحب! زما میړه په سیلاب کښې ډوب شو او مړ شو او حکومت په سیلاب کښې د مړ کیدونکو خلکو کونډو ته پنځوس زره روپۍ د امداد په توګه ورکړې۔ مسئله دا ده چه زه یوه کونډه ښځه یمه او زما څلور معصوم بچي دي او له دغو امدادي روپو څخه پرته زمونږ د معاش بله ذریعه هم نشته۔ اوس زما خسر د دغو پنځوسو زرو روپو څخه د خپلې حصې غوښتنه کوي نو آیا د شریعت له مخې د حکومت له خوا څخه په دغو راکړل شویو پیسو کښې زما د خسر حصه شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د صورت مسئوله مطابق کومې پیسې چه حکومت د مرحوم کونډې ته ورکړي دي هغه حکومتي امداد دی کوم چه د مرحوم له کونډې سره مخصوص دی نو په دې کښې د میراث احکام نه جاري کیږي ځکه چه دا د مرحوم د مال ترکه نه دی او حال دا چه میراث په ترکه کښې جاري کیږي۔

قال العلامة محمد الطوریؒ: تحت قوله (یبدأ من ترکة المیت) المراد من الترکة ما ترکه المیت خالیا عن تعلق حق الغیر بعینه. (البحر الرائق ج٨، ص٤٨٩، کتاب الفرائض)

قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلی: الموروث هو الترکة و یسمی ایضاً میراثا وارثا و هو ما یترکه المورث من المال او الحقوق التی یمکن ارثها عنه کحق القصاص و حبس المبیع لاستیفاء الثمن و حبس المرهون لاستیفاد الدین. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٨، ص٢٤٩، الباب السادس فی المیراث)

د پلار په ژوند کښې د زوی لپاره د میراث دعوٰی کول

سوال: یو سړی پخپل ژوند کښې د خپل ټول جائداد پلورل غواړي او یو زوی ئې دی د جائداد له پلورلو څخه منع کوي او د خپلې حصې غوښتنه کوي نو آیا دوی د پلار په ژوند کښې له هغه څخه د میراث د حصې مطالبه کولی شي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: پلار چونکه پخپل جائداد کښې خپلواک دی او هغه چه څنګه وغواړي هغسې کولی شي۔ هیڅ یو زوی شرعا هغه نه شي منع کولی او نه د پلار په ژوند کښې د هغه په جائداد کښې د خپلې حصې غوښتنه کولی شي۔

قال العلامة طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه اللّٰه: و لو وهب جمیع ماله لابنه جاز فی القضاء و هو آثم نص عن محمدؒ. (خلاصة الفتاوٰی ج٤، ص٤٠٠، کتاب الهبة، قبل الفصل الثانی)

قال العلامة قاضی خانؒ: رجل وهب فی صحته کل المال للولد جاز فی القضاء و یکون آثما فیما صنع. (فتاوٰی قاضی خان علی هامش الهندیة ج٣، ص٢٧٩، فصل فی الهبة الوالد لولده)

و مثله فی الهندیة ج٥، ص٣٩، الباب السادس فی الهبة الصغیر.

منافع هم په ترکه کښې شامل دی

سوال: جناب مفتي صاحب! زما والد صاحب له چا سره په کاروبار کښې شریك وو چه په هغه کښې مې د والد صاحب څلور لکه روپۍ وې او مشترکه کاروبار مو په ښه توګه چلیده چه ناڅاپه مې پلار وفات شو۔ اوس لس کاله وروسته مونږ د دې سرمایې ویشل غواړو او حال دا چه د دغو څلورو لکو روپو سره دوه لکه روپۍ ګټه هم جمع شوې ده نو اوس به مونږ دغه څلور لکه روپۍ ویشو او که منافع به ئې هم ورسره ګډوو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: منافع چونکه د اصل مال تابع وي نو ځکه منافع به هم له رأس المال سره ګډوی او وروسته به ئې ویشی یعنې اوس به تاسو شپږ لکه روپۍ پخپل منځ کښې سره ویشی۔

قال العلامة محمد الطوریؒ: تحت قوله (یبدأ من ترکة المیت) المراد من الترکة ما ترکه المیت خالیا عن تعلق حق الغیر بعینه. (البحر الرائق ج٨، ص٤٨٩، کتاب الفرائض)

قال العلامة الدکتور وهبة الزحیلی: الموروث هو الترکة و یسمی ایضاً میراثا وارثا و هو ما یترکه المورث من المال او الحقوق التی یمکن ارثها عنه کحق القصاص و حبس المبیع لاستیفاء الثمن و حبس المرهون لاستیفاد الرهن. (الفقه الاسلامی و ادلته ج٨، ص٢٤٩، الباب السادس فی المیراث)

د قبر لپاره د ځای قیمت د مړي له ترکې څخه ورکول کیږي

سوال: په ښارونو کښې اکثره د قبر لپاره ځای په قیمت سره پیدا کیږي نو اوس پوښتنه دا ده چه د قبر قیمت به د کوم مال څخه ادا کیږي یعنې د مړي له ترکې څخه به واجب الاداء وي او که وارثان به ئې له خپلو مالونو څخه ورکوي؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي کفن، دفن یعنې تجهیز او تکفین ټول مصارف به د مړي له ټولې ترکې څخه ادا کیږي۔ نو له دې وجهې چېرته چه د قبر ځای په قیمت پیدا کیده نو د هغه قیمت به د مړي له ترکې څخه ورکول کیږي۔

و فی الهندیة: الترکة تتعلق بها حقوق اربعة جهاز المیت و دفنه و الدَّین و الوصیة و المیراث فیبدأ اولا بجهازه و کفنه و ما یحتاج الیه فی دفنه المعروف. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، الباب الاول، کتاب الفرائض)

قال العلامة السجاوندیؒ: قال علماؤنا رحمهم اللّٰه تتعلق بترکة المیت حقوق اربعه مرتبة الاول یبدأ بتکفینه و تجهیزه من غیر تبذیر و لا تقتیر ثم تقضی دیونه من جمیع ما بقی من ماله الخ. (السراجی ص٣/٢)

و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٤٥٣، کتاب الفرائض الاوّل فی اصحاب الفرائض.

د قبر کیندونکو د مزدورۍ حکم

سوال: په ځینو علاقو کښې د قبر د کیندلو مزدوري اخیستل کیږي نو آیا د کبر د کیندونکي مزدوري به د مړي له ترکې څخه ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د مړي په تجهیز او تکفین چه څومره مصرف وشي هغه به د مړي له ترکې څخه ادا کیږي۔ بیا هم که چېرته ئې وارثان له خپلې خوا څخه پرې کوي نو څه حرج پکښې نشته۔

قال العلامة السجاوندیؒ: قال علماؤنا رحمهم اللّٰه تتعلق بترکة المیت حقوق اربعه مرتبة الاول یبدأ بتکفینه و تجهیزه من غیر تبذیر و لا تقتیر ثم تقضی دیونه من جمیع ما بقی من ماله الخ. (السراجی ص٣/٢)

و فی الهندیة: الترکة تتعلق بها حقوق اربعة جهاز المیت و دفنه و الدَّین و الوصیة و المیراث فیبدأ اولا بجهازه و کفنه و ما یحتاج الیه فی دفنه المعروف. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٤٧، الباب الاول، کتاب الفرائض)

و مثله فی البحر الرائق ج٨، ص٤٨٩، کتاب الفرائض.

میره د ښځې په مال کښې د میراث له حصې څخه نه محرومیږي

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ خور خپل میره له واده څخه یو کال وروسته له کوره ایستلې وه لیکن طلاقه کړې ئې نه وه۔ د څلورو پنځو کلونو نه وروسته هغه زمونږ کره مړه شوه۔ اوس د هغې میره زمونږ د خور په مال کښې د میراث د حصې غوښتنه کوي نو آیا شرعا د مرحومې په مال کښې د هغه حصه شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د میراث حصې اضطراري دي کومې چه الله تعالی مقررې کړې دي او پرته له شرعي موانعو نه نه ساقطیږي۔ له دې وجهې د نوموړي صورت مطابق کله چې میره خپلې ښځې ته طلاق نه وي ورکړي نو د میره والي په رشتې سره د ښځې په ترکه کښې د نیمې یا څلورمې حصې شرعا حقدار دی۔

لقوله تعالی: وَلَکُمْ نِصْفُ مَا تَرَکَ اَزْوَاجُکُمْ اِنْ لَّمْ یَکُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ فَاِنْ کَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَکُمُ الرُّبُعُ. (سورة النساء، آیت ۱۲)

قال العلامة السجاوندی رحمه الله: اما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد و ولد الابن و ان سفل و الربع مع الولد و ولد الابن و ان سفل. (السراجی ص۷، باب معرفة الفروض و مستحقیها)

و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۶۵۳، کتاب الفرائض، الاول فی اصحاب الفرائض.

د خور په مال کښې د خور او ورونو حصې

سوال: جناب مفتي صاحب! زمونږ د خور انتقال شوی دی او هیڅ یو اولاد ئې نشته یوازې ئې میره، مور، مونږ شپږ ورونه او یوه خور ئې ژوندی ده نو آیا د مرحومې په ترکه کښې زمونږ هم څه حصه شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چه یوه ښځه مړه شي او د هغې اولاد نه وي او نه ئې پلار وي نو په دې کښې تول ورونه او خویندې شرعي حصې لري۔ له دې وجهې په صورت مسئوله کښې د مرحومې ترکه د هغې په مور، میره، خور او په ورونو د لاندې نقشې مطابق به ویشل کیږي۔

مرحومه ۶× ۱۳ = ۷۸

میـــــت

مور	میره	ورور	ورور	ورور	ورور	ورور	ورور	خور
$\frac{۱۳}{۷۸}$	$\frac{۳۹}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۴}{۷۸}$	$\frac{۲}{۷۸}$

و فی الهندیة: فالنسبیة ثلاثة انواع عصبة بنفسه و هو کل ذکر لا یدخل فی نسبته الی المیت انثٰی و هم اربعة اصناف جزء المیت و اصله و جزء ابیه و جزء جده. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۴۵۱، کتاب الفرائض، الباب الثالث فی العصبات)

قال العلامة السجاوندیؒ: اما العصبة بنفسه فکل ذکر لا تدخل فی نسبته الی المیت اُنثٰی و هو اربعة اصناف جزء المیت و اصله و جزء ابیه و جزء جده. (السراجی ص۱۴، باب العصبات)

د زوی په ترکه کښې د ظالم پلار د میراث د برخې حکم

سوال: یو سړی ډیر لوی ظالم دی او پخپل زوی باندې ئې ډیر ظلم کړی دی او اوس ئې زوی مړ شوی دی نو آیا داسې ظالم پلار ته هم د زوی په میراث کښې حصه ورکول کیږي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د میراث حصې شرعا ټاکلې شوي دي په هغه کښې هیڅ ډول تغیر او تبدل جائز نه دی او نه پرته له شرعي موانعو نه دا حصې ساقطیږي نو ځکه په نوموړي صورت کښې پلار ته د خپل زوی په مال کښې شرعا د میراث حصه ورکول کیږي۔ د ظلم په وجه سره د هغه حق نه ساقطیږي۔

قوله تعالی: وَلِاَبَوَیْهِ لِکُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ (سورة النساء، پاره۴، آیت ۱۱)

لما فی الهندیة: اما الرجال فا لاول الاب فلهٗ ثلاثة احوال الفرض المحض و هو السدس مع الابن و ابن الابن و ان سفل و التعصیب المحض و ذٰلک لا یخلف غیره فله جمیع المال با لعصوبة و کذا اذا اجتمع مع ذی فرض لیس بولد و لا ولد الابن کزوج و اُمّ و جدة فیاخذو الافرض فرضه فا لباقی للاب با لعصوبة الخ. (الفتاوی الهندیة ج۶، ص۴۴۸، کتاب الفرائض، الباب الاول) و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ۴۵۴، کتاب الفرائض، الاول فی اصحاب الفرائض.

د میره په میراث کښې د نافرمانې ښځې د برخې حکم

سوال: د یوه سړي ښځه نافرمانه ده او بې له کومې وجهې څخه هر وخت له خپل میره سره جنګ او جګړې کوي نو که چېرته په دې حالت کښې د هغې میره مړ شي نو آیا دغې ښځې ته د میره په ترکه کښې د میراث حق ورکول کیږي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په میراث کښې حصې د الله تعالی له خوا ټاکلې شوي دي کوم چه له شرعي موانعو څخه پرته په هیڅ صورت کښې نه ساقطیږي۔ که وارث فرمانبردار وي او که نافرمانه وي۔ نو له دې وجهې په نوموړي صورت کښې نوموړې نافرمانې ښځې ته به د میره په مال کښې څلورمه یا اتمه حصه ورکول کیږي۔

لقوله تعالی: وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَکْتُمْ اِنْ لَّمْ یَکُنْ لَّکُمْ وَلَدٌ فَاِنْ کَانَ لَکُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَکْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِیَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَا اَوْدَیْنٍ. (سورة النساء، آیت ۱۲)

لما قال العلامة ابن البزاز الکردری رحمه الله: و نصیب الزوجة الربع مع کل الورثة الا مع الولد او ولد الابن فلها معهم الثمن بکل حال واحدة او اکثر یشترکن فی ذٰلک. (البزازیة علی هامش الهندیة ج۶، ص۴۵۳، کتاب الفرائض، الاول فی اصحاب الفرائض)

و مثله فی الهندیة ج۶، ص۴۵۰، کتاب الفرائض، الباب الاول.

حـــربي کافر د ذمي کافر وارث نه شي جوړیدلی

سوال: که چېرته یو کافر په پاکستان یا په کوم بل اسلامي ملک کښې مړ شي او په همدې ملک کښې مستقل اوسیده او د هغه پلار په هندوستان کښې اوسیده نو آیا پلار ئې د خپل زوی په میراث کښې د شرعي حصې حقدار ګرځي او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: اختلاف دارين (دار الحرب او دار الاسلام) هم د ارث مانع دی نو ځکه د صورت مسئوله مطابق پلار به د خپل زوی په میراث کښې حق نه لري او د دې مړي ټول جائداد به په دار الاسلام کښې په اوسیدونکي وارثانو باندې ویشل کیږي۔

قال العلامة محمد الطوری: لا خلاف بین اصحابنا ان الکافر الحربی لا یرث الذمی سواء کان الحربی مستامنا فی دارنا او فی الحرب اهل الذمة یرث بعضهم بعضاً. (البحر الرائق ج٨، ص٥٠١، کتاب الفرائض)

د ورور په ترکه کښې د خور د میراث د برخې حکم

سوال: آیا خور د خپل ورور په ترکه کښې د میراث حقداره ده او که نه او که چیرته وي نو په کومو حالاتو کښې، او همدارنګه د خپل پلار په میراث کښې حق لري او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: ښځه د خپل پلار په ترکه کښې د میراث حقداره ده لیکن د خپل ورور په ذاتي مال کښې حقداره نه وي۔ خصوصا کله چه ورور ژوندی وي او د مړینې په صورت کښې د شرعي ضابطې مطابق کله حقداره وي او کله نه وي۔

و فی الهندیة: الخامسة الاخوات لابٍ و امٍّ للواحـــــدة النصف و للثنتین فصاعداً الثلثان و مع الاخ لابٍ و امٍّ للـــــذکر مثل حظ الأُنثیین و لهن الباقی مع البنات او بنات الابن. السادسة الاخوات لابٍ و هنّ کالاخوات لابوین عند عدمهن. و لهند السدس مع الاخت لابٍ و امٍّ تکملة الثلثین و لا یرثن مع الاختین لابٍ و امٍّ الا ان یکون معهـــــن اخ فیعصبهن. السابعة للاخوات لام للواحدة السدس و الثنتین فصاعـــــداً الثلث. و یسقط الاخوة و الاخوات با لابن و ابن الابن و ان سفل و با لاب با لاتفاق و با لجـــد عند ابی حنیفة رحمه اللّٰه. (الفتاوی الهندیة ج٦، ص٤٥٠، کتاب الفرائض، الباب الثانی فی ذوی الفروض)

قال العلامة الحصکفی رحمه اللّٰه: فیبدأ بذوی الفروض و هم اثنا عشر من النسب ثلاثة من الرجال (هم الاب و الجد و الاخ لام) و سبعة من النساء (هن البنت و بنت الابن و الاخت الشقیقه و الاخت لاب و الاخت لام و الجدة و اثنان من النسب و هما الزوجان الخ. (الدر المختار مع رد المحتار ج٥، ص٥٣٨، کتاب الفرائض)

و مثله فی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦، ص٤٥٣، کتاب الفرائض، الفصل الاول فی اصحاب الفرائض.